نُورُ الْاِیضَاح

مولانا ابُوالفضل علامۃُ الدھر

محمد عبید اللہ الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

کتبہ ورتبہ بقلمہ

محمد فضل الحق خانی

مدرس جامعہ تجوید القرآن کوئٹہ

پروپرائٹر

شمس الحق شمس

مکتبۃُ القراۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ نزد مسجد نور کوئٹہ

الٰہی تالرہ هزار بارہ شکر دی چی تا توفیق د طباعت دد ی
سنکلی تحفی یعنی پښتو نورُ الایضاح دوهم توك راکړ

نُورُ الاِیضَاح حاشیہ

پښتو دوهم

۲

توك

تصنیف د حضرت علامه ابوالفضل الحاج

محمد عُبیدُ اللهِ الایوبی

القندهاری السلیمانخیلی النقشبندی الحنفی،

الناشِر **مکتبة القراءة والتجوید**

کانسی روڈ شالدره کوئٹه

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله وحده والصلوٰة والسلام علی من لانبی بعده،

وبعد! محترمو لوستونکو! دا ښکلی تحفه پښتو شرح د نور الایضاح (دوهم توک) چی ستاسو په لاسونو موجوده ده. د حضرت علامه ابوالفضل محمد عُبَید الله الایوبی القندهاری السلیمانخیلی الحنفی النقشبندی تصنیف دی»

محترمو تاسو ته معلومه ده چی د اسلام دین حقه مخالفینو هر ډول، اوپه هر رنګ، اوپه هره جامه کی د دین اسلام خلاف تحریکونه چلولی، اوچلوی ئی، خو دی ټولو کوششونو سره سره لله الحمد د افغانانو نوپه هغه طبقه کی کوم چی د حضرت ایوبی قندهاری رحمه الله پوسره مینه اوعلاقه لری، دیهود اوهنود، اونصاری وو تحریکونه منجمد اوبی فائده ثابت سوی، نهایه فکر داد حضرت ایوبی رحمه الله د عظیمی مفکری، انقلابی فکر، اود عظیمو پښتو کتابونو نتیجه ده.

لله الحمد چی د حضرت کتابونه وهغوافغانانو نوله، کوم چی د وطن مالوف څخه لیری د مسافری اوپردیسی ژوند تیروی، هغوی، اود هغوی د بچیانو لپاره یو معتمد استاذ حیثیت لری، اوولی بی ونه لری چی زمونږ وروڼو افغانانو دخپل دین اومذهب پرمسئلو باندی سرقربانولوسته تیاردی، هیله ده چی د حضرت ایوبی رحمه الله وټولو کتابونو څخه خاص د ډول هغه کتابونه چی په پښتو ژبه ټرباړه سوی دی هرافغان دقدر په ستر ګه وګوری اوخپل دکور وټونو نهپور اوبنایست ئی وګرځوی. والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته:

خپرونکی چی حضرت ایوبی رحمه الله دکتابت کار روما احقر فضل الحق حقانی ته چی د حضرت رحمه الله دادنی شاګردانو څخه یم، ر اوسپارلی. ما هم داکار د ځان د پاره یو اعزاز وګڼی اود الله په توفیق اوستاسو د مستجابه دعاګانو په برکت ستر ګه ورسید، اوحضرت رحمه الله ته حقوق د طبع هدیه کړه. ان شاء الله د رحیم توک به هم ژر تر ژره ستاسو تر لاسونو د رسوو!

فضل الحق حقانی

مدرس جامعه تجوید القرآن کوټه او ناظم مکتبة القراءة والتجوید

بسم الله الرحمن الرحیم

وبه نستعین. وعلیه توکلت واسئال الله تعالیٰ ان یوفقنی لتألیف الجلد الثانی من شرح **نور الایضاح** بالخیر والصحة والسلامة، والصلوٰة والسلام علی سید البریة واله وصحبه الکملة»

داول جلده سوم خلاص په عافیت ؛ دویم جلد دی خدای کی ختم په صحت

همت بلند دار که نزد خدا و خلق ؛ باشد بقدر همت تو اعتبار تو.

همت لوړ دی باری خدایه زه پوهیږم ؛ مګر مرګ به کله راسی نه پوهیږم.

تر اجل پورې به کار زما دا غه وی ؛ د قیامت د پاره زما به ذخیره وی

په قیامت به زما د بخښنی دا بهانه وی ؛ د عاد خلګو هم به دا بهانه وی.

قال المصنف

فصل فی واجب الصلوٰة

وهی ثمانیة عشر شیئاً فصل دی په بیان د واجب د لمانځه او هغه اتلس شیان دی. **پوه سه**: چی وجوب په لغت کی لزوم ته وائی. او سقوط ترهم. او اضطراب ته هم. او په شرع کی هغه عمل ته وائی چی پرمونږ لازم وی په داسی دلیل چی په هغه کی شبهه نه وی وجوب د مناسب د لغوی معنا اود شرعی. فخر الاسلام علی البزدوی داسی بیان کړی ده چه د غه واجب عمل زمونږ څخه ساقط دی علماً یعنی پرمونږ باندی او یقین نه دی لازم، او پرمونږ لازم ازروی عمل دی. او یا مضطرب دی په مابین کښی د فرض او سنتو. ولی چی عمل یه لکه د فرض دی او علم یه لکه د سنتو دی» د امام اعظم څخه روایت دی چی فرق په مابین کی د فرض او واجبو لکه فرق په مابین کی

داسمان اود محکی دی. او بعض فقهاءُ پرَواجب دسنت اطلاق کوی. د هغه معنا داده چې ددی عمل اثبات په سنت نبویٌ سره سوی دیُ. او هغه عمل نه په بَل ځای کښی بیاواجب وَائیُ. په معنا ددی چې دَدغه کار کول پرمونږ لازم دی فلا تعارض بین الاطلاقین» کذا فی البحر.

فَائِدَةٌ امام طحطاویُ وائیُ: چې ادلهٔ سَمْعیه یعنی د قرآن پاک آیتونه او احادیث نبویه **څلور قسمه** دي. **اول** هغه دلیل سمعی دی چې ثبوت یې په شریعت کښی قطعی یعنی یقینی وی او سره دهغه دلالت یې پرمقصود هم یقینی وي. کالنصوص المتواترة المحکمة» که دقرآن ایت وی. او که حدیث نبویٌ متواتر وی چې په دې قسم سره فرضیت او حرمت ثابتیږی اومنکر یې کافر گڼل کیږي. لکه په قرآن مبارک کی» اَقِیْمُوا الصَّلٰوةَ، وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰی» وغیرهما. او په احادیثو مبارکه وو کښی: اَلْبَیِّنَةُ عَلَی الْمُدَّعِی وَالْیَمِیْنُ عَلٰی مَنْ اَنْکَرَ» واشباله.

دوهم قسم قطعی الثبوت دی لکن دلالت یې پرمقصود ظنی وی لکه هغه آیتونه دقرآن چې په تاویل سره پرمدعی دلالت کوی. لکه په قرآن مبارک کی: وَالْمُطَلَّقٰتُ یَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ» چې حنیفیانٌ یې په حیضو ترجمه کوی اوشافعیان یې په طهرو ترجمه کوی. چې تفصیل ددلائِلو یې په لویو لویو کتابو دفقهاو اصولو مذکور دی.

دریم قسم یې ظنی الثبوت دَی چې دلالت یې یقینی وی. لکه هغه احادیث نبویه چې تواتر ته نه وی، سیدلی. لکن مفهوم او معنا یې یقینی وی چې په اصطلاح د محدثینو وي ته اخبار احاد وائیُ. او په دوهم قسم اودریم قسم سره وجوب او کراهة التحریم ثابتیږی چې منکر یې مبتدع بَلل کیږی.

څلورم قسم ظنی الثبوت او ظنی الدلالة دی یعنی دَ قسمه څه خبر واحد دی لکن دَلالت پرمراد یې هم ظنی وی یعنی پرتاویل مبنی وی. او په دی قِسم

سره سنت والی او استحباب او کراهت تنزیهی ثابتیږی. چې منکر یې محرومُ الشفاعة النبویه دی په وَرځ دقیامت.

سَوال: په حدیث صحیح نبویٌ کښی ده اغلی دی چې. شَفَاعَتِیْ لِاَهْلِ الْکَبَائِرِ مِنْ اُمَّتِیْ: نوځرنګه تارک السنته یا مکروه تنزیهی دشفاعت نبویٌ څخه محروم دی

جواب: شفاعت په وَرځ دَقیامت پر دوه قسمه دی یوه پاره د بخښنی د گناه دی. اودوهم دپاره دپورته والی د درجې دَی. حدیث مذکور محمول پر اول قِسم دی. اوتارک السنته حرمان دشفاعت څخه محمول پردوهم قِسم دیُ. کذا فی شروح کتب الاحادیث النبویه».

قالَ المصنفُ فی المراقی: چې مشروعیت دواجبا تو د پاره د اکمال دفرضی عملو سوی دیُ او سُنت عملونه دَپاره د تکمیل د واجبُو عملو دي. اومشروعیت دمندوباتو او مستحباتو دپاره د اکمال دسنتو راغلی دیُ. مثلاً نفس قِرائت فرض دی په لمانځه کی او خصوص د اَلْحَمْدُ لله اوضم دسُورَة چې واجب دی دپاره دتکمیل دَقرائت دی. حتیٰ کږیود دغو څخه فصداً پریږدي مکروه تحریمی دی. اوکی سهواً پریږدی سجده سهوه به کوي اودغه رنګه نفس رکوع اوسجده فرض دی. او طمانینیة چې واجب دی متمم درکوع اوسجدی دی علی الاصح. یا مثلاً نفس طمانینیة چې واجب دی په اندازه دوری واره تسبیح وَیلو چې سنت مُتمم د طمانینیة دی.

او تشهد یعنی التحیات په اخیره ناسترکی واجب دَه. اودرود پر علیه الصلوة والسلام چې سنت دی پوره کوونکی د تشهدی دَی. اوداغه رنګه بِسْمِ اللهِ وَیل چې سنت دی مُتمم دی دَقرائت دفاتحې چې واجب دی. لکن داتوهم مه کوه چې هر عَمَل چې سُنت وی خواه مخواه به متمم دواجبو وی. اویا مثلاً درې واره تسبیح وَیل په رکوع اوسجده کی سنت دي. اوکتل وظاهِرته دَپښتو په رکوع کی او یا کتل ونږدی ته دپزی په سجده کی مُستحب دی او متمم د تسبیح گانو دی. په دی معنا چې مصلی دی ثنا وخوانه گوري. نو ددی ټولو کارو په کولو سره لمونځ مثلاً ښه محفوظ کیږی

نوفرائض لکه یو، قلعه ده چې پر هغې قلعې قلعه دواجبا تو، اگرځیده لی ده. اوپر قلعه دواجبا توقلعه د سُنتو، اتا وسویده. اوپر قلعې د سُنتو دیوال دمندوبا تو، اگرځیده لی دی. نوچې سړی اخیری دیوال بنه و ساتی نوپه هغه سره داخلی دیوالونه بیخی بنه ساتل کیږي. اوکی داخیری دیوال په ساتنه کی سُستی وکړه نوکرار، کرار به داسُستی د نورو دیوالو سستی ته مُنفضی سی. حتیٰ چې بالاخیره فرضی عمل دیوال به هم خُندی پرنګ سی. خدای پاک دی مونږ خُندی وساتی. آمین

اَحکامِ دَواجِبُو:

منکریه کافر نه دی. اوکی په قصد پریږدی مستحق د عقاب دی. اوپر کولوبه ثواب د جنت پیدا کی. اوکی په سهوه سره پریږدی سجده سهوه باندې لازمه ده. اوکی په قصده پریږدی مستحق د عقاب ده.

لمونځ دی راوګرځوی. اوکی لمونځ نه راوګرځاوه. فرضی لمونځ سره د نقصانه اداسو

قَالَ المصنفُ

قِرائَةُ الفَاتِحَةِ

یعنی اول واجب ویل دی د اَلحَمدُ لله شریفې. لِقَولِهِ عَلَیهِ الصلوٰةُ وَالسَّلام لَاصَلوٰةَ لِمَن لَم یَقرَأ بِفَاتِحَةِ الکِتَابِ، ترجمه: لمونځ نشته هغه چا لره چې اَلحَمدُ لله شریفه نه ووایې: **سَوال**: په دی حدیث شریف کی یه نفی د لما نځ کړی دپاره نو باید ویل د فاتحې فرض سی. **جَواب**: چونکه دا حدیث خبر واحِد دی نو دی ناسِخ د هغه ایت نه سی ګرځیدای: فَاقرَؤُا مَا تَیَسَّرَ مِنَ القُرآن دی یعنی چې اطلاق د هغه دی مقید کړی.

نو مطلق قرائت فرض دی په مقتضیٰ د قرآن او خصوص د اَلحَمدُ لله واجب دی په مقتضیٰ د حدیث نبوی. **مَسئَله**: کړچیرې اکثر ایتونه د اَلحَمدُ لله خُندی پاته سوه سهوًا سجده سهوه به کوی او په ترک د اقل سجده سهوه نشته، کما فی النهر. لکن مجتبی والا وایې چې یو ایت خُندی پاته سی هم به سجده کوی وَعَلَیهِ الفتوٰی. **مَسئَله**: که سړي فاتحه په قصد د دعا وَ وَیلو آیا د واجب په ځای کی دریږی

په فتاوای صغری کښی وایې چې هُو دریږی. ولی چې قرآن په قصد سره د سړي د قرائت نخه نه وزی وعلیه الفتوی، در، خلافاً للمحیط، قَالَ المصنفُ

وَضَمُّ سُورَةٍ اَو ثَلَاثَ اٰیَاتٍ

اودوهم واجب دلما نځ جوتول دی د اَلحَمدُ لله سره دیوه سورته او یا دری ایته د قرآن شریف. که څه هم کشنی سورة وی. اوکه څه هم کشنی دری ایته وی لِقَولِهِ عَلَیهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ: چې لمونځ نشته دهغه چا چې الحمد لله او یو سورت نه ووایې که په فرضی لما نځ کی وی او که په نفلی کی وی،،

پُوهه سَه: چې باید درې ایته به قدر د کشنی سورة وی، اود غه هم کافی دی چې یو اوږد ایت ووایې چې په اندازه د درو کشنی ایتو وی. او وجوبُ الضم فقط مذهب د احنافو دی. او ائمه ثلاثه ضم د سورت سُنت بولی. سک،

مَسئَله: ضم د سورت په اخیرو دوو رکعتو کښی د فرضی لما نځ په قصد سره مکروه دی او که نه. **جَواب**: مختاره داده چې نه دی مکروه،، در،،

سَوال: هغه حدیث چې ذکر سُو هغه خو یوائی پر ضم د سورت دلالت کوی. او مدعی عامه ده که سورت وی او که دری ایت وی **جَواب**: دری ایت په حکم کی د سورت دی.

تَنبِیه: د یل د فاتحې او ضم د سورت هلته واجب دی چې په وخت کښی فراغت وی. اوکه دومره وخت وو چې یوائی سورة فاتحه او یا سورة په کښی ځایه دی. نوهر یو چې ځائیږی هغه دی ووایې. اوکه فرضًا وخت بنجی تنګ وو چې دیوه ایته بالا نر په کښی ځائیدلی هغه یو ایت دی په تولو رکعتو کی ووایې. وسقوط الواجب للعذر، قَالَ المُصنفُ.

فِی رَکعَتَینِ غَیرِ مُتَعَیِّنَتَینِ مِنَ الفَرضِ

په دوو رکعتو غیر معینو کی د فرضی لما نځ اوکه لمونځ دوه رکعته وو لکه سَحَر فرضی یا نور دوه رکعتی سُنت یا نفل بیا په دواړو رکعتو کی ضم واجب دی.

ترخپل ځای وخندول. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَضَمُّ الْأَنْفِ لِلْجَبْهَةِ فِي السُّجُودِ

اووا جب دی یوځای کول د پزی د تندی سره په سُجده مصنف په مَراقی کښی وائی چی مراد د پزی څخه هغه کلك ځای دپزی دی، حتی کی د پزی دښر پرهغه نرم ځای سجده وکړه واجب یه نه کی پرځای **مسئله**: روانه ده یوازی پر پزه سجده کول چی په تندی کی عذر نه وی پر صحیح روایت، مراقی او د دی مسئلی دلیل هم مواظبة النبویؐ دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْإِتْيَانُ بِالسَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ قَبْلَ الِانْتِقَالِ لِغَيْرِهَا

اوبل واجب دلما نځه یعنی که فرضی وی اوکه نفلی دادی چی کوی بر دوهمه سُجده په هر رکعت کی د مخه تر تلو اوکولو د باقی افعالو د لمانځه. چی پی دی باندی هم آنحضرت صلی الله علیه وسلم مواظبت کړی دی. **پوه شه**: چی د دی مسئلی واضح تعبیر، إتصالُ بَين السجدَتَين دَئ. او هغه عبارت چی مَراقی وَئیلی دئ، اعنی، ترتیب بَین السجدَتین صحیح دی. ولی چی د ترتیب معنا ورو ورو سته کول دی دیوه شی تر بل بیله فَصله. **توضیح د دی مسئلی دادی**. که یوسړی سهوًا یوه سجده چی وکړه بَله یه نه وکړه ولاړ شو مثلًا نوم وخت چی دوهمه سجده ور پیاد سَوه و د پی کړی. او په اخیر کښی دی سجده سهوه وکړی که فرضًا د دغه سړی هغه پاته سجده ور ورو سته تر اخیری ناستی ور پیاد سَوه اوبیا پس له سلامه گرځولو او د مخه ترخبر و کولو ور پیاد سَوه نو دی دې سجده ور اوگرځوی چی فرض ده. لکن اتصال یا ترتیب بَین السجدتین چی واجب وو پاته شو. نو سُجده سهوه پر لازمه ده. نو به داسړی د اسی کوی چی هغه اصلی سجده چی وکړه، بیا دې بیرته ناسته وکړی او التحیات دی هم ووائی. ولی دی چی و سجده اصلیه ته ور وگرځیدی هغه د مخه ناسته د ده او التحیات یه لغوه سَوه. نو د ده په ذمه کښی اخیره ناسته چی فرض ده او التحیات چی واجب وه پاته ده. نو څه وخت چی دوهم اخیره ناسته وکړه

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَفِي جَمِيعِ رَكَعَاتِ الْوِتْرِ وَالنَّفْلِ

اوپه ټولو رکعتو کی د وتر و او نفلو ضم دسورت واجب دی، اما الوتر، فلانهٗ سُنة عند الصاحبَين، وفی حکم السنة عند الامام الاعظمؒ،

واما النفل فلان کل رکعتین منه صلوٰة علی حدة،، **پوښتنه**: په څه دلیل قرائت په اخیرو دوو رکعتو کښی د فرض و واجب نه دی لکه د نفلو **جواب**: په دلیل د دی سوال قول د علی رضی اللهُ تعالیٰ دی. چی قرائت په اولو دوو رکعتو کښی قرائت دی په اخیرو دوو رکعتو کښی. وَعَن ابن مَسعود و عائشة رَضِی اللهُ تعالیٰ عَنهُما چی اختیار لری لمونځ گذاره که په اخیرو دوو رکعتو کښی قرائت وائی اوکه تَسبیح.

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَتَعْيِينُ الْقِرَاءَةِ فِي الْأُولَيَيْنِ

اوبل واجب دلما نځه دادی چی معینه کوی دی اول دوو رکعتونه یعنی په فرضی لمانځه کی د پاره د قرائت واجب دی. په دلیل د دی چی آنحضرت صَلی الله علیه وَسلم همیشه توب کړی دی پر قرائت په دوو اولو رکعتو کی.

اوبعض فقهاءؒ وائی چی په اولو دوو رکعتو کی قرائت فرض دی چی په هغو کښی په دوو اولو رکعتو کی نه ووائی. په اخیر دوو رکعتو کی ووائی هغه قضائی دی. اوبعض کتابو د دی قول ملاتړ کړی دی،، قَالَ المصنفؒ فی نور الایضاح.

وَتَقْدِيمُ الْفَاتِحَةِ عَلَى السُّورَةِ

اوبل واجب دلما نځه د مخه ویل دی د الحمدُ لله ترسورة للمواظبة علی ذالك من النبی علیه الصلوٰة والسلام. **تقریع**: که یوسړی پوره سورة یا بعض سورة کړم یو حرف وی یا دری ایتونه یا بعض د هغو سهوًا تر الحمد لله د مخه وویایه او بیا الحمد لله ور پیاد سَوه. نو الحمدُ لله دی ووائی او بیا دی سورة یا دری ایت ووائی او سجده سهوه دی وکړی. ولی الحمد لله چی واجب وَه

او التحیات یه هم وَ وَیلہ. بیادی پریږی طرف سلام وگرځوی او سجده سهوه دی وکړی
او بیادی کښینی او التحیات دووائ بیادی اخیری سَلام د پاره دَوتلو د لمانځه وگرځوی
مسئله: که دې سړې چی قعدهٔ اخیری وروسته یا تر سلام هم وروسته هغه
سجده اصلیه وکړه. لکن تر هغی سجدی وروسته ناسته یه نه وکړه بلکه چی د سجدی سی
سر راپورته کړی سلام یه وگرځاوه او سجده سهوه یه وکړه لمونځ یه باطل سُو. ولې
اخیری ناسته چی فرض وَه څندی پاته سوه. **مسئله**: که یوسړی بیله صورة مذکوره
په لمانځه کی سهوه سو مثلاً د میانځ ناسته چی واجب دَه سهواً څندی پاته سوی وَه
لکن دې سړی چی د سجدی سهوی څخه سر راپورته کړی. سلام یه وگرځاوه او قعود
یه وَنه کړه لمونځ صحیح دی لکن مکروه دَی. دَلیل د صحت یه دا دی. چی سُجده سهوه هغه
د هغه قعده چی ده وَکړه نی پورته کوی بلکه التحیات پوره ته کوی. نو اخیر فرضی ناسته
خوده وکړه نو لمونځ صحیح سُو. او د کراهت دلیل یه دا دی چی په اخیره ناسته کی خو
التحیات ویل واجب وو. هغه دده سَه پاته سوه ولی هغه د هغه التحیات په سُجده
سهوه سَره لغوه سوه». فافهم هذا المقام بالتفکر التام». قَالَ المُصنفُ

وَالاِطمِنانُ فِی الاَرکَانِ او اطمنان یعنی تعدیل د ارکان واجب دی دَ
اطمنان معنا داده چی لمونځ کوونکی دی خپل
اعضاء په رکوع او سجده کی چی دا واجب دی. او په وَلاړه کی د رکوع څخه. او په مابَین کښی
د دوو سجدو او دا سُنت دَی. **پوه سَه**: چی ادنی د تعدیل پَرقدر دَیوی تسبیح
دی. قهستانی. او د تعدیل وجُوب مذهب د امام اعظمؒ او امام محمدؒ، د امام کرخیؒ دبیان
څخه او امام جرجانیؒ وائ چی د دوی دوُو په نیز سُنت دی. لکن اول چی وجوب دی
صحیح دی په نیزد محققینوُ د مذهب حنیفیؒ او د حضرت امام ابویوسفؒ په نیز تعدیل
فرض دی کما فی المراقی. لکن کمال الدین ابن الهمامؒ په فتح القدیر کی وائ چی مُراد
د ابویوسفؒ د فرض څخه فرض عملی مراد دی چی هغه ته واجب وائ». فارتفع اختلاف
الائمة الثلاثة رحمهم الله من البین».

د رَدولیش وَائ. چی توجیهه د ابن الهمامؒ کړځه هم د مشهورو کتابو څخه مخالف ده
لکن دیره په زړه پوری او قبول وړده. پس دی سَبب چی حضرات ائمهٔ ثلاثهؒ پردی
اصل متفق دی چی زیادت پر کتاب الله په خبر واحد سره نه دی رَوا. نو په کتاب الله
کی خو مطلق» اِرکَعُوا او اسجُدُوا» راغلی دی نو په دی ایت سره نفس رکنیت
او فرض والی ثابتیږی کړځه هم ادنی د دوارو وِچ.
نو نسخ د اطلاق د دی ایت یعنی په تعدیل مقید» وَل په هغه خبر واحد سره چی
د آنحضرت صَلی الله عَلیه وَسَلم په حَضور یوسړی لمونځ وکړی. او تعدیل د سجدی
او رکوع یه نه وکی. علیه السلام ورته وَوَیل صَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ» حتی ترڅو دی وَاره
پُوری» روانه دی البته قرآن مبارک چونکه قطعی الثبوت والدلالة دی په دې
څای کی نو په دی څای کی. نو په هغه نفس فرضیت د رکوع او سجدی ثابتیږی.
او حدیث مذکور چونکه خبر واحد دی او ظنی الثبوت دی نو په هغه وجوب ثابتیږی
او نفی چی په حدیث کی راغلی دی یعنی: فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ» محمول پر نفی د کمال دَی.
سَوال: څه سَبب دی چی حدیث مذکور پر سُنت والی د تعدیل نه حمل کوو لکه
امام جرجانیؒ چی وائ **جَواب**: چونکه تعدیل د پاره د تکمیل د رکن دی چی
د رکوع او سُجده نو دی په سَببه واجب یه نبولو کما مَرَّ بیان ذالك».
پوښتنه: تعدیل الارکان په نبولو کتابو کښی په صیغهٔ جمعی راغلی دی
او بیان یه یَوازی په رکوع او سجده سره کوی. **جَواب**: تخصیص د رکوع او سجدی
د دی کبله دی چی دا دوه رکنه غالباً په تلوار ادا کیږی. نو په اکثرو لمونځ کوونکو کی
د تعدیل الارکان مراعات نه لیدل کیږی. ورنه د قیامی او اخیری ناستی هم تعدیل
واجب دی لکن چونکه په وَلاړه کښی قرائت وَیل کیږی او په ناسته کی التحیات
ویل کیږی نو تعدیل خو د پنځو ده پیدا کیږی. حتی که یوسړی په اخیرو دوو رکعتو
کی پته خوله ودریږی نو پر ده واجبه ده دیوی تسبیح قدر خو دی ودریږی چی
تعدیل د رکن د قیامی راسی» کما فی النهایة» او که چیری د غه سړی یو تسبیح قدر هم نه وه دریدی

نو اصل لمونځ یه صحیح دی. ولی نفس قیام خویه وکړه لکن د تعدیل واجب پرته ترک سره گناه گار دی «ظهیریه». **فائده**: علامه محقق کمال الدین ابن الهمام په فتح القدیر کی او ده شاگرد ابن امیر الحاج وائی چی مقتضی د وجوب د تعدد رکوع والسجود چی هغه حدیث سابق وو ددی هم مقتضی دی چی ولاړه د رکوع څخه اوناسته په مابین کی د سجدتین دی هم واجب وی. ولی هغه شخص مذکور چی په حضور نبوی کی لمونځ وکړی دا دوه خصلته هم نه وه پریکښی، او بل مواظبت نبوی پرد غو څلورو خصلتو دلیل د وجوب د هغودی «ه» د رد ولیش وائی چی د ابن الهمام تحقیق زما هم خوښ دی ومزید التفصیل فی شرح الطحطاوی» قال المصنف

والقعود الاول اود غه رنگه واجب ده اوله ناسته. **پوه سه**: چی مراد د اول ناستی څخه غیره اخیری ناستی دی. او معنای متبادره مراد نده یعنی تر تولو د مخه ناسته. ولی چی کیدای سی چی سړی دی په لمانځه کی د رکعت ناستی وکړی لکه دیو چا څخه چی د دری رکعاته امام تیر کړی وی. نو دا سړی خو یوه ناسته یرد امام سره وکړه بیا چی امام سلام وگرځوی دی به ولاړ پیښ ی اویو رکعت بر تش کوی بیا بر کښینی. اویا به دوه رکعته ډ ك کوی بیا به کښینی اوبیا به ولاړ پیښ ی یو رکعت بر تش کوی وهو الاولی» او بیا به اخیره ناسته کوی. نو که مراد اول په معنای متبادره وای نو دا دوهم ناسته نو څرشی ده فرض ده که واجب» اوچی مراد غیر الاخیر سی نو اولی دوی ناستی دواړی واجب دی یوه خو په تبع د امام، او امام طحطاوی وائی چی هغه په متابعت د امام فرض ده» او دو همه ده د لمانځه د حکماً اوله ناسته ده. او دریمه ناسته فرض ده ولی چی د ده اخیره ناسته ده» **پوه سه**: چی اوله ناسته واجب ده په قدر د التحیات په دیر تلوار. او د دی ناستی په وجوب کی د فرض، واجبو، نفلو فرق نسته. په نیز د امام اعظم او امام ابو یوسف. او د غه ظاهر الروایة او اصح دی، ط، او امام محمد او امام شافعی او امام زفر وائی چی اوله ناسته په نفلی لمانځه کی فرض ده. و هو القیاس» قهستانی ط» اوامام کرخی او امام طحاوی وائی چی اوله ناسته سنت ده.

امام طحطاوی وائی چی سنت بولل یا په دی معنا دی چی اثبات د هغی په سنت نبوی سره دی اویا د دی سببه چی سنت مؤکد په معنی کی د واجب دی قال وهذا یقتضی رفع الخلاف ای فی المعنی وان کان الخلاف اللفظی موجودا

سوال: مصنف وائی چی اوله ناسته واجب ده او سره د دی که دا سی پلیسه سی چی امام مسافر وی اوپه لمانځه کښی یه اود س مات سی. اوبیا مقیم سړی خلیفه وگرځوی پر د غه مقیم اوله ناسته فرض ده. ولی چی دا امام اخیره ناسته ده **جواب**: دا فرضیت خو په عذر د استخلاف پیښ سو ورنه اصلاً خو پر مقیم د غه ناسته واجب وه ط ص.

قال المصنف **وقرائة التشهد فیه فی الصحیح** اود غه رنگه واجب دی د قول د التحیات په اوله ناسته کی په صحیح روایت کی. **پوه سه**: چی لفظ د فی الصحیح تعلق د قعود اول او تشهد په اوله ناسته کی د دواړو سره لری. او مقصود مصنف رد دی پر هغو فقهاوو چی قعود اول او تشهد په هغه کښی دواړو سنت بولی. او بایه وازی تشهد سنت بولی. کما هو المشهور علی الالسنة» د دواړو د واجب وائی دلیل مواظبت دی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم پر دواړو. قال المصنف.

وقرائته ای التشهد فی الجلوس الاخیر او واجب دی وایل د التحیات په اخیره ناسته کښی. او د لیل یه هغه مواظبت نبوی دی. **مسئله**: که څوک په اخیره ناسته کښی تشهد نه وائی سهوا یا تعمد یا بعض سجده سهوه پر لازم ده» در، ط، قال المصنف.

والقیام الی الثالثة من غیر تراخ بعد التشهد او واجب دی ولاړ د دریم رکعت ته بیله څنډه پس له ویلو د تشهد د التحیات پس له ویلو د تشهد دی په قدر د اداء دیو رکن و څنډه یدی سهوا سجده پر لازمه ده ولی چی واجب دولاړی بالفور و د دریم رکعت ته و څنډه یدی فوت سو» مر،

اوکی قصداً دریم رکعت وخنده او لمونځ به مکروه تحریمی دی. اوپه یوشاذ روایت کی وائی چی له یوحرف تر تشهد بالا ووائی سجده سهوه پرلاړ زمه ده **مسئله**: که سړی سهوًا په اول ناسته کی پس له تشهد اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّد ووایه یا بالاتر هغه سجده سهوه پرلاړ زمه ده. اوکی فقط اَللّٰهُمَّ صَلِّ ووایی اوبیا ولاړ شو سجد سهوه باندې نشته، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَفْظُ السَّلَامِ دُوْنَ عَلَيْكُمْ

او واجب دی لفظ د اَلسَّلَامُ اونه دی واجب عَلَيْكُمْ ولې چی مقصود چی خروج د لمانځه ځی دی په لفظ د اَلسَّلَامُ حاصل شو. او سلام فرض نه دی ولی چی آنحضرت صلی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم وعبد الله ابن مسعود رضی الله عنه ورته ووئیل اِذَا قُلْتَ ای التشهد الاخیر او فَعَلْتَ هٰذَا یعنی په قعده د تشهدی کښیستی. فَقَدْ تَمَّتْ صَلٰوتُكَ. نو لمونځ دی پوره شو. اوعلیه السلام لفظ د السلام علیکم نه کی ذکر نو معلومه شوه چی فرض نه دی. لکن یَرِدُ عَلَی المصنف چی مصنف په دیرو ځایونو کښی دوجوب دلیل په مَرَاقی کی مواظبت نبویؐ راوړی دی. نو د عَلَيْكُمْ پر لفظ خوهم آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مواظبت کړی دی نو ولی نه دی واجب. **پوه شه**: چی مصنف په مَرَاقی کی دواړو خواووته سلام گرځول واجب بولي. اوامام طحطاوی وائی وَهُوَ الاصح. اوپه فتح القدیر کښی وائی چی اول سلام واجب دی اودوهم سُنت دی،

مسئله: وتل د لمانځه ځی په نیز د عاموفقهاوو پر سلام اول سره کیږی. او بعض فقهاء وائی چی دواړه سلامه چی وگرځوی د لمانځه ځی وزی **تفریع**: که یو سړی پس له ویلو د امام اَلسَّلَام د ځی تر عَلَيْكُمْ ویلو په دغه امام پسی اقتداء وکړه په نیز د عامه فقهاوو اقتداء یې نه ده صحیح. اوبناء پر قول د بعض فقهاوو کی پس له سلام اول او د ځی تر دوهم سلام یې اقتداء پسی وکړه اقتداء یې صحیح ده، ط، س،

پوه شه: چی سلام گرځول په هغه لمانځه کی چی رکوع اوسجده په کښی وی خو واجب دی په اتفاق. اوسجدهٔ شکر یا سجدهٔ تلاوت له سلام نه ته بالاتفاق،

او امام طحطاوی وائی چی دجنازی لمانځه له ورهم سلام نشته. اوپه زاهدی کی وائی چه د جنازی لمانځه له سلام سُنت دی، دروليش وائی چی امکان لری چی مراد د طحطاوی دې داوی چی د جنازی په لمانځه کی سلام واجب نه دی، فلا منافاة بین قوله وقول الزاهدی فتدبر.

فائده: په مجمع الانهر کی وائی که چیری سړی د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ په ځای کی بل لفظ ووائی که څه هم هغه لفظ د سلام په معنی وی مثلاً اَلْبَرَكَةُ عَلَيْكُمْ په ځای کښی د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ نه دی. او بعض علماء وائی که هغه لفظ عربی وو لکه مذکوره دوه لفظه په ځای کی د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ دی اوکه په بله ژبه وو نه دی، لکن بحر رائق د شارح ځه نقل کړی چی اجماع پر دې ده چی لفظ سلام عربی پوری نه دی خاص،

پوه شه: چی مصنف په مَرَاقی کی وائی د سلام په موضوع کی وائی: فی الیمین وَالیسار د دی ځه دا ښی معلومیږی چی د مخ اړول یمنًا ویسارًا واجب دی. او دلیل یې مواظبت نبویؐ دی، قَالَ المصنف فی نور الایضاح.

وَقُنُوْتُ الْوِتْرِ

پوه شه: اوواجب دی دعاء قنوت ویل په وتر و کښی یعنی په اخیر رکعت کی او نواضافت په دعاء قنوت کی اضافت بیانیه، د مصنف مراد دادی چی قنوت واجب دی په وتر و کښی خاص نه په نور و لمونځو کی. **پوه شه** چی هغه خاصه دعاء اَللّٰهُمَّ اِنَّا آه واجب نه ده بلکه سُنت ده نو که اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آه یا بله دعا وکړی رَوَاده اجماعًا، ط، ن، **پوه شه** چی وجوب د قنوط مذهب دی د امام اعظمؒ. اویاران وائی لکه وتر چی سُنت دی قنوط یې هم سُنت دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَكْبِيْرَاتُ الْعِيْدَيْنِ

اودغه رنگه واجب دی تکبیرونه د دوو اختر و چی هغه شپږ دی دری په یوه رکعت کی او دری په بل رکعت کی. اوپه اول رکعت کی قبل القراءة اوپه دوهم کی بعد القراءة دا صرف مندوب دی واجب نه دی، **مسئله**: مصنف په مَرَاقی کی وائی چی هر تکبیر جلا واجب دی که یو تکبیر په کښی پریږدی سجده سهوه پرلاړ زمه ده. اما امام طحطاوی وائی چی اولی داده

چې سجده سهوه دی په جمعه او اختر و کښې نه کوی. دَرویش وائی چې وجه یې شاید داوی چې دا دری لمونځونه د خلګو لوی اجتماع په کښې راځی نو په سجده سهوه کولو کې د خلګو د اضطراب او افراط تفریط، اوهای هوی پیدا کیږی،، قَالَ المُصنفُ

وَتَعيينُ التَّكبيرِ لِافتِتاحِ كُلِّ صَلوٰةٍ لَا العِيدَينِ خَاصَّةً

اوواجب دی معینه کول د اَللّٰهُ اَكبَر دَوَیلو د پاره د شروع د هر لمانځه نه یوازې د اختر د لمونځونو د پاره، دلیل یې مواظبت نبوی دی. په ذخیره کښې په نقل د مَراقی د اسې وائی چې مکروه دَه یعنی تحریماً شروع په غیر د اَللّٰهُ اَكبَر په اصح روایت کی. او امام سرخسی وائی چې مکروه نه دَه په اصح روایت کی. او بعض فقهاءُ وائی چې شروع په اَللّٰهُ اَكبَر سره چې واجب دَه، خاصةً د اختر و په لمونځو کی دَه،، او په نورو لمونځو کی افتتاح په اَللّٰهُ اَكبَر سره مندوب دَه، او نه په اَللّٰهُ أَعظَمُ سره مثلاً هم افتتاح روا دَه. قَالَ المُصنفُ

وَتَكبيرَةُ الرُّكُوعِ فِي ثَانِيَةِ العِيدَينِ

اوواجب دی تکبیر د رکوع په دوهمه رکعت کی د اختر د لمانځه. دلیل ددی وجوب دا دی چې تکبیر د رکوع په دوهمه رکعت کی متصل په زوائدو سره دی نو هغه خو واجب وه نو د رکوع تکبیر هم تبعاً واجب دی بخلاف الرکعة الاولیٰ ولې چې زوائد تکبیرونه د هغه خو په سر کښې د رکعت دی،، درویش وائی چې د لمانځه د احکامو ځنی چې په مندوب طریقه د اختر لمونځ ادا کوی. او که خلاف المندوب دا په دوارو رکعتو کی تکبیرات زوائد په اول کی د رکعت وَوائی نو د دوهمې رکعت د رکوع تکبیر واجب نه دی لِعَدَمِ الاتصالِ بالزوائدِ حتّٰی یتبعُ لَهَا،، او که په دوارو رکعتو کی تکبیرات زوائد پس له قرائته وائی نو د اول رکعت د رکوع تکبیر هم واجب دی تبعاً للزوائد. قَالَ المُصنفُ

وَجَهرُ الإمَامِ بِقِرَائَةِ الفَجرِ

او فی الرکعتین اوواجب دی په زوره وَیل دقرائت په دَوارو رکعتو کښې د سحار پوه سه، چې واجب په جهر کی ادنیٰ مرتبه ده، یعنی چې بَل سړی یې اوری که څوک یو

سړی وی. ولې چې یو سړی هم نه اوری هغه ته مخافته وائی. او کی دوه کسان واوری هغه اعلیٰ د جهر دَه کذا فی الحموی. امام طحطاوی وائی چې فقهاء وائی چې امام دی پر ځان پورې تکلیف نه کوی په جهر کی د پاره د دی چې په تولو جماعت والو یې واوری. ولې چې او رَول په بعض قوم کافی دی. نو جهر دی په حسب د طاقت خپل کوی،، بحر و نهر، لکن که څوک د تولو قوم او رَول واجب نه دی. لکن مستحب داده چې جهر دی پر اندازه د جماعت وی، ط **مسئله**: که امام د جماعت تر حاجت تر بالا یې جهر وکړی گناه گار دی. قهستانی عن کشف الاصول، امام طحطاوی وائی چې دا اولی تر قول د زاهدی چې دا بی جعفر څخه نقل کوی چې هر څو چې زیات والی کوی هغه افضل کار دی. لکن چې ګران نه تکلیف نه ورکوی او بل خوک نه آزار وی که څوک تر حاجت د مقتدیانو تر بالا جهر کوی.

تَنبِيهٌ: نن صبا چې لاوډ سپیکران پیدا سوه. نو بعض امامان د جمعې لمونځ تولو په دغه آله کښې کوی خپل قاری والی وَخلګو ته ښکاره کوی. او تقریباً پنځوس کوره یې اوری دا بالاتفاق مکروه دی. او د روڼی په میاشت کی چې بعض مساجد و کښې د ختم القرآن تراویح کیږی هغه خو تولو لمونځ او تراویح په دغه آله کی کوی. هغه بیا د خلګو ته ښکاره چې مونږ د ختم القرآن تراویح کوو. مونږ دی کوروونه، ښځې، اونَږ، ځندی په عذاب وی. بلکه که بل مسجد و مونږ دی وی او په هغه مسجد کی د اَلمُتَرَنِّمُ تَرکیف آه تراویح کیږی د هغه آلی شخړه یعنی د آواز شخړه امسجد وَالا خپل قرائت نه سی ویلای او نې اوریدلای سی. دا بیا بیخی لوی جُرم دی او د غه امامان قیامت سر د خَرمَینو څریښتو پر لمونځو او تراویحو کوی. دا قیاس د دوی غلط دی. ولې په خرمَینو کی خو په زړو بلکه په لکو خلګ په جماعت کی وَلاړ وی او اوریدل د قرآن کریم و هغوته رِقَّتُ القلب او خشوع او خضوع فائده کوی. نو بیله دغی آلی امام په تولو قرائت نه سی اوریدلای نو د اخو جهر په اندازه د جماعت دی نو مستحب دی کمامرَّ، قَالَ المصنف

وَأُولَى العِشَائَينِ

اوواجب دی جهر په دوو اولو رکعتو کښې د ماښام او ماخستن د لمانځه،

پوه سره: چی لفظ د اُولی، تثنیه د اُولَی ده. اَوَّله یې په زَوَر ووایئ دوهمه دوهمه یې په زیر اونون په اضافت سره حذف شو. چونکه دغه اول دوه رکعته شفع اول ده نو ځکه اول او دوهم رکعت ته اولیین وویل. او په لفظ کی د عِشَائَین ظلم دماخستن وَلما نځه تر وَرکړه. ولی چې قانون صرفی تغلیب ورکول دی واکثرته یعنی په اعتبار د رکعتو، ط، در، او فقیر وایئ چې ممکنده چې په مراعات د حدیث مبارک د عشائین ویلی دی. **قَالَ المُصنفُ وَلَوقَضَاءً** یعنی که خه هم دا دوه لمانځه قضاء سوی وی او په جماعت سره قضاء ئې اوکړی. ولی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم داغسی کړی دی» مړه **قَالَ المُصنفُ**:

وَالجُمُعَةِ وَالعِيدَينِ وَالتَّرَاوِيحِ وَالوِتْرِ فِي رَمَضَانَ

اودغه رنګه واجب دی جهر په قرائت سره د جُمعی په لمانځه کی اودوو اخترو په لمانځه کی اوپه تراویحو کښی اوپه وتروکی لکن د روژی په میاشت کی.

مسئله: کی جهر په قرائت سره د جمعی په لمانځه کی یا د اخترو په لمانځه کی سهوًا پرلیښو سجده سهوه دې نه کوی. امام طحطاوی وایئ» دفعًا للفتنة. تفصیل ورڅاندی تیر سُو، او بعض فقهاءٌ وایئ چې جهر او اسرار په لمونځو کی سُنت دی نو ځکه یې په ترک سره سجده سهوه نه لازمیږي. ط، عن زیلعی» اود قهستانی هغه خبره چې د قاعدة ځنډ یه نقل کړې دی چې امام په ماسِوا کی د فرضی لمونځو مختار دَی که په جهر کوی او که نه که خه هم وتر یا د اخترو لمونځ وی چې دواړه واجب هم دي او جهر یه افضل دی بناءً پر قول د دغو بعض فقهاؤ وو». اوپه هدایه کی تصریح کړیده چې امام مخیر دی په نوافلو کښی د شپې لکه د تهجد لمونځ اعتبارًا بالفرض فی حق المنفرد، لکن قول د مصنف په وجوب سره د جهر په اخترو او تراویحو اوپه وترُو کی اظهر دَی. او مصنف وتر په روڼی پوری وَتړل. ولی چې وتر په غیر کی د روژی د میاشتی پرجماعت سره کول بدعت مکروه دی. **قَالَهُ الحَلَبِيُّ**.

قَالَ المُصنفُ وَالإِسرَارُ فِي الظُّهرِ وَالعَصرِ وَفِيمَا بَعدَ اُولَى العِشَائَينِ وَنَفلِ النَّهَارِ

اووا جب دی کرار قرائت ویل یعنی صرف چې په ځان یه واوری په تولو رکعتو کی د ماپښین د لمانځه او د ماز دیګر د لمانځه اوپه اخیرو دوو رکعتو کی د دماښام اودغه رنګه اسرار واجب دی په نفلو کښی دَورځی».

مسئله فقهاءٌ وائی چې په سّري لمانځه کښی د اپرواته لري چې بعض کلی په جهر دسرې ځه وویل سی. ولی چې په حدیث کښی د بخاری اومسلم ابوقتاده رض د رسول کریم صلی الله علیه وسلم د لمانځه د اسی حکایت کړی دی چې ده مبارک په اخیرو دوو رکعتو کی فاتحة الکتاب وَیله. اوپه مونږ یې اوریدی یوایت گاهی. اوپه فتح القدیر کی وائی چې لږ جهر په سِرسی لمانځه یا لږ سِر په جهری لمانځه کی امکان ده ځان سانتی د مصلی نسته خصوصًا د ساه کښو په وخت» **قَالَ المُصنفُ**

وَالمُنفَرِدُ مُخَيَّرٌ فِيمَا يُجهَرُ كَمُتَنَفِّلٍ بِاللَّيلِ یعنی منفرد په فرضی لمانځه کی اختیار لری په هغو لمونځو کی چې امام په هغه کی جهر کوی. لکه نفل کوونکی د شپې یعنی چې یوازی کوی. فَلَا یردُ بالتراویح لانه مَرَّ ان الجهر فیه واجب لانه یُؤدی با الجماعة» حاصل دا چې منفرد په فرضی جهری لمانځه کی اختیار لری که په جهر سره کوی. وهوالافضل تا چه اداء د لمانځه پر هیئت د جماعت سی. نو ځکه دی اذان او اقامت به کوی کما مر تفصیله، او کی خو بنسه وی پټه خوله دی کوی یعنی قرائت دی کرار وائی. ولی چې په حقیقت کی ظاهرًا په ده پسی خوك اقتداء نه لري تا چې دی په هغه واوری.

مسئله: که خفیه لمونځ وو لکه ماپښین یا نور دیګر هغه به تنها لمونځ کوونکی حتمًا به کرار قرائت سره کوی. ولی چې پر امام باندی لا په دَغو لمونځو کی مخالفت لازم دَی او تنها لمونځ کوونکی خو تر امام بالا نه دی.

درویش وائی. چی امام طحطاوی اونورو فقهاؤ وهم داسی وئیلی دی چی په ابتدا کی داسلام ټوله لمونځونه په جهر سره کوله. اومشرکانو دمکی به آزار وررساوه. اوقرآن شریف او، وَمَن اَنزَلَهُ ته بی بنکنځل کوله، اَعَاذَنَا اللهُ منه» اوخپلوخوانانو اواتباعو ته بی ویل چی څه وخت چی دی یعنی نبی علیه السّلام په لمانځه کی قرآن وائی تاسی لغوی پروهی اوغزلی ورسره وایاست. اوپه لغوه چتی چتی خبروسری مقابله کوی حتی چی دی ساکتیږی فَاَنْزَلَ اللهُ، قوله وَلَا تَجْهَرْ بِصَلٰوتِكَ» مراد دصلوٰة څخه قرائت یعنی ته په ډوډه مه وایه قرائت په ټولو لمونځونو کی. وَلَا تُخَافِتْ بِهَا، یعنی مه ټوله لمونځونه په کرار کرار قرائت کوه. وَ ابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا» اوته په مابین دجهر اومخافت کی بله لار غوره کړه یعنی دورځی لمونځونه په کرار کرار قرائت کوه اوده شپی لمونځونه په جهر سره کوه. پس له هغه علیه السّلام دمابنیز لمونځ اودمازدیګر لمونځ بی په کرار قرائت کاوه ولی چی کفار به په دغودوو لمونځونو کی وه آزارته چمتو وه. اودجمعی اواخترو لمونځ خوپه مدینه منوره کښی شروع شو. نوسوال نه وارديږی چی داخوهم دورځی لمونځونه دی.

پوه سه: چی نفل کوونکی دشپی کهڅه هم په جهر اومخافت کښی مختار دی لکن په ادنی دجهر داکتفاء کوی اوکه دالته بیده سړی ووهغه ته به ضرر نه رسوی. یعنی دخوب بی نه باسی. اوکه دجهری لمونځ کولو سبب په پر ریا بیریدی. نوبیادِ کرار قرائت وائی. په حدیث مبارک کی راغلی دی چی رسول کریم صلی اللهُ علیه وسلم به د تهجد لمونځ په جهر سره کاوه. دپاره دالف دهغه ویښ سړی چی دالته به وو مګر بیده سړی نه ویښاوه.

مسئله: که په هغه ځای کښی چی سړی د تهجد لمونځ کاوه یومریض وُوچی هغه ده جهر څخه د قرائت انارې دی. اوبیوچا دالته مطالعه دکتاب کوله یا تلاوت دقرآن کریم یې کاوه نومصلی لره مخافت افضل کار دی. تاچه ناجوړی انزار نه سی. اویاد مطالعه کوونکو مطالعی ته تاوان ورنه رسیږی اویاپر تلاوت کوونکی تلاوت گډوډ نه سی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَوْتَرَكَ السُّوْرَةَ که په سهوه سره وې اوکه په قصد سره کذافی النهر،

فِيْ اُوْلَى الْعِشَاءِ قَرَأَهَا فِي الْاُخْرَيَيْنِ اودغه رنګه په دوو اولو رکعتو کښی د مابنام. ودی وائی دغه سورة وجوبا علی الاصح. په دوو اخیرو رکعتو کی یعنی دماخستن په لمانځه کی. اوپه یوه رکعت کی دمابنام د لمانځه. اودبل دپاره ځای فسته» قَالَ الْمُصَنِّفُ

مَعَ الْفَاتِحَةِ جَهْرًا وائی به داسورة سره دسورة فاتحی په جهر سره. کی څه هم فاتحه په اولو دوو رکعتو کښی یوائی وئیلی وی، فاتحه بردی سببه، اګر څوی چی دسورة سره جوته سی. نوځکه دی اول فاتحه ووائی او بیا دی سورة ووائی چی ترتیب پرځای سهی. داخومذهب دمصنف وُو، اوبعض فقهاءٌ وائی چی سورة دې دَمخه ووائی اونور علماء بیاوائی چی فاتحه دی گرسره نه ووائی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَوْتَرَكَ الْفَاتِحَةَ لَا يُكَرِّرُهَا فِي الْاُخْرَيَيْنِ که چا پر یښو سورة په اولو دوو رکعتو کی دماخستن دلمانځه. دغه سورة بروائی په اخیرو دوو رکعتو کی سره دالحمدلله په جهر سره. اوکی فاتحه پر یښوله په اولو دوو رکعتو کی نه دی مکروه وی په اخیرو دوو رکعتو کی **پوه سه**: که سړی په دوو اولو رکعتو کی دماخستن هیڅ شی نه الحمدُ لِلّٰه اونه سورة. ووایه نوبیه اتفاق سره به اخیرو رکعتو کی هم الحمدُ لِلّٰه ووائی اوهم سورة اوپه جهر سره اوسجده سهوه به هم کوی. قالهُ فی الخانیة، اوکی یوازی سورة پر یښو نوهغه په اخیرو رکعتو کی راوګرځوی. لکه مصنف چی په متن کی وَوَيَل. اوداهم په تبیین اوشروحو کښی دهدایه ذکر سوی دی. اوپه مبسوط کی وائی چی سورة راګرځول مستحب دی، فتح القدیر اوبرهان هم پرداغه قول اعتماد کړی دی. اوامام ابویوسف وائی چی دسورة قضاء نسته گرسره. ولی واجب چی دخپل ځای څخه فوت سی قضایه نسته بی دلیله اوډلیل دلته نسته.

اوپه صورت کی دواجب والی دَر اګرځولو دسورة اوالحمد لله لکه مصنف چی په وجوب سره دده وایو تصریح کړیده. په مراقی کی وائی. آیا جهریه په دواړو سره کوی. مصنف بیا

په مَراقی کی دا اصح بُولی او صاحب هدایه هم دغه رایه ده. په دلیل د دی چی فاتحه په اخرو دوو رکعتو نفل ده او په بیټه خولو ویل کیږی. نو چی په جهریه وایی تغییر د صفت د نفلو ګرځی. او جهریه صورت سره واجب دی نو کی کرار وَوایی تغییر د واجبو لازمیږی دا معلومه خبره ده چی تغییر د نفلو آسان دی تر تغییر د واجبو، ط.

او ابن سماعهؒ د امام ابوحنیفهؒ او امام ابویوسفؒ څخه داسی روایت کړی دی چی یوازی د سورة وی په جهر سره وَوایی. او دا روایت مختار د فخر الاسلام دی وَهُوَ الصَّوابُ. او شیخ الاسلامؒ دغه ته ظاهر وَایی. او همه په دغه روایت سره خانیه والا یقین کړی دی. او تمرتاشی یه هم صحیح بُولی. و به الفتوی، در.

مسئله: که دسړی اَلحَمدُ لِلّٰه هیره سَوَله او پس د سورة د ویلو مخکښ رکوع ورپیاد سَوه. اَلحَمدُ لله دی ووایی او سورة دی بیرته راوګرځوی، فِی ظاهِرِ المذهب، در.

مسئله: کی سورة هیره سُوه او په رکوع کښی ورپیاد سُو نو ولاړ دی سی سورة دی وَوَایی او بیادی رکوع راوګرځوی. **پُوښتنه**: اَلحَمدُ لله چی په اَوَلو دوو رکعتو کی نه وو ویل سی سهوًا نو وَلی په اخرو کښی قضا فسته کله د سورت چی قضاء راوړی.

جَواب: سبب دَا دی چی قِرائت دا اَلحَمدُ لله په اخرو دوو رکعتو کی خو مشروع دی لکن نفلًا نو په قِرائت دَهغی یووار دا هغه نفلی اَلحَمدُ لله سَوله په سَبب د قوت چی پخپل ځای کی ده. نو کی بیا مکروه کړی. د پاره د قضاء خَالَفَ المَشرُوع. بخلاف السورة چی اخیرو وه رکعتونه محل د سورة نه دی. نو چی دی سورة وَوَایی هغه د اَوَلو رکعتو د سورة قضاء ده، لکن سجده سهوه به کوی. هـ، ط، در،

خاتمة فصل الواجبات

پُوښتنه: چی واجبه ده په مقتدی متابعت د امام په افعالو کی نو فعلیه وو کښی. نو که مقتدی سړ د رکوع یاد سجدی څخه د مخه تر امام راپورته کړی بیرته دی رکوع یا سجدی ته ولاړ سی. تا چی مخالفت یه په موافقت بَدل سی. او دی ته تکرار د رکوع یا د سجدی نه وَایی قاله الحلبیُّ فی اخر کتابه او که چیری امام رود رسیم رکعت ته ولاړ شو او مقتدی التحیات نه وه پوره کړی. مقتدی

د ی التحیات پوره کړی. ولی چی التحیات واجب ده. او کی نه کړه پوره بلکه په امام پسی ولاړ سوهم رواده. **مسئله**: که امام په اخیره ناسته کی سلام وګرځاوه او مقتدی لمونځ نه وو پوره کړی. نو که د امام متابعت کوی سلام دی ورسره وګرځوی. او که لمونځ پوره کوی یعنی التحیات یه نه وه وئیلی. پوره دی کی.

مسئله: که امام د رکوع یا سجدی څخه سر راپورته کړی او مقتدی تسبیح نه وی پوره کړی دری واړه د امام متابعت به کوی. **مسئله**: که امام سلام وګرځاوه او مقتدی خو التحیات وئیلی وه لکن درود یه نه وو وئیلی د امام متابعت به کوی یعنی درود دے پریږدی. لکن د فقیر مختار ره داده چی کم از کم اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّد دی ووایی بیادی په مُلا پسی سلام وګرځوی. قَالَ الاِمَامُ الطحطاویُّ. چی متابعت د امام په فرائضو او واجبا تو کی بیله تاخیره واجب دی. او که د متابعت بلا تاخیره سو بَل واجبات څه نوهغه بل خو دی وکړی او بیادی متابعت د امام وکړی. ولی په کولو سره دبل واجب خو متابعت بلا تاخیره وکړی نوهغه بل واجب خو بالکلیه پاتیږی.

نو بناءً عَلٰی هٰذا فقیر د وړاندی وَویل لکن آه. ولی بعض فقهاءؒ نفس درود په اخیره ناسته کښی واجب بُولی. او کی سُنت کا ره د متابعت بلا تاخیره معارض سُو. سنت دی پریږدی واجب د متابعت دی پرځای کړی لکه چی مقتدی تسبیح د رکوع او سجدی نه وی وَئیلی. چی مُلا سر راپورته کړی، لِاَن ترک السنة اخف من تاخیر الواجب،

مسئله: که په وتر و کښی د روژی د میاشتی که مقتدی یوځه د دعاءِ قنوت وئیلی وُو لکن پوره کړی یه نه وو، چی امام د رکوع نه وَلاړی مقتدی به متابعت کوی. ولی چی د دعاءِ قنوت لره معینه اندازه نسته. او که فرضًا مقتدی لږ د دعاءِ قنوت هم نه وو وئیلی، امام د رکوع نه وَلاړ سی. نو که د مقتدی داخیال وو چی که زه لږ دعا کومه. د رکوع راڅخه تیریږی نو د دعاءِ قنوت دی پریږدی د رکوع دی د امام سره وکړی، لِاَن الواجب یُترک لفوت الفرض اوکی خیال وو چی لږ دعاءِ وکړم د رکوع هم نیولای سَم. نو د واړه دی وکړی.

ولی متابعت بلا تاخیره کړشو پرځای نفس متابعت خو پرځای سُو. اودبل واجب چې فتوط ووحق پرځای سُو. **پُوه سه**: چې متابعت دامام په قرائت کې نهوي په مذهب کې نه دی رَوا که لهونځ سِرې وی اوکه جهرې وې. اوامام شافعیؒ دالحمدُلله ویل لازم بولی. پس دَواړو کې. اوامام مالکؒ او احمدؒ په جهرې لمانځه کې دحنیفیانو دمذهب سره موافق دی. اوپه سرې لمانځه کې دامام شافعیؒ دمذهب سره موافق دی والتفصیل فی الکتب المبسوطة للفقه،

ـه ددی فصل سره سوم خلاص په ښه صحت. خدایه نور دتاسو غوارم عافیت.

فَصلٌ فِی سُنَنِهَا وَهِیَ اِحدٰی وَ

خمسون دافصل دی په بیان کې دسُنتود لمانځه. اوهغه یو پنځوس۵۱ دی **پُوه سه** چې په ترک سره دسُنتو نفیا خراب والی دلمانځه نه راځی اونه سجده سهوه لازمیږی بلکه کړنه قصدوی اود سپکاوی د جهت نه وی اساءت یعنی ګناه کاری لازمیږی اواساءت ترمکروه تحریمی کم دی. اودکشف کبیر څخه منقول ده چې سنت کار دی یا قول دی چې وکړلو ته دخلګو ترغیب کیږي. اوپر تارک یه ملامتیا ویل کیږي سره دلته ګناه کاری، قال المُصنفؒ

رَفعُ الیَدَینِ لِلتَّحرِیمَةِ حِذَاءَ الأُذُنَینِ لِلرَّجُلِ

سنت دی پورته کول دلاسُو داول اَللّٰهُ اکبر د پاره تر برابری پوری دغوږو تر لره. په حدیث صحیح کې راغلی دی چې رَسُول الله صلی الله علیه وسلم ووچې ده به شروع په لمانځه کوله اَللّٰهُ اکبر بې وَوایه بیا بې بتې ګوتې برابرې کړې دغوږو سره. اوبیا بې وَوسیله سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ کړه اود تکبیر وه اخته او دُعایې قنوط د پاره هم دغه اندازه ده. **فائده**: لفظ د حِذاء اشاره ده دې ته چې مسه کول دغوږو لاندې نه دی. اوکه څوک پر ترک دلاس پورته

کولو عادت وی هغه ګناه ګار دی کذافی الخلاصة» **مسئله**: لاسُونه په وخت کې دتحریمې تر سره پورته کول بدعت سیئه دی. جمع الاحادیث فی هذا الباب **پوه سه**: چې په بعض حدیثو کې داسې راغلی دی چې لاسُونه دی په وخت کې د تحریمې تر شحمتی الاذنین پورته کوی یعنی تر نرمیو پورې دغوږو. اوپه بعض حدیثو کې راغلی دی چې لاسُونه دی پورته کوی تر منکبینو پورې یعنی تر اوږو پورې لکه چې په حدیث دابن عُمرؓ راغلی دې. رَاَیتُ النَّبِیَّ اِذَا افتَتَحَ الصَّلٰوةَ رَفَعَ یَدَیهِ حَتّٰی یُحَاذِیَ مَنکِبَیهِ رَوَاهُ الشَّافِعِیُّ. اوپه بل حدیث کې راغلی دی چې دتحریمې په وخت کې تر فُرُوعُ الأُذُنَین پورې لاس پورته کوی اوکما قَالَ» حاصل دجمع یه دادی چې وړغوی دې اوږو پورته کوی اوبتې ګوتې تر نرمیو پورې پورته کوی. اوسرُونه دګوتو دی تر فروع دغوږو پورته کوی. که څه امام طحطاویؒ حدیث دابن عمرؓ پرحال دعند علیه السّلام حمل کړی دی لکن بیا هم دا جمع مذکوره دپرې په زړه پورې ده **مسئله**: که چا رفع دقدر مسنون په اندازه نه سوای کولای. اویا یو لاس پورته کولای سوای دوهم نه. نوهر دَوَل چې دده قدرت وې هغسې دی پُورته کړی حتّی کې یو لاس فلج وی پورته کیدی یو لاس دې پورته کوی» مَجمَع الانهر. قَالَ المُصنفؒ.

وَالاَمَةِ اوغږ رنګه دې تر غوږو ولاسُونه پورته کوی منیځه وَلی چې منیځه پورته کولو کښې دلا سو لکه نر دده. وَلی چې بازوګان دمنیځې عورت نه دی اومنیځه لکه حُره ده، په رکوع اوسُجده کې. قَالَ المُصنفؒ.

وَحِذَاءَ المَنکِبَینِ لِلحُرَّةِ اوتر برابره داوږو بې پورته کوی حُره منیځه پر صحیح روایت ولی چې ذراعین دی عورت دی» وَرَوَی الحسنُ عَنِ ابی حَنِیفَةؒ چې حُره دی هم لاسُونه تر غوږو پورې پورته کوی وجه دده روایت دَاده چې په وخت کې دګورد خدمت لکه اوره اخښل، یا سَرای جارو کول، یا کالی پریولل وغیره حُره منیځه دلخ والی دذراعینو چاره نه لری نو په سَبب دعُذر عورت وَالی په ساقط دی» وَالجواب انه لاضرورة لها فی کشف الذراعین عند

ونشر الأصابع

اوپه وخت دلاسو پورته کول د تحریمی دپاره دگوتی دی ددواړو لاسو خلاصی نیول سُنت دی، د روښانۍ والئ چی مراد دنه څخه دا نه دی چی قصداً دی سره فراخه وگرځوی بلکه مراد دادی چی قصداً دی ټولی نه ښنی بلکه پرخپل حال دی پریږدی، م ط،

پوښتنه: چی فقهاءٌ والئ چی پورته کول دلاسو په څوځایه کښی سنته دلیل ا، یوخو تکبیر سره دافتتاح الصلوٰة ترغوږو پورې ۲، اوبل د تکبیر قنوط سره ترغوږو پورې ۳ اوبل په تکبیرو زوائدو کښی داختر و ترغوږو پورې ۴، اوبل په وخت د استلام الحجر الاسود تر اوږو پورې او باطن دلاسودی د حجر اسود ته کی ۵، اوبل پر صفا او مروه باندی لکن مخ دلاسودی د کعبی شریفی وخواته کی په صحیح روایت کی.

۶، اوبل په وخت کی د دا خلیدو په مسجد حرام کی اول وار، نودی دی بیت الله شریف ته گوری لکن بعض عُلماءٌ والئ چی مخ دلاسودی کعبه شریفه ته کی. او بعض عُلماء والئ چی د دعا پر وقت دی لاسونه پورته کړی یعنی ترځیګر پورې او په مابین کی دلاسو بی جلا والی وی که څه هم لږ وی. ۷، اوبل په وخت کی د جمع دلمونځو په عرفات کی د دعا پر وخت ۸ اوبل په وخت کی د جمع دلمونځو په مزدلفه شریفه کی د دعا پر وخت.

پوښتنه: که یو سړی د دعا په وخت کی د خدای جل جلاله څخه یوشئ غوښتئ لکه جنت یا رزق د دُنیا او نور نودی لاسونه ترځیګر پورې پورته کړی فُرجه دې ورکړی اوْ لاسونه اومخ دې داسمان وخواته وی. او که چا نجات د خدای څخه وغوښتئ د اوره د جهنم او یا بل عذاب دنیا وی څخه، نو لاس خودې ترځیګر پورته کړی سره د فرجی لکن مخ دلاسو خپل د مخ وخواته کی. او کی یوچا ته چی مستحق د ښرا او د هلاک وغیره ښرایه کوله د لاسو مخ دی د محکی وخواته کی.

پوښتنه: چی هر وخت چی سړی دعا وکړی ورسته تر دُعا دی لاسونه پر مخ تیروی دا سُنت دی

مسئله: چونکه اصل د دُعا په اجتماع سره په استسقاء کی ثابت دی

د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه اود غه رنګه په وخت کی د مباهلی په اجتماع د څلمیانو نو دعا کول په اجتماع سره ورو ورو سته تر لمونځو کم بدعت نه ده لکه وهابیان چی وائی ولی بدعت هغه فعل ته وائی چی په دین کی اصل نه لری. سره د دی چی دُعا په اجتماع سره اقرب واجابت تر هم ده. نو ځکه تبلیغی جماعت والا په لوبو اجتماعاتو کښی خپل دُعا بالاجتماع په مساجدو کی بدعت بولی. اود دُعا په وخت کی د امام او مقتدیانو سره لاسونه نه پورته کوی.

نوشاید دغه کسان به وهابیان وی او په تبلیغی جماعت به گډ سوی وی دپاره د دی چی دوهابیت مرام پر مخ بوزی. اود فقیر داخیال دی چی په اوسنی زمانه کښی چی بعض مُلایان پر تبلیغی جماعت لګیږی او بَد څندی وَړی په سبب د دغو وهابیانو چی په گډ سوی دی. او په لږ کار سړی مشرک بولی. لهذا مقتدایان اصلی د دی جماعت اصلاً په سبب د یو کار مُسلمان ته مشرک نه وائی. تاسو کولای سی چی د دی جماعت دلوړو علماوو لکه جناب مولانا زکریا، وغیره مطالعه کړی. د شرک لفظ به پکښی وَه نه وینئ. بلکه د شرک لفظ شعار د وهابیانو دی. یا په بل نامه موحدینو یا په بل نامه اهل الحدیث د دی زمانی، یا په بل نامه سلفیان د وخت حاضر.

مسئله: غیر د دغو څایونو په بل ځای کی رفع دلاسونه سنته. نه مونږ د امام اعظم په مذهب کی او نور مذهبوالا یه د تکبیر سره د رکوع او د پورته کیدو د رکوع څخه، او د بعض نورو په نزد د لمانځه په وخت کښی لاسونه غوږونو ته پورته کوی. **پوښتنه:** که څوک حنفی په دغو تکبیرو کی لاسونه غوږونو ته پوسی لمونځ یه فاسدیږی او که څرنګه!!

جواب: بعض فقهاءٌ والئ فاسدیږی لکن فتوی پردې ده چی نه فاسدیږی کما فی النهر الفائق وهو الصحیح کما فی السراج، ط قال المصنف

ومقارنة إحرام المقتدي لإحرام إمامه

اوسنت دی یوځای والی د تحریمی د مقتدی د تحریمی سره

د امام۔ اوداهم دی مذهب دامام اعظمؒ۔ دلیل یه دا دی چی علیه الصّلوٰة وَالسّلام وَائی إِذَا کَبَّرَ ای الامام فَکَبِّرُوْا اوکله دفاء دوخت دپاره ده نومعنیٰ دحدیث داده چی تاسی تکبیر وایاست په وخت کی دتکبیر وئیلو دامام، اوپه بل ځای کښی دقرآن مبارک داسی راغلی دی، وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا اوبَل ځای داسی فرمائی. وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا اوداخو ظاهره خبره ده چی نهانه دقرائت دقرآن اود انصات یاد استماع خوبیوه ده لکن دمقارنت دپاره داشرط دی چی دالله لفظ یاد اَکْبَر لفظ به ترامامه دمخه نه وائی.

امام طحطاویؒ وائی که چیری مقتدی لفظ د اَللّٰهُ دمخه ترامامه ووائی او اکبر ورو سته ترامام ووائی. اویا اَللّٰهُ سره دامامه ووائی یا ورو سته ترامام مگر اکبر یه ترامام دمخه ووایه لایصح شروعه فی اظهر الروایات وهوالاصح. ولی مقتدی چی شروع کوونکی په لمانځه کښی په قوله جمله د اَللّٰهُ اَکْبَر» **حاصل داچی** دامام اعظمؒ په نیز ثواب تحریمی بیله مقارنت مقتدی تدنه پیدا کیږی. اردلیش وائی چی مراعات دامام اعظمؒ دمذهب به تحریمه کی دپیر غوره اوفکر غواړی. کما لایخفی.

اویارانؒ وائی چی په هغه حدیث کښی چی تیر شو «فا» دپاره د تعقیب ده نو تحریمه دمقتدی دی بلافصله ترامام ترتحریمی وروسته وی. قهستانیؒ وائی چی الف د لفظ د اَللّٰهُ دمقتدی دی په «را» سره د اکبر د امام جوت وی. امام سرخسیؒ وائی چی نور افعال دمقتدی اوامام هم پرداغه اختلاف دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ فی المراقی: وَلَاخِلَاف فی الْجَوَاز عَلَی الصَّحِیح بَل فی الاولویه۔ لکن شیخ الاسلام وائی چی مقارنت په اجماع سره افضل دی. وَقَالَ بَعْضُ الْفُقَهَاءِ چی مختار د فتوی دپاره په تحریمه کی افضلیت د تعقیب دی۔ اودریش هم وائی چی په سبب داسانی دمذهب دیارانو نه هم فتوی د دوی پر رأیه ورکوم۔

نومواقق دمذهب سره دیارانو فضیلت اوثواب دادراک د تحریمی ترخوخت پوری دوام لری په بعض کتابو کښی وائی چی تروخت د تمام وَالی دسُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ آه او بعض علماء وائی چی ترتولی فاتحی وئیلو پوری» اوپه مضمرات کی وائی چی ترتمامه داول رکعت وَهُوَ الصَّحِیح اردلیش وائی: چی دافراخه دتولو مذهبونو دی. لکن سره دهغه مبادرت ومقارنت تدبنکاریږی

بلارهیب لکن دنیت ترلوسوداسی نه په دی باره کښی دتاسف وړ دی. اوسلام گرځول دمقتدی اوامام په نیز دامام اعظمؒ لکه تحریمه افضل یه اقتران دی اوامام طحطاویؒ خبره نوره هم پسی اوږده کړی ده. قَالَ الْمُصَنِّفُ۔

وَوَضْعُ الرَّجُلِ یَدَهُ الْیُمْنٰی عَلَی الْیُسْرٰی تَحْتَ سُرَّتِهٖ

اوسنت دی الیښوول دنرو راستر لاس پرچپه لاس لاندی تر نامه. یعنی څرنګه چی اَللّٰهُ اَکْبَر» ووایه دستی دی لاسونه کښته ایله کړی تر نامه لاندی دی ونسیی. داسی دی نه کوی لکه بعض جاهلان دوخت چی څه وخت چی اَللّٰهُ اَکْبَر ووائی بیا لاسونه کښته ایله کړی چی بیه لاسونه سیده ایله سوه بیا نوبیرته لاسونه راپورته کړی پرنامه یه ونسی.

پوښتنه: چی په یوه حدیث کښی داسی راغلی دی وَوَضْعُ یَدِهِ الْیُمْنٰی آه چی دی حدیث روایت حضرت علی رضی اللّٰه عنه کړی دی. اوپه بل حدیث مرفوع کی لفظ د اَخَذَ راغلی دی. نوزمونږ مشائخ د جهت دعمل بالحدیثین داسی کیفیت یه مختار کړی دی چی باطن د راسته ورغوی دی پرظاهر د چپه ورغوی کښیږدی چه د ابه وَضع سی. او بته گوته او څنګه گوتی دی پربند دلاس را وتخوی دابه اخذ سی.

قَاعِدَهٔ کُلِّیَّه

هروَلاړه چی په هغه کښی ذکر مسنون وی که څه هم حکماً وَلاړه وی لکه سړی چی په ناستی لمونځ کوی په هغه وَلاړه کی دی لاس پرنامه نسی. نوبناءً علی هذه القاعدة په وَلاړه کی د رکوع څخه اود سجدی څخه اوپه مابین کی دتکبیرو د اختر و وَضْعُ الید نسته لعدم الذکر المسنون. اوپه سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ سره سوال نه وارید ی ولی چی مراد د قیام څخه قیام د قرار ده. **پوښتنه**: چی په نیز د امام اعظمؒ اوامام ابو یوسفؒ وضع الید دهغی قیامی سُنت دی چی په هغه کښی ذکر مسنون وی اوپه نیز د امام محمدؒ سُنت دی دهغی قیامی چی په هغی کښی قرائت وی نوپه حال کی دسُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ اویا دعاء قنوت لاس ایله نسی په نیز د امام محمدؒ یا دجنازی په لمانځه کی

قال المصنف: **ووضع المرئة يديها على صدرها من غير تحليق**

اوسنت دی ایښودل دښځی دواړه لاسونه پرځیګر باندی بیله ألغه کولو دیوه پربل باندی یعنی په دی کی دی ستر وپردی. او په دی سُنت دی مینځه اوځړه سره برابری دی. قال الامام الطحطاوی چی ښځه دنره ځنځ مخالفه ده پرځومسئلو کی. اودا ټوله مخالفت په سبب د ستر دی. (۱) وضع المرئة آه (۲) لاسونه د لستونړو څخه نه را باسی په وخت کی د تحریمی (۳) اوپورته کوی یې لاسونه په تحریمه کی تر اوږو پوری (۴) اوګوتی یې د رکوع په وخت کی فراخ نه نیسی (۵) اوپه رکوع کښی یې ډډه نه کښته کیږی چی داهیئت د دی دپاره استر دی (۶) اود سجدی په وخت کی یې ښځه نه سره جوته وی اوبازوګان دی دبغلو اودواړی پښی دی پرځمکه استر خواوباسی. اویو وړوند دی پربل کښیږدی.

اوداسته پښی دی پرچپه پښی کښیږدی مجمع الانهر (۸) ښځه کړی څه هم نر محرم وی امامت نسی ورکولای (۹) اود ښځو یوازی جماعت مکروه دی (۱۰) که سره دکراهته دوی جماعت کاوی امام ښځه یې په صف مابین کی ودروی. (۱۱) اوپه جهری لمانځه کی یې جهر نه کوی. (۱۲) اود ښځو په حق کی د سحار لمونځ په تاریکه کی ښه دی. اوکه سړی تلاش په لمونځو کی وکړی د دی ځنځ علاوه نور فرقونه به هم پیدا کړی. چی یودادی (۱۳) چی ځوانانی ښځی به د جماعت دپاره مسجد ته نه ځی.

تبصره: امریکا یان اوغربیان وائی چی ښځی دی په نیکرانو کی میله کوی اوتر وړنو نوبې پرکفار و هیبت کم سی. قال المصنف.

والثناء والتعوذ للقرائة والتسمية أول كل ركعة

اوسنت دی سُبحانك اللّٰهُمّ ویل په اول رکعت کی هر لمونځ گذاره نو مقتدی دی سُبحانك

اللّٰهُمّ هغه وخت چی امام په قرائت شروع نه وی کړی. که په اول کی د لمانځه ورسره شریک وی اوکه مسبوق وی اوله ونځ جهری وی اوکه خفیه وی. ط، م،

پوهه سه: چی أعوذ باالله تبع د نفس قرائت ده والحمد لله تبع نه ده ددی وجهی که سړی بیله الحمد لله بل سورة وایه اعوذ بالله به وائی. م ط. **مسئله** مختار په ویلو کی د أعوذ بالله دغه الفاظ دی. أعوذ بالله من الشيطن الرجيم وهو اختيار ابی عمرو اوعاصم او ابن کثیر مکی دی. په قراء سبعه وو کی. اودا مختار ه د اکثر و حنفیانو نوده وهو المنقول من استعاذة النبی صلی الله علیه وسلم دی. نوهغه الفاظ چی صاحب د هدایه اوامام هندوانی خوښ کړی دی یعنی أستعيذ بالله آه ضعیف دی. ع، ط، اوسبب د دوی دا اختیار مذکوره الفاظ ولره موافقت دی د لفظ قرآنی: فاستعذ بالله الخ

پوهه سه: چی د تعوذ مشروعیت دپاره د قرائة القرآن دی کی په خارج کی د لمانځه قرآن مبارك وایه هم اول أعوذ بالله ویل سُنت دی. اوکی په لمانځه کی د قرائت وایه أعوذ بالله ویل د ښځه ترشروع په قرائت وروسته تر سُبحانك اللّٰهُمّ سُنت دی. وجه د مشروعیت د تعوذ قبل القرائت دا دی چی قاری ته شیطان په وخت کی د قرائت وسوسی ور وانه چوی. اودا مذهب دی د امام اعظم اود امام محمد.

اوامام ابی یوسف وائی چی تعوذ تبع د سُبحانك اللّٰهُمّ ده، نوپه نیز د طرفینو مقتدی به أعوذ بالله نه وائی. ولی چی ده لږ قرائت فسته. اوپه نیزد امام ابی یوسف مقتدی به تعوذ وائی ولی چی سُبحانك اللّٰهُمّ خودی وائی. اود غه رنګه داختر په لمانځه کی به امام په اول رکعت کی پس له تکبیراتو زوائدو به أعوذ بالله وائی ولی چی هغه وخت قرائت شروع کیږی. اوامام ابی یوسف وائی چی تر سُبحانك اللّٰهُمّ وروسته تر تکبیراتو زوائدو د ښځه دی أعوذ بالله وائی. اوهم هغه مقتدی چی امام یو رکعت یا بالا ځندی تیر کړی په وخت د اقتداء په امام پسی دی أعوذ بالله نه وائی. ولی چی په دغه وخت کښی ده ته قرائت ویل فسته بلکه هغه وخت به أعوذ بالله وائی چی خپل تیر سوی لمانځه نه وروسته پسی یعنی قرائت شروع کوی.

او امام ابی یوسف وائی چې هم به اَعُوذُ باللّٰه داقتداء په امام نیسی وائی اوهم ورسره چې دی د تیرسوی رکعتوقضاء راوړی» بحر، عن، ط، در،

د بِسمِ اللّٰه په بارہ کی لنډ تحقیق

پوه سه: چې بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ یوایت دقرآن څخه زمونږ حنیفیانو په نیز، اوامام مالک اوامام اوزاعی او بعض علماءد حنیفیانو چې بِسمِ اللّٰه آیت د قرآن نه ده صرف اوصرف دپاره د پیژندلو د جلا والی دسورتونازل سوی ده، چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم فصل دسورتوهم په دغه سره پیژندی **تنبیه**: دا اختلاف په دغه بِسمِ اللّٰهِ کی دی چې په اوائلو کښی دسورتو ده. نه هغه څای» اِنَّهٗ مِن سُلَیمَانَ وَاِنَّهٗ بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِیمِ ولی هغه خو بالاتفاق جزء دقرآن ده. او امام شافعی وائی چې په اول کی دهر سورة چې بِسمِ اللّٰه موجوده وی هغه دهغه سورة جزء ده. نو بناءً علیٰ هذا په عدد کی دایاتو د قرآن مجید په مابین کی د حنیفیانو او شافعیانو ترمنځ فرق ستر» کما لا یخفیٰ»

اوپه نیز امام اعظم په یوازی بِسمِ اللّٰه سره لمونځ نه دی روا. ولی چې قرائت په لمانځه کی فرض بالتعیین دی. او د بِسمِ اللّٰه پرقرائیت کی امام مالک اوزاعی مخالف دی. نوپه قرائیت کی شبهه پیدا سوه.

فائده: دقرائیت څخه د بِسمِ اللّٰه په اوائلو کی د سورة منکر کافر نه دی. ولی کوم څه هم په تواتر سره په قرآن کښی لیکل کیږی. آمّا قرائیت یې متواتر نه دی. اوسړی په هغه آیت سره کافر ګرځی چې څنډی منکر سی. چې قرآن والی یې ثابت وی. امام قهستانی وائی چې بِسمِ اللّٰه په حق کی د مسئلو کولو د محدث حکم د قرآن لري. یعنی مسئله به محدث ته نه ده روا. نه پجواز کی د لمانځه. او بجواز الحق کی وائی چې جنب ته به ویل هم ناجائز دی. مګر په نیت د تبرک یا د ذکر د پاره.

مسئله: بِسمِ اللّٰه ویل په اول کی د هر رکعت د لمانځه تر اَلحَمدُ لِلّٰه سُنت دی. مصنف په مراقی الفلاح کی وائی: وَالقَولُ بِوُجُوبِهَا ضَعِیفٌ لِعَدَمِ ثُبُوتِ المُوَاظَبَةِ عَلَیهَا. لکن امام زیلعی په باب کی د سجود السهو وائی چې بِسمِ اللّٰه واجب ده. حتی که سهوا پاتې سی سجده سهوه به کوی.

او لفظ راَیه دوجوب صحیح کنړلی ده علامه مقدسی شارح المنظوم او په معراج الدرایه کی د معلیٰ څخه چې هغه روایت د امام اعظم څخه کوی. چې بِسمِ اللّٰه په هر رکعت کی واجب ده. اوهم دلته قول دیارانو ذکر کړی. او په روایت کی د الحسن د حضرت الامام څخه د اسی راَعلی دی چې صرف بِسمِ اللّٰه په اول رکعت کی واجب ده. لکن صحیح داده چې په هر رکعت کی واجبه ده. و اِلیه مَالَ ابن وهبان او فقیر هم دراَیه خوښه ده

امام طحطاوی وائی چې که سهوا بِسمِ اللّٰه په یوه رکعت کښی پاته سی سجده سهوه دی وکړي خو جهرا عن هذا الخلاف» **تنبیه**: که مصلی په رکعت کی پوره سورت وایه دغه دی اَعُوذُ باللّٰه اوبیا دی لبِسمِ اللّٰه ووائی لکن دا کار سُنت دی. او کی پوره سُورت نه وایه بلکه یوشو آیته یه ویل نو اَعُوذ باللّٰه دی ووائی بِسمِ اللّٰه نه غواړي. تعوذ هم سنت دی.

مسئله: د بِسمِ اللّٰه په ویلو کښی د جهري لمانځه او سرّی لمانځه فرق نشته کما ذکر لکن زمونږ په نیزدی جهر په بِسمِ اللّٰه سره نه کوی. او مصنف په شرح کښی د در روائی چې بسم الله ویل په مابین کی د اَلحَمدُ لِلّٰه او سُورة مکروه نه ده بلکه سنه کار دی. لکن قهستانی وائی چې بِسمِ اللّٰه دی په مابین کی د اَلحَمدُ لِلّٰه او سورة نه وائی. په نیز د امام اعظم امام ابویوسف قَالَ فی المضمرات والفتوی عَلیٰ قولهما. او د امام محمد څخه روایت دی چې په سرّی لمانځه کی په مابین دفاتحه او سورة بِسمِ اللّٰه ویل سُنت دی نه په جهري کښی»

ورویش وائی: چې د اختلاف په سُنت والی کی د بِسمِ اللّٰه دی ورنه په دی کی شک نشته چې ویل یې ښه کار دی. قَالَ المُصنِفُ **وَالتَّامِینُ** او سُنت دی امین ویل ورو سته ترفاتحې امام له مقتدی له چې جهري لمونځ وی. او دغه سُنت دی قاری له دفاتحې سره دباندی تر لمانځه» مړه په حدیث مبارک کی آنحضرت صلی اللّٰهُ علیه وسلم فرمائیلی دی. لَقَّنَنِی: وما ته ښوولی دی جبرئیل علیه السلام: عِندَ فَرَاغِی مِن الفَاتِحَةِ، په وخت کښی د فاتحې څخه فارغ والی نهاد فاتحې څخه: اَمِین. وَ اِنَّهٗ قَالَ اوجبرئیل وویله. اِنَّهٗ کَالخَتمِ عَلَی الکِتَابِ، چې دالکه مهر دی پرکتاب باندې. او په صحیح حدیث کی چې روایت یې بخاری وغیره کړی دی» قَالَ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّم: اِذَا اَمَّنَ الاِمَامُ فَاَمِّنُوا: څه وخت چې امام امین

وروایة تا سی هم امین وایاست. فَاِنَّ مَنْ وَافَقَ تَأْمِيْنُهُ تَأْمِيْنَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ: ولی که دچا امین برابر سود امین سره دملکوده ته ور بخښل کیږی هغه گناهونه چی ده دمخه کړی وی. **پوه سه**: چی مراد په حدیث شریف کی برابر والی دی پرتیوه وخت کی دویلو او بعض عُلماءُ وائی چی مراد موافقت په اخلاص کی دی.

فَائِدَه: شیخ رحمی وائی چی امین سریانی لغت دی لکه قابیل. ولی چی داوزانو مخرد کلمه دعربو نه دی. اودا لفظ اسم فعل دئ، په معنیٰ دامردی یعنی اِفْعَلْ یَا اللّٰهُ کما قَالَ، اوقُلْتُ، یعنی کی دبَلْ دُعَا امین کاوه نو ښه وائی کما قَالَ، اوکی پرځپله دعا امین کاوه نو کما قُلْتُ. چی په معنا داسکت دئ.

اومصنفؒ په مراقی کښی وائی چی امین دقرا ت مخنه نه دئ. اومجتبیٰ والاوائی چی په قرائت کی اختلاف سته، ط، مر، **مسئله**: لفظ دامین په مدسره اوقصر سره دواړه روادی په تخفیف دمیم په دواړو کښی. اوکی په مدسره ووائی سره دتشدید دمیم خطاء دئ. په څلورو مذهبو کښی لکن په نیزد امام ابو یوسفؒ لموښځ نه په فاسدیږی لِوُجُوْدِهِ فِی الْقُرْاٰنِ، وَلَا اٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ، الآیة

دَامین په معنیٰ کی اختلاف

یوه معنا خوهغه وه چی مونږ ذکر کړه، اوجمهور وائی چی معنا یه: اِسْتَجِبْ دُعَائَنَا، ده. اوامام ثعلبیؒ په خپل سند سره دابن عباسؓ مخنه روایت کړی دئ چی ابن عباسؓ وَقَدْ سَئِلَ چی مادامین ده معنا پوښتنه وکړه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم مخنه ده مبارک وویل چی معنا یه اِفْعَلْ ده. اوبعض فقهاءؒ وائی چی معنا یه، لَا يُخَيِّبَ اللّٰهُ رَجَائَنَا، اومحدث عبد الرزاق دابی هریرهؓ مخنه په سند ضعیف روایت کوی. چی امین دخدای پاک نوم دئ نو معنا یه داسی ده یا امین استجب فحذف منه حرف النداء واقیم المنادی مقامه مثل یُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا، درویش وائی چی بعض فقهاءؒ چی په قصر سره دامین ویل روا نه بولی په دغه وجه چی دخدای پاک نوم دئ. اوبعض عُلماء وائی چی امین یوه خزانه ده دخزانو مخنه د عرش چی په تاویل یه بی خدایه بل څوک نه پوهیږی.

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَالتَّحْمِيْدُ** اوسنت دی رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، منفرد لره په اتفاق لکن وروسته ترسَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. **اِخْتِلَاف**: بعض فقهاء وائی چی منفرد دی سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، چی درکوع مخنه پورته کیږی وَدِی وَوائی. اورَبَّنَا وَلَكَ چی سُجُدی ته کښته کیږی وِدی وائی مگر فتوی پردی ده چی رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ دی په ولاړه کښی پوره کړی کذا فی مجمع الانهر وجزم به فی الدرر وهوظاهر الجواب و هوالصحیح قاله القهستانیؒ وعلیه فتوی الفقیر.

اومقتدی دی هم اتفاقاً وائی. اوامام دی هم وائی په نیزدیا رانوړ. ولی چی په حدیث شریف کی راغلی دی په روایت د ابی هریرةؓ: اَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا، رواه البخاریؒ ومسلمؒ اوپه عقلی دلیل یه دادی چی امام نور خلک پرحمد ویلو باعث کړو نوځپل ځان دی نه هیروی. اود حضرت الامامؒ هغه حدیث دلیل دی چی روایت انسؓ اوابو هریرةؓ ذکر کړی دی چی آنحضرت صلی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویله: اذا قَالَ الامامُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فقولوا رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، (متفق علیه) نوآنحضرتؐ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ امامرته وکړه او رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ یه ومقتدی ته مخصوصه کړه. وَقَالُوا التَّقْسِيْمُ قَاطِعٌ لِلشَّرِكَةِ، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْاِسْرَارُ بِهَا اوکرار دی وائی دغه مذکوره ثنا یعنی ثنا وغیره په دلیل دهغه حدیث چی علیه السلام وائی: خَيْرُ الذِّكْرِ الْخَفِيُّ، وخیر العبادة اَخْفَاهَا وخیر الرزق ما یکفی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْاِعْتِدَالُ عِنْدَ التَّحْرِيْمَةِ مِنْ غَيْرِ طَاءَةِ الرَّأْسِ

اوسنت دی سر دریدل په وخت کښی دتحریمی بیله کښته کولو سره تحریمی ډیاره لکه چی عادت دعوامو بلکه دبعض مُلایانو خصوصاً په ژمی کی چی گرم پتوی په سر اچولی وی اوداسنت والی دتحریمی دسره مخنه بیا تر پایه پوری، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَجَهْرُ الْاِمَامِ بِالتَّكْبِيْرِ وَالتَّسْمِيْعِ اوسنت دی په زوره ویل دامام په تکبیر سره یعنی په تولو

رکعتو کښی. ولې چې امام ضرورت لري چې خلګ په شروع د لمانځه اوپه انتقالاتو خبر کړي. او منفرد اومقتدي خو ضرورت نه لري.

فائدهٔ مهمّة: که چیرې د امام اواز د تکبیرو غږ وقومرته ونه رسیدی بیاد بل تکبیر ویونکی تکبیر مکروه دی. امام طحطاوي په صـ٢١٢ ده السیرة الحلبیه څخه نقل کړی دی، اتفق الائمة الاربعة- اتفاق کړی دی خلورو مذهبو امامانو چې «ان التبلیغ فی هذه الحالة بدعة منکرة» یعنی رسول د تکبیرو د امام په دا غسې حالت یعنی چې د امام صوت پخپله هم رسیږي بدعت منکر دی. اوکه چیرې مکبّر ته ضرورت وو یعنی چې د امام آواز د الله اکبر، اوسمع الله لمن حمده ټوله جماعت والا ته نه رسیدی یا خود امام آواز ضعیف وو اویا د جماعت خلګ ډیر وو. بیا نو تکبیرونه ویل د مقتدیانو مستحب کار دی. اوکه چیرې موظف مکبرونه وو نو په هر صف کی دی یوسړی الله اکبر وائی چې ټوله په خبر سې.

سوال: د تکبیر ویلو څه ضرورت دی ولې چې اول صف والا د امام انتقالات په ستر ګو وینی دوهم صف والا اول صف والا وینی ثم وثم: **جواب**: که په صفونو کی ږندیان وو نو هغو ته خو انتقالات د امام یا صفونو په ستر ګونه وینی.

مسئله: که امام په تکبیر افتتاح کی فقط وفقط خبر ول د خلګو مطلب وو شروع یې په لمانځه یې نه صحیح کیږي. اوکی صرف احرام د لمانځه غرض وو نو شروع یې په لمانځه یې صحیح سوه. اوکی دواړه کار ه مطلب وی خدای پاک به دوه ثوابونه ورکړي.

ضرورې خبره که د تکبیرویونکی (یعنی اول تکبیر) فقط د خلګو خبر ول غرض وه په یې احرام تړلو د امام د ده لمونځ خونه دی صحیح. اود هغو خلګو لمونځ هم نه دی صحیح چې د مکبّر څخه اخته کوی. ولې چې دا نور خلګ په هغه چا پسې اقتداء لري چې هغه په لمانځه کی نه دی یعنی مکبّر، **پوه سه**، چې دا ټوله بیان مخصوص په اول تکبیر پورې دی. اوهر چه سمع الله لمن حمده، ده د امام د خوا. اوربنا لک الحمد د مکبر د خوا یا تکبیرونه د انتقالاتو دی لکه د رکوع یا سجدې وغیره دپاره په هغو کښی قصد د ذکر نه دی

لازم بلکه لمونځ یې صحیح دی. بهرصورت بلکه نیت د ذکر دپاره د ثواب دی. اوکه مقتدي یا په قول د دغه بل که عمل وکړي د هغو لمونځونه نه دی فاسد بلکه صحیح دی. ولی دغه مکبّر اول تکبیر په سبب چې په نیت د ذکر یې وو اویا یې په لمانځه کښی داخل سو فلا یلزم الاقتداء بمن لیس فی الصلوٰة. قال المصنف:

وتفریج القدمین فی القیام قدر اربع اصابع

او سنت دی دیږي پښې د بلې پښې څخه په ولاړه کی په اندازه د څلورو ګوتو. **پوه سه** کول دیوی پښې د بلې پښې څخه په ولاړه کی په اندازه د څلورو ګوتو. چه دغه اندازه نه زیاتی ده د لمانځه د خشوع ته. دا روایت دی د کتا اثر د امام اعظم څخه لکن دغه اندازه د هغه سړي د پاره ده چې عذر نه لري. اوکه یو سړي د پاره د چې عذر وی اویا چوړه وی یعنی کلمی یې خایونه راشوه کیږی. چې پرده اسی دوو خلګو باندی لیږی کول د پښو تکلیف وی یعنی دوی ته چې پښې دیږي ازادی کړي راحت وی نو هغوته اجازه سته چې پښې دیږي سره آزادی کړي:

فائده: د فقهی شریفی په کتا بو لفظ د تراویح، راغلی دی چې معنا یې داده چې په ولاړه کښی یوګړي پر یوه پښه تکیه وکی اویل ګړي پر بله پښه تکیه وکړي. د تراویح په باره کښی مصنف په مرا تی کی وائی. والتراویح افضل من نصب القدمین، یعنی د تراویح کول په ولاړه کی سنه دی تر پښو په یو رنګ نیولو. ولې چې په دی کی آسانی ده پر لمونځ کوونکی باندې. اوپر طول القیام باندی د یو قدرت ورکوی. اوپه فتاوای ظهیریه کی وائی چې د امام اعظم څخه روایت دی چې تراویح بنه معلومیږی ماته تر نصب القدمین، بلکه ابن امیر الحاج وائی چې تراویح سنت دی. اوپه فتاوای هندیه کی هم داغسې وائی. لکن په منیة المصلی کی وائی چې تراویح مکروه دی. اوصاحب د بنایه د کشف څخه نقل کړی دی چې تراویح مکروه دی **نو واوره**: چې امام طحطاوی د اختلاف د فقهاوو د اسی دفع کړی دی، چې تراویح په دی ډول چې په ولاړه کښی ګړی ګړی پر راسته اوچپه پښه تمایل اوکړي یعنی په مابین کی فصل نه ورکوی لکه بعض

عوامو یا دور واغو پیران چی کوی داخو یقیناً مکروه دئ. اومراد د مُنیَة المصلی او فتاوی بنایه هم داغه تراوح دی. او یو داچی یو وار پریوه پښه تکیه وکی یوگړی وروسته بیا یې بله پښه تکیه وکړی دغه معنا مراده د حضرت الامام الاعظم او مصنف په مراتی کی او همدغه معنا مراده د فتاوای ظهیریه. اوفتاوای هندیه انتهی بزیادة من العبد العاصی،،

فَائِدَة په تاریخ کی د حضرت الامام الاعظم داسی راغلی دی چی دی مبارک چی یوه شپه د حج په موقع کی د بیت الله شریف په خونه کی هغه شپه تیره کړه د دوو رکعتو نفلی لمونځ نیت یه وکړی. اونیم قرآن کریم یه یه یوه رکعت کښی ووایه. اونیم یه په بل رکعت کی. بعض ناقصه مُلایان ددی تعبیر داسی کوی.

چی امام علیه الرحمة په یوه رکعت کی یوه پښه پرهغه بله پښه کښیښول اونیم قرآن یه ووایه اوپه بل رکعت کی هغه لاندی پښه پرهغه بله پښه کښیښول اونیم قرآن شریف یه ووایه... داتعبیر شرعاً اوعقلاً غلط دی،، ولی چی اوس اوس تیره سوه چی حضرت الامام تراوح دیارلس دیارلس ورځی افضل بولی. نوده په خپله ولی خلاف د هغه کاوه. او ازروی عقل داسی ولاړه اودومره اوښ ده د عقل پیره لیری ده. بلکه مراد په دغه روایت کی هغه تراوح ده چی امام علیه الرحمه افضله وبالله

قال المصنف

اوسنت دی چی **وَاَنْ تَكُوْنَ السُّوْرَةُ الْمَضْمُوْمَةُ لِلْفَاتِحَةِ مِنْ طُوَالِ**

او وی به هغه سورة چی جوتول کیږی د الحمد لله سره د قسمه د طوال المفصل سورتو

الْمُفَصَّلِ فِي الْفَجْرِ وَالظُّهْرِ وَمِنْ اَوْسَاطِهٖ فِي الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ

څخه د سحار په لمانځه کی اودمابښین په لمانځه کی. اومیانه سورتونه دی وائی په مازدیگر اومانښتن کی:

وَمِنْ قِصَارِهٖ فِي الْمَغْرِبِ لَوْ كَانَ مُقِيْمًا وَلْيَقْرَءْ اَيَّ سُوْرَةٍ شَاءَ

اودکوچنی سورتونو دقسمه څخه په مابنام کی. اوداسنت والی هلته دی چی سړی مقیم وی اوکه مسافر وی نوهرسورت چی دده خوښه وی وائی دی په هرلمانځه کی چی وی

لَوْ كَانَ مُسَافِرًا که چیرې مسافر وو: **مسئله**: ددغو سورتو اوږد دُوو او میانه وو اولنډو. دپاره دامام اومنفرد دواړو سُنت دی.

دعِبرت ځای دی: چی بیخی کم امامان به دمابښین په لمانځه کی دهغه قرائت والی لکه دسحار د لمانځه چی دوخت تیرولو څخه سړی په پوهیږی. بلکه دمابښین اومازدیگر چندان فرق یه نه وی. او بله داخبره ده چی مُلاچی دسحار لمونځ یووخت یوائی کوی خدای خبر چی دی به طوال مفصل په کښی وائی **پوه سه**: چی په دی عبارت کی طِوال اوقِصار په زیر د اول حرف وایه جمع د طَوِیلَة او قَصِیرَة دی اوتانیث یه په اعتبار د دی دئ چی موصوف یه سورة دئ. اوطُوال په پیښ د طاء جلب سړی ته وائی. اوپه زور سره جگی ښځی ته وائی. نوپیښ اوزور دلته غلط دی.

پوه سه: چی مفصل کوم سورتونه دی په دی کی اختلاف دی داحناف مذهب دادی چی دسورة حُجرات څخه بیا تر والسَّمَاءِ ذاتِ الْبُرُوْجِ، پورې طوال مفصل دی. اود سُوْرَة وَالسَّمَاءِ آه څخه بیا تر لَمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ، آه پورې اوساط مفصل دی اوبیا د هغه ځایه څخه بیا تر پایه پورې د قرآن قصار مفصل دی وبهذا صرح فی النقایه،، اودی سورتو ته چی مفصل وائی دجهته څخه د دې وفصلو یعنی جلاوالی په بسم الله سره،، اوبعض عُلماء وائی چی دالفظ مشتق د تفصیل څخه دی په معنی د محکم والی. یعنی ددغو سُورتو احکام محکمه دی. ولی چی منسوخ لږ په کښی دی

فَائِدَه: داسورتونه چی په نومورو لمونځو کښی سنت دی په وخت کی

د عدم ضرورت او عدم عذر،، لکه وخت تنګ وی یا نه وی۔ اویا لمونځ کوونکی ناجوړ وی۔ اویا بل عذر وی لکه د بدن څخه بیرېدل د وغیره۔
او په وخت کی د عذر او ضرورت د مصلی خپل حال ته ګوری چی ده څومره قرائت ګنجائش وی هغومره دی وواېئ۔

حکایت یووخت پرامام ابو یوسفؒ د سحار لمونځ بیخی ناوخته سوی وو او امام اعظمؒ په ده پسی اقتداء وکړه ابو یوسفؒ دوه الیت د الحمدُ په هر رکعت کښی وویله ده لما نځه څخه چې فارغ شو۔ امام اعظمؒ وفرمایل یَعقوبُنا صارَ فقیهًا، یعنی یعقوب زمونږ چې د امام ابو یوسفؒ نوم وو اوس فقیه وګرځیدئ۔ ولې چې په قدر د تنګ والی د وخت پرلنډ قرائت وواېه قرطه۔

اِختلافُ الآثار **پوه سه**: چې اثار او اقوال په باره کی د قرائت د پنځو لمونځو مختلف دی۔ په جامع الصغیر کی واېئ۔ چې د سحار په لما نځه کی په مجموع دوارو رکعتو کی څلویښت یا پنځوس یا شپیته الیته واېئ ما سوا د الحمدُ لله څخه۔
او حسنؒ د حضرت الامامؒ څخه داسی روایت کړی دی، چې په ما بین د شپیتو ۶۰ بیاتر سلو الیتو پورې بی واېئ۔ په دوارو رکعتو کی۔ نو سل الیته هغه لوړ عدد دی چې په دوارو رکعتو کی به واېئ: او څلویښت یه هغه لږ عدد دی دوارو رکعتو، نو څلویښت الیته دی پرده وه رکعتو وویشی یا ۲۵ په اول رکعت کی یا په اول رکعت کی، ۳۰ - په دوهم کی باقیمانده۔ تر څلویښتو پورې یعنی یا ۱۵ په دوهم رکعت کی اویا لس په دوهم رکعت کی،

تنبیه: نو امام یا منفرد ته لازمه ده چې په ټولو غوره روایاتو دی عمل کوی په قدر د امکان، نو ۴۰ د ضعیفو خلګو د پاره دی او ما بین د ۵۰ تر ۶۰ پورې د میانه وو خلګو د پاره دی۔ او ما بین د ۶۰ تر ۱۰۰ پورې د عاشقانو د لما نځه د پاره دی۔ او بعض فقهاءؒ وائی که شپې اوږدی وی او ډیر سورتونه دی

واېئ۔ او که شپې لنډی وی بیا دی کم عدده سورتونه واېئ۔ او بعض علماءؒ واېئ که امام حَسَن الصوت وو او په اوږدو لمونځو کی یه قرائت نه بنه تاثیر کاوه نو دی اوږده سورتونه واېئ۔
او که امام کریه الصوت وو او خلګو ته خوند ور کاوه نو لنډ قرائت وواېئ چې ۴۰ دی۔ او ما زد بیګر په لما نځه او ما خستن په لما نځه کی دی ۲۰ الیته په دوو اولو رکعتو کی واېئ۔ علی رأی المحیط۔ او ۲۵ د خلاصی پر رایه، وهو ظاهر الروایة۔
او ما بنام په لما نځه کی اندازه داوږد والی ۵۰ په هر رکعت کی یا یو لنډ سورت

مسئله: تر ویلو د ډیر وآیا تو پوره کښنی سورت افضل دی۔ نو ځکه په بحر رائق کښی داسی واېئ چې زمونږ مشائخو د اخوښه کړی ده۔ چې امام دی په لمونځو کی مفصل سورتونه واېئ۔ تا چې خلګ په واورې اوزده ئی کړي۔

مسائلِ قرائةِ الامام

په روایت کی د عمر رضی اللهُ تعالیٰ عنه داسی راغلی دی، چې ده به ما بنام په لما نځه کی قصار مفصل سورتونه ویل۔ او په ما خستن کی بی اوساط المفصل ویله۔ او سحار په لما نځه کی بی طوال مفصل ویله او ما پښین لمونځ لکه د سحار لمونځ دی د سبب د فراغ د وخت۔ هم دا رایه د اکثرو کتابو د فقهی شریفی ده۔ او بعض علماءؒ چې ما پښین لکه ما زدیګر دی په قرائت کښی ولی چې خلګ په مهما تو کار واخته وی۔ **پوه سه**: چې د مذهب په مراعات باید مقلدین د تشدد او تعصب څخه کار واخلی۔ چنانچه په روایت کی د ابی هریرة رضی داسی راغلی دی چې آنحضرت صلی اللهُ علیه وسلم د جمعی د ورځی د سحار په لما نځه کی بی په اول رکعت کی الٓمٓ تَنْزِیلُ الْکِتَاب، پوره سورة وایه او په دوهم رکعت کی بی، هَلْ اَتٰی عَلَی الْاِنْسَانِ، پوره سورة وایه۔ نو حنیفیا نو د اسنت یک لخته

پری ایښی دی. مگر ښاغلی علماءو دی مذهب چی ګاهی ګاهی عمل په کوی.
اوشافعیانو پدغه سُنت دوام کوی مگر نه نادر ددوئی څخه چی هغه ګاهی ګاهی
پریښه دی. پس چا هلانو دوارو مذهبُو پر بل باندی الزام دبطلان دلمانځه لګوی
مثلاً. حنیفیان وائی که چا دادوه سورۀ دجمعی دسحار په لمانځه کی وویل لمونځ
یې باطل دی،،
اوشافعیان وائی کی دغه دوه سورتِه یې نه وویل لمونځ یې باطِل دی،، لکن انصاف
اوحق دادی چی نه یَک لخته ترک ددی دوو سورتو په کاردی اونی پرځان لازم ګنړل
په کاردی. **مسئله**: دضرورت په وخت کی هرسُورت چی په هرلمانځه
کښی ددوی څخه وویل سی روادی. په حدیث مبارک کښی راغلی دی چی یوه ورځ
آنحضرت صلی الله علیه وسلم دسحار په لمانځه کښی "قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ"
او "قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ" په یوه اوبل رکعت کی وویل دلمانځه چی آنحضرت
صلی الله علیه وسلم فارغ سو خلګو ورته وَوَیل "قَدْ اَوْجَزْتَ" یعنی دسحار
لمونځ دی کوتاه کړی. دی مبارک ورته وَوَیله "قَدْ سَمِعْتُ بُکَاءَ الصَّبِیِّ"
فَخَشِیْتُ اَنْ تُفْتَنَ اُمُّه" ترجمه: ما واوریدله ژړا دکشنی چی موږ یې په لمانځه
کښی شاملِه وه نوزه وبیریدم که زه لمونځ اوږد کړمو ربی په فتنه کښی
واقع سی یعنی یا بر لمونځ فاسِد کړی او یا ټوله فکر بی دکشنی په ژړا کی وی
نوزه که لمونځ کوتاه کړی.

مسئله: که دد بنمن څخه بیره تر اندازه تیره سوه اوسړی په هر رکعت
کی یو یو ایت ووایه گناه گار نه دی. او لمونځ یې صحیح دی نَقَلَه الطحطاوی
عن الشرنبلالیه. **پوه سه** چی داغه چی اوس ذکر سوه. مریض اوکار والا
اوضعیف سړی ټوله دضرورت په حکم کی داخِل دی. **فائِدَه**: که په
امام پسی معلوم څوکسه ولاړ وه اوهغه ټوله ضعفاء وه یا مریضان یا ارباب
الحاجه وه. خود هغود ضرورت سره موافِق دی قرائت وَوائی.

اوکه ټول اقویا وه اوتطویل القرائت شوقیان وه، نودی امام په هرلمانځه
کښی هغه اعلی درجه قرائت وَوائی. اوکه مقتدیا نو حال دډیر له کبله نه معلومیدی
نو په هرلمانځه کښی هغه کښته اولنډ دهغه لمانځه قرائت وَوائی. خواِمام دی
دیره سعیه کوی. چی خلك په سبب دتطویل القراءت دجماعت څخه
متنفره نه سی، قالَه فی المحیط والخلاصة والکافی وغیرها کذا فی الفهستانی. ط
مسئله: دسفر په حالت کی تقلیل القراءة بیله کراهته روادی. که حال د
قرار وی اوکه دعجلت وی. په حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام
دسحار له ونځ په معوذتینو سره ادا کړی دی یعنی په سفر کی.
اوهغه چی صاحب الهدایه دحال دقرار اوتلوار دقرائت په باره کی فرق بیان کړی دی
هغه فرق امام طحطاوی یې دی الفاظو ردکړی دی، لَیْسَ لَهٗ اصل یعتمد علیه
من جهة الروایة وَلامِن جهة الدرایة آه وَاللهُ اَعْلَمُ: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِطَالَةُ الْاُوْلٰی فِی الْفَجْرِ فَقَطْ

اوسُنت دی اوږد دَوَل داول رکعت دسحار
په لمانځه کښی فقط یعنی دسحار دلمانځه په اول رکعت کی دی اوږد سورت
تردوهم رکعت وائی اوداهم سنت دی. اوپه نورو لمونځو کی نه دی سُنت اوامام
محمد وائی چی زما خوښه داده چی اول رکعت دی په ټولو لمونځو کی تردوهم
رکعت اوږد وی. اودسحار په لمانځه کی اوږد دَوَل داول رکعت تردوهم رکعت
دنورمانی څخه دآنحضرت صلی الله علیه وسلم تراوسه پورې په میراث پاته دی
اوعقلی دلیل یې دادی چی سحار چونکه وخت دخوب دی اودغفلت دی نو
داول رکعت په اوږد ډیدو سره خلګو ته بدٌ ټوله جماعت نیولو موقع برابره سی.
کذا فی الغنایه والمراقی.
مسئله: دوهم رکعت اوږد دَوَل تراول رکعت مکروه دی بالاتر دوه ایته
اتفاقاً لکن مکروه تنزیهی دی. ط. **مسئله**: په نفلواوپه سُنتو کښی

اطالة اوښ دَول دوهم ر کعت پر اول ر کعت په قرائت کی پرواه نه لری، کذا فی العنایه والمراقی والفتاوی جمیعها.

ددی سبب هغه لمونځ د خابنت چې اولیاء الله دپاره دفراخی درزق په دے ترتیب بیان کړی دی. چې په اول ر کعت کی دی وروسته تر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سورة وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا آه ووائی. اوبه دوهم ر کعت کی دی، وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى آه ووائی. اوبه دریم ر کعت کی دی وَالضُّحٰى آه ووائی او په څلورم ر کعت کی دی اَلَمْ نَشْرَحْ آه ووائی که څه هم وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى تر وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا، په تعداد کی دائیتو دیږدی. لکن چونکه نفل دی هیڅ پروا نه لری.

خبرتیا ددی لپاره بلکه په تولو نفلی لمونځو چې څلور ر کعت کوی دعا نجۍ په ناسته کی. به اَللّٰهُمَّ صَلِّ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ وائی. اوچې دریم ر کعت ته وَلاړ سی، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به وائی. اودالمونځ دی په خابنت کی کوی.

قَالَ المصنفُ **وتكبيرُ الرُّكوعِ** اوسنت دی اَللّٰهُ اَكْبَرُ ویل د رکوع دپاره ولې چې په حدیث شریف کی راغلی دی چې رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تکبیر وایه دهر تکبیر کښته کیدو دپاره اودپورته کیدو دپاره یعنی ماسوا د رفع د رکوع څخه ولې چې په هغه کښی سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ به ویله. قَالَ المُصَنِّفُ.

وتسبيحُه ثلاثًا اوسنت دی تسبیح ویل په رکوع کی. لِقَولِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِذَا رَكَعَ اَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وذالك ادناه وَاِذَا سَجَدَ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ثلاثًا وذالك ادناه، **پوه سه**: چې ضمیر د اَدْنَاهُ. په دواړه ځایونو کښی راجع دی ولفظ غیر مذکور ته چې د مقام څخه فهمیږی، قَالَ فی المراقی ای ادنی کمالہ المعنوی وهو الجمع المحصل للسنة. وقیل ادنی کمال السنة. وقیل ادنی کمال التسبیح وقیل ادنی کمال القول المسنون، په هر تقدیر کی جمع لغوی چې

پردوو وهم صادق ده مراد نه ده. نو کمال د سُنت د تسبیح د رکوع او سجدی د ری مرتبی لری ادنی یې ۳ دی او ۵ یې اوسط دی او ۷ یې بالا. ترهغه اعلی دی. په هر رائق وائی چې زیادت د تسبیحاتو په رکوع او سُجده کی افضل دی لکن تاك دی وې یعنی ۳ یا ۵ یا ۷ یا ۹ وغیره.

ولې چې په حدیث د بخاری او مسلم د اسی راغلی دی. اِنَّ اللّٰهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ، یعنی خدای پاك تاك دی او تاك یې خوښ دی. او د غه د ری مرتبی په منیة المصلی کی او په مضمرات کی هم راغلی دی **پوه سه**: چې امر په حدیث نبوی کی یعنی فَلْيَقُلْ دپاره د استحباب دی. نو کی تر دری واړه کم وائی ثواب د سُنت نه پیدا کیږی بلکه مکروه تنزیهی دی. حتی که مقتدی ۳ واړه تسبیح نه وی پوره کړی او امام سر راپورته کی د امام متابعت دی وکړی. م.

مسئله: که یو عامی سړی وو چې لفظ د ظاء د عظیم په څپل مخرج کی نه سوای ویلای بلکه د اسی ویلې "عزیم"، نو هغه ته لازمه ده چې سُبْحَانَ رَبِّيَ الْكَرِيْمِ ووائی ولې چې عَزِيْم بی معنی لفظ دی. په دی ځای کی. **پوه سه**: چې چونکه په رکوع کی تذلل او خضوع ده. نو باید خدای پاك ته مقابل د خضوع ثابت کړی چې عظمت دی. او سجده چونکه غایة التسفل او کښته والی دی. نو دی وخدای ته مقابل د هغه چې علوه ده ثابت کړی. لکن مراد بې علو رتبی او قهر او غلبه وې. علو مکانی دی مراد نه وې. ولی خدای جل جلاله مکان نه لری، کما ثبت فی عقائد اهل السنة والجماعة خلافًا للوهابیة والسلفیة چې دوی عرش د خدای جل جلاله مکان بولی و للتفصیل موضع اخر. **مسئله**: امام دی په رکوع او سجده کښی دُونه پیری تسبیح نه وائی. چې قوم په ملال کښی واقع سی. م. او منفرد لره تر هرڅو پورې اختیار بلکه ثواب دی لکن ختم بې پر تاك باندی کوی کما مَرَّ. **مسئله**: که امام زیات والی وکړی په تسبیحاتو کی د رکوع چې یو سړی چې امام ته احساس وسوچې راځی نو د غه سړی به دار کعت وکنسی. بعض علماء وائی د اسی کار مکروه دی. او بعض علماء وائی چې

لمونځ یې فاسدسُو- او بعض عُلماء وائي چې امام په دغه کار سره کافرسُو- او بعض بیا وائي کې د اتلونکی نه پیژندی بیا کراهت نسته- او بعض عُلماء وائي کې د اتلونکی مسکین سړی وو نو په زیات والی کې کراهت نسته.

لکن دډرویش رایه دادهٗ لکه چې فقهستانی اوزاهدی کې چې د اغلی کې مقصود په زیا تولو کې ثواب وو نو بیا کراهت نسته. اوورته قول په هجر لائق اونهر کښې هم د اغلی دی- هغه وائي- ان قصد غیر القربة فلا شک فی کراهته وان قصد به القربة فلا ریب فی عدم کراهته" بلکه فقیه ابواللیث السمرقندیؒ لاتردی لوړه خبره کړیده- چې زیا تول د تسبیحا تو په رکوع کښې ډیاره ددی چې د اتلونکی دا رکعت وګنسی. دې مستحسن کار دیؒ. لِقَوْلِهٖ تعالیٰ- وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى" ترجمه: تاسی یو د بله سره کومک کوی پرښه کارو او تقوٰی باندې" لکن د رویش وائي چې قول د سمرقندیؒ بناء پردې دیؒ چې دغه کومک د امام ډیاره دا د راڅ د رکعت مبنی پرغرض دنیاوی نه وی لکه د رئیس سره د محلی، یا د مسجد، چاپلوسی کول او یا د اتلونکی د پرشتمنی والا او امام تر دین زکات ورکوې.

ولې چې په داسی صورت کی کراهت خوشخه کوی پرامام بیره دکفر سته، او بعض فقهاءؒ وائي چې تسبیحات د رکوع او سجدی او تکبیرونه د هغو تولو واجب دې. م» نو په ترک سره د هغو سهوًا سجده سهوه لازمیږی» او په قصد پریښولو سره یه لمونځ ناقص کړی» ط» او ابومطیع البلخیؒ چې د امام اعظمؒ شاګرد هم دی یوه نادره خارج د مذهب شخه دکتا بوشخه کړیده چې دی وائي چې تسبیح د رکوع او سجدی رکن ده لمانځه دې په ترک سری که عمدًا وی او که سهوًا وی لمونځ یه باطلیږی **فائده**: شافعیانؒ د فرضی او غیر فرضی لمونځو په رکوع کی ورسته تر تسبیح داتورې هم وائي. اَللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَلَكَ خَشَعْتُ وَلَكَ اَسْلَمْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ: او په سجده کی د اړ اتلونکی الفاظ زیاته وې.

سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ خَلَقَهٗ وَصَوَّرَهٗ وَشَقَّ سَمْعَهٗ وَبَصَرَهٗ فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِيْنَ" کمارویؒ عَنْ عَلِيٍّؓ او مونږ حنیفیانؒ دا زیا تولی په نفلی لمونځو کی مروی بولو" ط» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَخْذُ كُبَّتَيْهِ بِيَدَيْهِ وَتَفْرِيْجُ اَصَابِعِهٖ وَالْمَرَاَةُ لَا تُفَرِّجُهَا او سنت دی یعنی په حال کی د رکوع نیول د دواړو زنګنو په دواړو لاسونو سره او خلاص والی دګوتو- او سنت دی تفریج دګوتو نه کوی" په حدیث شریف کی د اسی راغلی دی چې آنحضرت صلی اللّٰه علیه وسلم د خپل خادم انس رضی اللّٰه تعالیٰ عنه ته داسی وویل: اِذَا رَكَعْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ عَلٰى رُكْبَتَيْكَ" پس کښیښده ته د رکوع کوی پرخپلو زنګنو وَفَرِّجْ بَيْنَ اَصَابِعِكَ: او ته خلاصی د نیسه خپلی ګوتی" وَارْفَعْ يَدَيْكَ عَنْ جَنْبَيْكَ: او پورته د نسر لاسونه د بغلونخه. په داسی کولو کښی غوړول د مَلا ښه راځی او چونکه مبنی د حال د نبځی پرستر دی نو دی کبله دی ګوتی نه سره ګو ښه کوی.

مسئله: په رکوع کښی تفریج الاصابع سُنت دی. او په سُجده کی جوړه ګوتو دګوتو سُنت دی او په نورو لمانځه کی دی ګوتی پرحال خپل پریږدې. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَنَصْبُ سَاقَيْهِ وَبَسْطُ ظَهْرِهٖ وَتَسْوِيَةُ رَاْسِهٖ بِعَجُزِهٖ او سنت دی سَمَول او سم د ریدل د پنډیو او سُنت دی غوړول د مَلا یعنی مَلا دی بُکله نه نښی او سُنت دی برابرول د سر د کُنا تو سره. **پوه سه**: چې نصب الساقین د عصر نبویؐ څخه په میراث پاتې دی. نو ساقین تکه قوس نیول مکروه دی» م» دا دی سره سُنت د حال د رکوع دې. او په حدیث شریف کی د اغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام ښه په رکوع کښی مَلا مبارکه داسی نیولې که دده پر مَلا

مبارکه داوبو کښتوری ایښو وَل سوی وای نه به وای ښوریدلای "لِاسْتِوَاءِ ظَهْرِهٖ"
اوپه ښی حدیث شریف کی راغلی دی چی، علیه الصّلوٰة والسّلام چی به رکوع کولو
نه بی سر پورته کاوه اونه بی کښته کاوه. وَلٰکِن بَیْنَ ذٰلِكَ"

پوه سه: چی په رکوع کی دی څنګلی لیری کوی دبغلو څخه **ښه نه فائده** په طحطاوی کی په ص۲۱۶ د رکوع په بحث کی وائی وَالْاِلْصَاقُ کَعَیْبَیْهِ فِیْهِ. او سنت دی جوتوَل د بجلکو په رکوع کی: اوورته عبارت په بعض فتاواووکی کی هم راغلی دی. لکن نور فقهاء وائی چی اِلْصَاقُ الْکَعْبَیْن په باره کی دتسویة الصف راغلی دی. اوهغه محمول پر مبالغه دی په دی کی چی په صف کی دی فرجه نه پرینږدی.

حقیقت یه مراد نه دی یعنی چی دیوه مصلی بجلکه به د همسایه مصلی د بجلکی سره مَښلوی نکه بعض نافهم عوام چی کوی هغه خپلی دوی پښی دومره ازاد سره ایښ دی چی یوه بجلکه دده دیوارخ د همسایه د بجلکی سره ومښلوی او بله بجلکه د بل همسایه د بجلکی سره. نو په مابین کی دده دوو پښو څخه تقریباً نیم متر ځای وی اوسره ددی چی د هغه دولاړی په بحث کی تیر سول چی په مابین د دوو پښو د مصلی دی څلور گوتی قدر ځای وی. جوتوَل د بجلکو په رکوع کښی په هیڅ مُعتمد کتاب کی د فقهی نسته. اونه د ائمه څخه د مذهب کم روایت په دی باره کی موجود. په دی باره کی ډیر محتاراوشرح ته د رافعی رجوع وکړه

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالرَّفْعُ مِنَ الرُّكُوْعِ

اوسنت دی سر اپورته کول د رکوع څخه. او بعض روایتونو کښی دامام اعظمؒ داسی نقل هم چاکړی دی چی رفع دین کوع څخه فرض دی. دلیل یی وائی کرخی هم ظاهر دی متن او نور و متنو دادی چی تعدیل دارکانو سُنت دی. لکن مصلی دی په دی سُنت کښی سُستی نه کوی لکه بعض جَهَلة العوام چی کوی. یعنی چی د قیام څخه صرف ملا کږه کړی. د ستی

د هغی د رکوع څخه سجدی ته چی. یعنی د رکوع څخه سر نه راپورته کوی. اوچی سجدی ته صرف ورسیدی بلا څنډه سر بیرته محض راپورته کړی یعنی په مابین کی د سجدتینو نه کښینی. ولی چی نور فقهائ کی د بعضی څخه نقل دی چی هغه صدر القضات ته حواله کړی ده. چی اتمام د رکوع او اکمال د هر رکن واجب دی په نیز د امام اعظمؒ او امام محمدؒ. اوپه نیز د امام ابی یوسفؒ فرض دی. اود غه رنګه پورته کول د سر د رکوع څخه او سر د ریدل او آرام کول په ولاړه کښی اوپه مابین کی د دوو سجدو سر کښینستل واجب دی. حتیٰ قالوا کی پرینږدی د دغو کارو څخه سهواً سجده سهوه پر لازمه ده. اوکی قصداً پرینږدی د لمونځ په ناقص او مکروه تحریمی کار مشتمل سو. قال ابن امیر الحاج وَهُوَ الصَّوَابُ ط.

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْقِيَامُ بَعْدَهٗ مُطْمَئِنًّا وَوَضْعُ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَدَيْهِ

اوسنت ده ولاړه پس له سر پورته کیدو څخه د رکوع څخه په اطمنان سره. ولی داغسی کول په توارث سره د عصر نبوی ﷺ څخه راانقل سوی ده. او سُنت دی چی اول به زنګنو نه پر ځمکه ایښ دی. اوورو سته دی لاسونه ایښ دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

ثُمَّ وَجْهَهٗ لِلسُّجُوْدِ وَعَكْسُهٗ لِلنُّهُوْضِ

اوبیا دی مخ ایښ دی د سجدی د پاره لکن ابتداء دی دپښو په ایښودلو سره کوی ترتندی دمخه. اوعکس ما قبل دی کوی د پاره د ولاړی. یعنی اول دی مخ پورته کوی بیا دی لاسونه اوبیا دی زنګنو نه لکن لاسونه دی پر زنګنو کښیږدی. اود پښو پر سینو دی ولاړ پی. یعنی کښینی به نه اوشافعیانو وائی چی جلسه خفیفه دی د پاره د استراحت کوی. ولی چی په صحیح حدیث کښی راغلی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به یو وار کښینستی اوبیا به ولاړیدی. مونږ حنیفیانو وایو چی دغه ناستره په هغه وخت کی وه چی د علیه السلام مبارک جسم اطهر مبارک د روندسو اودی ضعیف سُو:

په دلیل دهغه حدیث صحیح: «کَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّی اللهُ یَنْهِضُ عَلَی صُدُورِ قَدَمَیْهِ» رواه اصحاب السنن»

پوه سه: چې دغه کیفیت د سجدی کولو اویا د سجدی څخه د راپورته کیدو هغه چاله د سنت دی چې دی عُذر نه لري اوکې هغه موجود وو بیا پرهر ډول چې سجدی ته ځي یا پورته کیږي روادی» مثلاً یو سړی چې په بدن ویر چاغ وی هغه چې د ځنګ لاسونه نه کښیږي سجده ته سی کولای. نو هغه سړی ته روا ده چې لاسونه د ځنګ اوږ نګنونه ورو سته کښیږدي. وعلی هذا القیاس نور معذورین. قَالَ المُصَنِّفُ

وَتَکْبِیرُ السُّجُودِ وَتَکْبِیرُ الرَّفْعِ مِنْهُ

او تکبیر ویل سُنت دی د تکبیر د سجدی د پاره او تکبیر د پاره د راپورته کیدو د سجدی څخه» دلیل په هغه د ځنګ حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کی د هغې د وضع او رفع وایه، قَالَ المُصَنِّفُ

وَکَوْنُ السُّجُودِ بَیْنَ کَفَّیْهِ

او سُنت دی چې سجده بی په ما بین کښې د اوږو وی یعنی محل د سجدی چې ځای دی په ما بین کښې د دوو اوږو ایښی دی» په مسلم شریف کښې حدیث دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم: کَانَ إِذَا سَجَدَ وَضَعَ وَجْهَهُ بَیْنَ کَفَّیْهِ» لکن په بخاری شریف کی بیا داسی روایت راغلی دی: چې علیه السّلام چې به سجده کوله نو اوږې بی پر برابر د اوږو ایښولې» اود امام شافعیؒ مذهب دی. اود کمال الدین بن الهمامؒ رایه جمع ده هغه پر جمع داسی کړیده: چې کله هم به علیه السلام داسی کوله او کله هم بی هغسی کوله. لکن په افضلیت کښې اختلاف ستر» په یوه نسخه کی د مراقی داسی راغلی دی» وان کان بین الکفین افضل» که څوک چې سجده بین الکفین وی افضل ده. او په بله نسخه کی داسی راغلی دی: وان کان بین الکفین افضل» د رویش وایی چې چونکه دوارو طرزه سجده د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه ثابته ده بیا نو مراعات

د کتابونو فقهای حنیفی افضل دی. قَالَ المُصَنِّفُ

وَتَسْبِیحُهُ ثَلَاثًا

او سنت دی تسبیح ویل یعنی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْأَعْلَی دری واره. او طحطاوی داهم په سنتونو کی د سجدی زیاتره کړی ده چې کوتی د لاسو اود پښو لبو او طرفته د قبلی وی. قَالَ المُصَنِّفُ

وَمُجَافَاتُ الرَّجُلِ بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَیْهِ وَمِرْفَقَیْهِ

او سنت دی لیږی کول د نږدې خپل د ځنګلو او نه ځنګلی د

عَنْ جَنْبَیْهِ وَذِرَاعَیْهِ عَنِ الْأَرْضِ

د بغلو څخه او پورته کوی به یا نه کوکان د ځنګلی ځنګه» لکن داهلته سُنت دی چې از دحام د خلګو نه وی. ولی چې ازار رسول وبل چا ته حرام دی. او ازار په پورته نیولو کښې د ذراعینو د ځنګلی څخه نه راځي. البته په هغو نورو دوو کښې متصور دی» په صحیح حدیث کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې به سجده کوله» د ونه تجافی بی کوله که چیری د میږی کشنی وړی چې، بَهْمَةٌ» یې بولي تیر یده غوښتای په ما بین کښې د لاسو ده تیر سوی به وای. او په بل صحیح حدیث کښې داسی راغلی دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم د سجدی په وخت کی د ونه لاسونه د بغلو څخه لیږی نیولې چې د شا و سړی ته ده مبارک د بغلو سپین والی معلومیدی»

فائده: د رسول الله صلی الله علیه وسلم بغلو و پښتان ته در لوده کذا فی کتب الشمائل» ولهذا قال بیاض ابطیه» او اکثر اوقات به آنحضرت صلی الله علیه وسلم: قمیص نه وو: قَالَ المصنف فی نور الایضاح»

وَانْخِفَاضُ الْمَرْأَةِ وَنَزْقُهَا بَطْنَهَا بِفَخِذَیْهَا

اوسنت دی کښته والی د ښځی په حال کی د سجدی او جوتول د نس د دی په وړنو پوری» په حدیث مبارک

کی راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام یو وخت تیریدی. پرده ووینځوبا ندی یعنی چی هغو سجدی کولو په وخت کی نرمانند سجده کوله. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته ووئیله چی تاسی چی سجده کوی بعض غوښی خپل چی نس دی و بعض نور وغوښتو یعنی وزنوته ورجوتی کړی. ولی چی بنځه په سجده کی نرغوندی نه ده. ولی چی بنځه عورت مستوره ده:

پوه سئله: چی سجده پرخالی محله افضله ده. او بیا پرهغه شی چی د محکی څخه شنه کیږی لکه پخواخلګو به په مسجد وکښی لوښی، یا اذخر یعنی سرګړی او بوریا بی اواړول ولی چی د لمانځه بناء پرخشوع ده او خشوع پردغو شیانو باندی په سجده کولو کښی ډیره ده. مګر د پاره د دفع د یخ یا ګرمی که بل شئ اواړکړی لکه ستر نجی توشک کراسته وغیره جائزه ده. لکن تن صبا په مسجد وکښی د بنارو خصوصاً د پکستان په بنارو کی هغسی مفروشات فاخره نقش په نقوش دقیقه ووسره اواړه وی چی که صحرائی لمونځ کوونکی د اسی ټوله فکر بی په لمانځه کښی په هغو مفروشاتو کښی وی او د هغو د نقشونو به حیران پاتی وی لکن د عموم بلوی د سبب څوک څه نه وایی.

قال المصنف:

والقومة اوسنت دی پوره ته کیده د سجدی څخه **پوه سئله** چی مصنف په مراقی کی وائی یعنی اتمامها لان الرفع من السجود فرض اقرب القعود، واتمامه سنة، معنی داده چی تام والی د قومی سنت دی یعنی پوره او کامل پوره ته کیده. ولی چی نفس پوره ته کیده د سجدی څخه تر دی اندازی پوری چی وناستی ته نزدی وی فرض دی، نو اتمام یې سنت دی. د رډیلش وائی: چی په دی حکم سره د ډیرو امیانو لمونځ فاسد دی. ولی چی دوی صرف سر د محکی څخه جلا کوی او بیا بیرته یې ایښودی دبلی سجدی دپاره. لکن امام طحطاوی وائی چی په مجمع الانهر ده مطلب څخه نقل دی چی صحیح مذهب د امام اعظم رح دا دی چی نفس انتقال دیوی سجدی څخه بلی ته فرض دی او پوره ته کیده سنت دی. نو پردی روایت د هغو عوامو چی ذکر سوله لمونځ

په څخه څخه رفسا د خلاص دی که څه هم مکروه دی او د صاحب الهدایه هم د غه دی ده

قال المصنف:

والجلسة بين السجدتين اوسنت ده ناسته په مابین کښی د دوو سجدو مقصود د دی ناستی څخه طمانینیت دقومی دی. او مقدار د دی ناستی یوه تسبیح قدر دی. او په د ی ناسته کی کم ذکر مسنون نسته کما فی السراج، او په نیز د امام ابو یوسف رح دا جلسه فرض ده، د رډیلش وائی: چی دا میانو هغه فعل چی ذکر سود څخه خلاص نه دی. نو دا مانوته د مساجدو او واعظانو نوته پکار ده چی په دغه ځای کی د قصو که رشتیا وی او که د رواغ امیانوته د غه د لمانځه احکام وښیی. او د وی د لمانځه د فسا د څخه په ورته افعالو د بیره وی

مسئله: لکه چی په ناسته کی د دوو سجدو ترمابین چی ذکر مسنون نسته د غه رنګه په وخت کی د رفع د رکوع څخه هم ذکر مسنون نسته. **پوښتنه**: په صحیح حدیثو کښی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به په وخت کی د رفع د رکوع او د غه رنګه په مابین کښی د دوو سجدو به یې دعا ګانی کولې. **جواب** هو.... لکن هغه د تهجد په لمانځه کی، کذا فی مجمع الانهر، د رډیلش وائی چی د عمومی نفلی لمونځ د پاره دائره د دعا ګانو په هر موقع کښی فراخه ده، کذا فی غیر کتاب من کتب الفقه من الشروح والفتاوی، قال المصنف:

ووضع اليدين على الفخذين فيما بين السجدتين

اوسنت دی ایښودل د دواړو لاسو پر ورنو باندی په مابین کی د دوو سجدو نکه

كحالة التشهد د التحیات په حال کی. ولی په احادیثو مبارکه ووکښی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د اغسی بنوول سوی دی د لمانځه حال. لکن په فتح القدیر کی وائی چی اطراف د ګوتو د ښی لګنو سره وصل کړی. یعنی د اسی دی نه کوی چی لاسونه دی په ورنو باندی پرمابین د زنګنو څخه لیرې وی

اوداسی دی هم نه کوی چی گوتی پرې رنگنوونه واړوي. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَافْتِرَاشُ رِجْلِهِ الْيُسْرٰى وَنَصْبُ الْيُمْنٰى وَتَوَرُّكُ الْمَرْأَةِ

اوسنت دی پرې ایستل د ښې پښې چپې. اودرول د ښې پښې. یعنی داخو سنت دنر دپاره دی اود ښځې دپاره سُنت دادی چې پرکنا تودی کښینی او پښې دی وباسی پرې استر طرف اویو ورون دی پربل ورون کښیږدی چې په دی کې پوره ستړد ښځې راځي **مسئله**: نړدی په ناستړ کې درستې پښې دگوتو سره نه دی وقبله نه کوی سوا د خنډې گوتې ولې دهغې سره قبلې ترکول دیر مشکل دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْإِشَارَةُ فِي الصَّحِيحِ بِالْمُسَبِّحَةِ عِنْدَ الشَّهَادَةِ يَرْفَعُهَا

اوسنت ده اشاره کول په صحیح روایت کې په مسبحه گوته سره چې سبابه یې هم بولی، په نیزد اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ گوته دی پورته کوی په

عِنْدَ النَّفْيِ وَيَضَعُهَا عِنْدَ الْإِثْبَاتِ

وخت کې دنفی. اوبیرته دی ایږدی په وخت کې داثبات، درولیش وائي چې د اشارت په باب

دَاشَارت پَه بَارَه كښې تَحقِيق

دادئ.

پوهه سه: چې په اشاره کښې مختلف اقوال دي. په بعض کتابونو کې وائي چې اشاره مکروه ده. داقول نهایت تجاسر اودلاوری ده چې فعل ته د آنحضرت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکروه وائي. نعوذ باللّٰه مِنْ ذالك، اوډیر مشائخ نمونږ د مذهب ودي ته تللی دی چې اشاره دی په سبابه سره په وخت کې دکلمه شهادت ویلو نه کوی په ولوالوجیه او په تجنیس کې وائي وعلیه الفتوٰی. داکسان که دفعل داشارت رأسًا منکروی یعنی چې علیه السلام اشاره نه ده کړې خو دا بیخې غلطه خبره ده.

ولی چې په صحیح مسلم کې اشاره د علیه السّلام څخه ثابته ده هم قولًا اوهم فعلًا. اویا به دوی وائي چې اشاره خوده لکن بیا منسوخه سوه. لکن په هیڅ کتاب کې دحدیثو مبارکه وو نه صحیح اونه ضعیف د نسخ چا لیدلی دی. بلکه امام محمد ابن الحسن الشیبانی چې شاگرد دی دامام اعظم، حدیث داشاری یه په مؤطا کښې چې ده امام محمدؒ کتاب دی په حدیث کې راوړی دی. او په اخیر کې وائي: وَبِهٖ نَأْخُذُ وَبِهٖ قَالَ اَبُوحَنِيفَةَ. اومولوی عبدالحیؒ په حاشیه کې موطا وائي وبه قال ابویوسفؒ فی الامالی. او کمال الدین ابن الهمامؒ په فتح القدیر کې وائي چې اشاره سُنت ده. اوابن عابدین الشامیؒ صاحب درد محتار علحده رساله په اثبات کې داشاری لیکلی ده. اودر مختار والا وائي چې اشاره کول سنت ده روایةً ودرایةً. پس قول په عدم داشاری لکه مخالف داحادیثو نبویه ښځدی دغه رنگه مخالف دمذهب حنیفی ښځدی ولی ائمه ثلاثهؒ دمذهب ټوله داشاری په کولو سره قائل دی. اوپه محتبی کې وائي: اِتَّفَقَتِ الرِّوَايَاتُ عَنْ اَصْحَابِنَا جَمِيعًا فِی كَوْنِهَا اَیِ الْاِشَارَةِ سُنَّةً وَكَذَا عَنِ الْكُوفِيِّينَ وَالْمَدَنِيِّينَ اوهجر رائق وائي چې اخبار اواشار په باب کې داشاری دیږدی فالعمل بها اولی.

پوه سه: چې میان فقیر الله هم داشاری په سنت والي اواثبات کې نبه لویه په زړه پورې رساله تصنیف کړیده:

مسئله: بعض جاهل کسان په وخت کې داشاری گوته ښورول دامکروه کار دئ کذا فی شروح المشکوٰة لملا علی قاریؒ **مسئله**: کې دراسته لاس سبابه گوته پرې وه یا مریضه وه چې اشاره یې نه سوای په کولای په بله گوته دی اشاره نه کوی نه دراسته لاس اونه دچپه لاس. کما فی النووی شرح المسلم ط، اوبعض ددی زمانی ناپوه مُلایان وائي چې اشاره په دی سبب ممنوع ده که سړی یوه گوته پورته کول دوی ځندی پورته سوی نو داخو شرک دئ. **جواب**: په حدیث کې د ابی هریرهؓ راغلی دی چې یوی سړي په دوو گوتو اشاره کوله نو علیه

السلام وړته وفرمایل اَحَدٌ، اَحَدٌ، یعنی په یوه ګوته اشاره وکه. او د اشاری څخه منع نه کړي. **مسئله**: اشاره د ګوتی باید وطرفته د قبلی وی نو بعض کسان چې ګوته دوننه پوړ ته کوی چې سړ د ګوتې په دا سړ مان وخواته ګرځی مکروه دی. ابن السکن په خپل صحیح کتاب کی د ابن عمرؓ څخه روایت کړی دی چې آنحضرت صلی اللهُ علیه وسلم وو ویلې: چې الاشارةُ بالاصبع اشد علی الشیطن من الحدید.

کیفیت د اشاری

څروخت چې مصلی په ناسته کی وَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ ته وړ سیږی نو په وخت کی د ګوتو لاَ اِلٰهَ دی د راسنه لاس مسبحه ګوته پوړ ته کړی. د دی پوړ ته کولو معنیٰ نفی د خدایۍ دی د غیر څخه د خدای جل جلالهٗ او څروخت چې اثبات ته یعنی اِلَّا اللّٰهُ ته وړ سیږی ګوته دی بیرته کښیږدي. د دی مطلب اثبات د الوهیت دی د خدای جل سلطانهٗ ته. **پوښه سه**: چې مصنفؒ په مراقی کښی وَائی: وَ اَشَرنَا اِلٰی اَنه لا یعقد شیئاً من اصابعه. یعنی په وخت کی د اشاره کولو دی هیڅ ګوته نه ګنډه کوی. لکن صحیح داده چې ګوتی دی ګنډوي. قال طحطاویؒ قد صرح فی النهر بترجیحه. یعنی په ترجیح د ګوتو د ګنډولو وائۀ قول کثیر من مشائخنا، وعلیه الفتوی کما فی عامة الفتاوی.

د رویش وائی: که څه هم د ګوتو د ګنډولو په باره کی هم اختلاف ستة. لکن په عمومی توګه د کیفیت اولی دی اوښه دی. کشنی ګوته اوږد چسی ګوته دی دواړی کت کړي. او د مینځ ګوته او بیته ګوته دی سره الغه وارو کړي. او په مسبحه دی اشاره وکړي.

مسئله: د سخر تشهد ی یعنی اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دی ګوتی نه ګنډوي او لپس له کتید و څخه او اشاره څخه ګوتی هغسی کت وی تر سلام ګرځید و پوري.

او بعض عُلماء وائی: چې څرنګه چې اشاره وکړه دستی دی ګوتی اِیله کړي مخ و قبلی ته

پوه سه: چې د اشاری ګوتی د څخه سبابه وائی. په دی سبب چې د سبکنځلو په وخت کی اکثره خلک په دغه ګوته اشاره کوی. او بعض عُلماءؒ وائی چې د دی ګوتی ته سبابه ویل مکروه دی ابن امیر الحاج د هغه رد کړیده. ولی چې په صحیح مسلم او نورو کتابو کښی په حدیث کی د ابن عمرؓ دی ګوته سبابه ویل سوې ده. او دې ګوتې ته مسبحه په دی سبب ویل کیږی چې د تسبیح معنیٰ تنزیه او پاکول دی نو چونکه په دی ګوته سره توحید ته د خدای اشاره کیږی. نو په دې ګوته سره نفی د شریکانو د خدای څخه ګړه کیږی نو آله د تسبیح ده. نو بیه ځکه مسبحه پر صیغه د اسم فاعل د باب د تفعیل مجازاً بولي.

سبحانه فائده

پوه سه: چې اشاره په لمانځه کی مذهب د امام اعظمؒ او امام شافعیؒ، او امام مالکؒ او امام احمد بن حنبلؒ او د هغه مذهب حنفی نو یو مخ کښو فقهاؤ وؒ د اشاره په سنت والی سره تصریح کړیده لکه امام ابو یوسفؒ، امام محمدؒ، فقیه ابو جعفر الهندوانیؒ ابی نصر بن سلامؒ ملا علی قاریؒ، امام خواهرزاده، امام کرخیؒ او حضرت مولانا عبد الحیؒ، او میاں فقیر الله الجلال آبادیؒ وغیرهم، او د غه کتابونه په هم سُنت بولي، کتاب المشیخة، محیط، ملتقط، مختار النوازل لصاحب الهدایه، مواهب الرحمان، سراج الهدایه، فتح القدیر عرف شذی، شرح ترمذی، شرح وقایه، در مختار، رد المحتار، طحطاوی، حجة الله البالغة، نور الایضاح، مراقی الفلاح، نوازل، ذخیرة العقبی، غنیه خلیه، بحر رائق، مجتبی، شرح مجمع البحرین، در البحار، غرر الافکار، تحفه، بنایه شرح هدایه، شمنی، کفایه شرح هدایه، فتاوی عزیزی، وغیرها من کتب المذهب، پردې ولیدو د ابیان. اوس نو هر سړی دی په زړه کی د انصاف کار واخلی. که اشاره کوی او کی نه کوي:

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه وقد کتبه احقر فضل الحق حقانی غفرله

تنبیه

پوښتنه: په افغانستانو کی خصوصاً افغانستان په خلکو کی سبب دنه رواج دا شاره خه دی. **جواب**: چونکه اغلب خلک د افغانستان د طریقت او تصوف سره ډیره علاقه لری او دوی د خپلو مرشدانو څخه اشاره نه ده لیدلی نو خکه دوی یه هم نه کوی. او بل سبب یه دا دی چی نامورو مرشد حقانی عالم ربانی د طریقه نقشبندیه په خپل یو کتاب کی خپل وقوف ته ولو الوجیه او تجلیس وغیره ته ترجیح ورکړی یعنی چی اشاره دی نه کوی» وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

قال المصنف **وَقِرَائَةُ الْفَاتِحَةِ فِيمَا بَعْدَ الْأُولَيَيْنِ** اوسنت دی ویل د الحمد لله شریفی. په دوو سته کښی د دوو اولو رکعتو کښی یو رکعت وی که یو رکعت وی که دما بنام لمونځ اوکه دوه رکعته وی که څلور رکعته فرضی لمونځونه **پوښتنه**: چی صحیح روایت د امام اعظم او ظاهر الروایت هم دغه سنت والی دی. او په بل روایت کی راغلی دی چی واجب دی ویل د الحمد لله» کمال الدین ودی روایت ته ترجیح ورکړیده. لکن امام طحطاوی وائی چی د اخلاف د مذهب دی کما فی سکب الانهر»

سوال: چی د امام اعظم څخه د وجوب روایت ثابت دی نو څرنګه د کمال د قول چی خلاف المذهب دی صحیح دی **جواب**: جسارت د طحطاوی یعنی چی مذهب د کمال یه نقل کړی دی په حذف د مضاف دی. ای خلاف ظاهر المذهب» او په بل روایت کی راغلی دی چی مصلی اختیار لری چه که فاتحه وائی. او که تسبیح وائی. او که ساکت دریږی.

فائده: مقصود د روایت څخه د تخییر دا دی چی قرائت الفاتحه متعینه نه دی د امقصود نه دی چی په ثواب کښی فرق نه سره لری. ولی چی هر سړی په دې پوهیږی چی قرائة القرآن تر تسبیح افضل دی. او تسبیح ویل تر سکوت افضل دی.

قال المصنف **وَالصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجُلُوسِ الْأَخِيرِ** اوسنت دی ویل د درود پر نبی علیه السلام په اخیره ناسته کی.

پوښتنه: چی درود (۲) شپږ قسمه دی ۱ فرض دی هغه په ټوله عمر کی یو ځل لِقَوْلِهِ تَعَالٰى: إِنَّ اللهَ وَمَلٰئِكَتَهُ يُصَلُّونَ الْآيَةَ ۲ واجب دی هر وخت چی نوم د علیه السلام ذکر سی. لکن امام فقیه ابو جعفر الطحاوی وائی چی درود ویل په هر سامع واجب عین دی. لکن ظاهره داده چی واجب کفائی دی قاله الطحطاوی ۳ سنت دی په اخیره ناسته کی. ۴ مستحب دی په ټولو اوقاتو کی د امکان ۵ مکروه دی په لمانځه کی ما سوا د اخیری ناستی او دعائی قنوت ۶ حرام دی په نیز د حرام عمل کولو لکه د شرابو خوړلو په وخت کی یا د چرسو ټکولو په وخت کی وغیره الخ.

مسئله: که دکاندار یوشئی د دوکان راپورته کړی او مشتری ته ډپاره د اظهار د سره وائی د هغه شی درود وائی حرام دی بلکه ټوله اذکار په دغه نیت حرام دی. ط» **پوښتنه**: که دیو چا څخه بعض رکعتونه تیر سوی وه نو په اخیره ناسته کی به دی په لسله التحیات څرشی وائی **جواب** درود د وائی بلکه اللهم ربنا دی هم وائی» واختاره صاحب المبسوط وهو اختیار الفقیر ایضاً للاعتیاد بذالک فی غیر تلک الحال» او ابن شجاع د وائی چی کلمه شهادت دی مکرره وی د امام تر سلام پورې. ابوبکر رازی وائی چی ساکت دی کښینی او قاضیخان د اوجز راټ والا او خلاصه د والا صحیح او مفتی به دا بولی چی په التحیات کښینی دی څنډ وکړی یعنی په کراره کړی وائی.

د درود الفاظ په لمانځه کی

د لمانځه درود څرنګه ویل کیږی هغه داسی ورو وښوول: اللهم صل علی محمد

وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ وَبَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِیْمَ فِی الْعَالَمِیْنَ اِنَّكَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٌ. مراقی وائی چی لفظ د فِی الْعَالَمِیْنَ په صحیح مسلم کی سنته. نوځکه چی دا لفظ ممنوع بولی ضعیف دی.

مسئله: بعض خلک په لمانځه کی داسی وائی: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا آه بعض عُلماء وائی چی دا لفظ مندوب دی. ولی چی په دی لفظ کی اظهار د ادب د جناب نبوی دی. لکن حافظ ابن حجر وائی چی متابعت داثار وارده وو په دی باب کی ترجیح لری. یعنی لفظ د سَیِّدِنَا دی نه وائی په لمانځه کی ولی چی په هیڅ آثارو نه د صحابه وو او نه د تابعینو دا لفظ راغلی دی. نوځکه مندوب وای په دوه ولیټ پاتدوو - هاں په یوه حدیث ضعیف کښی دابن مسعود په روایت سره راغلی دی. اوپه اصول الفقه کی وائی چی مراعات د ادب ښه دی اوکه مراعات داثارو ښه دی نو دوی ترجیح وتانی تدویر کړی ده:

پوښتنه: په نحوه کی قانون دی چی مشبه به اولی وافضل دی تر مشبه. نو دلته د تشبیه څخه د درود فهمیږی چی درود د خلیل الله علیه السلام افضل دی تر درود د حبیب الله صلی الله علیه وسلم نو باید حضرت الخلیل افضل وی تر حبیب

والجواب من وجوه: اول دا چی د تشبیه دلالت پر افضلیت د مشبه کول ممنوع دی. ولی چی په علم بیان کی وائی. چی گاهی شئی په سبب د شهرت مشبه به وگرځول سی. وَلَا شَكَّ اَنَّ اِبْرَاهِیْمَ عم کَانَ اَشْهَرَ عِنْدَ الْعَرَبِ.

دوهم چی د درود چی مشتمل پر تشبیه دی هغه وخت آنحضرت صلی الله علیه وسلم وئیلی ده نه خپل تفضیل پر حضرت الخلیل علیه السلام نه وو معلوم. لکن پس له معلوم وائی هم درود د آنحضرت پر خپلو حال پریښود: دریم تشبیه دلته په مطلق درود کی ده - نه په قدر کی دهغه. او ط نور جوابونه هم راوړی دی چی د ضعف خالی نه دی. اوحمید فعیل په معنی د مفعول دی یعنی مَحْمُوْد سوی

په ښو صفاتو. او مجید فعیل په معنی د فاعل دی. یعنی ماجد چی معنی یه ذوالمجد والشرف ده.

فائده: د وجوب څخه د درود په وخت کی د سماع د نامرد علیه السلام وجوب اصطلاحی دی. ولی چی په دی باب کی ډیر احادیث راغلی دی. کله هم احاد دی لکن مفید د وجوب کیدای سی. کذا فی البحر. قال المصنف

وَالدُّعَاءُ بِمَا یُشْبِهُ اَلْفَاظَ الْقُرْاٰنِ وَالسُّنَّةِ لَا كَلَامِ النَّاسِ

اوسنت دی دعا کول یعنی وروسته تر درود وَیلو لکن په داسی الفاظو چی مشابه د الفاظو سره د قرآن کریم وی. اویا مشابه د الفاظو سره د حدیث نبوی وی. نه په هغو الفاظو سره چی د کلام الناس د قسمه وی. الفاظ د قرآن مشابه لکه. رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا آه. رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً آه اونور. او د الفاظو سره د حدیث مشابه هغه دعاده چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم او ابو بکر رضی الله عنه وښوول چی کلمه پوښتنه وکړی. چی ماته وښیه داسی یوه دعا چی زه یې په لمانځه کی دعا په کوم. هغه دعا دا ده.

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا كَثِیْرًا وَاِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ فَاغْفِرْ لِیْ مَغْفِرَةً مِّنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ. اونور دعا گانی چی په حدیث مبارک کی وو کی راغلی دی.

مسئله: روا ده دعاد مغفرت و تیولو مؤمنانو ته د تیولو گنهو څخه شفقةً علی اخوانه. او داسی مغفرت خو ممکن دی که څرهم واقع نه دی ط. الآیات والاحادیث الواردة فی ادعیة المؤمنین. او په هغه شیانو چی عادةً محال وی د دعا کول حرام دی. لکه چی وائی: اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْ عَلَیْنَا مَآئِدَةً مگر نه وی نبی ته. په حدیث مبارک کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمایلی: اِنَّ صَلَاتَنَا هٰذِهٖ لَا یَصْلُحُ فِیْهَا شَیْءٌ مِّنْ كَلَامِ النَّاسِ. ترجمه: په تحقیق نه موږ د ضرلمونځ نه دی په کښی روا یو شئی د خبرو څخه د خلگو لکه چی یو سړی ووائی په لمانځه کی: اَللّٰهُمَّ زَوِّجْنِیْ فُلَانَةَ. اَوْ یَقُوْلُ اَعْطِنِیْ كَذَا مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ.

او اجعل فلان رحیما بی. وامثال ذالك. ولی چی د دا سی خواستونو قبلیده د بندګانو
دخوا هم کیدای سی. بخلاف اللهم ارزقنی رزقا حلالا واسعا. یا. اللهم
احفظنی من جمیع الافات والفتن.

مسئله: که سړی په لمانځه کی هغسی خواست وکړی چی د مخلوق څخه طلب
کیدای سوای. نوکه د مخه ترنا ستی په قدر د تشهد په وکړی لمونځ یه فاسد سو.
اوکی لپله ناستی څخه وکړی واجب چی وتل د لمانځه څخه په لفظ د سلام دی فوت
سو. ولی په هغه دعا سره دی د لمانځه څخه خارج سو: م.

مسئله: خارج تر لمانځه هره دعا روا ده که مشابه د کلام الناس سره وی او که
قرانی یا حدیثی دعاوی وی. **فائده**: په هدایه کی وائی چی طلب د رزق
په لمانځه کښی دی نه کوی. ولی چی د رزق طلب د مخلوق څخه هم کیږی. لکن
صاحب د غایة البیان وائی: چی د رزق حقیقةً خو خدای پاك دی او اسناد د رزق
د بندګانو نو ته مجازی دی. **فائده**: که سړی دا سی وقیل اللهم ارزقنی
فلانة: په خلاصه کښی وائی لمونځ یه فاسد دی اوکی دا سی وقیله: اللهم ارزقنی
الحج صحیح داده چی لمونځ یه نه فاسدیږی. په مضمرات کی وائی که سړی وقیله
اللهم اقض دینی لمونځ یه فاسد دی. لکن فیه نظر لانه قد ورد فی السنة: اللهم
اقض عنا الدین واغننا من الفقر. اللهم الا ان یقال ان الماثور کان خارج
الصلوة. قال المصنف رح:

وَالِالْتِفَاتُ یَمِیْنًا ثُمَّ یَسَارًا بِالتَّسْلِیْمَتَیْنِ

اوسنت دی مخ اړول د ښی طرف ته او چپه طرفته د دوو سلامونو سره.
په حدیث صحیح کی را غلی دی چی علیه الصلوة والسلام به سلام وایه د ښی طرف
او دا سی بی ویل: السلام علیکم ورحمة الله: حتی یُرَی بیاض خده الایمن: یعنی تر
دا سی اندازی بی مخ کړاوه چی لیدل کیدی به سپین والی د ښی اړخ خو دده.
یعنی دشامف به لیدی. او چپه طرف بی ویل: السلام علیکم ورحمة الله حتی یُرَی

بیاض خده الایسر: **مسئله**: کی ترد غو الفاظو کم بود وکړی مثلاً وی ویله
السلام علیکم، یا. سلام علیکم، گناه کار دی په سبب د ترك د سنت او لمونځ
په صحیح دی، م. **فائده**: په مرا قی کی وائی چی لفظ د «وبرکاته» دی نه
ویا ټوی ولی چی هغه بدعت دی او په دی کی کم حدیث ثابت نشته. او امام نووی یه
هم بدعت بولی. لکن امام طحطاوی وائی چی دا خبره چی برکاته بدعت دی مردوده ده.
ولی چی په سنن ابی داؤد کی د علقمه بن وائل او هغه د خپله پلار څخه روایت
کړی دی چی زما پلار ووئیله چی ما لمونځ وکړی سره د علیه السلامه. فکان
یسلم عن یمینه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.
وعن یساره السلام علیکم ورحمة الله فقط. بلکه امام حلبی د کتاب مختلف
الروایات څخه دا سی نقل کړی دی چی په دواړه سلامه کی دی وبرکاته، وائی.

مسئله: که سړی په هیره یا په قصده اول په چپه طرف سلام ووایه نو
حکم یه دا دی چی پر ښاسته طرف دی وګرځوی. او د چپه طرف دا دی بیرته نه راګرځوی.
سوی د گناه کار دی بل څه پری نشته هغه د عمد په صورت کی. **مسئله**: کی اوله
سلام نخامخ وګرځاوه بل سلام دی وچپه طرفته وګرځوی.
مسئله: که یه د چپه طرف سلام هیر سو او د لاړسو بیرته به کښینی او چپه
طرف به سلام اړه وی. مرا قی وائی چی تر هغو پوری چی د مسجده نه روی وتلی او یا به
خبری نه وی کړی. لکن صحیح هغه ده لکه په د ر مختار کی چی وائی چی تر هغه وخته
چی قبلی ته شا سوی نه وی. ط. قال المصنف رح:

وَنِیَّةُ الْاِمَامِ الرِّجَالَ وَالْحَفَظَةَ وَصَالِحَ الْجِنِّ

او سنت دی چی نیت به کوی امام د نرو او د حفظرو چی ملکی دی او د صالح د جنیانو
بِالتَّسْلِیْمَتَیْنِ فِی الْاَصَحِّ

په دواړو سلامونو کی. په اصح روایت. او بعض فقهاء وائی چی صرف په اول سلام کی دی نیت

کوی او بعض وائی چی صرف اشاره کافی ده. **پوه سله**: چی مصنف په مراقی کښی نیت د بنځو اود کوچنیانو هم زیات کړی دی که په جماعت کښی وی د عرکسانو، اوهغه خبره چی نهر والا کړیده چی د بنځو نیت دی نه کوی ولی چی حضور د دوی وجماعت ته مکروه دی. امام طحطاوی ړ کړی چی دکراهت الحضور ذمه وار خو بنځی دی. اود دوی نیت په سلام کښی خو پر امام وی نو جهت دکراهیت او سنیت مختلف دی.

پوه سله: چی حفظ جمع د حافظ ده اود ملکی حافظ په دی بولی چی د انسان قول او عمل نوشته کوی. نو کاتب الحسنات ته ړ قیب وائی چی هغه پر ښی اوږه وی، مړ. او کاتب السیئات ته عتید وائی چی هغه پر چپه اوږه وی. په یوه حدیث کی داسی هم ړ اغلی دی: چی مسلمان چی مړ سی د غه دوی ملکی خدای جل جلاله امر کړی چی دوی د دې مړی د قبره سره اوسی. او حمد د خدای جل جلاله او تسبیح او لا اله الا الله، او الله اکبر وایاست. اود دې ټولو ثواب وصاحب القبر ته نوشته کیږی. تر هغه وخته چی دی بیرته ژوندی کیږی.

زاړو لیش وائی: چی دا خولویه دخوشحالی خبره ده. اود ملکی د سړی څخه نه جلا کیږی مګر په وخت کی د بولو او غولو. او بل په وخت کی د جماعو د مانی سره او کیفیت د نوشتی او هغه ښځی چی دا نوشتر پرکیږی خاص دی په علم پوری د خدای پر صحیح مذهب طه. **مسئله**: صحیح داده چی د کافر اعمال هم نوشته کیږی صحیح داده چی هغه قول یا عمل چی په هغه کی ثواب یا عذاب وی، نوشته کیږی مباحات قولونه یا عملونه نه نوشته کیږی. او بعض علماء وائی چی ټوله نوشته کیږی. لکن حدیث نبوی تاکید د اول مذهب کوی. هغه دا چی په صحیح حدیث کښی ړ اغلی دی چی کاتب الحسنات امیر دی پر کاتب السیئات باندی. نو که مسلمان بنه کار وکړی کاتب الحسنات به سمدستی یو په لسه ثواب نوشته کوی. او که مسلمان گناه وکړی نو کاتب الحسنات وکاتب السیئات ته وائی چی

تی اوس مه نوشته کوه. تر ۷ ساعته پوری یا تر ۲ ساعته پوری. گوندی د دی به توبه وکاږی که کبیره گناه وی. او یا به تسبیح وائی خدای به عفوه ورته وکړی: او بعض علماء وائی: چی حفظه یه په دی بولی چی سړی د هلاک د څای څخه اود پیریا نو څخی ساتی.

مسئله: تعیین د عدد د حفظ ملکودی سړی نه کوی. ولی چی په بعض روایاتو کښی ړ ائی چی حفظه پنځه دی. او بعض وائی چی شپیته ملکی دی. او بعض روایات داسی هم ستره چی یوسل او شپیته دی. په قران مبارک کی لفظ کرامًا کاتبین، ړ اغلی دی. ولهٔ معقبات هم ړ اغلی دی. او رقیب او عتید هم ړ اغلی دی. دا ټوله په باره کی د د غو ملکودی چی د انسانانو نوسره ورسره دی. نو دې اختلاف دکبله نفس پر وجود د ملکود انسانانو نوسره ایمان لا نهردی. لثبوته بالقرآن والاحادیث النبویه واجماع الامة: اود عدد علم یه وخدای جل جلاله ته موکول دی. اما نفس ملائکه په اسمانو او په محکمو کی او پر جنتو او دوزخو مقرر ملکی او پر نورو کارو د هغو خوهیڅ حساب نه په قران مبارک کی او نه په احادیثو کی مبارکه ووکښی ړ اغلی دی. ولا یعلم جنود ربک الا هو. ایته کریمه دی.

د دې والی د ملکو اندازه د دی حدیث څخه معلومیږی چی رب جل وعلا دپیدا کولو سره د اسمانو سم په څلورم اسمان یوه خونه پر برابر د کعبی شریفی جوړه کړیده چی هغه معبد د ملائکه ووده. او په هر شبانه روز کی او یا زره ملکی ورځی او هغه ملکی چی اول وار ورغلی وی هغوته بیا تر اوسه نوبت نه دی ورسیدلی او کما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم، قال المصنف.

وَنِيَّةُ الْمَأْمُومِ إِمَامَهُ فِي جِهَتِهِ وَإِنْ حَاذَاهُ نَوَاهُ

او سنت دی نیت کول د مقتدی په سلام کی د امام په جهت کی د امام یعنی کی امام په ړ استه اړخ وو په اول سلام کی دی نیت وکړی او کی امام په چپه اړخ کی

کښی وو په دوهم سلام کښی نیت وکړي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فِي التَّسْلِيمَتَيْنِ مَعَ الْقَوْمِ وَ الْحَفَظَةِ وَصَالِحِ الْجِنِّ

په دواړو سلامونو کښی دی نیت وکړي په هر صورت کی سره د قوم او د حفظه وو او د پیریانو نیز صالحو

درویش وائی چه په خوله هیڅ وینا نه غواړي بلکه د زړه قصد کافی دی لکن کاشکی داد زړه نیت هم چا کولای بلکه زما په عقیده د پیر عوام به په دې سنت هم خبر نه وي. عوام څه کوی د خواصو چې دا سنت هم وړ معلوم وی په وخت کی د سلام بې وده نیت ته فکر لا نه وي. ولی چې دا وسنی لمونځ کونکو د لمونځ څخه حضور د زړه نه نوی بلکه د حضوره څخه خالی وی. اِلَّا مَنْ شَاءَ اللّٰهُ»

نوښه به داوی چې مُلایان د مسا جدو دا مسئله په مکړ، دَوَل و خلګوته بیان کی، تا چې امام د تعلیم او مقتدیانو نوته د فعل ثواب خدائ ورکړي: چې په کتابو کښی د فقه شریفې والئ چې څوندی کول دیوه سنت نبوی چې خلګو پرې ایښی وی تر بناء د مدرسی د علومو دینیه وو افضل دئ. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَنِيَّةُ الْمُنْفَرِدِ الْمَلَائِكَةَ فَقَطْ

اوسنت دی نیت کول د یواځې لمونځ کوونکی د ملکو فقط.

پوه سه: چې مصنف د لفظ د حفظ نه د وَوایه بلکه ملکی یه ذکر کړي چې تر حفظ عامی دی. ولی چې امکان لري چې په ده پسی نور هم ملکو اقتداء کړي وی. کی څه هم دی نه وینی. کما مر فی باب الاذان فی الفلات» عاصی واپئ چې بناء پر د غه احتمال دا احتمال هم ستنه چې بعض صالح الجن دی هم پسه ده پسی اقتداء کړي وي. نوکه منفرد په ځای کی د ملکو د مَنِ اقتدی بی نیت وکړي هغه به ټولو ته شامل وی کذا فی ط.

قَالَ الْمُصَنِّفُ: **وَخَفْضُ الثَّانِيَةِ عَنِ الْأُولٰى** اوسنت دی کښته یعنی کرائیل د دوهم دوهم سلام تر اول سلام.

لکن پوه سه چې دا خفض الصوت صرف د امام د پاره

سنت دی. ولی خو امام دی چې جهر په اذکارو د انتقالاتو کوی. نه منفرد اونه مقتدی. وقد ذکره هذا فی متن منیة المصلی خصه الحلبی ایضا بالامام وذکره السید ایضا. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمُقَارَنَتُهُ لِسَلَامِ الْإِمَامِ

او سنت دی یو ځای والی د سلام د مقتدی د سلامه سره د امام. لکن دا مذهب د امام اعظم او په نیز دیا رانو دی پس له سلامه د امام مقتدی سلام ګرځوي.

قَالَ الْمُصَنِّفُ: **وَانْتِظَارُ الْمَسْبُوقِ فَرَاغَ الْإِمَامِ** اوسنت دی چې انتظار به کوی هغه مقتدی چې اول د لمانځه د امام څنګه تیر سوی وي. د امام د دواړو خواوو سلام ته. ولی چې پر مقتدی خو متابعت د امام لازم دی په سجدی کښی هم نو چې امام د واړو خواوو ته سلام وګرځاوه مقتدی ته به معلومه سی چې پر امام سجده سهوه فته. نو که مقتدی د مخه تر فراغ د امام والړ شو دا کار یه مکروه دی تحریمی. ط»

پوه سه: چې امام طحطاوی یو خو بیخی نادری مسئلی راوړي دی چې په هغوکی مقتدی ته د امام تر اول سلام وروسته دستی والړ مباح ده. هغه دا چې مقتدی بیرې ی کړه د امام د مکمل فراغ انتظار وکړي. د سجاړد لمانځه وخت به راسره تیر سی. او یا د جُمعی د لمانځه یاد اختر د لمانځه وخت به تیر سی. او یا مقتدی معذوره وي بیرې ی چې وخت به ووزی او نه ما اودس به مات سی.

قَالَ الْمُصَنِّفُ

فَصْلٌ وَمِنْ آدَابِهَا

د افضل دی دا دا بو څخه د لمانځه د اوروسته راتلونکی افعال.» د درویش والئ ته از خدا خواهیم توفیق ادب... بی ادب محروم ماند از فضل رب. **فَائِدَه:** مصنف پر آداب

باندی مِنْ د تبعیض داخل کړی اشاره ودې نه ده چې مصنف تولهٔ اداب د لمانځه نه دی بیان کړی اشاره هم دا غږده. مثلاً په مسجد کې به د لمانځه د جماعت انتظار کوې. اویا له لمانځه دا اذکار هم مستحب دي. استغفار درې واره. خصوصاً سید الاستغفار اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْقَیُّوْمُ وَ اَتُوْبُ اِلَیْهِ. آیة الکرسي یووار قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ یووار. سُبْحَانَ اللّٰهِ. ۳۳ واړه. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ واړه. اَللّٰهُ اَکْبَر ۳۳ واړه. لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ. یووار. درمختار.

اوبل ادب لاسونه دی پرته نګنوته نفسي په وخت کې دولاړیدو. که ورته تکلیف نه وو نو که سپین ږیری یا مریض اوبل ادب په مابین کې دا اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اوسورة بِسْمِ اللّٰهِ ویل. اوبل اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَیْل دی په اخیرو رکعتونو کې چې هغه ترتسبیح وغیره افضل ده. ط.

پوښته: چې مصنف په مراقي کښې وایي. چې ادب هغه کار دی چې آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یو وار. یا دوه واړه. یا درې واړه. کړی وي. حاصل دا چې تینګ والی په نه وي پرکوي. نو که تسبیحات د رکوع او سجدې ۵ واړه. یا اوه واړه یا بالاً. اویا په لمانځه کې تر قرائت مسنونه بالاویل. اومندوب او مستحب هم هغه ته وایي. په ټینګ دا صولینې. اوادب په لغت کې ښو اخلاقو ته وایي. لکه حلم، تواضع، قلة الغضب، قلة الکلام، عدم اشتغال په مالا یعنی سره اونور، اوپه عرف حادث کې ادب ټولو علومو عربیه وو ته وایي لکه نحو، صرف، معاني، بیان، بدیع. اونور.

دادب حکم دادی چې په نه کولو کې ګناه نه وي ملامتیا سته. اونه سزا خو بلکه کول یې افضل دی اوثواب لري. اوادب دپاره د تکمیل د سنت دی لکه سنت چې دپاره د اکمال دواجب دی اوواجب دپاره د فرض دی، لکن دا خبره د اکمالاتو ټولو بناء پرغالب ده. فلا یرد ما یتوهم من عدم الاطراد فی جمیع الاداب والسنن والواجبات، فافهم.

قَالَ الْمُصَنِّفُ **اِخْرَاجُ الرَّجُلِ کَفَّیْهِ مِنْ کُمَّیْهِ عِنْدَ التَّکْبِیْرِ**

اوبل دادابو ټخه د لمانځه دی، اوستل د تر خیل وړ غوی د لوستونو پرځنګه پوخت کی دا اَللّٰهُ اَکْبَر وَیْلو **پوښته:** چې مراد د تکبیر ټخه اول تکبیر دی د شروع د لمانځه. ولې چې دا ایستل د کبیر ټخه لیږی والی او تواضع تر نږدی والی دی مګر که ضرورت وو چې دیر یخ وُو.

مسئله: مصنف په مراقي کی خو لکه ما چې وَوَیْله د تکبیر افتتاح مراد کړی دی لکن په مجمع الانهر کی وَائی چې په ټولو حالاتو کی د لمانځه باید تر وړ غوی تر لوستونو پرو دباندی وي. **اودرویش وائی** چې مناسب د تواضع سره هم دغه کار دی. او بنځه دی ورغوی نه راباسی که څه هم عورت نه دی د دې سبب چې بنایه باز وګان یې چې عورت دی بنکاره نه سی. لکن دا د حرة بنځی دپاره. اومنیځ په دی باره کی لکه ترده، ط. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَنَظَرُ الْمُصَلِّیْ اِلٰی مَوْضِعِ سُجُوْدِهٖ قَائِمًا

اوبل ادب د لمانځه دادی چې لمونځ کوونکی به وَ ځای ته د سجدې گوری په وَلاړه کی. تا چې خشوع به پرځای سی. او یعنی خو بل خواته نه ګوری چې شغل ته د لمانځه یې تاوان ور سیږي. او که سړی په ناستی لمونځ کاوه هم به ځای ته د سجدې گوری چې دا ناسته په حکم کی دَولاړې ده

قَالَ الْمُصَنِّفُ وَاِلٰی ظَاهِرِ الْقَدَمِ رَاکِعًا وَاِلٰی اَرْنَبَةِ اَنْفِهٖ سَاجِدًا

اوبل ادب دادی چې وَ ظاهِر ته د پښو دی گوری په رکوع کی. لکن پرناستی لمونځ کوونکی دا حکم نه دی. او وَ نرمی ته د پښو دی گوری په سجده کی. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَاِلٰی حِجْرِهٖ جَالِسًا

اوښبل خیګر ته دی گوری په ناسته کی یعنی هغه ځای ته چې د خیګر پر برابر ده.

سَوال: کمسړی په کعبه شریفی کی یعنی حرم شریف کی لمونځ کاوه. نو کعبی ته کتل یې دی اوکه خپل ځیګ ته. امام طحطاوی وائی. ولو کان مشاهدا للکعبة علی المذهب.

پوه سُوله: چی دی مذکوره ادابو تولو مقصد دادی چی دسړی لمونځ پر احسان سی چنانچه په یوه اوږده حدیث کی چی بخاری او مسلم یې روایت کړی دی آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه چی پوښتنه وسوه چی ما الاحسان. علیه السلام دا سی جواب ورکړی. الاحسان أن تعبد الله کانك تراه فان لم تکن تراه فانه یراك. ترجمه: د احسان دادی چی ته په عبادت کوی د خدای جل شانه لکه ته چی خدای وینی اوکه ته نه وینی دی خو دې وینې. مطلب دا چی په لمانځه کی تول توجه د خدای ته وی. قال المصنف:

وَالی المنکبین سلما او بل ادب دادی چی دواړو ته به کوږی چی سلام اړوی **پوښتنه**: دا تولی کښتر چی ذکر سوی دا خو په هغه چا کی دی چی په ستر ګو وینی نو هغه به څرګوی **جواب**: هغه پرانده ته ستر ګو. وفوق الذکر ځایونه متوجه وی. قال

ودفع السعال ما استطاع او دفع د ټوخی دی کوی تر هغه ځایه چی وس یې وی. اوکه ټوخی مجبور کړی وو نکه په بعض حالاتو کښی د ټوخی کار پیدا دو دفع نه کوی ولی په دفع کی د ټوخی د لمانځه څخه قلق اوږی. **مسئله**: که سړی امام وو او قرائت یې په جهر سره وونو په ستونی کی بلغم پیدا سو چی قرائت یې نه سوای ویلای او یا یې جهر ته تاوان رساوه. نو دی غاړه ... کړی او بلغم دی دفع کړی.

مسئله: سړی ضرور ته ټوخی نکه یعنی چې سړی عادت لری او یا غاړی تازه کقول لمونځ فاسدوی. کما فی المراقی. **مسئله**: دا ټوخی په لمانځه کی حکم دادی چی اول دی دفع په دی وکړی چی شونډی پټ غاښونو تینګ کړی اوکی یې هغه دفع نه کیږه یا یې غاښونه وو. بیا دی لاس یا لوستونې پر خوله وڅنی. اوکه په غاښونو یې دفع

کیدای سوای بیا لاس یا لوستونې پر خوله نیول مکروه دی. کذا نقل عن الامام الاعظم خلاصه. وهذا معنی قول المتن

وَکظم فمه عند التثاؤب اوخوله دی ټولوی په وخت کی د ټوخی **والقیام حین قیل حی علی الفلاح** اوولاړین ی دی یعنی امام اوقوم ټوله په نیږدې هغه کلمه چی حی علی الفلاح وای. داخو کله امام په محراب کی وی، اوکه امام په حجره کی وو نو قوم دی ولاړ سی تر څو چی امام راځی. دی سبب دادی چی اقامت کوونکی امر وکړی په ځانو سره ټولو نو امام اوقوم پاید قبلوته وکړی. اوحسن بن الزیاد او امام زفر وائی چی پر حی علی الصلوة دی ولاړین ی. سکب الانهر والاحواله وه ابن الکمال ته کړیده اوهغه حواله وزخیری ته کړیده. قال المصنف:

وشروع الامام مذ قیل قد قامت الصلوة اوشروع دی کوی امام یعنی په لمانځه کی دهغه وخت څخه چی اقامت کوونکی ووائی، قد قامت آه دامذهب دی د امام اعظم او امام محمد او امام ابویوسف وائی چی ټوله اقامت خلاص سی بیا دی شروع په لمانځه کوی. اوکی شروع د لمانځه تر تمامیدو د اقامت وځند وَل په اتفاق سره پروانه لری ط. **مسئله**: که امام د مسجد په پای د خوا څخه راغلی پر هر صف چی راځی هغه به ولاړین ی. **مسئله**: اوکه د مسجد خوا راغلی څوک چې مقتدیانو دی ولیدی ټوله به ولاړین ی. **مسئله**: که مؤذن په اقامت شروع کړی وه او یو سړی مسجد ته داخل سو کښیدینی پر ولاړی به نه درین ی. ده اقامت تر پوره کیدو پوری چی دالاور مکروه ومنتقی قه. ط. **پوه سله**: چی مذهب دائمه ثلاثه زمونږ دادی چی داختتام سره د اقامت دی سمدستی امام تکبیر تحریمه ووائی او شروع دی په لمانځه کوی. لکن د اتصال مستحب دی، نه تهنیګ سنت دی. او ټول واجب

دی نکه بعض فقهاء چې وائی. په شرح کی د مجمع وائی وهو الاصح اوط وائی وهو اعدل المذاهب وهو الحق «ن»

پوښتنه: کریوسړی دوه رکعته سنت وکړه پس له اقامت حکمه یې څه دی؟ **جواب**: ګناه ورباندی نشته. **پوښتنه**: که اقامت خلاص سو او امام سنه ګړی وروسته راغلی اقامت به راګرځوی که څنګه؟ **جواب** نه دی راګرځوی. منح برازیه په دلیل دهغه حدیث چې بخاری یه د انس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې یووخت د لمانځه اقامت خلاص سو او نبی علیه الصلوة والسلام ته یوسړی په مخکښی ودریدی لیونی دیو کار د پاره نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم د لمانځه د شروع څخه بند کړی. یوګړی نور آنحضرت صلی الله علیه وسلم محراب ته راغلی او شروع په لمانځه وکړه یعنی اقامت یې نه راوګرځاوه. قال المصنف

فصل فی کیفیة ترکیب افعال الصلوة

دی فصل دی په بیان د ډول دیوځای کولو د افعالو د لمانځه. **پوښتنه**: چې په خودی نسخه کی د نور الایضاح لفظ د افعال نشته، لکن په هغه نسخه د نور الایضاح کی چې په مراقی الفلاح کښی موجوده ده په هغی کښی لفظ د افعال سته، نو ځکه وائی چې مراد د افعالو څخه عامه معنی ده چې اقوالو ته هم شامله سی. لهذا اصلی نسخه د نور الایضاح دیره ښه ده چې توجیه ته د ضرورت نه لرې. **پوښتنه**: چې د اکیفیت د ترکیب چې مصنف بیان کړی دی دسړه تر پایه پوری دی. د رویش وائی چې دا دیره په زړه پوری فصل دی ګویا د ټولو ماقبل اجمال دی، اود متفرقو افعالو او اقوالو پر یوه ځای ښوول دی. قال المصنف

إذا أراد الرجل الدخول فی الصلوة أخرج کفیه عن کمیه اوڅوخت چې اراده وکړي نو د خلیدو

یعنی شروع کولو د لمانځه هر لمونځ چې وی که فرض وی او که واجب یا سنت یا نفل وی، راوړی باسی خپړی دلوستونو څخه د مخ تیره موه چې نبځه بې ندراباسی اودغه رنګه په وخت کی د ضرورت چې نی راوباسی پرواه نه لری. قال المصنف

ثم رفعهما إلی حذاء أذنیه او بیا دی پورته کړي تر برابر پورې د غوږونو. **پوښتنه**: چې په عمومی کتابونو کښی د فقهی داسی وائی چې بتی ګوتی یه برابری سی د نرمیوسره د غوږونو، او مصنف په مراقی کی د متن چې مجمل وو موافق د عمومی کتابونو سره تفسیر کړی. **تنبیه**: پوه سه چې باطن د اودغوږو بې قبلی و خواته وی او ګوتی به جګی نسی، اوپرخپل حال دی پریښې دی. نه دی پیرې جوتوی اونه بې پیرې خلاصه وی. او که سړي عذر د لودی لاسونه یې د دومره نه سوای پورته کولای نو تر هغه ځایه چې طاقت وی پورته دی کړي. لکن سر راکښته کول مکروه دی. اود منیځی هم دغه حال دی. لکن حرم نبځه بې تر برابره د اوږو پورته کوي.

فائدة: په هیڅ کتاب کی د فقهی شریفی داسی نه دی راغلی چې بتی ګوتی به د نرمی سره د غوږونو مسه کوي. مګر په قاضیخان او فتاوای ظهیریه کی په نقل د فقیهانو کی د مسه کولو لفظ راغلی دی. او نقایه والا د هغه دلیل د اوائی چې محاذات وښه تحقیق نه ورسیږی. لکن د دا دلیل دومره شوی نه دی ولی چې د محاذات په تحقیق بیله مسه کولو هر سړی پوهیږی. او مسه کول په هیڅ حدیث کی هم نه دی راغلی، لهذا د عمومی فقهی دکتابونو عبارت ډیر ښه دی.

حکمت د رفع الیدین څوک وائی اشاره ده د توحید الهی ته. او څوک وائی د دی چې اشاره ده د دې ته چې ما امور د دنیا ترشا وغورځول او یک لخته د لمانځه ته متوجه سوم، لکن فی دلالة رفع الیدین علی الاشارة هین خفاء، او څوک وائی د دی د پاره

چې تولو اعضاوو په وخت کې ختمېږي. او بدر الدین العیني الحنفي په شرح کښې د بخاري د عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه دا سې روایت کړې دی چې پورته کول د لاسونو پیل شي د لمانځه نه دمخه او ښکته کیدو سره د تکبیر ویلو پای ته رسي. او دهري ګوتې په پورته کیدو سره د تکبیر ویلو پیل کیږي.

قَالَ **ثُمَّ كَبَّرَ بِلَا مَدٍّ** وروسته دی الله اکبر ووائي بیله مدې

فائده: د عبارت څخه د مصنف دا سې واضح معلومیږي چې لاس پورته کول بې د لمانځه نه الله اکبر وي. ولې ده وویل **ثُمَّ كَبَّرَ**، او مختار د صاحب الهدایه هم دا طریقه ده، او په قدوري کې وائي: **يَرْفَعُ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيرِ**، لاسونه دی د تکبیر سره یوځای پورته کوي. وهو المروي عن ابي يوسف والطحاوي، لکن اکثر مشائخ اوله رایه اصح ګڼلې: ولې چې حکمت د رفع الیدین او الله اکبر ویلو دا دی چې په پورته کولو کې د لاسونو اشاره ده د نفي ته د کبریا د ماسوا څخه د خدائ او په الله اکبر اثبات د کبریا دی د خدائ ته او نفي خو تر اثبات د مخه وي لکه: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ او بعض فقهاء وائي چې تکبیر دی تر رفع الیدین د مخه وائي. لکن ملایان نه بایدد په دې دروکیفیتو پسې جنجال ونه کړي. ولې چې بحر رائق وائي چې د ځمدرۍ سره کیفیتونه د علیه السلام څخه مروي دي.

البته اوله چې کوم کیفیت دی هغه دی مصنف بیان کړی دی. او تر هغه وروسته کیفیت د قدوري دی. او اخیر کیفیت تر تولو مرجوع دی.

د مدونو بیان

پوه سه: چې مد په اول کې د الله یعنې په اول همزه کې مانع دی د شروع په لمانځه کې او کې د لمانځه په مابین کښې وائي لمونځ په فاسدیږي. ولې چې په دې صورت کې د استفهام نقشه راځي او کې په قصد څوک وائي کافر کیږي. په سبب د دې چې په کبریا کې د خدائ په شک راوستې. او کې په مابین الف کې مد وکړي نو که دوه حرکته قدر وو د الف مد طبعي دی پرې نه لري بلکه صواب هم دی. او که تر دوه حرکته پاسه وو.

د اکثر والی نو مکروه دی لکن لمونځ نه په فاسدیږي. قاله ابن امیر الحاج او په سراج کې وائي چې خلاف الاولی دی. فالحاصل ان الکراهة تنزیهیة.

او کې اشباع او مد په حرکت کې د هاء د الله وکړي، نو دا خطاء من حیث اللغة ده او لمونځ نه په فاسدیږي. او یا لفظ د ها ساکن ووائي د لغت د لارې خو خطاء ده اما لمونځ نه فاسدیږي. او کې مد د اکبر په اول کښې وکړي شروع په لما نځه نه صحیح کیږي. او کې په مابین کې د لما نځه د غه مد وکړي لمونځ یې فاسد شو. او کې د مد د باء په زور کې وکړي یعنې اکبار بعض فقهاء وائي چې لمونځ یې فاسد شو ولې چې اکبار جمع د کبر ده چې هغه طبلې ته وائي. او د اولاد څخه د شیطان دیوه نوم دی، ط، او په قنیه کې وائي لمونځ نه په فاسدیږي ولې دا اشباع د حرکت ده. او بعض اقوام د عرب څخه ثابت دی اشباع عادت ده. لکن نر لیعنې وائي چې اشباع د حرکا تو صرف په اشعارو کې روا ده یعنې د سببه څخه د برابر و لو د بیت پر بحر باندې کما تقرر فی علم العروض وقت التقطیع للابیات.

مسئله: که مؤذن اکبار، ووائي حتم یې څرګند! **جواب:** اګر څوک د اذان خونه غواړي ولې چې په اذان کې فراغ ده، قاله فی السراج، او کې په قصد ووائي او معنیٰ یې هم مراد وي چې ویاندې تیره سوه کافر کیږي. او کې معنیٰ نه وه قصد کافر کیږي خو ګنه ولیستغفر ویتوب دالله څخه د عفوه وغواړي او توبه دی وکا بې. محض ط، **مسئله:** کې مد وکړي په اخیر کې د اکبر د حرکت. فقیل تفسد صلوته لمونځ یې فاسد سو یعنې کرد لما نځ په مابین کې وو. او پر دی مذهب که د لما نځ په اول کې د امد وکړي شروع په لما نځ یې نه ده صحیح، او عنایه والا وائي چې لمونځ د سر ې نه په فاسدیږي او شروع په صحیح ده.

فائدهٔ ضروریه

که یو لمونځ کوونکی او یا قسم اخستونکی او یا د حیوان ذبح کوونکی هغه مد چې ده مابین پر لامر دی د الله پر لیبنو یعنې الله اکبر

یه روایه او یا دغو درو کسانو لفظ دهاء د اَللّٰه حذف کړی یعنی اَللّٰه اکبر یه
روایه، امام طحطاوی والی چې په صحت د شروع د لمانځه، او د قسم په انعقاد کې
او د غږ نګه د منډ بوحی په حلال والي کې اختلاف ستنه، نو نه دی پرېښې دی د
جهتِ د احتیاط، او قاضی بیضاوی په خپل تفسیر کې پر خلاف ده هغه دی
یعنی نه ئې شروع په لمانځه صحیح کیږی. او نه ئې قسم غوټه کیږی، او نې
ذبیحه حلاله ده، لکن درویش والی د جهتِ تخفیف د عموم ابتلاء حکم قطعی دی
مفتی نه کوی قاله السید ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ

نَاوِيًا اِفْتِتَاحَ الصَّلٰوةِ

یعنی په تکبیر ویلو سره بې نیت د شروع د لمانځه وی، د شرط د صحت د تکبیر دی
پوه سه: چې لمونځ کوونکی شارع گرځی په لمانځه کې په نیت سره د اَللّٰه اکبر
او نه یوازې په تکبیر شارع گرځی او نه یوازې په نیت سره بلکه په دواړو سره شارع
گرځی. او روادی تقدیم د نیت پر تکبیر په دی شرط چې فصل دی په اجنبی فعل
سره نه وی کوی. **مسئله**: پر گونګی باندی بنورول د ژبې لازم نه دی نه
د اَللّٰه اکبر په وخت کې او نه د قرائت په وخت کې وهو الصحیح. ولی چې د اصل
واجب ګڼل خو دی عاجزه دی نو بل شئ پر لازمول چې تحریک اللسان دی دلیل
غواړی، در، ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَصِحُّ الشُّرُوْعُ بِكُلِّ ذِكْرٍ خَالِصٍ لِلّٰهِ تَعَالٰى

او صحیح ده شروع د لمانځه په هر ذکر سره چې خالص حق د خدای پاک وی. یعنی د مقصد ځنډ نه بنده خالی وی
نو په اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ سره شروع نه ده روا، لانه لِطَلَبِ الْمَغْفِرَةِ، او نه پته وَلَا حَوْلَ
وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ سره. ولی دا کلمه د پاره د طلب د حول او قوت دی د خدای ځنډ
او نه په بِسْمِ اللّٰهِ سره ولی چې بِسْمِ اللّٰهِ خو پاره د تبرک یعنی طلب د برکت
او یا د پاره د طلب د کومک ده د خدای ځنډ،

مسئله: شروع د لمانځه په غیر د اَللّٰه اکبر وقادر سړي ته مکروه تحریمی دی
م، ط، **فائده**: دپاره د شروع په ماسوا د اَللّٰهُ اکبر د شرط دی چې
هغه ماسوا یه هم تامه جمله وی لکه اَللّٰهُ اکبر، قَالَ الْعِرَاقِی وَهُوَ ظَاهِرُ الرِّوَايَةِ
وَهُوَ الْمُخْتَارُ، در، وَهُوَ الْاَشْبَهُ، ابن امیر حاج،
مثال د ذکر خالص چې جمله تامه هم وی، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، سُبْحَانَ اللّٰهِ،
سره د فعل محذوف سُبْحَانَ اللّٰهِ هم جمله تامه ده. او په روایت کې د حسن د ابی حنیفه
ځنډ په مفرد تامه سره د خدای هم شروع صحیح ده خلافا لمحمد، در، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَبِالْفَارِسِيَّةِ

او صحیح ده شروع په فارسی ژبه، بلکه په تولو ژبو سره
نو تخصیص د فارسی چې مصنف کړی دی د پاره د احتراز د نورو ژبو ځنډ نه دی بلکه
د دی سبب دی چې اقرب د ژبو و عربی ته په فصاحت او بلاغت کې فارسی ژبه
ده، او چې سبب د تخصیص د اګنړلی دی چې حدیث شریف راغلی دی، لِسَانُ اَهْلِ
الْجَنَّةِ الْعَرَبِيَّةُ وَالْفَارِسِيَّةُ الدَّرِيَّةُ، غلط دی ولی چې مُلا علی قاری د احدیث موضوع
ګڼلی دی. نو ابو سعید البرادعی په دی دلیل ویلو کښې سهوه دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

اِنْ عَجَزَ عَنِ الْعَرَبِيَّةِ وَاِنْ قَدَرَ لَا يَصِحُّ شُرُوْعُهُ

او هغه چا ته شروع په فارسی روا ده چې د عاجزی د عربی تکبیر ویلو ځنډ، او که سړی
بِالْفَارِسِيَّةِ وَلَا قِرَائَتُهُ بِهَا فِي الْاَصَحِّ قادر وی پر عربی عبارت
ژبه نه ده صحیح. او نې قرائت د قرآن په لمانځه کې په فارسی ژبه روادی په اصح
مذهب کې چې مذهب د یارانو دی. چې امام اعظم هم وهغه ته رجوع کړی ده، کما فی
کتب الفتاوی، والشروح فی الفقه، در و لیش والی چې شروع په لمانځه په غیر عربی
ژبه د امام اعظم په نیز صحیح ده و قادر ته پر عربی ژبه لکن سره د کراهت تحریمی کمامر،

اوبعض کتابونه وائی چی په مسئله کی د شروع په غیر عربی یا رانوئ وقول ته د امام اعظمؒ رجوع کړی ده، ولی چی شروع دلمانځه په ذکر خالص پوری اړه لری اوذکر خالص په هره ژبه کیدای سی.

اوقرائت خو په قران مبارک پوری اړه لری اوقران مبارک خونوم دی د نظم او معنی دواړو په اتفاق د اصولیونو. نو په فارسی ژبه کښی مثلاً که څوک معنا د قران مبارک اداء کړی خو نظم یه پاتیږی. نو د دی کبله امام اعظمؒ چی اول یه قرائت په فارسی ژبه روا بللے وقول ته د صاحبینؒ یعنی ابو یوسفؒ او محمدؒ رجوع وکړه: د دلیل وائی چی پس له ثبوت د رجوع د امام اعظمؒ وقول ته د یا رانوؒ هغه توجیهات تو ته چی صاحب د نورالانوار او بعض نورو کتابونو پاړه د توجیه د قرائت په فارسی په نیز د امام اعظمؒ ذکر کړی دی هیڅ ضرورت نشته، بلکه صحیح هم نه دی. ولی دا توجیهات خو پر امام اعظمؒ دا لازمولی چی د دی قرائت په فارسی ژبه وقادر ته پر عربی ژبه روا بولی.

ولیس کذالک کما مرّ.

بنهانه خبره یو سه چی تلبیه په حج کی او سلام گرځول د لمانځه څخه او قسمونه، اوپر ذبیحه باندی ذکر وقادر ته پر عربی په نورو ژبو روا دی په اتفاق سره. قال المصنفؒ

ثُمَّ وَضَعَ يَمِينَهُ عَلَى يَسَارِهِ تَحْتَ سُرَّتِهِ عَقِيبَ التَّحْرِيمَةِ بِلَا مُهْلَةٍ

بیا دی نو کښیږدی ښی لاس پر ښی چپه لاس باندی لاندې تر نامه وروسته تر الله اکبر بیله ځنډه.

اختلاف الائمة: د حضرت الامام الاعظمؒ او د حضرت الامام ابو یوسفؒ په نیز لاس ایښودل یو پر بل سُنت وولاړ ی دی بلکه دوی دوهٔ وائی چی ایښودل د لاسونو یو پر بل سُنت دی په هری هغی ولاړی کی چی په هغی کښی ذکر مسنون وی. لکه په حال کی د سُبْحَانَ اللهِ آه اوپه

حال کی د دعاء قنوت او د جنازی په لمانځه کی. او چونکه په مابین کی د تکبیر و د اختر و ذکر مسنون نشته نو محکم د لاسونه ایله پریږدی. او په نیز د امام محمدؒ ایښودل د لاسونو سنت دی د قرائت، نو په حال کی د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ دی لاسونه کښته ایله کښیږدی، چی الحمد لله شروع سره بیا دی لاسونه یو پر بل باندی کښیږدی: والفتوی علی الاول.

فائده: مصنفؒ کیفیت دا ایښودلو د لاسو یو پر بل نه کړی ذکر له دی کبله چی په ظاهر الروایه کښی نه دی راغلی، لکن فقهی شریفی په کتابو کښی په بعضو کی لفظ د «وضع» راغلی دی لکه په عبارت کی د مصنفؒ او نورو کتابو هم چی د وضع معنا نفس ایښودل ده. او په بعض کتابو کی لفظ د اخذ راغلی دی چی دهغه معنا نیول ده. بحر رائق وائی چی مختار داده چی راسته ورغوی دی د چپه لاس پرشاه داسی کښیږدی چی بښه گوته او کشنی گوته دی د چپه لاس الغه کړی او دری نوری گوتی دی د راسته لاس پر چپه بازو کښیږدی. بحر رائق دا دلیل وائی چی نیول د لاس وضع له مستلزم دی یعنی چی چپه لاس په راسته لاس ونیسی نو راسته لاس پر چپه هم سو: او ایښودل نیولو له نږدی مستلزم نو په مختار کیفیت کی عمل په وضع او اخذ دواړو سره راځی، فافهم، قال المصنفؒ

مُسْتَفْتِحًا وَهُوَ أَنْ يَقُولَ: سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ

په داسی حال کی چی شروع کوی داسی دعا وائی: پاکی ده تا لره د هر عیب او نقصانه څخه یا الله او ستا د حمده ستا یعنی پر صفات کمالیه وو ستا.

وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ

او مبارک دی ستا نوم یعنی توله اسماء الحسنی ستا، او لوړه ده ستا غنی چی د هر مخلوق څخه بې پروائی. او یا لوړ دی ستا قدرت چی پر هر شی ممکن قادر ئی:

وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ

او نشته په حقه سره معبود بیله تا

مسئله: کږیوسړی داسی هم وَوائی... وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ «څوك دی نه منع کوی. اوکه څوك نه ووائی څوك دی په ویلونه امر کوی. ط» **پوه سه**: چی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ترکیب نحوی په لویو کتابونو کی مذکور دی چی په دی سبب چی د مبتدیانو دفهم سره لائق نه وو نو ما پریښو» او بعض فقهاء وائی چی واوو» وَبِحَمْدِكَ» دپاره د عطف دی او متعلق د باء محذوف دی» ای اَبْتَدِءُ بِحَمْدِكَ» اودا جمله عطف د پرهغه عامل محذوف ده سُبْحَانَكَ ای اُسَبِّحُكَ سُبْحَانَكَ» اود حضرت الامام الاعظمؒ څخه روایت دی که څوك واو نه ووائی یعنی سُبْحَانَ اللّٰهُمَّ بِحَمْدِكَ» هم روا دی لکن پدی تقدیر باید دَ بِحَمْدِكَ دپاره د ملابست ده ای اُسَبِّحُكَ مُتَلَبِّسًا بِحَمْدِكَ» لکن ویل دواو اولی دی. لِاَنَّ فِيهِ زِيَادَةَ الْمَعْنٰى كَمَا لَا يَخْفٰى» مَرَاقِي الْفَلَاح د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ معنا په عربی باندې د الفاظو داسی بیان کړی دَه: چی محذوف الفاظ نحویه وو چې هم اشاره کړیده:

نَزَّهْتُكَ عَنْ صِفَاتِ النَّقْصِ بِالتَّسْبِيحِ. وَاَثْبَتُّ لَكَ صِفَاتِ الْكَمَالِ بِالتَّحْمِيدِ وَتَبَارَكَ ای دَامَ وَثَبَتَ وَتَنَزَّهَ اِسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ ای اِرْتَفَعَ سُلْطَانُكَ وَعَظُمَتْ وَغَنَائُكَ بِمَكَانَتِكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ فِي الْوُجُودِ مَعْبُودٌ بِحَقٍّ» اودی بنا ګنته الفاظو معنا په شرح کی د طحطاوی وګوره» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَسْتَفْتِحُ كُلُّ مُصَلٍّ او سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به هر لمونځ کوونکی وائی که فرضی لمونځ کوی. اوکه نفلی، اوکه امام وی اوکه متقدی وی، که منفرد، کږهری لمونځ وی اوکه سِرّی لمونځ وی. لکن تر هغو پورې چی امام په قرائت شروع نه وی کړی. اوکه امام قرائت شروع کړی وو بیا دی متقدی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ نه وائی.

پوښتنه: په جهری لمانځه کی خو امام شروع په قرائت معلومیږی په سری لمانځه کی خو متقدی ته شروع د امام په قرائت نه ور معلومیږی. **جواب**: په سری لمانځه کی اعتبار ظن غالب ته د متقدی دَئ په قرائتِ سورَه:

مسئله: کله سړی امام ته په رکوع کی ور رسیدی نو که د سړی د اخیال وُوچی زه سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په ولاړی ووایم د امام سره لږ رکوع هم نیولای شم نو سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په تلوار تلوار وه وائی. او بیا دی د امام سره په رکوع کی ځان شریك کړی. او که خپال داوو چی د امام رکوع را څخه تیریږی. بیا دی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ نه وائی. کَذَا فِي النَّهْرِ» او بعض علماء وائی چی په سِرّی لمانځه کی دی مقتدی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وائی والاول هُوَ الْمُعْتَمَدُ

قَالَ الْمُصَنِّفُ **ثُمَّ يَتَعَوَّذُ سِرًّا لِلْقِرَاءَةِ** بیا دی اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ووائی د پاره د شروع په قرائت کښی

ترجمه: د اعوذ باالله» زه پناه اوسټانه غواړم په خدای سره د هغه شیطان څخه چی راننده او شړلی د خدای ددر بار څخه دی. وَلی شیطان د اغواء چی په دی بنا ګسته عبادت کی چی لمونځ دی ستاز په د حضور څخه د خدای بلی خواته مصروف کړی. اوستا د غه لمونځ د احسان دلاری څخه وارِه وی. كَمَا وَرَدَ فِي الْحَدِيثِ الطَّوِيلِ الَّذِي رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَمُسْلِمٌ چې سُئِل رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَنِ الْاِحْسَانِ فَقَالَ اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهُ يَرَاكَ كَمَا مَرَّ مَعَ التَّرْجَمَةِ: نو شیطان که څه هم ته نه وینی لکن خدای پاك خو یه وینی. او دده په دغه فساد هم خبر دی نو ته هغه ذات پاك ته پناه وړ، وَرَه چی دهغه لعین د وَسوَسو څخه دی وساتی.

مسئله: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ به تر قرائت د مخه وائی. او بعض اصحاب الظواهر او امام نخعیؒ او ابن سیرینؒ وائی چی اَعُوْذُ بِاللّٰهِ به تر قرائت وروسته وائی. دوی دا دلیل وائی چی خدای پاك داسی وَیلی دی» وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ» او کلمه د فا خو د پاره د تعقیب او وروسته والی ده په اتفاق د اهل اللغة والنحو لکن دا دلیل د دوی فاسِد دَئ. ولی چی د دی ایت معنا ټوله مفسرینؒ داسی کړیده» اِذَا اَرَدْتَ قِرَاءَةَ الْقُرْاٰنِ فَاسْتَعِذْ آه او دلیل د دی مجاز دادی چی ټوله صحابه رضی الله عنهم اَعُوْذُ بِاللّٰهِ تر قرائت د مخه ویله او قولا چی به چا پوښتنه ځندی وکړه. جواب به یه په تقدیر د اَعُوذ باالله ورکاوه. اوبل جواب دادی چی کلمه د فاء په دی ایت مبارکه کی د پاره د تعقیب نه ده بلکه

د پاره د حال ده لکه چې ځاۀ د دفا په معنی کې د حالیت معنا هم راوړې ده. کما یُقال اذا توضأ فقل بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ نو معنا دا ایت مبارکه داسی ده «چې ته قرائت د قرآن پاک کوه په داسی حال کې وکړه چې تا دی پناه په خدای ج حاصله کړې وی» یعنی أَعُوْذُ بِاللهِ وی وئیلی وی. نو بهتر ته اعوذ بالله ترقرائت د ځنه سوه. قَالَ الْمُصَنِّفُ

فَيَأْتِي بِهِ الْمَسْبُوْقُ پس را تګ دی کوی یعنی وائی به أَعُوْذُ بِاللهِ هغه سړی چې اول د لمانځه د امام ځندی تیر سوی وی. یعنی هغه وخت چې دی قضاء ړ اوړی د تیر لمانځه لپاره سُبْحَانَ آه وجه د تفریم داده چې چونکه مَسْبُوق اول سُبْحَانَكَ آه او أَعُوْذُ بِاللهِ نه وویله په سبب د دی چې د لږ وهغه وقت قرامت نه وو په قضا ئی ړ کعتو کی د ته قرائت پیدا سو نو ځکه أَعُوْذُ بِاللهِ به وائی. لکن ته سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وروسته کې سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په اول کې د اقتداء نه وړه وئیلی په سبب د شروع د امام په قرائت سره. بعض علماء وائی چې مسبوق دی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په حال کې د سکتا تو د امام وائی. او أَعُوْذُ بِاللهِ دی په قضائی کې وائی.

مسئله: مقتدی به أَعُوْذُ بِاللهِ په رکوع کې نه وائی او تکبیرونه د اختر د لمانځه کې ځندی تیر سوی وه که په اول ړ کعت دی اوکه په دوهم ړ کعت کې وی هغه په رکوع کې وائی ولی چې هغه واجب دئ. **مسئله**: مقتدی به أَعُوْذُ بِاللهِ نه وائی ولی چې أَعُوْذُ بِاللهِ تبع د قرائت ده او مقتدی لره قرائت نشته. او امام ابو یوسف وائی چې أَعُوْذُ بِاللهِ تبع د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ده. نو مقتدی بی وائی لکه سُبْحَانَه چې وائی **مسئله**: د اختر د لمانځه په اول رکعت کې به أَعُوْذُ بِاللهِ ترزوائد تکبیرو وروسته وائی ولی چې تابع د قرائت ده. قرائت په اول ړ کعت کې خو ترزوائد و تکبیرو وروسته شروع کیږی

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَالتَّسْمِيَةُ أَوَّلَ كُلِّ رَكْعَةٍ وَالتَّأْمِيْنُ وَالتَّحْمِيْدُ وَالْإِسْرَارُ بِهَا** او بیا دی بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وائی په اول کې د هر رکعت کې نفل وی اوکه فرض وی

لکن ترالحمد لله د ځنه. او هغه څوک خطا وتلی دی چې وائی بِسْمِ اللهِ دی صرف په اول رکعت کې وائی ط. **فائده**: په لمانځه کې پوره بِسْمِ اللهِ وائی او د اوداسه په شروع کې او د ذبیحه په وخت کې پوره بِسْمِ اللهِ ویل لازم نه ده بلکه هر ذکر کافی دی لکن فقهاء ړ وائی چې د اوداسه په شروع کې افضل داده چې پوره بِسْمِ اللهِ وائی او د ذبیحې په وخت کې بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُ اَكْبَر افضل دئ.

مصنف په مراقی کې وائی چې بِسْمِ اللهِ ویل په مابین کې د الحمد لله او سورة نه ده اونی ویل مکروه دی. لکن بعض فقهاء چې افضل داده چې بِسْمِ اللهِ دی په مابین کې د الحمد لله او سورة وائی. **فائده**: کې چیری لمونځ کوونکی پسله الحمد لله څخه پوره سورة نه وایه بلکه یو څو ایته یه وَيْل نو بِسْمِ اللهِ وَيْل د هغو څو ایتو د پاره مکروه ده. او د بِسْمِ اللهِ په ویلو کې جهری او خفیه لمونځ برابر دی. او بیا دی په نیزد ختم د الحمد لله امین وائی که منفرد وی او که امام او که مقتدی وی لکن د اهلته چې امام قرائت په جهر وائی. او بیا دی رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْد وائی که چې دی مقتدی وی. او د اړې سره به کرار وائی «چې پخپل ځان به واوري».

فائده: که لمونځ کوونکی منفرد وو سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ به دواړه وائی. اوکه امام وو سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه فقط په ټولو لمونځونکښی په جهر وائی. **بنهانه فائده**: د حنیفیانو او شافعیانو په دی کښی اختلاف دی چې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم شریفه جزء د الحمد لله بلکه د هر سورت سوا د سورة براءت څخه جزء ده اوکه نده «حنیفیان وائی لا، او شافعیان وائی نعم» لکن سره د دی اختلاف دواړې ډلې پردی متفقه دی چې بِسْمِ اللهِ دی تر الحمد لله شریفې د ځنه کرخدم لمونځ جهری وی کرار وائی. د دی اتفاق څخه مذهب ته د حنیفیانو تقویت پیدا کیږی. ولی که بِسْمِ اللهِ جزء د الحمد لله وائی نو په جهری لمانځه کې څه سبب دی چې بعض اجزاء د الحمد لله چې بِسْمِ اللهِ ده کرار ه ویل کیږی او نور اجزاء یې په جهر سره. او بله خبره داده چې د عصر نبوی څخه الی یومنا هذا هیڅ چا

جهر په لیئم الله شي نه دی کړی، «اَللّٰهُمَّ الْأَمْرُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ اِحْيَانًا لِلتَّعْلِيْمِ» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ قَرَأَ الْفَاتِحَةَ وَاَمَّنَ الْاِمَامُ وَالْمَأْمُوْمُ سِرًّا اوبیادی الحمد لله شریفه ووائی او امین دی ووائی امام او مقتدی په پټه خوله سره. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ قَرَءَ سُوْرَةً اَوْ ثَلَاثَ اٰيَاتٍ اوبیادی ووائی یو سورت یا دری ایاته لیني که لنډ ایتونه وه، اوکه یو ایت طویل (اوږد) وی هم کافي دی لکن دا سورة یا دری ایته ویل پس له الحمد لله څخه واجب دی کما مرّ، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ كَبَّرَ رَاكِعًا بیادی اَللّٰهُ اَكْبَرُ ووائی هر لمونځ کوونکی چې وي. **مسئله** د تکبیر شروع دې دکښیدو سره د رکوع یوځای وي او تکبیر به ختمیدی په ختمید و سره د رکوع تر چې شروع په تسبیح وکړي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

مُطْمَئِنًّا مُسْتَوِيًا رَأْسُهُ بِعَجُزِهِ اٰخِذًا رُكْبَتَيْهِ بِيَدَيْهِ په آرام سره دی رکوع وکړی په داسی حال کی چې برابر به وي سر ځځه دپای سره. اوښیوونکی دی وي دواړو زنګنو لره په دواړو لاسو اوپرزنګنو دی گوتی خلاصی وي تسی **مسئله**: پښې به سمې ولاړی وی اوکښ ول د زنګنو اوپښو دی لکه کمان مکروه دی، او ښځه دې گوتی خلاصی نه سیی، مړه قَالَ الْمُصَنِّفُ:

مُفَرِّجًا اَصَابِعَهُ اوتسبیح دی ووائی په رکوع کی یعنی هر لمونځ کوونکی. چې هغه سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ دی» اوکی ظاء په خپل مخرج کی نه سوای ویلای لکه اکثر عوام، چې دوی یه داسی ووائی. سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَزِيْمِ» نو هغه چونکه دالفظ غلط دی نو دوی دی

وَسَبَّحَ فِيْهِ ثَلَاثًا وَذٰلِكَ اَدْنَاهُ

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْكَرِيْمِ، دی ووائی، دری واړه. اودغه دری واړه کم درجه ده د تسبیح ویلو

فَائِدَه: پوه سه! چې مصنف په مراقی کی ووائی ای اَدْنٰی کمال الجمع المسنون» دی عبارته څخه دا معلومیږی چې په یوه وار تسبیح ویلوهم مطلق سنت پرځای کیږی لکن د کمال د سُنت کمه درجه یه ۳ دری واره ده. او ورته عبارت صاحب هدایه هم وئیلی دی» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ قَائِلًا سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ

اوبیادی سر راپورته کړی په داسی حال کی چې ووائی به سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ کړی

لَوْ كَانَ اِمَامًا اَوْ مُنْفَرِدًا وَالْمُقْتَدِيْ يَكْتَفِيْ بِالتَّحْمِيْدِ

امام وی لمونځ کوونکی یا یه وازی وی او مقتدی دې یواځی رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ووائی.

پوه سه: چې معناد سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. داسی دی «سَمِعَ اللّٰهُ» قبلونکی دی خدای جل جلاله حمد لره دهغه چا چې دده حمد و ووائی. په عرف کی د «سَمِعَ» ترجمه قبول دی. لکه چې ووائی «سَمِعَ الْاَمِيْرُ كَلَامَ فُلَانٍ اِيْ قَبِلَهُ» وكما وَرَدَ فِي الْحَدِيْثِ النَّبَوِيِّ. اَعُوْذُ بِكَ مِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ» اى لا يقبل وَلَا يُسْتَجَابُ».

پوه سه: چې هاء د ضمیر د پاره نه ده بلکه هاء السکت والا ستراحة ده مړه او په مُستعفی کی ووائی چې هاء د ضمیر ده. **الاختلاف**، جمع کول د سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ. سره د رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ» امام لره مذهب د امام ابویوسف او امام محمّد دی او یو روایت د امام اعظم څخه هم دی. او دا مذهب لکه مختار د مصنف چې دی حاوی قدسی او الفضلی او طحاوی او بعض نورو متأخرینو هم دا مذهب مختار کړی دی. او د مدینی والا و هم دغه رواج دی. لکن په هدایه کی ووائی چې امام به رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ نه ووائی. او دا مذهب دی د امام اعظم دلیل د مذهب د امام اعظم دادی چې په حدیث مبارک کی راغلی دی» اِذَا قَالَ الْاِمَامُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُوْلُوْا رَبَّنَا

لك الحمد نو داخو تقسیم دی او تقسیم قاطع د شرکت دی. لهذا مقتدی سمع الله لمن حمده نسته زمونږ په نیز خلافاً للشافعی، «او فتح القدیر په اول جلد ص ۲۶۱ کی وائی. وفی البحر المحیط فی التحمید اربع مرات، ربنا لك الحمد، ربنا ولك الحمد، اللهم ربنا لك الحمد، اللهم ربنا و لك الحمد، وفی المراقی الافضل اللهم ربنا و لك الحمد، ویلیه اللهم ربنا لك الحمد، ویلیه ربنا ولك الحمد، او طحطاوی وائی چې داواوخوك وائی زائد دی. اوخوك وائی داواوصاطفه دی تقدیر داسی دی ربنا حمدناك و لك الحمد والاظهر هو الاول» درویش وائی چې عطف پر تقدیر عطف دجمله اسمیه پر فعلیه لازمیږی» چې لبعض نحاة په نه خوښوی قال

ثُمَّ كَبَّرَ خَارًّا لِلسُّجُودِ ثُمَّ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَدَيْهِ ثُمَّ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ

بیادی الله اکبر ووائی شروع دپی د کښته کید وخړوبی اوختم یږ چې تندی پر محکه کښیږدی دا تکبیر د سجدی دپاره بیاد زنګونه کښیږدی او بیادی لاسونه کښیږدپی یعنی که دغه کیفیت عذر نه وو لکه دچاچې بدن عیبی وی یا بل عذر وپی. او بیادی مخ کښیږدی په مابین کی دارغوو، **پوه سه**: چې لفظ د خارًا اسم فاعل دی د خرور څخه مشتق دی چې معنا یه سقوط دی. قال المصنف:

وَسَجَدَ بِأَنْفِهِ وَجَبْهَتِهِ مُطْمَئِنًّا مُسَبِّحًا ثَلَاثًا وَذَالِكَ أَدْنَاهُ

او بیادی سجده وکړی پر پزه، او تندی په آرام سره او تسبیح ویونکی به وپی. یعنی سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى دری واره اوداکمه حصه د تسبیح دسجدې ده. یعنی ادنی د کمال مسنون یه ده کما مر فی الرکوع. قال المصنف:

وَجَافَى بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ وَعَضُدَيْهِ عَنْ إِبْطَيْهِ فِي غَيْرِ زَحْمَةٍ

اوګوښه دی کړی نس خپل

دورنو څخه، او بازوګان دی ګوښه نسی د څرګوڅ په وخت کی د دی چې ازدهام نشی د خلکو. او کدازدحام وو بیادی لاسونه په بغلو پوری وَ نسی. تاچې همسایه ته ضرر ونه رسوی: **پوه سه**: چې داحکم د نرانو دی او ښځی دی نس په ورنو پوری او لاسونه په بغلو پوری جوت نسی لان هذه الکیفیة استرلهاء قال

مُوَجِّهًا أَصَابِعَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ نَحْوَ الْقِبْلَةِ

او مخامخ وی ګوتی د دواړو لاسو او دواړو پښو وطرفته د قبلی شریفی. **پوه سه** چې ګوتی د لاسو دی دیری جوت نسی په سجده کی او بیله سجدی بل ځای ضم دګوتو نسته، مراقی وائی چې د سجدی په حال کی رحمت د خدای نازلیږی. او په ضم سره دیر رحمت پلاس ورځی.

پوه سه: چې ایښول د پښو په ایښولو دګوتو کیږی. نوګوتی دی لږ کت کړی ځای چې سرونه یه وقبلی ته وی. قال الطحطاوی ویکفی وضع اصبع واحدة» قال

وَالْمَرْأَةُ تَنْخَفِضُ وَتَلْزَقُ بَطْنَهَا بِفَخِذَيْهَا

او ښځه دی پیته پریوزی په سجده کی او نس دی جوتوی دورنو سره وقد مرنا التفصیل قال المصنف

وَجَلَسَ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ

مُطْمَئِنًّا او بیادی کښینی په مابین کی د دوو سجدو په داسی حال کی چې لاسونه بې ایښی وی پر ورنو په ارامه سره **پوه سه**: چې پر دې ناسته کی ذکر مسنون نسته. په بعض احادیثو کی چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم بعض دعاګانی یا ذکرونه اغلی دی هغه د تهجد په لمانځه کی وه.

— — — — — — — — —

سه چې داشرحه ښه واضح کړه کندهاریه بیائی خط هم ښه جلی کړی حقانی.

قال المصنف: ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مُطْمَئِنًّا وَسَبَّحَ فِيهِ ثَلَاثًا وَجَافَى

بیادی الله اکبر وائی یعنی دبلی سجدی دپاره اوسجده دی وکړی په آرام سره اودهیر

بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ وَأَبْدَى عَضُدَيْهِ

وائی تسبیح دی وائی په سجده کی اولیږی دی سانی نس خپل دوړو نو څخه اوښکاردی کړی باز وګان یعنی دبغلونو څخه

قال المصنف: ثُمَّ كَبَّرَ لِلنُّهُوضِ بِلَا اعْتِمَادٍ عَلَى الْأَرْضِ بِيَدَيْهِ

اوبیادی تکبیر وائی دپاره دولاړی یعنی ودوهم رکعت ته

وَبِلَا قُعُودٍ

بیله تکیه کولو دلاسو پښو څخه باندې اوبیله ناستې **پوه سه** چی داهلته دی چی عذر نه وی لکه سړی چی سپین ږیری وی بیله تکیه کولو دلاسو پر ځمکه نه سی ولاړی دای اویا بدن دروند وی چی بیله تکیه ولاړه ورته مشکله وی

پوه سه: چی په لمانځه اول رکعته یو وار کښینستل اوبیا ولاړ پیدل جلوس دا مستراحت بولی. اودا ناسته په نیزد امام شافعیؒ سنت ده. دلیل په هغه حدیث مبارک دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به پس له اوله رکعته یو وار کښینستی بیا به ولاړی دی.

جواب: نمونږ ځواداد ی چی دا حدیث محمول پر حال دکبر سن اوده بدن مبارک دروندوالی په وخت کی وو. په دلیل ددې چی په صحیح حدیث کی راغلی دی «كَانَ يَنْهَضُ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَلَى صُدُورِ قَدَمَيْهِ: ترجمه: وو رسول الله ﷺ ولاړیدی به ورکعت ته پر سینه د پښو». قال المصنف:

وَالرَّكْعَةُ الثَّانِيَةُ كَالْأُولَى إِلَّا أَنَّهُ لَا يُثْنِي وَلَا يَتَعَوَّذُ

اودوهم رکعت لکه اول رکعت دی مګر دا فرق دی چی په دوهم رکعت کی دی سُبْحَانَكَ اللهُمَّ او اعوذ بالله نسته».

دلیل دادی چی سُبْحَانَكَ اللهُمَّ دپاره د شروع دلمانځه فقط، او اعوذ بالله نه دی وائی لږ دی جهته چی مجلس نه دی بدل سوی که څوهم اعوذ بالله دپاره د شروع د قرائت ده. اودلته لمونځ یوډی بدل سوی نه دی». اودا مسئله ده چی په یوه مجلس کی کرهڅومره قرائت سړی ووائی یووار اعوذ بالله غواړی بل وار ویل ئی بدعت دی. قال المصنف:

وَلَا يُسَنُّ رَفْعُ الْيَدَيْنِ

اوسنت نه ده پورته کول دلاسو یعنی په وخت کی د تکبیر د رکوع یاد قیام د رکوع څخه. لکه نور مذهبونه چی په نورو تکبیرو کی د لمانځه وائی. اوکی پورته کړی صحیح داده چی لمونځ نه په فاسدیږی». قال

إِلَّا عِنْدَ افْتِتَاحِ كُلِّ صَلٰوةٍ وَعِنْدَ تَكْبِيرَاتِ الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ

مګر په نیزد شروع د مړلمانځه کرفرضی وی اوکه نفلی اویا صلوة جنازه وی اوپه نیزد تکبیرد دعائی قنوت په وترو کی. قال المصنف:

وَتَكْبِيرَاتِ الزَّوَائِدِ فِي الْعِيدَيْنِ وَحِينَ يَرَى الْكَعْبَةَ

اوهغه وخت چی اسړی هغه شپږ زوائد تکبیرونه داختر و په لمانځو کی یعنی ترغوږو پورې پورته کول په اتفاق درواياتو. اوهغه وخت چی اول ووینی کعبه شریفه لکن پورته کول دلاسو به د دعا پر طریقه کوی یعنی وطرفته د آسمان. او د عا دی هم وکی وخت الدعاء مستجاب

وَحِينَ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ وَحِينَ يَقُومُ عَلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

اوهغه وخت دلاسونه پورته کوی چی حجر اسود مسه کړی. لکن لاسونه مخامخ بی وحجر اسود ته وی». اوهغه وخت دی لاسونه پورته کوی چی د صفا او مروه پر غره ودریږی. لکن لاسونه به خلاص د آسمان وخواته نسی د دعاء په دوام اودعا به هم کوی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولحقر الورى وفضل حقه حقا في غفرلـ

وَعِنْدَ الْوُقُوفِ بِعَرَفَةَ وَمُزْدَلِفَةَ وَبَعْدَ رَمْيِ الْجَمْرَةِ الْأُولَى

وَالْوُسْطَى اودغه درنګه لاسونه پورته کوی د دعا پر طریقه اودعادی هم کوی چې په نیز د درید و پر عرفات اومزدلفه، او ډیسله و شتلو څخه د اول څخه اود مابین دخلی دشیطانانو لکن دلته ۴م لاسونه د دعا پر وخت دی او بنه اوښه ده دُعا به هم کوی، کما ثبت فی الحدیث النبوی ۴۰ **فَائِدَه**: اولاسونه دی پورته کوی په نیز د دعاد استسقاء یا نوری دعا گانی ولې چې پورته کول د لاسو سُنت دی دیارہ د دعا هره دعا چې وي، ط ص ۲۳۰ قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَعِنْدَ التَّسْبِيحِ عَقِبَ الصَّلَوَاتِ

اودغه درنګه لاسونه دی پورته کوی په نیز د تسبیح وَیلو وروسته ترلمونځو یعنی د دعا دُپارہ، قَالَ الطحطاوی کما علیه المسلمون فِی سائر البلدان،

پوه سه: چې په بعض کتابو کی وائی چې لاسُونه دی پورته کوی په قُعُدَه کی نو په دی لفظ کی کلمه دفاء اشاره ده و تکبیر ته ذا فتتاح، او قاف، اشاره ده و تکبیر ته د دعاء قنوت، او عین اشاره ده و، عِیدین، ته اود معاینة البیت و پورته کیدو ته، او سین اشاره ده و رفع دلاسُونو د سر و د حجر اسود،

د رویښ وائی: چې قاف که عام سې ترقنوت، او قیام ته د صَفا او مروه، او وقوف تر پر عرفات او وقوف ته پر مزدلفه، او وقوف ته پس له ویشتلو د جمرهٔ اولی او وسطی هم شامِل سې. او سین هم عام سې دعاء بعد التسبیح ته هم شامِل سې. نو دا مجمل لفظ به د پوره بیان سره د مصنف مطابق سې.

فَائِدَةٌ سَنِيَّةٌ: وحکایةٌ علیةٌ: روی ان الاوزاعیَّ لقیَ ابا حنیفةَ فی المسجد الحرام: روایت کړه سوی دَی چې امام اوزاعی یوځای سو امام ابو حنیفه سره په مسجد حرام کی: فقال ما بال اهل العراق لا یرفعون ایدیهم عند الرکوع و عند رفع الرأس منه: نو امام اوزاعی د حضرت الامام الاعظم ته وَوَیل چې څه سبب دی اهل عراق

لاسونه نه پورته کوی لاسُونه په وخت کی د تکبیر د رکوع اوچې د رکوع څخه راپورته سی یعنی د تکبیر سره د سجدی: قال الاوزاعیؒ وقد حدثنی الزهری عن سالم عن ابن عمرؓ ان علیه السلام کان یرفع یدَیه عند هما یعنی په دغه مذکور سند ماته ویل سوی دی چې علیه السلام لاسُونه پورته کول په دَغه دوه وخته کښی: فقال ابو حنیفةؒ حدثنی حماد عن ابراهیم عن علقمة عن عبد الله بن مسعودؓ ان النبی علیه الصلوٰة والسلام کان یرفع یدیه عند تکبیرة الافتتاح ثم لا یعود: ابو حنیفه ؒ وَوَیل چې مذکور سند ماته د سید لی د چې آنحضرت صلی الله علیه وَسلم لاسُونه پورته کول په نیز د تکبیر د شروع د لمانځه او بیا یه لاسونه نه پورته کول.

فقال الاوزاعیؒ واعجبا من ابی حنیفة احدثه بحدیث الزهری عن سالم عن ابن عمرؓ وهو یحدث بحدیث حماد عن ابراهیم الخ: یعنی تعجب وا بو حنیفه ته ورته حدیث د زهری آه ورته بیا ئوم او بی حدیث د حماد راته راوړی. غرض د اوزاعی داوو چې زما د حدیث سند عالی دی ولې چې په دَرو واسطو سره دی او ده حدیث سند کښته دی وَلې چې واسطی یه څلور دی.

فقال ابو حنیفةؒ اما حماد فکان افقه من الزهری وابراهیم کان افقه من سالم ولولا سبق ابن عمرؓ لقلت ان علقمة کان افقه منه ؓ اما عبد الله فعبد الله: د جواب د امام اعظمؒ حاصل دادی چې قانون دادی چې په فقاهت د راویانو نو حدیث ترجیح موهې کی څه هم واسطی د پیری وی. **پوه سه**: چې د حضرت الامام الاعظمؒ په دی باب کی دلائِل بیخی د پیر دی چې وَرَقی د دی مجلی شرح یه بیان نسی کولای:

مگر یو حدیث د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به دَرته ذکر کړم. هغه وائی چې هغه صحابه کرام ؓ چې په نامه د عشره مبشره وو یا دیر پ او علیه السلام و دوئ ته زیری د جنت کړی دی. دوی نه پورته کوله لاسونه مگر په نیز د افتتاح د لمانځه، عنایه،

د دعا په باره کی تحقیق

پوه سه: چې په دی کی شك نسته چې دعاء بالاجتماع اقرب او نژدی ده اجابت ته تر انفرادی

دُعاء ولی چې په ډیری خلګو کې غالبًا حاضِرُ القلب خاشعین خلګ موجود وی. اوداهم دمسلم الثبوت خبره وخو ده چې دکم عبادت چې اصل یې په شریعت کښې ثابته وی هغه عبادت تبدیعت نه سی ویلای. نو دد عاء با الاجتماع اصل په صحیح حدیثو کښې ثابت دی نکر په استسقاء کې. نو دخصوصیاتو تر دد عا کا نسو لکه عقیب الصلوٰة، یا نور دسنتو وروسته په معنا د ګناه ګاری نسی ویل کیدای ۵ اوداهم معلومه خبره ده چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم همیشه توب پرد عاءِ اجتماعی نه دی کړی. اونی په اکثرو اوقاتو کښې کړیده ۵ لکن اصل د دعاء اجتماعی ثابت دَی. نوکه هرڅوك هروخت چې وی دادعاء اجتماعی کوی ولو بعد السنن په هغه کښې هیڅ حرج اوګناه نسته. اوکی څوك نه کوی هغه هم پرواه نه لری. نو عقیده چې وهابیان اوسلفیان وغیرهم یې لری چې دعاء بعد السنن بدعت ده یعنی بد کار اوګناه دَه. ډیره پوچه خبره دَه اوډیره بی ادبی دَه: ؎

از خدا خواهیم توفیق ادب ۵ بی ادب محروم ماند از فضل رب ۵ اوخدای جل سلطانه دعاء کول مقید په هیئت انفرادی یا اجتماعی سره نه ده ګرځولې ولی چې وائی: اُدْعُونِیْ اَسْتَجِبْ لَکُمْ ۵ نو زمونږ دعصر یعنی مُلایان چې دایه عقیده ده چې دعاء بعد السنن سنت ده افراط دی په باره کې داجتماعی دُعاء ۵ اوهغه چې وهابیان وغیرهم وائی چې دعاء بعد السنن مکروه اوبدکار دی تفریط دی په حق کښې ددعاء ۵ والحق بینهما کما بینتُ ۵ کرځوله تحقیق تحقیق ددی مبحث اوپوره دلائل یحواله دفقه شریفی دکتابونو غواړی نو البصائر چې داسد المعارك العلمیه مولانا حمد الله جان ډاګوی مناسب تصنیف دی مطالعه کړی.

فائده: ددرویش غرض دانه دی چې وهابیانو اوسلفیانو ته وغیرهم هم قناعت ورکړی ولی چې وهابیت یوه داسی ناجوړی ده لکه دوینی سرطان چې په ټوله ټرۍ کښې علاج ممکن نه دی. بلکه زما غرض اومطلب دادی چې ساده لوح مسلمانان ددوی ددغو ګمراه کن درواغو څخه وساتم ۵ **وصیت** ۵ وهابیت یوه داسی ساری ناجوړی ده لکه جوړ سړی ددغه وهابیت دمریض سره ګذاره وکړی هغه هم په دغه ناوړه ناجوړی

ده لکه جوړ سړی ددغه وهابیت دمریض سره ګذاره وکړی هغه هم په دغه ناوړه ناجوړی اخته کیږی. ولی چې دوی ساده لوح خلګوته صرف اوصرف قَالَ اللهُ وَقَالَ الرَّسُولُ وائی نه تاویل منی اونه مذهب منی اونه طریقت اونه شریعت منی چې ددوی دفاسدو عقائدو څخه غیروی. اونه دهیڅ مفسر دقرآن تفسیر منی چې ددوی دا صولو څخه خلاف وی: برزبانت یا محمد پیداودردل یا صنم: ای بباطن کافر وظاهر مسلمانی چه سود: قَالَ

وَاِذَا فَرَغَ الرَّجُلُ مِنْ سُجُوْدِهِ فِی الرَّکْعَةِ الثَّانِیَةِ اِفْتَرَشَ

اوڅه وخت چې فارغه سی لمونځ کوونکی ددوو سجدو څخه ددو هم رکعت. ودی ناوړه وی

رِجْلَهُ الْیُسْرٰی وَجَلَسَ عَلَیْهَا وَنَصَبَ یُمْنَاهُ وَوَجَّهَ اَصَابِعَهُ

یعنی پری دی باسی چپه پښه اوپرهغی پښتی دی کښینی. اوجګه دی ودروی رسته پښه اوګوتی دی رسته

نَحْوَ الْقِبْلَةِ وَوَضَعَ یَدَیْهِ عَلٰی فَخِذَیْهِ وَبَسَطَ

پښتی دی وطرفته دقبلی کړی یعنی ګوتی دی کت کړی چې سرونه یې قبلته سی یعنی هغه ګوتی چې

اَصَابِعَهُمَا وَالْمِرْفَقَةُ تَتْوِرُكُ قبلی ته یې نخامخ والی آسانه وی. ولی دبعض خلګو کشف ګوته ډیره لنده وی چې سر یې وقبلی ته نخامخ کول ګران وی. اوکښینی دی بر دی لاسونه پر ورانو اوګوتی دی خلاصی ونسی. یعنی داسی ډول چې سرونه دګوتو یې نه ښکنوته ورسیږی. اوښځه دی په ناسته کښینی تورك کوی کما مر بیانه ۵ قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَقَرَءَ تَشَهُّدَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اوودی وائی التحیات د ابن مسعود خدای دی خُندی راضی سی. **پوه مسئله:** چې حضرت عمرؓ یو قسم تشهد وئیله، اوحضرت علیؓ بل قسم تشهد وئیله. اوعبد الله بن عباسؓ بل ډول

تشهده وَیله. اوحضرت عائشهؓ بل دَوَل تشهده وَیله اوجابر بن عبدالله رضی الله عنه جلا تشهده وَئیله اوعبدالله بن مسعود رضی الله عنه بیا بَل قسم تشهده ویله رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ اجمعین اومونږ حنیفیانو تشهده دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه تشهده مختاره کړیده،

پوښتنه: دا تشهد خود علیه الصلوٰة والسلام څخه زده کیده نو دا اختلاف ولې پکښې دی

جواب: هو لکن آنحضرت صلی الله علیه وسلم بعض اصحابؓ ته یو قسم اوبعض ته بل قسم وهکذا ښوولې دپاره دپراخې په دین کې، اوعین ممکنه ده چې په حفظ کښې د اصحابو کرامؓو دی فرق وي په هر صورت اختلاف صرف په اولویت کې دی ورنه روا ټوله دي. قَالَ المُصنفُ:

وَاَشَارَ بِالْمُسَبِّحَةِ یَرْفَعُهَا عِنْدَ النَّفْیِ وَیَضَعُهَا عِنْدَ الْاِثْبَاتِ

اوبیادی اشاره وکړي په مسبحه گوته سره پورته دی کړي په وخت کې د نفی یعنی لَا اِلٰهَ اوبیرته دی اینږدی په ښکته د اثبات یعنی اِلَّا اللهُ» لکه چې تفصیل یې د مخه تیر شو اوداپوره ټوله کول دگوتې په نیږد امام شافعیؒ اوامام مالکؒ اود امام احمد بن حنبلؒ او په نیږد ائمه ثلاثه زمونږ د حنیفیانو سنت دی. صرف په تابعینو کښې د مذهب حنیفی اوپه کتابونو کې فتاوا وو د مذهب حنفی هم اختلاف ستاه اوپه دی باره کښې علماء کرامو د حنیفیؒ مذهب مستقل رسالې جوړې کړې دی یعنی سنت والی یه ثابت کړی دی: قَالَ المُصنفُ:

وَلَا یَزِیدُ عَلَی التَّشَهُّدِ فِی الْقُعُودِ الْاَوَّلِ

اوزیاتوب دی نه کوی پر التحیات په اوله ناسته کی **مسئله**: کی په قدر د اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ اویا بالاترهغه زیاتوب وکړی سجده سهوه پرلازمه ده اوکی صرف اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَوَیل بیا ور پیاد سوه سجده سهوه هسته.

پوښتنه: چې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې ما ته وښوول رسول الله صلی الله علیه وسلم التحیات په دا سی حال کې چې زما ارغوی په مابین

کې د دوو ارغوو د علیه السلام ملکه چې ما چې به ئې ښوولې یو سورت د قرآن شریف څخه اووی وایل چې څروخت چې کښینی یوستاسی په لاخوا کې نو دی ووایئ: قَالَ المُصنفُ

اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّیِّبَاتُ

یعنی ټوله ښه عبادات قولیه خدای پاک لره دی اوصلوات جمع د صلوٰة ده مراد دلته حُمندی صرف لمونځ نه دی بلکه ټوله عبادات بدنیه دي او اود لته لام د استغراق دی، اوطیبات جمع د طیبةٌ ده طیب پاک ښکلی ته وائی لکن دلته مراد حُمندی ټوله عبادات مالیه دی لکه زکوٰة صدقه فطر وغیره یعنی ټوله عبادات مالیه خدای پاک لره دي.

پوه سه: چې التحیات جمع د تحیه ده چې په پښتو یه پیښې کښې دی، اومراد دلته حُمندی هغه بهترین الفاظ دی چې پر عظمت او کبریا اوجلال او جمال د خدای پاک دلالت کوی اوالف اولام دپاره د استغراق دي. **پوه سه**: د غه کلمات په الهام سره د رب جل وعلیٰ وَه آنحضرت صلی الله علیه وسلم په شپه د معراج وحضور ته د رب العزت پیش کړی اوخدای پاک په جواب کې ورته ووئیله» قَالَ

اَلسَّلَامُ عَلَیْكَ اَیُّهَا النَّبِیُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ

سلام دی وی د جانبه څخه د رب جل وعلا پر تا باندې ای نبی اورحمت د خدای ج او برکتونه د جانبه څخه د خدای یعنی پر تا باندی **پوه سه**: چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې مذکوره د ری کلمې وجناب ته د خدای پاک عرض کړی خدای پاک یه په جواب کې هم د ری شیان وَوَیله یعنی السلام عَلَیْكَ، دا کلام په مقابل کې د التحیات دی. ولې چې السلام عَلَیْكَ تحیة الاسلام ده الی یوم القیامة بلکه په جنت کې هم د خدای د خواښحه «کریمه: سَلَامٌ قَوْلًا مِّنْ رَّبٍّ رَّحِیْمٍ» اود هلکو د خواهم. سَلَامٌ عَلَیْكُمْ طِبْتُمْ فَادْخُلُوهَا خٰلِدِیْنَ» اورَحْمَة الله یه په مقابل کې وَالصَّلَوَاتُ» ووایه.

سوال: صلوات ترجمه خو په عبادات بدنیه سره وکړه سوه نو رحمت کله د صلوٰة معنا ووا

جواب: دعبادات بدنیه ووسره رحمت الهی لازهر دی» اوبرکا ئی یه په مقابل کی ده والطسات وویلو ولی برکت نما و اکثرت تهوائی چی مناسب دمال سره دی چی د طبیعت څخه مراد عبادات مالیوه» پس آنحضرت صلی الله علیه وسلم چونکه رحمت بعض دی اوده تهم خدای ج نوازش ورکړی په درو خبرو په مقابل کی د درو خبرو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم نواجود خلق الله واکرمهم صلی الله علیه وسلم» نوده مبارک مه دافیض او احسان الهی عام کړی ټولو وروښو ته خپل چی انبیاء علیهم السلام دی او ټوله صالحانو ته دمخلوق الهی چی ملائکه دی اوصالحین دمؤمنانو دانس اوجن دئ. نویه وقوئیل» قال»

اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ سلام دی وی پرمونږ اوپر هغو بندګانو خدای ج چی صالحان وی. دضمیر متکلم مع الغیر څخه یه مراد همان اوټوله انبیاء علیهم السلام دی اود عباد الله الصالحین هغه نور مذکور مخلوق مراد دی. نوځکه په صحیح حدیث کښی راغلی دی چی تاسی چی دغه کلمی یعنی السلام علینا آه ووایاست رسیږی دغه سلام وهر عبد صالح ته په اسمان اوکه ځمکه کښی وی **پوه سه**: چی دلته دوه لفظه ستر. یو عبودیت چی معنایه رضاده بما یفعل الربّ تبارك وتعالی» اوپه صفا توکښی د مخلوق اشرف تردغه وصف نشته اوبل عبادت دی» چی معنایه ما یرضی به الربّ لکه لمونځ روژه، وغیره، په دی دوو وصفو کی وصف دعبودیت اقوی او اشرف دی تر عبادت ولهذا عبودیت په اخره کښی هم باقی دی. اوعبادت ختم کیږی. یعنی علی سبیل التکلیف مطلب داچی جنتیان په اخرت کی نه په لمانځه مکلف دی اونه په روژه، وغیره، لکن عبادت الهی په جنت کی پرډول دتنفس په دنیا کی چی سړی هیڅ نه په ستړی کیږی همغسی عبادت الهی په جنت کی هم ستر. ولی بنده چی هرڅومره خدای ج پاك ته نږدی کیږی طاعت یه زیاتیږی.

پوه سه: چی عبد صالح وهغه بنده ته وائی په شرعه شریفه کښی چی پرځای ګډونکی د ټولو حقوقو د رب جل وعلا وی اوده ټولو حقوقو مخلوق وی. چونکه دامفهوم پیدا کیده په یو شخص معین کی پرګران دی یعنی تحقق یه لهذا علماء حضرات وائی چی ده یو شخص په باره کی یقین کول په صالح والی دده بیله شهادته ده شرعی شریفی روانه دی. البته داسی سړی ویلای سی» چی فلان شخص زما په خیال صالح سړی دی. خوفا من الشهادة» نوچونکه آنحضرت صلی الله علیه وسلم داحسان دلاری هغه کلمات وقوئیلی السلام علینا آه نواهل الملکوت الاعلی چی تر اوو آسمانو لوړی ملکی دی. اوجبرئیل علیه السلام په وحی اویا په الهام د رب جل وعلا داسی وقوئیله.

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

یعنی مونږ دزړه دکومی وایو چی الله جل سلطانه یو دی. اومونږ په پوره یقین سره داوایو چی محمد ص بنده دخدای ج اورسول دخدای دی» **پوه سه**: چی حافظ ابن حجر العسقلانی په شرح کښی د بخاری وائی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به په التحیات کښی دغه الفاظ اوکلمات مذکوره وقوئیلی: اوهغه چی بعض علماء وائی چی ده مبارك به داسی وقوئیله» وانی رسول الله» هیڅ اصل نه لری یعنی په لمانځه کی البته په غیر کی دتشهدی د مبارك داسی وقوئیلی دی.

پوښتنه: په تشهد کی ولی عبده تر رسوله دمخه راغلی دی **جواب** قاضی بیضاوی بلکه ټوله مفسران اومحدثین وائی چی ده نبی په اوصافو کی عبودیت تر رسالت افضل دی» ولهذا چی په عبودیت کی توجه دمخلوق څخه وخالق ته اوپه رسالت کی توجه دخالق څخه و مخلوق ته یعنی دپاره دتبلیغ داحکامو الهیه وو» **تنبیه**: چونکه حاسدان اوناپوه کسان پیدی نوداخبره بنه وفهموی چی زه داسی نه وایم چی دعموم خلګو عبودیت دنبی تر رسالت بهتر دی

بلکه داسې وایم چې دښې په اوسپا فوکې د اوصف ترټولو بهتر وصف دی، قال

وَقَرَءَ فِيمَا بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ الْفَاتِحَةَ اووائي دې په وروسته دهغود وو رکعتو اولو یعنی دفرضې لمونځو صرف سورۀ فاتحه (الحمدُ لِلّٰهِ) یعنی بیله ضمه دسورۀ، اوهمدارنګه کریو رکعت وې لکه دماښام لمونځ نوپه هغه کې بهم صرف الحمدلله شریفه بیله سورته: **مسئله**: کدسورت ورضم کړي هم سجده سهوه نه ده ولې هغه هم دسورۀ جنس دالحمد لله یعنی قراءة القرآن دی، کذا فی کتب الفتاوی، قال

ثُمَّ جَلَسَ وَقَرَءَ التَّشَهُّدَ ثُمَّ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوبیادې کښینی یعنی پرهغه څلورمه طریقه چې چپه پښه دې پرې باسې او راسته پښه دې جګه ودره وې. اوبیادِ التحیات وَوائې پرهغه دوَول چې دااو سن تیره سوه. اوبیا دې درود وَوائې پس آنحضرت صلی الله علیه وسلم یعنی اللهم صَلِّ علی محمد ترپایه پورې. قال المُصنفُ:

ثُمَّ دَعَا بِمَا يُشْبِهُ الْقُرْآنَ وَالسُّنَّةَ اوبیادې دعا وکړي په داسې الفاظوچې مشابه دقرآن اودسنت نبوي دالفاظوسره وې یعنی عربي الفاظ به وې یا عین ماثوره دعا ګانې وې اویا هغوته ورته: **فائده**: چونکه عوام دمشابه القرآن والسنة وغیرالمشابه فرق نه سې کولای. نوځکه په لمانځه کې دعاد اللّٰهُمَّ رَبَّنَا تر پایه تاکل سوی دی، چې ماثوره دعاده. اوهم مختصره ده اوعین اختصار کې جامع دخیرالدنیا والاخرت ده، قال

ثُمَّ سَلَّمَ يَمِينًا وَيَسَارًا فَيَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ اوبیادې سلام وګرځوي پرښې استه طرف یعنی **نَاوِيًا مَنْ مَعَهُ كَمَا تَقَدَّمَ** اول وان اوپرچپه طرف یعنی په پای کې اوداسې

دی ووائي السَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ او نیت بې وې دهغه چاچې دده سره وې یعنی امام، اوقوم، اوحفظه لکه چې دمخه تیره سوه:

افسوس ناکه واقعه دعقل څخه لیرې حکایت:

پوه سئله: چې چونکه دشریعت پاک ټوله کتابونه عربي وه اوصرف په هغوئ ټوله ملایان هم نه پوهیده بلکه دملایانو برجسته ملایان دقرآن څخه، انبولې او بیا احادیث نبویه ۶ اود فقه حنیفی متون اوشروح اوفتاوی، اوکتابونه په ټوله پوهیدله، اوعوام الناس خوبیخی ځندی بې برخی وه. دعوام وتکیه صرف اوصرف دملایانو پرقوله اوښو وینوه،

اوهرچاته دا معلومه ده چې چیرې په خپله دکتاب وینا. اوپه پوهیدل، اوچیرې د بل دخولې اوریدل، نوبعض علماوودعوام ودغه مشکل په نظر درلودلو سره دشریعت پاک دعقائدوبعض کتابونه، اودفقهی حنیفی بعض کتابونه دشریعت پاک دعقائدوبعض کتابونه، اودفقهی شریفی لکه څلور هدایه ګانې، همدا په پښتو مفصل ترجمه کړي. دقوم ومورنۍ ژبې ته راوړل اوتفصیلی بیان دهغویه وکړي اوچې هاف تی وسپارل. اولوی سبب داستفاده دعوامو چې صرف خط بې زده وو وګرځیدل، چنانچې په دې باره کې دپاکستان دیرو وجیدو علماوو لویه برخه اخستی ده. اود شریعت پاک دپیر کتابونه یه دعربي څخه اردوته، چې ددوی مروجه ژبه ده راانقل کړه. حتی چې تفسیر دقرآن پاک یې هم پخپله مادرۍ ژبه اردو سره ترجمه کړې.

اود پیښور نیک نیته، اوقوم پرسته، اوښو برجسته علماء هم دشریعت پاک د عقائدو، کتابونه، اود فقه شریفې کتابونه یه وپښتو ته راانقل کړه بلکه غټ غټ کتابونه دفقهی شریفې لکه څلور هدایه ګانې، همدا په پښتو مفصل ترجمه کړې. اوپه کابل کې دقرآن کریم تفسیر په دوومره وجوړیږو یعنی دری اوپښتو تفسیر

سوه، اوسبب دلوی استفاده دهغو عوامو وگرځیدی چی صرف خط اوکتابت
یه نړه وی چنانچه داتفسیر په عربستان کی دشاه فهد په وقفی کتابو کښی چاپ
سوا و حسبةً لله پښتنو اوفارسی ژبانو مسلمانانو ته هدیه وسو. لکن چونکه
پښتو ژبو اوده غه داطراف ودپښتنو ژبی اوزمونږ دقندهار د پښتنو ژبی په بعض
بلکه په ډیرو الفاظو کښی په تلفظ اوکتابت کی فرق وو، چنانچه داخبره واضحه وه
نو دروپش عاصی ته هم دقندهار، هلمند، ترین کوټ، فراه وغیره ځایونو چی پښتو
ژبه سره یو ډول ده، د ضرورت علمی دپوهه کولو سودا اوفکر پیدا سو، چنانچه
دروپش داخو کتابونه پښتو ژبی ته راانتقل کړه. په عقائدو کښی نورظلم
اوابوالمنتهی، اوپه فقه حنیفی کی، شروط الصلوٰة، اوقدوری، اونور الایضاح
چی یوجلد اوس چهاپ سوی دی او دوهم جلد یه داکتاب چی ستاسو په لاسو
کی دی، اودریم جلد یه ترکتابت لاندی دی چی هغه به هم ان شاء الله العزیز ژر چاپ
سی. اودانهاعاصی کتابونه په هر ملک کی چی دافغانستان پښتانه مهاجرموجود
دی دکتاب فروشانو په ذریعه ورسیدله، حتی چی وماته یو وحت دقدوری
چهاپ ونکه، اولیکونکی قاری مجوّد خطاط اعظم مولوی فضل الحق صائب وویل
چی ماتاوسه پوری د قدوری یو ولس زره نسخی خرڅی کړی دی. وهکذا الکتب
الاخر المذکورة.

اوعربستان سعودی ته هم ډیری نسخی دهرکتاب تللی دی، ولی چی هلته پښتانه پرديس
مین مسلمانان ډیر دی، اودی کتابونو تصنیف په باره کی ماته ډیر کم ځواب راغلی
دی چی دتولو حاصل دادی، «لَقَدْ اَحْسَنْتَ» په تحقیق سره تاډیرښه کارو کړی. مگر
افسوس چی دقندهار د بعض حاسدانو دخوا په دی اوسو وژڅو کی په غیاب کی
قولی داسی یو پیغام چاراوراوه، «چی دانقل دعربی کتابو و پښتو ته ډیر بد کار دی،
چی دهغه نومونه نه اخلم دقندهار دی. اوهغه په ډیره بی شرمی سره دعقل لیری داخبره
کړیده چی دهغه کسان چی عربی کتابونه و پښتو ته راانتقل کوی دادامریکا روزل سوی

ملایان دی چی په خلګو کی بی دینی پیدا کوی. اوخلګ وامریکا یانوته دعوت کوی اوورته
مژدی دشرحه ډکی خبری یه هم کړی دی:

نوده غه جناب ته زه وایم چی لوی نقل کوونکی دعربی کتابو و پښتو ته دقندهار په
علاقه کښی نه یم. نوتاسو کتابونه مطالعه کړی دی. اوکه هسی دی ستړګی بتی
اودحسد خوله دی واز کړی ده. اوداخبری کوی. که دی مطالعه کړی وی نوته د نور
الایضاح دپای وَرَقی وګوره چی څوك دامریکا طرفداره دی اوزما کلی او تنقید و نه
پرامریکا اوبین الملل اوروسانو بانديي. بیا مطالعه کړه. اوبلاغ المبین هم مطالعه
کړه. اود امارت اسلامی افغانستان تائید اوتوثیق چی ماکړی دَدَغه نه برمحصله
تاکړی دی اوکه څرنګه!

بلکه حق خبره خو داده: چی زه غواړم چی دعوامونږ او نبځی ځوانان، اونبځی،
سپین ږیری، داسلام په عقائدو خبر کړم، اوپه احکامو د فقهی حنیفی په اګاه کړم
اودزړو پر تختو باندی بیله عقائد اسلامیه وو اوبیله فقهی حنیفی. نوکړهای
پری نږدم چی په هغه کی نصرانیت اویا یهودیت یا وهابیت ځای پیدا کړی. اوهر مُسلمان
په ذریعه دَدَغو پښتو دینی کتابونو ما - د تخریب کاری دامریکا یا نوانګلیسانو وهابیانو
خلاص سی. اودخپل امارت اسلامی په افغانستان کی مادی اومعنوی لسانی اوقلبی
ملاتړ وکړی. اودَپاره دحفاظت، دامارت اسلامی هرنوعه فداکاری تهنیار اوسی. البته
ته چی ددی کتابونو څخه بدوړی ستامرام به دَاوی. چی دافغانستان عوام دی ددینه
څخه ساده لوحه وی تاچه نقوش دامریکا یانوانګلیسانو، وهابیانو، په هغوساده
ددینه ناخبره زړو کښی نقش سی. اوپه ځای دمحبت دامارت اسلامی افغانستان یه
محبت دطرف اوعمل دامریکا یانوانګلیسانو، وهابیانو، په زړو کی پیدا سی،
اویا به ستانیت په دې بی ثمره خبرو کی داوی چی د تحریك اسلامی طلباء افغانستان
اودهغود مخلصانو په مابین کی شقاق او شګاف پیدا کړی. نوپه دی نیت کی به
همد خدای جل سلطانه په فضل سره نه سی کامیابه، ولی دتحریك اصلی غړی عُلماء

اوطالبان پیر دوی اند لیش خلك دی. ستا په خوله نه خطا وزی. اونه زه دومره بیعقل یم چی تا غوندی ناپوه سړی دی ما تحریك بدخواه وگرځوی. که ځای داغه قدر بیان نه بس دی خو اینده، د پاره داسی پرو پاگند مه کوه. اوکه بیا زه خبر سوم چی ته خپلو ناوړه خبرو نه دوام ورکوې، نود نور الایضاح دپښتو ترجمی په درییم جلد کی به إن شاء الله تاسو ستاد نامه، دقومیت، داوسید و دځایه څخه پرده پورته کړمه. اوپه ټوله خلګو به دی وپیژنمه، اوس داغه دستر په وینا کی پاته شئ.

مکتوب:، جناب مولوی عبید الله صاحب په اوسنی زمانه کی مختلفی ډلی وعالم ظهور ته راوتلی دی، مثلاً، وهابیان، سلفیان، پنج پیریان، اهل حدیث، تبلیغیان موحدان، نوز ما پوښتنه داده چی په دغو ډلو کی ستاپه عقیده کومه ډله بنه ده چی سړی یه متابعت وکړې، ولی هغه ښځوانی ډلی چرپه ښځوا زمانه کی مشهوره وی لکه شیعه ګان، معتزله، کرامیه وغیره. هغه مونږ پیژندی چی اهل السنة والجماعت وهم الله ډلی څخه ندی. نومود هغو څخه پرهیز کاوه اوس څه وکړو! په امید د جواب الممنان بخښ ستا دعاګوی آغا ګل دمقتدر کړی:

ګرانه ورورہ! زه بروتاته یو قانون کلی بیان کړم، چی په هغه کښی ته غور وکړې تاته به ښځپل ښه ډله معلومه سی. نو **پوه سه**: چی د دریوڅیز په عقیده هغه ډله بنه ده. چی پر یو مذهب ډخلور و مذهبو. یعنی حنیفیانؒ. شافعیانؒ. مالکیانؒ حنبلیانؒ. ولاړ وی. چی دا خلور ډلی د خیر القرون څخه راشروع سوی دی.

او زمانی ته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین نزدی وی او د قرآن کریم دایا تو اوده احادیث نبویه وو په تفسیر او معنی ښه خبر دی او برجسته مجتهدان یه مقتدایان دی. **پوه سه**: چی زما مقصد دا ندی چی ته په مذهب چی کیږی ستا خو بنه ده. بلکه زما مقصد دا دی چی پر هر مذهب چی ته ئی د هغه مذهب د قدماء او متاخرینو د کتابو څخه خپل معلومات حاصل وه. او د قرآن کریم او احادیث نبویه و و هغی معناوی کوه لکه چی ستاد مذهب مقتدایانو ته ښودلی دی.

دنوی اجتهاد امید مه کوه. اوداهم زما مقصد نه دی چی ته به په یوه مسئله کی د حنیفی مذهب متابعت کوی اوپه بله مسئله کی به د شافعیؒ مذهب متابعت کوی چی دې ته په اصطلاح کی تلفیق المذاهب وائی. اوهغه جائز نه دی. اوداسی به هم نه کوی چی مذهبونه د خیر القرون به پس پشت گرځوې. اود مبارک قرآن د آیاتو ترجمه به په خپله رایه اوفکر سره کوې. اویا د احادیث نبویه و و معناد خپل فکر سره برابره بیانوی. کوم هم ته پخپله زمانه کی بیخی لوی عالم یې. اوخلګ دی لوی عالم بولی. لکن احتیاط دیر لازم دی.

پرخپل علمیت اعتماد کول روا ندی. بلکه تتبع په حقه سره د خپل مذهب د کتابو او تلاش د اقوالو د مجتهدینو دیره ضروری ده. مثلاً چی د رویش حنیفی دی خپل د اخافو د مذهب متون کتابونه، اوشروحی، دهغو اود فتاواو د کتابونه به مطالعه کوی. البته که د مذهب په بعض کلا بوکښی اختلاف وی بیا به نور د کتابو ته د مذهب جوع کوی. دا وو ستاسی دسوال جواب خدای دی وکړی چی د مقصد ته ورسیږی:

مکتوب (۲)، جناب محترم مولوی عبید الله صاحب ایوبی، مونږ بعض علماء وینو چی ستاسره ځلک دیر حسد کوی، او غیبت خوځه کوی بهتانونه هم درباندی وائی دا دی سبب څه دی! محمد عبد الحکیم قندهاریه

ګرانه ورورہ: اول خو باید تاد اسوال د دوی څخه کړی وای. ولی چی امکان لری چی خپل عیب خود اوږو مابین دی. څوك یه په خپله نه وینی. نوشاید دوی به زما هغه عیبونه چی زه یې نه وینم در ته بیان کړی وای. او بیا به دی ماته د هغو عیبو د بیان د لومکتوب راستولای وای چی ما د هغو عیبو څخه ازاله کړی وای لکن چونکه تاد ما څخه سوال وکړی. نوزه در ته وایم چی اول خو حسد، غیبت، بهتان، کبیره ګنهونه دی لکه چی د دی بیان ما په تفصیل سره په بلاغ المبین کی کړی دی. بهر صورت د غه حاسدان به په تقسیم الهی ندوی راضی یعنی عاصی ته خدای پاك توله نعمتونه کړی ما د شان سره وړوی ما عاصی ته یه راکړی دی. نوامکان لری چی د دوی

د حسد وغیره سبب به همدغه وي.

گرانه ورونه! حسد نوی مرض نه دی بلکه دامراض قدیمه ووخته دی په بعض علماوو کښې د پخواخه موجود وُو. ته که په عربي پوهیږی نود درمختار خطبه مطالعه کړه چې څومره یې د حاسدانو څخه په نظم اونثر کې ژړلی دی. چې دهغه یو بیت ېزه درته ترجمه کړم اویوهم نثر به درته ترجمه کړم ؎

هُنَیْ یَحْسُدُونَنِي وَشَرُّ النَّاسِ کُلِّهِمْ ؛ مَنْ عَاشَ فِي النَّاسِ یَوْمًا غَیْرَ مَحْسُودٍ ؛

یعنی دوی حاسدان دَما سره حسد کوی. اوبَد د خلگو پټولو هغه څوك دی چې یوورځ په خلگو کې داسې تیره کړې چې د چا ورسره حسد نه وي. ولې چې حسد پر کمال وغیره باندې کیږی څوك چې حاسد نه لري هغه کمال وغیره نه لري نوځکه بَد دي.

اَلْحَسَدُ حَسْبُكَ مِنْ تَعَلُّقٍ بِهِ هَلَكَ»

حسد یو څوزدی چې په چاپوری ومښتی یعنی د حَسَد لاړ یې خپله کړه هغه یعنی حاسد دهلاك سره مخامخ کیږی. اودا هم واوره چې د چا حَسَد غیبت، بُهتان، مَاته تاوان هم نه لري. ولې د خدای ﷻ نعمت نه مَاخځ خدای پاك اختیار ی سې، د حاسد په حسد نه اختلل کیږی، اود غیبت او بهتان په بَاره کې حکایت د حَسَن البصریؒ په درته ذکر کړم.

وائي چې یومُلا د حسن البصریؒ غیبت، یا بهتان، دبَل سړي په مَخ کښې کړی وُو هغه سړي هغه غیبت وحسن البصریؒ ته راورساوه. حَسَن البصریؒ په دې احترام هغه ملا ته خط نوشته کړی اویومقدار بنې خرما وي یې هم خط او داخرما وی یې په دخپل شاگرد پلاس ورکړی. او پس له سلامه یې دستی ورته نوشته کړه. چې ستا د پرتشکر چې تا خپلی حَسَناتی حسن ته راواستولې اوحسن په عوض د هغوخه بن مقدار تمیرات درواستولې. کی قبولی کړی. سَتا به دیره مهربانی وي.

گرانه ورونه! زه پخپله د هیڅ عالِم سره بغض او حَسَد نه لرم یعنی پر نعمتود خدائ چې وه هغه عالِم تی ورکړی وی» بلکه سره تواضع می وتپولو علماوو

کښته دی. البته اعتراضات علمیه ووته حسد نه وائي ولې چې مبنی پر تحقیق علمی دَی

پُوه سَه: چې درویش وخپلو شاگردانو، مخلصانو، دوستانو ته داوصیت کړی دی چې که زما یوچا غیبت کاوه که دی دفع هوری کولای سَوای خووی کړه اوکه دی نه سوای کولای زما ترغوږو بې نه رارسوی. ولې چې زما ژړه ناحقه دگروهمه راپکوه» داووستا جواب» وَلْنَرْجِعْ اِلَی شَرْحِ الْکِتَابِ:

بَابُ الْاِمَامَةِ

باب دی په بیان د امامت کښې:

پُوه سَه: چې مراد د امامت څخه امامت صُغرٰی دی چې امامت د لمانځه دی نه امامت کبرٰی چې خِلافت اوامارت د مُسلمانانو دی، ولی دَهغه بیان خَای علم کلام دی

قَالَ الْمُصَنِّفُ: **وَهِيَ أَفْضَلُ مِنَ الْأَذَانِ** اوامامت افضل دی تر اذان کولو کړنه هم دَمخه تیره سوه چې دمؤذنانو غاړې به جگې وی تر غږو خلگو په وَرځ کی د قیامت دلیل دافضلیت د امامت دادی چې رسول کریم صَلی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اوخلفاء راشدینو رضی الله تعالیٰ عَنْهُم همیشه تو ب کړی دی پر امامت نه پر آذان **پوه سه** چې په مراقی الفلاح کی وائي: چې افضل داده چې امام دی مؤذن هم وي. اوز یا ته کړی یه ده چې دا زمونږ مذهب دَی وَکَانَ عَلَیْهِ اَبُو حَنِیفَة رحمه الله، لکن پردی افضل کار په تپولو احنافو کی عمل نه دی سَوی. مگر نا درو خت په بعض مسجدو کښې وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

قَالَ الْمُصَنِّفُ: **وَالصَّلٰوةُ بِالْجَمَاعَةِ سُنَّةٌ** اولمونځ په جماعت سُنت دی» مراقی په شرح کی وائي فی الاصح لکن سنت دی مؤکد مشابه دی واجب سره په قوت کی آه لکن سُنت والی یې په مَاسوا کی د جمعی

د لمانځه اود اختر و د لمونځو. ولې چې په هغوکی شرط دجواز دی

پوښتنه: چې په بدائع کی ووائی چې عام مشائخ داحنافو پردې دی چې جماعت واجب دی. اوپه تحفه کی هم ورته قول ذکر دی. اوپه جامع الفقه کښی وائی چې قوی دا قوال وجوب دجماعت دی. اوامام کرخی وائی چې جماعت فرض کفائی دی. اود فقیه ابوجعفر الطحاوی اود بعض نورو احنافو هم دا مذهب دی. اوامام احمد بن حنبل وائی چې جماعت فرض عین دی. لکن دده مذهب دادی چې لمونځ جلا فرض عین دی اوجماعت جلا. نولمونځ منفرد اخو صحیح بولې. لکن ترک دجماعت بی لرعذره گناه کبیره بولې.

پوښتنه: چې امام طحطاوی وائی چې جماعت په شرع کی یوامام غواړی اویو بل څوک کړوی اوکه بنځه. څروی کړ مړیی اوکه کچنی هلک وی چې عاقل وی اوکه ملک وی اوکه پیرمی وی. په مسجد کی وی اویا یه په صحرا کی اویا په کور کی آه

پوښتنه: چې په حدیث مبارک کی داسی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وائی. چې دجماعت لمونځ بالادی تر یواځی دیوه ستاسی پنځه ویشت[۲۵] درجی اوپه بل روایت کی په اووه ویشت[۲۷] درجې نو دی حدیث دوجهی جماعت دی څوک نه پریږدی بیله عذره

مسئله: کدیو بنار والا یا یوی غټی قریه په اتفاق سره جماعت نه کاوه بیله عذره اول دی حکومت اسلامی دوی امر کړی په کولو دجماعت کی قبول کړی خوخبره خلاصه سوه. اوکی نه قبلاوه جنگ دی ورسره وکړی. ولې چې جماعت دشعائرو څخه داسلام دی. اودا خو اصو څخه دین دی. م، وفی القنیة» چې اصح خبره داده چې دجماعت کولو په کور کی اوپه مسجد کی دواړه روادې لکن په مسجد کی افضل دی.

فائده: دجماعت لمونځ په سنت والی کی تر سنة الفجر چې اقوی دسنتونو څخه دی هم تهنگ سنت دی. اوجماعت سنت عین دی په فرضی لمونځو کی مگر په تراویحو کی سنت کفائی دی. اوپه وتر و کښی دروژی مستحب دی. اوپه نفلی لمونځ کښی چې په بلنه خلک نه راغواړې جماعت روادی. اوکه په بلنه وو مکروه دی.

تفریع: نوهغه چې بعض ناپوه پیران خپل مریدان په بلنه راغواړی چې نن فلانی شپه ده تاسی راسی چې صلوة التسبیح یا نوری نفل په جماعت سره وکړو دشریعت خلاف او مکروه کار دی. اوشمس الائمة الحلوانی وائی که تردرو کسانو پورې په یوه متنفل پسی اقتداء خلک وکړی تداعی نه ده اوکه څلور یا بالاوه تداعی ده. او په کسوف کی دلمر جماعت په نفلو کی مستحب دی» در مختار» اوپه خسوف کی دسپوږمۍ مکروه دی» بحر رائق.

مسئله: په نهر اودر، کی وائی که څوک یو واړه بیله عذره دجماعت لمونځ پریږدی نوپه نیزد عراق دفقها و وچې جماعت واجب بولې. داسې گناه گار، یعنی کبیره گناه ده. اوڅوک چې دجماعت لمونځ سنت بولې. وائی په یوه لمانځه کی جماعته گناه گار نه دی بلکه چې عادت یه ترک الجماعت وی نو مرتکب دکبیری گناه دی. ط» اویو قول ضعیف چې په شرح کی دوهبانیه دجوامع الفقه څخه نقل کړې دی دادی چې جماعت مستحب دی

مسئله: جمهور دفقهاوو وائی چې ثواب دجماعت په اشتراک دامام سره په جزء کی کرخه هم اخیره ناسته وی حاصل یږی»

مسئله: فقهاء په دې مسئله کی اختلاف لری چې دخپل محل دجماعت لمونځ افضل دی. اوکه جماعت دمسجد جامع. اوکه دواړه مسجده جامع گاڼې وې. نو هغه قدیم مسجد افضل دی. اوکه په یوه مسجد کی دجماعت خلک بیخی کم وو نو یوعالم ته دا مستحب ده چې جماعت ته دی هغه مسجد ورځی تاچې خلک یه دیږ سی

فضیلة الجماعة

ورد فی الحدیث الصحیح انه اذا توضأ ای الرجل آه ترجمه څوخت چې اودس تازه کړی سړی یعنی په کور کښی یا په بل ځای کښی خارج المسجد اوښه اودس تازه کړی. یعنی مراعات دفرائضو اود اسنه اود سنتو اود مستحباتو وکړی. اوبیا ووزی دمسجد پرخوا. اودی نه وی ایستلی مگر لمانځه یعنی دجماعت دپاره خاصةً یعنی بل مطلب دده نه وې. نودی نه پورته کوی یو گام مگر په داسی دول چې دده پورته کیږی په سبب دگام اخستلو یوه درجه

اورځول کیږی دده یوه ګناه۔ یعنی دهر ګامه سره۔ اوچی لمونځ اداءکړی یعنی په جماعت هیلثه مثلکی دعا وکړته کوی ترهغوچې دلمانځه پرځای ناست وی هغه دعاء داسی وایی۔ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ:

او همیشه داسړی په لمانځه کی دی یعنی ثواب د لمانځه ورکول کیږی ترهغوچې دی د لمانځه انتظار باسی. یعنی دجماعت تروخت د مخه راغلی وی مګر یواځی لمونځ نه کوی بلکه دجماعت انتظار کوی. په بل حدیث کښی راغلی دی. کرچا دماخستن اود سحار لمونځ په جماعت سره وکړی دوښه ثوابونه لری لکه ده چی ټوله شپه نفل کړی وی او په بل صحیح حدیث کښی راغلی دی چی دیوسړی لمونځ دیوه سړی سره یعنی په جماعت ښه دی تریوازی لمانځه. اود دوو کسانو سره بیا ښه دی تریوه سړی. اوهرخومره دجماعت خلک زیاتیږی هغه لمونځ خوښ دی خدای پاک ته او په مضمرات کی داسی راغلی دی چې په تورات شریف کی دامتیانود آنحضرت صلی الله علیه وسلم اودوی دجماعت په باره کښی چې ددوی دجماعت په صف کی دیو نفر په زیاتیدو سره دیوه لمانځه ثواب زیاتیږی مطلب دا که په جماعت کی زیر کسه وه. هرډول دزیرو لمونځو ثواب ورکول کیږی،،

پنځوسمه: چی حکمت الهی دجماعت دمحلی په مسجد کی نظام دالفت دی په مابین کی دمحلی والاوو. اویوډول په جوړولو ناجوړه پرکور والی اومسافر والی باندې علم راوستل دی. اوزده کړه دیوعالم دین څخه چې په مسجد کی تبلیغ اوتعلیم کوی. اود جمعی دورځی دجماعت حکمت الهی دادی چې دمختلفو ناحیه وو اومحلو مسلمانان سره وویني. اویوډول سره محبت او الفت په پیدا ښی. داد دی کبله چې په مخنی وخت کی به په ښار کی یوځو محدودی جامع ګانی وی اوټولو د ناحیه وو خلک او مسلمانان هلته په هغوجامع مسجدو کی سره جمع کیدل. اوس چونکه پر پنځه ګامه مثلا جامع مسجدی داهم دملایانو د جاه پرستۍ دسببه څخه پیښه ده. اوعیش طلبی دپاره چې دوی نه غواړی چې دجمعی لمانځه بل ځای ځان زهیر کړی اویا په بل

ملا پسی اقتداء وکړی. نوفوق الذکر حکمت دمابین څخه ولاړدی. اود عیدګاه دجماعت حکمت الهی دادی چې دټوله ښار مسلمانان پر یوه ځای راجمع ښی اویوډ بل سره ملاقات اومحبت وکړی. داحکمت اوس ختم دی دکوټې په ښارکی. ولی هر ملا صاحب خپل جامع مسجد عیدګاه هم ګرځولې ده برخلاف دافغانستان، ولی چې په افغانستان کی د پنځو څخه په هر ښار کی یوه عمومی عیدګاه ښه وه. اوداهم اوس په افغانستان کی په برکت د امارت اسلامی طالبان دا عمومی عیدګاهانې دیری په ښه توګه، اودیری فراخی چې دګرده ښار د خلګو ګنجائش لری جوړی سوی دی. تردې سره دکندهار لویه عیدګاه وو ویني وهکذا په نورو ښارو کی. دتعجب خبره خودا ده چې په کوټه کښی هم دری عیدګاهی عمومی عیدګاهی د پنځو څخه ستنه اوس هم. لکن مُلایانو صاحبانو ته دزړه وړکوی چې هغه لیرې ځایونه ځې. اوبله خبره دا ده چې طبعًا دملا صاحب داخوښه ده چې زه دپ پس منبر ولاړ یم. یارشتیا یا نور څه داوایم اوخلګ دپ راته ناست وی. غوږ دی نیولی وی. حتی چې بعضی جاه طلب مُلایان دی دجمعی یاعیدګاه دپاره په داسی مواعظو په سی تلاش کوی چې خلګ ورته ژاړی ګرځه هم صرف درواغ وی.

مسئله: کرداختر په ورځ عذرو وکه دپر باران یاسخت یخ چې خلګ وعیدګاه ته دپاره د لمانځه صحراته نسوای وتلای بیاد عیدګاه لمونځ په بعض غټو جامع ګانو کی وکړی. لکن دا اوس په کوټه کښی بیله هیڅ عذره په لویو اوکوشنیو جامع مسجدانو کی دعیدګاه لمونځ کیږی. شاید عذر بی جاه طلبی وی. داوود جمعی د لمانځه اجتماع دپاره حکمت الهی.

اوپه اجتماع الحج کی حکمت الهی پرثوابو برسیره دادی. چې دټولې نړۍ څخه دامت مسلمه وفدونه، اوهیئتونه په مبارکه مکه کی دعربستان خصوصًا په حرمینو شریفینو کی سره ووینی په مختلفو رنګونو، په مختلفو ژبو وغیره، اود خدای جل سُلطانه شکر وګوانې چې امت مسلمه دومره پیر دی سره دی چې ټوله کافرانو دی امت

مرحومه په قلع قمع کې دې، چې په سر کې دهغو کافرانو، امریکا، لندن، اوروس دی اونه

دا عجبه هم واوره: چې قبل بعثة النبي صلى الله عليه وسلم ابرهه په نامه یا چا په یمن کې د مقابلې دپاره کعبه یمانیه جوړه کړې وه چې دحاجیانو مخ د بیت الله څخه وډې کعبه ته راواړوي. نو په هغه وخت کې که څوک اهل مکه ټوله مشرکان وه. لکن د بیت الله څخه وډې کعبه ته راواړوي. لکن د بیت الله شریف خو خپل عزت او عظمت په دربار کې د خدای جل شانه موجود وو. نو ځکه هغه کعبه یمانیه خدای جل سلطانه دمابین څخه ورکه کړه چې د سورة ألم تر کیف آه کې داقصه په تفاسیرو کې او په تواریخو اسلامیه کې په تفصیل سره مذکوره ده.

اما اوس اوس د بلوچستان په بعض اطرافو کې هم بعض بې دینو خلګو د کعبه الهی په مقابل کې کعبه جوړه کړیده. چې خلګ حج ته ورښولې او بعض بې دینه خلګ دغې مصنوعي کعبې ته هم ورځي. اللهم انزل على هؤلاء الذين يقابلون كعبتك بلاءً شديداً وبلاءً اليماً وفتنةً قبيحةً حتى تفضي الى خراب تلك الكعبة ايضاً كما خربت الكعبة اليمانية ولله الامر من قبل ومن بعد وبذالك يفرح المؤمنون. هذا من الجمل المعترضة ولنرجع الى شرح الكتاب بعون الملك الوهاب. قال المصنف رح:

لِلرِّجَالِ الْأَحْرَارِ بِلَا عُذْرٍ وَشُرُوطُ صِحَّةِ الْإِمَامَةِ

او د اجماعت سنت دی نړولې چې ازادو سړي بیله عذره شرعي. او شرطونه د صحیح والي د جماعت ده نړو چې په بدن جوړ وي شپږ

لِلرِّجَالِ الْأَصِحَّاءِ سِتَّةُ أَشْيَاءَ شیان دي. **پوه سه** چې للرجال تعلق تر سنته پورې لري. **پوه سه**: چې د عذر شرعي بیان به مصنف رح وروسته وکړي ان شاء الله. د نړوالي په قید سره ښځې ووتلې. ولې د خالیصو ښځو د پاره دا ټوله وروسته شروط شروط نه دي. بلکه ذکورت شرط نه دی. نو امامت د ښځې

ښځې لره روا دی سره د کراهته، اوه اصحاو څخه مراد دا دی چې معذوره نه وي ټکه سلسل البول انفلات الریح وغیره، نو دغه عذر والا و امامت یو بل ته روا دی

قَالَ الْإِسْلَامُ یوشرط اسلام دی. لکن دا هې اسلام کافی نه دی چې دی ځان سلمان بولي بلکه چې اسلام د ده قرآن مبارک څخه خلاف نه وي. اوه احادیث مشهوره وو څخه هم خلاف نه وي. نو ځکه په مراقی الفلاح کې وایي چې په هغه چا پسې لمونځ نه دی روا چې منکر وي د بعث بعد الموت څخه. او یا منکر وي د خلافت څخه د ابوبکر الصدیق رضي الله تعالى عنه. او یا د صحبت څخه د خلافت دهغه. او یا پوچ وائي و شیخینو ابوبکر الصدیق رض او حضرت عمر رض ټکه شیعه ګان، او یا د شفاعت نبوي صلى الله عليه وسلم څخه، او یا د معراج څخه د علیه الصلوة والسلام تر مسجد اقصى پورې.

ولې چې دا اسراء په ایت شریفه سره ثابته ده. اوه روسته تر هغه په احادیثو مشهورو وو سره ثابت ده چې منکر یه ضال او مبتدع دی او یا د رؤیته څخه د خدائ او یا د عذاب القبر څخه منکر وي ټکه معتزله، او یا منکر وي د کرام کاتبینو څخه **سنوونه**: که یو سړي خلګو ته خو زمانه امامت ورکړي او بیا یه فوق ګیله چې زه کافر وم، او یا یه فوق ګیله چې ما په قصد تا سې ته بې اوده سره لمونځ درکاوه. یا هغو خلګو ته اګر حصول د لمونځ ګوته ولې چې دی فاسق دی اوه فاسق خبره د دین په چا رو کې نه قبلیږي اوه ده فسق دده په اقرار سره ثابت شو، بخلاف د هغه چا چې امامت یه ورکړي اوبیا وروسته فساد د لمانځه ورته معلوم سو یا یه کالي مردار وه او یا یه اوه س نه درلودی. نو که دی خلګوته دغه اقرار وکړي یا هغود لمانځه ږ اګر حصول لازم دی. ولې چې ده پاک والي څخه د کالو یاد اوه د اسه څخه ګاهې سړي غافل وي. **قَالَ**

وَالْبُلُوغُ

اوبلوغ شرط دی. ولې چې د کوچنی لمونځ نفل دی اوپرده په شروع هم نه لازمیږي. نو اقتداء د بالغانو په هغه پسې نه ده روا. او بعض مشائخ د بلخ وائي چې امامت د نابالغه په تراویحو او په نفلو کښې روا دی لکن مختار او مفتی به داده چې نه دی روا بلکه علامه مسکین رح وائي چې د حنفیانو

په نیز په اتفاق په کشنی پسی لمونځ نه دی روا قال **والعقل** اوبل شرط عقل
دی ولی چې همیشه لیونی پسی لمونځ نه دی روا. اوکه کاهی به پرسدکیدی اوکاهی به
لیونی وو نو پر سدوالی په وخت کی لمونځ پسی روادی اوکی عقل په سبب د شریب
مکر لکه شراب، دلا سرورکړي وو په هغه پسی هم لمونځ نه دی روا ولی چې د
لمونځ صحیح نه دی. **مسئله**: په معتوه چې دماغ یې خراب وی اوګډی وډی وائی
هم لمونځ نه دی روا ط قال المصنف **والذکورة** اوبل شرط دامامت نروالی
دی. نو په بنځه پسی د نرو لمونځ نه دی روا. ولی چې په حدیث شریف کی راغلی دی.
آخروهن، یعنی شاته یې کړی. اوخنثیٰ یعنی نر بنځی په حکم کی دبنځی دی. اوپه اشباه
کی وائی چې اقتداء په خنثیٰ پسی صحیح روا ده لکنه خلاف رأی العامة ط، در، قال
والقرائة اوبل شرط دامامت قرائت د قرآن کریم دی. په نیز دامام اعظم رح
خدهم یوایت وې. اویا ران وائی چې دری ایته شرط دی **تفریع**
نو اقتداء د قاری په هغی معنیٰ به په عرفی معنیٰ په امی پسی نه ده روا. اونه په ګونګو پسی
اونه ده روا اقتداء دامی په ګونګی پسی. ولی امی خو تحریمه قدر ویلای سی اوګونګی
په نسی ویلای. نو امی حال پرقوی دی. او اقتداء ده امی په امی پسی یا ګونګی په ګونګی
صحیح ده. قال **والسلامة من الاعذار کالرعاف** اوبل
شرط د صحت دامامت سلامتیا د امام ده د عذر و څخه (لکه دیزی وینی) ولی چې د معذور لمونځ
خو صحت په ضرورت دوجهی څخه دی نو دبل سړی اقتداء نه ده پسی روا. لکه چې تر پنا
په وینی راځی یعنی همیشه چې وخت د لمانځه بیله دیزی دوینو نه پر تیرین ې. اوکی
یو وخت تر پنه وینی راوتلی هغه معذور نه دی:

مسئله: که څوك پسکی اوبا دهم نه سی ګیره ولای هغه هم معذور دی. اوکی بول
هرکړی تو سیږی هغه هم معذور دی. **فائده**: که معذور سړی اودس تازه کړی
اوعذر یې جاری وو، اویا پسله اوداسه هغه عذر ور پیښ سو نو اقتداء د بی عذر سړی

نه ده پسی روا. اوکی اودس تازه کړی اولمونځ هم وکړی عذر نه سو ور پیښ. نو دغه معذور
په حکم کی دجورډی **مسئله**: اقتداء د هغه سړی چې بادونه یې جاری وی په هغه
سړی پسی چې بولی یې هم تو پیږی نه ده روا. ولی چې امام دوه عذره لری. اوعکس یې
روادی، ط، قال المصنف **والفاء فاءة** دامصدر جعلی دی، امام مطرزی
وائی چې فاء فاء هغه سړی دی چې یوه کلمه چې تر خوله راباسی په دیر تکلیف سره. اوپه
اول کی در ا ایستلو د کلمی مشابه د فاء یې د خولی څخه راووزی وروسته خبره پوره کړی
قال **والتمتمة واللثغ** اوبل عذر تمتمه هغه سړی دی چې په خبرو کی ناحقی
تاء اوهمیم ځندی ویل کیږی. اوبل عذر لثغ دی. مرادی والا وائی چې لثغه په پیښین دلام
اوپه سکون د تاء بنورول د ثربی دی د سین څخه وثاء ته اویا د راء څخه وغین ته اویا مثل د
هغه **مسئله**: که الثغ په قرآن شریف کی داسی ایات نه سوای پیدا کولای چې د لثغ څخه
دی خلاص وی اوده کوشش وکړي اوکاوه یې دشپی اودورځی لکن اصلاح د خپلی
ثربی یې نه سوای کولای چې د لثغ د خلاص کړی نو دی سړی لمونځ یوائی صحیح دی ولی دی
عاجز دی اوبل سړی چې الثغ نه وی لمونځ یې نه دی پسی روا. مراقی.
درویش وائی چې پردی بناء د پیرو امامانو خصوصًا د صحرا دامامانو امامت نه دی صحیح
ولی چې د دوی د پیروثربی د لثغ څخه خالی نه وی. لکن په فتاوی خانیه کی وائی چې شیخ
ابوبکر محمد بن الفضل رح وائی چې د الثغ امامت د غیر د پاره صحیح دی چې دغه کلمی دی ئی وائی
په لثغ سره دا د ده لغت عربی دی. اوډا مذهب مختار ه کړی ابن امیر الحاج لکن دا مقید په
دے دی چې ده به خپل زیات کوشش کړی وی په دفع کی د لثغ لکن دفع ئی نه کړی، والله اعلم بالصواب
مسئله: د الثغ لمونځ هلته یوائی صحیح دی کې خوك نه وو چې د اقتداء پسی
وکړي اوکه د امامت سړی وو بیا د الثغ لمونځ یوائی هم نه دی صحیح، در، ط، درویش
وائی چونکه د پیر عوام د لثغ سره مخامخ دی نو باید کوشش وکړي چې لمونځونه په جماعت

وکړی تاچی لمونځونه یه دا اختلاف ووزې. په خلاصه کی وائی چی الثغ د شپی او ورځی به
ډیر وخت داکوشش وکړي چی دا لثغه د ځانه نخښه لیری کړی نوکی قدرت نه کی پیدا
نولمونځ یه صحیح دی. اوخلاصه والا نریا ته کړی ده. که الثغ کوشش وکړی خوفائده
یه نه کوله. نوبیا ده کوشش پریښو نوهم یه لمونځ فاسد دی بلکه تراخره د عمر به
داکوشش جاری لری.

لکن صاحب الذخیره وائی چی دا اخیره خبره د خلاصی ډیره مشکله ده. ولی هغه عذر چې
خلقو د سړی هراړه وی بنده تغیر نه سی ورکولای. نود خلاصه د غه خبره دفتوی دپاره
موزون نه ده. یعنی خوله عالم دی په دی سره فتوا نه ورکوی. اوهم د دی سببه یه
خزانة الاکمل کی د فتاوی نخښه د فقیه ابواللیث یه داسی نقل کړی دی. که چا اَلْحَمْدُ لِلّٰه ر
ځای د اَلْحَمْدُ لِلّٰه ووایه. یا یه کُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ. یه ځای کی د قُلْ هُوَ اللّٰه اَحَدٌ. وَوایه
لمونځ روادی. چی پر اصلی حرف یعنی اَلْحَمْدُ لِلّٰه یا قُلْ هُوَ اللّٰه اَحَد به یه قدرت نه درلودی
اویا په ژبه کښی عارضی علت وو، اوفقیه مذکور نریا ته کړیده کی په ژبه کی علت هم نه وو
لکن پرخوله یه اَلْحَمْدُ لِلّٰه یا کُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ قادر علی لمونځ یه نه فاسدیږي. حاصل دا دی
چی امام طحطاوی وائی چی په شرط د دې چی لثغ به نه وی اختلاف دی. نوځکه د ډیر
فقهاوو نه دی ذکر کړې چی په دی کی لوی حرج دی. لکن بیا هم احتیاط د متن پر قول
کی دی. اوخلک باید د فقیه ابواللیث په فتوی د قران مبارک د صحیح نه ده کړی
نخښه غافل نه کړی. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ. درویش. قَالَ الْمُصَنِّفُ

نِيَّةُ الْمُقْتَدِي الْمُتَابَعَةَ مُقَارِنَةً لِتَحْرِيمَةِ الْإِمَامِ

یونیت کول دی د مقتدی د متابعت دامام په داسی حال کی چی جوت به وی نیت دده دَاللّٰهُ اَکْبَرُ
ویلو سره ده **پوه سله**: چی اقتداء په شریعه کی ترلې دې دسړی لمونځ خپل
په لمانځه پوهږی دامام، ط، **مسئله**: اولی داده چی داسی ووائی چی زما نیت
دشروع دی په لمانځه کی دامام سره اویا داسی ووائی چی زما نیت داقتداء په امام پسی

یعنی لفظ د لمانځه یه نه ووایه. په داسی نیت کی اختلاف دی. صحیح داده چی داسی
نیت هم کافی دی. ولی چی دحاله نخښه دا معلومیږی چی داسې مقصود او اراده د لمانځه
داقتداء لری. ولی چی ده ځان تابع دامام وګرځاوه. او بعض فقهاؤ وائی چی مقتدی به
د دری شیانو نو نیت کوی. یوخو نیت دی د نفس لمانځه، اوبل تعیین د لمانځه
یعنی دا ماپښین یا ماښام دیگر وغیره. اوبل نیت داقتداء دی په لمانځه کی په امام پسی
فائده: په قهستانی کی وائی چی نیت دمتابعت شرط دی په غیر کی د جمعی لمانځه
اوپه غیر کی داختروو لمانځه. ولی چی هغه بی جماعته نه دی روا. نو نیت داقتداء نه
غواړی.

مسئله: امام لره په حق کی دښځو نیت دده وی دامامت شرط دی. بیله نیت دامام
دښځو نه دی صحیح. **فائده**: سبق داده چی مقتدی په نیت کی تعیین دامام نه
کوی چی فلانی ملا صاحب پسی. ولی که دی تعیین وکړی او امام هغه دده، معین کړی
سړی نه وی د مقتدی لمونځ فاسد سو، ط، **پوه سله** چی مصنف مقارنت دنیت
د تحریمی سره شرط وبالله. لکن په مراقی کی کښی وائی که مقارنت حقیقةً وی یعنی ظاهراً چی
خو بنکاره خبره ده او که حکمی وی چی په مابین کی د نیت او تحریمی بیگانه کار ونه کړی. وَقَدْ
تقدم ذکره فتذکر. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَنِيَّةُ الرَّجُلِ الْإِمَامَةَ شَرْطٌ لِصِحَّةِ اقْتِدَاءِ بِهِ

اونیت دنر امام دامامت شرط دی دپاره د صحت داقتداء د ښځو په ده پسی. یعنی که امام نیت داقتداء د
ښځو نه وه کړي د ښځی لمونځ نه دی صحیح. درویش وائی په دې مسئله سره هغه مشکل چې
د حج په وخت پیدا سی خلاص سو. مشکل دا دی چی محاذات د ښځی په صف کی د نره سره
منسد د لمانځه د نر دی لکه چی مشهوره ده، نو په اوس وخت کی که څه هم حکومت سعودی
د ښځو دپاره جلا ځای تاکلی دی. خو بیا هم بعضی ښځی په بی شرمی سره په هغه وخت
کی چی د جماعت وخت نر دی وی طواف کوی نود طواف په وخت کی جماعت و درین ی

اود غه ښځی د نرو په مابین کی پاتې سی چې ترهغه معین ځایه پوری نږدی تلای په سبب
دا زد حام - نو دالته د نرو په مابین کی په امام پسی اقتداء وکړی. اوپریوه اوبل بغل
اوتر ښځه اوترشا د دوی نرو لاړوی. نو د محاذی نرو لمونځونه خو په قرار د مسئلی د
محاذات چې به ږاسی، اِن شاء الله، فاسد سوه. اوداسی کسان نو په سوو دی دی
چاره به ځروې.

بعض ملایان وائی چې د غه محاذی نرو ښځی ته ووائی چې خپل ځای ته ولاړه سه کړهغی
عمل دده په امروه نه کړی نو ښځه په لمانځه کی امام نه سوه داخله. او بیله اشتراکه د لمانځه
محاذات د ښځی مفسد د نرد لمانځه نه دی. نو د نرو لمونځ صحیح دی او د ښځو دا فاسد دی.
د رڼو لیش وائی: دیوه ځای په موسم کی د امام څخه د حرم شریف پو ښتنه وکړه چې ایا محاذات
د ښځی د نر لمونځ فاسد، وی هغه ووئیل نَعَم: نو ماورته ووئیل چې د غه ښځی چې د جماعت
په وخت کی د صفوف نرو په مابین کی ولاړی داخود ښځی د یرو نرو لمونځ فاسد وی. تاسی
ولی د دی مشکل په باره کښی غور نه کوی او د حل لاره یه نه لټوی. ! ده ږاته ووئیل چې زه
فقط د هغو ښځو نیت د امامت کوم چې د حکومت په معین ځای کی لمونځونه کوی د مابین
الصفوف د ښځو امامت نه کوم بلکه په استثناء ښځی خارجوم د نیت څخه نو د د غو
ښځو زه امام نه یم او د د غو ښځو لمونځ په ما پسی فاسد دی.

نو د د غو ښځو اشتراك په لمانځه کی د نرو سره نسته. نو نرو لمونځونه صحیح دی. ولی شرط
د فساد د نرو د لمونځو اشتراك دی د نرو او ښځو په لمانځه کی. پس مشکل حل سو. وَلِلّٰهِ
الحَمد **مسئله**: محاذات د ښځی مفسد د لمانځه ده نږدی کړهم د جمعی په لمانځه کی
یا د اختر په لمانځه کی وی یعنی از د حام عذر نه دی. او د اهم د اکثرو فقهاو و مذهب دی
مَراقی، او د نهر د خلاصی څخه نقل کړې دی چې په د غو د رو لمونځو کی نیت د امام د امامت
د ښځو شرط نه دی. یعنی محاذات په د غو لمونځو کی مفسد د نرد لمانځه نه دی، ط، لکن د رڼو
وائی چې استثناء د د غو لمونځو د یره مشکله ده. ولې چې عبادات د معتبر و کتابود فقهی شرایطو
مطلق دی. وَاللّٰهُ أَعْلَمُ

اوبل شرط د امامت د ښځه

وَتَقَدُّمُ الْإِمَامِ بِعَقِبِهِ عَنِ الْمَأْمُومِ

والی دی د امام په پنده سره ترمقتدی. قال فی المراقی که چیری د مقتدی پنده خو ترامام ورو سته وه لکن
پښه یه اوږده وه چې ګوتی یه د امام تر ګوتو تیری وی نو پروا نه لري. لکن امام طحطاوی
والی چې د اشرط یعنی تقدم د امام د پندی ترمقتدی چې مصنف شرط ګنړل دی
خلاف د مذهب حنیفی دی، حتی که چیری امام او مقتدی بیخی برابر سره ودریږی هم
یه اقتداء صحیح ده. اوکه چیری لمونځ په اشاره د سر سره کاوه نوکه سر د مقتدی د امام
ترسر ورو سته وو اقتداء یه صحیح ده. کی څه هم پښی د مقتدی تر پښو د امام د ښځه
وی. اوچیری بالعکس وی د مقتدی لمونځ نه دی صحیح، کذا فی الزاهدی،
اوپه د رمختار کی وائی: که امام اویو مقتدی وو نو برابر دی سره ودریږی لکن پر استه
طرف دی امام وی. اوکه یوه ښځه په امام پسی ولاړه وی کی څه هم زوجه وی یا محرمه
وی هغه به خامخا ترشاه دریږی. **مسئله**: سر ته اعتبار نسته چې په سجده کی
د امام سر وړاندې دی اوکه د مقتدی اوکه سره برابر دی. بلکه پښو ته اعتبار دی په
تقدم کی لکه مصنف چې وائی یا په محاذات لکه طحطاوی چې وئیلی. قال المصنف

وَلَا يَكُونُ أَدْنَى حَالًا مِنَ الْمَأْمُومِ

اوبل شرط د اقتداء دا دی چې امام
به کم نه وی ترمقتدی په لمانځه کی، مثلاً امام نفلی لمونځ کوی او مقتدی د فرضی لمانځه
اقتداء پسی وکړه **پوه سله**: چې اعتقاد ته د مقتدی اوامام اعتبار نسته بلکه
لمانځه ته اعتبار دی. نوکه مقتدی لمونځ د وتر و یه واجب بولی. اوامام یه سُنت بولی
اقتداء یه پسی روا ده ولې چې لمونځ خو یو دی، اعتقاد ته اعتبار نسته کما مَرَّ آنِفًا.
اود غه رنګه روا دی نیت د یوه سُنت کوونکی په بل سنت کوونکی پسی، لکه یو سړی
چې سُنت د ماخستن کوی او امام یه سُنت التراویح گذاري. اویا یو سړی سُنت بعدی
د ماپښین کوی په هغه چا پسی چې سُنت قبلی کوی کذا فی البحر الرائق.

مسئله: کړیوه سړی دمازدیگر لمونځ کاوه اودوه رکعته یې وکړه لمړولویدئ نوپه اخیرو رکعتو کی یوسړی دمازدیگر دلمانځه اقتداء پسی وکړه. اقتداء یې روا ده ولی لمونځ یودی کړخه هم دغه دوه رکعته قضا ئی دامام په بارهٔ کی. کذا نقله الشبلیؒ عن الزیلعیؒ وکذا نقله القهستانیؒ. قال

وَاَنْ لَّا یَکُوْنَ الْاِمَامُ مُصَلِّیًا فَرْضًا غَیْرَ فَرْضِهٖ

اونه به وی امام لمونځ کوونکی دیوه فرض غیر د فرضو څخه دمقتدی پ. لکه یودماپښین لمونځ کوی اوبل دمازدیگر لمونځ. اویا دواړه دماپښین لمونځ کوی لکن ددوو وختو علت یې دادی چی مقتدی خودامام سره څان شریك بولی. نوبایدچی لمونځ سره یووی تاچه دمقتدی لمونځ په ضمن کی دامام د لمانځه راسی.

فائده دیوه نذر کوونکی لمونځ په بل نذر کوونکی پسی نه دی روا. ولی چی امام لره ولایت د نذر پر مقتدی نسته. نودده لمونځ متضمن دمقتدی د لمانځه نه سی کیدائی. اوکه یوسړی ۲ رکعت لمونځ مثلاً پرځان نذر کړی اوبل سړی قسم واخستی چی زه به دوه رکعته لمونځ کوم. نواقتداء د ناذر په دغه حالف پسی نه ده روا. ولی چی د ناذر حال قوی دی ترحالف «م». اوکه یوچا داسی وسیله چې ماهغه دوه رکعته لمونځ نذر دی چی فلانی یعنی امام پرځان نذر کړی دی. بیا اقتداء پسی صحیح ده ولی چی لمونځ ددواړو یو سو. قال المصنفؒ.

وَاَنْ لَّا یَکُوْنَ الْاِمَامُ مُقِیْمًا لِمُسَافِرٍ بَعْدَ الْوَقْتِ فِیْ رُبَاعِیَّةٍ

وَلَا مَسْبُوْقًا اوبل شرط دصحت داقتداء دادی. چی نه وی امام مقیم چی لمونځ ورکوی ومسافر وته پسله وتلو دوخت اونه به مقتدی مسبوق وی. **پوه سئله:** چی داوّلې مسئلی صورت دادی چی یوسړی مقیم څلور رکعتیز لمونځ په کاوه. اوپه لمانځه کی وخت وتی. په پاته رکعتو کښی مسافر په ده پسی اقتداء

وکړه اقتداء یې نه ده صحیح. ولی کدغه مسافر کړه اول شفعه کی په ده پسی اقتداء وکړی نود میانځ ناسته پرامام واجبه ده. اوفرمقتدی باندی فرض ده. ولی چی دده لمونځ خودوه رکعته دئ. اود ده اخیره ناسته ده. اوکه دغه مسافر په شفع ثانی کی په ده پسی اقتداء وکړی. نودغو دوو رکعتو قرائت پرمسافر مقتدی فرض دئ. اوامام ته نفل دی. نواقتداء دمفترض په متنفل پسی لازمیږی. اوکه چیری مسافر مقتدی په امام پسی اقتداء وکړه په وخت کی دننه اوبیاوخت تیرسو نواقتداء یې صحیح ده. او پرمسافر باندی امام د لمانځه لازم دی. نودی فوجهی مصنف ودلیل بعد الوقت، اود رباعی قید په ددی سببه ووایه چی ثلاثی اوثنائی لمونځ خوپه سفر اوحضر کی یودول دی.

اوددوهمی مسئلی یعنی وَلَا مَسْبُوْقًا، صورت دادی چی امام به مسبوق نه وی مثلاً یو سړی په امام پسی نیت وکړی. اوداما م یورکعت یا دوه رکعته دده څخه تیرسوی وه. امام چی سلام وګرځوی وه نومسبوق خپل قضا ئی رکعتونه ولاړسو. په دې وخت کی بل سړی په مسبوق پسی اقتداء وکړه دا اقتداء یې نه ده صحیح. قال

وَاَنْ لَّا یَفْصِلَ بَیْنَ الْاِمَامِ وَالْمَاْمُوْمِ صَفٌّ مِنَ النِّسَآءِ

اوبل شرط دصحت داقتداء دادی چی فاصل به نه وی په مابین کی دامام اومقتدی صف دښځو. دلیل ددی مسئلی داقول دعلیه الصلوٰة والسلام دی کړخوك وو یعنی یو مقتدی چی په مابین کی دده اوامام وَاله وه یا لاړوه. اویا صف دښځو. نومقتدی لره لمونځ نسته یعنی اقتداء په داغسی امام پسی نه ده روا. تفصیل ددی مسئلی دادی کړچیری صف حائل دری ښځی وی. ددوی ترشا دری نرانو لمونځ فاسد دی تراخیره پوری دصفوهرځو صفو چی وی. اوداغه رنګه دیوه سړی چی ددوی پس راسته وی اوده یوه سړی چی ددوی پرچپه طرف وی هم یه لمونځ فاسد دی» قال المراقی وعلیه الفتوٰی، اوبعض فقهاءؒ وائی چی دری ښځی صف کامل دی. نودتولو

صفونه نرو چې د دوی تر شا وی که د دوی سره برابر وی اوکه نه وی اقتداء یې د غه امام
پسې نه ده روا. وهذا مذهب مرجوح: اوکه ښځې دوی وې نو فاسد دی لمونځ د دوی
نروچې د دوی وشاته ولاړې وې. فقط.
یعنی نه تراخیره پورې د صفو حتی چې دوه وسته صفو اقتداء صحیح ده مګر دیوه نر لپاره
پر است. ټغل او دیو نر چه پر چپه اړخ د دغو دوو ښځوی هم فاسد دی. اوکه ښځه
یوه وه نو د نر وکسو لمونځ فاسد دی یو تر شا او دوه پر ټغلو دې. **پوښتنه**
د ښځو دیوه ټغل او بل ټغل دیوه سړی لمونځ فاسدیږی او د ټغلو د نورو خلګو لمونځ
ولی نه د ی فاسد **جواب** هغه دوه خلګ چې د دوی پر یوه ټغل او بل ټغل دی چې
لمونځ یې فاسد سو، هغه دوه خلګ حائل وګرځیده د ښځو او نورو خلګو ترمابین. نو سره د
حائل خو نر لمونځ نه فاسدیږی لما تقرر فی الفقه: قال المصنف

وَاِنْ لَّا یَفْصِلَ نَهْرٌ یَمُرُّ فِیْهِ الزُّرُوْقُ وَلَا طَرِیْقٌ یَمُرُّ فِیْهِ

العجالة اوبل شرط د صحت د اقتداء دا دی چې فاصل به نه وی په مابین کې د امام او مقتدیانو
قاله. داسی واله چې په هغې کښتی چلیږی یعنی چلیدای سی که بالفعل
چلیږی اوکه نه، او داسی ولې ته نهر کبیر وائی بناء علیه که په مابین کې د امام او مقتدیانو
په اصطلاح پولښتی وو او یا په اصطلاح واله وه چې د کشتی کښتی د چلید و په کښتی امکان
نه وو نو هغه مانع د اقتداء نه ده، او د غه رنګه په مابین کې د امام او مقتدیانو به لویه لاره چې
مال په کښتی تیریدای سی نه به وې. بیا مراد صرف امکان د تیریدو دی بالفعل تیریدل شرط
نه دی، مصنف په مراقی کې وائی چې مذکور فرق د لوی ولې او د کچنی صحیح دی، او بعض
فقهاء وائی چې کچنی واله هغه ده چې شریکان د او بو د ی شمیرلې کید ای سی. اولویه واله
هغه ده چې د شریکا نو حساب یې نه وی معلوم. **مسئله**: که په مذکوره لاره متصل
صفونه ولاړ وه بیا اقتداء صحیح د ټولو. او ده لاړې څخه هغه لاره مراد ده چې وتلی لیاره
وی اوکه بنده وې. په پای هغه مانع د اقتداء نه ده کذا قال السید فی الشرح وسیأتی تفصیل
ذالک.

یقول الفقیر سامحه القدیر قال الامام الطحطاوی فی شرح مراقی الفلاح ص۲۳۲ اعلم انه
اذا اتصل المصلون وقاموا فی الطریق فان قام واحد منهم فی عرض الطریق واقتدی
بالامام جاز وکره. اما الجواز فلانه لم یبق بینه وبین الامام طریق تمر فیه العجلة.
واما الکراهة فلانه صلی فی ممر الناس، فلو قام الواحد خلف هذا المقتدی وراء الطریق
واقتدی بالامام لا یصح اقتدائه لان صلاة من قام علی الطریق مکروهة مع کونه
غیر صف. فصار فی حق من خلفه کالعدم ولا یعد هذا اتصالا ولو کان علی الطریق
ثلاث جازت صلوتهم وصلاة من خلفهم. لان الثلاث صف فی بعض الروایات وعند
اتصال الصفوف لا یکون الطریق حائلا ولو کان علی الطریق اثنان. فعلی قیاس قول
ابی یوسف تجوز صلاة من خلفهما لانه جعل المثنی کالجمع. وعلی قیاس قول محمد
لا تجوز انتهی.
اقول لما کان هذه العبارة تنفع العلماء والطلباء خاصة وهم یعلمون ترجمتها ترکنا
ترجمتها بالافغانیة. وهذا هو السر فی نقل هذه العبارة العربیه علی خلاف وضع قانون
هذا الشرح یعنی اللغة الافغانیة، ثم نشرع فی حل الکتاب ومسائله علی القانون المذکور،
واقول آه. **پوه سه**: چې لاره اوواله کرخه هم په مسجد کښې وې هم مانع د اقتداء
دی. کذا فی الدر قال المصنف فی المراقی چې مانع د صحت د اقتداء، پر مذهب مفتی به
دومره فاصله ده چې دوه صفه پکښې ځائیږی. قال الطحطاوی چې په فتاوی خانیه
کښې وائی چې فرجه د دوو صفوتر مابین یو یا دوه ذراع ده. لکن پوه سړی د اتخذ
په مابین کې د دعای د سجدی د دوو سته صف بیا تر ځایه پورې د ولاړې د بل صف په
ټولو صفوکې. ولی چې یو ذراع شرعی د ځایه څخه د ولاړې د یوه صف بیا تر ځایه پورې د
ولاړې د بل صف کافی نه دی. او بعض فقهاء وائی چې یو صف قدر فاصل بلل کیږی.
فائده د ټوله بیان مربوط په لاره پورې دی چې د مسجد څخه د باندی وې. اما په مسجد کې
دننه هر څومره فراخه فضاء ولی ده صفوتر مابین وی مانع د اقتداء نه ده. که څه هم په
دی فضاء کې د ین صفونه ځائیږی. ولی چې مسجد ټوله دیوی بقعی حکم لري. کذا فی الاشباه والنظائر

نو دی سَبَبه په فتاوی هندیه کی وَائی۔ امام په محراب کی پر لمانځه ولاړ وی او یو سړی د مسجد دپایه څخه اقتداء پسی وکی لمونځ صحیح دی۔ وَفی الطحطاوی قال البزازیؒ چی مسجد کی څوک هم دیر لوی وی فاصله یه مانِع د اقتداء نه ده۔ لافی الجامع القدیم لخواهر زاده ولی چی دَ دغه مسجد شریف څلرمه حصَه پر څلور نرۀ تنبو ولاړه ده۔ چی د دغه مسجد شریف تولی تنبی شپاړس نرۀ تر سیږی۔

او دا غږ نګه مسجد شریف د قدس شریف چی مشتمل دی پر دری مسجده، الاقصیٰ، والصخرا، والبیضاء، کذا فی الحلبیؒ۔ لکن د دی دوو مسجد و استثناء په دی سَبب د چی په دی دوو مسجد وکی د دیری مسافی له سَبَبه د امام حال پر سړی پوشیده کیږی چی صفوف متصل نه وی۔ وَ پر نه د غږ دوه مسجده کی څوک هم هر څوغټ دی یو مکان بَلل کیږی۔ **مسئله**: عیدګاه هم پر مسجد قیاس ده او د جنازی د لمانځه ځای هم پر مسجد قیاس دَ ئی۔ کذا فی النوازل والخلاصة والخانیة **فائده**: فناد مسجد حکم د مسجد لری نو اقتداء په امام پسی په دَ غه فناء کښی روا ده کی څوک صفوف سره متصل نه وی۔ قال المُصنفؒ

وَلَا حَائِلٍ يَشْتَبِهُ مَعَهُ الْعِلْمُ بِانْتِقَالَاتِ الْإِمَامِ

او نه به حائل او فاصِل په مابین کی د امام او مقتدی یا نو یو لوی دیوال وی چی د هغه سَره پوشیده کیږی پر مقتدی علم پر انتقالاتو د امام یعنی د رکوع څخه سجدی ته وَغیره۔ قال

فَإِنْ لَمْ يَشْتَبِهْ لِسَمَاعٍ أَوْ رُؤْيَةٍ صَحَّ الْاِقْتِدَاءُ فِي الصَّحِيحِ

او که نه پوشیده کیدی پر مقتدی علم پر انتقالاتو د امام په سَبب د اوریدو د بَرغ د امام او یا په سبب د لیدلو د امام نو اقتداء پسی صحیح دَ ده۔ په صحیح مذهب کی۔

فائده: او دا مذهب مختار وی د شمس الائمة الحلوانیؒ دلیل یه دا دی چی آنحضرت صلی الله علیه وَسلم په حجره کښی دعا کُښته رَ لمونځ کاوه او خلګ به پر مسجد کی وه دده مبارک لمانځه سره بی سَمه لمونځ کاوه۔ **تفریع** بناء پر دغه اقتداء په

امام پسی د مسجد حَرام په هغو ځایونو کی صحیح ده۔ چی متصل په مسجد حرام پوری وی او په دروازو کی د مسجد حَرام د دباندی خوا څخه صحیح ده چی حَال دَ امام پوشیده نه وی په سبب د اوریدو او یا د لیدو او په مابین کی د امام او مقتدی نه وی منګړۍ دیوال۔ خمس الائمة الحلوانیؒ وائی چی د هغه سَړی اقتداء په امام پسی ده مسجد الحرام صحیح دَ ده چی پر بام د کور وَلاړ وی۔ او کور یه متصل په مسجد الحرام پوری وی۔ او د غږ نګه رَ ډاده اقتداء د دنه په کور کښی چی کور یه متصل په مسجد الحرام پوری وی او یو دیوال یه په مابین کښی وی او یا تکبیر د امام اوری او یا د مکبرانو کذا ذکر فی التجنیس والمزید، البته د هغو خلګو اقتداء په امام پسی د مسجد الحَرام نه ده صحیح کی څوک امام وینی او یا یه آواز اوری چی د هغه سړی د منزل او مسجد الحرام ترمابین څرګ وی چی موټران په کښی تیریږی او راتیریږی۔

ښه فائده: په اوسنی زمانه کی چی په مسجد الحَرام کی بلکه په تولو مساجدو کی د بنارونو د مسلمانانو نو بلکه په لعض لویو قریو کښی هم د لوی آلاتو سپیکر نصب سوی ده۔ نو د امام تکبیرونه د پیر لیری ځایونه څخه هم اوریدَ کیږی بلکه مکرمة المکرمة کی د جبل ابی قبیس په لمن او پر سرکورونه هم تکبیرونه د امام او تولو حالاتو یه ورمعلومیږی بلکه بعض کورونو والا امام المسجد الحَرام وینی هم۔ وهکذا فی المساجد الاخر لبلاد المسلمین التی نصبت فیها هذه الآلة، نو اوس مانِع د صحت د اقتدا دا دی چی په مابین د مسجد الحرام او یا د بل مسجد د دنیا لوی لوی لاری اوخر کان سته، او یا کورونه یه په مسجد الحرام او یا نورو مسجدو پوری متصل نه دی۔ یعنی چی غیر د دیوالو دَ بَل فاصل نه لری۔

فائده: بعض مساجد د بنارو بلکه پخپله په مسجد الحرام دوه دری څهته او منزله وی او امام په لاندی مسجد کی په محراب کی وَلاړ وی او خلګ په دوهم یا دریم منزل کی وَلاړ وی اقتداء یه په امام پسی صحیح دَ ده بالشرط المذکور،،

پوه سه: چی مصنفؒ کی د درود وَئیلی دی، چی صحیح دَ ده چی اعتبار په عدم صحت کی۔ د اقتدا صرف اشتباه لره دحال د امام په مقتدیانو،، او در مختار هم

داخبره تائید کړی دی. او په معتبرو کتابو کی د فقهی شریفی هم ورته خبره راغلی ده لکن سړه د هغه په درد او بحر رائق کی واپۍ چی اختلاف د مکان د مقتدی اود امام هم مانع د اقتداء دی. نو په هغه کور کی چی په مسجد الحرام پوری متصل هم وی او اشتباه د حال د امام هم نه وی په کښی اقتداء د کوره څخه په امام پسی د مسجد الحرام روانه ده لاختلاف المکان، لان المسجد الحرام کله بقعة واحدة والبیت بقعة أخری.

مسئله: که پوره کی خلګو جماعت کاوه لکن په مابین کی د امام اومقتدیانو دومره فاصل موجود وو چی دوه صفه په کښی ځایېدلے اقتداء صحیح ده. ولې چی دا بیت حکم دیوه مسجد لری. وقد مر ان الاقتداء فی المسجد یجوز مع وجود الفصل المذکور کذا قال السید فی شرحه، قال المصنف:

وَاَنْ لَا یَکُوْنَ الْاِمَامُ رَاکِبًا وَالْمُقْتَدِیْ رَاجِلًا (او بالعکس) اَوْ رَاکِبًا غَیْرَ دَابَّةِ اِمَامِهٖ (لاختلاف المکان)

اوبل شرط دادی چی داسی به هم نه وی چی امام دی پر یوه بوده سپور وی اومقتدی پیاده وی. اویا مقتدی سپور وی اوامام پیاده وی. اویا امام پر یوه دابه سپور اومقتدی پر بله دابه سپور وی. ولی چی مکان د امام اومقتدی سره مخالفت. اوکه پر یوه دابه سره سپاره وه اقتداء یه صحیح ده. ولی چی مکان د امام اومقتدی یو دی. او امام محمد وائی چی که دابه د امام اومقتدی د یوه سره نږدی وی اقتداء صحیح ده، استحسانًا.

وَاَنْ لَا یَکُوْنَ المقتدی فِیْ سَفِیْنَةٍ وَالْاِمَامُ فِیْ اُخْرٰی غَیْرَ مُقْتَرِنَةٍ بِهَا

اوبل د صحت د اقتداء شرط دادی چی نه به وی سپور مقتدی په یوه کښتی کی. او امام په بله کښتی کی چی د مقتدی کښتی سره نه وی جفته. **پوه سله:** چی جوت والی د کښتی صورته لری. اول چی دا وی کښتی پرسی یا کیبل سره ترلی وی. اودوهم دا چی په مُده کی د لمانځه دواړی کښتی سره منښتی وی کی خرم سره ترلی نه وی. اوظاهر دوهم احتمال دی، ط.

وَلِلّٰهِ در المصنف حیث اورد عبارة محتملة للاحتمالین المذکورین «در» لکن دلیل د دی مسئلی فقهاءُ د اوائی چی که فاصل په مابین کی د دغو دوو کښتی وی. نو دا لکه چی د امام او مقتدی په مابین کی یو والی وی. هغه خو مانع د صحت د اقتداء وو کما مَرَّ نو دا هم مانع د صحت ده د اقتداء دی.

ولی غوږ کول پکار دی چی که چیری فاصل د دغو دوو کښتی وکم وی ترهغو ولې چی د هغه تیره سوه یعنی چی نوره ق په کښتی چلیدای ښی. نو باید اقتداء صحیح نه ښی. اما فقهاءُ مطلقًا د دوو کښتی یو په مابین کی اقتداء منع کړیده. الا ان یقال چی په مذکوره صورت کی د مغارت حکمی ستنه والله اعلم بالصواب «در» قال المصنف:

وَاَنْ لَا یَعْلَمَ الْمُقْتَدِیْ مِنْ حَالِ اِمَامِهٖ مُفْسِدًا فِیْ زَعْمِ الْمَاْمُوْمِ کَخُرُوْجِ دَمٍ اَوْ قَیْءٍ لَمْ یُعِدْ بَعْدَهٗ وُضُوْءَهٗ

اوبل شرط د صحت د اقتداء دادی چی علم به نه لری. مقتدی په حال کی د امام د دا سی شی چی هغه مفسد د لمانځه وی په عقیده کی د مقتدی. یعنی که خرم امام د هغه شی مفسد نه کوی په خپل مذهب کی لکه چی د امام یوځای نخښه وینی و بهیږی او یا امام مِلْءُ الفم قی وکړی. اوبیا راوګرځول سی اودس یعنی مقتدی په خبر وی چی امام پس له دغه شیانو اودس نه دی کړی نوی. امام طحطاوی وائی چی د هغه رایه معتمده د فقها وو ده چی اعتبار د رأی لره د مقتدی ده اوپر قول مرجوح چی اعتبار د رأی لره د امام دی نو اقتداء پسی صحیح ده. که څه هم هغه شی مفسد د لمانځه وی په نیز د مقتدی. حاصل دا چی په مذهب کی د امام شافعی خروج د دم سائل او یا قی مِلْءُ الفم اودس نه ماتوی. او د حنیفیانو په نیز اودس په ماتیږی نو چی مقتدی حنیفی وی اوامام شافعی المذهب وی اود هغه کار پیښ سی امام ته اوبیا ورسته ترکار د امام اودس هم نه کی تازه نود حنیفی اقتداء نه ده پسی روا. اودې لره نور مثالونه هم ستنه چی امام ترخلرمی د سر کمه مسح وکړی، د شافعی په نیز کافی ده او د حنیفیانو په

نیز څلرمه قدر مسح د سر فرض عملی دَه . نو بیا هم اقتداء نه ده پسی رَوَا. او یا مقتدی ولیدی چی امام په مستعمل اوبو اودس تازه کړی چی حنیفیان یې روا نه بولی بیا هم اقتداء د حنیفی نه ده پسی رَوَا. او یا دا امام سړی قدر ما نِع د نجاست وُو. بیا د حنیفی اقتداء نه ده پسی رَوَا وغیر ذالک: من المسائل المختلفة بيننا وبين المذاهب الأخرى

مسئله: که چیری امام پس له دَغو شیانو نو دوښ زمانه د مقتدی څخه غائب سوچی په هغو نه زمانه کښی اودس تازه کیدای سی، نو صحیح داده چی اقتداء پسی روا ده لکن سره د کراهت . وجه د جواز حسن الظن دی چی امام په دَغه زمانه کی اودس تازه کړی وی. لکن کراهت هم تحریمی دی. او په ورو سته ځای کی وجه د کراهت داده چی یقین په شک نه زائلیږی. م، ط، در»

مسائل شتی لهذا البحث

مسئله: که مقتدی په امام خبر وو چی خلاف د مذهب حنیفی دی لکن دا نه وه ورته معلوم چی دا امام یا یوځای وینی سوی دی اویا په اودس نه دی تازه کړی. او نور هغه شیان چی تیر سوه نو اقتداء پسی روا ده په لحاظ د حسن ظن با لمؤمنین خصوصًا العالِم. **مسئله** که مقتدی ته دا معلومه وه چی امام احتیاط نه کوی د اختلاف په ځای کی یعنی مراعات د نورو مذهبونه کوی. نو اقتداء نه ده پسی رَوَا. د مراعات او احتیاط صورت دادی چی مثلًا دی قئی وو هی نو اودس تازه کوی د حنیفی مذهب په مراعات. اویا په وینه وبهیږی کرځه هم د ده په مذهب کی اودس په نه ماتیږی لکن د پاره د مراعات د مذهب حنیفی مثلًا دی اودس تازه کوی وغیر ذالک» لکن پوه سه: چی د بل مذهب مراعات نه کول خاص دی په شرطو او فرضو کا رو کښی نو اقتداء نه ده پسی رَوَا. او که چیری مراعات د شرطو او ارکانو یې کاوه د نورو مذهبو کښله. لکن په واجباتو کی مراعات د نورو مذهبونه کاوه مثلًا په اولو دوو رکعتو کی ضم د سورت نه کاوه بلکه صرف په اَلحَمدُ

ثُلثه شریفه سره یې اکتفاء کوله اویا مثلًا په اوله ناسته کی تر التحیات نه پاتی دعاوی په قصد کولې. اویا په سهوه سره لکن سجده سَهوه یې بیا نه کوله. او نور د دی قسم واجباتو کی مراعات د بل مذهب نه کاوه. نو اقتداء خو پسی صحیح ده لکن سره د کراهة التحریم.

پوښتنه: په مذکوره صورت کی لمونځ د مقتدی یَوازی وکړی سنه دی. او کی په دغسی امام پسی وکړی سنه دی. امام طحطاوی وائی یوازی لمونځ د سړی پس سنه دی. او که امام مراعات د نورو مذهبو په شرطو، ارکانو واجباتو کی کاوه منګر په سنتو کا رو کښی مراعات نه کاوه. مثلًا پر دوهم رکعت یې ناسته د استراحت کوله اویا به تسبیحات د رکوع او سجدی تر دری واړه کمی وَئیلی. اقتداء پسی صحیح ده سره د کراهة التنزیه مګر اقتداء افضله ده. او د دی مسئلی څخه دا په طریق اولی معلومه سوله چی په مستحبو کا رو کښی که امام مراعات د چا مذهب نه کوله یعنی اقتداء پسی صحیح ده بلکه افضله ده. وفی المراقی: وان علم انه يحتاط فی مواضع الخلاف يصح الاقتداء به فی الاصح» او په مجتبی کی وائی چی اقتداء پسی مکروه ده لکن دیرنی په شرح کښی د مجتبی وائی چی اقتداء نه د پسی مکروه کړ د مقتدی پر دی علم وو چی امام د مقتدی د مذهب حنیفی په بارہ کښی احتیاط کوی.

تفریع په حرمینو شریفینو کی چونکه حجاج ته حال د امام د مسجدینو شریفینو هیڅ نه دی معلوم نو د دی سبببه اقتداء پسی روا ده بد ګمانی به سړی نه کوی.

مسئله: په حرمینو شریفینو کی د مازدیګر لمونځ تریک چندی ورو سته تر دوچندی د څخه چی د امام اعظم ابوحنیفه ؒ په نیږدی مازدیګر وخت نه دی داخل سوی. آیا حنیفی حاجیان به جماعت پرې دی او پسی دوچندی څخه به یواځی لمونځ کوی او یا بی په اوطاقو کښی په جماعت کوی داسی ښه دی اوکه لمونځ په لوی جماعت کی وکی یعنی په امام الحرمین پسی وکړی دا ښه دَئی.

جواب: چونکه دیارانو مذهب دادی چی تریک چندی ورو سته دستی وخت د مازدیګر داخلیږی. او دا هم یو روایت دی د امام اعظم څخه نو چونکه خروج د مذهبه

څخه بالکلیه نه لازمیږی. نو ددی کبله دا عظیم الشانه جماعت دحرمینو شریفینو باید
سړی نه پریږدی ﴿ ومن مذهبی حب الدیار لاهلها :: وللناس فیما یعشقون مذاهب ﴾

مسئله: که مقتدی د امام په داسی کار خبر وو چې په مذهب کی د امام اودس په
ماتیدی لکن د مقتدی په مذهب کی اودس نه په ماتیدی، لکه مسه کول د ښځی اویا
د ذکر مسه کول او نور داسی کارونه. چې حضرات تو امامانو په نیز اودس په ماتیږی
اود حنیفیانو په نیز اودس نه په ماتیږی. او مقتدی په دی هم خبر وو چې امام نه دی
په دغه کار خبر. نو په نیز د اکثرو فقهاو واقتداء پسی روا ده او امام هند والی وائی
چې اقتداء نه ده پسی روا. ولی چې که امام خبر سی نو خپل لمونځ خویه باطل بولی نو
مقتدی لمونځ تبعًا باطل شو. اود اول مذهب چې اصح هم دی دلیل دادی. چې مقتدی
خو د امام لمونځ روا بولی اود مقتدی د لمانځه په باره کښی د ده خپله رایه معتبره ده.
فوجب القول بجواز صلوة المقتدی خلف هذا الامام کذا فی التبیین وفتح القدیر والمراقی.

پوښتنه: تا دا خبره وکړه چې مقتدی په دې هم خبر وو چې امام په دغو کارو
په دې خبر وو چې امام په دغو مفسدو کارو ډډه په مذهب کی خبر دی نو ده لمونځ
نه دی پسی صحیح بلکه مقتدی لکه سات چې تیروی. او نه ده لمانځه نیت جازم کولای
سی فلا وجه لصحة صلاته «م، در»

جواب دی خبری فائده داده که مقتدی
په دې خبر وو چې امام په دغو مفسدو کارو ډډه په مذهب کی خبر دی نو ده لمونځ
نه دی پسی صحیح بلکه مقتدی لکه سات چې تیروی. او نه ده لمانځه نیت جازم کولای
سی فلا وجه لصحة صلاته «م، در»

مسئله: که د مقتدی غالب گمان داوو چې امام اودس نه دی کړی اویا داگمان وو
چې د امام پر کالو نجاست مانع د صحت د لمانځه دی یعنی تر قدر د درهم نو خو اقتداء
به دی نه وی پسی روا. اوکه خو وروسته تر لمانځه مقتدی ته معلومه سی چې زما هغه
گمان پر امام باندی غلط وو نو داغه لمونځ خویه نه دی روا. ولی چې اعتبار د ده ظن
نه دی نه نفس الامر لره. بلکه بیره د کفر پر ستنه «ط، س، در»

مسئله: که په هغو کارو کی چې د مقتدی په مذهب کی مفسد وه اود امام په مذهب کی نه وه
لکن په وخت کی د اقتداء مقتدی د امام مقلد سو.

اویا په هغو کارو کی چې د امام په مذهب کی مفسد وه. لکن د مقتدی په مذهب کی نه وه
مفسد. لکن امام د مقتدی د مذهب مقلد سو بیا خو لمونځ او اقتداء صحیح ده» لاتحاد
معتقدهما. طحطاوی.

مسئله: که دوو کسانو نوماډلانو و مقتدی ته ووویل چې امام بولی وکړی او اودس په
نه کی تازه پر لمانځه وړیدی د مخه تر اقتدا او وخو اقتداء یه نه ده پسی روا او پس له
لمانځه څخه ووئ دغه لمونځ به مقتدی ړاگرځوی. **مسئله** که امام و مقتدیانو ته
ووویل چې یو یا دوه لمونځونه می بی اود سه د رکړی دی. نو امام عدل او نیه سړی وو.
قول دی ومنی او هغه لمونځونه دی راگرځوی. اوکه امام فاسق وو لازم نه ده چې دده په
خوله عمل کوی او لمونځونه ړاگرځوی. لکن مستحبه ده چې راوی گرځوی **مسئله** اوکه
مقتدی خبر سو د امام په لمانځه کی په یوه مفسد د لمانځه» لایجوز الاقتداء به اجماعًا ط»

قال

وَصَحَّ اِقْتِدَاءُ مُتَوَضِّئٍ بِمُتَيَمِّمٍ

او صحیح ده اقتداء د اودس والا
یعنی امام متیمم پسی صحیح ده په اتفاق د جنازې په لمانځه کی» مره او مبنی د دی خلاف پر دی
ده چې خلیفه والی د تیمم د اود اسه څخه پر څه سبب د شیخانو والی چې خلیفه والی په
مابین کی د آله د اود اسه چې او به اود آلی د تیمم دی چې خاوری دی. اود دوی آلی سره برابری
دی لقوله تعالی: فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا» نو اقتداء مذکوره صحیح ده.
او د امام محمد مذهب دادی چې خلیفه والی په مابین کی د طهارت تینو دی او د اشک نسته
چې طهارت ده متیمم خو کمزوری د تر طهارت د متوضی. ولی چې متوضی پښی پر یولی دی
اوپر سر یې مسح کړی ده. او متیمم صرف پر مخ او لاسو مسح کړی. نو په دغه اقتداء کی بناء
بناء ده قوی پر ضعیف لازمیږی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما آمین

قالَ ——— او صحیح ده اقتداء دغاسِل په مسح کوونکی پسی یعنی که
وَغَاسِلٍ بِمَاسِحٍ ماسِح دموزی وی اوکه سِکندی وی اوکه ماسِح دتوکړه
پریوی دانی باندی چی نوو غیره نه ځندی بهیږی «لِاسْتِوَاءِ حَالِهِمَا» ط»
پوه سه: چی ماسِح پرجبیره اولی دی ترماسِح دخُف (موزی) ولی چی مسح دجبیری
پرمنزله دغسل دماتحتها دی بخلاف الخف» چی مسحه یه نکه پریوله دپښی نه ده.
فائده کړدا پنځه ویښی یا نوونه وغیره مهیدل بیانودی معذور دی نو په
ده پسی اقتداء نه ده روا مگر دبل معذور چی دهغه غوندی وی یا تر ده
ادنی وی حالاً» ط» قالَ المصنفُ فی نور الایضاح:

وَقَائِمٍ بِقَاعِدٍ او صحیح ده اقتداء دولاړ سړی په ناست پسی. ولی بیهقی
په کتاب المعرفة کی روایت کړی چی الحضرت صلی الله علیه
وسلم دمرض موت په وخت کی دما پښین لمونځ ده شنبی په وړځ یادیکشنبی په
وړځ په ناستی خلگوته ورکړی اوخلگ ټوله ولاړ وه. اودد وشنبی په وړځ دسحار
لمونځ یه په ابوبکرٌ الصدیق رضی الله تعالی عنه پسی یو رکعت وکړی. اوده چی سلام وگرځاوه علیه
السلام داول رکعت قضاء راوړه. وَمَاتَ فِی ذالک الیوم صلی الله تعالی علیه وسلم» مراد
فائده: دامذهب د شیخینوٌ دی اوامام محمدٌ وائی چی اقتداء دقائِم په قاعِد
پسی نه ده روا. ومذهب الشیخین اولی واقوی دلیلاً کما مر فی الحدیث» لکن امام طحطاویٌ په حواله وبرهان
ته قول دامام محمدٌ احوط بُولی. وَاللهُ اَعْلَم بِالصَّوَاب قَالَ

وَبِاحْدَبٍ اوغه رنگه دواده اقتداء دولاړ په کوزه پشت سړه پسی. نوکه چیری
کبړ والی دده وحدته درکوع نه وور رسیدلی خواقتداء پسی روا ده په اجماع پرصحیح
مذهب. اوکی کبړ والی وحدته درکوع رسیدلی وومگړه چی به رکوع کوله. لبر به یه نور
هم ملاکبړه کوله نو په نیزد شیخینوٌ اقتداء پسی روا ده. اوداهو دی مذهب دعامو
فقهاو و وَهُوَ الاصح. وَقال محمدٌ لایجوز الاقتداء المذکور» امام زیلعیٌ شارح الکنز
وائی چې په فتاوی ظهیریه کښی وَاَنَّهُ وهو الاصح» واذا اختلف التصحیح یجوز العمل به

بکل من المذهبین قَالَ المُصنفُ:

وَمومٍ بِمِثْلِهِ اودغه رنگه صحیح ده اقتداء داشاره کوونکی په مثل سره ده
که دواړه امام اومقتدی لمونځ په اشاره کوی په ناسته. اوکه
دواړه په پروته کی اشاره کوی اویا امام په ناستی اشاره کوی اومقتدی په پروتی
اوعکس یه نه دی روا قَالَ المُصنفُ:

وَمُتَنَفِّلٍ بِمُفْتَرِضٍ اودا غه رنگه روا ده اقتداء دنفلی لمونځ کوونکی په فرضی لمونځ کوونکی پسی. ولی چی دا بناء ده
ضعیف پرقوی باندې. **سوال**: متنفل خوپه څلورو رکعتو کی قرائت وائی اوهم
ضم دسورت کوی. اوپر امام باندی په اولو دوو رکعتو کی قرائت فرض دی اوضم دسورت
واجب نه دی په اخیرو دوو رکعتو کی. واجاب عنه المُصنفُ فی المراقی بقوله وَصَارَ
تَبَعًا لِاِمَامِهِ فِی القِرَاءَةِ» یعنی دی دامام تابع وگرځیدی په قرائت کی: قَالَ المُصنفُ:

وَاِنْ ظَهَرَ بُطْلَانُ صَلٰوةِ اِمَامِهِ اَعَادَ اوکه ظاهر سو باطل والی د
لمانځه دامام یعنی په فوات دشرط یا درکن. نو اودی گرځوی خپل لمونځ. یعنی پر مقتدی لازم
دی نو راتگ په فرضوسره لِقوله علیه الصلوٰة والسلام: اذا فَسَدت صلوة الامام فَسَدت
صلوٰة مَن خلفه» قَالَ المُصنفُ:

وَاِذَا طَرَءَ المُبْطِلُ لَا اِعَادَةَ عَلَى المَامُومِ اوکه عارضی پیښ سو باطلوونکی
دلمانځه دامام نواعاده
نسته پر مقتدی «لکه چی امام نَعُوذُ بِاللهِ پس د جماعته ورکولو مرتد سی» اویا امام دجمعی
په وړځ وَخلگوته دما پښین لمونځ څلور رکعته په جماعت ورکړی. اویا امام دجمعی
دلمانځه وخواته روان سو مقتدیان نو ولاړه. نود امام دما پښین لمونځ خو باطل سو په
سبب دسعی دجمعی لمانځه تر اودمقتدیانو لمونځ پرځای دی نو اگر څوک په نسته»

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه؛ الناشر مکتبة القراءة والتجوید. کانسی روډ کوئټه

وَيَلْزَمُ الْإِمَامَ اِعْلَامُ الْقَوْمِ بِاِعَادَةِ صَلَاتِهِمْ بِالْقَدْرِ الْمُمْكِنِ

اولا زهره ده پر امام هغه امام چې دَه ته فساد دخپل لمانځه معلوم سو خبره وَل د قوم یعنی هغوی گمان چې په دې پسې د هغه لمونځ کړی وی په هغه اندازه چې امام ته ممکنه وي که سړی پسې استوی اویا کاغذ پسې لیږی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فِي الْمُخْتَارِ پـه مختاره مذهب کې ولې چې حضرت علی رضی الله تعالی عنه خلګوته لمونځ ورکړی. ورروسته وده ته معلومه سوه چې ما اودس نه درلودی، نو حضرت علی څه خپل لمونځ راوګرځاوه او خلګ یې هم امر کړه په راګرځولو د لمونځ. او هغه حدیث چې مصنف په مراقي کښې راوړی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم خلګوته لمونځ ورکړی، او بیا راغلی تر ویښتا نویې اوبه تویَیږه دلی یعنی غسل یې کړی وو بیرته یې لمونځ راوګرځاوه د صحیح کنا یوسره برابر نه دی.

چې په سنن ابی داؤد کې داسی راغلی دي. چې یو سحار رسول الله صلی الله علیه وسلم په لمانځه کې داخل سو یعنی تحریمه یې وویل او بیا خلګوته اشاره وکړه چې پرخپلو ځایونو اوسئ او بیا ورو ورو ته راغلی اوتر سر یې او بـه تویَیږه دلی نو جماعت یې ورکړی، او بیائی داسی وفرمایله: اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ، یعنی یوشی می هیر یږی: وَاِنِّیْ كُنْتُ جُنُبًا، یعنی زه جنب وم راوجنابت می هیر وو، اودی حدیث څخه خودا نه معلومیږی چې خلګوم په لمانځه شروع ورڅخه کړی وه. ولې چې ممکنه ده چې آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی پس له تکبیر تحریمه څخه بلا مهلته داخبره کړی وی. چې خلګو لا شروع په لمانځه نه وه کړی. او په مسلم شریف کې خو صریح داسی راغلی دی چې نه علیه السلام او نه قوم په لمانځه شروع کړی وه ولې چې د مسلم روایت داسی دی. فَاَتَى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم حتى قام فى مصلاه قبل ان يكبر قام فانصرف آه. وفى الدرايه لايلزم الامام الاعلام اذا كانوا قوما غير معينين. وفى الخزانة: لانه سكت عن خطاء معفوعنه وعن يخبر وان كانوا مختلفا فيه والفتوى على قول المُصَنِّفُ: مردر، ط

فَصْلٌ يَسْقُطُ حُضُورُ الْجَمَاعَةِ بِوَاحِدٍ مِنْ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ

شَيْئًا، ساقطیږی حضور د جماعت ته په یوه دا تلسو شیانو پـوه ســاه: چې مصنف مطلق حضور د جماعت د لمانځه وَوَایه. چې په دا تلو نکو شیانو کې چې ۸ اشیان دی ساقطیږی. یعنی که سړی جماعت پریږي دی ګناه ګار نه دی. د دی سبه چې د جمعی د لمانځه جماعت ته اود اختر د لمونځ و جماعت ته هم شامل سی. نو د جمعی دَورځې لمونځ خو خلور رکعته وکړی چې د ما پسې لمونځ دی. اود اختر و لمونځ نه عوض نه لري پاته سوه، ط، در، قال المُصَنِّفُ:

مَطَرٌ شَدِيدٌ وَبَرْدٌ وَخَوْفٌ وَظُلْمَةٌ وَحَبْسٌ وَعَمًى

اول ساقطونکی د جماعت سخت باران دی یعنی لږ ځاځکی ساقطونکی نه دي ۲ او یخ دی لکن مطلق

وَفَلَجٌ وَقَطْعُ يَدٍ وَرِجْلٍ وَسَقَامٌ وَاِقْعَادٌ وَوَحَلٌ

یخ نه دی. ۳ اوبل بیره ده د بښمنه څخه یا د غله څخه او یا پرکور باندی یا د سپو څخه ۴ اوبل تاریکه ده، ۵

وَزَمَانَةٌ وَشَيْخُوخَةٌ وَتَكْرَارُ فِقْهٍ بِجَمَاعَةٍ تَفُوتُهُ وَ

اوبل دادی چې سړی بندی وي. ۶ اوبل د وند والی دی، ۷ اوبل اَبلج دی، ۸ اوبل دا چې یو لاس

حُضُورُ طَعَامٍ تَتُوقُ نَفْسُهُ وَاِرَادَةُ سَفَرٍ وَقِيَامُهُ

یا یې پښه یې پرې وي. ۹ اوبل مریضی ده، ۱۰ اوبل دادی چې شل وی او پرکنه ناست وی، ۱۱-

بِمَرِيضٍ وَشِدَّةُ رِيحٍ لَيْلًا لَا نَهَارًا

اوبل دا چې په لاره کې ختی او چکړه وی. ۱۲- اوبل دا چې تلاوی نه سی ریږي دی، ۱۳، اوبل سپین پر د توب دی، ۱۴، اوبل دا چې د چا سره تکرار د فقه

کوی چی که دی جماعت ته ولاړسی هغه تکرار پاتیږی. ۱۵. اوبل داچی دوه دی حاضر سی چی دده زړه ډیر شوق ورته کیږی. ۱۶. اوبل داچی اراده دسفر لری. ۱۷. اوبل دادی چی دیوه مریض په خدمت بخت وی. ۱۸. اوبل دادی چی سخت بادوی لکن د شپی نه دوړځی،،

تشریح او توضیح

پیوه سله: چی دسقوط دجماعت معنا داده که سړه دیوه ړدغو ۱۸ عذرونه، سړی جماعت پریږدی گناه کار نه دی. او که سړه دعذره جماعت ته ځان ورسوی بیا ثواب وړلری. اول عذر چی باران دی دهغه په بارې کی په شرح کی د مشکوة شریف داسی ړاغلی دی چی راوی وائی چی مونږ ورسره دسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی دحدیبیه. نو پرمونږ باران شروع سو په داسی توگه چی زمونږ د چوتړو لاندی خوایه نه کړه لنده. نو یوه نعره کوونکی ناره وکړه دعلیه السلام لرخواخځه،، صَلُّوا فِی رِحَالِکُمْ،، تاسی لمونځونه په خپلو اوطاقو کښی وکړی،، نو دی حدیث شریف په زړه کی چی په بعض نسخو کی دنور الایضاح چی ما هم دا نسخه ړانقل کړیده. قید د شدید ضائع دی. اللهم الدان بفرق بین الحضر وَ السفر فتامل. اوپه دوهم عذر پوری چی برد شدید،، دی ملا علی قاریؒ په شرح کی دموطا حرّ شدید هم جوت کړی دی،،

پیوه سله: چی برد شدید اوحر شدید اندازه په ظن پوری دمبتلا به اړه لری، اودریم عذر چی خوف دی عام دی که دظالم څخه پر ځان ببریږی اویا پرمال ببریږی اویا مُوتر اوقافله ځندی ځی. که دی جماعت ته ولاړسی. اویا پردی ببریږی چی که زه جماعت ته ولاړسم کور ته به می غله ورسی. اویا یه ماینه اوکوچنیان ببریږی که دی دماخستن و لمانځه ته ولاړسی. او پنځم عذر چی حبس دی چی مظلوم وی ناحقه په بند کړی وی. اویا پوره ګړی بند کړی وی او

دی مسکین وی دپور دور کړی توان نه لری. اوکه غنی وو بیا پرجماعت نه کولو یه غاړی بند دی دی ولی خوپور دی وی اوکړی ځان دی خلاص کړی.

اوشپږم عذر چی پوند والی دی دحضرت امام اعظمؒ عذر دی که څه هم فائده لری ولی قدرت بالغیر ته اعتبار نسته. اویا ران وائی کی قائد ړلودی معذور نه دی پرترک دجماعت گناه کار دی،، او اوم چی فلج دی هغه هغه اندازه دی چی دی دفلج سړه تگ نه سی کولای. نوکی فلج صرف پرلاسوو پښی یه تیاری وی بیا دغه فلج عذر نه دی، اووم عذر چی یولاس یا یوه پښه به پی پری وی هغه دادی چی پری لاس اوپښه یه پریوه طرف نه وی چی ده داسی پری والی سړه د بغل پر ټکړی تگ ممکن دی، اوکه دواړه پریوه طرف وه هغه په طریق اولی عذر دی. ولی تگ ورسره مشکل دی. اوط قطع دیوی پښی هم عذر بولی. اوبل عذر چی ځکړدی معنا داده چی باران هم ودریږی. ولی چی دیارانو عذر خوتیر سُو. او ۱۳ عذر چی سپین ږیری توب دی داسی معین نه لری بلکه فقهاوو دومره قدر وائی دسپین ږیری توب دسببه دجماعت دتلو طاقت نه لری. اوهغه دانسانانو په بدنو پوری اړه لری. نه چی یه خپله اوس تقریباً د ۸۳ کالو یم لکن الحمد لله جماعت ته تگ راباندی تکلیف نه دی. او ۱۴ عذر چی تکرار د فقهی شریفی دی. مروائی چی. لانحو واللغة وهکذا الصرف وغیرها،،

نو دی څخه دا معلومیږی چی مراد فقه څخه دلته فقه مصطلح یوازی نه ده. بلکه علم عقائد اوعلم تفسیر اوعلم حدیث ته هم شامله معنی مراد ده،، اوامام باقلانیؒ چی داعذر په فقه مصطلح پوری خاص کړی دی لکن الاول اولی،، مر، ط ح، در،، لکن داخبره دی هم ستا په غوږ کی وی چی همیشه به په بهانه د تکرار د فقه شریفی جماعت نه پریږدی. اوکی داغسی کوله هغه معذور نه دی بلکه قاضی دی تعزیر ورکړی. اوشهادت یه نه قبلیږی. مگر نه که ده داعذر وکړی چی امام د مسجد. مبتدع دی یا وهابی دی اویا سلفی دی اویا په اصطلاح اهل حدیث دی چی داتوله مراعات د مذاهبونه لری. اویا مراعات دشرائطو اوده ارکانو دلمانځه نه کوی بیا معذور دی پرترک کی د جماعت،،

او پخلسم عذر چې حضور د طعام وُو. چې دونه اندازه وخت وی چې په لمانځه کې یې فکر په ډوډۍ کې وو. او حضور د لمانځه خُندی فوت کیدئ. **مسئله**: که سړی ډیر وږی وو خوتر هغو دی ډوډۍ نه راوړی چې جماعت کیږی. او که چیرې ډوډۍ راوړه سوه لکن دا سی خواړه وه چې کردی جماعت وکی هغه خرابیږی لکه شوربا. یا غوړه چې ډیره سړې ږدله. بیا هم دا عذر دی جماعت دی پریږدی.

مسئله: که په وخت کی د قیام د جماعت غولو، یا بولو یا باد ډیر په عذاب کی چې په لمانځه کی به د هغو په دفعه کولو اخته وو. نو اول دی هغه کار وکړی که څه هم جماعت خُندی فوتیږی. او ۱۶ عذر چې اراده د سفر ده مراد ادی چې په برابر ولو دا سبا بود سفر اخته وو چې جماعت ته په فرصت نه درلودی. او ۱۷ عذر چې قیامه د مریض دی د هغه معنا داده چې هغه مریض بل خوک سنځ خادم نه لری. او د ده په غیبوبت سره وهغه مریض ته ضرر رسیږی نو جماعت دی پریږدی او د مریض خدمت دی وکړی. قال

وَإِذَا انْقَطَعَ عَنِ الْجَمَاعَةِ لِعُذْرٍ مِنْ أَعْذَارِهَا الْمُبِيحَةِ لِلتَّخَلُّفِ

او چې سړی قطعه ښی د جماعت څخه په سبب د عذر د هغو اعذارو چې ده ته په تخلف د جماعت روا کړی وو **فائده**: نوکه د دغه سړی په زړه کی محبت د جماعت کولو وو لکن عذر وښه مانع سوه. قال المُصنف رح **يَحْصُلُ لَهُ ثَوَابُهَا** حاصلیږی یعنی د رب جل جلاله د خواځخه ثواب د جماعت د لمانځه ورکول کیږی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام «إنما الأعمال بالنيات ولكل امرئ ما نوىٰ» یعنی چې نیت د سړی کار خیروی لکن مانع بلا اختیار ورته پیښ سُو. نوکه څه هم هغه عمل د خیر و نه کی د خدای جل جلاله ثواب د هغه عمل د خیر ورکوی رواه البخاری، د م، ط ع، او امام عسکری روایت کوی په امثال کی او بیهقی هم په شعب الایمان کی روایت کوی. لکن وائی چې اسناد یه ضعیف دی والله چې هغه داخبره وعلیه السلام ته پورته کوله. «نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ أَبْلَغُ مِنْ عَمَلِهِ» او په بل روایت

کی، «خَيْرٌ مِنْ عَمَلِهِ» د م، ط، مقاصد حسنه، د ر د لیش وائی چې چونکه خدای جل سلطانه وښی اکرم صلی الله علیه وسلم ته جوامع الکلم ورکړی وی. نو دغه حدیث مبارک سره د اختصاره د لفظ څو معنا وو محتمل دئ. ۱۲ چې د جماعت په لمانځه پوری مربوط معناده هغه داده. یو سړی چې د جماعت سره یه محبت وو سره د خټو او چکړه چې عذر مبیح وو ده جماعت لمانځه ته د مسجد پرځوا روان سُو په لار کی وښوید ی خوږ سو کالی یه په خټو سوه خوبیا هم جماعت وکړی د دغه سړی ترعمل د جماعت دکور نیت او محبت خیر دئ. چې لمونځ یه کور کړی وای. ولی چې په هغه نیت او محبت سره خدائ ثواب ده ورکاوه. د دی خوښیدو او وښویدو څخه به هم خلاص سوی وائ.

یا مثلاً سپین ږیری چې عذر مبیح یه هم درلودی لمانځه ته د جماعت راوړتی او په لار کی ډیر زحمت پرتیر سُو. خو جماعت یه وکړی د دغه ترعمل د جماعت دکور نیت او محبت ابلغ دئ. ولی ثواب د جماعت بیله خطره خدائ ورکاوه. او یا مثلاً یو سړی سره د دې چې د بولو یا غولو څخه په تکلیف وو مګر بیا هم ځان تینګ کړی جماعت یه وکړی د دغه سړی ترعمل د جماعت هغه محبت او نیت یه خیر وُو. چې عذر یه ایسته کړی وائ او بیایه لمونځ تنها کړی وای. او یا مثلاً یو سړی د ډیرو باران سره سره مسجد ته روان سُو. پر لار ی یه کالی لاندې سوه چې ورسره په تکلیف سود د دغه سړی د پاره د جماعت ترعمل دکور محبت او نیت چې لمونځ یه ویاړی کړی وای خیر وو. ولی چې ثواب د جماعت خو حاصل وو ده کور په لمانځه کی. او د کالو لندیدو څخه هم خلاص وائ، «وهكذا الاعذار الاخر فتفكر فيها».

او دا هم احتمال لری چې دا حدیث مبارک د ی عام وی په خاصه موضوع کی د جماعت د ی نه وی. او په مؤمن کی لام د پاره د جنس دی. نو معنیٰ د حدیث مبارک دا سی ده چې نیت د یو جنس مؤمن ترعمل د بل جنس مؤمن خیر دی. لکن دا قضیه پر دی تقدیر مهمله ده په قوت کی جزئیه ده کلیه نه ده. مثلاً یو مؤمن یو نفلی خیرات ونه کوی. او یا نفلی حج ونه کوی او یا نور د دغه قسم څخه کار ونه کوی لکن د ریا او سمعې د پاره. بل مؤمن وی چې مسکین

وی د خیر اتو توان نه لری لکن نیت یه داوی چی که ما دنیا د لودلای مابه هم داسی خیر اتو
او نفل حجونه کولای. نو د غه مؤمن د غه نیت خیر دی ترهغه ریائی کار و د هغه بل مؤمن
ولی چی په نیت کی خو ریا نسته. او د ریا کار د عمل خیر ثواب نسته، او هغه مسکین د د غه
نیت ثواب خدای ورکوی. او یا معنی د خیر یت د ه نیت د مؤمن ترعمل د مؤمن دا د چی
نیت بی عمل صحیح دی په نفلی کار وکی او عمل بیله نیت ثواب نه لری. لکه یوسړی د وړ
غاړه په گړی کی مخ او پښی او لاسونه پری مینځی. او س یه هم لوند لاس تیر کړی د گړی
د سبه نیت د او د اسه یه نه وی. نو د دی سبب به د او د اسه ثواب خو یه نسته که خهم منفی
الصلوة خو دی، بخلاف د دی که د غه سړی نیت د او د اسه د پاره د ثواب کړی وای لکن
د او د اسه کم مانع و رته پلټل سی د نیت ثواب یه وو. والله اعلم بما اراده رسول الله صلی الله
علیه وسلم:

په زړه پورې بیان
د اهل السنة والجماعت د زړه ارمان

پوښتنه: چی په دی اوسو کلو کی یوه طالب علم یوه رساله ماته راوړه چی نوم یې
تحقیق العقائد، حاشیه شرح العقائد پر نوشته وو، طالب علم خو مطالعه کړی
او هغه بعض ځایونه چی مصنف د رسالی پر علامه تفتازانی او پر مفتی الثقلین عمر النسفی
او بلکه پر ما تر ید یه وو او اشاعره وو. او پر ما یه هم حکم د مشرک کړی وو. د ې طالب نبانی
کړی وه. نو ما چی مطالعه کړه نو له رساله حیران ورته ولاړم چی د اځونه جسور او
بیوقوف انسان دی چی پر دی دوو لویو د لو د اهل السنة والجماعت یعنی ماتریدیه
او اشعریه وو څونه په بیباکی او بی شرمه توگه اعتراضونه کړی دی. او هیڅ د خدای
جل جلاله څخه نه دی شرمیدلی. نو د ما نه سړو می فکر و اهه چی د دی رسالی په باب کی
سړی خه باید وکړی اخیر الامر یې مشوره د بعض شاگردانو د ا رایه راته پیدا سوه چی

د دی رسالی باید رد او جواب وسی. ولی چی د ی خائن مصنف پر دی رساله نوشته
کړی وه، تحقیق العقائد حاشیه شرح العقائد، نو هم هلا او طالب د اگمان کید ی چی
په دی رساله کی به د عقائدو د اهل السنة والجماعت شه تحقیق وی، او د شرح العقائد
مسئلا تو به شه حل په کښی وی. ولی چی معنون یه چا ته نه وو معلوم، نو بعض ملایانو
او طالبانو هغه رساله را نیول و روسته چی مطالعه کړه سوه پوه سوه چی دا رساله خو یه
حقیقت کی، افشار العقائد ده، او د شرح العقائد هیڅ حل نسته، په کښی بلکه د
شرح عقائد تخریب ده، او زما مشا و رینو ما ته مشوره جدی را کړه چی که د دی رسالی جواب نه نوشته
نه سی. نو د دی جاهل حوصله نوره بلنده کیږی او خپلو تا بعانو ته بوائی چی وگوری زما
د رسالی عقائد او احکام حق وه که هیڅ سنی عالم ما ته جواب نه کړی را. که خهم دا مثل د ی
چی سپی به غاړی لکن قافله د ی تیریږی، لکن چی سپی د یر غاړی هغه سپی باید یو څو
پیری سړی پر سر وو لی نعچونکه ما یه د غوښتو او وځو کی پر عبد الحکیم د خیالی حاشیه
کوله هغه چی مقام د رس ته د سیدله، او په تو ورقو کافی بیاض پاته سو نو پر هغو ورقو
می په عربی ژبه یوه مختصره حاشیه شروع کړه او د دغی رسالی غلبی ما تو نکی جواب ونه
ور کړه.

او د ای اراده وکړه چی ان شاء الله العزیز چی د تر جمی څخه د نور الایضاح فارغ سوم نو یوه
غټه رساله بلکه لوی کتاب د د غی رسالی په جواب او رد کښی ولیکم تا چی د اهل السنة والجماعت
او د مقلدانو د څلورو مذهبو او د عقیدت مند انو د څلورو مذهبو، طریقو، د تصوفو
بزرګانو په خبر ته سی. **پوښتنه**: مصنف د دی رسالی څوک د ی او څه یه مذهب د ی
جواب: نوم خو یه امین الله د ی او د پیښور د خواد ه او په مذهب یه خبر نه یم
البته د رسالی د عقائدو څخه ئی دا معلومیږی چی یا به وهابی وی، او یا به پنجپیری وی
او یا به سلفی وی او یا به نام نهاد اهل حدیث وی. نو اوس په طور د هشت نمونه خروار
د دی رسالی بعض ځایونه په گوته کوم. لکن په دیر اجمال سره ولی چی تفصیلی جواب یه
حاشیه کی چی پر خپلی ما نوشته کړیده موجود ی د ی. او تر هغو مفصل غایة التفصیل په

لویه غټیر رساله کی د دې ویش مطالعه کړی ان شاء الله، نو واوری چی شارح العقائد په
ابتداء کی د خپل کتاب داسی حمد وئیلی دی، الحمد لله المتوحد بجلال ذاته، آه.
مصنف د رسالی وائی چی دا د مسلمان کار نه دی چی ماثور حمدیه پریښو او دا مخترع حمد
یه ووایه الخ. **جواب** چونکه ته د دغه عبارت په تحقیق نه پوهیدی لکه چی مولوی
خیالی او عبد الحکیم لاهوری کړی دی نو ځکه پردی حمد داغه بیبا کانه سوال وکړی، اوبل
جواب دادی چی دا خو نوی اخی پر شارح العقائد سوال نه دی بلکه ټولو کتنا بو که ده تفاسیرو
وی او که د فقهی وی او که د حدیثو او که د نورو علوموو وی، سوال دی. ولی چی په ټولو
کی د پنځو کتنا بو په اول کی ماثور حمد نسته، د ده د الفاظو څخه داسی فهمیږی چی
شارح العقائد او نور و کتنا بوالا په دی حمد و کی د مسلمانی څخه وتل. نعوذ بالله
من ذالک، او د جاهل لکه چی په کتنا بو کی دانه ده لیدلی. چی حمد په هر کتاب کی جزء د هغه
کتاب دی او هر مصنف اختیار لری چی په څنګه الفاظو چې حمد وائی وئیلای شی،
نو ده رساله والا د غه خبره د مسلمانو د اجماع څخه خلاف ده، امین الله چی شارح تفتازانی
چی حمد ماثور به پریښو کی څه هم حمد خوبه وئیلی دی د اسلام څخه وایستی نو دی به بخاری
او ترمذی په باب کی به څه وائی چی هیڅ حمدیه هم نه دی وئیلی. او بیا امین الله د علامه
تفتازانی په باره کښی لیکلی دی چی د باطنیو د فرقې څخه وو. معاذ الله، دی جاهل
باطنیه د له پیژنی کی هسی پرخوله ور غله، په روح البیان کی وائی چی باطنیه یودله
ده چی په اجماع د علماءو ده اسلام کافران دی د هغو مذهب دادی چی په قرآن شریف
کی مثلاً د صلوٰة او زکوٰة وغیره معانی مراد نه دی یعنی لمونځ او د مال زکوٰة وغیره لکه
علماء د ظاهر چی وائی بلکه یا صفائی د زړه، وغیره چی په بعض وطنو کښی اوس هم دغه
دله سته چی نه لمونځ فرض بولی او نه کوی. وهکذا سائر الاحکام چی په اصطلاح دوی
هانوته ذکران بولی،
او بیا امین الله لیکلی دی چی پر شرح عقائد ترسلی حاشیه او شرحو باندی سوی دی لکن
هیڅ څوک په حقیقت نه دی پوه سوی. نه وایم امین د دیره غټه دعوه وکړه چی سل

علماء چی دیر نامورې علماء هم په کښی دی شرح عقائد په زیغ او ضلال نه سوه پوه.
خو یو امین دی چی په دی زیغ پوه سو. نه حیران یم چی ده نړده کړه چیری وکړه، او امین
بیا تاریخ د عمر نسفیؒ چی په مفتی الثقلین سره مشهور دی لیږی دانس وجن مفتی، چی
تولو تاریخونه دده لوی علم بیان کړی دی. نو امین وائی چی دی حنیفی المذهب وو لکن
د سلفو پر لار نه وو برابر، نوزه دامین څخه پوښتنه کوم، چی سلف څوک دی چی عمر
النسفیؒ د هغو پر لار برابر نه وو. ایا ابو حنیفة النعمانؒ الامام الاعظم سراج الامة المرحومة
د سلف صالحینو څخه نه وو. البته دی بر وائی چی سلف صالحین خو ابن تیمیه الحرانی
او ابن حزم الظاهری او محمد بن عبد الوهاب النجدی وغیره هم دی.
نوزه وایم چی عمر النسفیؒ بیشکه د دغو سلفو پر لار برابر نه وو هغه د اهل السنة و
الجماعت ستر پیشوا وو په خپله زمانه کی. او بیا امین په بحث کی د کلام لفظی او نفسی لیکلی
دی، لقد ضل الماتریدیة والاشعریه، آه نه وایم چی ماتریدیه او اشعریه د اهل سنتو
دوی لوی ډلی دی تر نه شرمیږی چی نسبت د ضلال ورته کوی. او د اهل السنة والجماعت
څرنګه پته خوله وتا ته ناست دی. او بیا ده په مسائلو کی د صفاتو لیکلی دی چی دغه
آیتونه، یَدُ اللهِ فَوْقَ اَیْدِیْهِمْ، اَلرَّحْمٰنُ عَلَی الْعَرْشِ اسْتَوٰی، کُلُّ شَیْءٍ هَالِكٌ اِلَّا
وَجْهَهٗ، وغیرها. د ظاهری معنی څخه اړول دیر غلط کار دی. د دی خبری څخه دده دا
معلومیږی چی دی د مجسمه وو د ډلی دی چی خدای پاک جسم بولی. او ده ته جهت
او مکان وائی، معاذ الله، لکه د ابن تیمیه حرانی او محمد بن عبد الوهاب النجدی چی هم
دغه مذهب وو.
او بیا ما د شرح العقائد په صـ۱۲۲ په یوه حاشیه کی د اهل سنتو والجماعت یو څو عقائد
بیان کړی دی. نو امین هلته داسی عبارت لیکلی دی، لقد شرع القندهاری فی تشریکاته
نه وایم ده امین بنیظام ارکافرم خواند چراغ کذب نبود فروغی، مسلمان خوانمش زیرا که نبود مکافات دروغی جز دروغی
هغه مسئلی دادی. چی په زیارت کی یعنی د اولیاء کرامو او د صالح دبندګانو چی مړه وی که
د مسافت څخه سفر وی او که نږدی وی هم مړه ته او هم ژوندی ته فائده ده. امین لیکلی

دی چې سفر کول وزیارت ته حرام او شرک دی. کرخه هم زیارت د رسول الله صلی الله علیه وسلم وی بلکه مدینې منورې ته چې څوک سفر کوی په نیت د لمانځه په مسجد نبوی کی به سفر کوی. د دی مسئلی اثبات ماپه تفصیل سره په هغه رساله کی کړی دی چې پر حاشیه د خیالی ده بلکه د ځلورو مذاهبو اربعه وو واړه چې زیارت د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته سفر کول مجمع علیه مسئله وه ترڅو چې ابن تیمیه پیدا شو. هغه حکم د حرمت او شرک پرو کړه. او بله مسئله ما نوشته کړی ده چې سماع الموتی حق دی. اوبی عائشه چې اولاً یې انکار کاوه رجوع ثابته ده چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم نوزه وایم چې په مدینه منوره کی چې مواجهه شریفې ته د آنحضرت صلی الله علیه وسلم حاجیان یا نور زیارت کوونکی ودریږی او وائی السلام علیک یا رسول الله آه دوی نداء او خطاب چې سماع نه وی خه فائده ده! اوداغه رنګه السلام علیک یا سیدنا ابی بکر صدیق رض آه یا سیدنا امیر المؤمنین عمر رض آه خه فائده او خه معنی یه ده. او بله داچې په صحیح حدیث کی راغلی دی چې نبی علیه الصلوٰة والسلام به جنة البقیع ته ورتلی او داسی به ویلیل: السلام علیکم یا اهل القبور من المؤمنین انتم سلفنا ونحن بالاثر نوچې سماع الموتی نه وی د خطاب خه فائده لري. او نور تفصیل د دلایلو د علماء دیوبند د مدرسی او د نور و صحیح حدیثو څخه ما هوری نقل کړی دی. اوبل مالیکلی دی چې نداء په لفظ دیا رسول الله د غائب سړی څخه روا ده. اوداغه رنګه و اولیاء الله الاموات ته غائبانه نعره روا ده. امین جاهل ویلی دی چې دا شرک دی. نوزه وایم که دا شرک وی خوته په لمانځه کی وائی، السلام علیک ایها النبی آه نو دا خو هم غائبانه نداء ده ورسول الله صلی الله علیه وسلم ته د جاهل شاید کافیه نه ده ویلی چې په کافیه کښی وائی: وإذا تودی المعرف باللام قیل یا ایها الرجل آه دلته هم نداء ده مګر حرف نداء یه محذوف دی: لکه: یوسف أعرض عن هذا: نو چې په لمانځه کی غائبانه نداء روا ده نو خارج الصلوٰة ولې یا رسول الله شرک دی: برین عقل ودانش بباید گریست: اوبل مالیکلی چې محبت سره د احیاء د خدائ او د صالحانو بنده گانو د خدائ جائز دی بلکه مندوب دی.

امین جاهل لیکلی دی چې محبت کول د غیر الله سره کول شرک دی، زه وایم چې په حدیث صحیح کی راغلی دی چې حضرت عمر رض یوه ورځ و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ووئیل والله لأنت لأحب الناس إلیّ سوی نفسی التی بین جنبیّ: علیه السلام ورته ووئیل لا یا عمر رض ورته وویل لا. مه والله الآن انت احب إلیّ من نفسی ایضا علیه السلام ورته ووئیل الآن یا عمر: نو علیه السلام خو هم غیر الله دی. ده جاهل لیکلی دی چې محبت د اخوت خو روا دی. ما ته وائی چې ستا مراد خو محبت د معبودیت دی. زه ورته وایم ای جاهله څوک علیه السلام، یا نور د خدائ دوستان مقبولو بولی. او ته خرنګ د علم غیب دعوه کوی چې ستا په زړه کی محبت د معبودیت دی.

او په بل حدیث کی راغلی دی چې علیه السلام امام حسن رض او امام حسین رض په غیب کی وویل او بیا ئی ووئیله: اللهم إنی احبهما فاحبب من یحبهما آه. نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم خو بنکاره کړه چې زه د حسن او حسین رضی الله تعالیٰ عنهما سره محبت لرم نو دوی خو هم غیر الله وه. نو امین جاهل په دی حدیث کی خه وائی. البته دی به وائی چې محبت د اخوت وُود معبودیت نه وو. نوزه وامین ته وایم چې محبت په دا دوه قسمه کی غلط دی یو بلکه دی نوعو ترمابین عرض عریض ستة، اهل ته وګوره چې محبت د پلار دزوی سره وبالعکس او د میړه او د مایني ترمابین وغیره صرف د اخوت اسلامی له سببه دی که وایه هُو خو د رواغ وائی. ولی بیګانه خلګ خو هم اخوت اسلامی د سړی سره لري او یا پردی بنځه مسلمانه خو هم اخوت اسلامی لري نو دا ټوله محبتونه سره یو شی دی: کلا و حاشا! او که وایه چې دا محبتونه د معبودیت دی نو بیخی بنکاره د رواغ دی.

او ته فکر وواهه چې ستا محبت د ابن تیمیه الحرانی سره د پردی او که د صاحب هدایه سره مثلاً د پردی. نو خو ته محبوب ئې چې وایه به چې د ابن تیمیه سره می محبت د پردی. نوزه وایم چې صاحب هدایه خو هم په اخوت اسلامی کی داخل دی. نو د ابن تیمیه محبت چې بالادی ستا پر مذهب نو هغه ربوبیت دی او که څنګه! **پوه سی** خوانندګان محترم چې د دی ټولو مذهب او مسلک دادی چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره

فقط دومره محبت پکاردی لکه دورور دبل ورور سره. استغفرالله العظیم ونعوذ
باالله مین مذهبیکم: چې تاسی سید المرسلین شفیع المذنبین صلی الله علیه وسلم
ته صرف اوصرف دیو ورور درجه اوحیثیت ورکړی. مونږ خو اسی وایو سه
لایمکن الثناء کما کان حقه: بعد از خدا بزرگ تولی قصه مختصره: اومونږ په حضرت شریف کی اوپه
عالم غیب بوبت کی وایو الصلوٰة والسلام عَلیكَ یا حبیبَ الله الی غیر ذالك. اودامو
ایمان دی چې دا زمونږ سلام وَعلیه الصلوة والسلام ته رسیږی دملکو په ذریعه د
نور الایضاح صـ۱۸۷ کی وَائی لما کانت زیارة النبی صلی الله علیه وَسلم: من احسن القربات
واحسن المستحبات بل تقرب الی درجة مالزم من الواجبات فانه صلی الله علیه وسلم
حرَّضَ علیها وَبالغ فی الندب الیها ه
فقال مَن وَجَد سعةً یعنی طاقت ولم یزر نی یعنی نما زیارت وکی فَقَد جَفانی «تو
زماسره یه بیوفائی وکړه: وَقال علیه السلام من زار قبری وجبت له شفاعتی « امین
وګوره چې علیه السلام قبر وولیه اوکی مسجد ذکر کړی. البته امین به وائی چې دمذهب شافعی
قاضیخان بحر رائق، شامی وَغیره نه مَنم. ترمانه دنور الایضاح خبری کوی. اودحدیثو
په بارهٔ کی خوامین پیر دلاور دی. دا به وَوائی چې داحد یثونه تهوله مَوضوعی دی لکه
ددوی مسلک همداغه دی چې ددوی دمسلک مخالف حدیثونه یا ضعیف بوُلی او
یامَوضوعی: اوبله خبره چې ماپه حاشیه کی دشرح عقائد لیکلی چې هَمیشه توبه پرامر
مستحسن سنه کاردئ. جاهل امین لیکلی دی چې دادوام بدعت دی. عاصی ودی جاهل نه
وائی آیا تا تفسیر دآلوسی بغدادی پوره مطالعه کړی چې هغه صورت ملك باندی
همیشه توبه کاوه. اوهره شپه بلا ناغه په سورت ملك وایه. اوپردی فعل خپل به
دخدای پاك حمد وثیلی دی چې ماته توفیق ددی همیشه توبه راکړی دئ. اوسره
ددی چې تلاوت دسورة ملك خودَ واجبا تو څخه نه دی بلکه دمستحسنا تو څخه دی نو
آلوسی څنګه پردی بدعت باندی ستا په عقیده حمد دخدای جَل شانه وایه « اودَغه
اودغه حدیث څرنګه دی چې په بخاری شریف کی راغلی دی چې حضرت بلال همیشه توبه

کاوه پر اوداسه. اوچې اودس بې مات شو نوبې ځمدستی بل اودس تازه کاوه. اورسول الله صلی
الله علیه وسلم ددغه دغه کار څخه مبن یاد کړی دی. اواولیاء الله اوصحابه وو اوصلحاؤ دامت
مرحومه همیشه توبه کاوه پرصلوٰة تیجد اوسره ددی چې دتهجد لمونځ خودواجبا تو څخه
بالاتفاق نه دی [illegible] کړی [illegible] البته حنفیه
مراتبو صروړدی چې فرض عمل به سری فرض بولی. اوواجب به واجب بولی. اومستحب مستحب
بولی. همکه یوتا عمل [illegible] کړونش مراتب مثل نه دی
نوددی قسمه څخه دعاء بالاجتماع چې ثبوت دشارع څخه دی سنته. اواقرب واجابت نه هم
ده. اوامر حسن هم وی. نوپه دوام کی څه بدعت دی. نَعَم کی خوك کاهی ندوکی ملامتیا
وربا ندی نسته ولی چې همیشه وَائی سُنت نه دئ.

فتوی

داستاذ کل، په زمانه کی، اومحدث جلیل پَه وخت کی یعنی المولی قطب الدین
غوځتوی رحمة الله علیه دوهابیانو، پنجپیریانو، سلفیانو اونام
نهاد اهل حدیثو په بارهٔ کی، چې ددی څلورو دلو منبع دئ. یعنی متابعت دابن تیمیه
الحرانی، محمد بن عبد الوهاب النجدی، اوابن حزم الظاهری، اوابن قیم، ددغه لوی شیخ الحدیث
الفاظ په اردو ژبه داده. اول شیخ الحدیث حمد دخدای جل وعلا په قرآنی آیاتو سره وثیلی
دی اوبیا وائی « فقیر قطب الدین غورغشتوی بخدمت اهل اسلام عموماً وبخدمت اهل السنة والجماعت خصوصاً
عرض پرواز ہے کہ اگرچہ سبھی سلف درین باب کافی ہے یعنی ان فرق کے رد میں « لکن تبذکر غریزان اخوان اسلام
کیلئے اتفاق ضرورت پڑی. تاکہ عوام جدال اور قتال سے محفوظ رہیں تو میں یوں کہتا ہوں کہ اتباع محمد بن عبد
الوہاب النجدی، اور ابن تیمیہ حرانی، اور ابن حزم اور ابن قیم جن کے عقائد یہ ہے:
۱۔ قبر انور رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم کو صنم اکبر (یعنی بڑا بت) کہتے ہیں. ۲۔ اور اپنی آپ کو موحد بنا کہتے ہیں۔
۳۔ اپنی مخالف کو مشرک بتلاتے ہیں ۴۔ یا رسول اللہ کہنا شرک ہے ۵۔ زیارۃ قبور بعیدہ حتی اسفر کر زیارت
قبر منور حضرت صلی اللہ علیہ وسلم کو حرام اور ناجائز کہتے ہیں. ۶۔ اولیاء اللہ الکرام کے ارواح پر ایصال ثواب حرام ہے۔
۷۔ اور کسی ولی کو کوئی کرامت بعد الموت نہیں ہے۔ ۸۔ اور توسل بجاہ جل جلالہ نبی کے واسطہ ہو اور یا ولی کیساتھ
ہو حرام ہے وغیرہ وغیرہ۔ اہل السنۃ اور جماعت سے خارج ہیں۔ اگر کسی کو مزید تحقیق درکار ہو تو فقیر کے ساتھ ملاقات کر سکتا ہے

اودہم، "لَا اِکْرَاہَ فِی الدِّین" کیوجہ سے ان پر تعرض نہیں کرتے ہیں. لکن ترک موالات ان لوگول کیساتھ ہم کو اختیار ہے. وَاللّٰہُ یدعوا الی دارالسلام ویھدی مَن یشاء اِلی صراطٍ مستقیم" مولوی قطب الدین غورشتوی بقلم خود، اوپر فتوٰی دمولوی صائب د پیرو علماوو د پیښور مردان، امضاء گانی موجودی دی.

د اړولیس معذرت

کہ چیری زه د امین جاهل تولې خرافاتی رانقل کوم اوبیا جوابونه ورکوم نو اصلی مطلب چی شرح د نور الایضاح دی ډیره به لیری سی. نو د اخو خبری په طور د مشت نمونه خروار، بیان سوی ولی چی تفصیل دده د خبرو اوجوابونو پرها مش (حاشیه وو) کی د خیالی وگوری چی هوډ او د طبع کولو ته نه دیده" اوغایة التفصیل بیا ان شاء اللّٰہ العزیز زهاپه لویه رساله کښی چی په هغه کی لفظ به لفظ او مسئله په مسئله به د غه امین ته جوابونه ورکړم اِن شاءَ اللّٰہ العزیز وَاللّٰہُ وَلی الفضل وَالانعام"

فصلٌ فِی الاَحَقِ بِالاِمَامَةِ وَترتیبُ الصُّفوفِ

دا فصل دی په بیان د هغه چا چی احق وی په امامت سره او په بیان کی د ترتیب د صفوفو

پیوه سله: چی دا فصل په سبب د عدم اعتناء د ملایانو نو او د خلگو په مراعات کی د صفو د لمانځه د پرده غورکولو او بیا د عملی کولو د پاره مهم فصل دی" قَالَ المُصنِّفُ:

اِذَا لَمْ یَکُنْ بَیْنَ الحَاضِرِیْنَ صَاحِبُ مَنْزِلٍ وَلَا وَظِیْفَةٍ وَلَا ذُوْ سُلْطَانٍ

کہ چیری نه وو په مابین د حاضرو خلگو کی د کور خښتن، او یا وظیفه دار سړی لکه امام المسجد او د غه رنگه نه خاوند د حکومت

پیوه سله: چی مراد د صاحب المنزل څخه هغه سړی دی چی په دی کور کښی او سیږی که مالک د کور وی، او که په کرایه یکښی پروت وی. او یا مالک عاریةً ورکړی وی. او مراد د وظیفه والا څخه امام المسجد دی. که بانی د مسجد د ولی وی، او که قوم په مشوره مقرر کړی وی"

مسئله: صاحب المنزل او امام المسجد ترتیولو حاضرو علماوو احق په امامت دی که څوک هم په دی نورو علماوو کی تر ده افقه او اقرء او اورع او افضل موجود وی. نو بیا هم صاحب البیت او امام المسجد اختیار لری که پخپل امامت ورکوی. او که په نورو ملایانو نوکښی څوک د مخه کوی او دا هم لازم نه ده، او دا هم لازمه نه ده چی دوی به په دی نورو ملایانو نوکی خامخاه افضل د هغو یا اقرء یا اورع د مخه کوی. ولی چی امامت د دوی حق دی هر رنگه تصرف په کښی کوی ورته روا دی. لکن بیا هم صاحب البیت ته دا افضل کار دی چی بل افضل افقه، اورع، اقرء عالم د په دغه کړی او پوه سړی چی مراد د ذوسلطانه څخه پادشاه، یا نایب د هغه یا قاضی د محکمی دی.

مسئله: ذوسلطانه کی حاضرو د هغه ترتیولو احق با الامامت دی. حتی تر صاحب البیت او تر امام المسجد هم، ولی چی د هغه ولایت عام دی"

امام بخاری روایت کړی دی چی ابن عمر رضی اللّٰہ تعالی عنہما به په حجاج بن یوسف پسی لمونځ کاوو وکفی به فاسقًا" او هغه خبره چی امام طحطاوی د بنایه څخه نقل کړیده: چی وائی چی تفصیل د ذوسلطان پرنورو علماوو په تیرو زمانو کښی وو، ولی چی والیان تول عالمان وه او غالب به صالحین هم وه. او زمونږ په زمانه کښی دا حکم نه دی. ولی چی والیان د حکومت او امیران، ظالمان، اوجاهلان دی آه.

دا خبره د فوق الذکر حدیث څخه د بخاری خلاف ده. ولی چی عبد اللّٰہ بن عمر څه تر حجاج بن یوسف هم اعلم په کتاب اللّٰہ سره او په سنت د رسول اللّٰہ صلی اللّٰہ علیه وسلم او هم اورع او افقه وو تر حجاج بن یوسف او صحابی او ابن الصحابی وو بیا به هم په حجاج بن یوسف پسی ده جماعت کاوه. چی د حجاج بن یوسف په ټباره کښی په عربو کی مشهوره خبره ده چی دوی وائی که د دنیا د ظالمانو تول ظلم سره یوځای کړه سی. او په ورځ د قیامت په یوه پله کښی د تر انرو کښینوول سی. او د حجاج بن یوسف ظلم په پله پله کښی کښینوی د حجاج بن یوسف د ظلم

پله به پرده نه وی، اود غه رنګه امام بخاری روایت کړی دی چې څه وخت چې امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه د باغیانو د خوا څخه په کور کښې محاصره سو، او په مسجد نبوی صلی الله علیه وسلم کې د باغیانو امام لمونځ ورکاوه. یو صحابي ؓ په پته د حضرت عثمان ؓ کور ته ورغلی اوده ته یې ووې چې امام عامر خو تاسې یاست، او بیرته ناباندې د ابلاغ نازله سوه چې په کور کې محاصره سوی چې د مسجد د امامت دپاره هم نسی راوتلای اومونږ ته د امام د باغیانو لمونځ راکوی نو مونږ لمونځونه پسې کوو کنه! حضرت عثمان ؓ ورته وفرمایل چې لمونځ دیر ښه شی دی، نو خلګ چې ښه کار کوی ورسره کوی یا ستاسې خوله چې بد کار کوی په هغه کښې ګډون مه ورسره کوئ. او سره د دې چې د دغې فتنې په وخت کښې اصحاب کرام ؓ ډیر موجود وه. او په هغه امام الفتنه پسې لمونځ کاوه نو **پوښتنه** داده چې ایا اصحابو علیه السلام اعلم او اورع وغیره ترامام الفتنه نه وه. لکن چونکه باغیانو واګې د حکومت پخپل لاس کې واخستې او د حضرت عثمان ؓ د خلافت او امارت هیڅ امید نه سوپاته. نو ځکه صحابه ؓ وو کراموپه دغه باغي ظالم امام پسې لمونځونه کوله، **واللہ اعلم:** قال المصنف:

فالأعلم أحق بالإمامة نو چې ډیر خبردار وی حق دار ه دی په امامت سره.

پوه سه: چې مراد د اعلم څخه هغه سړی دی چې په احکامو د لمانځه از روی صحت وفساد وغیرهما خبر وی. او چا چې وئیلی دی چې اعلم په فقه شریفه او د احکامو د شریعت وی دهغه هم مراد احکام د لمانځه دی. ولې خبر تیا په احکامو د زکوة، روژې، حج وغیره په لمانځه کې ورته حاجت نه شته، او په مراقي الفلاح کښې وائی چې د غه سړی به چې امامت ورکوی مجتنب به وی د ظاهره کبیره ګناهونو څخه. او د غه رنګه بې پروا وی هغه قدر د قرآن مبارک چې سنت قرائت په پوره کیدی کې مقداره فی کل صلوة، او حفظ د قدر مفروض د قرائت خو شرط د صحت د لمانځه دی کمراو حفظ د قدر مسنون شرط د کمال د لمانځه دی».

اختلاف الأئمة امام شافعی، او امام ابو یوسف وائی چې اول درجه اقرء لره ده.

چې د قرآن اقرء وی یعنی چې حروف د قرآن عظیم پخپلو ځایونو کې ادا کولای سی او فتوی او اعتماد پر قول د امام اعظم ؒ او امام محمد ؒ دی په دلیل د دې چې قرائت ترخو ضرورت په ادا کښې د رکن والا دسته، او فقه شریفه ترپنځو ته یې ټولواړ کانو، واجباتو، او سنن او مستحباتو کې ضرورت سته. نو د علم فقه درجه ترپورته د اقرء نوره ده. لکن

پوه سه چې تقدیم د اعلم هلته دی چې دد ې عالم الفقه په قرائت د قرائت لمونځ نه فاسدیږی او که دده په قرائت په اتفاق لمونځ فاسدیږی بیا دی اقرء د څخه وی یو مثال یو وخت د څخه وو. نو قرائت یې داسې وایه: اقرء باسم ربك الذی خلق، خلق الإنسان من علق «وعلی هذا القیاس» قال المصنف:

ثم الأقرء، ثم الأورع، ثم الأسن، ثم الأحسن خلقا

پوه سه: چې مراد د اقرء څخه هغه سړی دی چې په احکامو د قرائت او په مخارجو د حروفو نه خبر وی. دانه دی مراد چې د پورته یا ټوله قرآن کریم یاد وی. کرخي هم بعض علماء ودوهم روته تللی دی. لکن د محقق ابن الهمام شاګرد په زاد الفقیر کې اول ته ترجیح ورکړی ده وعلیه الفتوی».

پوه سه: چې د دوهم درجه تر تقوی پورته ده. ولی چې تقوی یواځې د محرماتو څخه پرهیز کول دی. او ورع داده چې شبهاتو څخه هم پرهیز کوی. او اسن هغه چا ته وائی چې په عمر کښې مشر وی. یعنی کردو کسه په علم فقه کې او قرائت کې سره برابر وه بیا په دوی کې چې مشر وی هغه دی لمونځ ورکړی. په حدیث کې د بخاری راغلی دی چې داسې دوو کانو ته چې یو مالك بن الحویرث وو، او بل دده ملګری وو، چې یو ځای یې د علیه السلام څخه احکام او قرائت زده کړی وه. نو په وخت کې د رخصت ورکولو علیه السلام داسې ورته وفرمایله چې د لمانځه وخت چې راسی فلیؤذن أحدکما ولیؤمکما أکبرکما».

پوه سه: چې د دې حدیث څخه داسې معلومه سوه چې مراد اسن څخه هغه څوك دی چې په عمر کښې مشر وی. او بعض فقهاء وائی چې د اسن څخه مراد هغه دی چې اسلام

یعنی اول مخکښی راوړی وی نو بناء علی هذا یوسړی چې سپین ږیری وی ایمان راوړی
او بل ځوان وی د کشښی والی څخه مسلمان وی احق په امامت سره هغه ځوان دی، لکن پردی
فقهاوو داسوال واړیږی چې که دواړه کسان قدیم الاسلام وه منګر یو مشروع د دې
حال خو دوی پر مذهب نه سو معلوم، نو ښه داده چې عبارت دکتاب داسی وائی ثم الاقدم
اسلاماً ثم الاسنّ، نو ښه دوی مرتبې ګرځیدلی وای، کذا قال الامام الطحطاوی رح۔

ثُمَّ الْأَحْسَنُ وَجْهًا

او بیادی هغه سړی د مخه کوی چې بنه شسته او نورانی مخ یې وی یعنی د مخ اجزاء یې متناسب وی۔ **پوه سه:** چې مضمون
په تقدیم کې د حسن الخلق پر احسن الوجه متابعت کړی دی د مواهب الرحمٰن او فتح القدیر
او صاحب الخلاصة او غنیه والا او ملا مسکین حسن الوجه تر حسن الخلق مقدم ګڼلی دی
وجه او دلیل یې دادی چې سید سند وائی حسن ظاهر په اغلب کښی پر حسن باطن دلالت
کوی۔ اوبل دلیل یې دادی چې حسن ظاهر بنکاره شئ دی۔ او بنه اخلاق د سړی تجربه خوارانو
او په ګډون او ګذاره سره معلومیږی۔ قال المصنف رح

ثُمَّ الْأَشْرَفُ نَسَبًا

او بیادی هغه سړی د مخه کوی چې شریف وی په نسب کې۔ لکه یو مُلا سید وی او بل مُلا
اُمتی، او یا یو مُلا د بنه عالم زوی وی او بل دامی زوی وی۔ وعلی هذا قس، ولی چې احترام
او تعظیم د نسب په شرعه شریفه کې بنه کار دی، خلافاً للوهابیة۔ قال المصنف رح:

ثُمَّ الْأَحْسَنُ صَوْتًا

او بیادی هغه سړی د مخه کوی چې بنه آواز یه وی۔ ولی ذهن د قرائت په اوریدو سره خلګو ته خشوع او خضوع پیدا کیږی
پوه سه: چې مراد د حسن الصوت څخه هغه دی چې طبعاً یه آواز زیبا وی۔ نه هغه
قاری چې قرآن مبارک د موسیقی پر وزن، یا مدات زائده، یا سکنات خارج عن قوانین
القرائت په کښی وائی۔ او خوله یو وخوا اوبله خواته کشوی۔

نه وی اوری چې د حرمینو شریفینو امامان څرنګه سلیس اوروان او بې تکلفه قرائت وائی برخلاف
زمونږ د زمانې بعض قاریانو۔

دکندهار په بنار کې یو وړوکی ختم د قرآن کریم کیدی چې د بنار جید جید

واقعه

علماء او بنه بنه فقهاء هم پکښی شامل وه۔ نو شروع د قرآن کریم یې د
یو قاری مرائی په یو لنډ رکوع وویلو سره شروع کاوه۔ قاری صاحب ته چې ملا یانو
وویل چې قاری صاحب ته یو رکوع وو وایه نو بیا خلګ سپاری شروع کړی قاری
صاحب ته چې موقع پلاس ورغله۔ نو یه قرآن مبارک د مخه سپر وګرځاوه تاچې د ده
د خولې او شونډو نه اود ستر ګو حرکات او اوضاع خوک وه نه وینې۔ نو رکوع یې تخمیناً په
۲۰ دقیقه کښی وویله۔ او چې ختم شروع سو هغه قاری په ۱۵ دقیقه کی تخمیناً سپار ختم
کړه۔ نو پس لږ دی چې ختم د قرآن مبارک خلاص سو، او دعا ګانې هم وسوې۔ نو یو جید عالم
د هغه ریا کاره قاري څخه پوښتنه وکړه چې آیا د قرآن مبارک د حرو فو ادا په جهر او
مخافت کښی فرق سره لری۔ قاری ورته وویل یا۔ فرق نه سره لری۔ نو هغه عالم ورته
وویل چې تاچې په جهر سره یو رکوع وو ویل تخمیناً ۲۰ دقیقې دی پکښی ولګولې۔ او چې
یو سپاره دی وو ویله په ۱۵ دقیقې کی دی ختم کړه۔ نو قاری بې جوابه خجل پاته سو، قال

ثُمَّ الْأَنْظَفُ ثَوْبًا

او بیادی هغه سړی د مخه کړی چې کالی ئې پیر صفا وی ولې
چې پاک صاف کالی یه وی په هغه پسی اقتداء د خلګو نه زړه غواړی تر هغه چې کالی
یه چټل وی۔ **پوه سه:** چې د فقهاء په پیروۍ کښی مسائل او احکام د
پرفرض بناء دی۔ لکه په دې مسئله کې د امامت چې فلانی د مخه کوی او که ورته بیا سره
برابر وه فلانی دی د مخه کوی وهکذا حتی د دوو ملایانو نه په دی تولو شیانو کښی
برابر والی پیره لیری خبره ده مګر فرضیده یه روا دی۔ یعنی ته ئې فرض کړه چې سره برابر وی
هم د دی سببه مصنف په مراقی الفلاح کښی وائی: ثُمَّ الْأَحْسَنُ زَوْجَةً، او که په
تولو تیر سو و شیانو کې دوه ملایان سره برابر وه۔ بیا دی هغه ملا د مخه کړی چې ماینه

یه دیره بنا ئسته وی. مراد دادی چی دملا صاحب په ستر گو کی کرخه هم په واقع کی دیره بنا ئسته نه وی. دد ے دلیل دادی چی دملا صاحب ماینه چی دده په ستر گو کی چی دیره بنا ئسته وی. نو دهغی سره ئی محبت دیر وی نو د زړه او خواته میل نه کیږی نو عفت یه دیر وی. او بیا مراقی وائی کرپه دی ټولو شیانو کښی برابر وه بیادی هغو ملا د مخه کړی چی سر یه غټ وی. ولی د دے ملا قوة عاقله او قوت حافظه دیره ده. لکن پوه سه چی بیخی دیر غټ به نه وی لکه دیا بوسر. ولی چی د داسی غټ سړی ملا مخه د خلګو نفرت کیږی. او بیعقل هم وی کما عُلِمَ بالتجربة. او بیا مراقی وائی کرپه مذکوره شیانو کی. ته ئی فرض کړه دوه ملایان سره برابر وه. بیادی هغه ملا د مخه کړی چی غټ په دیر غټ نه وی. ولی چی په افراط سره د د غټ غټ والی دلیل د بی عقلی او بد اصلی دئی. تر نه وینی چی خر په دغه بلا کښی تر ټولو حیوانا نو د غټ بلا خاوند دئی. خو بیا هم خر وی:

پوه سه: چی دماینی بنا ئسته والی. او یا د غټ کښنی والی د خودی ملا صاحب په اخبار سره معلومیږی. داسی نه ده چی خلګ به وړ ځی دملا صاحب ماینه به ګوری او یا به دملا صاحب پرتوګا بن خلاصوی او غټ به یه ګوی. او بیا مراقی وائی کی چیری په ګرد و مذکوره شیانو کی سره برابر وه بیادی هغه ملا دی د مخه کړی چی دیر ملا لږ وی ولی چی په داسی ملا کی د طمع بد خوی نه وی. او بیادی هغه ملا د مخه کړی. چی جاه و جلال یه دیر وی. لکن واوره چی مراد ده ما له شخه حلال دی، نه د سود خور، مال کثیر او یا د خمار باز ه مال کثیر وغیره.

مسئله: کرمسافر او مقیم ملا بعض فقهاءُ برابر ټولی او بعض فقهاء وه مقیم ته ترجیح ورکوی: وهو الحق قال المُصنفُ:

وَإِنِ اسْتَوَوْا يُقْرَعُ

کرپه ټولو مذکوره شیانو کښی سره برابر وه بیادی نو اسکه سره وکړی په مابین کښی دملایانو دهر ملا اسکه چی وختله هغه دی د مخه کړی سی.

اَوِ الْخِيَارُ لِلْقَوْمِ وَإِنِ اخْتَلَفُوا فَالْعِبْرَةُ لِمَا اخْتَارَهُ الْأَكْثَرُ

او یا د اختیار د مخ کیدو د کوم ملا دی وقوم ته وسپارلی سی یعنی ایسکی ترخو ښه فسته. او که قوم په مابین کی اختلاف پیدا سو لبعضو ویل فلانی ملا صاحب دی د مخه سی او لبعضو ویل چی فلانی مُلا صاحب دی د مخه سی نو په دا صورت کی چی اکثر څه رائی کړی. نو بیا اعتبار هغه ملا لره دی چی خلګو خوښ کړی وی. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَإِنْ قَدَّمُوا غَيْرَ الْأَوْلَى فَقَدْ أَسَاءُوا

خو که چیری خلګو د مخه کړی هغه کس چی اولی نه وو نو ټوله قوم ګناه ګار وی. لکن ګناه کبیره نه ده کذا فی التجنیس.

مسائل الامامة

رال کړیو ملا دیو قوم او مسجد امامت ورکاوه او خلګ خوښ وی مخالف وه او جواب یه ورکړی وو لکن ملا صاحب قدرت والا وو ده مسجده څخه نه وځی. او با سپین ستر ګی وو نو که د دوی کراهت د ملا صاحب څخه په سبب د فساد په ملا صاحب کی وو. او یا په قوم کی احق په امامت سو ترهغه وجوده امام وو. نو د څه ملا صاحب امامت مکروه دی. او امام حلبی وائی چی امامت د ده مکروه تحریمی دی. لحدیث رواه ابوداؤد ثلاثة لا یقبل منهم الصلوٰة وعد منهم من تقدم قوما وهم له کارهون «مرقاة».

او که چیری احق بالامامت دغه موجود امام څخه ورتر نور خلګو کښی هیڅ فساد نه وُ و او سړی دهغه د مقتدیانو نو بد څندی راشله. نو ملا صاحب ته امامت ورکول مکروه نه دی ولی د جاهل اکثر اد عالم څخه بد کیږی او د فاسق د صالح سړی څخه بد کیږی. او هم دا سبب دی چی اوس اوس چی د افغانستان پر دیره برخه د طالبانو حکومت دی او خلګ د جماعت پروخت جماعت ته وړ ښوُلی. او ډیری ځریلو، او یا کندی کولو ته نه پریږدی او داسی نور و منکراتو ته د اسلام په نه پریښو دی، سګوانی فسته، کرکټ بازی فسته کوتد بازی فسته، دیوچا د واده په شپه شوقیان فسته، تلویزون فسته، خمار بازی فسته

بچه بازی نسته، د دیو خلگو چې د منکراتو سره علاقه لری د طالبانو او د ملایانو
څخه ئې بد راځی،،

تاریخی واقعه

په پخوانۍ زمانه کې شیعه ګانو، په جماعت لمونځ نه کاوه. ولی دوی به وئیله چې د امامت
د لمانځه د پاره امام معصوم شرط دی. او امام معصوم د ګنهو څخه په اوس زمانه کې نسته
که څوک هم د اخبره د دوی د شریعت سره برابره نه وی: نو څه وخت چې نائب محمد عثمان خان
د قندهار والی مقرر سو نو هغه پر شیعه ګانو دا حکم وکړی چې تاسو لمونځونه دی په
جماعت کوی. او چیرې چې به د شیعه ګانو کوم رونه وه د هغه ځای د مسجد پر امام یه داحکم
کړی وو، که یو شیعه د لمانځه څخه د جماعت وو تللی. راپور به ئې ولایت ته راوړی.
نائب محمد عثمان خان ته چې دکوم شیعه راپور به مُلا صاحب د مسجد ورکړی نائب
محمد عثمان خان به هغه شیعه راوغوښتی. او یوه ورځ بې سرکاری د څښتو کار په کاوه.
یعنی د اجراء وُ بې جماعتی. نو شیعه ګان مجبوره سوله د جماعت د لمانځه کولو ته لکن
بعضی سنی خلګو چې د دوی سره په مسجد شریکان وه د دوی د نیت تَرلو یه
داسی حکایت کاوه مثلاً، نماز می خوانم چهار رکعت نماز بیګاری اگر نخوانم نائب محمد عثمان خان مرا می
پرداز ند به گل کاری اللہ اکبر، په حدیث مبارک کې داسی راغلی دی. ان سرکم ان تقبل
صلوتکم: که تاسی خوشحاله کوی د اخبره چې ستاسی لمونځ د ی قبول سی. فلیئوموکم
علمائکم: نو د ی تاسی ته امامت درکوی هغه کسان چې علماء وی یعنی په دین سره
فانهم وفدکم بینکم وبین ربکم: چې د وی یو هیئت په مابین کې ستاسی او ستاسی
د خدائی. د وفد معنی ده مخ سړی. یعنی د وی خدائی ته د لمانځه وختی اول خپل مقابل
د خدائی څخه غواړی او بیا ستاسی شفاعت کوی: قال المصنف:

وکرہ امامۃ العبد اومکروه دی لمونځ ورکول د مَرَ یی. ولی چې غالباً مَرَ یی خلاص
په سبب د شغل په خدمت د بادار د علم حاصلولو ته نه وی

او اکثره مزیان فاسقان هم وی. نو که چیرې یو مَرَ یی وو چې هم په علم پوه مسائلو
د لمانځه د راولو ی او هم تقوادار وو لمونځ ورکول به مکروه نه وی ولی چې علت د کراهت
نسته، قال **والاعمی** او د غرنګه مکروه دی امامت د رانده. ولی بې خو د ی ځان وقبله
څرګنده ته نه سی برابر ولای. او بل دا چې جامې به د نجاست څخه نسی ساتلای. او که تر
رانده افضل په خلګو کښی نه وو، نو بیا کراهت نسته، مر، ولی چې رسول الله صلی اللہ
علیه وسلم چې د تبوک غزا ته تلی د لمانځه د پاره په عبد الله ابن ام مکتوم او عتبان بن
مالک خلیفه ګان و ټاکله چې د وارې ولاړه وه. **مسئله** که چیرې د رانده د پاره
محافظ د نجاسا تو څخه او پر قبله برابرو نکی د ر ولو ی بیا هم کراهت نسته، قال المصنف

والاعرابی او د اغرنګه مکروه دی امامت د صحرائی **پوه سله** چې اعرابی منسوب
د اعراب ته دی، وَهُمْ سُكَّانُ الْبَادِيَةِ، د صحرا و عربوته وائی او الْعَرَبُ الْعَارِبَةُ، هغه خلاصه
عربوته وائی. چې هغوی په ثربه د یعرب بن قحطان خبری کوی. چې هغه قدیمه ثربه
د عربوده لانه اول مَن تکلم بالعربیة، او عرب مستعربة هغو عربوته وائی چې په
ثربه د اسمٰعیل علیه السّلام په خبری کوی. چې د اد اهل حجاز ثربه او لغت دی، ط،
لکن مراد د اعرابی څخه دلته، د صحرا اوسیدونکی دی چې مونږ یه مالدار ئُو لو، که
عرب وی او که عجم وی. لکه ترکمنان، اوکردان، سبب د کراهت یه دا دی چې پردوی
باندی جهل غالب وی. ولی مجالس د علم په قریه او نباروته کې وی د وی د هغو
څخه لیری دی. نو د ی څخه د اهم معلومه سوه. چې د عامی جاهل که څه هم وطنی وی
امامت یه مکروه دی. کذا فی البحر والنهر، وقد ورد فی بعض الحکایات،

واقعه: یوه اعرابی په یوه عالم پسی اقتداء وکړه هر کله چې امام د ایت شریفه په
لمانځه کې وولایه: اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّ نِفَاقًا، الایه. فضربه الاعرابی نو صحرائی
ملا صاحب پر سر په یوه شپی وواهه او سر یه وَ رمات کړی. او صحرائی و تښتیدی

څوورځی وروسته بیا هغه صحرائی ړاغلی او په هغه امام پسی اقتداء وکړه داتحاد دپاره. امام خو صحرائی څخه ناخبره وو اتفاقاً یې دا آیت په لمانځه کښی وویله «وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ یُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ» الآیه صحرائی په عین لمانځه کښی ورته وویل «اَلْاٰنَ نَفَعَكَ الْعَطٰی» اوس زماد لکړی وهلو فائده درته وکړه؛ کذا فی غایة البیان»

اودا درویش په زمانه کی دا دیوه صحرائی واقعه ذکر وړه هغه ډاډه: چې په قندهار کی سپیرو ان یوه عنتره قریه ده. او هغه قریې ته نږدی ریگی ورته وائی چې ریگستانی ځای ده. او په ریگی کی عموماً مالداران، او صحرایان اوسیږی. نو دغه صحرایا نو ملا صاحب سهواً داسی وویله. چې د رکوع څخه راپورته شو: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ د صحرایا نو مټر فتح ورکړه چې مونږ تر دې خبرې راپریښودل» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَوَلَدِ الزِّنَا الْجَاهِلِ

اودغه رنګه مکروه دی امامت د ولد الزنا چې جاهل وی پوه سه: چې د ولد الزنا ء د امامت مکروه والی په نږدې به د الدین العینی ډاډ چې د خلګو نفرت ځندی کیږی. ولی چې پرده باندی هم تهمت د زنا کیږی» اثار الاباء تظهر فی الابناء یعنی غالبًا» او نهر فائق والایضاح دغه وجه ګنړلی ده. نو بناءً علی هذا که د غه ولد الزناء عالم وی هم په امامت مکروه دی.

او نور الایضاح د عبارت څخه داسی معلومیږی چې جهل په سبب کراهت دی بلکه مراقی الفلاح په دی تصریح کړیده» اذ لو کان عالمًا تقیًّا لا تکره امامته» او امام طحطاوی هم د دی خبرې تائید کړی دی چې وائی: لانه لیس له اَبٌ یُعلمه فیغلب علیه الجهل» او د درویش په نیز اوله وجه ډیره په زړه پوری ده: کما یدل علیه التجربة» ولی چې خلګوته دا معلومه نه وی چې داسې ارهونی دی که څه هم غټ عالم وی خو بیا هم د خلګو نفرت ځندې کیږی. او اقتداء یې زړه نه پسی غواړی: وَاللّٰهُ اَعْلَمُ؛

او مراقی الفلاح داسی هم وئیلی دی چې مکروه والی د امامت خو په سبب د نقائصو دی لکه بیعلمۍ بې تقوا والی، حتی که صحرانشین په علم او تقوا کی بالاوتر نباری سړی. اویا

مرتبې افضل وو ترحر او یا ولد الزنا په علم او تقوی کښی بالاوو ترحلالونی، او یا روند سیدو وو ترستر ګو والا فالحکم بالاشد: یعنی د نباری امامت اوده حر امامت یا د حلالونی یا د ستر ګو وړ امامت مکروه دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْفَاسِقِ

اودغه رنګه مکروه دی امامت د فاسق، که څه هم عالم وی. ولی چې فاسق غم خوری د امور و د دین نه کوی نو پر خلګو ده سپکاوی لازم ږی. نو امام ګرځول خو ده تعظیم دی. **مسئله**: که د غه فاسق عالم د امامت څخه منع کیږی. نو خلګ دې بل مسجد ته ځی د پنځو لمونځو د پاره هم. او که بل ځای د جمعی لمونځ نه کیږی نو په د غه فاسق پسی دی د جمعی لمونځ کوی. م»

پوه سه: چې مراد د فاسق څخه فاسق د عملو د خوادی نه فاسق د عقیدی ولی چې د مبتدع حکم وړ وسته راروان دی. **واوره**: چې معنی د فسق په لغت کی خروج دی د سم والی څخه، او په شریعت کی خروج دی د طاعت د خدای ﷻ وجل په سبب د ارتکاب د ده د ګناه کبیری او قهستانی وائی چې په اصرار د صغیره ګناه هم سړی فاسق ګرځی.

مشکل د زمانی

غیبت په اتفاق ګناه کبیره ده. بهتان په اتفاق ګناه کبیره ده. اودغه رنګه حسد، او شیطانت او کبر اولوی. اودغه ګناهونه مروج الوقت دی نو یه سړی چیرې غیر فاسق امام پیدا کوی اللهم الا شاذ او نادرًا و هکذا یذهب الزمان علی العبد، داسی یو وخت پر امت محمدی راغلی دی چې فاسق به په کښی شاذ او نادر وو، اوس بې فسقه سړی شاذ او نادر و ګرځی دی. فَاِلَی اللّٰهِ الْمُشْتَکٰی مِنِ انْقِلَابِ الزَّمَانِ» ؎ چو بینم دین احمد در غریبی ؛ دلم سوزان ز چشمم خون چکاند

قَالَ

وَالْمُبْتَدِعُ

د مبتدع په باره کښی تحقیق

اودغه رنګه مکروه دی په مبتدع پسی صاحب المغرب وائی چې غالب استعمال د مبتدع په هغه چا کی دی چې په دین سوی کی زیانونه بانقصان وکړی، او شنئ او مراقی مبتدع هغه سړی ګڼلی چې یو کار یا عقیده ښکاره کړی چې برخلاف د هغه حق وی چې د رسول کریم صلی اللّٰه علیه وسلم څخه منقول وی په

سبب دیوی شبهی او اخیر نُودی هغه دین قویم او صراط مستقیم نُولی **پوه سه** که دمبتدع، ابتداع وکفرته رسیدلی وَوَه لکه خوارج په هغه پسی لمونځ بیخی روا نه دی کذا فی الخلاصة والمحیط والمجتبیٰ، اوکه کفرته نه وو رسیدلی په اتفاق سره نولمامت مکروه دی ولی چی داسپیک مبتدع دئ.

مسئله: امام محمدؒ دامام اعظمؒ اود امام ابی یوسفؒ څخه روایت کړی دی چی لمونځ په اهل اهواء یعنی مبتدعانو پسی نه دی روا. لکن صحیح دا ده چی عدم جواز دلمانځ په مبتدع پوهیږی. په نیزد شیخینوؒ مشروط په دې دئ چی کفریه د بدعت سره لازم وی لکه خوارج. اوکی بدعت کفرته نه وو مفضی کهځم داهل السنت والجماعت څخه مخالف وی نولمونځ پسی صحیح لکن سره دکراهت. لِقوله علیه الصلوٰة والسلام: صَلُّوا خَلْفَ کل بر و فاجر، وَصَلوا علیٰ کل بر و فاجر، یعنی صلوٰة الجنازة، وَجَاهِدُوا مَعَ کل بر و فاجر، یعنی جهاد کوی دکفارو سره که قائد اوامیر بر وی اوکه فاجر، رواه الدار قطنیؒ. امام طحطاویؒ په دی ځای کښی دا سهی لیکلی دی، فَلا یجوز الصَّلوٰةُ خلف مَن ینکر شفاعة النبی صلی الله علیه وسلم: نه دی لمونځ روا په هغه چا پسی چی منکر وی د شفاعت څخه د الحضرت صلی اللهُ علیه وسلم: ولی چی دا انکار کفر دی. درویش وائی کهد شفاعت څخه داخرت منکر وی هغه خو مطلقا کافر دی. اوکهد شفاعت د آلخضرت صلی اللهُ علیه وسلم پسله وفاته په عالم برزخ کی دیو چاد پاره منکر وی لکه وهابیان چی وائی هغه مبتدع لمونځ پسی مکروه دئ. ط نریاته کړیده چی دکرام الکاتبین د نوشته څخه منکر وی اویا دلیدلو څخه د خدای جل سلطانه په جنت کی د سر په سترګو منکر وی هغه کافر دی لمونځ نه دی پسی روا. درویش وائی چی معتزله تولو دغو دوو مسئلو څخه منکر دی کما فی شرح العقائد، قَالَ الطوسیؒ فی التجرید، وَرُؤیَة اللهِ تعالیٰ کما بین عمه اهل السنة والجماعت آه اودوی وائی چی نوشته دکرام کاتبین عبث کار دی. ولی خدای پاک خوده هرچا په ښه عمل او بد عمل خبر دی نو نوشته ترڅه ضرورت سته، کذا فی شرح العقائد والجواب عنا فی ذالک الکتاب.

اوطنریاته کړیده چی څوک چی خدائ لره لاس اومخ او پښی وائی لکه بندګانو ته هغه کافر دئ. چی دی دلی ته مشبّه وائی او یا مجسمه وائی. **پوه سه**: چی وهابیان تول دغسی وائی. اوکی صرف دومره ویل چی خدای پاک جسم دی لاکا الاجسام نو هغه مبتدع لمونځ پسی مکروه دی، اوطنریاته کړیده چی څوک چی د خلافت د ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه منکر وی. هغه هم کافر دی اقتداء نه ده پسی روا.

زَرویش وائی: چی شیعه ګان په یوه خوله د خلافت څخه د ابوبکرؓ الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه منکر دی نو لمونځ نه دی پسی روا. او ط وائی کهځوک د علیه السلام د اسراء څخه منکر سی هغه کافر دئ. لِقوله تعالیٰ: سُبْحَانَ الَّذِیْ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا آه اوکه د اسما نودتلو څخه یا فوق ترهغو منکر سی هغه ضال اومبتدع دی. ولی چی دغه تک په مشهوره حدیثو سره ثابت دی. اوفتح القدیر وائی چی انکار د خلافت څخه د عمر رضی الله تعالیٰ عنه هم کفر دی لکه د ابوبکرؓ الصدیق د خلافت څخه چی په دی انکار کښی هم تولهٔ شیعه ګان شریک دی.

مسئله: په مجمع الروایات کی وائی کهچا په هغه مبتدع پسی چی بدعت یه کفرنه وو لمونځ وکړی ثواب د مطلق جماعت خو خدای پاک ورکوی لکن دومره ثواب به نه سته لکه چی په غیر مبتدع پسی لمونځ کړی وای، ط، حاصل دا چی اهل السنة والجماعت ته احتیاط پکار دی چی په داسی خلګو اومُلایانو پسی لمونځ ونه کړی چی نوی نوی نومان پرځپل جماعت ایښی وی او اصل یه نه وی معلوم، فتأمّل.

مسئله: نه دی روا لمونځ په هغه چا پسی چی د مسح د موزو څخه منکر وی لکه شیعه ګان اومعتزله **فائده**: نه دی روا لمونځ په هغه چا پسی چی د صحبت د ابوبکر الصدیق رضی اللهُ تعالیٰ عنه منکر وی. او د غر رنګه نه دی روا لمونځ په هغه چا پسی چی ابوبکرؓ الصدیق او عمر رضی الله تعالیٰ عنهما ته بښکنځل کوی او ظالمان ورته وائی. اونه دی روا لمونځ په هغه چا پسی چی سیدتنا عائشه رضی الله تعالیٰ عنها ته نسبت د زنا کوی. اونه دی روا لمونځ په هغه چا پسی چی دیوی قطعی

خبری شخه دین منکر وی لکه رؤیة ربنا فی الجنة کی. اودَ دغو خلکو تاویلونه او اجتهاد ونه فائده نه کوی. ولی چی مسح خُفّین په قرآن سره ثابته ده «وامسحوا برؤسکم وأرجلکم» په قرائت د جر چی محمول پر حال د تخفف دی کذا فی تفسیر القرطبی وغیره. او سنت په حدیث متواتر المعنی سره ثابت ده کما فی کتب الاصول او ثبت دابوبکر الصدیق رضی الله عنه هم په قرآن سره ثابت دی. اذ قال لصاحبه لا تحزن ان الله معنا» قال ذلک لابی بکر الصدیق رضی الله عنه اذ هما فی غار جبل الثور وقت الهجرة وتفصیل تلک القصة فی کتابی «الفتح المبین» او شخینوی سبب په اجماع د امت کفر دی قبل ظهور الفرق المبتدعة» او سید تنا عائشة رضی الله عنها په برائت کښی ۱۳ آیته د قرآن نازل سوی دی او کوم خبره چی یقینی وی په دین کی د هغی منکر هم کافر دی، ط، در

پوښتنه: لمونځ په مبتدع انو پسی چی بدعت په کفر ته نه وی رسیدلی بنه کار دی؟ او که یواځی لمونځ پر بی دی. **جواب**: په سراج کی وائی چی په فاسق پسی لمونځ کول اولی دی تر یوازی لمانځه لکن د اخبره هذه صحیح ده چی په فاسق پسی لمونځ کول مکروه تنزیهی دی. مگر د ډیرو علماء هغه مکروه تحریمی بولی نو یا یوازی لمونځ کول تر جماعت د فاسق بهتر دی. او د انو د کسان لکه اعرابی. ولد الزنا. مَنیی وغیره. په دغو کسانو پسی لمونځ کول یوازی پر بهتر دی. ولی چی په شرائطو د لمانځه نه دی خبر رائق والا په یقین سره وائی چی اقتداء په دغو کسانو پسی افضله ده تر یواځی لمانځه وعلیه الفتوی. در،

مسئله: په بی بیری پسی لمونځ مکروه دی **مسئله**: په سفیه یعنی بیوقوف سړی پسی لمونځ مکروه دی. **مسئله**: چی ابلج وهلی وی لمونځ پسی مکروه دی **مسئله**: چی فِس وی او فِس په په بدن باندی شائع سوی وی لمونځ پسی مکروه دی. **مسئله**: په ریا کار پسی لمونځ مکروه دی او داغه څوک چی آتشک مرض په کښی وی لمونځ پسی مکروه دی. **مسئله**: په هغه امام پسی چی لمونځ په مزدوری ورکوی لمونځ مکروه دی لکن په نیز د قدماء د فقها و او د متأخرینو

فتوی پردی ده چی مزدوری احتسال پر لمانځه، پر آذان، پر تعلیم القرآن، وغیر ذالک رولده، لظهور التوانی فی امور الدین کذا قال شارح الوقایه، وکذا فی شرح السید، وحاشیة جلالین. او بدر الدین العینی په شرح کښی دهدائی وائی چی اقتداء په مخالف المذهب او په بد او فاجر پسی چی حد د کفر ته نه وی رسیدلی. او یا په امام کی داسی عمل نه وی چی د مقتدی په مذهب کی هغه فاسدونکی د لمانځه وی کما مر امثلته» والاقتداء اولی من الانفراد ولی چی مکروه والی خو منافی د ثواب د جماعت نه دی تر هغو چی مکروه تحریمی نه وی» واللہ اعلم بالصواب»

سبحانه فائده الحرانی، او په فتوی د محمد بن عبد الوهاب النجدی وغیرهما تولهٔ امت مسلمه تر غیر د خپلو د لګیو مشرکان او عبدة الاصنام وائی. او بتان په ملایان او مشائخ کلام بولی، حنیفیان وی او که شافعیان وی. او که مالکیان وی او که حنبلیان وی. او یوه **بله دله** چی ځانته اهل حدیث وائی په متابعت د ابن الحزم او ابن القیم تولهٔ امت مرحومه ته خو په اتفاق مبتدع روائی. لکن غلاته په دوی کی هم تولهٔ مشرکین بولی، کتابونه د دغو د لوتاسو مطالعه کړی. عجبه داده چی د دوی نمایندګان او مشران په خیر القرون الثلاثة کښی نه وه. او د وسته پیدا سوه او خپل ابتداع فی الدین په بنکاره کړه د دوی متابعت خلک کوی او د خیر القرون د مجتهدینو متابعت پریږدی.

مګر داوا وره: هر شپی تر دسیسه ده. هغه پیسه هغه پیسه ده. نو مطلب دا چی د دغو د لو فتوی د هیڅ اعتبار ورنه ده. بلکه یواځی او یواځی فتوی د فقه شریفی معتبره متونو، اوشروحو، اوفتاواوو د اعتماد او اعتبار ورکړی. نو لاس ته ده پرمه هیڅ نو چی خپل د مذهب فتاوا وی د مطالعه کړی او د هغو څخه د بدعاتو مکفره وغیر مکفره معلومه کړی. او داهم له فکر وکړی چی هری ډلی چی پرځان د پخوانی نومانو لکه اهل السنة والجماعت حنیفیان وغیره نوی نوم ایښی وی. چی نبه پوښتنه پسی وسی په پای کی ترپ وی، یعنی ګندم نما جوړوشان دی. وبس. او که تاسی د در ولیش سره حسد علمی،

قومی اوهم عصری نه لری، نوبراه کرمړ ساله دډرویش چی نومړیه «البیانات الصادقه فی احوال الفرقه الوهابیه» مطالعه کړی. او یا ړساله دفقیر «سیف القندهاری علی عنق الوهابی» چی دخیالی پرغټ بیاض پسله ۶۰ مخه تر پایه نوشته ده وګوری.

او یا ړساله دفقیر «کشف الغطاء عن عصمة الانبیاء» مطالعه کړی. اوکه حسد لری نوزه وایم چه ازخیر تو بیزارم ستم شر رسان» بیت. نقصان ق بل است وګزند علی الدوام؛ فیض سعادتش بهمه کس برابراست؛

بیت: داباران چی پرهمه وو مخکو اوړی. مشرف ئی کی داذات دکیمیا وَلی!

داوود مبتدع په بارهٔ کښی حسب الطاقة کشف الحال» اوس بیرته رجوع کوم ان شاء الله وشرحی نترد نور الایضاح پرتوفیق د خدای جل سلطانه وعم رحمته، قال المصنف

وَتَطوِیلُ القِرائَةِ وَجَماعَةُ العُرَاةِ

اومکروه دی اوږد ول دقرائت. او مکروه دی دجماعت لمونځ کول دلغو خلکو یعنی چی عورت په بنکاروی، قال علیه الصلوٰة والسلام: مَن اَمَّ قَومًا فلیخفف» کوچا امامت ورکاوه یو قوم ته نو لمونځ دی سپک کوی یعنی قرائت دخواخښ» حکمت په دادی چی په تطویل کی دقرائت دخلکو نفرت راځی دجماعت د لمانځه څخه. اوجماعت دبرېښو خلکو چی مکروه دی سبب په دادی چی یوه بل عورت ته کتل راځی. اوداغه رنګه مکروه دی اوږدول د لمانځه په رکوع او سجدی وغیره. ولی چی امر دتخفیف عام دی. اوپه یوه بل حدیث کښی راغلی دی: قال علیه الصلوٰة والسلام: یا ایها الناس ان منکم منفرین من صلی بالناس فلیخفف فان منهم الکبیر والضعیف وذا الحاجة رواه الشیخان» ترجمه: ای خلکو لبعض ستاسی په نفرت کی اچوونکی دی یعنی دجماعت څخه پس هر څوک چی خلکوته لمونځ ورکوی نو تخفیف دی کوی. ولی چی په خلکو کی کلان سړی او ضعیفه خلک او کار والا خلک ستنه»

امام طحطاوی ترډغه حدیث لاندی لیکلی دی چی دډیر حدیث څخه داسی معلومیږی چی امام دی قدر مسنون قرائت هم پرېږدی په مراعات دحال دقوم، اودغه امام دخپلی خبری په تائید کښی هغه حدیث د بخاری او مسلم راوړی دی چی یوه ورځ رسول کریم صلی الله

علیه وسلم دسحار په لمانځه کی قُل اَعُوذُ بِرَبِّ الفَلَق» آه. او قُل اَعُوذُ بِرَبِّ النَّاس آه وروایه خلګو وردته وویل اَوجَزتَ» لمونځ دی کوتاه کړی. علیه الصلوٰة والسلام ورته ووئیله: سَمِعتُ بُکاءَ الصبیِّ فَخَشِیتُ اَن تفتن اُمَّه، ترجمه: ما واوریده ژړا دکشنی یعنی چی موریه په لمانځه کی داخله وه. نوزه وبیریدم یعنی کرزه قرائت اوږد کړم چی موریی په فتنه کښی واقع سی. یعنی یا به جماعت پرېږدی او یا بی حضوره لمانځه نه سی پاتی صـ ۲۴۶:

اومولوی اعزاز علیؒ په حاشیه کی دنور الایضاح په حواله دبحر صـ ج ۲. داسی لیکلی دی چی هغه تطویل مطلق تطویل مکروه وبالله تاچی هغه صورته شامل سی چی جماعت والا محصور کښان وی اوپه تطویل دقرائت هم راضی وی. لکه هغه صورت خوشامل دی چی دجماعت خلق غیر محدود وی اویا راضی په تطویل نه وی آه

درویش وائی: چی ددی دوو کتابو مضمون چی وسنجوی نوقدر مسنون دقرائت لره بی انفرادی لمانځه بل څای نه پاتیږی. ولی چی هرجماعت چی لمونځ کوونکی محصور نه وی خواه مخواه کبیر السن اویا ضعیف اویا ذا الحاجة په کښی کی وی نوپه داسی جماعت کی خو تخفیف لازم دی په مقتضی دحدیث. اوبحر رائق په صورت کی ددی چی خلق محصور اوراضی په تطویل دقرائت وی هم تخفیف لازم وبالله. او طحطاویؒ وویل چی تر قدر مسنون دی هم تخفیف کوی اودلیل یه دا وئیلی دی. لاطلاق الامر بالتخفیف»

درویش وائی: چی قول فیصل دادی چی انفرادی لمانځه کی قدر مسنون مستحب دی. اوتر هغه تطویل کول بیله کراهته روادی. اوپه صورت کی ددی چی قوم محصور وی اوپه تطویل دقرائت هم راضی وی. نوامام خودی قدر مسنون نه پرېږدی. اوتر قدر مسنون بالا ویل که خه هم قوم راضی وی مکروه دی: لاطلاق الحدیث کما مَرَّ» اوکه قوم محصور یا غیر محصور وو مګر سپین ږیری یا ضعیف، یا ذا الحاجة یقیناً په کښی وو امام دی تر قدر مسنون لکه دسحار یاد ماپښین لمونځ چی قرائت مسنون په اوږد دی. په مراعات دقوم یوڅه کم قرائت وائی. تر قدر مسنون په مقتضی دلمانځه دسحار چی علیه السلام په معوذتینو سره

وګذاړه۔ اوکه قوم محصور یا غیر محصور وو لکن مانع د تطویل متیقن نه وو۔ نو امام دی قدر مسنون وائی بالاویل مکروه دی۔ وهذا هو التحقیق الحقیق بالقبول ان شاء الله العزیز: قال المصنف:

وَالنِّسَاءِ فَإِنْ فَعَلْنَ يَقِفُ الْإِمَامُ وَسَطَهُنَّ كَالْعَرَاةِ

اوداغږ نګه مکروه دی جماعت دیوا ځو بنځو۔ (چې یوه بنځه امام وګرځوی اونوری اقتداء پسی وکړي) اوکه دوی سره دکراهت جماعت کاوه نو واجب ده چې امامه بنځه دی د نورو بنځو په مابین کی دریږی۔ لکه لغ خلګ چې جماعت کوی هم په امام په مابین کی دریږی۔

مسائل د لغو خلګو جماعت چې مکروه دی علت یه دادی چې که امام د بنځه و دریږی نو زیارت کشف د عورت ده لازمیږی۔ اوکه په مابین کی دریږی تقدیم د امام چې واجب وو پاتیږی۔ **مسئله**: افضله داده چې عورات (لغ) دی لمونځونه یوازی یوازی وکړي په ناستې۔ اولیری لیری دې سره کښینی اوپه اشاره دی وکړي۔ اوکی په هر جماعت کاوه هم دې په ناستې په اشاره سره وکړي۔ اود بنځو لمونځ چې یوازی په جماعت مکروه دی سبب یه دادی که امام د څرودر وی چونکه په بنځو کی فتق ډیر دی نو پر خاندی به۔ اوکی په مابین کی ودرږه وې تقدیم د امام چې واجب دی هغه پاتیږی۔

مسئله: که بنځو ته لمونځ په جماعت نرور کاوه۔ نوکه په جماعت کی بل نر هم موجود وو۔ او یا د امام ماینه هم موجوده وه۔ او یا د امام محرمه بنځه لکه مور، خور، وغیره موجوده وه خو هیڅ کراهت نشته لکه په مسجد کی، اوکه داسی نه وو او نود نر جماعت ورکول هم مکروه دی۔

مسئله: د بنځو امام چې د صف په مابین کی وی پنده بی ترنورو بنځو د مخه وی۔

مسئله: که بنځو امامه بنځه د مخه ودرول لمونځ خو به صحیح دی لکن ګناه ګاڼدی۔ او امام حموی د خزانة الاکمل څخه نقل کړی دی چې د مخه کول د بنځو د امام جائز دی یعنی ګناه نشته پکښې۔ والفتوی علی الاول۔ در۔

مسئله: افضل بنځو لره داده چې په کور وکی دی لمونځونه کوی که د جمعې لمونځ وی اوکه دانور لمونځونه وی۔ که څه هم په عصر کی

د نبی علیه السلام په ابتداء کښې بنځې جماعت ته وتلی، خو بیا په سبب د فتنې منع سوې ده۔ کذا فی کتب الاحادیث (النبویة): قال الله تعالی: وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ، وقال صلی الله علیه وسلم: بیوتهن خیر لهن لو کن یعلمن۔ نو د مسجد ته د جماعت د پاره د دی آیت کریمه او حدیث نبوی څخه مخالفت لازمیږی: قال علیه الصلوٰة والسلام: صلوٰة المرئة فی بیتها افضل من صلاتها فی حجرتها، یعنی په برنده کی د صلاتها فی مخدعها۔ یعنی هغه خونه چې دروازه یې په بله خونه کښې وی افضل من صلاتها فی بیتها، یعنی هغه ځای چې د بنځې ستر په کښې ډیر وی هغه افضل دی د لما څخه د پاره د صلاتها فی مخدعها۔ یعنی هغه خونه چې دروازه یې په بله خونه کښې وی افضل من صلاتها فی بیتها، یعنی هغه ځای چې د بنځې ستر په کښې ډیر وی هغه افضل دی د لما څخه د پاره

مسئله: که بنځې د خپل قریب جنازې ته د اعلی وی هغه دی د نورو په جماعت لمونځ وکړي۔ ولی چې د جنازې لمونځ نه مکروه ږیږی اوکه دوی جماعت ونه کړي نو خو د جنازې لمونځ یک لخته د دوی څخه پاته سو۔

نادره مسئله که د جنازې په لما څخه کښې بنځه د مخه سوه نو اقتداء پسی وکړه که څه هم د نورو اقتداء خونه ده پسی روا۔ لکن د جنازې د لما څخه حق د بنځې په لما څخه سره ادا سو۔

ط، قال المصنف:

وَيَقِفُ الْوَاحِدُ عَنْ يَمِينِ الْإِمَامِ وَالْأَكْثَرُ خَلْفَهُ وَيَصِفُّ الرِّجَالُ ثُمَّ الصِّبْيَانُ ثُمَّ الْخَنَاثَى ثُمَّ النِّسَاءُ

او د دی د ودریږی چې یو وی پر استه لاس د امام، او چې بالاتر یو وی یعنی که دوه اوکه درې وه شا

د امام د ودریږی۔ ترتیب د صفونو دا دی۔ اول د صف وی د لویو خلګو، او بیا د صف وی د نرو کچنیانو، او بیا د صف وی د نر بنځیانو، او بیا د صف وی د بنځو، او کچنیانی۔ انجونی د هم په صف کی د بنځو د ودریږی۔ او یا ترشاد هغو لکه په نرو، لویانو او کچنیانو کی

پوه سه: چې مراد د واحد څخه نر دی که لوی وی اوکه تمیز والا کښنی وی اوکه بنځه وه ترشا دی و دریږی۔ **مسئله**: مصنف په مراقی کی دا قید وئیلی دی متاخرا لعقبه یعنی د مقتدی پنده به تر امام ورسته وی۔ لکن ط وائی چې په شروح الهدایه

والقدوری والکنز والبرهان، والقهستانی وائی چی یومقتدی بیخی دامام سره سم
دریږی بیله تقدیم اوتاخیره. اوپه مابین کی دامام اومقتدی به کمه فرجه نه وی
داپتوله ظاهر روایت دی، درویش وائی چی شاید مصنف ته به تصحیح د غیر ظاهر
الروایت ثابت سوی وی. نوځکه یه وویل چی متأخرًا بعقبه"

پوه سه: چی دایوځای د رڼدل د مقتدی واحد دامام سره هلته دی چی د مخه تر
شروع د لمانځه سره یوځای سی. اوکه امام شروع پـه لمانځه کړی وه بیا یوسړی
راغلی اقتداء یه پسی وکړه اوترشا ودریدی امام دی اشاره ورته وکړی دځان سره دی برابر
کړی. اومکروه دی دریدل د مقتدی واحد پرچپه لاس د امام. ولی چی په حدیث کی
د بخاری وغیره راغلی دی چی عبد الله بن عباس یوه شپه د علیه الصلوٰة والسلام په
کور کی چی هغه کور دده د خاله وو. بیده وو اوخرنګه چی علیه الصلوٰة والسلام
د تهجد لپاره راپوښته سو اوودس یه تازه کړی پر لمانځه ودریدی، ابن عباس رضی الله عنه
هم راپوښته سو اودس یه تازه کړی. اوپه علیه السلام پسی اقتداء وکړه. لکن پرچپه اړخ
د علیه الصلوٰة والسلام. نوعلیه الصلوٰة والسلام ترغوږ ونیوی اودشا دخواسی وراسته
اړخ ته راوستی. دد ې حدیث فوائد:

۱- دامعلومه سوه چی نفل پـه جماعت بیله بلنی روادی، ۲- لږ عمل لمونځ نه فاسده وی
ولی چی علیه السلام ابن عباس رضی الله عنه وراسته اړخ ته راکش کړی، ۳- دامعلومه سوه چی د مخ
والی د مقتدی پرامام نه دی روا. ولی که روا وای نوعلیه السلام به ابن عباس رضی الله عنه خپله
د مخ دخوا راسته اړخ ته راوستلای وای. اوسره ددی چی د مخ دخوا راوستل یه
آسان وه ترشا دراګرځولو، کما لایخفی. ۴- اقتداء پـه امام پسی روا ده که څدهم امام پـه ابتداء
کی د لمانځه یوازی وی. اوورسته بل سړی اقتداء پسی وکړی. ولی چی عبد الله بن
عباس رضی الله عنه خوورسته ترشروع د علیه السلام اقتداء پسی وکړه. ۵- معلومه سوه چی د
کشفی ممیز لمونځ صحیح دی. ۶- معلومه سوه چی امام د مقتدیانو نه لږ ښوونه و
سنت ته د لمانځه کوی. که څدهم پـه اشاره اوفعل قلیل وی، ط.

مسئله: که مقتدیان دوه وه، نوافضله داده چی ورسته دی ترامام ودریږی. ولی چی
پـحدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم یوه ورځ پـه کور کی دامانس رضی الله عنها
تبرګا دوه رکعته نفل کوله نوانس رضی الله عنه اوبل یتیم یه ترشا ودرولـه. اوامانس رضی الله عنها وشاته دهغودوو
ودریدله. اودایتیم دانس رضی الله عنه ورور وو دمور دخوا. اونومړی عمیر بن ابی طلحه پـه یتیم مشهور
ووکـنی لوی سړی وو کذا فی حواشی البخاری"

سؤال: دابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چی هغه وعلقمه رحمه الله اواسود رحمه الله ته لمونځ ورکاوه. اوابن
مسعود پـه مابین کی ددواړو ودریدئ. اوبیا ابن مسعود رضی الله عنه ووویله هکذا اصلی بنا رسول الله
صلی الله علیه وسلم **جواب**: هغه فعل دپاره د بیان دجواز دئ. **مسئله** که دریم
سړی راغلی نوپرچپه طرف دهغه چا دی ودریږی چی هغه پربرابر دامام دئ. نوبه امام پـه
مابین کی سی. ولی اول وار چی دوه کسه وه خوبیوپر برابر دامام دریدلی وو. اوبل دامام
وراسته خواته دریدلی وو. نودریم چی د محاذی الامام پرچپه طرف ودریږی امام پـه مابین
کی راځی. وهکذا اګربل سړی پیدا سوهغه دی دامام د محاذی چی پرچپه طرف ولاړدی د
هغه پر راسته طرف دی ودریږی. حاصل داچی امام دی د صف پـه مابین باندی وی.

پوښتنه خلګ وائی چی دامام راسته طرف افضل دی د مقتدی دپاره نودی کبله پر راسته
طرف دامام خلګ دیروی ترچپه طرف **جواب** راسته طرف هلته
افضل دی چی ددواړو طرفه مقتدیان سره برابروی نوکه نوئی سړی راسی پر راسته طرف
دی ودریږی. اوکه چیری راسته طرفته یونفر بالاوو اونوی سړی راغلی هغه لږ پـه
چپه طرف دریدل افضل دی. حاصل داچی د عوامو دغه عقیده اوفعل چی پر راسته طرف
دیر مړیږی اوپرچپه طرف کم سره ددی چی پـه چپه طرف کی دیرځای خالی وی غلط کار دئ
پـه فتاوای عتابیه کی وائی کـه امام د صف پـه مابین کی ودریږی ګناه کار دئ. اویا تولـه
خلګ دامام پر راسته طرف یا چپه طرف ودریږی ګناه کار دئ. اوپـه فتح القدیر کی پـه نقل
د درایه څخه راوئی کـه چیری یوسړی دامام پر څنګ ولاړوی او نور تولـه صف ورسته
وی داسی فعل مکروه دی اتفاقًا.

پوښتنه: په بعض لویو جامع مسجدو کی د محراب ساحه ډیره فراخه وی. نو که امام یوازی دننه په محراب کی ودریږی داخو مکروه دی. او که امام پښتی تر محراب راوباسی اول صف خرابیږی. او مسجد هم تنګ وی یعنی خلګ پرډیروی. **جواب** امام دی په طاق کی د محراب ودریږی او ډډی یا خلور کسه دی په محراب کی ورسره ودریږی. او نور خلګ دی بیا ولاړ ودریږی. نو هغه درې خلور کسه ګویا صف اول سو،،

مسئله: په ترتیب کی د صفوا اول صف دلویا نو ځوانو، خلګو دی لقوله علیه السلام لِیَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَىٰ،، او داخو نو لویان ځوان دی. نو پرامام لازمه ده چی کچیان دی په اول صف کی نه پریږدی،،

د صفوو په باره کی احادیث او مسائل

مسئله: امام به مقتدیان امر کوی چی جوت سره دریږی. او په مابین کی به خالی ځای نه پریږدی. او اوږی به سره برابری کوی او ځګړوونه هم،، وفی الحدیث قال النبی صلی الله علیه وسلم: اِسْتَوُوا تُسَوِّي قُلُوبُكُمْ،، برابر سره دریږی په لمانځه کی نو سره برابر به سی ستاسی زړونه،، داد صفوو برابرولو یو راز دی چی خدای پاک نبی علیه السلام ته کشف کړی دی. یعنی برابر ږدل په صف کی سبب دی د برابری د زړو د مسلمانانو دی،، لکه په بل حدیث کی چی راغلی دی چی اختلاف د صف سبب د اختلاف د زړو ګرځی. وَتَمَاسُوا تَرَاحَمُوا. اوتاسی یو د بل سره ونږدی دریږی د خدای په رحم وکړی. اوپه حدیث پاک کی داسی راغلی دی،، اَقِيمُوا الصُّفُوفَ: "تاسی صفونه برابر وی. وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوا الْخَلَلَ،، اوتاسی سره برابر وی اونږ یو بل سره. اوتاسی بند وی فرجه د دوو کسو ترمابین. یعنی فرجه مه پریږدی ځکه چه په بل حدیث حسن کی بزار یه روایت کړی داسی راغلی دی. مَنْ سَدَّ فُرْجَةً فِي الصَّفِّ

عه جمع حلم بضم الحاء ای البلوغ ۱۲ منه عه جمع نهیة بضم النون ای النوم العقل ۱۲ منه

غفرله: ترجمه: کرچا بنده کړه فرجه په صف کی خدای بی ګناه ورونږدی.

وَلْيَلِنُوا بِأَيْدِيكُمْ اِخْوَانَكُمْ: اوتاسی نرم کړی پخپلو لاسونو خپل ورونړه، یعنی که په صف کی فرجه وه اوتاسو داخلیدی دوه ورونه چی په صف کی ولاړ دی لاس پرکنبیږده چی نرم سی. اوپه دا فرجه کی تا پریږدی. پرډی ترجمه لَيِّنُوا په شد دیاء دی. اوپه بل حدیث کی دابوداؤد امام ابی عمر شخه داسی روایت دی،، وَلْيِّنُوا بِأَيْدِي اخوانکم پرډی تقدیر یا په تخفیف وایه،، اوترجمه یی داسی ده چی هغه سړی چی په صف کی ولاړ وی ځان دی نرم کړی ورورته په سبب د لاس اینبو لودده پر اوبه چی صف ته داخلیده غواړی یعنی درډدی ځانته نه ور وَلی. چی ته ولی د صف په مابین کی را ننوزی. ولی هغه ورور دا فرجه پکوی. لَا تَذَرُوا فُرَجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ،، اوتاسی مه پریږدی خالی ځایونه چی فرجه ورته وائی د شیطان دپاره. چنانچه په بل حدیث شریف کی راغلی دی چی شیطان چی فرجه وویني په هغی کښی داخلیږی دپاره د وسوسی مَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللّٰهُ،، اخبار دی یا دعاده یعنی که چا صف سره متصل کړی یعنی فرجه یه نه پریښوله خدای بی وصل کړی وخیرته. اویادی خدای وصل وکړی وخیرته علی تقدیر الاخبار و الدُّعَاءِ: وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللّٰهُ،، که چا قطع کړی صف خدای بی دخیره څخه قطع کړی.

قطع د صف یادا ده چی په صف کی ولاړ وی او بی ضرورته د صفه څخه ووزی. اویا داسی چی دیوه صفه ووزی او بل صف ته ولاړ سی. اود خپل اول صف ځای خالی پریږدی. قَالَ

وَأَفْضَلُ الصُّفُوفِ أَوَّلُهَا ثُمَّ الْأَقْرَبُ فَالْأَقْرَبُ

او نږد صفوا اول صف دی ورونه بیا نږدی او نږدی. یعنی اول صف ته. لکن دا په غیر د جنازی د لمانځه چی په هغه کی اخیر صف خیر او افضل دئ. ولی د شبهی د عبادت د غیر الله لپاره دئ. ط،، په حدیث شریف کی راغلی دی: اِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ **پوښتنه**: چی په صفوکی د نږو اخیر صف بیکاره دی ولی چی بنځوته نږدی دئ.

او بنځو په صفو کی اول صف بیکاره دی ولی چی وَنږو ته نزدې دئ اخیر صف د بنځو افضل دئ. مصنف په مَراقی کښی وَائی: چی د حدیث په یوه روایت کی دا سی راغلی دی، چی خدائ پاک نزول د رحمت خپل کوی اول پر امام، او وروسته پر هغه چا چی برابر پر امام وَلاړ وی. او وروسته بیا پر هغو کسانو چی د امام پر ښی استه اړخ وَلاړ وی. او وروسته بیا پر هغو کسانو چی د امام پر چپه لاس وَلاړ وی. او بیا نو رحمت وصف ثانی ته راځی. یعنی ثم وثم الی اخیر الصفوف»

او په یوه روایت کی په قول د مَراقی کی دا سی هم راغلی دی» چی هغه چا ته چی پر برابر د امام لمونځ کوی د ستلو لمونځو ثواب ورکول کیږی. او چی پر ښی استه طرف د امام لمونځ کوی د ۷۵ لمونځو ثواب ورکول کیږی. او چی پر چپه طرف کی د امام لمونځ کوی د ۵۰ لمونځو ثواب دی. او چی په نورو صفو کی وی د ۲۵ لمونځو ثواب ورکول کیږی او په حدیث کی دا بی مالک[۳] الاشعری دا سی راغلی دی چی نبی علیه الصلوٰة والسلام لمونځ کاوه. نو ییر اول لوی نَران وځانته څرمه یعنی نزدی ودَرول. او بیا یه کښیان په هغو پسی ودَرول. او دکښیانو نو وشاته بنځی ودَرولې.

مسئله: که ده کښیا نو صف نه برابریدی نو کوښنیان دی ړجال په ما بینو کښی ودریږی. دا روایش وائی چی دا تفصیل د صفونو په هغو وخت کښی وو چی بنځی جماعتو ړ اوتلای سَوای. لکن اوس خو دوی ممنوع د حضور څخه د جماعتو. اللهم الا فی الحرمین الشریفین للحرج الکلی للنسوة اللاتی یأتین من خارجهما»

تنبیه: برابرول د صفونو مه دامام المسجد ده په دا سی خبرو دی صفونه برابرکړی، نژدی نژدی سره ودریږی تیرو بیرمه دریږی. لکن زمونږ د پښتنو بعض امامان چی په محراب کښی ودریږی هیڅ چا ته هیڅ نه ووایی نه کوی. او نه د صفو وخوا ته مخ ړ اړوی. نو دی سَببه چی امام بزغ نه کوی خلک هر څوَل چی په صف کی ودریږی هغه دوَل وَلاړ وی خوک پر مخ او خوک تر شا. په ما بین کی دیری فرجی هم پیدا وی وَالی الله المشتکی»

فصل فیما یفعله المقتدی بعد فراغ امامه من واجب

وَغیره فصل دی په بیان کی د هغو کارو» چی مقتدی بی کوی پس له فارغ والی څخه د امام د دوه رکعته واجب وی او که غیر واجبو څخه وی. **پوه سه** امام طحطاوی په شرح د مَراقی الفلاح دا سی وائی. **اعلم** آه **پوه سه** چی مقتدی دری قسمه دی مدرک[۱] مسبوق، [۲] لاحق. **مدرک** هغه مقتدی ته وائی چی تولو رکعتونه د امام سره وکړی **لاحق** هغه مقتدی دی چی د امام سره خو په اول وار کښی داخل سی او بیا تولو رکعتونه او یا بعضو رکعتونه څنډی پاتی سی، یا بیده سی. او یا وینی وی لکن د لمانځه څخه په سبب دیو فکر غافل سی. او یا د ازدحام په سَبب پر تولو رکعتو یا بعضو قادر نه سی. او یا بی اودسه سی چی دی اودس تازه کوی امام د لمانځه څخه فارغ سوی وی. او یا مقتدی منیم وی په مسافر امام پسی اقتداء وکړی نو چی امام سلام وگرځوی پرده خو لمونځ پاتی دی، نو حکم د لاحق حکم د مدرک دئ. یعنی لاحق چی خپل لمونځ پوره کوی نه په قرائت والی. او که چیری وده ته پخپل لمانځه سهوه وی پیښه سی. سجده سهوه باندی نسته. ولې چی دی حکماً گویا که په امام پسی وَلاړ دی. او که د غه لاحق چی مسافر وی. نو خپلو رکعتو ړ اگر څولو په وخت نیت د اقامت وکړی. فرض لمونځ یی نه څلورکیږی. او لاحق که چیری بیده وو یا بی اودسه سو ی وُو.

لکن چی د ړ اویښ سو او یا یه اودس تازه کړی امام هنوز د لمانځه څخه نه وو فارغ سوی. نو که ممکنه وه چی دی خپل یو رکعت مثلاً وکړی. او بیاد امام سره گډون وکړی او سلام پر ځای سره وگرځوی خو د اغسی دی وکړی. او که دا سی ممکنه نه وَه نو د امام متابعت دی وکړی او په خپلو تیرو سوو رکعتو دی ځان نه مشغول کوی تر هغو دی امام سلام وگرځوی. او وروسته تر سلام د امام خپل تیر سوی لمونځ ړ اوگرځوی. او که پر امام سجده سهوه لازمه سوی وَه. دی به سجده سهوه نه وړ سره کوی. بلکه خپل قضائ لمانځه ته دی ولاړ سی. اما پس له سلامه د لاحق دی هغه سجده وکړی. او د هغه سړی

فائده: مصنف تشهد ذکر کړه ولی که مقتدي درود نه وو وَئیلی یا اللهم
ربنا ورته پاتره او مُلا سلام وگرځاوه مقتدی به سلام ورسره گرځوی. ولی داخو
ترك دسنت دئ. **تفریع:** دروژی په میاشت کی تراویح لعض مُلایان بیخی
چا بکی کوی نو مُلا خو به کمازکم اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد وائی
احتیاطاً ولی چی بعض فقهاءٌ په اخیره ناسته کی درود واجب بولی. اوس نوکه مقتدی
درود دغونه قدر هم نه وو وَئیلی دامام سره دي سلام وگرځوی. بعض صوفیان
عوام درود پوره کوی او بیا سلام گرځوی هغه د فقهی خلاف کار دئ.

مسئله که امام ترسیله قصده اودس مات ور پیښ سو او په قدر د تشهد
کښینستلی وو- نو ولاړ دی سی. اودس دی تازه کړی او بیا دی سلام وگرځوی او
قهقرته دی یوځوك خلیفه کړي چه هغه وقومرته سلام ور وگرځوي **مسئله**
که امام پسله تشهد ویلو څخه په قصده ځان بی اودس کړی نو دامام لمونځ تام شو
او مقتدی که مدرك وی که التحیات نه وه وَئیلی نه بی وائی او سلام به هم نه گرځوی ولی
چی مقتدی د لمانځه څخه ووتی چه دغه جزء چی دامام د بی اودسیا سره جوت وُو هغه
باطل شو. نو په فاسد بناء نه ده روا. لکن د مقتدی لمونځ صحیح دی لکن ور اگر ځوَل
په پرواجب دی د پاره د جبیری د نقصان په ترك دسلام، ط م.

مسئله: که امام تشهده په قدر نه وو کښینستلی او عمداً یه اودس مات کړی
او بایسه په زوره وخندل لمونځ دامام او مقتدی دواړو باطل شو. **مسئله**
که امام ودریم رکعت ته ولاړ سو او مقتدی التحیات نه وه پوره کړی نو پوره دی کړی
او کی پوره نه کړی دامام سره ولاړ نه هم روا ده. ولی دوه واجبه د مقتدی په مخ کی
دی متابعت دامام او پوره کول د تشهدی نوده اختیاردی هر یوچی کوی. او په
فتاوای فضلی کی او تجنیس کی وائی چی حتماً دی التحیات پوره کړی او بیا دی په امام
پسی ولاړ سی. لکن اول مذهب مشهور او فتوا ور دئ.

کتبه وَرتبه بنده احقر العباد فضل الحق حقانی غفرله.

چی هم مسبوق یعنی اول د لمانځه ځندی تیرسوی وی اوهم لاحق وی. چی اخیرد لمانځه
ځندی تیرسوی وی. نو امام سلام وگرځوی. او و ر وسته ترسلام د امام خپل نیسی
سوی لمونځ ر اوگرځوی. او دی دے د قضاء د پاره ولاړ سی. اول واں دی هغه رکعت
اوکه پر امام سجده سهوه لازمه سوی وَه. دی به سجده سهوه نه ور سره کوی. بلکه خپل
قضائی لمانځه ته دی ولاړ سی. [illegible]
او و ر وسته دی بیا هغه ر رکعت ر اوگرځوی چی امام
په اول کی د ده څخه تیر کړی وو سره د قرائت. اوکی عکس د دی وکړی گناه کار دئ
ولی چی ترتیب د قضاء ر اوړلو پر لیښود» کما فی فتح القدیر» لکن لمونځ ئی صحیح دی
خلافاً لزفرؒ. **مسبوق** هغه مقتدی ته وَائی چی امام تهوله ر رکعتونه ځندی تیر
کړی یعنی دی پر اخیره ناسته راورسیدی او یا بعض ر رکعتونه یه ځندی کړی وی
او مسبوق حکم دادی چی د قضاء ر اوړی په حق کی د قرائت د اول د لمانځه یعنی قرائت
به وائی او قضاء دی ر اوړی د اخیرد لمانځه په باره کی: قال

لَوسَلَّمَ الإِمَامُ قَبلَ فَرَاغِ المُقتَدِی مِنَ التَّشَهُّدِ یُتِمُّهُ

که چیری سلام وگرځاوه امام د مخه تر فراغ د مقتدی د التحیات څخه نو مقتدی دې
التحیات پوره کړی. ولی چی د التحیات وَیل په اخیره ناسته کښی واجب دی. او
بیادی سلام وگرځوی. ولی چی تحریمه د لمانځه پاتره ده. او جمع د التحیات او سلام
ممکن دی کما قلنا. د امذهب دی د شیخینوؒ. او امام محمدؒ وائی چی التحیات دی
نه پوره کوی بلکه د مُلا سره دی سلام وگرځوی. ولی چی مقتدی په سلام گرځولو د
امام د لمانځه څخه خارج سو:

پوه سله: چی که ملا خبری وکړی د مخه د مقتدی تر التحیات هم حکم یه دغه دی
ولی چی خبری د امام په اخیره ناسته کښی لکه سلام دی چی امام د لمانځه څخه په وَزی
او مقتدی تحریمه باقی ده. نو التحیات دی پوره کړي.

قال المصنف: **وَلَوْ رَفَعَ الْإِمَامُ رَأْسَهُ قَبْلَ تَسْبِيحِ الْمُقْتَدِي ثَلَاثًا فِي الرُّكُوعِ أَوِ السُّجُودِ يُتَابِعُهُ**

که چیری امام سر پورته کړی د رکوع یا سجدی څخه او مقتدی دری واره تسبیح نه وه پوره کړی د امام متابعت دی وکړي. ولې چې متابعت د امام واجب دی او تسبیح ویل سنت دی نو د پاره د واجب دی سنت پریږدي. قال المصنف:

وَلَوْ زَادَ الْإِمَامُ سَجْدَةً أَوْ قَامَ بَعْدَ الْقُعُودِ الْأَخِيرِ سَاهِيًا لَا يَتْبَعُهُ الْمُؤْتَمُّ

او که چیری نه یاد کړه امام په سجده په رکعت کې چې وه او یا ولاړ سو امام پسله اخیري ناستي یعنی بل رکعت ته په سهوه سره. نو مقتدی دې د امام متابعت نه کوی نه په سجده کې اونه د بل رکعت په ولاړیدو کې. ولې د غه سجده زائده یا بل رکعت خو اصلی لمانځه څخه د امام نه دی. نو په مقتدی یې متابعت هم لازم نه دی. نو مقتدی دی داغسې درنګ وکړي که چیرې امام بیرته د ولاړې څخه راوګرځیدی یعنی خپل سهوه یې پیاد سوه یا یو چا فتح ورکړه. نو څه وخت چې مُلا سلام ګرځوی مقتدی به هم سلام ورسره وګرځوی.

قال **وَإِنْ قَيَّدَهَا بِسَجْدَةٍ سَلَّمَ وَحْدَهُ**

او که امام مقید رکعت په سجده سره نو مقتدی دی یوائې سلام وګرځوی. **مسئله**: که امام په تکبیرو کې د اختر و بالا تکبیر ووایه مقتدی دی متابعت نه کوی. او د غه رنګه که امام د جنازې په لمانځه کې پنځم تکبیر وویل مقتدی دې متابعت نه کوی. ط. کې رکعت په سجده مقید کړی او کې نه کې بیرته راګرځیدای ہې سره د کراهت او لمونځ یې نه دی فاسد. قال المصنف

وَإِنْ قَامَ الْإِمَامُ قَبْلَ الْقُعُودِ الْأَخِيرِ سَاهِيًا انْتَظَرَهُ الْمَأْمُومُ

او که ولاړ سو امام وبل رکعت ته د مخه تر اخیري ناستي په سهوه سره نو مقتدی دی د امام

ته انتظار وکړي، ساهیا د دی د پاره ووایه. که چیرې امام په قصد ولاړ سی لمونځ یې فاسد او د مقتدی لمونځ هم تبعاً فاسد سو. قال المصنف:

فَإِنْ سَلَّمَ الْمُقْتَدِي قَبْلَ أَنْ يُقَيِّدَ إِمَامُهُ الزَّائِدَةَ بِسَجْدَةٍ فَسَدَ فَرْضُهُ

او که مقتدی سلام وګرځاوه د مخ ترڅو چې امام زائده رکعت په سجده سره مقید کوی نو فاسد سو فرض لمونځ د مقتدی: قال المصنف:

وَكُرِهَ سَلَامُ الْمُقْتَدِي بَعْدَ تَشَهُّدِ الْإِمَامِ قَبْلَ سَلَامِهِ

او مکروه دی یعنی تحریماً سلام ګرځول د مقتدی پسله التحیات ویلو څخه د امام مګر د مخ ترسلام د امام، وجه د کراهت یې داده چې د متابعت د امام پریښو. لکن لمونځ د مقتدی سره د ترک د متابعت په سلام کې فاسد نه دی. حتی که پسله سلامه د مقتدی او د مخ ترسلام د امام د سهو په لمانځ کې نور اوخیژی د مقتدی لمونځ نه دی فاسد. او که مقتدی په تیامم لمونځ کاوه، ده چې سلام وګرځاوه او به پیدا سوی هغه لمونځ صحیح دی «مرط» قال:

فصل فِي الْأَذْكَارِ الْوَارِدَةِ بَعْدَ الْفَرْضِ

فصل دی په بیان کې د هغو ذکرونو چې وارد دی پس له فرضو یعنی پسله فرضی لمونځونو څخه او فضیلت د هغو

الْقِيَامُ إِلَى السُّنَّةِ مُتَّصِلًا بِالْفَرْضِ مَسْنُونٌ

ولاړ په سنتونو جوت په فرضی لمانځه پسی سنت دی **پوه سه**: چې مراد د اتصال دا دی چې تر هغه دعا بالا دی څنډه چې په حدیث شریف کې راغلی. كَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اذا سلم يمكث قدر ما يقول، یعنی وو علیه الصلوة والسلام چې سلام به یې وګرځاوه یعنی د فرض لمانځه څخه درنګ به یې کاوه په اندازه د هغه

چې ویل بې. اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَ مِنْكَ السَّلَامُ وَ اِلَيْكَ يَعُوْدُ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ. ثم يقوم الى السنته:

تحقيق المقام

په حديث مذكور كې لفظ د قَدْرَ مَا يَقُوْلُ آه دے د پاره وَوَيل سوچې بعينه اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ آه لازم نه دى اونه آنحضرت صلى الله عليه وَسلم پردغو الفاظو هميشه توب كړى دى. بلكه په اندازه د مذكوره الفاظو به ئې درنگ كاوه. نوكه څه ترد غو الفاظو لږ بالاوى اوعليه الصلوٰة والسَّلام تر لمانځه وروسته وئيلى وى هم روادى. كما في رواية عائشة رضى الله عنها: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عليه وَسلم لا يقعد الا مقدار ما يقول. يعنى عليه الصلوٰة والسلام نه كښينستى يعنى پس لدفرضو مگر په مقدار د دى چې وئيلے بې. اَللّٰهُمَّ اَنْتَ آه چې په دې حديث كې هم لفظ د مقدار راغلى دى.

عرض دا دى چې نود اسوال نه وارديږى چې په بخارى اومسلم كې داسى راغلى دى عن المغيرة انه صلى الله عليه وسلم كان يقول دبر كل صلوٰة مكتوبة لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. اللهم لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ، اوبيا يوازى په مسلم كې په روايت د عبد الله بن زبير رضى الله عنه داسى راغلى دى. وكان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عليه وَسلم اذا فرغ من صلوته قال بصوته الاعلى لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وحده لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وهو على كل شيء قدير لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ. ولو كره الكافرون. نود دغو الفاظو څخه حاصل دجواب داسو چې په حديث كې د اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ آه تعيين اوتحديد مقصود نه دى. نود دغو وارد و ذكرو څخه هر ذكر چې سړى وكړى پرواه نه لرى **مسئله** داخير حديث څخه داسى هم معلومه سوه چې پورته كول د آواز و په ذكر سره وروسته تر لمونځو چې فرضى وى جائز دى. بلكه بعض سلف وائى

چې دغه رفع د صوت مستحب ده، وَبِهٖ قَالَ ابن حزم من المتأخرين كذا في ط

فائده په بعض كتابو كښې وائى چې دغه الفاظ: كان يقول: كان يفعل. و مثل ذالك دلالت كوى پر دوام او استمرار د هغه قول يا فعل نو دې ته حديثو څخه دا معلومه سول چې داقاعده پر غالب بناء ده كليه نده فافهم **مسئله**: امام طحطاوى چې هغه كلمې چې په اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ په اخير كى چا ريا تى كړى. يعنى وَاِلَيْكَ يرجع السلام فحيينا ربنا بالسلام وادخلنا دار السَّلَامِ، هيڅ اصل نه لرى بلكه دا زائد ى كلمى بعض قصى كوونكو زياتى كړى دى. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَعَنْ شَمْسِ الْأَئِمَّةِ الْحُلْوَانِيِّ لَا بَأْسَ بِقِرَاءَةِ الْأَوْرَادِ

بَيْنَ الْفَرِيْضَةِ وَالسُّنَّةِ

اود شمس الائمه حلوانى څخه روايت دى چې باك نسته په وَيلو كى داوراد و كله اية الكرسى وغيره په ما بين كى د فرضو او سُنتو يعنى اتصال د فرضو او سنتو ضرورى نه دى. او اولى خبره داده چې اوراد دې ترسنتو وروسته وَوائى چې كراهت بالكليه پوره نه دى. لكن صاحب الاختيار د شمس الائمه څخه مخالف دى اوهغه وائى چې هر لمونځ چې وروسته سنت لرى مكروه ده ناسته پله فرضو تا چې فصل راشى په ما بين كى د فرضو او سُنتو مگر هغه قدر چې د سيدتنا عائشه رضى الله عنها څخه روايت دى يعنى اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ الخ هغه مقدار د غه دُعا او يا بله وِرته ذكر چې د مخه تير سوله كراهت نه لرى. مرر

دفهم وړ خبره

چې وسه: چې دغه اتصال د سنتو د فرضو سره په استثناء د اللهم انت السلام آه هلته دى چې دى سنت په مسجد كښې گذارى اوكه كورته ئى اوسنت په هورى كوله نو بيا فصل جائز دى كه څه هم د قدر مسنون څخه بالاوى. ص ۲۵۳

التوفيق بين قولى الاختيار وشمس الائمة

پوه سه چې مراد د كراهت څخه په قول كى د اختيار كراهت تنزيهى دى اود شمس الائمه مراد هم داغه دى ولى چې د لفظ لَا بَأْسَ آه وَئيلى دى. اود لفظ د لَا بَأْسَ په اصطلاح كى د فقهاؤ

په هغه ځای کی مستعمليږی چې مخالف طرف په اولی وی. او یا مراد د صاحب الاختیار ادعیه کثیره دی چې دیر فضل لازمږي.

او مراد د کراهتې څخه کراهتِ التحریم دی. او د شمس الائمه مراد مطلق جواز دی. او مراد په فضل په اللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ آ دی. **مسئله**: په فتح القدیر وائی چې د علیه الصلوٰة والسلام څخه نه دی ثابته سوی فعل د سُنت او فرضو ترمابین په هغواذکارو سره چې پرهغو بانده مواظبت کیږی په مساجدو کښی زمونږ په زمانه کی لکه قرائت د آیة الکرسی وغیره.

سوال: په صحیح حدیث کښی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فقراوو ته دمهاجرینو وویل «تُسَبِّحُونَ وَتَکبِّرُونَ وَتَحْمَدُونَ الحدیث فی دبر کل صلوٰة. نو د دې حدیث څخه پراوښه دواذکارومواظبت فهمیږی.

جواب: آنحضرت صلی الله علیه وسلم خوو دوی ته داسې نه دی فرمائیلی چې دغه ۳۳ واړه تسبیح، ۳۳ واړه اَللّٰهُ اَکْبَر ۳۳ واړه تحمید. تاسی په فرضی لمانځه پسې متصل وایاست کړئ هم ورو سته سُنت هم وږي. نو مراد ویل دَدَغو تسبیحاتو وغیره متصل په فرضو پسې دی چې ورو سته سنت نه لری. لکه دسحار او مازدیګر لمونځ او ورو سته تر سنتو ویل دی په هغولمونځو کې چې ورو سته سنت لری لکه غیر د دغو دوو لمونځو څخه فافهم:

فائده کړچیری مصلی پسله فرضی لمانځه دیری خبری وکړی او یا خوراک څښاک وکړی تر سُنتود مخه ورو سته سنت وکړه. صحیح داده چې سنت په باطل نه دی. البته ثواب په لږ دی. او بعض فقهاء وائی چې هغه چې مُصلی ورو سته وکړه سُنت نه دی بلکه نفل دی

مسئله: په سُنت قبلی او بعدی دواړو کښی وصل د فرضو سنت دی. مګر هغه کی سُنت قبلی یا بعدی کور کولو بیا فصل روادی کړئ هم پیروږي. مثلاً یوسړی دسپیدو سره دسحار په کور کښی سنت وکړی او بیا د جماعت تر وخته په اذکارو او وظائفو سره اخته وی پروا نه لري.

بیانُ الافضل

پوه سه: چې په سنتو کی افضل داده چې داسی ځای دی ګذاری چې دې ته یا څخه لیری وی او اخلاص پکښی وی او کامل وی که قبلی وی

اوکه بعدی وی. که کور وی اوکه بَل ځای. ما سوا د تراویحو او تحیة المسجد، ولی چې افضل په تراویحو کښی مسجد دی او تحیة المسجد خو مسجد د پاره ده. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَیُسْتَحَبُّ لِلْاِمَامِ بَعْدَ سَلَامِهٖ اَنْ یَّتَحَوَّلَ اِلٰی یَسَارِهٖ لِلتَّطَوُّعِ

اومستحب ده امام لره بعد السَّلام داچې څرګند شبرسی د فرضی لمانځه د

بَعْدَ الْفَرْضِ ځای څخه یعنی په محراب کی که ترشا صف مُتصل وو ځای نه وو او یا وه بغل ته محراب وو، لکن دامام وچپه لاس ته دی د پاره چې تطوع یعنی سُنت وګذاری پس له فرضو څخه

پُوه سه: چې چپه طرف د مُستقل راسته طرف د مقابل راسی لکه دوه کسان چې سره مخامخ ودریږی نو د هغوی چپه طرف د هغه په راسته برابر یږی. نو د مصلی چپه اړخ د بیت الله شریفې راسته اړخ ګنړل کیږی. د دې انصراف وجه داده چې یمین لره د قبلی فضیلت ستة. که څه هغه بَل طرفته هم انصراف روادی. او د اصل تحول وجه داده چې که امام پر عین ځای د فرضو سُنت کوی خلګو ته چې راسی اشتباه پیدا کیږی چې د دوی به خیال داسی چې امام هنوز په فرضی لمانځه کی دی. او د اهم مستحب ده چې قوم دې څه څه وچپه لاس ته سره وخوزیږی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَنْ یَّسْتَقْبِلَ النَّاسَ بَعْدَهٗ

اومستحب ده چې امام به مخ را اړه وی و خلګو ته یعنی ورو سته تر سُنتو او تطوع اویا متصل په فرضی لمانځه پسی کور ورو سته تر لمانځه تطوع یعنی سنت نه وه لکن کر مخامخ وامام ته لمونځ کوونکی نه وُو. د دې د مخ را ګرځولو څخه مقصود اذکارو وغیره ویل په اجتماعی توګه او دعا کول دی په اجتماع د وَل چې تفصیل بې شبه د وَل درویش وکړی اِن شَاءَ اللّٰه:

واوره: چې وهابیان، او سلفیان، او د زمانی اهل حدیث، دعاء په اجتماعی د وَل پسله سنتو څخه چې خلګ او امام په کوی بدعت بُولی. او ملایان د دوی د بدعت معنا وعوامو ته نه بیانوی. حتیٰ چې د عوامو داخیال دی چې بدعت معنا کفر دی دیوه عامی څخه د دوی عاصی پوښتنه وکړه چې ته چې وائی چې دا اجتماعی دعا بدعت ده

دبدعت څخه معنیٰ ده. هغوو ویلې دبدعت معنیٰ شرك دی. أَسْتَغْفِرُ اللهَ الْعَظِيمَ

پوښتنه: چې دعاء بعد السنن خو بدعت نږدې بلکه بعض فقهاؤ یې مستحب هم ښولې. لکن په مجمع الروایات کې وائي چې امام چې د فرض او سنتو څخه فارغ سي دده خوښه ده که خپلې اوراد وائي په ناستي اویا په ولاړي،،

سوال: دجمعې د لمانځه په اینټو کښې خدائي وائي. فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ الآیة نو دی آیت څخه خو دا معلومه ښکاره چې اجتماعي دعا نسته **جواب** امام طحطاوي وائي چې دا امر د پاره د اباحت دی. او اباحت ده نه کولو د دعاء اجتماعي منافي د استحباب سره نه دی: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَسْتَغْفِرُونَ اللهَ وَيَقْرَؤُنَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ وَالْمُعَوِّذَاتِ

اودوی دپاره طلبِ بخښنې وکړي د خدای څخه. اودوی دوائي آیة الکرسي او قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ آه قل أعوذ برب الناس آه چې درې سره وړې سورتې معوذات تغلیباً وائي

وَيُسَبِّحُونَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَيَحْمَدُونَهُ كَذَالِكَ وَ يُكَبِّرُونَهُ كَذَالِكَ

اودوی دي سُبْحَانَ اللهِ وائي ۳۳ واره او الْحَمْدُ لِلّٰهِ دی وائي هم ۳۳ واره. او اَللهُ اَكْبَرُ دی وائي هم ۳۳ واره. قَالَ

ثُمَّ يَقُولُونَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ

اوبیادی دا کلمې وائي. نسته معبود ماسوا الله څخه چې یوړی شریك نه لري. اودهغه باچهي ده.

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ثُمَّ يَدْعُونَ لِأَنْفُسِهِمْ وَلِلْمُسْلِمِينَ

اوهغه الله لره حمد دی. اودی پرهرشي باندې قادر دی. اووړوسته دی دعا وکړي په اجتماعي ډول خپلو ځانونو او ټولو مسلمانانو نوته.

رَافِعِي أَيْدِيَهُمْ ثُمَّ يَمْسَحُونَ بِهَا وُجُوهَهُمْ فِي آخِرِهِ

راښودی د دعا سره پورته ښولې وی. اوبیادی مسح کړي په لاسونو سره خپل مخونه په آخر کښې.

د امام اومنفرد تر لمانځه وروسته اوراد

په حدیث کې د ثوبان ﷺ داسې راغلي چې ووبه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د لمانځه څخه به خلاص سو، درې واره به ئې استغفر الله تعالیٰ وَیله. اوداې هم ویله اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ آه رواه مسلم وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: کرځوك استغفار روائي وروسته ترهر لمانځه دری واره اوداسې ووائي: اَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ نو خدای پاك بې ګناهونه وربخښي که څه د جنګ څخه د کفارو تښتیدلی وي. اوایة الکرسي دې هم وائي: لقول النبي صلی الله علیه وسلم: کرځوك ووائي په وروسته کې دهر لمانځه ایت الکرسي نو نه به ئې منع د دخول څخه د جنت مګر موت. اوکه چا ایت الکرسي وویله په هغو وخت کې چې پرځای د خوب د پاره پریوځي خدائي به امن کې ولري د ده سرای اوسرای د همسایه ده اونور کور و نه شاوخوا ده،، ط ص ۲۰۵ اوبل معوذات دی وائي. لقول عقبة بن عامر: اَمَرَنِي رسول الله صلی الله علیه وسلم ان اقرء المعوذات دبر کل صلوٰة. اوتسبیح او حمد او تکبیر دی وائي ۳۳، ۳۳، ۳۳، واره چې په حدیث شریف کې راغلي دی که چا دغه تسبیحات یعنی چې په نور الایضاح کې هم دا اوس تیر سوه وویل. وبه بخښل سي ګناهونه ددې که څه هم په مثل د ځګ د دریاب وی. رواه مسلم.

پوښتنه: چې د دغو تسبیحاتو په مابین کې خو ترتیب لازم نه دی یعنی هر یوه کلمه چې د مخه کوی روا ده. اوپه روایا تو کې د حدیث مبارك کې ووایم ګاهی یوه مخه وی اوګاهی بله د مخه وی. لکن اولیٰ داده چې اول دی تسبیح ووائي چې معنا یې داده چې خدائ دهر عیب څخه پاك دی. چې د دې ته په عربي تخلیه وائي. اوبیادی تحمید ووائي چې معنا یې داده چې خدائ په ښو اوصافو ستائیلی دی. چې دې ته په عربي تحلیه

وائی اوقانونا تخلیه تر تخلیه د مخ ده - مثلاً سړی به سر پاک مینځی او بیا بی غوږ وی. او مسګر به دد یګ خیره ایسته کوی بیا بی سپینه وی. ولهذا امثلة کثیرة ۰

او تر دواړو وروسته دی اَللّٰهُ اَکبر ووائی چی دال پر تعظیم اللّٰهِ دی. ولی چی طبعًا تر تخلیه او تخلیه وروسته دئ.

پوهه سه: چی په بعض احادیثو کی ۱۱ یوولس واړه شپین ږاغلی دی. او په بعض روایاتو کی لسّ لسّ ږاغلی دی. او په بعضو کی ۷ شپین ږاغلی دی. او په بعضو روایاتو کی ۷ اویا اوّیا ږاغلی دی. او په بعضو کی یوو واړه ږاغلی دی: حافظ زین العراقیؒ وائی چی یحتوله اعداد بنه دی. وَمَا زَادَ فَهُوَ اَحَبُّ اِلَی اللّٰهِ او بدر الدین العینیؒ په شرح کی د بخاری. او ملا علی قاریؒ په شرح کی د مشکوة وائی. چی د دغو عددو تفاوت په سبب د اختلاف د احوالو مصلی دی مثلاً دچا تلوار وی یا خوک معذور وی. او یا دچا سره بَل سړی مجلس کوی. او بغوږی وائی چی دا اختلاف د پاره د خیار د لمونځ ګذاره د پاره دی ۰ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ ۰

آدابُ الدُّعَاء

دعاء کوونکی به دواړه لاسونه پورته کوی تر برابره پوری د ځیګر، او مخ ښکاره لاسونو طرف ته د مخ د داعی وی. او په حصن حصین او شرح دهغه کی وائی. چی لاسونه به ټس برابره پوری داوږو پورته کوی، او د ورغوی بی وطرفته داسمان وی، لانها قبلة الدعاء ۰ لکن د دی دوو رفعو تفاوت لږ دی. اصلی مقصود دا دی چی دلاسو مخ ښکاره د محکی وخواته نه وی او په حدیث کښی دابوداؤد هم ودغه توجیه ته اشاره ده، عن ابن عباسؓ ان ترفع یدیک هذو منکبیک او دونهما. **پوښتنه**: په حدیث شریف کی ږاغلی دی چی رسول کریم صَلَّی اللّٰهُ علیه وسلم لاسونه دومره پورته کوله چی سپین والی د بغلو بی معلومیږی. **جواب**: هو دومره پورته کول یا په حال کی د استسقاء وه. او یا د پاره د بیان جواز دی. او یا په سخته بلاء کی. او یا د پاره د مبالغه په دعاء کښی ۰ ط

په نهمه کی وائی چی کیفیت د مستجبی دعاء د اړی چی په مابین کی د لاسو دی لږ پیوست وی

مسئله یولاس پرمخله او یو پورته کول په دعاء کی مکروه دی. نو کی دواړه لاسونه نه سوای پورته کولای په سبب د کوم عذر، او یا د یخ په سبب. نو یوه ګوته مسبحه هم کافی ده چی پورته یه کړی. لکن په شرح کښی د حصن حصین وائی چی ادب د دعاء دا دی چی لاسونه دی سره جوت نسی او ګوتی دی وقبلی ته مخامخ کوی. او په شرح کی د مشکوة وائی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم جمع کړه دواړه ورغوی په دعا کی. د رویش وائی. چی د دی کیفیتو په مابین کښی منافات نشته. ولی د حصن حصین مراد دا دی چی لاسونه دیر سره نژدی وی. نو لږ فرجه خو هغه سره منافی نه ده. او په حدیث شریف کی مراد دا دی وَاللّٰهُ اعلم چی علیه السّلام په دواړو لاسو دعا کوله نه په یوه لاس. حاصل دا چی لاسونه به دواړه پورته کوی. او دیر بی لیری نه سره نیسی او مابین کی دی لږ پیوست او فرجه وی. او بل ادب د دعاء دا دی چی پسله دعاء د لاسونه پر مخ تیره وی. په حدیث شریف کی ږاغلی دی چی ته د رخواست وخدائ ته کوی نو دعاء کوه په باطن دارغوږ او په شادهغوږ مه کوه. او چی د دعا څخه فارغ سوی بیا دواړه لاسه پر مخ تیر کړه. او په بل حدیث کښی ږاغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم چی به لاسونه پورته کړه په دعا کی نه ئی کښته کول تر هغو چی مخ مبارک یی په مسح کړی. او یولاس پر مخ تیر ول عادت د متکبرانو دی نو مکروه دئ.

فائده: د اخیر حدیث څخه یعنی چی علیه السّلام به لاسونه پورته کړه آه اشاره ودی ته ده چی د پاره د دعا لاسونه پورته کول شرط نه دی. او چی لاسونه نه کړی پورته بیا مسح د مخ هم نه غواړی. دلیل یه دا دی چی علیه الصلوٰة والسّلام د پیری دعا ګانی کولې په نفلی لمانځه کی، په طواف کی، او په ورو سته کی د لمونځو، او په وخت کی د بید یدو، او پس له خوړلو که، او نور د غسی نه یادیږی، او لاسونه یه نه پورته کول، او نی مسح د لاسو د مخ مبارک کول، کذا فی شرح المشکوة و شرح حصن الحصین

سنه دُعاګانی او بنه وخُتونه

دابی امامةؓ څخه روایت دی چا وویلیه یا رسول اللّٰه ای الدعاء اَسْمَع یعنی کومه دعا بنه قبلیږی. قال جوف اللیل الآخر، په اخیر

حصه کی دَشپی، ودبر الصلوات المکتوبات، اوورو سته ترفرضی لونځو. چونکه دا
حدیث مطلق دی نومراد دادی که ترفرضی لمانځورو سته سنت ندوَه خو پسله لمانځه به
دعا کوی اوکه سنت وه نوچی سُنت وکړی بیا به دُعا کوی. نودغه دعا گانی که په انفرادی
ډول وی اوکه په اجتماعی توگه وی. اوپه اجتماعی توگه اجابت ته اقرب دی. نوهم داسبب دی
چی دجماعت لمونځ په ۲۵ یا ۲۷ درجی په ثواب بالا دی تریوازی لمانځه.
اوبل سبب هم دادی چی په انفرادی دعا کی ددا عی خپل حال معتبر دی په اخلاص او
حضور القلب کی اوپه اجتماعی دعاء کی که چیری یوسړی حاضرالقلب اوخاشع اواخلاص در
لوونکی وو اود هغه دعاء خدائ قبوله کړه دتولو دعا کوونکو دعاء تبعاً وبرکه قبلیږی. ولی
چی پریوه ځای وخدائ ته پیش سوی اورب جل شانه اکرم دی دده څخه چی دبعضو خلگو
دعاء دی منظوره کړی اود بعضو دعاء دپاره رد کړی. اوبل دلیل دادی چی دنورو الایضاح عبارت
هم پراجتماعی دعاء دلالت کوی. ولی چی وائی امام دپاره مخ وخلگوته راواړوی. ثم یستغفرون
لانفسهم وللمسلمین آه نوکه انفرادی دعاء وائی نودامام مخ راوګرځوته څه ضرورت وُو.
اود یَستغفرون په صیغی دجمع څرمعنی وه. وهابیان، سَلفیان اوددی نهانی په نامه
محدثان وائی چی دعا بالاجتماع خصوصاً بعد السنن بدعت دئ.

او **درویش** به ددې مسئلی بنه په زړه پوری تحقیق ورو سته وراندی کړی ان
شاء الله کرخه هم درویش ددی مسئلی تحقیق په سیف القندهاری کی چی دخیالی پریباض
سره دنورو مسئلو دوهابیانو وغیره هم کړی دی. لکن چونکه هغه رساله عربی ده. نوزه غواړم
چی ددغی یوی مسئلی ددعاء اجتماعی تحقیق په مناسبت دمقام په پښتو عام الفهم ژبه
دلته هم وکړم تاچی دعوام ودزړو څخه شکوک دوهابیانو ووزی. ومن الله التوفیق

پوه سه: چی بنی دعا گانی هغه دی چی یا په قرآن کریم کی په مختلفو آیتو کی راغلی دی
او یا په صحیح حدیثو کی راغلی چی دهغوشمیر بیخی ډیر دی. اویا دصحابه کرامو څخه منقول
وی اویا دتابعینو څخه منقول وی. وهکذا، په حدیث شریف کی راغلی دی چی رسول کریم
صلی الله علیه وسلم وحضرت معاذ ته ووئیله وَ الله انی لاحبك، قسم په خدائ

دی چی زه تا دوست گڼم، اُوصِیكَ یا مُعاذ، زه وصیت کوم وتا ته ای معاذه، لَاتَدَعَنَّ
دبرکل صلوٰة اَنْ تَقُول، ته هرگزمه پریږده په ورو سته ای دهر لمانځو وینا. دا ترکه
اللّٰهُمَّ اَعِنِّی علیٰ ذِکرِك و شکرك وحُسن عبادَتِك،،

مسئله: دَتسبیحاتو اویا دډیر عدد والا اوړاد ویل پرگوتو افضل دی اوکه پر ډبرو
اویا دخرما پرمندکو اویا مصطلح تسبیحگانو، په صحیح حدیث کی راغلی دی چی امهات المؤمنین
یا پرکشنی دبرو خپل ورد وایه اوآنحضرت صَلی اللّٰهُ علیه وَسلم هم ولیدَه اومنع یې ورته نه کړه.
او بعض فقهاءٌ وائی چی پرگوتو حساب کول افضل دئ. لکن صحیح داده که خوانندهٔ دغلطیدو
څخه په امن کی وُو. نو پرگوتو ورد وَیل افضل دئ. اوکه په حساب کی خطا وتی نوسنگریزی یا
معتاد تسبیح گانی افضلی دی،، کذا فی شرح المشکوٰة،،

مسئله: قال بعض الفقهاءٌ چی هغه اذکار چی په احادیثو کی راغلی وی. اود هغود پاره
یوعدد مخصوص ښوول سوی وی اوثواب مخصوص بیان سوی وی. نوکه یوسړی په قصد
سره ترهغه عدد مخصُوص بالا ووائی نوهغه سړی ترهغه ثواب چی په هغه کم عدد کښی
راغلی وی نه ورکول کیږی. دوی وائی چی شاید په هغه ښوول سوی عدد کی به یوحکمت
الٰهی وی چی ترهغه یا لاعدد کی به نه ورکول کیږی. لکن بدرالدین العینیؒ په شرح کښی د
دبخاری شریف وائی چی دَغه اعداد چی ښوول سوی دی داداسی حدود نه دی چی ترهغو
به تجاوز ناروا دی، اوخاصیت بی خاص پرهغه عدد مرتبیږی بلکه اذکار الٰهیه چی
طاعت دی په هغو کښی حصر اوبندیز نسته بَل هی مما یتنافس فیها المتنافسُون ویرغب
فیها الراغبُون،،

درویش وائی چی هُو اذکار الٰهیه چی فقط وفقط دپاره دَتحصیل دَثواب وسیله کیږی،
په هغو کی تَعیین دعدد وارد شرط نه دئ. لکن بعض اوراد یا وظائف چی مشائخو کرامو دپاره
دحصول دیو مطلوب جائز په عدد مخصُوص وضع کړی وی په هغو کی دتجاوز تر
عدد معین عمداً نه کوی. اونه دی ترهغه معین کم وائی. دده په مثال کی دوی داسی وائی چی
دقلف دکلی غاښونه کم ترحد معین دقلف دپاره بالاوی اوکه ترهغه قدر کم وی قلف نه

مرتبه راکړي لکه د انبیاء علیهم الصلوٰة والسّلام. اویوعادی سړی وائي چې مات دتولی دنیا پاد شاهی راکړه، اونور اولبض وائي چې د دعا په وخت کې چغې وهل. اولبض وائي چې د دعا په الفاظو کې تکلیف په سجع کې کول. اولبض وائي چې طلب د داسی شی کول چې د هغه حقیقت معلوم نه وی. لکه یوسړی چې ووائي خدایه ته په ما عنقار اووینی. یا عذاب القبر اووینی وغیره دالک:

فائده: مصنف ووئیله و للمسلمین د دے عبارت څخه دا معلومه سوله چې عمومی دعاء ومسلمانانو ته روا ده. ولې چې خدای پاک په قرآن کریم کې د حکایت د قول د ابراهیم علیه الصلوٰة والسلام په دی الفاظو سره کړي دی، «رَبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ» وقال الله مخاطبا للنبی صلی الله علیه وسلم: «وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ» **سوال:** امام عراقی وئیلی دی چې تولو مسلمانانو مومنانو ته دعاء مغفرت د تولو ګناهونو حرامه ده. ولې چې حکمت د وعید د خدائی مومنانو ته پر بعض کبائرو ګناهونو لکه په قرآن مجید کښې چې په خوځایو کې راغلی ده. دمابین څخه څې. اوپه ورته دعاګانو درغوائیتو څخه مخالفت لازمیږی. **جواب** د سوال څخه اود عا څخه د مغفرت مذکوره دا نه لازمیږی چې خدای پاک به تولو بخښنی. ولې چې اجابت د دعا پر خدائی لازم نه دی صرف اوصرف په ورته دعاء کښې د مغفرت اظهار د افتقار او احتیاج دی ورب جل شانه ته. وعلی تقدیر الاجابة لا یلزم ان یغفر لهم جمیع الذنوب» بلکه عین ممکنه ده چې په سوال مذکور کې د تولو مومنانو بعض ګناهونه خدای جل شانه وتولو مومنانو ته ورو و بخښی» هذا ما ذکره ابن العماد و نقله الامام السطحاوی مع زیادة من در»

فروع د علماوو په دی کښې اختلاف دی. بعض وائي چې په ذکر کښې اخفاء افضل کار دی لاحادیث کثیرة. چې یودهغو څخه دادی «خیر الذکر الخفی. وخیر الرزق ما یکفی. اوبل وجه داده چې خفیه ذکر کښې اخلاص وی او اجابت ته اقرب وی. اولبض علماؤ وائي چې ذکر بالجهر افضل دی. او په دے باره کښې هم پیر احادیث نبویه موجود دی. چې یویه ماروا ابن الزبیر رضی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې به د لمانځه سلام وارا وه په لوړ اواز بې داسی

نه په خلاصیږی. نوهم دغه رنګه مشائخو چې کوم عدد په یوه ورد کې دیوه خاص مطلوب پاره ټاکلی وی. تر هغه په کم یا زیاد سره قصداً هغه مطلوب نه حاصلیږی.

پوښتنه: آیا داسی روا ده چې سړی لبض آیات قرآنیه او یا بعض اسماء الهیه یا بعض ادعیه ماثوره، یا بعض درود ونه د بعض مقاصدو او مطالبو د پاره واسطه وګرځوی او که څنګه؟ **جواب:** هو بلکه تر استعانت په ادویه وو طبیبه وو او یا په آلات ظاهره ووسره استعانت په مذکوره شیانو سره دیر اعلیٰ او افضل دی. چې دایاك نعبد وایاك نستعین، همدا غه معنا ده.

سوال: آیا دغه اذکار په عدد معین سره په وخت معین کې پرله پسې ویل شرط دی او که تفرق هم روا دی: قال البدر العینی: کل ذالك لیس بشرط» لکن افضل یه تتابع ده په هغه معین وخت کې. **پوښتنه:** چې په نور الایضاح کې داسی عبارت دی، «ثم یدعون لانفسهم» په حدیث شریف کې راغلی دی «وابدء بنفسك» الحدیث، دا حدیث که څه هم په انفاق ظاهری کې وارد دی. لکن محققان د علماؤ وائي چې په امورو کې د اخرت یعنی د مجښنی غوښتنی همدا غسی شان دی. حتیٰ چې علماء وائي پر عالم واجبه ده چې شروع د تعلیم دی د تولو څخه په خیال سره کوي. بدلیل قوله تعالیٰ. قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا» کذا فی شرح الجامع الصغیر للدبیاری.

بل ادب د دعا دا دی چې په طلب کې د حاجت دې وخدای جل شانه ته پریښکیږی اومرة بعد اخری او وقتاً فوقتاً خپله غوښتنه مکرره وی او د طلب څخه د حاجت دی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کوي. **د دعاء مکروهات:** د دعاء په وخت کې د آسمان وخواته نه ګوری. ولې چې په دی کې د ترك ادب دی او توهم د جهت د خدائ کیږي. اوبل مکروه تجاوز تر حد دی په دعا کې. لقوله تعالیٰ: إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْمُعْتَدِينَ» مفسران وائي چې تجاوز تر حد دا دی چې د داسی شئ سوال کوی چې هغه محال وي یا شرعاً یا عقلاً. اوبعض اهل تفسیر وائي چې اعتداء په دعا کې داده چې سړی د داسی شئ طلب وکړي چې د دغه د حال سره مناسب نه وي. لکه چې یوځوك چې خواست وکړي چې خدایه وما ته په اخرت کې دومره

وئیلہ لَآاِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَاشَرِیْکَ لَہٗ: اوبل دلیل دادی چی علیہ الصلوٰۃ والسلام
به امر کاوه هغه سړی چی قرآن بی په مسجد کی وایه. چی داسی وایه چی بَل څوك یه هم اوری
او عبد الله بن عمرؓ به امر کاوه. یوڅوك چی قرآن مبارك په جهر پرمونږ ووایه او دوی
تولو به غوږ ورته نیولی وو. او بل دلیل دادی چی په جهریه ذکر کښی عمل دذاکرتر
خفیه ډیردی. او نفع یه متعدی ده. ولی چی زړونه دغافلانو راویښوی. او اوریدونکی
هم تدبر په کښی کولای شی:

ذکر خفی او جلّی

الجمع بین الاحادیث المذکورة هذا: ذکر خفی اوجلی په خلکو کی او په احوالو کښی مختلف کیږی
بالاولویة «مثلاً که سړی په ذکر جهری کی پر ریاء بیریدی. او یا بَل څوك په آزاریدئ
نو اخفاء افضله ده، او که دا موانع نه وه نو ذکر جهری افضل دی. لکن پروجه مشروع یعنی
الفاظ د ذکر به صحیح وائی. اورقص به نه کوی. او څپل ځان به خلکو ته بلا جذبه مجذوب
نه ښکاره کوی. او په تمامی سکون او خشوع او حضور قلبی به ذکر جلی جهری کوی.

مسئله: په فتاوای بزازیه کی وائی چی څوك دے سړی نه منع کوی د ذکر جهری څخه
په مساجد وکی. یعنی چی شرطونه د ذکر جهری موجود وی. تاچی ترایت مبارکه لا ندی
داخل نه یی. وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّٰہِ اَنْ یُّذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ» اوامام شعرانیؒ
پخپل کتاب کی چی نوم یه «ذکر الذاکر المذکور» و الشاکر المشکور» دی. داسی تصریح
کړیده: اجمع العُلماء سلفًا وخَلفًا: پردی خبره چی مُستحب دی ذکر د خدائ په مساجدو کی
او په نورو ځایونو کښی په دَله سره. مگر هغه وخت بیا مکروه دی که دد غو خلکو ذکر بالجهر
یا بیده سړی د خوبه وزی او یا یه لمونځ کوونکی ته تشویش په لمانځه کښی ورپیښ وی
او یا تالی د قرآن د وظیفی څخه ایستل کیدی» وقال الشعرانیؒ کما هو المقرر فی کتب
الفقه»

مسئله: د حنفی د فتاوای قنیه څخه نقل کړی دی چی مکروه ده چی په ډله ایزی ټوګه

قرآن شریف په زوره وائی. ولی چی دد ے ایت څخه مخالفت دی: وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا
وَاَنْصِتُوْا: اوبعض فقهاءؒ وائی چی پروا نه لری. **مسئله**: په حمام کی د قرآن پاك وَبَل
نه څوك عورت لخی نه وو. اوغولی د حمام پاك وو جهرًا اوخفیةً روادی. اوکه دا دوه شرطه
نه وو موجود نو جهر مکروه دی اوخفیةً روادی.

مسئله: په باب کراهت کی د در مختار وائی چی خوش آوازی په وخت کی د تلاوت
د قرآن کریم یا د اذان کولو نه کاردی لکن په شرط دد ی چی حروف به نه زیاتوی. ورنه دا ده ته
هم اوریدونکی ته هم مکروه دی ده ته زیاتول د حروفو او اوریدونکی تی غوږ
نیول **مسئله**: کمیوقاری یا یومؤذن په زیاتولو د حروفو تلاوت کاوه
یا به اذان کاوه. اودی چی ساکت سو بل یوه ورته وویل احسنت»، نوکه د دی بل سړی
مراد دا ووچی نبه دی وکړه چی پته خوله سوی. نو دا خو نبه خبره ده. اوکی مراد دا ووچی
«احسنت قرائتک القرآن، یا احسنت الاذان» بیره دکفر پرسته. ولی چی غیر مشروع کار تی
احسنت ووایل» وفیه ایضاً التغنی بالقرآن یعنی په نبه آواز اوشوق ویل د قرآن
نبه کاردی لکن چی الفاظ د قرآن مبارك اوحروف د هغوده په تغنی سره ترحدود وعربی
ژبی نه ووزی. والا فمکروه بَل حَرام.

خبره ترخبرې یوه سره: چی سروز یعنی غزل ویل که چیری په هغی کی
د معینی ښځی چی ژوندی وَه اویا تعریف کول د شرابو
چی د خلکو رغبت ورته پیدا سی، یا هجوم اوزمردیوه معین سړی که څه هم اهل ذمه وی
حرام دی. اوبعض علماء وائی که سروز په واده کی نه روادی لکه د ریه وهل په واده کی او
بعض صوفیان وائی چی تغنی او سروز مطلقًا مباح دی. اوبعض فقهاءؒ وائی چی مکروه دی
مطلقًا، «کل ذالك ذکره البدر العینی» لکن په بحر الرائق کی وائی چی د حنیفیا نو مذهب
دادی چی تغنی مطلقا حرام دی» بلکه د هدایهٔ د ظاهرِ عبارت څخه داسی فهمیږی چی تغنی گناه
کبیره ده که څه یوازی د ځان د پاره وی. وهو قول شیخ الاسلامؒ وکذا السامعه الحاضر کذافی سکب
الانهر»

- اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما آمین.

فائده دغه کسان چې دزوی یا دورور پـه واده کی مثلاً د نورو میلمنو دپاره پـه اصطلاح شوقیان راولی او گویا وی ورته بسته کړی چې ټوله کورونه یـه واوری، اودبنځو دپاره ښځی غولیان پـه اصطلاح مسلیانی راولی ترسحاره دواړی ولی پـه غږلو سره دسرو زتیرولو دا فعل حرام اوگناهِ کبیره ده: قال الامام الطحطاویؒ ناقلاً عن سکب الانهر: اوهرچیرته چې گول دی پـه وخت دذکر اویا چک چکی گول دی دذکر سره. اویا رباب وهل دی یاساز نگ یاباجه وهل دی پـه وخت کی دذکر کما یفعله بعض من یدعی التصوف فهوحرام باجماع الفقهاءؒ ولی چې داعادت دکفارو دی.

مسئله: جذب اووجد چې سړی پـه کښی مسلوب الاختیاره وی. اوحرکات یـه لکه حرکات دمرتعش وی پرهغیځ ملامتیانو نـه اونی انکار روادی. اوهغه جذب اووجد چې سړی ئی قصداً پـه حال کی دهوش کوی صرف ددی دپاره چې خلگوتـه وښـکاره چې نـه دذکر پـه سبب جذب سوم هغه ناروا اوگناه ده. کذا فی مجمع الانهر والتاتارخانیه.

بی حایه فائده مصافحه یعنی روغبړ سنت دی. پـه ټولواوقاتو کی. لما اخرج ابوداؤد عن ابی ذرؓ: نـه هیڅ کله نـه یم یوځای سوی درسول الله صلی الله علیه وسلم مگرنـه ماسره ئی روغبړ کاوه آ. اوهم دابی ذرؓ څخه روایت دی چې یووخت نـه ماسره علیه الصلوٰة والسلام دغیږی روغبړ وکی. یعنی لاس یـه پـه غاړه کښی راواچاوه. **دروغبړ مسنونه طریقه** داده چې ورغوی پرورغوی سره برابر کړی اوښامخ سره ولاړوی. اوصرف گوتوسره نیول روغبړ دخوارجو دی. اوروغبړ یـه پـه دواړه لاسروی. پـه یوه لاس روغبړ مکروه دی. اود نرو دپاره پرلاسو یوتک اچول اوبیا روغبړ کول مکروه دی.

اوپـه هدایه کی وائی چې مکروه دی مچول دیوه نربـل نرلره پرخولـه اویا پرلاسو یا پربـل ځای. اوچې یولنگ ئی وهلی وی خیټه یـه لخته وی دغیږی روغبړ مکروه دی. و قال ابویوسفؒ لا باٴس بذالک کله: لکن پـه غایة البیان کی وائی: مچول د لاس دعالم اویا عادل بادشاه روا دی.

پـوه سله: چې بدرالدین العینی دپرحدیثونـه ذکر کړی چې پردی دلالت کوی چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم لاسونـه، اوپښو بعض خلگو یعنی بعض صحابهؓ مچ کړی دی اوپـه حدیث شریف کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام حسنؓ اوفاطمهؓ مچ کړی دی. اوعلیه السلام عثمان بن مظعونؓ پس لـه مرګ نیی مچ کړی دی. اواهم پـه صحیح حدیث کی داهم راغلی ده چې علیه السلام دخپل آکا زوی جعفرؓ پرتندی مچ کی. اوپـه مقدمه کی د بخاری داهم راغلی ده چې امام مسلمؒ د امام بخاریؒ ملاقات تـه یوه ورځ وراغلی. اود امام بخاریؒ لاسونـه یـه وړ مچ کړه. اودایـه ورته وویل دعنی اقبل رجلیک ماپرین ده چې پښی دی هم درمچ کړم.

قال البدر العینیؒ پـه دیره تفصیله دمصافحی پـه باب کی چې ددی ټوله تفصیل چې مونږ ذکر کړی دامعلومه سوه چې مچول دلاسو، اوپښو، اودسر، اودتندی، او بـین العینین چې پروجه داکرام اواحسان وی روادی. اوکه پروجه دشهوت وه ټوله ناروادی مگرنـه مابین کی دمیړه اوما ینی، اویا دباداراود منیځی ترمابین یعنی پـه شهوت سره مچول روادی، ونقل الامام الطحطاویؒ عن رفع العوائق نقلاً عن بحرالرائق: چې پروانسته، پـه مچولو کی دلاسو دعالم اودسلطان عادل، اوپـه غیر کی ددی دوو نفرو کی غرض پـه مچولو کی دلاس دنیائی غرض وونـه مکروه دی. اوکی ارادت تعظیم اواکرام د سلمان وروړو اوعزت ورکول وهغه تـه وی فلا باٴس بـه یعنی پرواه نلری.

فائده: دقرآن پاک مچول روادی بلکه مستحب دی. ولی چې امیرالمؤمنین حضرت عمرؓ پـه هرسحار قرآن مبارک مچاوه. اوامیرالمؤمنین حضرت عثمانؓ پـه هم قرآن شریف مچاوه اوهم پـه مسحه کاوه.

مسئله: مچول دپوډی مذهبیان دحضرت الامام الشافعیؒ بدعت مباحه بولی. وقالوا چې مکروه دی پـه دوډی ختل نه مچول ئی. قال البحر وقواعدنا لا باٴس، وفی رسالة المصافحة للشرنبلالیؒ چې پـه ځای دسلام تحیته پـه رکوع سره اویا پـه کښته کولوسره دسر یا پـه پوره تـه کولوسره دلاس مکروه دی. وهرچا تـه چې وی.

کما نصت علیه الحنیفیة، لکن شرنبلالی نه یاته کړیده چې اشاره هلته مکروه ده چې فقط دغه اشاره وکړي. یعنی که یوسړي لیږي ووستا دخولې سلام نه ورسیدی نو تاپه خولا سلام ووایه لکن اشاره دلاس دد ے دیواړه وکړه چې هغه پرې دی پوه سی چې ما ته یې سلام واچاوه نو بیا کراهت نسته، اوشرنبلالیؒ یوحدیث ذکر کړی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم. جمع والی کړي دسلام ویلو اود اشاره کولو ترمابین،،

مسئله: په مشکل الاشارکی وائی چې دیوه چا د تعظیم دپاره وهغه ته ولاړیدل مکروه لعینه نه دی. مکروه هغه وخت دی چې دهغه سړي داخوښه وی چې ماته د ے ولاړسی. اوکه دهغه تقاضا نه وه لکن بیاهم خلګ ورته ولاړسوله نوکراهت نسته. او بعض فقهاء وائی چې صرف وعالِم ته ولاړیده روا ده. اوبل چا ته ولاړیده نه ده روا. په مشکوٰة کی د ابوهریرهؓ څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به زمونږ سره په مسجد کی خبری کولی نوهغه وخت چې دی مبارک به ولاړسو نومونږ به کښی نسلوو وعن واثلة رضی الله عنه بن الاصقع رضی الله عنه روایت دی چې یووخت یوسړی پرعلیه الصلوٰة و السلام داخل سو. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وخوزیدی هغه سړی ورته ووئیله چې ځای دیردی آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته ووئیله: ان للمسلم حقاء ب، ط، د، ه،

دروښ والی چې دے په مسئلو کښی وهابیه، سلفیه، وغیرهم مخالف دی بلکه اکثر د دغو کارو دغه ډلې شرک مطلق بولي. لکن مقلدین به د خپل مذهب دکتابو مراعات کوی نه د دغو ډلوچې ابتداع فی الدین کوی.

بسم الله الرحمن الرحیم

محترمو لوستونکو! دا کتاب به ان شاء الله العزیز تاسوته د دی مکتبې مکتبة القراءة والتجوید له خوا مکمل تاسوته وړاندی سی. اخر فضل الحق حقانی غفرله

بسم الله الرحمن الرحیم نحمده ونصلی علیٰ رسوله الکریم وعلیٰ آله وصحبه أجمعین امابعد

خوانندہ کان محترم دروښ، ستاسی سره وعده کړی وه. چې د دعاء مبحث به په ښه تفصیل سره څیړم. ولی چې وهابیان، اوپنج پیران، اوسلفیان، اونام نهاد اهل حدیث، دا مسئله یه تر ډیرلوی تنقید لاندی نیولی ده، اوپر بعض افراد ده دعاء یه دبدعت حکم کړی دی. چې هغه دعا ګانی د پخوا څخه پرافغانستان اوپاکستان کی مروج هم وی اود ے. بیځایه خلګ وخپلو بدعتی مذهبونه رابولي. اوغلط غلط دلائل وعوامو ته وائی. نو هم دا اوس هغه وعده پوره کوم، ان شاء الله تعالیٰ.

واورئ اوپوه سئ: چې د دعاء لفظ چې عربی دی. معنایه طلب دادنی دی د اعلیٰ څخه دیوشئ یا دیو کار. لکن د عجز اوخشوع اوخضوع اونیاز پر طریقه. اوپه فارسی ژبه یه ترجمه حاجت خواستن دئ. نوپوه سه چې دعاء مخ العبادة ده. یعنی مغز د عبادت ده کما ورد فی الحدیث: الدعاء مخ العبادة: وقال الله تعالیٰ: اُدْعُونِیْ أَسْتَجِبْ لَکُمْ إِنَّ الَّذِیْنَ یَسْتَکْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِیْ سَیَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِیْنَ» د دی ایت مبارکه څخه دا معلومه سوه چې دعاء عبادت دی. اود ایت دهر قیده څخه مطلق دی. او اصولی قاعده ده چې مطلق بجری علی اطلاقه. یعنی که د عا تر لما څخه وروسته وی. اویا تر سنتو وروسته وی اویا په ټول وخت کی وی. اوکه په اجتماعی توګه وی اوکه په انفرادی ډول وی: وقال الله تعالیٰ: قُلْ مَا یَعْبَؤُا بِکُمْ رَبِّیْ لَوْلَا دُعَآؤُکُمْ: وقال الله تعالیٰ. وَإِذَا سَأَلَکَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَإِنِّیْ قَرِیْبٌ أُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَلْیُؤْمِنُوْا لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ اود ایت مبارکه هم مطلق دی. اوپر اطلاق مذکور یه اجراء لازمه ده. نو دی ایته څخه خو نفس مشروعیت د مطلق دعاء بلکه استحباب د دعاء معلومه سوه.

فائدهٔ شرعیه دعاء پسله عبادت څخه اود عمل صالح څخه ضروریا تو اوبد هیا تو څخه د دین ده څکه فقهاءؒ والی چې دعاء پسله عمل صالح څخه قاعدة شرعیه. والشاهد علیٰ ذالک: چې څه وخت چې ابراهیم او اسمٰعیل

علیهما الصلوٰة والسلام دبناء څخه د کعبې شریفې فارغه سوه نو په دغو الفاظو یې دعاء
وکړه: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ: کما هو المذکور فی القرآن الکریم
اوپه دې رواجیتو کې داها دغیو مبارکو وو داسې راغلې دی چې یوسړی چې یوه روژه فرضې
یا نفلې پوره کړي. نو داسې دعاء دی وکړي. اَللّٰهُمَّ اِنِّي لَكَ صُمْتُ وَبِكَ اٰمَنْتُ
وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ فَاغْفِرْ لِيْ: اود غه رنګه پسله فراغه د حج اود ارکانو د حج بعد
کل رکن ادعیه ما ثورة من النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه رضی الله تعالی عنهم مشاز
اللهم اجعله حجا مبرورا وسعیا مشکورا وذنبا مغفورا. کړځوله تفصیل د هغو دعاګانو نوغواړي
نو کتابونه د مناسکو د حج دی وګوري. د حدیثینو په کتابونو کې اود فقهاؤ د خلورو مذهبونو په کتابونو کې
نوچونکه لمونځ یواهم اوډېر جسته عبادت لمونځ دی نو ډېر ستر لمانځه هم دعاء مستحب ده.
لما علم مما قبل ان الدّعاء بعد العبادات قاعدة متقررة فی الشرع الانور. قال الله تعالی شانه
فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ: محقق الوسی بغدادی پخپل تفسیر رُوحُ الْمَعَانِي صفحه ۱۷۲ کې دی دی ایت په تفسیر
کې داسې وائي، چې ته فارغ سې د لمانځه څخه نو کوشش وکړه په دعاء کې. اود تفسیر د قتادة او ضحاك
وغیرهما څخه امام بخاري رح د دعاء بعد الصلوٰة ترعنوان لاندې نقل کړي دی صفحه ۹۳ ج ۲.
نو دا ایت مبارکه څخه اود قول څخه د امام بخاري چې سند یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې رسیږي
دا معلومه سوله چې پسله لمانځه څخه د دعاء ستر. اود اهم ظاهره خبره ده چې دعاء په مابین کې د فرضو
او سنتو خو نه ده. ولهذا چې فصل په مابین د فرضې لمانځه اود سنتو بالاتر اللهم انت السلام
آه مکروه دی. کما قال العلامة الشامی فی صفحه ۴۷ ج ۱ اود غه رنګه مکروه دی فصل په ویلو د اوراد و. حتی
کې په مابین کې د فرضو او سنتو تر اللهم انت السلام آه بالا دعاء وکړه. او یا یې اوراد وق ویله سنت
یې پخپل مسنون ځای کې نه سوه.
وفی المراقی منځ ۱۷۰ چې هر لمونځ چې ورو سته سنت لري مکروه ده ناسته پسله فرضو او دعاګانو بلکه
پسله اللهم انت السلام دی دستی شروع په سنتو کوي. کیلا یفصل بین المکتوبة والسنة. نو
نتیجه داسوه چې په مابین کې چې دعاء نسته نو دعاء به پسله سنتو کوي. په دلیل دایت
مذکوره او حدیث د بخاري،،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

پوښتنه: آیا اللهم أنت السلام آه دایت قرآنی اود حدیث نبوی څخه مراد نه دی
چې په اتفاق تر فرضو ورو سته اوتر سنتو د مخه ویل کیږي. **جواب** قرآن مبارك
په فرادی تفسیر د آلوسی بغدادی او نورو مفسرانو امر په دعا سره کړی دی. اود بخاري د باب عنوان هم
داسې دی، باب الدعاء بعد الصلوٰة، نو اللهم أنت السلام آه خو دعا نه ده بلکه ذکر دی، کما قال
العلامة الطحطاوی فی شرح المراقی په داسې عبارت: قولہ والدّعاء: چې د دعاء کراته په مابین کې د
فرضې لمانځه او سنتو منافی نه دی د اللهم أنت السلام آه ویلو سره په دغه مابین کې لانه لیس بدعاء بل
ثناء انتهی: فثبت الدعاء بعد السنن،

سوال: وهابیان وغیرهم خو د دعاء پسله سنتو په هیئت اجتماعی سره بدعت بولي او
په مذکوره دلیل سره خو دعاء په هیئت اجتماعی نه سوه ثابته. **جواب**: دعاء خو عبادت دی
کما مر من قبل. والعبادة بالهیئة الاجتماعیة افضل تر عبادت انفرادی نکه چې په حدیث مبارك
کښې چې راځي چې لمونځ په جماعت سره افضل دی تر انفرادی لمانځه په ۲۵ درجې یا ۲۷ درجې

سوال نفل خو هم عبادت دی اوسره د دی چې بیله تراویح په جماعت مکروه دی **جواب**
نفل په جماعت هلته مکروه دی چې خلک په بلنه راغواړي نو اصل مکروه تداعی او بلنه ده نه
جماعت په نفلو کې. فرضاً که یو څوکسه په یوه کوږ کې اتفاقاً سره جمع سی او لمونځ نفلی په جماعت
سره وکړي هیڅ کراهت نسته. او امام مسلم پخپل کتاب کې په دی عنوان سره باب راوړی دی.
باب الاجتماع علی تلاوة القرآن وعلی الذکر صفحه ۴۵ ج ۲ نووی کې شک نسته چې دعاء حتماً مشتمله پر ذکر
د خدای جل شانه ده. وایضاً قاضی بیضاوی په تفسیر کې د دی ایت، اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ
چې په صیغه د جمع متکلم مع الغیر اعلی ده داسې وائي: چې مصلی درج کړي عبادت خپل په عبادتو
کې د نورو خلقو د دی سبب چې شاید د ده لمونځ په برکت د اجتماع قبول سی. اود محمد تیره سوه
چې دعاء مخ العبادة. نو باید د دعا عبادت دې هم په اجتماع افضل او اقرب و اجابت تر دی
تر یوازې دعاء.

پوښتنه څه سړی چې دعاء یا بل عبادت لکه لمونځ او ذکر په هیئت اجتماعی سره
افضل او اقرب و اجابت ته دی تر انفرادی **جواب** په دنیا کې داعادت دی چې یو غنی سړی

ته چې يوسړې دفقرد پاره ودريږي. نو گاهې هغه منع ورته وکړي اوگاهې ئې ورکړي اوکه دير مسکينان په يوه پلاوغنی سړي ته ودريږي نود اغنی سړي به يا تولوته منع کوي اويا تولوته شی ورکوي. اوداسی نه کوي چې بعض مسکينانو ته منع وکړي اوبعضوته ئې ورکړي. نودکريم بادار دربارتردی ډيرلوړ دی چې سائلان دی په هيئت اجتماعی حاجت وغواړی اوځ چا غوښتنه دی قبوله کړي. اوڈنورو داد ے ردکړي.

بلکه په دغه اجتماع کښې که ديوه سړي خواست قبول سود نورو تولوخواست تبعاً ورسره قبليږي ان شاء الله وهذا هوالسر في تفضيل صلوة الجماعة على صلوة الفذ اى المنفرد. وايضا دنور الايضاح په صفحه ۸۰ کښې راغلی دی: ويستحب للامام ان يستقبل بعده اى بعد التطوع يعنى السنة» الناس ويستغفرون الله آه اومستحب ده امام لره چې مخ دی راوارو ی خلگوته ډله سُنتو. اوامام اوقوم دی تولو طلب دبخښنی وکړي. الى ان قال ثم يدعون لانفسهم وللمسلمين رافعى ايديهم آه. اوبيادی امام اوقوم دعاء وکړي دځان دپاره اود تولومسلمانانو دپاره اوتولوبه لاسونه پورته کړي وي. نوادعاء په هيئت اجتماعی نه ده! چې معموله ده په افغانستان اوپاکستان کی. اللهم الا في مساجد تحت سلطة الوهابية وغيرهم من الفرق المبتدعة:

ددُعاء ادَب

مدافع

عـ۱ قال عليه الصلوة والسلام: اذا دعوت الله فادعوا بباطن كفيك ولا تدعُ بظهورهما فاذا فرغت فامسح بهما وجهك ص۱۴۳: چې ته خواست کوی د خدائ څخه نو دير خواست کوه په باطن دلاسونو. اود عامه کوه په شا دلاسو چې دُعا څخه فارغ سوې نولاسونه پرمخ ئې ټيرکړه. عـ۲ تردعاد مخه بايد حمد وثناء درب جَل وعَلا وولائ. اوبيادی درود پرعليه الصلوة والسّلام وولائ. عـ۳ تردعادی د مخه يوکار اوعمل صالح دی وکړي کما في الحصن الحصين» ليكون سببا لقبوله. قال فضالة بن عُبيدؓ اوريدل آنحضرت صلى الله عليه وسلم ديوه سړي څخه چې دعايه کوله په لمانځه کی يعنی ترلمانځه وروسته. اود بې سړي نه حمد دمخه تردعاء ووايه اونه ئې درود پس عليه الصلوة والسلام ووايه. قال عليه الصلوة والسلام للحاضرين عجل هذا. دی دعا کوونکی تلوار وکړي. اوبيا يه هغه سړي راوغوښتی. فقال له اذا صلى احدكم فليبدأ بتحميد ربه ثم يُصلى على النبيؐ ثم يدعو بما شاء: يعنى چې لمونځ وکړي يوستاسی څخه پس له شروع دی وکړي په حمد وثنا درب خپل

اوبيادی درود پرعليه السّلام وولائ. اوبيادی درخواست وکړي په هغه شی چې دده خوښ وي.

عـ۴ دعا بايد مكرره سړي وکړي. ولې چې امام بخاريؒ دباب په عنوان کی داسی ولائ: باب تكرار الدعاء ص۹۴۵ اوپه حصن حصين کی ولائ چې اقل درجه دتکرار دری واره دئ. عـ۵ في كنز العباد دعا کوونکی دی پر خداى پاک ډير الحاح کوي يعنى ډيردی ورته ټينګين دی ليقول عليه السلام إنّ الله يحب المُلحين» اوادنى د الحاح ۳ واره ده اومياند ۵ واره ده اواکمل يه ۷ واره ده. عـ۶ دعاء پر قبرد يعنى په هديره (قبرستان) کښې افضل کاردی. وذكر الامام مسلم ص۳۱۳ ج۱ چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم په بقيع الغرقد چې اوس يه جنت باقيه بُولي دری واره لاسونه پورته کړه اومړي تدبقيع يه دعا وکړه. قال الامام النوويؒ يفهم منه ددې حديث څخه معلوميږي چې لاسونه پورته کول مستحب دی اومکرر لاسونه پورته کول هم مُستحب دی دی» قال الامام حجة الاسلام الغزاليؒ په خپل کتاب احياء العلوم ص۲۱۱ ج۱ کی ليکی چې مجاهدؒ وائی چې لمونځونه په نبوسا عتو کی ايښودل دی» فعليكم بالدعاء خلف الصلوة. وذكر الغزاليؒ چې حبيب عجميؒ چې ولی مشهور دی. داسی دعاء بې کوله اَللّٰهُمَّ جَعَلْنَا جيدين وَلَا تفضحنا يوم القيامة. اَللّٰهُمَّ وفقنا للخير والناس يَدعون في كل ناحية ورائه» وهذا دعاء بالاجتماع»

قال ابوسفيان دارانيؒ څوك چې اراده لري چې دخدائ څخه يوحاجت وغواړي نواول دی درود ووائ اوبيادی خپل حالت اود حاجت غوښتنه وکړي. اوپه اخير کی دی بيادرود ووائ. ولې چې پاك خدائ خو ادوه درودونه قبلوی اوخداى جل سلطانه کريم دی مابين دی دوو درودو وبرهم ردنه کړي. چې دسړي حاجت دَدُی. ص۲۱۲ ج۲ وقال اعرف الناس بمذهب الحنيمية صاحب البحر الرائقؒ چې سنت بَعدی زمونږ په نيزمقدم دی تردعاء الذی هو عقب الفراغ ص۳۴۲ ج۲

وفي شرح شرعة الاسلام چې دعاء پس له فرضو اوسُنتو څخه اواوراد وظائف: هوالمعمول المشهور في زماننا» داعبارات صريح دی په دعاء اجتماعی بعد السنن سره. وفي ص۱۱۵ دعاء کوی امام وقوم ته پس له لمانځه اوپس له اذکار الماثورة وعلى ما هوالمتعارف بين الائمة رحمهم الله تعالى الى ان قال چې په قنية الفتاوى کی ولائ چې امام دی مخ راواړه وی. وقوم ته في صلوة ليس بعدها سنة» اومخ راړول سنت دی که پربرابر دامام مسبوق نه وی. اوکه مسبوق سړی وو نومخ دی نه

اړوی» درویش وائی دغه ډاډ اړه ولو څخه د امام بعد الصلوة که سنت بعدی نه وه او یا پس له سنتو څخه نو غرض څه دی بیله اجتماعی دعاء. نو ولی وهابیان دعاء بعد السنن بدعت بولی.

وذکر الفقیه ابو اللیث السمرقندیؒ نقلاً عن ابی حنیفةؒ چې امام چې دعاء کوی پسله لمانځه مخ دی د خلکو د جماعت ته راواړوي. نو که دعاء اجتماعی بدعت وای نو امام ولی مخ د جماعت ته اړوي انفرادی دعاء خو امام بیله مخ راړه ولو هم کولای سوای. فعلم ان تحویل الوجه الی القوم للدعاء با الاجتماع، وهذا هو الدعاء المتعارف الذی ینکره الوهابیة وغیرهم.

وفی الهدایه ص۱۲۴ ج۱ والجمع ارجی فی الاجابة» یعنی په اجتماع دعاء کول اجابت ته نږدیده. وقال العلامة محمد انور شاه الکشمیریؒ فی فیض الباری شرح البخاری چې دعاء په هیئت اجتماعی بدعت نه ده، په دی معنی چې اصل په دین کی نه لري. یعنی لکه وهابیان چې وائی الی ان قال فمن کان محتاجا فلیدع با الاجتماع ومن لا فلا: یعنی که څوک محتاج وی چې زما دعاء دې قبوله سی نو هغه دی په اجتماع دعاء کوی. او که څوک محتاج نه وی نه دی کوی. وفی المشکوة ص۲۱۲ کان علیه الصلوة والسلام یقول فی دبر صلوة الفجر دعاء: یعنی علیه الصلوة والسلام به وئیله چې په ورسته کی د سحار د لمانځه دعاء سته. درویش وائی دا حدیث مطلق دی په اجتماع کوی او کی انفرادی کوی بل الظاهر هو الاجتماع.

وایضاً روی عن امام المسلمین ابی حنیفة رحمه الله تعالی. چې ده وویل که امام دعا کوله پسله فراغت د لمانځه نو مخ دی جماعت ته راواړوي. فتاوی ابو اللیث السمرقندی الفقیه ص۱۳ درویش وائی چې اوس خبره د دعاء بعد السنن په باره کی افراط او تفریط ته رسیدلی ده، او حق په مابین کښې پاته دی، بعض امامان دعاء بعد السنن بیخی کلك سنت بولی. او پرتاریك یه سخت انکار کوی. او دا افراط دی او حق د اغسی نه دی. او وهابیان یه بدعت بولی او پرکوونکی باندې حکم د مبتدع کوی او دا تفریط دی او حق د اغسی نه دی. بل الحق دا دی چې دعاء با الاجتماع اقرب واجابت ته ده. لکن کی څوك گاهی نه وکړی خلاف السنة کار نه دی. او کی څوك کوی په امید د اجابت ښه کار دی. او انکار کول پرهغه او مبتدع بلل د هغه غلط خبره ده. **پوه سه چې** د وهابیانو نولوی دلیل پردی خبره چې دعاء په بعد السنن وخت کی بدعت دی، دادی چې د حضرت

النبی صلی الله علیه وسلم څخه د دعاء په هیئت اجتماعی د قوم سره پسله سنتو هیڅ نه ده ثابته نو لکه بدعت ده» **فالجواب عنه**: چې عادت نبوی غالباً دا وو چې سنت بی په حجره مبارکه کی د کور کوله کما ورد فی حدیث» افضل صلوة المرء فی بیته الا المکتوبة» یعنی ښه د لمانځه دسړی هغه دی چې په کور کی وی. مګر فرضی لمونځ، درویش وائی چې عجب خبره داده چې وهابیان و دعاء بعد السنن با الاجتماع بدعت قبیحه بولی. اوس د دی چې په درمختار او رد محتار ص۳۳۷ او په شرح کنیزی مختبة الفکر ص۹ تعریف د بدعت داسی کوی: هی اعتقاد خلاف المعروف عن النبی صلی الله علیه وسلم لا بمعاندة بل بنوع شبهة فاطلاق بدعة علی الدعاء بای کیفیة ممنوع: یعنی بدعت اعتقاد کول پرهغه شی چې خلاف د هغه شی چې معلوم وی د نبی علیه السلام څخه لکن نه د ضد پر طریقه بلکه په سبب د یوې شبهې او شك نسته چې دعاء که انفرادی او که اجتماعی وی د علیه الصلوة والسلام څخه ثابته ده. کرخه هم په بعض احوالو کی لکه استسقاء وغیره ولی چې ثبوت د جزئیه جزئیه د علیه السلام څخه شرط نه دی. مثلاً څوك نسی وېلای چې د سمیتو او کچو څخه جوړ سوی محراب کښې لمونځ کول بدعت قبیحه دی. ولی چې په ورته محراب کښې اصلاً نبی علیه السلام لمونځ نه دی کړی.

او یا څوك نسی وېلای چې پرهغه منبر چې په کچو او سمیتو جوړ سوی وی د جمعې خطبه ویل بدعت قبیحه دی. ولی چې علیه الصلوة والسلام منبر د لرګو او تختو څخه جوړ سوی وو پرهغه باندې یې خطبه ویل. او یا مثلاً د ستر نجی پر مصلی او یا غالی پر مصلی لمونځ کول بدعت قبیحه دی. ولی چې علیه الصلوة والسلام پردغو مصلاو و لمونځ نه دی کړی. وامثاله کثیرة. بلکه د بدعت څخه د وتلو دا ره ثبوت د اصل کافی دی» ولو فی بعض الاحوال والاوقات» وهو موجود فی الدعاء با الهیئة الانفرادیة والاجتماعیة» بلکه وهابیان باید فکر وکړی که ثبوت د جزئیاتو په دینی امورو کی شرط وائی. نو د غه رسائل او کتابونه چې وهابیان یا نور امامان یې نوشته کوی د اتهوله بدعت قبیحه وائی. فما هو جوابکم بان اصل هذا ثابت لکتابة ایات القرآن علی الاکتاف وغیرها. فهو جوابنا بان اصل الدعاء ثابت، بلکه بدعت هغه کار او فعل ته وائی چې هیڅ دلیل پرهغه نه وی نه قولی. او نه فعلی او نه تقریری نه د قرآن څخه با نواعه من الخاص والعام والظاهر والخفی

وغیرهما. اونه دحدیث څخه دعلیه السلام باقامه من المتواتر و المشهور و الخبر الواحد و المتصل و المرفوع وغیرهما. اونه بل دلیل پروهاکله اجتماع او اجتهاد د مجتهد و وغیره.

ومن الظاهر البین علی غیر الغبی ان الدعاء بکل هیئة کانت من الانفراد و الاجتماع لیست کذالک فافهم ایها الذکی و الطالب للصواب المعرض عن طریق البدعة و العناد، وعز وجوده فی هذا الزمان.

وقال بعض الوهابیة: چې دغابښت لمونځ په اجتماع سره مکروه دی سره د دی چې اصل لری یعنی مطلق دغابښت لمونځ **والجواب** عنه: داد ی چې صلاة الضحی څونفل دی اونفل په تداعی سره بیله براویح مکروه دی» کما صرح به الفقهاء. څونوخرنګه وهابی دعاء بالاجتماع پرقیاسوی اوسره د دی چې په هدایه کښی والئ: چې اجتماع پردعاء اقرب والاجابت ته ده. اوپه عین العلم کې چې یومثل سوی کتاب دی قدیما وحدیثا په ص۲۸ کی والئ ومنها الدعاء والدعاء مخ العبادة. نوبایدد دعاء د پاره دښو وختو انتظار وکړې. الی ان قال چې دعاء په داسی جماعت کې چې سل نه رسیږی ښه وخت دی. والوقوف بالعرفات والملتزم» وزیارة قبر النبی علیه الصلوٰة والسلام.

وهابیان والئ چې دعاء په هیئت اجتماعی نه یاتوب دی پر هغه منصوصه دعاء چې انفرادی ده نود دعاء د هیئت اجتماعی شان داسی دی لکه اذان، کول د پاره د لمانځه د عید ینو وهو بدعت مکروهه **والجواب**: چې ستاسی داقیاس فاسد دی. ولی چې اذان د خصوصیا تو څخه د فرائضو خصوصاً د څخه دی په اجماع د امت مجموعه او اجماع د دلائل اربعو وو څخه ده. بخلاف الدعاء فانه لا یختص یعنی دعاء خاص نه ده نه په فرائضو سره اونه په نوافلو سره. اونه په انفراد او نه په اجتماع پوری. بلکه دلائل ماضیه دال دی پر دعاء په هیئت اجتماعی بلکه پر استحباب د دعاء مذکوره. ولما چې اجتماع پر دعاء اقرب واجابت ته ده، لتظاهر النفوس»

وهابیان والئ چې دعاء په هیئت اجتماعی داسی د، نکه زیاتوب پر ۳ واره په غسل کښی د اعضاءو د او د اسره وهو مکروه **والجواب**: چې په منع کښی د زیاتوب پر یو لو د اندامو د او د اسر صریح نص موجود دی. قال علیه الصلوٰة والسلام بعد بیان تثلیث الغسل فمن زاد او نقص فقد تعدی وظلم» ولم یوجد نص فی المنع عن الدعاء بهیئة الاجتماع بعد السنن او الفرائض **وهابیان والئ** چې دعاء بعد السنن په هیئت اجتماعی سره حدیث

فعلی دعلیه الصلوٰة والسلام نه دی موجود نو دادعاء اختراع فی الدین ده او بدعت قبیحه ده

جواب: دلائل د احکامو د بنیه وو خویوازی احادیث فعلیه نه دی. ورنه د سین احکام به معطل پاتر سی» اوحدیث قولی خومو جوددی: قال علیه الصلوٰة والسلام: الدعاء مخ العبادة» او په دې حدیث کی هیڅ قید نسته نو دعاء د هیئت اجتماعی هم ترې دحدیث لاندی راځی. او علامه شامی په رد محتار کی والئ چې اختراع فی الدین هغه فعل دی چې په شرع کی هیڅ دلیل نه لری نه قولی او نه فعلی»

سؤال: وهابیان خونه هدایه منی اونه رد محتار او بحر او ایق منی اونه عین العلم و غیره ته هیڅ اعتبار نه ورکوی» بلکه د دغو کتابونو په بارہ کی دوی دې بد الفاظ مستعملوی نو ته خرنګه د دوی په مقابل کی په دغو کتابونو سره استدلال کوې. بلکه دوی تصریح کوی بلکه پر دیوالونو هم نوشته کړی دی چې دلیل نه منونکی په نیز قال الله وقال الرسول دی. و بس

جواب: د دروغ دامقصد نه دی چې وهابیان وغیره هم نه د د غو کتابونو په حواله ودوی ته قناعت ورکوم بلکه زهما مقصد دادی چې خپل وړونو حنیفیا نو ته پردی آگاهی ورکوم چې دعاء په هیئت اجتماعی ولو بعد السنن زمونږ د مذهب سره برابره ده بلکه د قرآن کریم د مطلق عبارات و سره هم برابره ده او هم د احادیثو مبارکو د و د بی قید الفاظو سره برابره ده، کما مر سابقاً»

ورنه د دروغ لیکلو سره دی نه پوهیږی چې د دوی په نیز هیڅ کتاب اعتبار نه لری بیله کتابه د ابن تیمیه حرانی، او یا د کتابه عبد الوهاب النجدی وامثالهما. نو بیان دعاصی په مثل د د واء دی یعنی لکه بعض دوا گانی د پاره د حفظ صحت وی او بعض دوا گانی د پاره د د فع د علت او مرض وی د غه رنګه زما د غه بیانات د پاره د حفظ صحت د خپلو وړونو حنیفیانو دی. تاچې سره مرض د وهابیت مبتلا نه سی. نه د دی د پاره چې د فع د مرض د وهابیت د وهابیانو وغیره هم د د ماغو اوزهرو سره پوکړم»، وهابیان والئ چې دعاء بالهیئة الاجتماعیة مما لم یأذن به الله نو بدعت قبیحه ده. **جواب** چونکه دعاء په هیئت مذکوره ثابته بالادلة الشرعیه ده کما مر انفاً و سابقاً نو مما یأذن به الله نه ده،

وهابیان وائی چې همیشه توب پرامر مستحسن بدعت دی. نو بعض ملایان چې دعاء په هیئت اجتماعی همیشه دعاء کوی بدعت دی **جواب**: داخبره ستاسی بیخی غلطه ده ولی علامه آلوسی بغدادی مصنف روح المعانی. همیشه اوهره شپه به د سورة الملك تلاوت کاوه اوپردی کار به حمد د خدای جل جلاله وئیلی دی اوس ددی چې تلاوت د سورة الملك خود واجبات نه څخه نه دی. اودغه رنګه په هغه چې بخاری وغیره روایت کړی دی چې علیه الصلوة والسلام وبلال رضی الله تعالی عنه چې ته کم بنه عبادت کوی. چې مابه ستا دچوتر ټوټرې په عالم رؤیا کښی ترخان دمخه اوریدی یعنی په جنت کی. حضرت بلال رضی الله عنه چې زه چې هروخت بې اودسه سم، نوخواه مخواه اودس تازه کوم، اوچې دوام پرې اوداسه اودوام پرتحیة الوضوء خود واجباتو څخه نه دی بلکه یو مستحسن کار دی. اوبله خبره داده چې اولیاء اوصلحاء د تهجد پرلمانځه باندې دوام کوی.

اود تهجد لمونځ هم یو مستحسن کار دی واجب خو نه دی. اوآنحضرت صلی الله علیه وسلم په دعا بنا ایښته کلمات تو د دوام پرامر مستحسن مدح کړیده. چې وائی خیر العمل ما دیم علیه، هو باید مرتب دعبادا تو مراعات وکړه سی. یعنی فرضی عمل به فرض پوره کړې. اوواجب به واجب ګنړې او نفل به په نفلی نظر وګورته ګوری. **وهابیان وائی**: چې عدم نقل د اجتماعی دعاء د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه دلیل دد ے دی چې دغه کار مکروه دی. **جواب**: مکروه به هلته وائی چې بیله فعل نبوی بل دلیل د جواز نه وای. موجود: او تاته قریبا و بعیدا ذکر سوه چې اشارات قرآنیه اوروایات نبویه پرجواز د دغی دعا دلالت کوی. ولی چې په کتابونو کی د اصول الفقه په بحث کی دوجوه فاسده وائی چې عدم د دلیل خاص پرعدم د مدعی دلالت نکوی. ولا نه یجوز اثباته بدلیل الخر کما فی ما نحن فیه» **وهابیان وائی**: چې دعاء بعد السنن په هیئت اجتماعی د اسی مثال لری لکه نفل کول چې له مانه یګرد لمانځه څخه اوپاتې سحارد لمانځه څخه **جواب**: د نفلی لمانځه څخه بعد العصر او الفجر خو صریح منع راغلی. په احادیثو نبویه ووکی اود دعا څخه خو هیڅ منعه نه ده راغلی»، فکیف القیاس: درویش باګناه محمد عبید الله کندهاری حنیفی نقشبندی ایوبی، سلیما نخیلی وائی کرخ هم مقصد د درویش پښتو ته نقل

کړل د نور الایضاح دی. لکن په مناسبت د ذکر د دعاء په نور الایضاح کی. تفصیل د مسئلی د دعا می مناسب وګاڼه تا چې طالبان، اوبعض امامان، بلکه نړاوښځی د خپل ګران افغانستان په مولی ثوابه د دی مسئلی په تفصیل خبر کړه. اود وهابیت د دامه څخی خلاص کړه. په امید د دعاء د بعض مسلمانانو، پښتنو په باره کی د دی عاصی بانواع المعاصی په دربار کی د رب العزت جل سلطانه د مغفرت د ذنبه الجلی والخفی، او ان شاء الله تعالی دا به د فقیر د خواخیر باقی او صدقه جاریه وی الی یوم القیامة وما ذالك علی الله بعزیز. ربنا تقبل منا إنك انت العزیز الحکیم الحمد لله رب العلمین والصلوة علی سید المرسلین وآله وصحبه اجمعین:

ع غرض نقشیست کز ما یاد ماند؛ کہ ہستی را نمی بینم بقائی:

مګر صاحبدلی روزی ز رحمت. کند در حق این مسکین دعائی.

پوسته: چې اوس زه بیرته رجوع وخپل مقصد اصلی ته کوم. وما توفیقی الا بالله علیه توکلت والیه انیب.

خبردار:

د نور الایضاح دا پښتو ترجمه چې مصنف یې حضرت علامه محمد عبید الله الایوبی القندهاری السلیما نخیلی دی، او په کتابت زما احقر محمد فضل الحق حقانی» لیکل سویده» او حضرت ایوبی د خپلو مشفقانه پیرزو ینو له مخی ټول حقوق د طباعت او کتابت هم د مونږ ته راکړیدی.

لږ هم دې اداره له خوا به ان شاء الله مکمل ستاسو په درانه خدمت کی وړاندی سی.

احقر الانام فضل الحق حقانی التعلیمی
مدرس لقسم القراءات والتجوید والدروس العربیه
بجامعة تجوید القرآن بشارع سرکی کوئٹه

بَابُ مَا يُفْسِدُ الصَّلٰوةَ

باب دی په بیان کی دهغو شیانو چې لمونځ فاسده وي. **پُوه سه:** چې فساد او بطلان په عبادا تو کښې یو شئ دی. او په معاملاتو کې فرق سره لري. نو ویو فعل چې اصل یې مشروع وي لکن وصف یې شرعي نه وي هغه ته فاسد وائي. لکه بیعه په شرط د داسې شئ چې عقد یې مقتضي نه وي لکه یو سړي چې سړای خرڅ کړي په دې شرط چې یوه میاشت مثلاً به نړه پکښې اوسیږي او تور په مثل د دغه شرط چې په اوسنۍ زمانه کې ډیرې بیوعې د فساد ځخه خالي نه وي.

بیع فاسد حکم دادی: چې ملک خو مشتري ثابتیږي. لکن پر بیوه د بائع او مشتري واجب دی چې دا عقد دی فسخ کړي چې دګناه ځخه خلاص سي. او که یو کار د اصل شرع نه وي لکه خرڅول د وینې یا د مردار ي یعنې هغه حیوان چې مرداره سوی وي دې کار ته باطل وائي. او حکم یې دادی چې ملک نه فاسده کوي. **وَلَوْ بَعْدَ الْقَبْضِ.** **فرعه:** په اوس وخت کې چې د جراحي عملیات وخپل اوج ته رسیدلی دی او بعض عملیات د ډاکټرۍ په مسلک کې مریض ته د نورو وینې ته ضرورت لري.

یعنې که وینه وه مریض ته تر نږدې نسې د ډاکټرۍ په حساب مریض ته سل په سل کې خطره د مرګ وي نو بعض اشخاص چې ګروپ د وینې یې د مریض د وینې د ګروپ سره برابر وي خپله وینه پرې مریض خرڅوي دا بیع خو بیله شکه وه هغه سړي ته حرامه اود ا بیع باطله ده، لکن انتفاع په جزء د انسان و بل انسان ته په وخت کې د ضرورت روا ده. لکه خوراک د میستې په وخت کښې د مخمصې کا ئي کتب الفقه مطالعه کړئ.

قَالَ **وَهُوَ تَمَامِيَّةُ وَسَتُّونَ شَيْئًا الْكَلِمَةُ وَلَوْ سَهْوًا أَوْ خَطَاءً**

او هغه مفسد د لمانځه اته شپیته ۶۸ شیان دی. یوه هغو ځخه یوه کلمه ویل دی که څه هم په سهوه یا په خطاء سره. **پُوه سه:** چې دا عدد تقریبي دی تحقیقي نه دی اهل په سهوه ویل د ادی چې هیره کوندی وسي. د ده خیال داوی چې دی په لمانځه کې نه دی. او خطاء داده چې لمونځ ګذاره غواړي چې

رابیت ووائي: **يَا أَيُّهَا النَّاسُ**» پرځولو په داوږهې «**يَا زَيْدُ**» **پُوه سه:** چې مراد دکلمې ځخه هیر خوی نه ده چې لفظ موضوع د پاره د معنی منفرد ې دی. ولې چې لمونځ په ویلو د لفظ مهمل هم فاسدیږي لکه «**حَبْشَق**» او په مرکب لفظ هم فاسدیږي لکه غلام زید وغیره. بلکه مراد معنی لغوی ده چې **مَا يَتَكَلَّمُ بِهِ**» ده چې دا معنی ټولو الفاظو ته شامله ده»

مسئله: په فاسدولو کې د لمانځه شرط دادی. چې دکلمې حروفو صحیح تلفظ کوی. اودی ټې هم اوری. نو که یو دد ے دوو شرطونه وو لمونځ نه فاسدیږي لعدم اعتباره، حلبي بتغلط.

مسئله امام خواهرزاده وائي چې لمونځ په یوه سره چې مسموع سی کرخم حروف نه وی هم فاسدیږي. **مسئله:** که سړي په لمانځه کښې وویل: **أَشِيُّ**، یعنې دا کلمه چې سړي خو په شړې» یا «پشتنه» هم لمونځ په فاسدیږي» س، ش، ه، نو هغه خبره چې بعض کتابو کښې کړیده که سړي پرخپله سپور وو لمونځ په کاوه مثلاً نغل اووی ویل» **أَشِي**» لمونځ به نه دی فاسد دفقهي ځخه لیري خبره ده. کذا قال الشرنبلالي.

سوال: په حدیث شریف کې چې بخاري یې هم روایت کړی دی داسې راغلی چې یوه ورځ په رباعي لمانځه کې آنحضرت صلی الله علیه وسلم سهواً پردوه رکعته سلام وګرځاوه نو یوه سړي چې آنحضرت ته به ذوالیدین ورته ویلې. هغه ورته ووئیله: **أَقَصُرَتِ الصَّلٰوةُ أَمْ نَسِيتَ**» ایا چه لمونځ کوتاه سو یعنې په لمانځه کې وچې راغلی چه دالمونځ به دوه رکعته ګرځیدلی وي. او که ستا هیر سوی. علیه الصلوة والسلام ورته وفرمائیله: **كُلُّ ذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ**» یوه د دغو دو ځخه نه ده پیښه یعنې پرګمان د علیه السلام. ولې چې د ده خیال داوو چې لمونځ ما پوره ۴ خلور رکعته وکړه. خیر آنحضرت صلی الله علیه وسلم وخلګونه وویل» **أَصَدَقَ ذُو الْيَدَيْنِ**» ایا رشتیا وائي. ذو الیدین» خلګو ورته ووویل **هُوَ**. نو علیه الصلوة والسلام دوه رکعته نور ورکړه. او سجدة السهوه وکړه. نو که خبری مفسد د لمانځه وائي نو به علیه الصلوة والسلام لمونځ دسره راګرځولای وای نو هم به دغه وجه په دی حدیث سره دلیل وائي. حضرت امام شافعي چې وائي چې په هیره سره په لمانځه کښې خبرې لمونځ نه فاسده وی مګر که بیخي د پیرو وي. **جواب:** حدیث د ذوالیدین محمول دی پر ابتدائي حالاتو د اسلام، چې په لمانځه کښې قصداً هم خبری روا وې. یعنې نو

اوس دا حدیث منسوخ دی. په دلیل د دی حدیث چې علیه الصلوٰة والسلام فرمائی: اِنَّ هٰذِهِ الصلوٰة لا یصلح فیها شئ من کلام النّاسِ په تحقیق سره دغه لمونځ یعنی جنس لمونځ په هغه کښې صلاحیت نشته د شئ د خبرو د خلکو او هیڅ که صدر وای نو باید قلیل الکلام او کثیره سره برابر وای

پوښتنه خبری او السلام علیکم خو باید په هکه سره برابر وای ولې چې دواړه قاطع د لمانځه دی اوضمیر د مخاطب لکه په خارج الصلوة چې یو د بله سره خلک په تحیه کې سره وائی موجود دی. اوسه د دی چې تاسی وایاست چې په سلام سره قصداً لمونځ فاسدیږی. اوپه خبرو مطلقاً لمونځ فاسد بولې.

جواب: چونکه سلام د اسماوو نځه د خدائ دی او د جنسه د لمانځه هم دی السَّلامُ عَلَیكَ ایها النبیُّ. نو دی د اذکارو د قسم دی. او په ذکرخو لمونځ نه فاسدیږی. نو چې سلام په هیڅ وی په سبب د مشابهت د اذکارو لمونځ نه په فاسدیږی اوکه د مخاطب د پاره سره غرض وه یعنی عمداً او وئیل د کلام الناس حکم لری او لمونځ نه په فاسدیږی

ط، د، ر، م،

پوښته: چې مصنف د خبرو سره د اقیدهم وئیلی دی په مراقی کې "وَلَوْ نَاسِیًا فی المختار" یعنی که څوک په لمانځه کې خبری وکړی په داسی حال کې چې بیده وی وی هم لمونځ په فاسدیږی، مطلب دا چې په ناسته کې یا په سجده کې بیده وی او خبری وکړی. لکن مختار هیر د دی کبله وایی چې فخر الاسلام وائی چې دخوب په خبرو لمونځ نه فاسدیږی، ض، ن، ط،

مسئله فعل قلیل په لمانځه کې عفوه دی. ولې چې احتراز څنګه دی مثلاً سړی پرپښې باندی غوماشه وچیچی ده هغه ځای وګوډیږی او بیا په پښتو راشوه سوده بیرته په عملی قلیل پروبه واچاوه وغیره ذالک، م، د، ر، قَالَ المُصنفُ:

وَالدُّعَاءُ بِمَا یُشْبِهُ کَلَامَنَا اودعا کول یعنی د خدای پاک شئ غوښتل چې مشابه نه وی د خبرو سره وی یعنی لمونځ فاسده وی نو اَللّٰهُمَّ اَلْبِسْنِی ثَوْبًا وَاَطْعِمْنِی لَحْمًا، او اقضِ دَیْنِی، او انکحنی فلانة، ولې چې هغه د عبادو د خواڅخه هم د سره کیدای ښی. بخلاف اَللّٰهُمَّ عافِنِی وارزقنی واعف عَنِّی»

پوښته: چې صاحب د بحر الرائق په نقل د مرغینانی څخه داسی تفصیل د دعاء بیان کړی

دی. نو وائی چې د دعا ګانی چې په قرآن شریف کې او یا د علیه الصّلوٰة والسلام څخه منقول وی په لمانځه کې کول لمونځ نه فاسده وی. او که قرآنی آیتونه او حدیثونو کې یو دعا وی، نو کې طلب د بنده ګانو نه څخه محال وو هغه هم لمونځ نه فاسده وی لکه اللهم اغفرلی وارحمنی وارزقنی وغیر ذالک، او کې طلب د بنده ګانو نه څخه محال نه وو لمونځ فاسده وی. نحو انکحنی فلانة، واَطْعِمْنی واقضِ دَیْنی

سوال: دعاء خو په عمومی کې د کلام داخل وه نو حاجت یه وذکر ته څه وو.

جواب په دعاء کې امام شافعی مخالف دی هغه وائی چې په هیڅ دعا لمونځ نه فاسدیږی. نو دی سبب په دعاء علی الجده یه ذکر کړه.

پوښتنه: دعاء خو خطاب د انسانانو سره نه دی نو ولی لمونځ په فاسدیږی!

ځواب: په فساد کې د لمانځه خطاب شرط نه دی مثلاً که لمونځ کوونکی په لمانځه کې ووایل قرائت الفاتحة لمونځ یه فاسد دی. که څه هم هیڅ څوک حاضر نه وی، ت، ط، د،

پوښته: چې په طلب د رزق مطلق لمونځ نه فاسدیږی او په طلب د رزق مقید لمونځ فاسدیږی لکه چې اَللّٰهُمَّ ارزقنی لحمًا ووائی وغیر ذالک، قَالَ المُصنفُ:

وَالسَّلَامُ بِنِیَّةِ التَّحِیَّةِ وَلَوْ سَاهِیًا اود غه رنګه لمونځ فاسده وی ویل د سلام په نیت د تحیه دیوچا. که څه هم په سهوه سره وی.

پوښته: چې په مراقی کې وائی که څه هم علیکم د سره ونه وائی. لکن وروسته دلیل د اسی وائی لانه خطاب، نو سوال دا پیدا کیږی چې بیله علیکم ویلو نو خطاب چیرې دی. د دے سوال په جواب کې ط د اسی وائی چې مراد د خطاب څخه مامن شانه ان یخاطب به وه اودرویش وائی چې د خطاب څخه خطاب عرفی مراد دی. او که مراقی والا د اسی دلیل ویلای وای: چې سلام که څه هم علیکم نه وی ورسره په کلمه بالمعنی الاعم کې داخل دی نو د دی سوال نه خلاص وائی.

درویش وائی چې د اقول د مصنف مخالف دی د هدایه څخه چې په هدایه کښې د اسی وائی: بخلاف السلام یعنی بیله علیکم لانه من الاذکار فیعتبر ذکرًا حالة النسیان و کلامًا فی حالة العمد آه بحر الرائق تطبیق د مصنف د خبری او د هدایه د خبری د اسی کړیده که

چیری مخاطب حاضروو نومطلقًا یه لمونځ فاسدی کړي قصدوی اوکی داهیره وی چی نږه
په لمانځه کیږي اوکه علیکم وسره ووائی اوکه نه ' اوکه چیری مخاطب حاضر نه وو نوکی پسه
قصد سلام سره د علیکم اویا بغیر د علیکم ووایه لمونځ فاسد دی. اوکی د نسیان په حال
کی ووایه لمونځ یه نه دی فاسد قیاسًا علی ما سلم علی رأس الرکعتین فی الرباعیة سهوًا او
نسیانًا فان صلوته لا تفسد فکذا ههنا، بحر، مرء در، قال المصنف:

وَرَدُّ السَّلَامِ بِلِسَانِهِ أَوْ بِالْمُصَافَحَةِ

اوه غږ ونکه لمونځ فاسدیږی په
جواب ورکولو د بل چا د سلام نه
پرځوله اویا په رو غبړه. ولی چی رد د سلام په خوله مفسد دی د لمانځه که عمدًا وی اوکه سهوًا
ولی چی رد د سلام خو د اذکارو څخه نه دی بلکه کلام اوخطاب دی. اوهغه مفسد دی مطلقًا
ش، مرط، ب، قید د لسانی مصنف د دی سببه ووایه، چی که رد د سلام په لاس وکړي مثلًا
لاس یه ورته پورته کړي لمونځ یه فاسدیږی. ولی چی په صحیح حدیث کی داسی راغلی دی
چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم مسجد قبا ته یووخت تشریف وو. او پر لمانځه ولاړ وو.
انصارو چی یه راغله سلام یی ورته ووایه عمر و بلال نه چی د علیه السلام سره ملګری وو
پوښتنه وکړه چی علیه الصلوة والسلام په څرنګ دوی ته جواب ورکاوه. نو بلال ورته ووییله
چی په لاس یه جواب ورکاوه. یعنی لاس یی پورته کړي دوی غوی خوا ته د محکی وخوانده وه

سوال: د فقهی شریفی په دیرو کتابو کی وائی چی جواب د سلام په لاس سره مکروه دی
د دی حدیث شریف څخه خو داسی فهمیږی چی مکروه نه دی. **واجاب** عنه بانه چی
فعل د علیه السلام د پاره د بیان د جواز دی اوکراهت هم تنزیهی وو.
او د سلام با المصافحه خو د جهته د عمل کثیرو الی لمونځ فاسد وی. او چا چی وئیلی
دی چی رد با المصافحه خبری دی پسه معنی کی هغه دلیل غلط دی. ولی رد با الید خو هم کلام دی.
په معنی کی. او سره د دی چی لمونځ نه په فاسدیږی «کما مر آنفًا» فافهم: قال المصنف

وَالْعَمَلُ الْكَثِيرُ

او دیر عمل هم لمونځ فاسد وی. یعنی قلیل عمل لمونځ نه فاسدوی لانه لا یمکن الاحتراز عنه.

پوه سه: چی فرق د عمل کثیر او قلیل څوک داسی کوی چی دری حرکته متوالی سره
ولاړی په لمانځه کی هغه کثیر دی یعنی لمونځ فاسد وی. اوکه تر دری کم وه او یا دری وه لکن
متوالی نه وه بلکه په مابین کی فصل موجود و وهغه قلیل دی لمونځ نه فاسد وی.

مشهوره فرق یه دا دی چی د غه لمونځ کوونکی ته چی بل څوک وګوری کی د لمونځ
کوونکی ګمان پرده نه وو هغه عمل کثیر دی. اوکی ګمان د لمونځ کوونکی خوړ کیدی. او یا په تردد
او شک کی وو هغه عمل قلیل دی.

پوښتنه: یوسړی بل سړی ولیدی چی د لمانځه نیت یه وکړ او یوه رکعت مثلًا
یه هم وکړی وروسته هغه لمانځه کوونکی د جیبه څخه بند مونځ راوکښه او سر او بدن یه
د مونځ کړه نو لمونځ خو یه په دغه فاسد سو او سره د دی چی د عمل کثیر ذکر سوی تعریف نه
پرصادقیږی. ولی چی لیدونکی خو تیقین دی چی دی په لمانځه کی دی. ولی چی لیدونکی په
ابتداء کی د ده حال ولیدی چی په لمانځه ودریدی. **جواب** پورته فرق بناء پرهغه
صورت چی خارج سړی د ده په حال د هغه نه وی خبر فتدبر: قال المصنف

وَتَحْوِيلُ الصَّدْرِ عَنِ الْقِبْلَةِ

او اوږه د ځیګر دی د قبلی څخه چی لمونځ
فاسده وی. ولی چی په تحویل سر استقبال

دقبلی چی په لمانځه کښی فرض وو پاته سو **پوه سه:** چی کتل د لمونځ کوونکی
دستر ګو په کجسیا نو مکروه دی او فاسدوونکی نه دی. اوکی ځیګر د قبلی څخه واړاوه لمونځ
یه فاسد دی. کذا قالوا. اوکی ځیګر پرځای وو مخ یه واړاوه لمونځ یه مکروه دی فاسد نه دی.

پوه سه: چی کتل د لمونځ کوونکی که یوجزء د ځیګر د قبله ته وی لا یعلم لمونځ
نه دی فاسد. نود تولو ځیګر اړول هلته راځی چی مثلًا قبله د غرب ته وی د ځیګر د شرق
کی و بالعکس. کذا قال الامام الطحطاوی فی شرح المراقی. ص ۲۶۲

التَّحْقِيقُ فِي الْعَمَلِ الْقَلِيلِ وَالْكَثِيرِ وَتَحْوِيلُ الصَّدْرِ عَنِ الْقِبْلَةِ

پوه سه: چی صحیح مذهب په باره کی
د عمل کثیر او قلیل خو هغه دی چی د
مشهور په عنوان ذکر سو، مر، کی وائی

وهوالاصح۔ اوپه تبیین کی وائی: وهوقول العامة وهوالمختار او په مضمرات کی وائی وهوالصواب: دد رومتوالی حرکتومثالونه۔ کهسری په لمانځه کی دگرځپه دوران کی په یوه رکن کی دری واړه پرله پسی پیک وواهه لمونځ په فاسددئ۔ اویا په وگړوی یوځای محدد جسد څخه په یوه رکن پرله پسی لمونځ په فاسد شو۔ اوپه دی تولوصورتونو کی که په مابین کی فصل موجودوو لمونځ په ندی فاسدکه څه تردری واړه بالاوی۔ اوپه خلاصه کی وائی کی دری واړه ځان وگرڅوی۔ په یوه رکن کی۔ اوهر واړه یه هغه ځای تدچی کا یه کوله لاس پورته کوله لمونځ په فاسددی اوکه رکن جلاوه۔ اویا یه دری واړه لاس نه کی پورته بلکه په یوه ځلا پورته کیدوسره مثلا سردری واړه یا بالا وگوراوه لمونځ په نه دی فاسد۔ ولی چی دا یووا رگروول دی۔

دحیرانولوپوښتنه یوچا دری واړه شئ وچښئ اولمونځ دبل چا په فاسد شو

جواب: ښځه بر لمانځه په التحیات کی ناسته وه اودی کشنی شیرخوره لمن وړ پورته کړه اودری واړه دی شیدی وروی دغنی ښځی لمونځ فاسدسوعلی الاصح کما فی المضمرات، اوبعض فقهاء وائی: چی هغه عمل چی په عادت کی په دواړو لاسوکیږی لکه دلنگوتی تړل یا پرتگابش تینگتول عمل کثیر دی یعنی لمونځ په فاسدیږی کی څه هم دی په یوه لاس وکړی اوهغه عمل چی په یوه لاس کیږی لکه رنجیښه (خولی) پرسرکول، یا یوځای گروول عمل قلیل دی کی څه هم دی په دواړو لاسووکړی۔ اوپه بعض کتابونوکی وائی که دغه عمل متصود ووددکوونکی لکه یوځای چی کا۔ وکی وی گروئ هغه عمل کثیردی۔ اوکه متصود دعامل نه وُو لکه په ږیره کښی ناڅتی گوتی وهی هغه عمل قلیل دئ۔ اوموافق دړای سره دامام اعظمؒ کما فی التبیین، دادی چی قلت اوکثرت دعمل ورائی ته دمبتلا به مُفوض دی۔ که دده په فکر دیر وو هغه دیردی لکه فکر دتقوی دارو خلگو، اوکه دده په خیال کی لږ وو هغه لږ دی۔ لکه عوام الناس فکر اوخیال۔

پوښتنه: چی مصنف په مراقی کی وائی چی سړی ته کول دد واړو لاسود تکبیر سره د رکوع لکه نور اهل المذاهب چی کوی زمونږ په نیز مکروه دی۔ لکن لمونځ نه په فاسدیږی علی الصحیح اوپه شرح کی دجامع صغیر په روایت دمکحولؒ دامام اعظمؒ څخه داسی وائی چی لمونځ په رفع

یدین فاسدیږی۔

پوښتنه: چی امام حلبیؒ وائی چی تگ په لمانځه کی که چیری پرله پسی نه وو یعنی مصلی تگ وکړی په قدر دیوه صف اوبیا ودریدی په قدر دیوه رکن لکه رکوع او سجود، او بیا په قدر دیوه صف روان سو بیا ودریدی یوه رکن مقدار۔ اوداغسی روان وو اوتردیرو صفوتیرسولمونځ په نه فاسدیږی۔ مگرکی په سجده کی چی لمونځ ئی کاوه اوترمسجد وروئ لمونځ په فاسدسو۔ اوکی په صحرا کی لمونځ کاوه چی ترتولوصفوتیرسولمونځ په فاسددی۔

پوښتنه: چی امام طحطاویؒ دابن امیرالحاج څخه داسی تفصیل نقل کړی دی۔ چی تگ په لمانځه کی به بیله عذره وی۔ اویا په عذرسره وی۔ که بیله عذره وُوو۔ نوکه دیر وو اوپرله پسی ووونولمونځ په فاسددئ۔ کی په دغه تگ کی قبلی ته شا سی اوکه نه! ولی چی دا عمل کثیردی۔ اودلمانځه داعمالوڅخه هم نه دئ۔ اوکه تگ دیروو اوپرله پسی نه وو لکه یووار په یوه رکعت کی اوبل وار په بل رکعت کی۔ وهکذا۔ اویا خوپه یوه رکعت کی وو۔ لکن ترما بین دد واړو په مهلت وو، نوکی قبلی ته شا سوه لمونځ په فاسددئ ولی چی شا گرځول وقبلی ته په لمانځه کی بیله عُذره منافی دلمانځه دی۔ اوکی قبلی ته شا نه وه گرځولی نولمونځ خوبه نه فاسدیږی۔ لکن داسی عمل مکروه دئ۔ ولی چی فقهاءُ ټوله وائی چی هغه عمل چی کثیر به مقصدوی لږ به مکروه دئ۔ چی ضرورت نه وی۔ اوکه تگ په لمانځه کی په عذرسره وو لکه وسړی ته چی په لمانځه کی اودس مات سی نوپه اوداسه پسی روان سی۔ اویا په صلاة خوف کی ددښمن مخ ته ورځی یا څندی راځی۔ نودغسی تگ نه لمونځ فاسده وی اونه مکروه دی۔ که قلیل وی اوکه دیر کی شاوقبله ته سی اوکه نه، انتهی، وهوتحقیق انیق،

عُذر دعمل کثیر اوقلیل په بیاره کی اوپه لمانځه کی دتگ په موضوع کی۔ دَرُولیش دومره اطناب اوودد بیان کړی۔ ولی چی بعض صُوفیان په علم فقه ناخبره کسان په یوه اندك اولږ عمل سره دسړی د لمانځه دفساد حکم صادره وی۔ اودغه رنگه کهلمونځ کوونکی یوقدم واخستئ دوی ورته وائی چی لمونځ دی فاسدسو۔

ونعم ما قیل سه آن کس که نداند- وبداند که بداند- در جهل مرکب ابد الدهر بماند: وآنکس که نداند وبداند که نداند- اواسپ خود از گنبد فیروزه جهاند: نود نور الایضاح دپښتو شرحې یوه فایده داده چې کم علم صوفیان علم نږده کړي او بیا به حکم نه کوي. اودغه رنګ دا فایده هم نږده چې عوام مطلق د دوی دې ځایه احکامو نخږ خلاص سې. وباالله التوفیق وهو الباعث علی ذالک والعناد من ید العبد الاواه.

قال المصنف: **وَاَکْلُ شَیْءٍ مِنْ خَارِجِ فَمِهٖ وَلَوْ قَلَّ** اودغه رنګه لمونځ فاسده وي خوړل دیوشئ دخولې دباندې څخه نږدې هم لږ وي. یعنې لکه دکښتې دانه، ولې چې دوی څخه ځان ساتنه ممکنه وه ولې خارج وه- نوده ولې وخولې ته اچاوه او تیروي یه. قال المصنف:

وَاَکْلُ مَا بَیْنَ اَسْنَانِهٖ وَهُوَ قَدْرُ الْحِمَّصَةِ اودغه رنګ لمونځ فاسدیږي په خوړلو ما بین دغابنو چې هغه په قدر د نخود وي.

پوه سه: چې فاسدوونکی دما بین الاسنان د خوړلو هغه شئ دی چې کثیر وي. اوکثیر اندازه یو نخود یا تر هغه بالاکه څرګنده پر لږ عمل سره تیرکې. یعنې دیرنه وتر وي. سبب د فساد یه دا دی چې دکثیر څخه احتراز ممکن وو. چې دخولې څخې راکښلی وای او ایسته کړی یه وای. اولږ شئ چې په لږ عمل یه تیر کی لمونځ نه فاسده وي. ولې چې تبعیض نا روا وي اوکه لږ شئ خوو- لکن ده ډیر په خولې کی سره واړاوه او تیر یې کی. لمونځ یه فاسد دی په سبب د عمل کثیر.

اولمام خواهر زاده وائي چې کی تر ډکی خولې کوشئ وخوړئ لمونځ یه نه فاسدیږي. دا مذهب د مصلی دپاره کړه هم آسان دی لکن د مصنف مذهب اولی دی. او احتیاط تر په امر کی د عبادت اقرب دی. خلاصه والا یوه متناقضه خبره کړیده. دی وائي که لمونځ کوونکی وخوړي یوشئ چې خوږ وو او وی ژوی عین دهغه او خوږوالی یه خولې کی پاتې وو او ناري یه ښیره ولې لمونځ یه نه دی فاسد. اوکی مثلاً سپین مصري، یا چا کلیت او یا پلمیت په خولې کی وو لکن ژوی یه نه. لمونځ یه کاوه او خوږی ناري یه نسبت رهیدلی

لمونځ یه فاسید دی. اوکی ژاولی ژوولی په لمانځه کی لمونځ یه فاسد دی که ډیری وی که اوه نهم

قال السید: **وَشُرْبُهٗ** اوچښنګ داوبو یا بل شی هم لمونځ فاسده وی که عمداً اوکه په هیر وی ولې چې شرب منافی د لمانځه دی.

مسئله: کسې چې د باران اوریدو په وخت کی لمونځ کاوه نوده چې د آسمان وخواته سر پورته کړی د باران یو څاڅکی یه وخولې ته ولوید ی اونس ته یه وه سید ی لمونځ یه باطل سو، ولې چې دخارج څخه ری اوده نسق ورسیدی، م، طاب ثراه

قال المصنف: **وَالتَّنَحْنُحُ بِلَا عُذْرٍ** اودغه رنګه لمونځ فاسده وی غاړه تازه کول بیله عذره. مصنف یه په مراقی کی علت د فساد داوئیلی دی. لما فیه من الحروف آه او ط وائي چې دا ډ څخه حکم داغه دی که حروف پیدا سی لمونځ یه فاسیدی. اود تیغ حکم هم داغه دی لکن چې وه ته مجبوری نه وی اوکه بی اختیاره وو لمونځ یه فاسیږی. اود توخی څخه که حروف پیدا سوه اوبی ضرورت وو لمونځ یه فاسد دی دی اونثری که څه هم کلمه څندی پیدا سی لمونځ نه یه فاسیږی. ولې چې غیر اختیاری کار دی.

قال السید:

فائده: د عذر صورتونه دادي. چې سړی په ستونی کی بلغم ډیر سوی وي اود قرائت څخې منع کړی وي. اویا د پاره د تحسین صوت وي په قرائت کی. اویا امام خطا وکی ده غاړې تازه کړی اوامام یه په خطا پوه کاوه. اویا یو سړی خبری وه ته کولی ده غاړې تازه کړی مطلب یه داوو چې په لمانځه کی یم، کذا قال الامام الهمام فی فتح القدیر بنقل الامام الطحطاوی. قال المصنف:

وَالتَّاْفِیْفُ اود اغه رنګه لمونځ فاسده وی اُف ویل یا تُف ویل. د پاره د پښو کولو خاورو. اویا د پاره د اظهار د زړه د تنګیدو. او بعض اهل اللغة او الفقه وائي چې اُف نومیدی د خیر د نو کانو اویا د غوږو د خیر. او تُف نومیدی د خیر د گوتو د بندو نو یږدی تقدیر د تافیف معنا لیږی کولې دی د نو کانو د خیر، اویا د غوږو، اویا د گوتو د بندو، یعنی دا فعل هم لمونځ فاسده وي. اوهغه اُف چې په قرآن کریم کی راغلی دی په

حق کی دمور او پلار، «وَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ» هغه په معنا د اظهار د تنګیدلی دی پر فعل دمور او د پلار چې حاصل یې زجر دی د دوی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْأَنِينُ دوم اودغه رنګه لمونځ فاسدوی ځکه وی. وفی المراقی آه وهو آه بسکون الهاء منصوبًا علی وزن دَعْ. وفی ط اُهْ لوجع البحر، وبابه اَنَّ یَاَنُّ اَنِیْنًا، یعنی ځکیروی وکی

وَالزَّفِيرُ یونحوی سړی ته وویل چې د ترکیب صحیح دی. اَنَّ زَیْدٌ قَائِمًا، هغه سړی ورته ووایی چې نه د ترکیب صحیح نه دی دده خیال دا دی چې اَنَّ خو حروف مشبه بالفعل څه دی نو څرنګه زَیْدٌ چې اسم یې دی مرفوع دی او قَائِمًا چې خبر یې منصوب دی. او د ترکیب یې اصل کی صحیح دی ولی چې اَنَّ فعل ماضی ده یعنی ځکیروی وکړي زید، زیدٌ یې فاعل دی او قائمًا یې حال دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالتَّاوُهُ اودغه رنګه لمونځ فاسدوی اوه ویل: قَالَ فی المراقی وفیها لغات کثیرة وفی ط شمیرلی دی بحر الرائق په دې کلمه کی ۱۳ لغته **رفع الاشتباه**، په قرآن شریف کی په وصف کی د ابراهیم علیه السلام لفظ د أَوَّاهٌ، په تشدید دواو راغلی دی دهغه معنا جلاده. چې معنا یې یقین کوونکی او یا د زړه دعا کوونکی یا نرم دله. او یا فقیه ده، دتاوُّه اسم فاعل متأوِّهٌ دی قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَارْتِفَاعُ بُكَائِهِ مِنْ وَجَعٍ أَوْ مُصِيبَةٍ لَا مِنْ ذِكْرِ جَنَّةٍ أَوْ نَارٍ

اودغه رنګه لمونځ فاسدوی پورته کول د ژړا د درد څخه پر یوځای د بدن. او یا د یوه مصیبت د وجهی لکه چې د چا زوی یا ورور مړ وی یا یې مال ورک شی. او نه فاسدوی لمونځ په ژړا د یا دوله څخه د جنت یعنی شوق د جنت او یاد د بیری په اتفاق سره ولی چې دغه ژړا پر کمال خشوع دلالت کوی چې د لمانځه سره او اعلی مناسب حال دی.

پوهه سه: چې مصنف په مراقی کی ترجمه دار تفاع په دی کړیده. وهو ان یحصل به حروف مسموعة آه او د حروفو څخه ما فوق الواحد مراد دی. او د مسموع ترجمه ط په دی کړیده چې دی ته پخپله واورې. او که دی د احروف پخپله هم نه واوری لمونځ نه په فاسدیږی»

او په ویدکی د حروفو اشاره ودې ته ده چې نفس آواز بیله حرفه مفید نه دی» خلاف الظاهر کلام البحر» او مصنف زیاته کړې په دلیل کی د فساد چې د اخو کلام دی معنی. نو که ژړا د مرض او درد څخه وه. گویاده داسی وویل اِنَّهُ مَرِیْضٌ فَاعْذُرُوْهُ» دی ناجوړ دی تاسی معذور ګڼئ. او که بکاء د مصیبت د وجهی وه گویاده داسی وویل چې دی مصیبت زده دی د لاسائی ورکړی. او که سړی صراحةً د غه عبارت ووائی خو لمونځ یې فاسیدی. فکذا بما یؤدی معنا الصریح لان الدلالة تعمل عمل الصریح والدلالة هو البکاء المسموع: او بل په دی ژړا کی اظهار د تاسف دی. وهو من جنس کلام الناس ط او که ژړا د شوق د جنت وی او یاد پاره د بیری د اور وی: گویاده داسی وویله: اَللّٰهُمَّ انی اسئلك الجنة واعوذ بك من النار» او که لمونځ کوونکی په لمانځه کی صریح د غه دعاء وکړی لمونځ یې نه په فاسدیږی. او په دلیل د هغه چې ژړا ده هم لمونځ نه فاسدیږی.

مسئله: محل د فساد په حروفو مسموعه ووسره هغه ځای دی. چې د مصلی په قدرت کی وی منع د ځکیروی، یا تاوه. یا ژړا. او کی تر دوه تیره وه. نو لمونځ نه په فاسدیږی. په نیزد تولو فقها وو: قال فی الظهیریة. نو په وخت کی د ناوسی دا دی کاره لکه ټربی، یا تیغ، دی چې بی اختیاره د سړی څخه صادریږی. نو په تیغ یا ټربی که څهم حروف پیدا سی لمونځ نه په فاسیدیږی لانه ورد: لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا، فکذا الثلثة المذکورة.

فرعه: که امام قرائت مصلی ته خوند ور کړی. او د ده بعض استفها مو په جواب کی نعم ووائی. او د بعض په جواب کی بلی ووئیله لمونځ نه په فاسیدیږی. **فرعه** که شیطان په لمانځه کښی سړی ته وسوسه ورواچول نوده. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ووئیله که د اخرت د کار د پاره وه لمونځ نه په فاسیدیږی. او که د دنیا ئ کار د پاره وه لمونځ په فاسیدیږی. **فرعه:** که سړی په لمانځه کی لړم وخوړی ده ووئیل بِسْمِ اللّٰهِ لمونځ نه په فاسیدیږی. وعلیه الفتوی، ط، کذا فی المضمرات والنهر: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَشْمِيتُ عَاطِسٍ بِيَرْحَمُكَ اللّٰهُ

اودا غه رنګه لمونځ فاسدوی جواب ورکول او دعاء کول

ویوسړی ته چې وښودی په لفظ «یَرْحَمُكَ اللهُ» خدای دی پرتا باندی رحم وکړی.
۱ اولاً واوره که څوک وښودی خارج تر لمانځه باید دی ووائی یعنی مستحب ده چې ووائی به
«اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ» وجد دحمد ویلو داده چې په ښودی سره دماغ ته استراحت رسیږی. او چې «الحمد لله
وویل پرسامع لازمه ده چې «یَرْحَمُكَ اللهُ» جواب به ورته کوی که خارج الصلوٰة وو.
۲ ثانیاً که سړی په لمانځه کی وښودل او خپل ځان ته «یَرْحَمُكَ اللهُ» جواب ورکړی نه په فاسدیږی
ولې داګویاده داسی دعا وکړه وځان ته «یَرْحَمُنِیَ اللهُ»: اوپه دی دعاء اتفاقاً لمونځ نه فاسدیږی
ظ، ط، ۳ ثالثاً کربل چاوښودل او لمونځ کوونکی دعاء «یَرْحَمُكَ اللهُ» ورته وکړه. دغه مسئله
دمتن ده لمونځ په فاسیږی. ۴ ورابعاً که سړی په لمانځه کی وښودل، اووې ویل اَلْحَمْدُ لِلّٰه
لمونځ نه په فاسدیږی ۵ خامساً: که بل چاوښودل او لمونځ کوونکی وَوَیَّلَ الحمد لله اومقصو
یه صرف ثواب وو لمونځ یه نه فاسدیږی اتفاقاً. اوکی مقصود تعلیم اوښوونه وه وعاطس
ته یعنی چې ته اَلْحَمْدُ لِلّٰه ووایه لمونځ یه اتفاقاً فاسدیږی اوکی مقصود جواب دعاطس
وو. لمونځ یه نه فاسدیږی. ولې چې اَلْحَمْدُ لله په عرف کی جواب دعاطس نه دی. بلکه کلمه د
ثواب ده ۶

اوبعض فقهاءؒ ووائی چې لمونځ یه فاسدیږی چې اعتبار دده نیت لره دی دده نیت
خوجواب دعاطس دی. ۷ سادساً چې لفظ دتشمیت په شین اوسین دواړو سره
مستعمل دی لکن شین یه افصح دی، مرعۀ سابعاً چې فساد دلمانځه په تشمیت مرهذهب
دامام اعظم ابوحنیفهؒ اودامام محمد دیؒ اوامام ابویوسفؒ ووائی چې لمونځ نه په فاسدیږی
ولې چې دادعاء ده مغفرت اورحمت ده ورور مسلمان ته، اودلیل دقول دطرفینوؒ هغه
حدیث دی چې معاویهؓ بن الحکم یه روایت کړی دی: چې یوسړی په لمانځه کی وښل عاطس
ته «یَرْحَمُكَ اللهُ» ووئیله. نوآنحضرت صلی الله علیه وسلم: وهغه ته داسی ووئیله: «اِنَّ صَلَاتَنَا
لَا تَصْلُحُ فِیهَا شَیْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ» په تحقیق زمونږ یعنی دمسلمانانو لمونځ صالح دهیڅ
شی دخلګو دخبرو نه دی:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤَلِّفِ وَلِكَاتِبِهِ آمِین

قَالَ المُصَنِّفُ: **وَجَوَابُ مُسْتَفْهِمٍ عَنْ نِدِّ بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ**

اودغه رنګ لمونځ فاسدوی جواب ورکول ویوه چاته چې هغه د مصلی څخه پوښتنه وکړی هَلْ لِلّٰهِ نِدًّا
اَیْ هَذَا ای لره مثل یعنی شریک ستا - په دغه کلمه د توحید چې جواب ورکړی نولمونځ دده فاسد
وخلافاً لابی یُوسُفَ: ابویوسفؒ ووائی چې «لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ» کلمه توحید اوثناء ده نوسړی
په قصد سره تغییر نه خوړی. اوطرفینؒ ووائی چې داخو جواب دی نومتکلم په منافی بوکل کیږی

قَالَ المُصَنِّفُ: **وَخَبَرُ سُوءٍ بِالِاسْتِرْجَاعِ** اودغه رنګ لمونځ فاسدوی جواب د
غم دخبر - لکه چې یوسړی ولمونځ کوونکی ته ووائی چې مثلاً زوی دی مړاو یا موټر چپه سو وغیره ډک.
لمونځ کوونکی په لمانځه کی جواب ورکړی په دی کلمانو: «اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُونَ»: قَالَ المُصَنِّفُ:

وَسَارِ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ اوجواب ورکول وخبر ورکوونکی تد ښه خبر. لکه یوسړی
چې لمانځه ولاړوی بل سړی ورته ووائی چې زیری می درباندی زوی دی پیدا شو.
یامسافر د سفره څخه په خیر، اورسیدی وامثال ذالک. دی په جواب کی ورته ووائی اَلْحَمْدُ
لِلّٰه» نولمونځ یه فاسد شو: قَالَ المُصَنِّفُ:

وَعَجَبٍ بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَوْ سُبْحَانَ اللهِ اوداغه رنګه لمونځ فاسده
وی جواب ورکول ویوچاته چې هغه یوه تعجب آوره خبره ورته وکړی مثلاً ورته ووائی
چې فلسطینانو وه اسرائیلو ته ماته ورکړه اوبیت المقدس یه ځندی ونیوی دی په جواب
کی ورته ووائی لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یا سُبْحَانَ اللهِ **پوه سه**: چې دغه مثال دخبری
سارهم کیدای سی اعتباری فرق یه دی. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَكُلُّ شَیْءٍ قُصِدَ بِهِ الْجَوَابُ كَیَا یَحْیٰی خُذِ الْكِتَابَ اودغه رنګ لمونځ
فاسدوی هرهغه شی چې قصد کړه سی په هغه سره جواب دیوچا مثلاً یوسړی ووایی

نومریه یحیی وو دلمونځ کوونکی څخې سوال وکړی چې دغه کتاب ولاکړه نولمونځ کوونکی
ورته ووېل یا یحیی خذ الکتاب. یعنی ای یحیی کتاب در واخله.
قالَ المصنفُ فی مرآتی. اولمونځ فاسده وی هرایت دقرآن څخه چې مقصود په هغوسره
جواب ورکول دچاوې. مثلاً یوچاپه لمانځه ولاړ سړی ته ووېیله. چې څوودی
درلره راولهم. ده ورته ووېیل اِتِنَا غَدَائَنَا» اویاد لمونځ کوونکی څخه پوښتنه
وکړه دبعض ګنهو په باره کی. ده ورته ووېیل. وَتِلْكَ حُدُودُ اللهِ فَلَا تَقْرَبُوهَا»
اوکه چیری مقصود د لمونځ کوونکی جواب نه وُو بلکه هغه بل سړی په دی خبرو وچې
په لمانځه کی یم نویه لمونځ اتفاقاً نه دی فاسد.

پوهسه: چې مصنف ایت دقرآن ذکر کړی تاچې حکم د غیر دقرآن په طریقو اولې
معلوم سي. مثلاً مؤذن شهادتین په اذان کی وَوَیلی بل سړي چې پر لمانځه ولاړ وو
اجابة هغه شهادتین وَوَیلی لمونځ یې فاسد سُو. اویا سړي په لمانځه کی لفظ د الله
دچا څخه واوریدی. ده ووېیل جَلَّ جَلَالُهُ لمونځ یې فاسد سُو. اویا یې نوم د علیه الصلوٰة
والسلام واوریدی. ده په لمانځه کی درود ووایه لمونځ یې فاسد سُو. اویا یوسړی
خارج الصلوٰة قرآن شریف ووایه لمونځ کوونکی ورته ووېیل «صدق اللهُ العظیم»
لمونځ یې فاسد سُو. اویا لمونځ ګذاره شیطان نوم د چا څخه واوریدی. نوده ووېیله
لعنة الله علیه لمونځ یې فاسد سُو. اویا امام تکبیرونه کړل ویل یوبل سړي ورته غږ
کړه چې دا تکبیرونه په زوره وایه. اوامام هم داغسی وکړه. دامام لمونځ فاسد سُو.

پوښتنه: په حدیث شریف کی راغلی دی یووخت عَبدُ الله بن مَسعودؓ
د آنحضرت صلی الله علیه وَسلم څخه اجازه د دخول وَغوښتنه اوعلیه الصلوٰة والسلام
پرلمانځه ولاړوو نوعلیه الصلوٰة والسلام دابن مسعودؓ په جواب کی داسی وَوَیلې
أُدْخُلُوهَا بِسَلَامٍ اٰمِنِیْنَ» اوسره ددی چې لمونځ فاسد نه سُو. **واجاب**
عنه الامام السرخسیؒ وتبعه شراح الهدایة: چې دا اتفاقاً داسی پیښه سوه چې اذن
غوښتل دابن مسعودؓ په داسی وخت کی وَسوه چې د آنحضرت صلی الله علیه وَسلم

قرأت دلمانځه همدغه ایت ته رسیدلی وو یعنی أُدْخُلُوهَا بِسَلَامٍ اٰمِنِیْنَ» اود علیه
الصلوٰة والسلام قصد داجابت دابن مسعودؓ نه وو. قَالَ المُصنفُ:

وَرُؤْیَةُ المُتَیَمِّمِ مَاءً

اود غږ رنګه لمونځ فاسده وی لیدل د تیمم
والا اوبه لره. **پوهسه**: چې مراد هغه
اوبه دي چې پرقادر اوپر استعمال هم وي. اوبل دومره قدر وي چې د طهارت
پاره کافی دی.

فائده: که امام متیمم وو اوهغه اوبه ولیدلی دده لمونځ فاسد سُو. اود مقتدی
کړخه هم متوضی وی تبعاً فاسد سُو. اوکه مقتدی متوضی اوبه ولیدلی. اوامام نه وي
لیدلی اوامام متیمم وو د مقتدی لمونځ خو فاسد سو وَلی خوده په عقیده دامام لمونځ
په تیمم سره دوجود دا وبونه دی روا. **فائده**: که متیمم په قدر د تشهدی
کښینستلی وو بیا یې اوبه ولیدلی لمونځ نه فاسدیږي. ولی چې اوبه یې بعد تمام الصلوٰة
ولیدلی. لکن دامذهب دیا رانو. اوپه نیز د امام اعظمؒ یې لمونځ فاسدیږی. یارانو وائی
چې رؤیة د متیمم داوبو کړخه هم مفسد د لمانځه دی لکه حدث اوخبری. لکن
دامنسد خوپسله تمامه لمانځه پیدا سُو. ولی چې پردغه مصلی څوک دارکانو اوفرائضونه دی پاتې
لماجاء فی حدیث ابن مسعودؓ اذا قُلتَ هذا اوفعلتَ هذا فقد تمّت صلوٰتك» نود غه
مصلی نوقعده وکړه.

د حضرت الامام الاعظمؒ دمذهب په بیان کی امام بردعیؒ وائی. چې خروج د مصلی دده په فعل
سره د لمانځه څخه هغه هم فرض دی دامامؒ په نیز اوپردی سړي هغه پاتې دی. اوعام احنافو
دامام بردعیؒ د قول په ملاتړ کړی دی کما فی العنایه. اوابو الحسن الکرخیؒ وائی چې سبب د فساد
د لمانځه د دغه مُتیمم چې په قدر د تشهدی کښینستلی هم دی. په نیز د امام الاعظمؒ داده
چې دغه رؤیت داوبو خومغیر د لمانځه دی که نیت د اقامت د مُسافر نوپه دی کی اوّل د
لمانځه اواخیر د لمانځه برابر دی یعنی که دغه مُتیمم په اول کی د لمانځه اوبه ووینی خولمونځ
یې فاسد دی نوپه اخیر د لمانځه چې ووینی هم یې لمونځ فاسد دی. اوامام کرخیؒ زیاته کړیده

چې خروج د لمانځې څخه په صُنع د مصلي فرض نه دی په اتفاق د یارانو او د امام اعظم، صرف امام بردعي د دغه اختلاف في مسائل الخلاف افهمولې ده چې خروج په صنعه د مصلي د امام اعظم په نیز فرض دی. قال وهو غلط منه. امام طحطاوي وائي: چې مجتبی والا وائي چې محققانو احنافو مذهب دکرخي مختار ګڼلی دی. او په معراج کې چې نسبت یه د امام حلوائي ته کړې دی چې ظاهر مذهب دکرخي دی. او الصحیح ما قاله الکرخي، وفي التاسیس ما قاله ابوالحسن الکرخي، احسن، دروېش وائي چې ظاهر هم مذهب دکرخي دی. ولی نفس خروج په صُنعه خو قربت نه دی نو چې د امام اعظم فرض ښه نلای. نو سلام چې قربت او ذکر دی هغه بی فرض ګڼلې وای. والله اعلم بالصواب. قال المصنف

وَتَمَامُ مُدَّةِ الْمَاسِحِ اَیْ لِلْخُفِّ

اودغه رنګه لمونځ فاسده وی پوره والی د مدت د مسح د مُوزو یعنی د لمونځ کوونکی په ما بین کی د لمانځې مده د مسح د موزی ختم سوه. یعنی یو مقیم او درځی ورځی د پاره د مسافر نو دده لمونځ فاسد سُو. ولی چې پښوته یه حدث ورسیدی او د پښو پر یولې پرده فرض سوه. قال المصنف

وَنَزْعِ عِمَامَةٍ

او یا موزه وه د لمانځې په ما بین کی د پښې څخه وخیژی کم دده په صنعه سره او که بی صنعی دده. لمونځ فاسده وی.

مسئله: هغه عذر چې سړی ته یه تیمم روا کړی وو بلکه ناجوړی او یا ببره دد بدن چې د مخ تیمم سوی دی. په قدر د تشهد ی زائل سې هم لمونځ فاسد سوه.

اَلْخُفِّ

مده د مسح که پوره سوه او په وی خو لمونځ فاسد دی بالاتفاق قاله الزیلعي. او که او به نه وی لمونځ یه نه دی. ولی چې پښو لړه خو په تیمم کی برخه نسته، ن، ط، او بعض فقهاء وائي چې لمونځ په فاسدیږی. ولی چې حدث سابق و پښو ته راغلی نو بل تیمم دی وکړی. ن، س، ط،

پوه سه چې هلته لمونځ فاسدیږی چې په قدر د تشهد ی نه وی کښینستلی او که کښینستلی وو نو دا مسئله پر اختلاف ده بین الاعلام الاعظم وصاحبیه: کما مر من قبل قریبا، قال المصنف:

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن

وَتَعَلُّمُ الْاُمِّیِ اٰیَةً

اودا غه رنګه لمونځ فاسده وی چې زده سی دا می یوایت «تحقیق د لفظ دا می» د الفظ منسوب دی و امة العرب نه چې پرهغه حال چې اُم (مور) زین ولی وو پاته دی»

پوه سه: چې دا می څخه عرفی امی نه دی مراد. ولی چې په عرف عام کی امی هغه وی چې عالم نه وی کی خم. الحمد لله وقل هو الله آه اونور سورتونه هم پیاد وی. بلکه مراد امی فقهی دی چې هغه سړی دی چې یوایت د قرآن شریف یه هم نه وی پیاد. مصنف په مراقی کی وائی ولم یکن مقتدیا بقاءِ. او دی امی اقتداء په قاری پسی نه وی کړی. ط وائی چې امی چې مقتدی د قاری پسی وی او یوایت ور پیاد سی عام فقهاءُ پردی مذهب دی چې لمونځ یه باطل سُو. او په فتاوای ظهیریه کی وائی چې لمونځ یه نه فاسدیږی. وبه قال الفقیه ابواللیث السمرقندی و مصنف د اقید بناء پر قول د ظهیریه دی. ولی که دا می که قاری فرض کړی خو هم دی ممنوع دی د قرائت څخه خلف الامام. نو تذکر او نه تذکر وده ته برابر دی، مراط، در،

پوه سه: هغه څخ کی اختلاف د امام اعظم او د صاحبینو د لته هم جاری دی

فَائِدَه

علم د امی یوایت لره دوه قسمه دی. یو دا چې یوایت مثلا خو یه پیاد وی. لکن بیا څنډی هیر سوی وی. او په اوسنی لمانځې کی ور پیاد سی. دوهم دا چې په لمانځې کی بل ور پښتی دی ځکه پیاده وی دا چونکه عمل کثیر دی په دغه عمل سره دده لمونځ فاسد سُو. قال المُصنف

وَوُجْدَانُ الْعَارِی سَاتِرًا

اودا غه رنګه لمونځ فاسده وی پیدا کول د داسی ساتر العورة لمونځ په لحظه کوی. او س یه په لمانځې کی جامه پیدا کړه. یعنی یو چا ورته ورکړه لمونځ یه فاسد سو. ولی چې عذر د لمانځې د جواز وو هغه یه قطعه سُو:

پوه سه چې د افساد هلته لازمیږی چې دی مالک د دغسی جامې سی یعنی څوک یه ور وبخښی. او یا د لمانځې کولو په هغې جامې کی اجازه ورکړه. نو که دا جامه نجس الکل وه بیا یه لمونځ نه فاسدیږی. ولی په نجس الکل کی خو پرده لمونځ نه دی لازم بلکه سره د وجوده د

نجس الکل جامی په ابتداء کی همدغه ته لمونځ په لخه روا وو. اوکی ربعه د جامی پاکه وه یا بالا ترهغه اوښه ښکاره وه خو اپه نیز دده اوبه وی چی نجاست یه پریوی یا نه وی. خو لمونځ یه فاسد سو. ولی که ابتداءً د عنسی جامه چی څلرمه یا بالایه پاکه وه موجوده وی د ده لمونځ یه لخه ناجائز دی. نو اوس انتهاءً یه هم لمونځ باطل دی. اوکه طاهر الکل وی هغو خو یه طریق الاولی لمونځ فاسده وی. وَلَا تنس الاختلاف بین الامام وصاحبیه فی هذه الصورة ایضاً، ط، مدر. قَالَ المُصنفُ:

وَقُدرَةُ المُومِی عَلَی الرُّکُوعِ وَالسُّجُودِ

اودغه رنګه لمونځ فاسده وی چی لمونځ کوونکی چی بیله سبب د یو مرض او عذر یه لمونځ په اشاره کاوه اوس یه قدرت پیدا کړی پر رکوع او سجده یعنی هغه مَرَض یه جوړ سو. او عذر یه زائل سو. ولی چی بناء د قوی لمانځه چی سجده او رکوع په کښتی وی پر ضعیف لمانځه چی په اشاره دی نه دی روا. مه قَالَ المُصنفُ:

وَتَذَکُّرُ فَائِتَةٍ لِذِی تَرتِیبٍ

اودغه رنګه لمونځ فاسده وی پیدا دیږی په لمانځه کی د قضائی لمونځ هغه چا چی خاوند د ترتیب وی. یعنی چی قضائی لمونځونه یه لزوماً تر وختی لمانځه د مخه کوی.

پوه سله که د سړی مخه یو یاد وه لمونځونه تر پنځو پوری قضا سوی وی هغه سړی بحکم د قضائی لمونځونو تر وختی لمانځه د مخه بی قضاء راوړی. اوکه قضائی لمونځونه شپیته ورځی سیده نو ترتیب ساقط دی کی د مخه راګرځوی اوکه ورسته»

پوښتنه: چی د چا مخه شپیته لمونځونه قضا سوی وه او وقت د تیولو در اګرځیدو نه وه بلکه وخت تنګ وو. نو یو لمونځ یه ور اوګرځاوه نو خو پنځه پاته سوه ایا په هغو کی ترتیب ساقط دی که څرنګه؟ **جواب:** ترتیب ساقط دی لان الساقط. **مسئله** که د سړی لمونځونه هیر وه چی وختی لمونځ یه وکړی ور پیاد سوه د غه کړی لمونځ یه نه دی فاسد. په سبب د عذر د هیری ورسته په بل لمانځه کی بی د مخه ور اګرځوی. تحفه، ووَیل وتذکر فائتة آه.

مسئله که د لمونځ کوونکی خو قضائی لمونځونه پیاوړه لکن دوه قتی لمانځه وخت لږ پاته وو. نو وختی لمونځ یه نه دی فاسد د عذر سبب. **فائده:** که د سړی قضائی لمونځونه پیاوړه او وخت هم فراخ وو. لکن قضائی لمونځونه یه تر وختی د مخه نه راوګرځول نو که چیری د غه سړی قضائی لمونځونه د پنځم لمانځه د وخت تر تلو د مخه ور اوګرځول حکمیه دادی چی هغه ټوله پنځه لمانځه چی کړی وه ټول نفل سوه. او پرده باندی د ګرد و قضاء لازمه ده. اوکه چیری د پنځم لمانځه وخت تیر سوه ور اوګرځول ټوله لمونځونه یه صحیح سوه. ولی چی قضائی شپږ سوه او ترتیب ساقط سو، ط،

فائده بیانه زمونږ د زمانی عوام چی بعد البلوغ د ده څخه په جاهلی کی د پیر لمونځونه قضا سوی وی د هغو د پاره چی اوس قضا یه ور اوپری ترتیب نسته.

پوښتنه:

که د سړی دا قدر پوهیدی چی ماخو د پیر لمونځونه په خوانی کی مثلاً قضاء کړی دی. لکن حساب یه نه وو ور ته معلوم نو دی به د څو لمونځو قضاء راوړی **جواب** تر هغو پوری دی قضائی لمونځونه راګرځوی چی ده ظن غالب دا کیږی چی قضائی لمونځونه خلاص سوه، در، قَالَ المُصنفُ:

وَاستِخلَافُ مَن لَّا یَصلُحُ إِمَامًا

اودا غه رنګه لمونځ فاسده وی خلیفه ګرځول د هغه چا چی صالح د امامت نه وی لکه امی یا معذور سړی. یعنی امام قاری وو لکن ده ته په مابین کی د لمانځه بی اودسیاوه پلیته سوه. نو یه خلیفه د لمانځه د پاره امی یا معذور مقتدی ودراوه نو هم د امام او هم د مقتدیانو لمونځ فاسد سو. لکن د اخیره پیاد لره چی فساد د لمانځه هلته لازمیږی چی امام قاری په اخیره ناسته کی په قدر د تشهدی نه وی کښینستلی. اوکه اخیره ناسته کړی وه صرف سلام یا درود وغیره ورته پاته وه اودس یه مات سو نو د ده لمونځ پوره دی او استخلاف نه ضرورت هم نسته. کذا قَالَ الفقیه ابو جعفر الطحاوی. فخر الاسلام علی البزدوی او د دوی دعوی د اجماع هم کړی ده» او صاحب الکافی وائی چی د غه مذهب صحیح دی. او یه

فتح القدیر کی وَائی وهو المختار او نور فائق والا وائی چی وجه د عدم الفساد داده چی خلیفه ضرور
فی نفسه ګڼیږی پهمابین کی د لمانځه چی موښ اجازه ددی عمل ورکوله د جهت څخه
د ضرورت چی لمونځ دیر پاته وو. نو اوس چی اخیره ناسته امام کړی وی نو خلیفه ګرځول
ده ته دنا اهل سړی څه ضرورت سته اوکی اهل د امامت خلیفه کړی هغه یه صرف د سلام
ګرځولو وظیفه ادا کړی لانه حینئذٍ لا یبقی غیره» حاصل ط» قال المصنف:

وَطُلُوعُ الشَّمْسِ فِی الْفَجْرِ

اوړاختل د لمر د سحار په لمانځه کی د سحار لمونځ فاسده وی. په لیل ددی چی د مخ تر
طلوع الشمس وخت کامل او ورو سته تر طلوع الشمس وخت ناقص دی. ولی چی د غم
وخت کی لمر پرستان د لمر ته سجدی کوی. نو د غه سحار لمونځ خو کامل لازم سوی وو. نو
ناقصه اداء یه نه ده صحیح «ح، م،

پوه سه: چی مراد د طلوع الشمس څخه دا نه ده چی د لمر تهکی به وینی بلکه چی د لمر اول
ځل یا بناء عالی، د وای تهکی د لمر ې هم معلومیدای. نو په داسی حال کی هم لمونځ فاسد
دی، د بعض عوامو ګمان دادی چی څه وخت چی تهکی د لمر پرغړه راپورته سی نو د سحار لمونځ
نه دی روا. قال المصنف:

وَزَوَالِ الشَّمْسِ فِی الْعِیدَیْنِ

اود غه رنګه لمونځ فاسده وی چی لمر زوال وکړی داختر و په لمونځو کی. یعنی خلګ پر
لمانځه دیوه اختر یا بل اختر ولاړ وه چی لمر زوال وکړی لمونځونه یه فاسد سوه. ولی
چی وخت د اختر د لمانځه تیر سو، لا قضاء له» قال المصنف:

وَدُخُولُ وَقْتِ الْعَصْرِ فِی الْجُمُعَةِ

اود غه رنګه لمونځ فاسده وی داخلیده د مازدیګر د وخت د جمعی
په لمانځه کی یعنی خلګ د جمعی پر لمانځه ولاړ وه چی د مازدیګر وخت داخل سو نو د جمعی لمونځ
یه فاسد سو ولی، چی شرط د جمعی د لمانځه د مابنین د لمانځه وخت دی. نو د جمعی وخت تیر سو

پوه سه: چی وخت د مابنین چی سایه دشئ په مثل دوه شئ وګڼی دده وخت تیر سو

پښتو دیارانو اوپه نیز د امام اعظم چی سایه دشی دوه مثله دهغه وګڼی نو د مابنین وخت
پای ته ورسیدی. نو د جمعی په لمانځه کی چی سایه د مثل ثانی ته داخله سوه د جمعی
لمونځ فاسد سو. په نیز د یارانو. او چی مثل ثانی پای ته ورسیدی نو د جمعی لمونځ
فاسد سو په نیز د امام اعظم. لکل عالم هفوة» په مجمع الانهر کی په نقل د فتاوای
سراجیه داسی وائی. چی قید د جمعی اتفاقی دی. ولی چی د مابنین د لمانځه حکم هم داغسی
دی انتهی، ولا یخفی ان ترخلاف الفقه» ولی چی په فقه شریف کښی وائی چی په د خول
د وقت العصر د مابنین نه فاسدیږی. ط»

تنبیه د پښتون آباد په بعض جامع مسجدو کښی د جمعی لمونځ داسی وخت کوی چی د وخت
د مابنین پر مذهب د یارانو خو یقیناً و تلی وی بلکه داسی جامعګانی هم ښتی
چی د جمعی لمونځ داسی وخت کوی چی د حضرت الامام الاعظم په نیز هم د مابنین وخت تیر
سوی وی. د دی سببه څه دی! بعض ملایان د غرمی د خوب د پیښو قسمیان وی نو بیده
سی او خوب چی په سر سی نو د جمعی د لمانځه ته راووزی. او بعض ملایان بیا تر لمانځه
د مخه د رشتیا او د رواغو او د دی او بد دی قسمونو کوی او خلګ ژړه وی چی دده جاه په
بالاسی. نو په دی قصو کی د مابنین وخت تیر سی بیا نو د جمعی لمونځ کوی. معصیت
د خالق په یاد پاره د خوب او یاد پاره د جاه و جلال پر غاړه واخلی.

چو بینم دین احمد در غریبی ؛ دلم سوزان ز چشمم خون جاری؛

دعُبید ویل به هلته پکار د رسی ؛ چی یوه دیوال ته مخ و بل ته شا سی.

غرض نقشیست کز مایا دماند ؛ کز هستی را نمی بینم بقائی ؛ مگر صاحبدلی روزی ز رحمت ؛ کند در حق این مسکین دعائی؛

صرفت العمر فی لهو و لعب ؛ فاها انا ثم آها انا ثم آها ؛

احب الصالحین ولست منهم ؛ لعل الله یرزقنی صلاحا ؛

آئی تھے ہم مثل بلبل سیر گلشن کر چلے ؛ دیکھ مالے باغ اپنا ہم تو اپنا گھر چلے ؛

د محمد فضل العزیز حقانی اخذ د الباری په قلم یکمل شو یدی.

قَالَ المصنفُ **وسقوط الجبيرة عن برءٍ** اودغه رنگ لمونځ فاسده وی لویدل د سکندی یا پنتکی دجوړید و سره

یعنی یوسړی پر یوځای په سبب د عذر د تپ او یا ماتوالی او یاد بند خلاصولو کبله پټی ترلی وه. اومسح یې پرکوله. په لمانځه کی هغه پټی جلاسوه لکن لاندی عذر یې جوړوو لمونځ یې فاسد دی. ولی حدث سابق په دغه ځای بنکاره شو. اوکه لاندی تپ وغیره هنوز لاجوړنه وو لمونځ یې نه دی فاسد» قَالَ المصنفُ:

وزوال عذرِ المعذورِ اودغه رنگ لمونځ فاسده وی چی زایل ښی عذر د معذور سړی. چی په ناقض داوداسه معذور وی لکه سلس البول، انفلات الریح، رعاف ممتد وغیره یعنی سړی په یو عذر معذور وو هغه عذر یې په لمانځه کی زایل شو نولمونځ یې فاسد دی **پوه سله**. چی زوال د عذر په دې معلومیږی چې دیوه لمانځه کامل وقت بیله دغه عذره پرتیر ښی.

دری مسئلی صورت دادی چی یو معذور څوک چی دهغه ذکر سو په عذر ومبتلا وو. او یا مستحاضه ښځه وه چی اودس یې دمخه پښین یې تازه کاوه عذر یې جاری ووچی لمونځ یې شروع کړی عذر یې جاری وو بیاد مخه تر قعود په مقدار د التحیات عذر یې قطع سو، اوتر لمر لویدو پوری عذر قطع وو اود مازدیګر وخت کامل بی عذره پرتیر شو. هغه دماپښین لمونځ یې فاسد دی بیرته یې راګرځوی. وانما قلنا بیاد مخه تر قعود ځکه ولی که په مقدار د التحیات کښینستلی اوعذر یې وو اود مخه تر سلام قطع سو، دماپښین لمونځ یې صحیح دی. ولی چی دی معذور دی».

فائده: که چیری یومعذور، اودس تازه کاوه عذر یې قطع وو او بیاچی لمونځ کاوه عذر یې قطع ووتر اخیره د لمانځه. نودغه لمانځه راګرځول پرده نسته. کی خه هم پسله لمانځه څخه عذر بیرته راوګرځی. ط در، قَالَ المصنفُ:

والحدث عمدًا او بصنع غيره اودغه رنگ لمونځ فاسده وی چی لمونځ کوونکی په قصد اودس مات کړی مثلاً گوزاړ یا پسکی په قصد

واچوی. و انما قال عمدًا. ولی که بی قصده گوزاړ یا پسکی وخندی ولویږی لمونځ یې نه فاسدیږی بلکه پرهغه لمانځه بناء کوی کما تقرر فی الفقه»

اودغه رنگ لمونځ فاسدیږی که اودس ماتیده دبل خوا نځه پیښ سوه. مثلاً سړی پرلمانځه وو بیوبل چاپه ډبره وو لیشتی سړیه ورمات کړی. اویا سړی په لمانځه کی پرکوع وو یوبل سړی پرسپور سو اوده باد پرې سو. نودی سړی لره هم بناء پرتیر سوی لمانځه نده روا ولی چی د صحت دبناء شرط دادی چی عذر به سماوی وی قَالَ المصنفُ:

والإغماء والجنون والجنابة بنظر او احتلام اودغه رنگه لمونځ فاسده وی بیهوشی یعنی پرسړی په لمانځه کی بیهوشی راغله. اودغه رنگه لیونتوب لمونځ فاسده وی یعنی چی سړی په لمانځه کی لیونی سو. اودغه رنگه لمونځ فاسده وی جنابت چی دکتو لسبب ورپیښ سی. مثلاً دی پرلمانځه ولاړوو یوه ښځه تیره سوه ده چی ورته وکتل اودس پرواوښت. اویاد خوب په حال شیطان بازی ورکړه». اودس پرواوښت لمونځ یې فاسد سو وانما قال بنظر او احتلام» ولی که چیری ناحقی اودس پرواوښت لمونځ یې نه دی فاسد ولی چی داعذر سماوی غسل دی وکړی اوپس تیرسوی لمانځه دی بناء وکړی.

سوال: احتلام خوپه وخت کی د خوب پیښیږی نودی سړی خواودس په خوب مات سو نوڅ احتلام وذکرته څه ضرورت وو؟ **جواب**: مصنف په مرافی کښی وائی: ناظم مُتمکن» حاصل دجواب دادی چی داحتلام ذکر پردی بناء دی. چی لمونځ کوونکی په لمانځه کی پرداسی حالت بیده سی چی په خوب یې اودس نه ماتیږی لکه په ناستکی چی بیده سی اوتکیه یه کړی وی. **پوه سله**: چی اغماء داده چی قوت عاقله یه پرځای وی لکن اعضاء محرکه یه کار پریښی دی. اوجنون دادی چی اعضاء محرکه یه فعال وی. لکن قوة عاقله یه کماینبغی کار نه کوی. په بعض کتابو کښی ماوَلیده چی یوسړی چی شراب یه چښلی وه کله چی نشه یه سړه سوه بولو ونیوی. نوبولې کولی اودوارې لاسونه یې ورته نیولی وه اومخ ټې په پربولی. اودابی وئیلې. الحمد لله الذی جعل الماء طهورًا آه.

درولیش وائی چی فهم د مسئلو د محاذاتو دنر اوبنځی په لمانځه کی چی مفسد دی نر د لمانځه
گوڅی پاته د یو مشکل کار دی. نو دی مسئلی د ښه فهم دپاره یو څو خبرو ته په طور د مقدمه
ضرورت ستة. تفصیل د هغو خبر دادی.

۱ سوال څه سبب دی چې په محاذاتو سره یوائی د نر لمونځ فاسدیږی او د ښځی
دانه فاسدیږی. جواب سبب دادی چی نر خپل وړ سپارل سوی وظیفه پریښولو
قال علیه السلام مخاطبا للرجال: "اَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَخَّرَهُنَّ اللّٰهُ" ترجمه: تاسی نر دوی
یعنی ښځی وړ وسته کوی په لمانځه کی په دی سبب چی دوی خدای په خلقت کی وړ وسته
کړی دی.

۲ په محاذاتو مفسد کی مابینه د سړی، خوی، هوډ، اونیو محرمانو سره برابر دی. اوچه او ښځه
هم برابر دی ۳ فساد د لمانځه د نر معلول په عروض د شهوت نه دی. ولی که وای نو د محرمی
ښځی په محاذاتو به لمونځ نه وای فاسد سوی. بلکه اصل علت یې ترک د مقام مفروض دی
د ښځو دپاره کما فی فتح القدیر کما مرانفا. نو چې شهوت یې علت نه دی نو هغه چې بعض علماء
وائی چې په محاذاتو سره د بی بړی بسائسته هلك هم لمونځ فاسدیږی نه روایة صحیح ده
او نه درایة صحیح ده" لما مر ان الفساد غیر معلول بعروض الشهوة"

۴ د مشتهات ښځی څخه مراد عام دی که مشتهات بالفعل وی او که په ښوا کی وی. نو
دیره خرو به سپین سړی ښځه هم په کښی داخله سوه. ۵ او مشتهات بالفعل هغه ښځی
یا جنلی ده چې د جماع قابله وی اوسن نه اعتبار نسته. کذا فی الشاح: او په د مختار
کی وائی چې مشتهات حالا هغه جنلی ده چې د نو کالو وی مطلقا که چاغه وی او که
ډنگره. او د او د کلو یاد اتو کلو وی که چاغه شلنډه وه. ۶ تبیین والا او مصنف هم
په مراقی کی وائی چې د محاذاتو کی د محاذاتو د بجلکی او د پنډی شرط دی
دا تحقیق او تخصیص اصلا زیلعی شارح د کنز کړی دی. لکن په نهر کی وائی چې دی تخصیص
لره کوم دلیل نسته بلکه صحیح تفسیر د محاذاتو هغه دی لکه چې محتبی والا چې ذکر کړی دی
حیث یقول وهو ان المرئة اذا قامت بجنب الرجل او قدامه من غیر حائل. او په د مختار

ی وائی چې معتبر محاذات په یو اندام سره دی هر اندام چې وی. دلیل د دی تفسیر صحیح
والی دادی، چې د زیلعی یا مصنف پر تفسیر" که ښځه پر د نجه ولاړه وی او نر کښته چې د نجه
د نر تر قامت کښته وی. یعنی د نر او د ښځی پر یوځای برابری وی. باید لمونځ د نر
فاسد نه سی. ولی چې محاذات د کعب او ساق خونسته. او سو د دی چې ټولو فقهاء وائی
چې د نر لمونځ فاسدیږی. او مصنف وړ وسته په مراقی کی وائی چې په مذکوره صورت کی لمونځ
فاسد دی. ۷ د امام محمد مذهب دادی چې په هر رکن کی سره محاذی سوه د هغو تر ټولو
چې محاذی پاته سی نو د نر لمونځ فاسد دی. او په فتاوای خانیه کښی وائی چې د ښځی محاذات او
د نر محاذات لمونځ فاسده وی. او د دی مذهب نسبت یې د امام ابو یوسف ته کړی دی
لکن صحیح هغه دی چې مصنف په مراقی کی وائی چې د امام ابو یوسف مذهب دادی. چې په مقدار
د ادنی رکن سره محاذی سو لمونځ د نر فاسد دی. ۸ چې اشتراك او محاذات د نر او ښځی
یې په کامل لمانځه کښی وی یعنی چې رکوع او سجده یې کښی وی. نو که په لمانځه کی د جنازی سره
محاذی سوه د نر لمونځ نه فاسدیږی ۹ که د امام د ښځی د امامت نیت نه وو کړی نو د ښځی
لمونځ فاسد دی د نر د صحیح دی او که د امامت د نر او ښځو د وار وکړی وو نو د نر او فاسدیږی
۱۰ که ښځی جلا لمونځ کاوه یعنی نفل مثلا او نر جلا لمونځ کاوه نکاه فرض مثلا او سره محاذی
سول نو د نر لمونځ نه دی فاسد لعدم الاشتراك فی الصلوة. وهو شرط فی فساد الصلوة کما مر
فی کتب الفقه".

او اشتراك دادی چې مقترض په مقترض پسی اقتداء وکړی او یا متبوع په متبوع پسی
یا متنفل په مقترض پسی. ۱۱ که سړی د ښځی ته اشاره وکړه چې تر شا سره اودی عمل په
د نه کړی. نو د نر لمونځ صحیح دی او د ښځی د فاسد دی. ۱۲ که د سړی او ښځی تر مابین
د دومره فاصله وه چې یوه نر لمونځ پکښی کولای سوای د نر لمونځ نه فاسدیږی. قاله الزیلعی.
وتبعه من جاء بعده من المتأخرین ۱۳ که د ښځی او نر تر مابین کی یو گز او نیم ده او پنډ والی
په دگوتی په اندازه سترو وه بیاد نر لمونځ نه دی فاسد او د استرو په مابین کی د پښو د ښځی
او نر به این دی. او یا په مابین د محل سجدی د دوی او یا هر څای چې این دی په مابین کی د

ددوی دوو پښو دی مقدمې اوس واوره عبارت د نور الایضاح او په قید و کې فکر وکړه قال

وَمُحَاذَاتُ الْمُشْتَهَاةِ هغې ښځې چې اشتهاء وي ته کیدای شي یعنی یا اوس یا د مخه لکه سپین سرې زړې پیرانۍ کې لفظ د رجل و یا ښځه سوی دئ. چې بالغ سړي ته وائي اشاره ورې ته ده چې د نابالغه هلک لمونځ په محاذات نه فاسدیږي. قال المصنف:

فِي صَلٰوةٍ مُطْلَقَةٍ

په لمانځه کامل کښې چې رکوع او سجده لري د صلوٰة په وئیلو سره دې ته اشاره ده چې د لیونی ښځې په محاذات سره د نر لمونځ نه فاسدیږي. ولې چې د لیونی کښته اوپوره نه کیدلو ته په شرع کې صلوٰة نه وائي. **فَائِدَه:** که ښځې نیت د ما یصلین د لمانځه وکړي په هغه نر پسې چې هغه د مازدیګر لمونځ کاوه نهونځ په مذهب کې د ښځې د غه لمونځ نفلاً صحیح دئ. نو که په د غه لمانځه کې نر ورسره محاذي سې لمونځ یې فاسد دئ. **پُوښتنه:** چې د مطلقه قید سره د جنازې لمونځ ووتې. فقهاء وائي علت یې دا دی چې د جنازې لمونځ په اصل کې لمونځ نه دی بلکه مړې ته دعا ده»

سَوَال: چې لمونځ نه دی نو ولې اقتداء د نر په ښځه پسې د جنازې په لمانځه کې ناروا ده **جَوَاب** د دی سبب به چې د جنازې لمونځ د مطلق لمانځه سره مشابهت لري په تحریمه او سلام کې» کذا نقل عن العنایه» قال المصنف:

مُشْتَرَكَةِ تَحْرِيمَةٍ

چې لمونځ د نر او ښځې به سره شریک وي نو که ښځې یو لمونځ کاوه. او نر بل لمونځ کاوه او سره محاذي سوه د نر لمونځ نه فاسدیږي. بلکه مکروه دی. ط. د اشتراك هغه دی صورته وه چې ذکر سوه مصنف: د اشتراك فی التحریمه په بیان کې وائي: با قتدائها بامام واحد او اقتدائها به»

تَنْبِيه: اشتراك د دوی په اداء کې د لمانځه په وخت کې د محاذات هم شرط دی په قضا کې د لمانځه نر. حتی که نر او ښځه پر لمانځه په امام پسې بیله بیله محاذات ولاړ وه لکن د واړه بې اود سره سوه. نو چې او د اسه ته تله او یا دهغې خوا را ته له سره محاذي سوه نر

لمونځ نه فاسدیږي. ولې چې د اخوا ل د اداء د لمانځه نه دی. او د غه رنګه که نر او ښځې څخه یو رکعت تیر سوی وو. نو چې امام سلام وګرځاوه د دی د واړه ولاړ سوه و قضاء ته د رکعت پورته د غه وخت کې سره نږدې دی سوه. او محاذات شرط دی پر اسود نر لمونځ نه دی فاسد ولې چې مسبوق د قضاء په وخت کې منفرد دی نو که څه هم د دوی دوه شریکان دی تحریمة کښې ادا ګانه دی سره شریکان»

مسئله د اشتراك تحریمة

معلومانه ده چې دوی به اول د لمانځه د امام نیولی وي. پر صحیح مذهب. بلکه که نر اول د لمانځه د امام نیولی وي او ښځه ورروسته تر یوه رکعت کولو یا بالاتر هغه ګړۍ اغله او نر سره محاذي سوه د نر لمونځ فاسدسو، نقله ط عن ب، عن س» قال المصنف:

فِي مَكَانٍ مُتَّحِدٍ

په یوه ځای کې، حتی که ښځه پر یو لوړ ځای ولاړه وه په داسې شان چې د دی هیڅ اندام د نره سره نږدې برابر نه

لمونځ نه فاسدیږي. او که مکان د لمانځه د دی سره یو و و حکماً لاحقیقةً» هغه داسې چې ښځه خو پر لوړ ځای ولاړه وه لکن تر قامت د نر کم یعنی چې بعض اجزاء د نر د دی بعضو سره برابر وه. نو هم د نر لمونځ فاسد دئ»

مُلَمَّعَه پوښتنه د څه شي دا معلومیږي چې تاخیر د ښځې په لمانځه کې فرض دئ.

جَوَاب د هغه حدیث څخه چې ابن مسعود ؓ یې موقوفاً روایت کړی» کما مر: اَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ اَخَّرَهُنَّ اللّٰهُ:

سَوَال د اخو خبر واحد دی نو فرضیت څنګه په ثابتیږي

جَوَاب د احدیث بیان د مجمل الکتاب» وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ» نو په ده فرضیت ثابتیږي. قال المصنف:

بِلَا حَائِلٍ وَنَوَى إِمَامَتَهَا

دی دوو قیدو معنا او فائده په مقدمه کښې ذکر سوله ځکه نو و تکرار ته یې ضرورت نسته»

د حج په مُوسَم کی

پُوه سَه: چی حکم او مسئلی ته د محاذات په بلاد اسلامیه وو کی د تولی نړۍ چندان ضرورت نشته په استثناء د حکم د حرم مکی. ولی چی بنځی وهیڅ جماعت لمانځه ته نه راځی په سبب د منع شرعی. اَللّٰهُمَّ الا العَجائِز یعنی سپین سری بنځی. او هغه هم په بعض لمونځونو کی لکه د جمعی یا اختر و، او هغه هم په بیخی لږو جامعو کانو کی. او په هغو جامع مسجدو کی چی سپین سری ور ته نه راځی د بنځو د پاره علحده ځای ښه. چی تر هغه ځای ته د نه راځی او نه بنځی که څه هم پیری وی د نړو ځای ته نه راځی. نو د محاذات مسئله نه پیدا کیږی. البته که په بعض کورو کی نر او بنځی په یو جماعت د یو ځای کیدو امکان د محاذات ښکته لکن هغه هم سهل الدفع دی، ولی چی امام به و بنځو ته ووائی چی ترشا و د ریږی. او په حرم کی د مدینی منوری هم مسئله د محاذات نه پیدا کیږی. ولی هلته د سعودی عسکر بنځی نه پریږدی چی د نړو ځای ته ورسی. بلکه په مسجد نبوی کی د بنځو د پاره باقاعده ځای ښه چی دوی ټول په هغه ځای کی لمونځونه په جماعت د امام کوی.

مگر په حرم مکی کی دې مسئلی ته جدی ضرورت ښه دی سبب چی نر او بنځی په طواف اخته وی خو ناګاه اقامت د لمانځه شروع سی. او په دغه وخت کی وتل د بنځو د مابین ځخه د نړو د پیر مشکل کار دی. نو اخر الامر نړان او بنځی ګډوډ پر لمانځه په امام پسی اقتدار وکړی. ګاهی تر نرد مخه بنځه ولاړه وی. او ګاهی پر بغل بلا فاصله بنځه پر لمانځه ولاړه وی. نو بناءً علی هذا د دی مسئلی و تفصیل ته ضرورت ښه.

درویش وائی: چی تراوس سنی: ۱۴۲۲ هـ دیرش، څلویښت کاله د مخ چې زائرین د بیت الله شریف پیر لږ وه. خصوصًا بنځی چی هغه پیر ډیر محصور عدد ځخه تر اتلی اوه هغو پاڼه په حرم مکی کی لکه په حرم کی د مدینی منوری مخصوص ځای وو. نو هم محاذات شاذ او نادر پیښی دی. او هغه د دفع د پاره چی مُلا یا نور انرانو، وه امام ته د حرم رجوع کړی وه چی د دی محاذات مفسد دفع وکړی هغه په جواب کی داسی ورته ووئیل

چی نه نیت د امامت د هغو بنځو کوم چی پخپل مخصوص کی ولاړی وی د مابین الصفوف د نرانو نیت د امامت نه کوی. اود فساد د نړو لمانځه په محاذات د بنځی خو نیت د امامت د بنځو لا نه ډیر دی کما مر. نو د دغو بنځو چی بین صفوف الرجال ولاړه وی لمونځونه په فاسد دی. اود نرانو لمونځ په روا دی. لکن د پیر کلونه وروسته تر دی سنی پورې د حجاج ډیر و لکوتو رسیدلی. اود بنځو حاجیانو تعداد هم په لکوسو. او هغه مقام مخصوص هم مختل سو.

حتی چی په اوسنی زمانه کی به د پیر لږ خلګ او نړان د محاذات ځخه د بنځو خلاص وی، اود مړی مکی د امام هغه پخوانی خبره به هم اوس نه پیه پاته. ولی چی په نړو بنځی امام په وینی چی بین صفوف الرجال ولاړی دی. نو دی به څرنګ د دی دوه بنځو لمونځونه ورفاسده وی. سړ د دی هغه مقام مخصوص د دوئ هم مختل النظام دی. نو په اوسنی حالت کی د پاره د خلاصون د نړو د لمونځو د فساد ځخه بل چاره نشته چی د کم د سړی سره چی بنځه محاذی سی. یعنی یا د مخه تر نړو ولاړه وی او یا بلا فاصله په بغل ته ولاړه وی. نړدی وهغی بنځی ته اشاره وکړی چی ترشا سه. نو که هغی د ده په اشاری عمل و نه کړی نو د دغی بنځی لمونځ فاسد دی. اود نر لمونځ صحیح دی کما مر من قبل و رسا

وَکَشْفُ عَوْرَةِ مَنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ

او د اغه ډنګه لمونځ فاسده وی چی د خوالی د عورت د هغه چا چی وړ پلیته سی د اود سیا که نړوی او که بنځه. **پوه سه:** چی د نر او د بنځی عوره ځایونه و راندی تیر سوه

وَلَوْ اُضْطُرَّ اِلَیْهِ کَکَشْفِ الْمَرْئَةِ ذِرَاعَهَا لِلْوُضُوْءِ

ګڼه هم د محدث و د خولو ته د عورت لکه چی لنډ کړی بنځه چی د خپل باندو د پاره د اوداسه نو لمونځ د دی فاسد سو. پر تیر سوی لمانځه یې بناء نه ده روا بلکه د سره به لمونځ ږ اګر ځوی **پوه سه** چی د احکم د ظاهر الروایت دی. او په فتاوی خانیه او تنویر اود هغه په شرح کی وائی کړ د غه بی اود سه وکشف العورت ته مجبور وو لکه په

مثال مذکور کی نوپس تیر لمانځ دی بناء وکړي. یعنی لمونځ یې نه دی فاسد او که بې ضرورته
یه عورت لخ کړی لمونځ یې فاسد سُو. لکه دغه ښځه چې بې اود سر سوی وه. نو پس دی وخت کې
داود اسر دپاره لاسونه تر اوږی پورې لخ کړه. ولې چې ضرورت تر څنګلو پورې وُو. قَالَ

وَقِرَائَتُهُ ذَاهِيًا أَوْ عَائِدًا لِلْوُضُوءِ اود اغه رنګه لمونځ فاسده وي قرائت د قرآن دهغه سُرې چې
یه لمانځه کې بې اود سر سی. یه داسی حال کې چې داود اسر یې خواچې. او یا داود اسر څخه بیرته
راستنیږی یعنی د پاره دپوره کولو د لمانځه.

پُوهسه: چې تسبیح یا تهلیل یا استغفار یه دغود وو حالو کې لمونځ نه فاسدیږي.
ولې چې داشیان جزء د لمانځه نه دی بخلاف القرائة. ولې چې هغه جزء د لمانځه دی. نو دې
سرې چې ذاهِیًا یه قرائت وَوایه یو جزء د لمانځه یې په بې اود سیا سره ادا کړی. او کې
عائدًا قرائت ووایه نو د څه تر شروع په لمانځه خارج یو جزء د لمانځه ادا کړی» طب، در، قَالَ

وَمَكْثُهُ قَدْرَ أَدَاءِ رُكْنٍ بَعْدَ سَبْقِ الْحَدَثِ مُسْتَيْقِظًا

اود اغه رنګه لمونځ فاسده وي چې درنګ وکړی د غه څوک چې بې اود سیا وَر پیښه سوې په
قدر د یوه رکن د لمانځه تپله پیښوی د بې اود سیا په داسی حال کې چې ویښ وی. لکن
مصنف په مراقی کې وائی چې هَلته یه لمونځ فاسدیږی چې دامکث د ده بیله عذره وی
او که پرته ځی از حام ډیر وو او وده ترڅو رسیدی او پرلیږی او بوا ز حام نه وو او
نوبت څو رسیده داعذر دی وده ترڅو ده چې هغه لیږی او بوته ولاړ سی. در،
او که بې او بو از حام وو. او یا ئی د پزې وینه نه در یده، او یا دی بیده وو، چې پزې وینې
وکړی. او کُنه یه پر محَله تینګه وه وو دوسته راپیدا رسُو. نو په دروسره صورتو کې لمونځ
نه دی فاسد بلکه بناء دی تپله او داسر پرتیر سوی لمانځه وکړی» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَمُجَاوَزَتِهِ مَاءً قَرِيبًا لِغَيْرِهِ اود غه رنګه لمونځ فاسده وي چې داغه
بې اود سر سَرې د نبن دی او بو څخه تیرسی

وبا ری او بُو ته. د پاره داود اسر ولې چې داتیر یده د ده بیله عذره دی **مسئله**: که
لمونځ کوونکی په رکوع یا سجده کې پسکی واچول او یا پزه وینې سوه نو دی چې سر اپوته
کړی نیت دی داود اسر وکړي نه دی چې دا رکوع یا سجده پوره کړه. ولی که یه دا غسی
نیت وکړی لمونځ یې د غه سره فاسد سُو. او کې نه نیت داود اسر وکې او نی نیت دا تمام درکن
وکړی لمونځ یې فاسد دی لکن پوره روایت «در»

مسئله: که دسړی په رکوع کې اودس مات سُو. چې سر اپوته تکیه دی سَمِعَ اللّٰهُ
لِمَنْ حَمِدَه یه وو ویل لمونځ یې فاسد سُو. ولی نفس سر اپوته تکیه خو ضروري وه. داود ا
پاء لکن ده چې سَمِعَ اللّٰه لِمَنْ حَمِدَه وو ئیله دا معلومه سوه چې دده قصد اتمام درکن
دی «ط» فَقَدْ قَالَ السَّيِّدُ د غه سړی چې په رکوع یا سجده کې بې اود سر سوی وُو.
بې اودس یه تازه کړی نو هغه رکوع یا سجده دی سر اوګرځوی. او کې نه سر اوګرځول لمونځ
یې فاسد سُو په اتفاق، دامام محمدؒ په نیز په دی سبب چې پوره والی دیوکن چې دلته رکوع یا
سجده ده هغه رکن څخه په انتقال سره کیږی. او دلته خو انتقال داود اسر دپاره دی درکن دپوره
کیدو دپاره نه دی. او په نیز د ابو یوسفؒ چې قومه او جلسه دده په نیز فرض ده نو دې
سړی څه خو قومه در کوع څخه. او یا جلسه پسې سجدی پاتې سوه.

فَائِدَه: که څوک سړی په لمانځه کې پسکی اچولی وي. لکن چې په اود اسر پسې څې لاس
دی پرپزه وَنسی یعنی چې خلګوته دا په خیال وَرسی چې پزه یې وینی سوه. او پسکی چې عیب
ګڼلو کیدل پته سی. د بعض حیلو د جواز دلیل هم د غه حیله ده «مراقی، در، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَخُرُوجُهُ مِنَ الْمَسْجِدِ بِظَنِّ الْحَدَثِ وَمُجَاوَزَتِهِ الصَّفُوفَ فِي غَيْرِهِ بِظَنِّهِ اود اغه رنګه لمونځ فاسده وي وتل د لمونځ کوونکی د مسجد څخه په ګمان د بې
اود سیا. او یا تر صفونو تیریدل یعنی تر دوه صفونه بالا په غیر کی د مسجد یعنی چې جماعت په
صحراء کښی وو بیا هم په ګمان د حدث «مثلاً په لمانځه کې دَسړي تر پزه او بَه راغلی ده خیال
داسو چې ـــ داوینی دي. نو په اود اسر پسې روان سو نو کې لمونځ په مسجد کې کاوه تر

مسجد لانه وو وَتلی اوکی په صحرا کی جماعت کاوه، تردرو صفونه وو تیرسوی ورته معلومه سوه چې هغه زما دپزی اوبه روی وینه نه وَه لمونځ یې نه دی فاسد. بلکه خپل اوږه دی پوره کړې اوکه ترمسجد ووتلی یا تردرو صفوتیرسو لمونځ یې فاسد سُو: کذخم هغه گمان غلط ورته ثابت سی دسره دې لمونځ ږ اوګرځوی،،

مسائل شتی

۱ بې اودسه سړی چې خاه تَوَرغلی وده ته روانه چې د خاه څخه په سولاغه اوبه ږ وکاږی که څه هم ډیر وخت په کښی تیر سی. ۲ که د خاه سولاغه څیری وه او اوبه نه پکښی ږ اختلی اوده سَره سَتن اوسپن سی وو گنډل یه روادئ. ۳ اوکه خاه په خونه کی وو دروازه یې خلاصولای سی. یعنی لمونځ یې نه فاسدیږی ۴ داوداسه سنن لکه دخولی پریوَله دری واړه، دپزی دری واړه دمخ دری واړه دمخ، دلاسو، دپښو دری دری واړه ورته روادی علی الاصح ۵ اودغه رنګ وسړی ته روا ده چې جامه خپله دهغه نجاست څخه پری منیځی لکه وینې ۶ اومرداری دځان لیری کول ورته روادی. ۷ چکر کی مسجد دی دَوَتلو په صُورت سرای اویا حویله او یا عیدګاه مسجد ۸ که دغه بې اودسه صَفو پرځوانه وَتی. بلکه دمخ وخواته په اوداسه پې روان سو. نو دامام تر برابر تیریده معتبردئ. ۹ اوکی یَواځی لمونځ کاوه په صحرا کی نوکی سَتره وه ستری ته اعتبار دی اوکی ستره نه وه ځای ته د سجدی په اعتبار دی دهرطرفه څخه،

۱۰ که چا واقعی اودس مات سُو. نو اودس یې تازه کړ او امام یې ده لمانځه څخه نه وو فارغ سوی دی هلته د اوداسه پرځای پرلمانځه ودریدی لمونځ ئې فاسددئ. ۱۱ کی امام دلمانځه څخه فارغ سوی وو. نو دغه خوښه ده که هوری لمونځ کوی اوکه مسجد ته امام راځي. واختلفوا فی الافضل، ۱۲ که پراقرب خاه سولاغه نه وه اوپر اَبعد وه نو داعذر دی لیری خاته روادی چې ولاړسې. ۱۳ که دغه سړی چې بې اودسه سوی دی وَبَل سړی ته اشاره وکړه چې ماته اوبه راکړه لمونځ یې فاسدسُو. ۱۴ که دَغه سړی د جیبې روپۍ ږ اوکښی اواوبه خوځوله

ته ئې ورتَیری لمونځ فاسد سُو. قال المصنف

وَانْصِرَافُهُ ظَانًّا اَنَّهُ غَيْرُ مُتَوَضِّئٍ

اودغه رنګه لمونځ فاسد وی چې لمونځ کوونکی دځایه څخه د لمانځه وتَرچې په گمان د دې چې نور اودس نه لرم که څه هم وروسته ورته ښکاره سی چې اودس لرم،

اَوْاَنَّ مُدَّةَ مَسْحِهٖ اِنْقَضَتْ اَوْاَنَّ عَلَيْهِ

اویا دی گمان وی چې مده د مسح دموزی نماتیره سوی ده. که څه وروسته ورښکاره سی چې نه ده تیره سوې. او یا په گمان د دې

فَائِتَةً اَوْاَنَّ عَلَيْهِ نَجَاسَةً

وی چې پرما باندی نجاست ته که څه هم په دغو څلورو مسئلو کی د مسجد څخه نه وې وَتلی. د دی څلورو مسئلو اودسبق الحدث فرق دادی چې په دې مسئلو کی خو ده انصراف د پاره د ترک ده لمانځه دی نه د پاره د اصلاح د لمانځه لکه په سبق الحدث کی. **پوه سه**: چې د سبق الحدث څخه مراد دادی چې په قصد سَره ځان نه کی بې اودسه. نو کی په قصد ګپ کی واچول مثلاً یا بناء نه ده پر صحیح. بلکه د سره څخه بر لمونځ ږ اګرځوی. او په بعض عبارتو د کتابو چې داسې ږ اعلی دی چې حدث سماوی وې. مراد دادی چې په دغه حدث کی د بنده اختیار نه وی کذا فی البحر. نو د سبق اودسماوی ترجمه یوه ده،،

فائده: بناء پرد مخه لمانځه په صحابه وو کی مرویئ. عن هؤلاء السادات رضی الله تعالی عنهم ۱ عائشه رض و ۲ ابن عباس رض ۳ وابی بکر رض. ۴ وعمر رض، ۵ وعلی رض، ۶ وابن مسعود رض و سلمان الفارسی رض ۷ وابن عمر رض، ومن التابعین: عن علقمه، وطاؤس، وسالم بن عبد الله ۸ وسعید بن جبیر ۹ والشعبی، وابراهیم النخعی وعطاء ومکحول وسعید بن المسیب رضی الله تعالی عنهم اجمعین وکفی بهم قدوة، کذا فی الفتح. ط **پوه سه** چې امام شافعی د بناء قائل نه دی په هیڅ شی کښی د تیرو سوو مسئلو.

فائدہ مولوی محمد اعزاز علیؒ په ص۵۳ حاشیه ۴ کی داسی وائی چی په تولو نسخو کی د نور الایضاح پسله دغه قوله: وَاِن لم یخرج آه داسی عبارت راغلی دی چی افضل استیناف دی یعنی چی لمونځ دی دسره څخه راوګرځوی. خروجاً من الخلاف تاچی دخلافر وو زی. دی وائی چی دا عبارت هیڅ حاصل او معنا نه لری. ولی چی مصنفؒ خو په تولو مذکوره مسئلو کی حکم د فساد د لمانځه کړی. نو چی لمونځ فاسد شی. نو اګر څوک په فرض کی نوناسخینو سهواً په نور الایضاح کی نوشته کړی دی انتهی

د ولیش وائی چی دغه عبارت به د شارح لخوا څخه په مقتضی د کلام د مولانا المذکور صحیح نه دی. ولی چی د افضل معنا خو داده چی بناء پر تیرسوی لمانځه خو هم روا ده لکن نبه کار استیناف دی نو شارح خو هم حکم د فساد د لمانځه په دغو مسئلو کی منلی دی. نو استیناف خو فرض دی بناء روا نه ده، ولعل المولوی اعزاز علیؒ لم یرجع الی عبارة الطحطاویؒ حیث قال تحت قوله والافضل الاستیناف آه. ای مطلقاً د مطلقاً معنا داده چی که لمونځ فاسد سوی وی اوکه نه وی. لکه په بعض مسائلو کی د سبق الحدث چی لمونځ نه په فاسیدی. نو معنا داده چی افضل د سره د لمانځه راګرځول دی که څه هم په بعض عوارضو کی فاسید نه وی. فقال تحرزاً عن شبهة الخلاف ای د پاره د سا تنی د لمانځه د شبهة څخه د اختلاف د بعض امامانو ولی چی حضرت امام شافعیؒ بناء مطلقاً روا نه ګڼلې.

لکن دا فضیلت د استیناف په منفرد لمونځ کوونکی کی دی اوکه په جماعت کی دا عوارض بعض پیښ سوه چی لمونځ یې نه فاسده وه نو استیناف افضل نه دی بلکه بناء افضل ده تاچی د جماعت ثواب د لاسه یه ونه وزی. اوکه په صورت کی د استیناف په بل جماعت پیدا کولو سوای نو هم استیناف افضل دی. قاله فی السراج قال المصنفؒ فی المرافی وعملاً بالاجماع. یعنی چی عمل وکړه سی په امر مجمع علیه سره د تولو ائمه، ولی چی لمونځ دسره راګرځوی هغه لمونځ خو په اتفاق روا دی. اوکه بناء پرد مخه لمانځه وکړی هغه خو عمل یوازی په قول د حنیفانو دی اذ قد عرفت ان الشافعیؒ لایجوز البناء، ولاریب ان العمل بالامر المجمع علیه اولی من العمل

بالامر المختلف فیه"

د ولیش وائی چی مذکوره عبارت چی پردغه قول لکه ط چی توضیح وکړه صحیح کیدای سوای نوده ولی پس تولو نسخو د نور الایضاح دغلط حکم کاوه. او دا دونه جرئت یه ولی کاوه او سره د دی چی دغه عبارت خو بیله توضیح د ط خو په شرح کی هم ندو صحیح: وَاللهُ اَعْلَم بِالصَّوَاب. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَفَتْحُهُ عَلٰی غَیْرِ اِمَامِهٖ اود غه رنګه د لمونځ کوونکی لمونځ فاسده وی فتح وهغه چا ته ورکړی چی په لمانځه کی نه وی دغسی قرآن شریف تلاوت کوی، اویا لمونځ یوازی کوی خطا وزی او لمونځ کوونکی فتح ورکوی. او فتحه د امام یا منفرد وهر چا ته چی وی دا تولو مفسد د لمانځه دی. مګر هغه وخت کی تلاوت د قرآن غرض وو. فتح یه نه وه غرض، انتهی کذا قال مولانا مسکینؒ:

مسئله: فتح د مراهق لکه د بالغ ده کی غیر ته د امام ورکړه لمونځ یې فاسد دی

مسئله: د امام لمونځ فاسده وی سره د مقتدیانو نو که امام اخسته فتح د هغه چا چی دده سره په لمانځه کی نه وُو. **مسئله**: که امام په قرائت کی بند سو او مقتدی د خارج الصلوٰة سړی څخه هغه آیت واوریدی او امام ته یه فتحه ورکړه امام هم اخسته په وکړه تولو لمونځ فاسید سُو: لانه تلقین من خارج وهو مفسد البتة. ط، ب، در.

فائده: فتح د امام ته اګرچه د مقتدی د خوا تعلیم دی لکن دغه روا ده استحساناً ولی په حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی اللهُ علیه وسلم په یوه لمانځه کی د سورة المؤمنین تلاوت کاوه. یوه کلمه څنډی پاتی سوه. چونبی علیه الصلوٰة والسلام د لمانځه څخه فارغ سُو نو اسی ووئیله اَلَمْ یَکُنْ فِیکُمْ اُبَیٌّ؟ آیا په تاسو کی ابیؓ چی یو صحابی وو دا نه وو؟. قَالُوْا بَلٰی، خلګو ووئیل چی ابیؓ خو حاضر وو، فَقَالَ لَهٗ هَلَّا فَتَحْتَ عَلَیَّ: نو علیه الصلوٰة والسلام وابیؓ ته ووئیل چی ولی دی ما ته فتحه نه کړه؟ قَالَ ظَنَنْتُ انها نُسِخَتْ، ابیؓ ورته ووئیل چی زما ګمان دا وو چی هغه کلمه چی تا پریښوله دا به منسوخ

عه وهو سید القراء والحفاظ ۱۲ منه

سوی وچې. فَقَالَ لَوْ نُسِخَتْ لَأَعْلَمْتُكُمْ» کړه اکلمه منسوخه سوی وای ما تاسی خبر ولاړ
اوه حضرت علیؓ څخه روایت دی چې معنایه داده چې سنا څخه طلب دفتحې وکړی امام
نوفتح ورکړه. **پوښتنه** چې مراد د طلب څخه طلب قولی نه دی بلکه طلب حالی دی
یعنی چې امام په یوځای کی ودریږی، نوداغه طلب دفتحې دی د مقتدیانو څخه.

مسئله: مقتدی چې فتحه ورکوی نیت دفتحې بی وې اونیت دتلاوة القرآن به
نه کوی. ولې چې مقتدی دتلاوت څخه ممنوع دی اوپه فتح کی ورته رخصت دی

مسئله مقتدی دی تلوار په فتح کی نه کوی. ولې شاید امام ته به خپله ورپیاد سی
نوفتحه دده نې فائده ده. اود اتلوار کول مکروه دی ط، **مسئله** امام دی هم
مقتدیان وفتح ته نه مجبورکوی. چې پښتو خوله ودریږی. اویاد مخنی ایت مکرر وی
داد مکروهاتو څخه دامام ده. بلکه کی فرض قدر قرئت وئیلی وو نودی یاد رکوع ته
ولاړسی. اویاد بل ایت ته نقل سی. **پوښتنه**: پوښتنه! کې امام قدر مفروض
قرئت وئیلی وو خو ترڅو آیت مستحب کم وو. نورکوع ته تګ یې سنه دی اوکه بل ایت ته
نقل سنه دی چې قدر مستحب پوره سی. **جواب** بعض فقهاء وائی چې رکوع
ته تګ یې سنه دی لکن ظاهرالروایت دادی چې قدر مستحب دی پوره کړی په انتقال سره
وبل ایت ته، قَالَ الْمُصَنِّفُ فِي الْمَرَاقِي لَاصْلَاحِ صَلَاتِهِمَا، یعنی که امام ساکت سی اویا
هغه د مخه ایت مکرر وې اوخوک فتحه ورنه کړی نبایدچې د ملا پرخوله داسی کلمه
ورنسی چې لمونځ یې پرې فاسدسی. نود مقتدی لمونځ به هم فاسدسی. نوُیا رکوع
کوله اویا بل ایت ته نقل دده وارو فائده ده: قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالتَّكْبِيرُ بِنِيَّةِ لِصَلٰوةٍ غَيْرِ صَلٰوتِهِ اود غه رنګه لمونځ فاسده وې چې لمونځ کوونکی
اَللّٰهُ اَكْبَرُ وائې پدې نیت چې د موجوده لمانځه څخه بل مغایر لمانځه کی داخلیږم،
د دی وجه د افساد داده چې دده نیت خو اغه چې د اموجوده لمونځ دی پاتې وی بل
لمونځ کومه نوده د نیت پرموافق هغه موجوده لمونځ فاسدسو، هغه ما نوی یې حاصل سو

د مثال په توګه یو سړی یواځی لمونځ کاوه بیا یه اَللّٰهُ اَكْبَرُ وویایه اقتداء په امام پسی
نیت وکړی. نوهغه انفرادی لمونځ یې فاسدسو. اویا په امام پسی اقتداء کړی وه. نوبیا
یه اَللّٰهُ اَكْبَرُ ووایه د انفرادی لمونځ نیت یې وکړی نوهغه د امام سره لمونځ یې فاسدسو.
اویا د مابښین لمونځ یې کاوه چې وخت یې په خیال تیر وو رغلی نود مازدیګر لمانځه نیت
اوکړی او اَللّٰهُ اَكْبَرُ یې ووایه. اویا پر فرض لمانځه ولاړ وو اللّٰهُ اَكْبَرُ یې ووایه د نفلی
لمانځه نیت یې وکړی اویا عکس د دغه،

پوښتنه: چې قید د تکبیر یې د دی د پاره ووایه کی په زړه کښی نیت وکړی. اوتلفظ
یې په نیت نه وکړی لمونځ یې نه دی فاسد کذا فی المنح وغایة البیان، ط، اود صلوة په
قید سره یې خارج کړی چې په لمانځه کی تکبیر وَوائی اونیت د روژې ب وکړی.
نولمونځ یې نه دی فاسد. اود غیر صلوة فائده داده. چې سړی په لمانځه کی اَللّٰهُ اَكْبَرُ
اونیت د عین اول لمانځه وکړی. اود غه رنګه لمونځ د امام فاسدیږی کی اَللّٰهُ اَكْبَرُ ووایه
اونیت د امامت د بنځو یې وکړی. وبَاقِي التَّفْصِيلِ فِي الطَّحْطَاوِي،

مسئله که یو سړی د قضائی روژی نیت کړی وو، اویا پس لشروع څخه یې نیت بدل
کړی د نفلی روژی نیت یې وکړی. ضرر نه لری. قَالَ الْمُصَنِّفُ فِي مَتْنِ نُورِ الْاِيضَاحِ

إِذَا حَصَلَتْ هٰذِهِ الْمَذْكُورَاتُ قَبْلَ الْجُلُوسِ الْأَخِيرِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ

لمونځونه په مذکوره صورتونو کښی هلته فاسدیږی چې د غه مذکوره مفسدات د مخ ترڅنګ اخیری ناستی په
په قدر التحیات آه پیښ سی نو په داسی صورت کی لمونځ باطل بالاتفاق دی. داقید اوشرط
د هغو ځای څخه شروع کیږی و رُوِيَتِ الْمُتَيَمِّمُ مَاءً آه او د مذکورا تو څخه تر اول د هغه
ځای تر اخیر پورې مراد دی، مصنف په مراقی کی وائی که چیرې د غه مفسدات پسله قعدې
په قدر د تشهد د مخ ترسلام پیښ سوله نو مختاره داده چې لمونځ یې صحیح سو. ولې خروج
د لمانځه څخه په صنع د مصلی پر صحیح مذهب واجب دی. اوپه ترک د واجب لمونځ نه
فاسدیږی. اوبعض فقهاء وائی چې لمونځ یې فاسد دی. ولې چې خروج په صنع د مصلی فرض دی په

نیز د امام اعظمؒ او هغه په مذکوره صورتو کې نسته. بخپله امام اعظمؒ په دې باره کې تصریح نه ده کړې. بلکه دا تخریج د امام بَرْدَعِیؒ دی م. **پوه سه:** چې د اخیرۍ ناستې معلا داده چې په اخیره لمانځه وې کړه هم دَمخه بله ناسته نه لري. لکه په دوه رکعته لمانځه کې **پوه سه:** چې خروج په صنع د لمونځ کوونکي په نیز د یارانو فرض نه دی. ولې که فرض وای نو باید چې په ټولو کارد افرض پرځای کیدای او سره د دې چې فقهاءو وای چې په حدث عمد سره هم د اوظیز پرځای کیږي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُفْسِدُهَا أَيْضًا مَدُّ الْهَمْزَةِ فِي التَّكْبِيرِ

اوږده رنګه لمونځ فاسده وي مد ور کول د همزه ته د الله یا د همزه ته د اکبر، ط د ن څخه نقل کړې دي که چېرې مصلي همزه د الله په مدسره ووائي او یا د اکبر همزه په مدسره ووائي نو که په مابین کې د لمانځه وه لمونځ یې فاسد شو. او که په وخت کې د تحریمې په لمانځه کې نه داخلیږي، او بیره د کفر سته کې استفهام یعنی غرض پوښتنه وه. په معراج کې وائي چې خوف د کفر من حیث الظاهر ده. ولې چې اصلي وضع د همزه دپاره د انکار ده. او کې استفهام تقریري غرض وُو لمونځ یې نه فاسدیږي، وتبعه صاحب العنایة، ط، او کې باء د اکبر ته مد ور کړي لمونځ یې نه فاسدیږي. وقیل تفسد وقال الحلبيؒ والظاهر ترجیح عدم الفساد.

مسئله: مد د هاء د لفظ د، الله خطاء د عربیت ده او لمونځ نه په فاسدیږي،

مسئله مد اللام من لفظ الله ښه کار دی چې تر اندازه بالا نه وي. وَحَدُّهُ، دادی چې دو نه مبالغه دی په مد کې نه کوي چې په مابین کې د لام او هاء الف پیدا شي. او کې دغسې وکړه مکروه خو دی لکن لمونځ نه په فاسدیږي، س، ط، د، **مسئله:** که څوک په لمونځ کوونکي په وخت کې داداء و رین دیدل. نو د را تکرار ځندی پیدا سو نو کې دوه واړه مکرره کړه یعنی درې را یه وَوَئیلی لمونځ یې فاسد سو. ولې چې نړیا تول د دوو حرفو په قرآن کې مفسد لمانځه دی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولوالديهما آمين — الناشر مكتبة القراءة والتجويد كراچي

قَالَ الْمُصَنِّفُ: **وَقِرَاءَةُ مَا لَا يَحْفَظُهُ مِنْ مُصْحَفٍ**

اوږده رنګه لمونځ فاسدوي قرائت د هغه انیتو چې د ده پیاد نه وي د قرآن شریف څخه، یعنی د قرآن شریف تورو ته ګوري او په خوله به وائي **پوه سه:** چې ظاهر الروایت خو دادی کې لږ شی ووائي او که دیر. او بعض فقهاء وائي کې مقدار د الحمد لله ووایه نو یه لمونځ فاسد دی او که تر مقدار فا تحې کم وُو لمونځ یې نه دی فاسد.

او بعض علماء وائي چې په قدر د ایت ووائي لمونځ یې فاسد دی. وهو الاظهر، ط، س، او په نیز د یارانو لمونځ یې صحیح دی. ولې چې د ټول قرآن هم عبادت او کتل د قرآن شریف و تورو ته هم عبادت دی نو د وه عبادته سره جوت سو. نو د فساد څه سبب دئ. دلیل د عبادت والې د نظر القرآن دادی چې په فقه شریفه کتبی مسئله ده که د چا یو سورت د قرآن مثلاً پیاد وي. نو چې قرآن شریف ته ګوري وي وائي افضل دی تر پیاد ویلو. قیل چې د قرآن شریف څخه تلاوت کول په لمانځه کې مکروه دئ. ولې چې په دې کې تشبیه د اهل کتابو سره ده چې هغه هم د اعنسی کوي. لکن قاضي خانؒ په شرح کې د جامع کبیر او جرّ ایق وائي چې، مطلق تشبه د اهل کتابو سره خو مکروه نه ده، ولې چې مونږ او دوی په نفس خوږك او چینګ او کالې اغوستلو وغیره مشابهت سره لرو بلکه حرام تشبه د دوی سره ده په هغه فعل کې چې زمونږ په دین کې بد کار وي. لکه د نړیو خَرَیل وغیره او یا قصد د ده صرف تشبه وي د دوی سره.»

د ظاهر الروایت چې مذهب دَی د امام اعظمؒ دوه دلیله دي. یو دا چې په لمانځه کې د قرآن پلاس کې نیولی او ورَقي اړول، عمل کثیر دی. مفسد دی، نو د دې دلیل پر بناء که قرآن شریف پر مځکه خلاص پروت وي او وَرَقي یې نه اړوي. مفسد د لمانځه نه دئ، او دوهم دلیل یې دا دی چې داسې کول د قرآن شریف څخه تلقین دی. نو مثال یې داسې دی لکه بل سړی چې لمونځ کوونکي ته تلقین کوي وهذا منافي الصلوٰة ومفسدها، نو بناء پر دغه دلیل کې قرآن شریف پلاس کې وي او که پروت وي دې د تلاوت ځندی کوي په دواړو حالو کې

لونځ فاسد دی. وهو الصحیح من مذهبه وعلیه الفتوی، ط، در.

مسئله: کږو سړی بیله قرائت څخه د قرآن شریف ته کتلو قرائت نه سوای ویلائی. ایادی دد ې سړی لونځ هم په قرائت څخه د قرآن فاسدیږی؟ **جواب** هو لونځ یه فاسدیږی نو دئ دې لونځ بې قرائت کوی. ولی خودی امی دی ط «وفیه نظر» در» اوپه فسادکی د امام لما نځه اود مقتدی منفرد او امام سره برابر دی، په هدایه کی د امام قید اتفاقی دی ط.

مسئله: که د سړی قرآن شریف پیاد وو خو بیا هم ئی قرآن شریف و محته غوږ ونه ایښی وو لو یه لما نځه کی قرائت ځندی وایه لونځ یه نه فاسدیږی. ولی چی نرحمل د قرآن سته، اونه ستلی او تعلم د قرآن څخه بل قرائة القرآن په دی صورت منسوب دده وحفظ ته دی، نو تلقی من القرآن ته وهذا ظاهر وبه یفتی» در. قال المصنف:

وَأَدَاءُ رُكْنٍ أَوْ إِمْكَانُهُ مَعَ كَشْفِ الْعَوْرَةِ أَوْ مَعَ نَجَاسَةٍ مَائِعَةٍ

اودغه رنګه لونځ فاسده وی اداء د رکن د لما نځه لکه رکوع په مراعات د سنتو چی دری تسبیحاتی دئ. اودغه رنګه یه فاسده وی امکان د اداء د رکن یعنی کرخه هم په ضمن کی د رکن طویل وی لکه ولاړه چی په ولاړه کی د دری تسبیحاتو د رکوع په قدر وی سره د کشف اولخوالی د عورت اویا سره د نجاسته چی مانع د لما نځه وی لکه قدر د درهم په نجاست غلیظه کی اویا ربع د ثوب په نجاست خفیفه کی که څوک سهواً اوی.

پوه سه: چی مصنف اداء د رکن شرط کړه ولی که مصلی په مجرد وقوع د نجاست هغه دفع کړی لکه چی د مصلی پر لنګوټه مثلاً نجاست ولویدی ده دستی هغه ایسته کړی لونځ یه نه دی فاسد» اویا باد دده عورت ور ښکاره کړی ده دستی پټ کړی لونځ یه نه دی فاسد» قال الامام الطحطاوی چی د ربع کشف د عورة چی د ربع د عضو د عورت یا بالا په اندازه وی په دیره زمانه کی چی په قدر د اداء د رکن دی یا بالا مفسد دئ. د لما نځه. اوکه لږ کشف عورت چی تر ربع کم وی. په لږ زمانه کی چی په اندازه د رکن نه وی. مفسد د لما نځه نه دئ. اودغه رنګ د یر کشف عورت لکن په لږ زمانه لکه چی

باد ولاړ او لوزی سړی لنګ وهلی وی باد یه کونډو ور ښکر کړی منګر مصلی یه سمدستی پته کړی. لونځ یه نه دی فاسید» اودغه رنګه لونځ نه فاسده وی کشف قلیل کرخه هم په دیره زمانه کښی قال والمراد بکشف العورة ما یعم کشف ربع العضو منها. **پوه سه** چی په نجاست کی هم هغه فوق الذکر څلور صورته مُتصور دی فتفکر فیها. قال المُصنف:

وَمُسَابَقَةُ الْمُقْتَدِي بِرُكْنٍ لَمْ يُشَارِكْهُ فِيهِ إِمَامُهُ

اودغه رنګ لونځ فاسده وی چی وړاندی والی وکی مقتدی ترامام په یوه رکن کی چی دده سره شریک نه سی امام په هغه رکن کی مثلاً مقتدی ترامام د مخه رکوع ته ولاړی اوامام اود امام ترود تلود مخه یه سره اپورته کړی لونځ یه فاسد سو. اوکه مقتدی خو وړاندی کولی وکړی لکن چی دی پر رکوع وو امام هم رکوع ترور سیدی نو دغسی مسابقت خو مکروه دی لکن لونځ یه نه دی فاسد. وعلی هذا فقس حال السجود.

مسئله مقتدی خو مسابقت وکړی اوسر یه هم رایورته کړی. لکن چی امام رکوع ته ولاړی دی هم رکوع ته لپسی ولاړی. اویا ترامام وروسته یه بیا رکوع وکړه لونځ خو یه نه دی فاسید لکن داکار کول مکروه دی کما لا یخفی» **مسئله** که دغه سړی چی مسابقت ترامام یه کړی وو په رکوع یا په سجده کی لکن هغه رکوع یا سجده یه په لما نځه کی دننه راوه ګرځوله بلکه دامام سره سلام وګرځاوه لونځ یه فاسد سو. ولی چی ده قصداً سلام وګرځاوه په ګمان ددی چی نرما لونځ پوره سو. سره ددی چی پرده یو رکن د لما نځه یعنی رکوع یا سجده پاته ده.

مسئله یو مقتدی چی په اول کی د لما نځه دامام سره شریک وو په ثلورو رکعتو کی ترامام مسابقت وکړی یعنی د مخه تر امام به رکوع یا سجدی ته ځلی اوبیا ترې ترود تلود امام سره اپورته کاوه. نو دی به دامام سره سلام ته ګرځوی اوده په ذمه کی اول رکعت پاته دئ. ولی چی ده متابعت دامام ونه کړی. اود دوهم رکعت رکوع او سجده قضاء دې د اول رکعت د رکوع او سجدی ده او ده دریم رکعت رکوع او سجده قضاء د دوهم

رکعت درکوع او سجدی دی. او دخلورم رکعت رکوع او سجده قضاء دی درېیم رکعت. نودی لاحق دی. اودی په یوم رکعت قضاء به بیلد قرائت ګاونډی پسله سلام نخه دامام کذا نقل المصنف عن المبسوط وقال وتمام تفریعه فی الاصل وقد بینه الطحطاوی ص۲۴۲ فانظر هناك.

قال المصنف: **وَمُتَابَعَةُ الْإِمَامِ فِي سُجُودِ السَّهْوِ لِلْمَسْبُوقِ** اودغه رنګه لمونځ فاسده وی چی متابعت وکړی دامام په سجده سهوه کی هغه مقتدی چی دهغه نخه اول دلمانځه نیر شوی وی چی دی سړی ته مسبوق وائی.

پوه شه: که امام سجده سهوه متصل په سلام پسی کوله خو په مسبوق یه متابعت لازم دی. دمتن دمسئلی صورت دادی چی پرامام خو سجده سهوه لازمه وه لکن دامام هیره وه نو په اخیره ناسته کی چی امام په قدر د تشهد کښینستی مسبوق دمخ ترسلام دامام اویا وروسته ترسلام دامام خپل قضائی لمانځه ته ولاړ سو. او بیاد امام سجده سهوه وربیاد سوه او سجده یه کوله نوکه مسبوق دخپل رکعت وقضائی دیارم یه سجده نه وکړی خو متابعت دامام په سجده سهوه کښی پرلازم دی. او پسله سلامه دامام بیرته خپل قضائی لمانځه ته ولاړ سی.

اوکه مسبوق دخپل قضائی رکعت دیارم سجده وکړه وروسته امام ته سجده وربیاد سوه او سجده سهوه یه کوله نومسبوق دی متابعت نه کوی کی متابعت دامام په سجده سهوه کښی وکړی لمونځ دمسبوق فاسد سو. ولی چی دمتابعت په داسی حال کی وکړی چی دده یواځی والی په سبب دسجده سهوه یعنی چی رکعت یه پوره کړی. او پرده باندی دخپل انفراد تعقیب واجب سو. نو په داسی حال متابعت کول مفسد دلمانځه دی. **مسئله:** که مسبوق په هغه صورت کی چی متابعت دامام پرده واجب وو په سجده سهوه کی مګر د متابعت ونه کړی بلکه خپل قضائی لمونځ ته ادامه ورکړه لمونځ یه نه دی فاسد ولی سجده سهوه خو واجب وه. اوده په واجب متابعت دامام پریښو او په ترك دواجب خولمونځ نه فاسدیږی. لکن استحسانا پرده لازمه ده چی پس لدفراغه څخه دخپل لمانځه څخه دی سجده سهوه وکړی.

مسئله: په سوق کی دصورت دمسئلی موښ داسی ووئیله چی امام په قدر د تشهد کښینستلی وو. ولی که مسبوق دمخه ترهغه څنډی ولاړ سی قضائی ته داسی کول ومسبوق نه روا نه دی. ولی چی پرامام دده فرض عمل پاتی دی. چی قعود په قدر د تشهد ده. نودی په داسی حال کی څان نسی منفرد کولای. اوکه مسبوق وداسی عمل ته ادامه ورکړه لمونځ یه فاسد سو. **مسئله:** که مسبوق متابعت دامام وکړی په سجده سهوه کی اوده خپل لمونځ پوره کی وروسته دامعلوم سوه چی پرامام سجده سهوه نه وه نا حقه به سجده سهوه وکړه. نود مسبوق لمونځ روادی په نیزد متاخرینو وعلیه الفتوی. ط.

سوال: داخر نګه صورت به وی چی امام پرځان سجده سهوه لازمه بولی اوهغه هم وروسته بیا اور معلومیږی چی سجده سهوه نه وه **جواب:** دبعض اماما نو داخیال دی چی که امام ته چا صرف فتحه ورکړه کفر هم ده قرار نه وی نیولی پرده سجده کول واجب دی نو یو امام کرداعنسی وکړه وروسته یوعالم ورسته وویل چی په دغه قدر سهوه خو پرتا سجده سهوه نسته وه. **قال المصنف:**

وَعَدَمُ إِعَادَةِ الْجُلُوسِ الْأَخِيرِ بَعْدَ أَدَاءِ سَجْدَةٍ صُلْبِيَّةٍ تَذَكَّرَهَا بَعْدَ الْجُلُوسِ اودغه رنګه لمونځ فاسده وی نه راګرځول داخیری ناستی پسله کولو نخه دسجدی اصلی دلمانځه چی ده پری ایښی وه. او ورپیاد سوه پسله اخیری ناستی په **صورت دمسئلی** دادی چی دیوه لمونځ کوونکی څخه یوه سجده دیوه رکعت نه رکعتو څخه سهوًا پاته سوی وه. نودی چی په اخیره ناسته کی په قدر د تشهدی کښینستی هغه سجده اصلی ورپیاد سوه نوهغه سجده یه وکړه. اوبیا یه اخیره ناسته نه راوګرځول لمونځ یه فاسد سو. ولی هغه دمخه ناسته چی ده وکړه هغه اخیره ناسته نده. ولی چی اخیره ناسته خوهغه بولی چی ترتمام دټولو ارکانو دلمانځه وروسته یه وکړی دلته خو دده سړی ارکان دلمانځه نه دی خلاص سوی. ولی چی پرده سجده اصلیه پاته ده نولمونځ دده هغه وخت صحیح کیږی چی پسله سجده اصلی نخه اخیره ناسته بیرته راوګرځوی لکن سجده به کوی.

قال المصنف: **وَعَدَمُ إِعَادَةِ رُكْنٍ أَدَّاهُ نَائِمًا** اود غه رنګه لمونځ فاسده وی نه راګرځول د هغه رکن چې لمونځ کوونکی په حال کی دخوب اداء کړی وی. دلیل یې دادی چې د صحت د اداء دارکانو د پاره وینبو الی شرط دی

وَقَهْقَهَةُ إِمَامِ الْمَسْبُوقِ وَحَدَثُهُ الْعَمْدُ بَعْدَ الْجُلُوسِ الْأَخِيرِ

اود غه رنګه لمونځ فاسده وي په زوره خندل د امام د مسبوق سړی یعنی چې اول د لمانځه خُندی تیر سوی وي. اویا د غه امام پسکی، یا ګوز، واچوی په قصد سره پسله اخیری ناستی نوبه دی صورت کی د امام لمونځ خو صحیح دی. ولی چې دَدَه خوارکان د لمانځه پوره سوه او منافی د لمانځه چې قهقهه ده یا حدث عمد دی په اخیر کی پیدا سُو. او پر امام بیله سلام چې هغه سنت یا واجب دی پاتې نه دې او هغه په ترک خو لمونځ نه فاسدیږي چې لکن د مسبوق لمونځ فاسد سُو چې مُفسد ګډه د لمانځه په مابین کی پیدا سُو.

فَائِدَه: مصنف رح ویل بَعد الجلوس الاخیر. ولی که حدث عمد ده مخه تر اخیری ناستی پورې سی د امام او ټولو مقتدیانو لمونځ فاسد سُو: قال المُصنف رح:

وَالسَّلَامُ عَلَى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ ظَانًّا إِنَّهُ مُسَافِرٌ أَوْ إِنَّهَا الْجُمُعَةُ

او سلام ګرځول پر سر د دوو رکعتو (یعنی د مابنام لمونځ یا خلورو رکعتیز لمونځ د مقیم) لمونځ فاسده وي. ده ته داخیال وو چې زه مسافر یم او سړه دی چې دی مقیم وو، او یا ګمان دی وی چې د اجمعې لمونځ دی او هغه د مابنین لمونځ وو، قال المُصنف رح:

أَوْ أَنَّهَا التَّرَاوِيحُ وَهِيَ الْعِشَاءُ أَوْ كَانَ قَرِيبُ الْعَهْدِ بِالْإِسْلَامِ

او یا په ګمان دی وی چې امام تراویح کوی او یا زه چې لمونځ کوم د تراویح دی، او هغه د مابنام لمونځ کاوه

فَظَنَّ الْفَرْضَ رَكْعَتَيْنِ او یا د پسړۍ تازه ایمان راوړی وو نو ده ګمان داوو چې ټوله لمونځونه دوه دوه رکعته دي

پردی ټولو صورتو کی د مُصلی لمونځ فاسد سُو. ولی چې ده عمدا د پاره د قطع د لمانځه سلام ونه ځاوه تر وخت هم د مخه.

مسئله که سړی پر دوه رکعت سلام وګرځاوه ده خیال داوو چې څلور رکعته ما پوره کړه لمونځ یې نه دی فاسد، س، ط، امام طحطاوی زیاته کړیده چې د مفسد اتو مخه د لمانځه کړه مصلی په لمانځه کی په زړه کی مُرتد سی. والعیاذ باالله من ذالك، اود غه رنګه لمونځ فاسده وي هغه عمل په لمانځه کی چې یا اودس یا غسل واجبوی پرې قصد سره او د غه رنګه لمونځ فاسده وي. پر ینبو ول دیوه رکن د لمانځه بیله قضاء راوړو مخه نقل عن النهر: **الحمد لله والصلوة على عباده الذين اصطفى: پوه سه:** چې حضرت امام طحطاوی رح د فصل په لمن کی مسئله د زلة القاری هم راوړی ده چې هغه یو پر مهمه مسئله خصوصًا د مالا امام نو د پاره. ولی چې دوی ذمه وار د صحت د لمانځه د مقتدیانو دی. نو که د لمونځ فاسد کړی نو د ټولو مقتدیانو د لمانځه ګناه د ده پرغاړه ده. او په جامعه کی د پښتنو د اسې امامان دیر دی چې لوی جامع مسجد یې په غاړه کی وی. او قرآن مبارک په پښتو حروفو وائی. یعنی مثلًا ده ف عربی عربی اود، پ، فارسی په تلفظ کی فرق نه کوی. او یا د سین او صاد او ث په تلفظ کی فرق نه کوی. او یا د شین عربی او د سین پښتو په فرق نه پوهیږی. او یا د عین او همزه فرق نه سی کولای. او د ظ، او ز، او ض، په تلفظ کی فرق نه سی کولای، او د ذ، او ز، خو بیخی فرق نه کوی. او یوه کلمه په بله کلمه بدله وي او په تغییر د معنا یې هم نه پوهیږی حاصل دا چې مفسد د لمانځه په قرائت کی نه وړ معلومیږی. ولی چې دوی په ترجمه د قرآن نه پوهیږی نو د دی کبله د دی مسئلی راوړه په د دی فصل کی د مفسد د اتو د لمانځه دیر نږدې او فائده مند دی

نوټ کله: د خدای جل جلاله په توفیق دده مسئلی بنه تحقیق په پښتو وکړم
او ان شاء الله العزیز زه فضل الحق حقانی
به د رته په بنکلی خط درته ولیکم
خو ستاسو د دعا محتاج یم

مسئلہ دزلۃ القاری

قال الطحطاوی چی بعض خلکو دا گمان کړی دی چی مسئله دزلة القاری یواسی قانون نه لری چی پرهغه قانون دی دا مسئله بناء سهی. لکن دا توهم او گمان غلط دی بلکه دا مسئله په حقیقت کی بناء پر دا سی قواعدو دی چی هغه ناشی او پیدا سوی دی دا ځکه چی د امام مذهب. نوغوښه وه نیسه او فکر کوه، چی اصل په دی مسئله کی په نیزد امام اعظم او امام محمد رحمهما الله تعالی، تغیر د معنا د قرآن دا سی تغیر چی چیرو ی. او هغه خبره چی صاحب المضمرات کړیده. که یوسړی په لمانځه کی یوه کلمه یا آیة په خطا فاحش سره ووایه. لکن بیرته یه صحیح سره اوګرځوله. لمونځ یه روادی آه. دا خبره ابوالسعود رد کړیده. او په دلت سره د قاری تغیر فاحش د معنی نه راځی. نو لمونځ یه صحیح دی منځ حواله دغه لفظ چی قاری په کښی خطاوکی په قرآن شریف کی بل ځای موجود وی اوکه نه! او په نیزد امام ابویوسف اصل ددی مسئلی دا دی.

که دغه لفظ چی قاری خطا وتلی ووایه مثل یه په قرآن شریف کی بل ځای موجود وو نو لمونځ په دغه خطا سره نه فاسدیږی، خواه تغیر د معنا په تغیر فاحش سره راځی اوکه نه راځی اوکه دغه لفظ په قرآن شریف کی موجود نه وو لمونځ یه فاسد دی مطلقاً. او امام ابویوسف و تغیر ته د اعراب اعتبار نه ورکوی اصلاً. لکن پوه سه چی د اختلاف زمونږ د امامانو په هغه خطاء کی دی چی په سهوه او نسیان خطاوزی. اوکی په قصد سره غلط ووایه نو لمونځ یه فاسد دی مطلقاً په اتفاق دائمه ثلاثه وو.

پوه سه: چی مسئله دزلة القاری پرځلور وجهی ده. ولی دغه کلمه چی قاری په خطا کی بیله قصده ووئیله. یا به موجوده په قرآن کی وی او یا به نه وی او هر تقدیر یا به معنا ته تغیر فاحش رسوی یا نه. ۲ چی په ۲ کی ضرب کی څلور حاصل راځی. فالاول: دا سی یه مثال دی چی قاری ووائی و اِبْلِیْسَ وَذَا الْکِفْل. مکان قوله تعالی: وَاِدْرِیْسَ وَذَا الْکِفْل، والثانی. د دوهم مثال دا دی چی قاری ووائی: قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ، په ځای کی د قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ

وائی او دریم مثال یه دا دی چی قاری ووائی: هٰذَا الْغُبَارُ، پر ځای د، هٰذَا الْفِرَارُ، یا ووائی: یَوْمَ تُبْلَی السَّرَائِلُ، په لام سره په ځای کی د دی لفظ قرائی، یَوْمَ تُبْلَی السَّرَائِرُ، والرابع، او د څلورم مثال دا دی چی قاری ووائی، قِیَامَیْنِ، په ځای کی د قَوَّامِیْنَ، چی لفظ قرائی دی. نو په اول مثال تغیر فاحش خو سته. لکن لفظ د اِبلیس، په قرآن شریف کی سته، او په دوهم مثال تغیر فاحش خو نسته، لفظ دواحد په قرآن کی هم سته، او په دریم مثال کی هم تغیر فاحش سته. او لفظ د غبار په قرآن کی هم نسته، او په څلورم مثال کی لفظ د قِیَامَیْنِ، خو په قرآن کی نسته. لکن تغیر فاحش د معنا نه لازمیږی.

پس په مثال اول کی په نیزد امام اعظم او امام محمد لمونځ فاسد دی. ولی که څوک لفظ د ابلیس په قرآن کی موجود دی. لکن په مثال مذکور کی خطاء فاحش لازمیږی اځی کما لا یخفی.

او په نیزد امام ابویوسف لمونځ نه دی فاسد. او په مثال دوهم کی لمونځ په نیزد طرفینو نه فاسدیږی. ولی چی خطاء فاحش نه لازمیږی. او په نیزد امام ابویوسف لمونځ فاسد دی. ولی چی لفظ دواحد په قرآن کی نه راغلی دی. او په دریم مثال کی هم تغیر فاحش لازمیږی او هم لفظ د سرائل په قرآن کی نسته نو لمونځ په اتفاق فاسد دی. او په څلورم مثال کی کوم هم لفظ قِیَامَیْن په قرآن کی دی نه راغلی. لکن تغیر فاحش نسته. نو په نیزد طرفینو لمونځ فاسد دی او په نیزد امام ابویوسف لمونځ فاسد دی. ولی چی په قرآن دا لفظ نه دی راغلی.

والحاصل: ان المثال الاول و امثاله مختلف فیها فسادًا عند الطرفین لفحش الخطاء وجوازًا عند ابی یوسف لورود ابلیس فی القرآن. والمثال الثانی و امثاله متفق علیها جوازًا لعدم فحش الخطاء عند ابی حنیفة و محمد. ولورود لفظ واحد فی القرآن. والمثال الثالث و امثاله متفق علیها فسادًا. اما عند الطرفین فلفحش الخطاء. واما عند ابی یوسف فلعدم ورود البناء فی القرآن، او دغه رنګه په لفظ کی د سرائل په ځای کی د سرائر هم فحش خطاء سته او لفظ د سرائل په قرآن کی هم نسته. والمثال الرابع و امثاله مختلف فیها عند

الطرفین جوازاً لعدم فحش الخطاء وفساداً عند ابی یوسف لعدم ورود لفظ قیامین فی القرآن

درویش وائی: چې د مذکوره شیانو د مثالونو څخه نور مثالونه د اتفاق او اختلاف

بین الطرفین وائی یوسف په قرآن عظیم الشان کې ولټوی، مشت نمونه خروار.

فائده: د مخمونې وسیله چې امام ابویوسف او تغییر ته اعراب اعتبار نه

ورکوی. امام طحطاوی وائی چې دغه رنګه امام ابویوسف او تخفیف ته د مشدد لفظ

اویا او تشدید د مخفف توری هم اعتبار نه ورکوي. درویش وائی چې علامه شامی د

فتاوای بزازیه څخه داسې نقل کړی چې که په تخفیف کې د مشدد کلمه معناته تغییر نه

رسیدی. نحو قُتِلُوا تَقتِيلًا، په تخفیف د تاء په اتفاق لمونځ نه په فاسدیږي خو

اوکې معناته تغیر سیدی. نحو بِرَبِّ النَّاسِ په تخفیف د باء اویا ان النفس لأمارة

بالسوء په تخفیف د میم اختلفوا فیه فالعامة علی انه یُفسد،

او په فتح القدیر کې وائی چې پر یسبّول د مدیاد تشدید لکه خطاء فی الاعراب دی. کرخه هم عام

فقهاء پردې دي چې که معناته تغیر سیدی لمونځ په فاسدیږي لکه إِيَّاكَ نَعْبُدُ، په تخفیف

د یاء «إِيَّاكَ» چې إِيَا لمرته وائی. لکن اصح داده چې چې نه په فاسدیږي. ولې چې إِيَا مخفف په

لغت قلیل دی په إِيَّا مشدد کې. اود غه رنګه کې لفظ مخفف په تشدید د وایه لمونځ نه په

فاسدیږي نحو أَعْيُنِنَا په تشدید سره. او د اغه رنګه امام ابویوسف اعتبار نه ورکوي په

قصر وویل د مَدّ والا توري. اویا په مَدّ ویل د متصو لفظ ویل طحطاوی نه یا توی د اغه رنګه

نه ورکوی وفک ته د مدغم لفظ نحو اِهْدِنَا الصراط باظهار اللام. اویا ادغام د مفکوك لفظ

زیا توی چې که تغییر د معنا په دغو مذکوره امورو کې نه راتی خو لمونځ نه فاسده وی بالاجماع

کما فی المضمرات، اوکې تغییر د معنی پیدا کاوه. لکه چې سړی داسې وَوائی: وَإِذِ ابْتَلَى

إِبْرٰهِيمَ رَبُّهُ په رفع د ابراهیم اوپه نصب د رَبَّهُ، اویا دا آیت داسې وَوائی: إِنَّمَا يَخْشَى

اللّٰهَ مِن عِبَادِهِ الْعُلَمَاءَ، یعنی په رفع د اللّٰهُ د لفظ اوپه نصب د الْعُلَمَاءَ، نوپه دې دواړو طریقو

لمونځ فاسده وي. اوپر مقتضی د قول د امام ابویوسف لمونځ په فاسدیږي، لانه لا یبقی

الاعراب. وبه یفتی، ط، ص۲۵۶. اوهم په دغه صفحه کې وائی چې اتفاق کړی دی تاخر

د محمد بن مقاتل ره. او محمد بن سلام ره. او اسمٰعیل الزاهد او ابوبکر سعید البلخی، او

امام هندوانی ره او ابن الفضل ره. او امام حلوائی چې خطا په اعراب کې لمونځ نه فاسده وی مطلقاً

کې غه هم اعتقاد کفر وی لکه په پورته ذکر سوو دوو اقوالو کې. ولې چې اکثر خلګو چې

عوام دي. د اعراب د بدلیدو وده معنی په فرق نه پوهیږي. اوبل دا چې که ټول خلګ امي

کروهي، په تصحیح د اعراب په دې حرج کلی دی. اوحرج په دین کې مرفوع شرعاً دی. اوهم

د غه مذهب ته صاحب خلاصة تللی دی، وَفِي النَّوَازِلِ لَا تَفْسُدُ فِي الْكُلِّ وَبِهِ يُفْتَى.

پوه سه: چې قاضیخان وائی چې مذهب د متأخرینو چې د اذکر سو فراخه دی او مذهب

د متقدمینو احوط دی، امام طحطاوی وائی چې دا اختلاف د متقدمینو او متأخرینو په هغه

ځای کې دی چې دا غلط اعراب په خطا کې ځندی وویل سی او یا دې په غلطیانه پوهیږي

اویا په په قصد وَوائی لکن معنی د په تغییر نه په خوری نحو الرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى

په نصب د رحمٰن د لفظ. اوکې په قصد وایه چې په پوهیدی هم او تغییر د معنی هم پرې

وي او یا په اعتقاد کفر وو نو فساد د لمانځه یه کمه درجه ده. قال والمفتی به قول ابی یوسف

مسئله: هغه لفظ چې شد لري هغه لفظ بې شده ویل. چې تخفیف په بولی لکه چې

یوسړی په لمانځه کې إِيَّاكَ نَعْبُدُ اویا، رَبِّ الْعٰلَمِينَ په تخفیف ووائی. نو حضرات

متأخرین فقهاو وو د احنافو وائی چې لمونځ نه په فاسدیږي مطلقاً یعنی په هیڅ ځای کې علی

المختار، لان ترک التشدید لکه خطاء فی الاعراب دی، کما فی قاضیخان وهو الاصح، وکما فی المضمرات،

ونص به فی الزخیرة علی انه الاصح، وکذا قال ابن امیر حاج ره. او حکمد شد ورکولو مخفف لفظ ته

هم حکم په هغو راندی حکم دی، قَالَ الطَّحْطَاوِيُّ وَكَذَا اظْهَارُ الْمُدْغَمِ وَعَكْسُهُ دا ټول یو حکم

لري یعنی چې لمونځ نه په فاسدیږي، قاله الحلبی.

دوهمه مسئله: د نزلة القاری، وقف کول دی بیځایه، یا ابتدا کول دی بیځایه

نوکه په دغه تغییر و معناته نه رسیدی لمونځ نه په فاسدیږي. په اتفاق د قدماؤ د مذهب

او د متأخرینو. اوکه معناته تغییر سیدی نوپه دې صورت کې د متقدمینو په لمونځ فاسد

ګڼل، لکن فتوی پر قول د متاخرینو ده. چې لمونځ یې په په هیڅ حال کې نه فاسدیږي. په دلیل د دې

چې مراعات دوقف اووصل او ابتداء خلک یعنې مسلمانان پرحرج کې اچول دي بالخصوص
عوام طبعًا «الحرج مرفوع» کما في الزخيرة « والسراجيه والنصاب، فتاوى شامي دفتاوى نزاز
څخه داسې نقل کړې دي» که وقف او ابتداء ومعنا ته دقرآن تغير فاحش نه رسا وه لمونځ نه
په فاسديږي. لکه پرجمله دشرط چې وقف وکړي: لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ "إِلَّا اللهُ" يا ابتداء
پرجزاء وکړي يعنې لَفَسَدَتَا» وكذا الوقف على الموصوف والابتداء بالوصف» نحو
الحَمْدُ لله بالوقف ثم يبتدئ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ» که څه هم معنا تغير خوري. لکه چې وقف وکړي
شَهِدَ اللهُ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ. ثم يبتدئ اِلَّا هُوَ» لا يفسد الصلوٰة عند عامة المشائخ ولې چې
عوام دوقف اوابتداء اووصل ځايونه نه پيژني فَفِي الفَسَادِ حَرَجٌ عَظِيْمٌ» اوکې وقف
وکړي پس» وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ»، اووروسته يې شروع وکړه» لَيْسَتِ النَّصَارٰى عَلٰى شَيْءٍ او
لمونځ يې په اتفاق فاسد نه دي. ش، ع، در» اوپه نصاب کې خو اهم راغلي ده که يوسړي
وقف په قول قرآن کې ونه کړي لا تفسد صلوته عندنا»

مسئله: که يوسړي ديوې کلمې په مابين کې وقف وکړي يا ئې ساه ورسيدله. اويا سام يې
پرې وتې. اويا يې باقي کلمه يې هيره سوه مثلًا يوه سړي داغوښته چې اَلْحَمْدُ لله وَوَائي نوبيا
پر اَلْ وقف وکړي وروسته يې حَمْدُ لِلّٰهِ ووايي. او يا يوه سړي داغوښته چې
وَالْعَادِيَاتِ ووائي باره ئې وويل» وَالْعَا» اووقف يې وکړي. اووروسته يې کلمه
پوره کړي په سبب داعذار وسابقه وُو. قَالَ الطحطاوي هغه مذهب چې پر هغه عام
مشائخ دي لمونځ يې نه دي فاسد که څه هم معنا تغير وخوري دجهت دضرورت وعموم
البلوى» كما في الذخيرة وهو الاصح كما ذكره الفقيه ابو الليث السمرقندي».

دريمه مسئله دزلة القاري: چې مصلي يو حرف په ځاى کې دبل حرف وواي
نوپه دې مسئلې کې حکم دادي که کلمه دلفظ څخه دقرآن نه وتله. اومعنا يې مرادي تې تغير هم
رسيدي لمونځ نه فاسده وي. لکه چې ووائي: اِنَّ الظَّالِمُوْنَ» په ځاى کې» اِنَّ الْفٰسِقِيْنَ»
چې لفظ قرآني دي يعنې واو په ځاى کې دياء ووائي. نولفظ د ظَالِمُوْن په واو سره په قرآن
شريف کې بل ځاى ستة. اومرادي معنا ته هم تغير نه رسيږي. نوځکه لمونځ نه دي فاسد»

اويا ووائي: وَالْاَرْضِ وَمَا دَحَاهَا» په حاى کې د» وَمَا طَحٰهَا» چې لفظ د دَحَاهَا په قرآن شريف
کې دي او معنا يې هم تغير سره خوري نوځکه لمونځ نه دي په فاسد» اوکه کلمه دلفظ دقرآن
وتله اومعنا مرادي ته هم تغير نه رسائي نولمونځ په نيږدې طرفينو نه فاسديږي اوامام
ابو يوسف په لمونځ فاسد بولي. بناءً على ما تقدم في صدر الكلام» لکه قَوَّامِيْنَ بِالْقِسْطِ»
چې په حاى کې د» قَوَّامِيْنَ بِالْقِسْطِ» اويا دَوَالِهِ په حاى کې د دَيَازِلِهِ» ووائي اوکلمه خو
لفظ دقرآن نه وتله لکن معناتي تغير سيدي. نوپه نيږدې طرفينو يې لمونځ فاسدي
لتغير المعنى» كما عرفت من مذهبهما» اوپه نيږدې امام ابو يوسف په لمونځ نه دي فاسد»
ولې چې لفظ قرآني خو موجود دي كما هو مذهبه وقد مَرَّ مِنْ قَبْلُ. لکه چې يوسړي...
خَامِدُوْنَ" ووائي په حاى کې د" سَامِدُوْنَ»

پوښته: امام طحطاوي ولې چې دغه قواعدي چې مونږ ذکر کړي دپاره دمذهب د
متاخرينو دا په قبولو فروعو کې جاري دي. ورنه متأخرين نوري قاعدې هم لري چې هغه مطرح نه دي
امام مذکور نزياته کړيده چې مسائلي دنزلة القاري يوه پر بله نه قياسولاى. مګر هغه خو اهل
هغه کامل علم په لغت عربي لري. اوقرآني معاني دقرآن هم نه خبروي اونور ما يحتاج اليه به هم نه
زده وي. اوداابو سعيد خدري څخه روايت دي. چې په قرائت کې دبعضو اهل القرى اودتركانو
اودسودانيانو په حاى کې د» اِيَّاكَ نَعْبُدُ»، وِيَّاكَ نَعْبُدُ» يعنې واو په حاى کې ذهزه. اوبعض
په حاى کې د صِرَاطَ الَّذِيْنَ وائي اَلْقِرَاطَ اَلْذِيْنَ» بزيادة الالف واللام متأخرينو تصريح کړيده
چې په دواړو صورتو کې لمونځ نه فاسديږي وان غَيَّرَ المعنى»

دَرويش وائي: چې دمتأخرينو په مذهب کې دپيره فراخي ستة. اوپښتو دا کثرو
عوامو بلکه دبعض مَلَايَا نولمونځونه بيله مذهب دمتأخرينو خداى خبر چې صحيح کيږي به» چې
دوي دقرائة القرآن په وخت کې عجيبه ناولده الفاظ وائي. مدرس مولوي صاحب وي لکن قرآن شريف
به غلط وائي. په اوسنۍ وخت کې يوخو بهتري راغلي ده. ولې دخلګو توجه وعلم قراءت ته
راوښتې ده. اوخلګ دخپلو زامنو پاره په مدارسو دينيه وو کې دپيرپالنه دقرآن مبارک د
صحيح زده کړې کوي. اوعلامه شامي په رد محتار کې وائي چې چونکه قاعدې دمتاخرينو په ضبط کې

نه دی نو اولی بناء ده پر قواعدو د متقدمینو ولی چې دهغو قواعدی په انضباط کې دی او قول
د متقدمینو. احتیاط په امرد قران شریف و ځیلو دیری په زړه پورې دی. او دیری مسئلی
چې دفتا واوو په کتابو کې ذکر سوی دی د متقدمینو پر مذهب بناء دی **پوه سه**
قاعدی دائمه ثلاثه وو یعنی ابو حنیفه، ابو یوسف، او محمد رحمهم الله تعالی
قاعدی د متقدمینو د مذهب دی.

او دوی په قواعدو کې هم په بعض ځایونو کې په یوه مذهب کې تنګی او په بل کې فراخی. او په
بعض ځایونو کښې بالعکس وی. نو دی ټولو مشکلاتو د حل لپاره یوازی یوه لار داده چې سړی
په زده کولو کې د قران کریم د الفاظو او حروفو د یر ښه یار وباسی. او په دی کې څوک کلان سالم
وی شرم دی نه کوی **والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب، ولنرجع الی ما کنا بصدده**
من شرح نور الایضاح والله جل سلطانه هو الموفق والمعین وبه نستعین. **قال المصنف**

لو نظر المصلی الی مکتوب و فهمه که د کتل لمونځ کوونکی ولیکلی سوی
شی وپوهیږی او په وپوهیږی. یعنی په معنا یې. لمونځ خونه په فاسدیږی. ولې خو تکلم یې دی په
کړی. لکن خلاف د ادب څخه د لما نځه دی. امام طحطاوی وائی چې د دی فصل مسائل که
مصنف په فصل آتی کې مکروهاتو راوړی وای د یر ښه وای او عبارت به هم کوتاه وای
والجواب چې هغه اعمال چې په دی فصل کې ذکر سوی دی د قسم د سوء الادب دی
او سوء الادب تر کراهت کمه ده د رجه یه. په فتاوای خانیه او په فتاوای خلاصه کې وائی.
که یو سړی په لما نځ کې فکر واهه. نو یو شعر یا خطبه یې ور پیاد سوه. او په څه به یې تکلم
په وکړی لمونځ به نه فاسدیږی کما فی البحر لکن تر ک د خشوع دی. او کمال تد لما نځ ناوړه
کوی. لکن یوه سه چې د اسوء الادب هم هلته دی چې په قصد و ریته وګوری او که نا بلده
ستر کې پرو لګیدی او وی فهمه وه بیا سوء الادب هم سته. **قال المصنف**

او اکل ما بین اسنانه و کان دون الحمصة بلا عمل کثیر
او یا مصلی وخوړی هغه شی چې په ما بین کې د غا ښونو وو. او د نخود تر دانې کم وو بیله د یر عمله

لمونځ به یې فاسدیږی. اګرچې سوء الادب خو دی مصنف ما بین اسنانه وویل نو که یو
لږ شی لکه کنجد و دانه او یا یو څاڅکی د باران چې د ده په خوله کې ولویدی او حلق ته یې
ورسیدی لمونځ فاسدیږی اوکې روژه وه روژه یې هم ماته سوه. **ط**. که څه هم کفاریې
نشته «د». او که داشی یې قدر د حمصه وو یا بالاتر هغه لمونځ فاسدیږی او روژه یې هم ماته ده
او که د غه تر حمصې کم غنۍ مصلی پرې وژو وی او بیا یې تیر کړی لمونځ اتفاقاً فاسدیږی. اولې
شی په لږ عمل خوړل پروا نه لری ولې چې هغه تابع د نا پوهی او نا پرو د تیرو لو څخه چاره نشته.

قال المصنف او مر مار فی موضع سجوده لا تفسد وان اثم المار
او یا تیر سو یو تیروونکی که تیروی او که بنځه او که سپی وی او که څروی په ځای کې د سجدی د لمونځ
نه په فاسدیږی یعنی پر دروسره مسئلو کې که څه هم په مسئله د مار تیریدونکی ګناه
کار دی. وجه د عدم فساد په مسئله کې د مار: قوله علیه الصلوة والسلام: لا یقطع الصلوة
شئ. **پوه سه**: که تیریدونکی د مصلی د سجده ګاه څخه لږ یری تیر سو بیا ګناه کار هم نه دی
داخو د مصنف مذهب وو لکن صحیح او مفتی به داده چې په کشنی مسجد کې د مصلی د بنځه
تیریده مطلقاً مکروه دی. او په مسجد کبیر کې موضع تردسجو اعتبار دی. او څوک تر د
مرور هم تحریمی دی. او بحر ایق په دی مسئله کې د یر بحث او تحقیق کړی دی **قال**

ولا تفسد بنظره الی فرج المطلقة بشهوة فی المختار
او لمونځ نه فاسدیږی په کتو سره د لمونځ کوونکی و کس ته د ځپلی ما بینی چې ده په طلاق رجعی
طلاقه کړې وه او کتل هم په شهوت سره پر مختار
وان ثبت به الرجعة مذهب، که څه هم په دغو کتو سره رجوع نه ثابتیږی
پوه سه: چې د مطلقی قید اتفاقی دی کړ د بیګانه بنځې و کس ته وګوری په شهوت
سره هم یه لمونځ نه فاسدیږی. او پوه سه: چې مراد د فرج څخه فرج داخل دی چې بنځې
تکیه کړی وی او پښې ازادی سره نیول وی. نو دی فرج داخل لیدل کیږی. او کې و ټول

فرج تہ وکتل پہ هغہ کی پہ اتفاق لمونځ نہ فاسدیږی. لکن خلاف الادب کار دئ. مراقی دعدم فساد وجہ دَاوائی چی داکتل عمل قلیل دی. لهذا کی مچہ ځندی واخستہ اویائی مسہ کړہ لمونځ یہ فاسددی. ولی چی داکار پہ معنیٰ کی دجماع دَی اوجماع عمل کثیر دی. لکن داقبلہ یا لمس چی پہ معنا کی دجماع دی هلتہ دی چی پہ شهوت سَرہ وی اوحدد شهوت پہ ځوان سړی کی دادی چی بلاگی یہ ورتہ پورتہ ښی. اوکہ دمخ پوڑتہ وی چی دیر کلک ودریږی. اوپہ ښځہ کی او یَاپہ سپین ږیری کی حدد شهوت دادی چی دَزړہ میل اوشوق یہ ورتہ وُسی. مصنف مختارہ وویَل ولی چی بعض فقهاءُ وائی چی لمونځ یَہ فاسددئ.

مسئله کہ مصلی دښځی څخہ مچہ واخستہ اویائی مسہ کړہ بیله شهوتہ لمونځ پہ اتفاق نہ فاسدیږی. ولی چی داپہ معنیٰ کی دجماع نہ دی. **مسئله**: کہ ښځی لمونځ کاوہ اوبل سړی چی پہ لمانځہ کی نہ وُو بلاگی یَہ ددی دَور نوپہ مابنین کی ورکړی کہ څہ هم انزال نہ ښی. اویایہ مچہ ځندی واخستل کہ څہ هم بیله شهوت څخہ وی اویایہ مسہ کړہ پہ شهوت سرہ د ښځی لمونځ فاسدسو کہ څہ هم دسړی خپله مایند وی **مسئله**: کہ ښځی دمُصلی څخہ مچہ واخستہ اویائی مسہ کړہ. اودمُصلی پہ زړہ کی اشتهاء نہ سَوہ پَیدا دده لمونځ نہ دی فاسد **پوښتنه** څہ فرق دئ. چی ښځہ لمونځ کونکی مچہ کړی اویائی مسہ کړی بیله شهوت دنر پہ زړہ کی چی لمونځ دنر لمونځ کونکی نہ فاسدیږی. اویا ښځہ لمونځ کوونکی مچ کړی او یائی مسہ کړی بیله شهوتہ دنرد خوا اود ښځی لمونځ فاسدیږی **جواب** فرق یہ داری چی شهوت پہ ښځہ کی شرعًا اوعقلاً ډیردئ. نوچی نردا چی کړی خواہ نخواہ ددی اشتهاء کیږی اوبل خبرہ داده چی مجَوّل دنر پہ مطلق توګہ اومس دده پہ شهوت سَرہ مونږ مفسد پہ دی بُولو چی پہ معنا کی دجماع دی. اوجماع خوفعل اوکار دزوج دئ.

نوده پہ حق کی دواعی دجماع وی چی مچ دہ یا لمس بالشهوت پہ ځای کی درپیږی. بخلاف دښځی چی جماع ددی کار نہ دی. نودَ واعی دجماع ددی دخَواچی مچہ اختیار دی دنر څخہ اویا لمس بالشهوت دی ددی خواپہ معنا کی دجماع نہ ګڼل کیږی. ترهغو چی دنر پہ زړہ کی شهوت نہ سی پَیدا. طاح وَاللّٰہُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

بحث فصل
د مکروهات الصلوٰة

یُکْرَهُ لِلْمُصَلِّی سَبْعَةٌ وَسَبْعُوْنَ شَیْئًا مکروہ دی لمونځ کوونکی تہ اوہ اوڅیا شیان، لکن پوہ سہ چی مقصود حصر پہ دغو شیانو کی نہ دی بلکہ دغہ شیان مشهور دی. مر، در،

فَائِدَةٌ سُنِّیَّةٌ تَعُمُّ اَضْرُوْرِیَّةٌ نوپوہ سہ چی مکروهات ضدد محبوب دی پہ لغت عربی کی. لکن دلتہ دری لفظہ سنتہ چی فرق کول دَهغود مهمّا تو څخہ دفقہ دی حرام، مکروہ تحریمی، مکروہ تنزیهی، ددی درو پہ فرق کی پوہ مذهب دی، د حضرت الامام محمدؒ، اوبل مذهب دحضرت الامام الاعظمؒ اوامام ابویوسفؒ چی شیخین یہ بولی پہ اصطلاح دفقہ شریفی کی. اوکہ امام اعظمؒ اوامام محمدؒ پہ یوہ رایہ کښی شریک وی طرفین یہ بُولی. اوکہ امام ابویوسفؒ اوامام محمدؒ سرہ شریکان وَہ صاحبین یہ بُولی. اوکہ دری سرہ متفق وہ ائمہ ثلاثہ ورتہ وائی:

علامہ تفتازانیؒ پہ شرح کی چی پہ نامہ دَ تلویح یادیږی. دامام محمدؒ مذهب یہ داسی بیان کړی دی چی یو کار اوفعل چی پر دینوَل یہ اولیٰ ترفعل وی. نوکہ دکولو څخہ ئی سړی منع وُو پہ یوہ دلیل یقینی سرہ لکہ قرآن عظیم الشان اویا حدیث مشهور اومتواتر هغہ فعل تہ حرام وَائی. لکہ: وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰی، وامثالہٗ. اوکی دکولو څخہ منع وو پہ دلیل ظنی لکہ عام مخصوص البعض، پہ قران کی. اویا خبر واحد پہ حدیثو کی. اویا قیاس دمجتهد هغہ فعل تہ مکروہ پہ کراهة التحریم وَائی. اوکی ترك اولیٰ وُو لکن دکولو څخہ یَہ منع نہ وَ راغلی هغہ مکروہ پہ کراهة التنزیہ دی، اوہ مذهب دحضرت الامام محمد بن حسن الشیبانیؒ تلمیذ امام الاعظمؒ وابی یوسفؒ»

اوپر رایہ دشیخینوؒ تقسیم داسی دئ، چی سنہ عمل چی ترك یہ اولیٰ وی ترکولو کی دکولو څخہ صریح نهی راغلی وی هغہ عمل حرام دی. اوکی دفعل څخہ صریح منع نہ وہ راغلی نومکروہ تنزیهی دی. کہ روا والی تہ نږدی وو، پہ معنیٰ ددی چی کوونکی تہ دهغہ عمل خوعقاب نہ وو،

اوپه نه کولو کی په لږ ثواب وو. اوکه حرام نه ښه دی وو. په دی معنا چی کوونکی نه ډ هغه عمل عتاب اوسرزنش پروځ کی دقیامت خووومګر عقوبت یا النار نه وُو. ده عتاب مثال په پله حرمان د شفاعت و یل سوی دی نوډ اغسی عمل نه مکروه تحریمی وَائی.»

پوښتنه: په صحیح حدیث کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وئیلی دی شفاعتی لِاَهْلِ الکَبائِرِ مِنْ اُمَّتی» نومږ تکب د مکروه تحریمی خومږ تکب د ګناهی کبیری نه دی نوځرنګه د شفاعت نبوی څخه محروم دی.

جواب: شفاعت نبوی دوه قسمه دی یوډ پاره د بخښنی ګناه دی چی هغه شفاعت عام دی. مږ تکب د کبیری ګناه اومږ تکب د مکروه تحریمی تهلوته شامل دی. اوبل شفاعت د پاره د پورته والی درجی دی په جنت کی مږ تکب د مکروه تحریمی د دغه قسمه شفاعت څخه محروم دی. دا جواب مشهور دی اوفاضل عماد الدین پر حاشیه کی د تلویح راوړی دی. اوفاضل شمس الدین خیالی نور جوابونه هم راوړی دی چی ترفهمه د مُتعلمینو د کتاب لوړی ولذا لګ ترکنا.

فائده: اصل په اطلاق د تحریم مکروه تحریمی دی اوپر مکروه تنزیهی یه په قرینه د اطلاق حکم کیږی.

پوښتنه: چی صاحب النهر او صاحب البحر فرق د مکروه تحریمی او تنزیهی داسی بیان کړی دی که دَیوه عمل ترک لره د واجب مستلزم وه هغه مکروه تحریمی دی. اوکه متضمن ترک لره د سنت وه هغه مکروه تنزیهی دی.

اود مکروه تنزیهی درجی اوفرق سره لری په دی سبب چی هغه سنت چی په دی عمل پاتیږی سنت مؤکد دی اوکه د سُنن زوائد وخځ دی. اوکه نه واجب په پاتیدی او نه سُنت نوکه ده لمانځه څخه بیګانه کار وو هغه هم مکروه دی لکه په بدن یا جامه سره په لمانځه کی ځان اخته کول یا بل داسی کار چی زړه په مشغول کیدی. حتی په خلاصه کی وَائی که د مُصلی لنګوته پر تندی او چی سره د هغی پر تندی سجده نه سوای کولای نوده په یوه لاس لنګوته د تندی څخه پورته کړه مکروه نه دی. ولی داکار د متمماتو څخه د لمانځه دی. او یا یه په لمانځه کی د پاره د دفع د ضرر یو عمل وکی کقتل الحیة والعقرب دا مکروه نه دی. که څه هم په کثیر سره وی.

مسئله: په لمانځه کی که د سړی څخه واجب پاته سُو نوکی څه هم لمونځ خو یه صحیح دی.

تلاوت راګرځول یه واجب دی. اوکه سنت وغیره پاته سول راګرځول یه مستحب دی. مر اوصاحب الهدایه په تجنیس کی وائی چی هر لمونځ چی اداء سی سره د کراهته نوهغه لمونځ دی راوګرځوی بیاله هغه مکروه عمله.

سوال: په حدیث شریف کی راغلی دی «لَا یُصَلّی بَعْدَ صَلوٰةٍ مِثْلُها» نوځرنګه بیرته راګرځول ذکری لمانځه غواړی

جواب: صدر الاسلام علی البزدوی په شرح کی د جامع صغیر وائی چی مراد په حدیث مذکور کی دادی چی صرف دوسوی د سببه لمونځ بیرته راګرځوی. نودا حدیث ودغوته د کراهت شامل نه دی.

امیان خلګ باید په لمانځه کی د قدر وکړی په رکوع او په ولاړه کښی د رکوع څخه او

نصیحت په سجده کی اوپه کښینستو کی د سجدی څخه چی دغه افعال په ښه وجه ادا کړی ولی دغه کار وته چی رکوع او سجده اود رکوع سمولاړیده اوپه مابین کی د دوو سجدو کښینستل کم از کم سنت خودی نوکی دی پروجه کامل یه وته کړی نوراګرځول د لمانځه بیرته غواړی. په حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم په ترک د دغو کارو په یوه اعرابی لمونځ درې واره راوګرځاوه.

پوښتنه: چی مراد د مکروه څخه په دی فصل کی عام دی که مکروه تحریمی وی اوکه تنزیهی وی لکه چی دغه بیان په شرح کښی وکړه ان شاء الله تعالی. قال المصنف:

تَرْکُ واجِبٍ اَوْسُنَّةٍ عَمَدًا

پریښول دی د واجب یا د سُنت په لمانځه کی په قصد سره. قید د عمد یه دی دپاره دی چی سهوًا او نسیانًا پاتی سی. لمونځ مکروه نه دی بلکه سجده سهوه به کوی. اوکه سنت په سهوه پاته سی نه لمونځ مکروه دی اونه سُجده سهوه ستره قال مرغ ط چی شروع د مکروهاتو مصنف په دغود وُ وسره وکړه. ولی دادوه دوروسته دپاره لکه قانون کلی دی. اود یرجزئیات تر لاندی مثلًا آرام په ارکانو کی د لمانځه لکه د رکوع او سجده اوقومه او جلسه چی ترک د هغه یا ترک د واجب دی پر تحقیق بناء. او یا ترک د سنت مؤکد دی. او یا ترک د امام د څخه د رکوع او یا سُجدې تر تَلل. او یا په رفع کی تر امام وړاندی والی کوی چی مکروه تحریمی دی

ولی په هغه کی سخت وعید راغلی دی کما روی البخاری ومسلم: قَالَ علیه الصلوٰة والسلام أَمَا یَخشَی أَحَدُکُم إِذَا رَفَعَ رَأسَهُ قَبلَ الإِمَامِ أَن یَجعَلَ اللهُ رَأسَهُ رَأسَ حِمَارٍ، وفی روایة او یجعل الله صُورَةَ حمارٍ ترجمه: ایا نه ویریږی یوستاسی چی سر اپورته کوی لیونی یا درکوی څخه او یا د سجدی څخه د مخه ترامام چی ودې گرځوی خدائ سر ده سر د خره او یا صورت د ده صورت د خره.

دَرویش وائی چی شیخ عبد الحق دری حدیث په صدق کی دیو عالم قصه ذکر کړیده فلیرجع، اودې ته هم شامل دی چی لاسونه په وخت کی د شروع د لمانځه ترغوږو لوړ یوسی چی دا مکروه تنزیهی دی لانه لم یثبت ذالک منه صلی الله علیه وسلم ولا من احد من الصحابة رض. او یا لاسونه بیله عذره تر اوږو لاکښته پورته کړی. او یا پښې په قصد سره په سجده کی په پا یخو پوتې کړی: قالَ المُصنفُ رح:

کَعبَتِهِ بِثَوبِهِ وَبَدَنِهِ وَقَلبُ الحِصَی إِلَّا لِلسُّجُودِ مَرَّةً

لکه سات تیروَل په جامه سره یا په بدن سره او یا پرې وَهل دَشگو مگر دیارهٔ دسُجدی یوواړ. بعض علماء وائی چی عَبث هغه فعل ته وائی چی غرض شرعی نه وی پکښی اوسفه هغه کار ته وائی چی هیڅ غَرَض نه وی په کښی. او په جوهرکی وائی چی عَبث هغه فعل دَی چی خوند نه وی پکښی. او لعب هغه کار دی چی څه ناڅه خوند په کښی وی. او جوهري په صحاح اللغة کی وائی چی سفه او عَبث سره مرادِف دی "ط.

دلیل د کراهت دادی چی عَبث کار منافی دَ خشوع سره دی چی هغه د لمانځه لکه روح داسی دی قَالَ اللهُ تَعَالی: قَد أَفلَحَ المُؤمِنُونَ الَّذِینَ هُم فِی صَلَاتِهِم خَاشِعُونَ، والخشوع حضور د زړه دی او آرامول دا ندامودی. او ساتنه دارکا نود لمانځه ده. نو عبث په لمانځه کی مکروه تحریمی دی» ق، س، ط، و فی المَراقی والمراد بالعبث ههنا فعل مَا لَیسَ مِن اَفعَالِ الصلوٰة. **مسئلهٔ**: که عبث بالبدن ته ضرورت پیدا سو بیا کراهت نسته مثلاً که د مصلی مخ یا تندی خوله کړی وَه تودوه هغه پاکه کړه:

وبایه سجده پر خاورو وکړه خاوری یه په مخ مبتنی وی. اوری ځندی په تکلیف وونو یه یا کی کړی کراهت نسته» کذا فی فتح القدیر والعنایه والنهایه»

پُوه سله: چی حِصی جمع د حصاة ده کښنی شگونه وائی. قوله للسجود ای للسجود الکامل. اوکی اصلی سجده نه سوای کولای بیا پری وَهَل دشگو واجب دی» ن، ط وجاء فی حدیث جابر رض وکذا فی حدیث ابی ذر رض التقیید بمرة واحدة» قَالَ جابر رض سُئِلتُ النبی صلی الله علیه وسلم عن مسح الحصا فقال واحدة ولان تمسک عنها خیر لک من مائة ناقة سود الحدق» ما پوښتنه وکړه دنبی علیه السلام څخه د پری وَهلو د سنگریزو یعنی د سجده په وخت کی نو علیه السّلام ووئیله یو وار یعنی یو وار یه فعل روادی. اوکه ته ځان وساتی د دغه کار څخه یعنی قلب الحصی» خیر دی تا لره تر سلو بښځینه اوښو چی توری ستر گی وی یعنی گران قیمت وی.

درویش وائی: چی تر ټولو ښه کار دادی چی لمونځ کوونکی دی د مخ تر لمانځه د لمانځه څخه شگی اواری کی. حتی د نرنگنود ایښولو د ځایه څخه او ناستی د ځایه څخه تاچی په لمانځه کی زړه مشغوله په هیڅ شی نه وی. **درویش وائی**: چی حدیث د ابوذر رض په دی باره کی پرده اسی سبجع مشتمل دی چی تر ټولو مشا لود سجع فوقیت لری وهو هذا: اَستَالُ اَبُوذَر رض خَیرَ البَشَر ص عَن تَسوِیَةِ الحَجَر، فَقَالَ یَا اَبَاذَر، مَرَّةً وَالاَفَدَعهُ

مسائل ضروریة پاکول د تندی د ظهر د څخه یا د خاشو څخه او یا د خولې څخه په مابین کی د لمانځه مکروه دی. مگر که ضرورت وو چی د غه شگی یا د غه شیا نود لمونځ کوونکی خشوع او رخ ابوله. نو بیا هیڅ کراهت نسته. لکه چی غمامه سر پر مَخ وخُوری او هغه کا کوی او زړه د لمونځ کوونکی په مشغوله وی نو گرو ول یه کراهت نه لری. یا د سړی په لمانځه کی گرنگ د نړی څخه راوتلی د خولې برخوا نو پاکول یه مکروه نه دی. وامثال ذالک. اوورو ستر سلام خو بیا که ضرورت اوکه نه وی کراهت نسته، ولی ابن السنیٔ په خپل کتاب کی دانس څخه روایت کړی دی» چی رسول کریم صلی الله علیه و

سلم خروخت چې د لمانځې څخه فارغ شو مسجد ې کړي ټنډی مبارک په ښۍ لاس اوبیا ې ووایي
اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ: اَللّٰهُمَّ اذْهِبْ عَنِّي الْهَمَّ وَالْحُزْنَ» مرسله، د
ابن امیر الحاج وائی چې دا مسئله پرځلور قسمه ده ۱ مسجد کول دخولې یا خاورو وغیره کولو ډې
پسله سلامه هغه خو مستحب دی: لات، إزالة الاذی عن وجهه ودفع المثله، ۲ چې د لمانځې
دافعالو څخه فارغ سی ترسلام د مخه. په بدائع اوصنائع کې وائی. لَا بَأْسَ بِهٖ بِالْاِجْمَاعِ. ولی کړې
فصل الصلوٰة په دغه حال کې بیخی قطع کړي هم باک نلري. نویو فعل قلیل چې مسجده څه
باک به ولري ۳ چې د اخیرې سجدې څخه سر اپورته کړي د مخه ترناستې په قدره تشهدی
امام سرخسی وائی لَا بَأْسَ بِهٖ، اوامام حلوائی چې په دی کې په کتابونو کې د فقهاو اختلاف دی.
بعض وائی مکروه. بعض وائی وائی نه دی مکروه ۴ چې مسح په مابین کې د لمانځې واقع سې.
په دی صورت کې ظاهر الروایت دادی چې بیله ضرورته مکروه دی وَهُوَ الصَّحِيْحُ، وَقَالَ

وَفَرْقَعَةُ الْاَصَابِع

اومکروه دی په لمانځه کې تکان په ګوتو کول یا په
کښیدو او یا په کښیکښنو. لقوله علیه الصلوٰة والسلام
لَا تُفَرْقِعْ اَصَابِعَكَ وَاَنْتَ فِي الصَّلٰوةِ، پکوتو تکان مکروه پرداسې حال کې چې ته په لمانځه کې
یې، چونکه دا صریح نهی دی نوکراهت تحریمي دی، ط، اوپه مجتبی کې وائی که څوک د لمانځه
ته انتظار کوي یا لمانځه ته راروان وي هغه هم په حکم کې دلمونځ کوونکی یعنی دګوتو تکان
ورته مکروه دی. **درولیش وائی** چې چونکه نهی صریح په لمانځه مقیدی دی نو دې
سره دګوتو تکان مکروه تنزیهي دی. او بیله دغو صورتو یعنی خارج الصلوٰة نود ګوتو تکان
مکروه دی په ټیزدا کثرو فقها وو، بحر، رائق او مجتبی والا یه دا علت وائی چې دا فعل د شیطان
دخوا څخه دی، لکن کراهت یې تنزیهي دی. لما مرّ. اوپه برهان کې علت د کراهت دا ویلی دی
چې دا یو عبث کار دی. لکن پوه سه چې د بعض کسانو نود ګوتو بندونه درد کوي چې تکان پرې وکړي
نود غه سړي ته خارج الصلوٰة تکان دګوتو مکروه نه دی. او بعض وائی چې وجه د کراهت یې
دا ده چې دا عمل د قوم لوط وو، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ، وَاِلَيْهِ الْمَرْجِعُ وَالْمَآبُ،

کتبه بیده احقر الخلق محمد فضل الحق حقانی غفرله.

قَالَ الْمُحَشِّيْ

وَتَشْبِيْكُ الْاَصَابِع

اومکروه دی په لمانځه کې سره داخلول دګوتو.
علیهم قال ط، چې دغه رنګه مکروه دی تشبیک په وخت کې تګ د لمانځې ته، ولما چې احمد
او ابوداؤد او نورو په روایت کړي دی مرفوعاً چې علیه الصلوٰة والسلام وئیلی دی: چې یو
ستاسې چې اودس تازه کړي او بیا د مسجد په خوا روان سې. نو تشبیک د
ګوتو د لاسودی نه کوي. ولی چې دی په لمانځه کې دی یعنی حکماً. ددی حدیث څخه دا معلومه سوله
چې په وخت کې د انتظار د لمانځې په طریق اولی تشبیک مکروه دی. بحر، رائق وائی چې د نهی څخه
دا معلومیږي چې دا کراهت هم تحریمي دی. او چې د لمانځې څخه فارغ سې نو تشبیک روا دی.

حِكْمَتُ الْاِلٰهِي

عن التشبیک چې دا فعل د شیطان دخوا دی کما فی الحدیث. اوبل دا دی چې
تشبیک سړي ته خوب ورولی او خوب ګمان د حدث دی. او بل تشبیک
ثناء واختلاف اوشقاق تردې لکه چې د حدیث د ابن عمرؓ څخه اشاره دا معلومیږي. قَالَ

وَالتَّخَصُّر

اومکروه دی په لمانځه کې لاسونه پرډوډۍ نیول. دلیل یې دا دی چې
اول خو داخوی د جبابره او متکبرینو دی. بل دلیل دا دی چې د لمانځه کې
اخذ الید بالید سنت دی. په تخصر کې هغه پاتیږي. مر، اوبل دلیل دا دی چې تخصر په
هغه لکه تکیه پر لکړي کول دی ځکه نو لکړي ته تخصره وائي.
اوشك نسته چې په فرض لمانځه کې بیله ضرورته تکیه پر لکړه مکروه ده کما صرح به الفقهاء،
فلا نعم په نفل لمانځه کې که ضرورت وی اوکه نه وي تکیه پر لکړه روا دی علی الاصح، محیط،
اوبعض علماء د تخصر تفسیر دا سې کوي: هوان لا یتم حدود الصلوٰة، نوکه واجب پاتیدی
نو مکروه تحریمي اوسنت پاتیږی نو مکروه تنزیهي دی. اوبعض علماء د تخصر ترجمه په
اختصار فی القرئت سره کوي نوکه قدر واجب پاتیدی مکروه تحریمي دی. اوکه قدر مسنون
پاتیدی مکروه تنزیهي دی. **درولیش وائی** که څه هم په لفظ کې تخصر مانع د دغو
تفسیرونو نسته. لکن اول تفسیر دیر صحیح دی او جمهور څخه د اهل اللغة والفقه والحدیث
منقول دی نوځکه مراقي پر هغه تفسیر اکتفاء کړې ده. وَقَالَ هُوَ اَشْهَرُ وَاَصَحُّ تَاوِيْلًا بِهٖ،

قال المصنف: **وَالِالتِفَاتُ بِعُنُقِهِ** اودغه رنگه مکروه ده کتل په لمانځه کې غاړه په کښه ولوسوه. **پوښتنه**: چې التفات په لمانځه کې دری قسمه دی، یوقسم مبطل د لمانځه دی چې څګړ قبلی څخه واړوي او شاوخوا قبله نه کړي مګر هیله عذر. دعذر صورت یه دادی چې دسړی په لمانځه کې خیال داسې وي چې یره دی وینی سوه نود اوداسر دپاره شاوقبله نه کې لکن وروسته چې وګوري یره یه نه وي وینی نولمونځ یه نه دی باطل، اودوهم قسم مکروه تحریمی دی چې پرې استرخوا یا پرچپه خواغاړه کښته کړي. دد غه التفات په بارې کښې هغه حدیث دی چې بخاري یه روایت کړی دی سیدتنا عائشه رضی الله عنها قالت سألت رسول الله صلی الله علیه وسلم عن الالتفات الرجل فی الصلوٰة وکذا المرئیه، فقال هو اختلاس یختلسه الشیطن من صلوٰة العبد، دالتفات یوه حمله دشیطان پر لمانځه عبد، اوپه بل حدیث کې راغلی دی، لایزال الله مقبلاً علی العبد وهو فی صلوته مالم یلتفت فان التفت انصرف عنه: دادواړه حدیثه پر کراهت تحریمی دلالت کوی، مر، ط، در،

اودریم قسم التفات دی په کنجیانو دستر ګو په صحیح حدیث مبارک کې راغلی دی: کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یلحظ اصحابه بمؤق عینیه، یعنی علیه الصلوٰة والسلام وحالته دا صحابو رضی الله عنهم به کتل په کنجیانو دستر ګو. نو دی حدیث څخه علماء حضرات دا نتیجه ګیری کوی چې دا قسم التفات مکروه نه دی. لکن ملاعلی قاری وابی چې دا قسم التفات دادب څخه د لمانځه خلاف دی. بیله ضرورته دعلیه السلام دغه التفات خو د احوال معلوم ولو د من خلف وو نو اوس هم که امام د لمانځه دده غرض دپاره التفات په کنجانو دستر ګو وکړي پروا نه لري، قال

وَالِاقعَاءُ اودغه رنګه مکروه ده اقعاء. د اقعاء معنی داده چې سړی کونډه پر ځمکه کښیږدی اوز ګنونه جګ ودروی. اونس تی جوت کړی اولاسونه هم پر ځمکه وګنوی. لکه سپی چې کښینی، مر، ط عز- در، چې ابوهریره رضی الله عنه روایت کړی چې نهی کړه رسول الله علیه الصلوٰة والسلام د اقعاء څخه لکه اقعاء دسپی، انتهی باختصار نو په سبب د نهی کراهت په تحریمی دی.

کتبه احقر العباد حقانی غفرله

قال المصنف: **وَافتِرَاشُ ذِرَاعَيهِ** اودغه رنګه مکروه دی پر ځمکه پرې ایستل دبانزو ګانو، په یوه حمله کې دهغه حدیث چې روایت یه بخاري، د عائشه رضی الله تعالی عنها څخه کوی دسی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام نهی کولی د افتراش څخه د ذراعینو او څپلو کله افتراش د درنده ګانو. **پوښتنه**: چې قید د رجل احترازی دی نو ځی څخه هغه به داغسی کوی ولې مبنی دحال دی پر ستره والو د نر دپاره حرمت هم تحریمی دی لوجود صریح النهی عنه. قال المصنف:

وَتَشمِيرُ كُمَّيهِ عَنهُمَا اودغه رنګه مکروه دی پورته کول دلاستونو ذراعینو څخه. یعنی کمیس ترخنګلو پورې وچ اوکړي پورته وی ترهغه، بحر، **مسئله**: کمیس په څخه تر لمانځه لسترې راپورته کړی وه. اوبیا داغسی په لمانځه کې داخل سو. اختلف العلماء فی الکراهة نهر والصحیح الکراهة التنزیهیة، در، په لمانځه کې دکراهت دد غه فعل سبب دادی چې داد تکبر علامه ده چې دخشوع سره د لمانځه سره منافي ده، ط، قال المصنف:

وَصَلوتُهُ فِي السَّرَاوِيلِ مَعَ قُدرَتِهِ عَلَى القَمِيصِ

اودغه رنګه مکروه دی لمونځ په پیوانی پرتاګه کې یا په لنګ کې سره د قدرته پر قمیص باندې. مرا قی وابی چې په دی کې تهاون اوسپکاوی د لمانځه دی، او قلة الادب دی اوخپل سنت والی نښکاره کول دی، وقال ط هذا یفید کراهة التحریم **مسئله**: مستحب ده نرلره دری جامی په لمانځه کې، پرتوګ یا لنګ، بل قمیص، او بله لنګوته، نوبناءً علی هذا دپاکستانی اوسیدونکو لمونځونه خلاف المستحب دی. ولی چې دوی یوازی دجیب څخه دسمال راوکاږی اوسر په لمانځه کې پټوی. اویا رخچینه یه پرسروی. مګر نا درخلګ چې لنګوته تړی. اودنبځی دپاره مستحب پرتوګ، قمیص، کښنی پورتنی، اوبل غټ پرونی،

مسئله: دنبځی لمونځ په هغه پورتنی کې چې دوی په اصطلاح جفون ورته وائی

یعنی چې ویښتان یې تر لاندې معلومیږي مکروه دی اشد کراهةً » در» قال المصنف

وَرَدُّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ

اودغه رنګه مکروه دی ردول د سلام دچا یعنی جواب ورکول په اشاره سره. لانه سلام معنی ده وفی الذخیرة لا بأس للمصلی ان یجیب المتکلم برأسه قال. ورد الاثر بذلک عن عائشة رضی الله عنها مثلاً سړی پر لمانځه ولاړ وو بل سړي پوښتنه وکړه چې نوی دی دسفره راغلی. ده ورته سر وښوراوه. چې هُو. ثم قال ولا بأس بان یکلم الرجل المصلی یرواله نه لري چې خارج الصلوٰة سړي ولمونځ کوونکی ته خبرې کوي. او هغه یې اوري لقوله تعالیٰ. وَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ»

درویش پیښ مدان: وائي چې د زخیره دا غږ دواړه حکمه دغور وړ دي. اَمَّا الْاَوَّلُ: وهو قوله لا بأس للمصلی آه په دې خبره کې باید مونږ غور وکړو چې په دې کې شک نشته چې سلام خو د عاده او جواب یې هم د عاده او په دې کې هم شک نشته چې نفس دعا په هر لمانځه کې ستة « اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ الایه اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا آه نو چې د سلام جواب صرف په اشاره دلاس یا د سر مکروه دی. نود نورو پوښتنو جواب به خرنګه په اشاره مکروه نه وي او زخیره والا د اثر مروي د عائشة رضی الله عنها بیان هم نه دی کړی چې هغه کوم تاریخ وو په لمانځه کې خو دې شیان روا وو او بیا منسوخ سوي دي کما سیأتي» او امام حلوانی چې د زخیرې په مذکوره مسئله کې همینال دی وړوسته وائي. کې چیرې یو چا سلام واچاوه. ولمونځ کوونکی ته فی الحال خو دې په نهه کښې جواب ورکړي. او بیا له لمانځه دې بیا جواب په خوله ورکړي. په نیزد محمد. او امام ابو یوسف وائي چې مطلقاً دې جواب نه ورکوي او خطابي او امام طحاوي یعنی فقیه ابو جعفر روایت کړی دی چې یو وخت آنحضرت صلی الله علیه وسلم په لمانځه کې وو چې عبد الله بن مسعود سلام ورته وفایه. آنحضرت صلی الله علیه وسلم بیا له فراغه د لمانځه څخه جواب ورکړی، وهذا یؤید قول محمد»

وَاَمَّا الثَّانِي: ولا بأس ان یکلم آه چې په دغه خبره چې په ایت شریف سره استدلال نه دی روا. ولی چې په لمانځه کې خبرې په شریعت کښې د زکریا علیه السلام خو روا وې.

یکې په اوائلو کې د اسلام زمونږ په دین کې هم خبرې په لمانځه کې روا وې حتیٰ تر نزول د « وقوموا لله قانتین» فامروا بالسکوت عن التکلم فی الصلوٰة علی ما روی فی البخاری نو چې خبرې روا وې نو نداء خو په طریق اولی روا ده. حاصل د مسئلې دا دی چې چا له نه بیا ځې د لمونځ کوونکی سره چې په دې هم پوهیږي چې په لمانځه ولاړ دی خبرې وکړي او مصلی له ده نه بیا ځې چې قصداً غوږ ورته د نسې اوخان په پوه کړي. قال المصنف

وَالتَّرَبُّعُ بِلَا عُذْرٍ

اودا غږ رنګه مکروه ده چارزانو ناسته په لمانځه کې که بیله عذره وه. لترک سنة القعود مع الکراهة بل دوول ناسته ورته تکلیف وه بیا خو کراهت نشته. ولی چې په عذر سره دواجب پرېښولو لاروادی. نو د سنت دا خو په طریق اولی روادی. نو چونکه په تربع کې ترک د سنت راځي نو ځکه مکروه تنزیهی ده»

مسئله: چارزانو ناسته د باندې تر لمانځه هیڅ کراهت نه لري. لما روی فی الاحادیث المبارکة چې اکثره ناسته د علیه السلام تربع وه وکذا اعمر رضی الله عنه مرط» او دوه دی خو ولو په وخت کې تربع مکروه تنزیهی ده لانه من زی المتکبرین» در قال المصنف

وَعَقْصُ شَعْرِهِ

اودغه رنګه مکروه دی عقص د ویښتانو په لمانځه کې، مراقی وائي چې عقص د ویښتانو د سر دادی چې یا یه په څټ کې وکړي او یا په سر باندې

فَائِدَة: کوڅې د ویښتانو د سر د ذکر ته بیا عقص روادی» قاله ابن الهمام ط.

مسئله: محل او ځای د کراهت د عقص دادی چې خارج الصلوٰة یه عقص کړي وي خو هغه پاره د لمانځه وي او که داغسې غوږ په کړي وي: او کې فعل د عقص په لمانځه کې وکړي لمونځ یې با الاجماع فاسد دی لانه عمل کثیر» حلبی ط»

په حدیث شریف کې راغلی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم دیوه سړي سره چې تیریدې هغه معقوص الشعر لمونځ کاوه. نو یې ورته وویل: دَعْ شَعْرَكَ يَسْجُدُ مَعَكَ » پریږده ویښتان دی چې سجده وکړي ستا سره.

مسئله: هغه بعض پښتنی ځوانان چې د لمانځه تر لمانځه دمخ د خو ویښتانو تر ښخیږه لاندې کوي. چې په خاورو نه سی د کراهت به

خالی نه وی، «در». قال المصنف:

وَالْاِعْتِجَارُ وَهُوَ شَدُّ الرَّأْسِ بِالْمِنْدِيْلِ لَوْ لِلْعِمَّةِ وَتَرْكُ وَسْطِهَا مَكْشُوْفًا

مکشوفًا اودغه رنګه مکروه دی اعتجار. او اعتجار دادی چې سر په دسمال کې وتړی یا په لنګوټه کې لکن مابین د سر به لخ وي. لنهی النبی صلی الله علیه وسلم عن الاعتجار فی الصلوٰة. وهذا یفید کراهة التحریم» ط». او بعض علماء وائی چې اعتجار دادی چې لنګوټه وتړی مګر پڼه پټه کړی. په دی کې سنت د سجدې پاتې ږی» «در». اوهغه خبره چې امام طحطاوی کړې ده. تر مکشوف لاندی. ای مکشوف عن العمامة لا مکشوفًا اصلا لانه فعل مالا یفعل».

درولیش وائی: چې شاید په زمانه کې د امام مذکور به دا کار خلګو نه کاوه. لکن په اوسنۍ زمانه کې خو دا کار په لوچه ګانو ځوانانو کې د وخت بیخي پیدا ده. چې لنګوټه خو به تړلی وی مګر مابین د سر به دهره شی څخه لخ وي. کما هو الظاهر» قال المصنف

وَكَفُّ ثَوْبِهِ

اودغه رنګه مکروه دی ما پورته کول او جمع کول د کالو د مخ د ځوا یاد شا د ځوا څخه. هغه وخت چې سجدی ته ځې او بعض علماء وائی چې کف جمع کول دی د ثوب کالو. او پرمله یه تړل. مرافی وائی چې په کف کې په دوارو معنا وو اظهار د تکبر او تجبر دی چې منافی د خشوع سره د لمانځه دی.

وورد فی الحدیث النبوی «أمرت ان أسجد علی سبعة اعظم ولا ان اکف شعرا ولا ثوبا» متفق علیه «م»، وفی الخلاصة: چې کف الثوب په دوهم تفسیر مکروه نه دی. قال الحلبی وهو المختار، وقال فی منیة المصلی: ویکره فی الصلوٰة کل ما کان من اخلاق الجبابرة وقیل لا بأس برفعه عن التراب» ورده الطحطاوی حیث قال والاصح الاطلاق «یعنی کف الثوب مکروه دی مطلقًا که څه هم جامی دها ورو څخه ساتی. ولی چې پر خاورو وایښولو د مخ په سجده کې چې مندوب دی نو د جامی څه شرف دی ترمخ» ط»، «در» قال المصنف

وَسَدْلُهُ

اومکروه دی سدل د جامې. سدل دادی چې لوی پټوچې طیلسان به پوښل

کما فی شرح الوقایة» پرسر واچوی اوجوانب یه ایله وی یعنی پرلوږو یه نه واړه وي اوپه پر اوږو واچوی اولاسونه یه تر لستونړو ونه کاږی. لکن کراهت هلته دی چې د تکبر دلاری وی. اوکه د عذر دلاری وو لکه یخ بیا مکروه نه دی.

پښوسته: چې پر اوږو اچول په پوستین، چپنه، کوسی، جلکه، کوټ، بالاپوښ کې راځی. د دغو مذکوره ملبوساتو په باب کې خلاف والی: المختار عدم الکراهة»، لکن بعضو العلمائی داخبره نه منی. اووائی چې دخلاصی خبرې سره یوازی بزازیه موافقه کړیده او صحیح خبره هغه ده چې قاضی خان اوجمهور یې کوی چې سدل مطلقًا مکروه دی. لانه الذی یدخل یدیه فی کمیه صدق علیه اسم السدل لانه ارخاء الثوب بدون لبس معتاد وقد تصدی بعض الفقهاء الی المحاکمة بینهما. اووائی که چیری معتاد اغوستل د هغی جامی د لاسونو پر لستونړو داخله وله کی وه نو دې لاسونه داخلول په لوستونړو کې سدل دی. لکه کوټ، بالاپوښ، جلک، عربی چپنه چې عبا یې بولي. هرالی چپنه. اوکی عادة لاسونه نه تر کښل. هغه ته سدل نه وائی لکه کوسی. دغزنی پوستین، هرافی پوستین، دګیدرو پوستین، چې په شمال کی د افغانستان جوړیږی. یا د پرانکا نو پوستین»

درولیش وائی. چې احتیاط پرې دی کې دی تر یولو د لاسونه کاږی. واللہ اعلم

بعض خلګ دسمال پر اوږو واچوی. اوکښته خوږیږی. لکه بعض عرب او بعض قاریان چې دغه فعل کوی. په دی باره کې بحر الرائق د فتح القدیر څخه نقل کړی دی چې داسی دسمال باید په وخت کې د لمانځه ایسته کې که څه هم د اسمال نه لویږی» ط

پښوسته: چې دمکروهاتو څخه د لمانځه دی تلشم چې هغه پوتوکول دی د خولې اوپزې په لمانځه. ولی چې دا عادت د آتش پرستانو دی چې مجوس یې بولی په وخت کې د عبادت دا دول.

پښوښته: پرزمی چې یخ د پیرو یې خلګ د یخ د سببه خپل ګرم پتوان پرخوله او پیزه هم اچوی نو دا هم مکروه او که څرنګ.

جواب: داخو د جهته د یخ د عذر کوی. والضرورات تبیح المحظورات»، مقوله شرعیه مسلمه ده.

مسئله سدل خارج الصلوٰة مکروه نه دی علی الصحیح» «م».

قال المصنف: **وَالْاِنْدِرَاجُ فِيهِ بِحَيْثُ لَا يَخْرُجُ يَدَيْهِ**

اودغه رنګه مکروه دی په لمانځ کې پېچل دبدن خپل په یوه جامه کې پرداسې ډول چې لاسونه هم منډه: یعنې غځای دایستلونه پریږدي. چې دې کارته اشتمال الصماء پرې وایي نه بلکه په احادیثو شریفه اوپه فقه کې وایي. ضمابنوی دپرې تړوائ یعنې دځان څخه بنوی دپره څوپړول په لمانځ کې مکروه دی: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: اذا كان لاحدكم ثوبان فليصل فيهما فان لم يكن له الا ثوب فليتزر به ولا يشتمل اشتمال اليهود، یعنې کله وی یوه لره ستاسې دوئ جامې نو دی په دواړو کې لمونځ وکړي. نکه قمیص اوپرتوګ، یا قمیص اوپتوډی لنګ کړي. او یا دوه پتوان نو یوډی لنګ کړي اوبل دپرځان واچوي. اوکه نه وه سړي له مګر یوه جامه یعنې پتو نوهغه دی لنګ کې. اوپرتوله بدن دې نه راپیچي کرخه هم دیرغټ پتو وی نکه راپېچل دیهودو، یعنې دا اشتمال دیهودو مرارا. قال المصنف:

وَجَعْلُ الثَّوْبِ تَحْتَ اِبْطِهِ الْاَيْمَنِ وَطَرْحُ جَانِبَيْهِ عَلَى عَاتِقِهِ الْاَيْسَرِ

اودغه رنګه مکروه دی گرځول یعنې اچول دثوب نکه پتو لاندې ښۍ خوا راسته بغل اودواړه طرفه یې پرچپه اوږه اچول یعنې په لمانځه کې **مسئله**: بیله لمانځه دافعل مکروه نه دی. وجه دکراهت په لمانځه کې مراقبې دا وائ چې پتو دواړو اوږو پرې لمانځه کې مستحب دی. نوترک یې مکروه تنزیهی ده آه لاشه ترک امر مستحب لاواجب اوصریح، نهی هم نشته په کښې.

درویش وائ: چې دعبارت څخه دمراقبې داسې معلومیږي کې سړي قمیص اغوستی وه اواوږې دواړه یې په قمیص کې پټې وی لکن دده پتو وو هغه یې پرطرز مذکور پراوږو واچاوه. بیا کراهت نشته:

کتبه احقر العباد حقانی عفرله الباری

قال المصنف: **وَالْقِرَاءَةُ فِي غَيْرِ حَالَةِ الْقِيَامِ**

اودغه رنګه مکروه دی قرائت وقرآن په غیر کې دحال دقیام لکه سړي چې رکوع ته ور سیږي اوقرائت یې پرځای وي. اودغه رنګه مکروه دی اذکار مشروعه په انتقالاتو کې لکه سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد، یا سبحان ربي العظيم، لکه بعض امامان چې سمع الله لمن حمده. په سجده کې په خوله کې وي. مراقي وائ چې په دې کې دوه ستاوانه دی. یوذکر مشروع یې په خپل ځای کې پرینښو اوبل یې بې ځایه ووایه. او امام طحطاوی وائ چې سنت طریقه داده چې ابتداء دذکر مشروع دی دابتداء سره دانتقال یوځای وی. اوپای دذکر مشروع دی دپای سره دانتقال یوځای وی کې مخالفت دغه څخه وکړي نو سنت څخې مخالفت یې وکړي آه.

درویش وائ: چې بعض امامان په دې مسئله کې دډیره غفلت څخه کار اخلي. اول نړه کړه خپل لمونځونه: بیا کوه امامتونه: درکوه احکام دې نه نړه: په لمانځه کې یې غافله: دلمانځه مقتدیانو ته ضامن یې: داجواب به ستا څخه غواړي په قیامت:

په منطقو کې کرار کرار رواندوي: چې نوبت دفقهې راغلی سوی چا ټک: قال المصنف

وَاِطَالَةُ الرَّكْعَةِ الْاُولٰى فِي التَّطَوُّعِ وَتَطْوِيلُ الثَّانِيَةِ فِي جَمِيعِ الصَّلَوَاتِ

اودغه رنګه مکروه دی اوږدول درکعت یعنې تر دوهم رکعت په نفلو کې اودغه رنګه مکروه دی اوږدول ددوهم رکعت یعنې پر اول رکعت په تولو لمونځو کې کې فرض وی اوکه نفل **پوه سه**: چې دریم رکعت دنفلو هم لکه اول رکعت دی لان کل شفع من النوافل كصلوة على حدة، **فائده** مکروه والی داطاعت درکعت اولی په نفلو کې مذهب دی د شیخینو اوامام محمد والی چې اوږده وي دې. وعليه الفتوى. اومشائخ دطریقت په بیان کې دغه بنایت دلمانځه وائ چې دلمونځ سبب دی دډیر والی درزق اودبرکت دمال، لکن پردی طریقه، چې په اول رکعت کې به یسله الحمد یلیه سورة والشمس وضحاها، وائ اودوهم رکعت کې به سورة . . .

وَ اللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى آه ووائ اوسره ددې چې وَ اللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى آه تر وَ الشَّمْسِ وَضُحٰهَا آه اوولوسه
دې. اوداد حکم هم د مصنف رح منافي ده هُوَ په فرض لمانځه کې د قراءت د تطويل الثانيه مسلم
دی. اوپه دريم رکعت کې به سورة وَالضُّحٰى ووائ. اوپه څلورم رکعت کې به سُورَةُ أَلَمْ نَشْرَحْ ووائ
اود اخيره منافي ده. داول حکم سره د مصنف رح چې تطويل د رکعت اول په نفلو کې مکروه بولي
نَعَمْ، تطويل د رکعت اولى په فرض لمونځو کې لکه د سحار لمونځ مسنون اجماعًا دئ.
اوپه غير کې د فجر هم مسنون دی په نيز د امام محمد قاله السلاميني. وفي النهر عن المعراج
وعليه الفتوى.

د رويش ووائ چې حکم اول د مصنف رح په باره کې امام محبوبي اوامام ابو اليسر او ملا علي القاري
اود مختار ووائ چې نه دی مکروه لان النوافل امرها اسهل من الفرض، وهذا عند محمد.
اوپاته حکم ثاني سو په فرضي لمونځو کې متفق عليه دی» اوبعض عُلماء ووائ چې په نفلو کې داهم
نه دی مکروه، کما نقلنا عن مشائخ الطريقة **د ذريات والی اندازه**» مصنف رح خو په
مَراقي کې د ربي ايت تطويل مکروه بولي. اوکم تر دره ايتو تطويل د ثاني رکعت مکروه نه دی.
په حديث شريف کې د راغلی دی چې په يوه سفر کې آنحضرت صلى الله عليه وسلم د سحار په لمانځه
کې معوذتين وويله اوسره ددې چې قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ آه تر قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ آه
يوايت اوښه دی. اوامام زاهدي ووائ چې امام حلبي په هم تحسين کړه. او ووائ چې اندازه
د تطويل د مکروه په اعتبار د سُورتو مختلف کيږي. په قصار مفصل سُورتو کې د ربي ايت
تطويل کثير اومکروه دی. اوپه طوال مفصل کې پس اوه ايته لازيادة کسيرة دی او
مکروه نه دی. نو بناءً على ما قال الزاهدي د سوال نه واردېږي چې په صحيح حديث کې
راغلی دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم داختر و په لمونځو کې او د جمعې په لمانځه کې
په اول رکعت کې سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى آه اوپه دوهم رکعت کې «هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ
الْغَاشِيَةِ آه وايه اوسره ددې چې دوهم سورت تر اول ۷ ايته اوښه دی.

پوه سله: چې مصنف رح په مراقي کې په بيان کې د حکم ثاني چې تطويل د دوهم رکعت
په نفلو کې صحيح دی او داسې ووائ: الفرض بالاتفاق والتطويل في النفل على الاصح آه

د اصح مقابل صحيح دی نو دې ته اشاره ده چې تطويل د دوهم رکعت په نفلو کې صحيح
دی. نو دی ته اشاره ده چې تطويل د دوهم په نفلو کې صحيح دی. وهذا معمول الاكثر
العلماء في النوافل وعلى هذا اعتماد الفقير وان لم يكن اهلًا للفتوى ولكن سهولة
امر النفل حملني على هذا»

د رمضان د نفلي لمونځو په نورو احکامو نظر وکړو. نو به په نفلو د پيرسهولتونه او
اوآسانۍ ترفرض ووينو. فليكن تطويل الركعة الثانية على الاولى في النوافل ايضًا من
قبيل تلك السهولات» وقد اشار محمد الى بعض تلك السهولات في عدم كثرة تطويل
الركعة الاولى على الثانية في النوافل كما مرّ والله تعالى اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب

قال المصنف رح **وَتَكْرَارُ سُورَةٍ وَاحِدَةٍ فِي رَكْعَةٍ وَاحِدَةٍ مِنَ الْفَرْضِ**

اوغه نګه مکروه دی مکرر وئيل ديوه سورة په يوه رکعت کې د فرضي لمانځه **مسئله**: تکرار
د سُورة په دوو رکعتو کې هم مکروه دی لکن کې بل سورة پياد وه. اوکې بل سورة پياد نه وه لکه بعض
عوام چې بيله «قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ» په بل سُورة نه وي پياد واجب ده چې هغه سُورة به مکرر وي
ولې چې ضم د سورة د فاتحې سره واجب دی کما مرّ» وجه د کراهت به په دوه رکعته کې داده چې
داسې د عصر نبوي څخه نه ده راغلې. **سوال**: په حديث نبوي کې داسې راغلی دی چې
آنحضرت صلى الله عليه وسلم په اول رکعت کې د مابنام د لمانځه سورة الزلزال ووايه. اوپه دوهم
رکعت کې هم هغه سورة ووايه **جواب** عليه الصلوة والسلام قصدًا دپاره د بيان د جواز
پيرته هغه سورة ووايه په دوهم رکعت کې مکرر کړې.

مسئله: که سړي په اول رکعت کې يو سورة ووايه او بيا يې هيرسوه چې ما کوم سورة ووايه
نو په دوهم رکعت چې سورة شروع کړي ورپياد سوه چې داسورت خو ما په دمخه رکعت کې
ووايه. نو پس پوره دی کړي او داسورت دی نه پريږدي: لقوله عليه الصلوة والسلام إِنِ
افْتَتَحْتَ سُورَةً فَاقْرَأْهَا عَلَى نَحْوِهَا **پوه سله**: چې مصنف رح قيد د فرضي لمانځه
ووايه ولې چې تکرار د سورة په يوه رکعت يا په دواړو رکعتو کې په نفلو کې مکروه نه دی لان شآ
اوسع:

ولې چې حال د نفلو فراخ دی. او په صحیح حدیث کې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم
یوه شپه د تهجد په لمانځه کې تر سحاره یوازې دا یوه آیت «إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ»
الآیة اودیرو سلفو صالحینو څخه نقل سوی دی چې دوی به ټوله شپه په یوه آیت د
خوف یا آیة الرجاء، یا آیة العذاب، یا آیة الرحمة» سره رونړوله. قال المصنف

وَقِرَاءَةُ سُورَةٍ فَوْقَ الَّتِي قَرَنَهَا

اودغه رنګه مکروه دی و یل د یوه سورة یعنی په دوهم رکعت کې چې فوق یعنی د څخه وړې تر هغه سورة چې ده وېلې وی یعنی په اول رکعت کې. مثلاً یوسړي په اول رکعت کې قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ آه ووایه نو په دوهم رکعت کې قرائت د تَبَّتْ يَدَا آه مکروه دی. چې ودې ته منکوس وائي. «چې ابن مسعود رضی الله تعالی عنه په دې باره کې وائي: مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ مَنْكُوسًا فَهُوَ مَنْكُوسٌ» کې چا ووایه قرآن شریف چې یعنی د اخیر څخه نو هغه سړي سر چې سړی دی

پوښتنه: په پاره عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ کې قوله سورتونه منکوس وېلې کیږي **جواب** هغه د پاره د آسانۍ پرکوشنیانو دی چې ده قصار و سورتو حفظ او وینا آسانه ده تر لویو سورتو. او په لمانځه کې هغه ترتیب وېل مکروه دی. حتی چې د قرآن وېل منکوس په کراهت کې بالادی تر تکرار د سورة په دوه رکعتو کې. علماء او فقهاء وائي که د چا فهم نه وو په اول رکعت کې قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ووایه په دوهم رکعت کې دی هم د غه سورة وواځي. قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ دی نه وائي. اوکه چا قصداً په اول رکعت کې قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ ووایه په دوهم رکعت کې به هم د غه سورة واځي که څه هم تکرار مکروه لا نه بیږي. ولې چې کراهت د منکوس وېلو بالادی تر کراهت د تکرار السُّورة فی الرکعتین.

فائده: په اشباه والنظائر کې وائي چې په نفلو کې قرآن مبارک منکوس وېل مکروه نه دی. ولې چې دائره د نفلو فراخه ده. او امام غزالی او هم دی هم د اخبره تائید کړیده او د امام ابو اللیث څخه هم منقوله ده. او هم پرد غه خبره یقین کړی دی. بحر رائق او در مختار او غیرهما. لکن نقل الامام الطحطاوی عن بعض الفضلاء ولم یسمیه» هغه فاضل وائي.

چې د هغه خبرې څخه د مراقي چې نکس د پاره د تعلیم الاطفال دی دا معلومیږي چې د قرآن مبارک منکوس وېل خارج الصلوة هم مکروه دی. لکون الترتیب من واجبات القرائة نو په نفلو کې چې لمونځ خو دی په طریق اولی باید نکس مکروه وي، او دائره د نفلو کې فراخه خو مطلقاً نه ده بلکه په بعض احکامو کې ده:

قال المصنف

وَفَصْلُهُ بِسُورَةٍ بَيْنَ سُورَتَيْنِ قَرَأَهُمَا فِي رَكْعَتَيْنِ

اودغه رنګه مکروه دی جلا کول د مصلی په یوه سورة سره په مابین کې د دوو سورتو چې د دوو ېلې وی هغه دوه سورته په دوو رکعتو کې. حاصل یې دادی چې لمونځ کوونکی په اول رکعت کې یوسورة ووایه. او په دوهم رکعت کې هغه متصل سورة پریږدي، بیا سورت بیه ووایه داسې فعل مکروه دی. او بعض فقهاء وائي چې دا د مابین سورة چې ده پریږدي که اون دوو یعنی لس ایت ترهغه وو بیا مکروه نه دی. ولې چې په فقه شریفه کې وائي چې دوه سورته لنډ که په مابین کې پریږدي دی مکروه نه دی نو دا یوسورة طویله چې ده پریږدي په څای کې د دوو لنډو سورتو د پریږدی قاله البحر الرائق وینبغی ان یفتی به» ط، بحر، در قال المصنف

وَشَمُّ طِيبٍ لِقَصْدٍ وَتَرْوِيحُهُ بِثَوْبِهِ أَوْ مِرْوَحَةٍ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ

اودغه رنګه مکروه دی بوی ول د خوشبوئي په قصد سره او باد کول په لمن یا لنګوټه وغیره سره پرځان باندې. او یا پیک وهل پرځان یووار یا دوه واره. **پوښتنه:** د شم طیب مطلب دادی چې د خوشبوئ عطرو بنیښه وړه ترو نسی او بوی ځ کړي. او کې عطرو څخه تر لمانځه په ځان پورې مښلی وه او هغه خوشبوئ په لمانځه کې د ده تر پښو پورې رسیدله هغه کراهت نه لري **مسئله:** که سړي د سجدې ځای په عطرو وهلی وو او یا د عطرو د بنیښې سر خلاصی د سجدې ځای ته نږدې ایښې وه چې په سجده کې خوشبوئ پرځی دا کار هم مکروه دی. او کې د عطرو بنیښه پلاس کې نیولې وه او په لمانځه کې یې ګړي ګړي بوی ټوله لمونځ په فاسد دی. ولې هرڅوک چې دی په دغه فعل کې وویني یقین په رائی چې

داسې پرلمانځه نه دی. او بعض شراح د منیة المصلی وائی که دا کار په عمل کثیر نه وی لمونځ
په نه دی فاسد ط، او یا د کول پرځان باندی په لمن وغیره سره یو وار یا دوه واره که څرم
عمل قلیل دی مکروه دی. او کی دری واره لمن وو هله چې اندازه د عمل کثیر ده لمونځ به فاسد
دئ. او په نورو کی وائی که پیک یه یو وار پرځان وو هی لمونځ به فاسد دئ، بخلاف
الثوب چې هغه مکروه دی چې دری واره تر نه وړ سیږی. ونقله رضی الدین فی المحیط عن
المنتقی، **مسئله**: په لمانځه کی بچان یا غوښتی د ځانه څخه شړل مکروه دی مګر کې مصلی
په عذاب کی نو په عمل قلیل دی وشړي. **پوښتنه**: چې په کور یا مسجد کی باد پکه، وه
یا هوائی یا زمینی چې باد یې پر مصلی مښتی کراهت نلری که څرم د ده کالی وړ نږدې.

قال المصنف: **وتحويل أصابع يديه أو رجليه عن القبلة في السجود وغيره**

اودغه رنګه مکروه دی اړول یعنی چپول د ګوتو د لاسو او یا د پښو د جهت
څخه د قبلی په سجده کی یا په غیر کی د سجدی. ولې چې په دې ترک د
موضع مسنون دئ. لقوله علیه الصلوة والسلام: فلیوجه من اعضائه الی القبلة
ما استطاع، د ما استطاع قید یه دی دی پاره دی چې د بعضی اندامو مخامخ والی وقبل
ته ممکن نه دی لکه شاه، اولوړه خواد سرې او کښته خواد سرې. قال المصنف:

وترك وضع اليدين على الركبتين في الركوع

اودغه رنګه مکروه دی نه
ایښودل د لاسو پر زنګنو په رکوع کی. وزاد علیه فی المراقی. اودغه رنګه مکروه دی نه ایښودل
د لاسو پر ورنو په مابین کی د دوو سجدو، او په وخت کی د التحیات، اودغه رنګه مکروه
دی پر ایښودل د ایښودلو د راسته لاس پر چپه لاس په وخت کی د ولاړی: د دی ټولو دلیل
دا دی چې په دی کی ترک د سنت لازمیږی نو کراهت د ټولو تنزیهی دی، م ط،
د روښانه وائی چې د دی مکروهاتو نه یا ټولو څخه د مراقی دا معلومرسوه چې مصنف چې په
سرکی د فصل ووئیله چې مکروهات د لمانځه ۷۷ هغه تقریب وو حصر نه وو، کما نبه علیه

فی المراقی هناك بقوله تقریبا لا تحدیدا، قال المصنف:

والتثاؤب اودغه رنګه مکروه دی اسړۍ په لمانځه کی. ولې چې دا علامه د تکاسل
او د پرخورك ده غالبا، **مسئله**: که پرسړۍ، اړ یږی غالبه سوه نودی د خولې پټینګه
کړی که څه شونډان په غاښونو پټینګوی. او که اړ نه یږی په غاښونو دفع کیدلو نودی د راسته لاس
شادی پرخولې ونسی. او یا دی لستونې پر ونسی که په هال کی د ولاړې وو. او په ناستی وغیره کی
دی چپه لاس پرخولې ونسی. په حدیث شریف کی راغلی دی: چې خدای مکروه ګڼلی اړ یږی،
پس چانه چې اړ یږی ورسی هغه دی ردکړی او لاس دی پرخولې ونسی **مسئله** که دفعه د
اړ یږی د شونډو په نه ټینګیدو سره کیدلو پرخولې لاس ایښودل مکروه دی، ط، ن، ولې چې خولې
پټول په لمانځه کی مکروه ده مګر ضرورت له سببه، س، قال المصنف:

وتغميض عينيه اومکروه دی پټول د ستر ګو په لمانځه کی. لقوله علیه الصلوة
والسلام اذا قام احدکم فی الصلوة فلا یغمض عینیه،
ولې چې په پټولو کی کتل د محل مندوب ته چې ځای د سجدې دی یا ځیر دی په ولاړې او ناسته
کی فوت یږی نو چونکه صریح نهی راغلی دی نو کراهت تحریمی دئ. لکن په بحر ایق کی وائی
چې شائی د اکراهت به تنزیهی وی چې بیله ضرورت او مصلحته وی.
د رولیش وائی چې داخبره منافی ده د هغه قانون سره د چې صریح نهی دلالت پر کراهت تحریمی
کوی کما مر مرارا عن ط وغیره بل عن البحر ایضا: والجواب چې د هغه حدیث په سند کی ضعف
دی کما فی البحر، **فائده د ستر ګو پټولو**: ۱ داچې ستر ګی د دې پاره پټې کړې له
دی سببه چې نظر یه پریږدو اسی شئ واقع کیدی چې مانع د خشوع وو، نهر، ۲ چې کمال
خشوع یه بیله پټو ستر ګو نه سوای کولای، د، ط، ۳ غرض د پټولو د ستر ګو دده داوو
چې نظر یه داغیارو څخه قطع سی او توجه یه یوازی و ملك غفار ته سی بحر الانهر ط، قال

ورفعهما للسماء اودغه رنګه مکروه دی پورته کول د ستر ګو و طرفته د اسمان په
لمانځه کی لقوله علیه الصلوة والسلام: ما بال اقوام یرفعون

ابصارهم الی السماء: څه حال دی د بعض اقوامو چې پوښتنه کوی ستر ګی وطرفته د اسمان لِيَنْتَهِيَنَّ - یا به دوی نهی کیږی د دغه عمل څخه اَوْ لَتُخْتَطَفَنَّ او یا به حمله کیږی د ابصارهم ددوی ستر ګی. د رولیږونکی چې د دغه وعید شدید څخه تحریم معلومیږی. او اجماع دامت پردی ده چې دا فعل په لمانځه کی مکروه دی.

مسئله: دباندی ترلمانځه د دعاء په وخت کی ستر ګی واسمان ته پورته کول په نیز د جمهورو روادی. ولی چې اسمان قبله د دعاء ده ګله چې کعبه شریفه قبلة الصلوٰة ده. افاده العلامة نوح، کذا قال الامام الطحطاوی. قَالَ **وَالتَّمَطِّیْ** اود غږ ونګه مکروه دی کشش کول په لمانځه کی. مراقی په علت داوائی چې تمطی د تکاسل اوسستی په عبادت کی علامه ده نومکروه تنزیهی ده» ط، قَالَ **وَالْعَمَلُ الْقَلِيْلُ** اود غږ ونګه مکروه دی عمل قلیل په لمانځه کی. لکن هغه عمل قلیل چې منافی د لمانځه سره وی لکه کښل د ویښته دبیری یا سر وغیره. اویا ویشتل د غشی په صلوٰة الخوف کی. یا د مصلی بی ضرورته تګ» علامه طحطاوی وَاَمَّا الْمَطْلُوْبُ فِيْهَا فَهُوَ مِنْهَا كَتَحْرِيْكِ الْاَصَابِعِ لِعَدِّ التَّسْبِيْحِ فِی الصَّلٰوةِ یعنی که چیری د عمل قلیل مطلوب وو په لمانځه کی نو هغه د لمانځه قسمه څخه دی لکه ګوتی شمیرل د تسبیحاتو لکه په صلوٰة التسبیح کی.

پوښتنه چې په ډیرو کتابو کی د فقه حنفی د اسی وائی چې شمیرل د تسبیحاتو په ګوتو سره په صلوٰة التسبیح کی مکروه دی فما وجه الجمع بین ما قالوا وقال

جواب چې عبارت د فقهاوو محمول پردے دی چې ګوتی خلاصوی اومتوی په دې باره د حساب د تسبیحاتو د صلوة التسبیح. او دابی له شکه مکروه دی. او مراد د طحطاوی چې ګوتی صرف نه دی. وهو وجه التطبیق هدیت الیه بالتوفیق فلیکن منك علی ذکر. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاَخْذُ قُمْلَةٍ وَقَتْلُهَا اود غږ ونګه مکروه دی، د احتشل د شپږی او بیا یه وَزْلَ لکن د اهلته مکروه دی چې مصلی ته ازار نه رسوی. او کی ازار ورسوی یعنی مصلی ئی خوړی اود لمانځه د خشوع څخه ئی ایستلی وی او هغه ځای

درد هم کاوه نو یه نیول او وزل روادی. لکن دوینو څخه د ځان ساتی ولی چې امام شافعی په وینه مردار بولی. **پوښتنه**: د امام ابو یوسف څخه روایت دی چې اختتل شپږی او وزل دهغی په لمانځه کی مکروه دی

جواب چې هغه روایت محمول پردی دی چې قصدا د بیله عذره» قاله الحلبی:

پوښتنه: چې د کیکی، غماشی، میږی، مچ، هر دا غسی حکم دی په عذر او ایذاء کی او بیله عذره فافهم.

مسئله: چې شپږی د سر د زهیر کړی اوده وینوله نو یا د قتل کی او یا د بنخه کړی والدفن اولی. لکن دا په غیر کی د مسجد او په مسجد کی په لمانځه کی که په عمل قلیل وزل کیدله مړه د کړی او ژوندی د پے نه ایله کوی لان الموذیات لاتطرح فی المسجد» او کی مړه کړه پوستکی د پی په مسجد کی نه غورځوی» ط

وَتَغْطِيَةُ اَنْفِهِ وَفَمِهِ وَوَضْعُ شَیْءٍ فِیْ فَمِهِ يَمْنَعُ الْقِرَاءَةَ الْمَسْنُوْنَةَ

اود غږ ونګه مکروه دی په لمانځه کی پټول د پزی او د خولې یعنی په تکره وغیره سره چې الحضرت صلی الله علیه وسلم د دغه پټولو څخه منع کړیده کما مَرَّ اود غږ ونګه مکروه ده ایښنو ول د شئ په خوله کی چې لمونځ کوونکی منع کوی د قرائت څخه پر وجه مسنونه باندې.

پوښتنه: چې د دی مسئلی تفصیل دا سی دئ چې په خوله کی نیولې شئ یا به داشئ وی چې نه ویلیږی لکه سره زر، وغیره نو دغه شئ منع کاوه لمونځ کوونکی د اصل قرائت څخه، اویا په قرائت کی د اسی تغییر راځی چې لمونځ په فاسدیدی نو لمونځ د ده فاسد دی. او که دغه شئ منع کاوه قرائت واجبه نو د دغه شی څخه لمونځ مکروه تحریمی دئ. او کی قرائت مسنونه منع کاوه نو د دغه شی وضع مکروه تنزیهی ده. او که دغه شی د اسی وو چې په خوله کی ولیدئ لکه ګوړه، بوره، پلمیټ، وغیره نو کی د هغه شی او به تیری کړې لمونځ یه فاسد دی که څه هم بیله ژوولو تیری کړی، س، ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالسُّجُوْدُ عَلٰی كَوْرِ عِمَامَتِهِ

اود غږ ونګه مکروه دی سجده پر وله د لنګوټی باندی. اود اکراهت تنزیهی دی. ولی چې په

حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم دپاره دبیان دجواز په لمانځه کی پروله دلنگر فی سجده وکړه. **پوه سه**: چی که ضرورت وو لکه دپیر گرمی اویا دپیر یخنی وه اویا لمانځه دپیر زیر وه نو بیا کراهت نسته، او تکبرا مکروه ده، مراقی عز. قال المصنف **وعلی صورة** او داغه رنګه سجده مکروه ده پریت باندی، لکن چی ذی روح شئ وی کما فی المراقی. ولی چی په دی کار کی مشابهت دعبادت سره دبت دی. نو د درختی وغیره پرصورت باندی سجده نه ده مکروه **پوه سه** چی دصورت چی د ذی روح وی په مسئله کی تحقیق او تفصیل ته ضرورت نسته. نوغوښ و نلیسه زده یه کړه او عمل هم په کوه. **افسوس** په اوسنی زمانه کی بعض کوټ والا خلګ اویا پیشینی کسان چپلو کورو کی په الماری کی. او یا پرسر تاخو دقیمتی پروخته مجسمی بتان، د نرمریانو، دنورو حیواناتو یه اشی وی. او په عمومی کورو کی د مسالی مجسمی، دپیلانو، زمریانو، او د نورو اقسامو د حیواناتو پرسر تاخو او الماریو کی معلومیږی. او د کورد کچنیانو د پاره دغه مجسمی دبازار څخه رانیسی. نو اشد د دغو بتانو هغه دی چی دلمونځ کوونکی ومختوی. او بیا هغه بت چی پرسر یه برابروی. او بیا هغه بت چی ترشاوی. فقهاء حضرات بت دوه قسمه بولی.

بت دوه قسمه دی: یو مجسمی، او بل ظل شمسی، چی عکس اویا فوتو یې بولی د دواړو حکم یو دی په حرمت کی چی پوره وی. اوګه سر یه پرې وو بیا یو لا حرمت نه لری او هغه خبره چی طحطاوی مصری په خپل مجسم تفسیر القرآن کی کړیده چی د ظل شمسی بت او عکس حرمت نه لری. نو ځکه دده تفسیر په دغو بتانو د لمانځه دی پرهغه مذهبی کسانو او علماوو د تولې نړۍ، د کړی دی خصوصا علماوو د قندهار افغانستان چی هغو د دی خبری په رد کی مکمله رساله جوړه کړیده. او د دغه تصویرونه او عکسونه یه د قرآن شریف اهانت ګڼلی دی.

پوه سه: چی په مجسمو کی خو اعتبار سر لره دی. چی سر یه پاتی وی نو کی پښی او لاسونه پرې وی هم حرام دی. او د ظل شمسی په عکسو کی بعض فقهاء دا فتوی ورکوی

چه دا عکس تر دا سی ځایه پوری وو چی انسان چی پرهغه ځای پری کړی بقا نسی کولای ی خو هم سر باقی وی. لکه پرمروجو لوتو، اویا پر پاسپورتو، او نور مثالونه، نود دا سی عکسو د رلودل د ځانه سره حرام ندی، «ان الضرورات تبیح المحظورات» او هغه عکسونه د بنځو یا نرو چی په مکمله توګه د پته فروشیوپه، د وکانونو کی د فاحشا تو پیځو څرګیږی د هغو په حرمت کی هیڅ شک نسته، اویا په اوسنی زمانه کی په وی سی آر و کی چی بیخی د لخوسر تر پایه بنځو او نرو عکسونه بنکاره کوی ستی چی د اجماع عکس یاد بنځی د لنګید و عکس هم په کښی وی. د دی په حرمت کی هیڅ شک نسته او وریسته ګټلو کی یه ګناه کار دی. وعلی هذا فقس الآلة المسماة بتلویزون فی بعض الامور فتدبر.

فائدة فقهاوو تصریح کړیده که چیری تمثال یعنی بت تر پښو لاندی وو او یا په ځای کی د ناستی وُو پرهغه کی کراهت نسته. ولی چی د اهانت د تمثال دی تعظیم نه دی.

سوال چی په حدیث کی د جبرئیل علیه السلام راغلی دی «إنّا لا ندخل بیتًا فیه کلب ولا صورة»، نود دغه حدیث په عموم کی خو ما تحت الرجلین بساط هم داخل دی نو بیا یدهغه مکروه سی.

جواب د دغه حدیث مخصص موجود دی چی یو وخت حضرت جبرئیل علیه السلام اجازه وغوښتل د علیه السلام څخه د حجری دورتلو. علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل «أدخل» جبرئیل علیه السلام منع وکړه او وی وئیله: کیف ادخل وفی بیتك ستر فیه تصاویر، فان کنت لابد فاعلًا فاقطع رؤسها او اقطعها وسائد او اجعلها بساطًا.

سوال د دی جواب څخه خو دا معلومیږی چی که بت په بساط کی وی که څه هم په ځای کی د سجدی وی باید کراهت ونه لری.

والجواب ان فی هذه الصورة فیه تشبیه بعباد تها حالة الرکوع والقیام وغایة تعظیم لها ان سجد علیها، ط در.

فائدة: امام طحطاوی والی چی په دی موضوع کی چی صوت د حیوان پرد راهم او د نانیږی یعنی کافی نقش وی. آیا دا مانع د دخول څخه د ملکو ګرځی او که څرنګه؟ قاضی عیاض په شفاء کی والی چی مانع نه ګرځی. او امام نووی په شرح کی د مسلم والی

چې مانع نه وي. ژړو ډنې وائي چې فتوی پر قول د قاضي عياض ده لضرورة التأسي في حفظ الدراهم والدنانير في الدور والبيوت: او ملا علي قاري په شرح کې د مشکوة د امام خطابي څخه نقل کړي او ابن الملک څخه هم چې ملا ئکه چې نه داخليږي کورته چې په هغه کې سپي يا صورتونه دي چې په کور کې ساتنه حرامه وي لکه د جنګ سپي يا خندرک کې پاوس نه ساتنه کې. يا مجسمه د زمريا نو وغيره کما مر ذکره يا د ظل شمس مکمل د ليږد رانويا پلاس، وغيره، او کې ساتنه په کور کې رواوه لکه د بنکار ساتنې سپي او يا د کښت او پالیز او باغ د ساتنې سپي او يا د کور د ساتنې د پاره د غلو څخه، او يا هغه صورتونه چې ټر پښو لاندې کيږي او يا د تکيه په بالښتانو کې وي هغه د خول د ملکونه منع کوي وهغه کورته

د ياد ورخبره

مراد د غوملکو څخه چې کورته نه ورځي په سبب د وجود د سپي يا په سبب د صورت د ملکو د رحمت دي. ولې کراماً کاتبين، چې حفظ ريه بولي د سړي څخه نه جلا کيږي مګر نه هغه وخت که سړي چکر وهي. او يا د مانيني سره جماع کوي. بايد د مذهب څخه د قاضي عياض سړي دا نه فهموي چې عکسونه احتسل نور وادي بلکه بيله ضرورته لکه د پاسپوټ د پاره يا د جواز تجارت د پاره وغيره عکسونه احتسل نا روادي، لکه نوعاً من التعظيم»

غلطيا: بعض عوام مريدان د خپل پير عکس مکمل واخلي او په ښه ډاډه کې وڼسي او په کور کې ښه په احترام وځړوي د اسخته ګناه ده. او تشبه ده د قوم نوح عليه الصلوة والسلام سره چې هغوا ولاړ صالحانو خلګو عکسونه بې د پاره د عبرت په کور د کې ايښودل رفته رفته اخيريه عبادت د هغو شروع کړې. قال المصنف

والاقتصار على الجبهة بالاعذر بالانف

او د هغه مکروه دي يوازې پر تندي سجده کول چې په پزه کې عذر هم نه وي. او کې پزه

ښکې يا خو ښه يې ډل بيا نو اقتصار پر تندي روادي بلا کراهته، مراقي وائي لترك واجب ضم الانف الى الجبهة في السجود فيكون الاقتصار المذكور مكروه تحريماً» او د غه رنګه مکروه دي يوازې پر پزه سجده بيله تندي په نيز د امام اعظم رحمه الله هم عذر نه وي يعني سجده په روا ده سره د کراهته» او يارانو وائي چې بيله عذره په تندي کې سجده په روانه ده

قال المصنف

والصلوة في الطريق والحمام

اوپه حمام کې لمونځ کول.

په لارکې خو دي سببه چې لارو عاموخلګو حق ده او ده ور څخه مشغوله کړه. او بل خلګ په نيږدې څخه منع کوي، او بل د مصلي زړه پرې خلګو سره مشغوله کيږي نو خشوع ته د لمانځه ټاوان دي، قال شارح المشكوة چې د اکراهت چې دي په کلوا و قريو کې دي چې د خلګو عبور او مرور په لارو کې وي. او په صحرا او دښتو کې انزلري لعدم العلة للكراهة هناك.

لپوه سره: چې د حمام د لمانځه د کراهت وجه بعض فقهاؤ دا وائي چې د اهل دي د ازالة د نجاساتو. او ځای دي د اوبو تويولو د غسلونو. کد اعلت وي نو که يو سړي په حمام کې يوځای په پاکوا و بو پريمنځي نو لمونځ بيا مکروه نه دي. وهذا مذهب قاضيخان رح و بهذا جزم الكمال في زاد الفقير. او بعض فقهاؤ يې علت دا بولي چې حمام متراوما وي د شيطانانو دي» کما روي ان ابليس لما بسط الى الارض يعني شيطان چې راښکته سوا و د سليمان څخه وځکي ته راشوه سو. نو خدائ ته ئې خواست وکې چې ماته يوه خونه راکړي خدائ ورته وويل چې ستا خونه يې حمام. شيطان ورته وويل چې ماته د ناستي ځای راکړي خدائ ورته وويل ستا د ناستي ځايونه بارارونه دي. ابليس ورته وويل ماته ملګري راکړي. خدائ ورته وويل چې ستا ملګري شاعران دي يعنې هغه شاعران چې د فسق او فجور غزلي جوړه وي يا په بنځو پوري يا په هلوکانو پوري. لکه شاعران د زمانې د جاهليت. نو پردي تقدير که څوك په حمام کې د يوځای پاك پريولي هم لمونځ په کښې مکروه دي

لپوه سره چې سړي بايد په حمام کې لمونځ ونه کړي مګر د جهته د ضرورته د فوت د وخت د لمانځه:

مسئله: په هغه ځای کی چی حمامی کښینی او خلک کالی کیږی لمونځ مکروه نه دی ولی چی نه داځای محل د نجاستو دی اونه مقرد شیطانانو دی: قال المصنف

وفی المخرج اود غه رنګه مکروه دی لمونځ په مکان کی یا په اصطلاح تشی کرخه لرونکی کوډه هم په کښی پروت وی. ولی چی اصل وضع د دی ځای دغولو بولو کولود پاره دی. نو عبادت خصوصاً لمونځ په کښی مکروه دی» قال المصنف

وفی المقبرة اود غه رنګه لمونځ مکروه دی په ادیره کی. ولی چی په دی کی تشبه د یهود و او نصارا وو سره دی. قال صلی الله علیه وسلم لعنة الله علی الیهود والنصاری اتخذوا قبور انبیائهم مساجد.

طحطاوی وائی چی که قبرونه نوی وی او یا ترشاوی او یا د سړی تر پښولاندی په زیر خانه کښی وی. قال ویستثنی قبور الانبیاء علیهم السلام - نود دوی په مقبره کی لمونځ مکروه نه دی ترهغو چی د قبلی وخوا نه نه وی» لانهم احیاء فی قبورهم؛ قال شارح الشکوة چی نبی اسمٰعیل علیه الصلوٰة والسلام په حطیم شریف کی ترمیزاب الرحمة لاندی دی. او په مابین کی د حجراسو اود زمزم د څاه قبرونه دا و نیا نبیا نودی. او سره دی چی دغه دوه ځایه نبه ځایونه د لمونځود ی. او قهستانی د کتاب الجنائز څخه د مضمرات نقل کوی چی وجهت ته د قبر لمونځ مکروه نه دی مګر هغه وخت چی د پیر نژدی ورته ولار دی حتی چی که مصلی هر څود خشوع لمونځ کوی خو بیا هم په ستر ګی پر قبر واقع کیږی. زړوښ وائی چی قهستانی د روایت څخه دا معلومه سوله که قبر تر شا د مصلی وی نو لمونځ مکروه نه دی، وهذا خلاف ما قال الطحطاوی کما مرّ. وعلی هذا» د مخته د قبر د میت صالح خلګ د لمونځ کوونکی ځای پریښ دی چی میت یې تر شا راځی. نو په ځای کی نفل مکروه نه دی. کما فی مقابر اولیاء هرات ومقابر صالحی غزنین» والله اعلم بالصواب:

پوښتنه: چی په یوه حدیث صحیح کی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی کړی دی د لمانځه څخه په اوه ځایه کی ۱ المزبلة یعنی خاك اندازد کوړو

۱ المجزرة اود اوښانو اویا غویو د قصابی ځای یو کی. د دی دوو ځایو علت د کراهت خو معلوم دی چی دا دوه ځایه محل د نجاستو اود وینو او خوشیو دی ۲ و المقبرة اوپه ادیره کی د دی د کراهت وجه ذکر کړه سوه ۳ وقارعة الطریق اوپه مابین کی د لاری د دی تفصیل هم د مخه تیر سو. ۴ ومعاطن الابل یعنی ځای د څوکیدو د اوښانو وقال یحیی بن آدم چی د لمانځه د اوښانو د ځای دا ده چی اوښان په اکثر کی یو پر بل حمله کوی. نو د دوی د جنګ څخه بیره د دی سته چی لمونځ کوونکی به تر پښولاندی کړی. د زړوښ وائی ولا اقل تر دی چی لمونځ کوونکی به په تشویش کی واچوی. او حضور د لمانځه به د لاسه ورکړی. ومعنی کونها من الشیاطین کما فی الحدیث النبوی انها علی خصلة الشیاطین فی النفار وتشویش خاطر المصلی»

پوښتنه: چی نهی د لمانځه څخه د اوښانو د ځای تنزیهی دی ط» د زړوښ وائی چی نجاست د ځای د لمانځه په بولو د دوی سبب د کراهت نه دی. ولی که د اعلت وائی نو په مرابض الغنم یعنی د پسو د سکونت ځای (ګاشونه) کی باید هم لمونځ مکروه وای ولی چی بیره د نجاست د ځای په بولو سره هلته هم موجود دی. او سره دی چی په حدیث شریف کښی راغلی دی چی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه سوه د لمانځه په ګاشو کی د پسونو. ده مبارك ۵ ورته وویل ۶ صلوا فیها فانها خلقت برکة» او دا امر صرف د پاره د اباحت دی. او د معاطن الابل د لمانځه څخه ئی نهی وکړی. یعنی په سبب د خوف د فتنی کار د الله

سوال: د ځای د غویو او غواوو د کومه قسمه څخه دی ط **جواب** وائی چی هغه په مرابض الغنم پوری ملحق دی نو لمونځ په هغه ځای کی مکروه نه دی» شارح الشکوة وائی چی په مرابض الغنم کی دی پر مصلی لمونځ کوی» یا په هغه ځای کی یوه دوکانچه وی چی آراسته د لمانځه د پاره وه او یا ده شپانه د پسو د اعادت دی چی د پسو ځای بی پاکه ساتی نو بیا لمونځ مباح دی په هغه کی. د زړوښ وائی که مرابض الغنم څخه بد بوئی ولاړ شی. نو په سبب د بد بوئی لمونځ په کښی مکروه دی که څه پر پاك ځای وی. قال مثل ذالك ابن الملك فی محل الابل»

فائده: قال العینیؒ فی شرح البخاری فی بحث المساجد من کتاب الصلوٰة، چی مکروه دی لمونځ په ... ت ځایونو کښی د یهودو او نصارٰی وو. ولې چی په هغو کی دوی عکسونه اینبی دی نو ځای د شیطانانو دی.

نود هندوانو په مندرو کی په طریق اولی لمونځ مکروه دی. ولی چی هلته څوک محسمی (بتانو) پرانه وی کړی هم سری وی بجسمه ته لمونځ نه کوی بلکه پر بل ځای یه کوی، قال المصنفؒ

وَأَرْضُ الْغَيْرِ بِلَا رِضَاهُ

اود غه رنګه لمونځ مکروه دی په محکمه کی د بل چا بیله رضا د هغه یعنی یا حقیقةً یه رضا وی لکه د کښت په محکمه کی حقیقةً رضا غواړی یا حکماً رضا وی لکه په شارع محکمه کی د یو چا،

مسئله: که سړی ته د لمانځه په وخت یوه ارض الغیر وه چی کښت هم نه وو پکښی اوبله لاروه. نو دی به چیری لمونځ کوی په لار کی به لمونځ کوی اوکه په هغه محکمه کی!

جواب: که محکمه د مسلمان وه په هغو کی دی لمونځ وکړی لوجود الاجازة حکماً او که محکمه د کافر وه نو په لار کی دی لمونځ اداء کړی، قال المصنفؒ:

وَقَرِيبًا مِنْ نَجَاسَةٍ

اود غه رنګه مکروه دی لمونځ نږدی د وځای ته د نجاست لان قریب الشئ له حکمه، قاله المراقی، درویش وائی چی اندازه د قرب داده چی یاد هغه نجاست بدبوئی پرده ولاړ یږی. او یا داچی که چیری دی په سنه خشوع سره لمونځ کوی هغه مرداری وینې، در، قال المصنفؒ

وَمُدَافِعًا لِأَحَدِ الْأَخْبَثَيْنِ أَوِ الرِّيحِ

اوپه داسی حال کی لمونځ مکروه دی چی لمونځ کوونکی د ځانه د دفعه کوی یوه اخبثینو یعنی غُل یا بولې او یا دفع کوی گوز یا پسکی یعنی چې لمونځ کوونکی پیر غولونیولی وی. او یا بولو. چی کُنه تینګه کړی. او چونکی د بولو د سبب په وړانو کی تینګ نیولی وی. او یا د نس بادیه کښته راشوه ښی. دی کُنه وړته تینګه کړی. وجه د کراهت یه داده چی د مُصلی تبوله فکر په دغو شیانو کی وی. د لمانځه خشوع چیری ده:

مسئله: که جماعت تیریږی هم د جماعت پریږدی خپل ځان د تش کی باد دے وباسی بیا دی اودس تازه کړی په فارغ زړه د لمونځ وکړی. او ظواهر الحدیث والاثار چی لمونځ یه په دغه حال کی صحیح هم نه دی. او دوی په ظاهر حدیث عمل کوی. وهو قوله علیه الصلوٰة والسلام لا یُحل لاحد یؤمن بالله والیوم الاخر ان یصلی وهو حاقن حتی یتخفف، حاقن، هغه سړی ته وائی چی غولو یا بولو نیولی وی. او د ا ذکر هم داغه دی. مونږ وایو چی داوعید تغلیظاً دی، ولی چی علت د کراهت په شغل القلب دی نو که د سړی فکر په لمانځه کی په دنیاوی امورو کی وی لمانځه ته یه هیڅ فکر نه وی نو هغه لمونځ دی هم باید صحیح نه وی. در،

فوائد شتی

محکمه که د کافر وه مطلقاً لمونځ په کښی مکروه دی. او که د مسلمان وه او کرلی یه وه او یا ئی یوې کړې وه لمونځ په کښی مکروه دی. که په مابین کی د لمونځ کوونکی او د صاحب الارض محبت او دوستی نه وه. او که د مسلمان وه نه کرلی او نه یوې سوې وه بیا لمونځ په کښی مکروه نه دی. ولی چی د مسلمان د حال څخه دا بنکاره کیږی چی دی په دې لمانځه کی راضی دی، ولی چی ده ته ثواب خدای پاک ورکوی بیله دده د عمله مګر که صاحب الارض بد اخلاق وو نو بیله اجازی لمونځ مکروه دی، په مختار الفتاوی او فتاوی هندیه کی وائی چی په مغصوبه محکمه کی خو لمونځ مکروه دی، ولکن د حق العبد عقاب ورکول کیږی،

مسئله: په مغصوبه جامه کی لمونځ مکروه دی که څه هم بله جامه نه وی، لعدم جواز الانتفاع بملك الغیر قبل الاذن او اداء الضمان ط، **مسئله** په ورېښمینه جامه کی هم لمونځ مکروه دی. او که بله جامه نه وه نو په دغه ورېښمینه جامه کی د لمونځ وکړی ولی چی دا د ولږ حق الله دی. لکن لمونځ په ثوب الحریر کی کول سپک دی تر لمانځه په لخته بدن سره لمونځ کولو سره. **مسئله:** پر ورېښمینه جامه لمونځ کول مکروه نه دی، قال المصنفؒ

وَمَعَ نَجَاسَةٍ غَيْرِ مَانِعَةٍ إِلَّا إِذَا خَافَ الْوَقْتَ أَوْ

اود غه رنګه لمونځ مکروه دی سره د نجاست خواه په جامه کی وی. او یا په بدن کی.

الْجَمَاعَةِ وَالْأَنْدَبُ قَطْعُهَا

اویا په مکان د لمانځه د اسی نجاست چې مانع د لمانځه هم نه وی یعنی په قدر د ربع الثوب په خفیف نجاست کې. او په قدر د درهم په مغلظ نجاست کې کما مر تفصیله» مګر هغه وخت چې مکروه نه دی لمونځ سړه د نجاست. که سړی سبیریدلی وی چې نه که نجاست پری منځم وخت د لمانځه وزې. او یا جماعت راځی تیریږی نو کې د اسی بیږه وه نود هغه نجاست سره د لمونځ وکړی. ولی لمونځ دوخته ځنځه ایستل خو حرام دی. او جماعت خو سنت مؤکده یا واجب دی علی اختلاف الروایتین» او که نه کړی بیا دی لمونځ وکړی:

پوښته: چې د مصنف د عبارت څخه د اسی فهمیږی چې په وخت کې د بیری د فوت الوقت یا فوت الجماعة نو هیڅ کراهت نسته، او امام طحطاوی وائی چې کراهت خو [illegible] کړی. مطلب دا چې لمونځ د نجاست غیر ما نع سره سپک دی. د لمانځه تر قضاء کولو اویا د جماعت تر پریښولو.

فائده: که لمونځ قضاء کیدی په هغه صورت کې چې مصلی مدافع د احد الاخبثین وو» یعنی چې دی ځان خالی کوی او بیا اودس تازه کوی وخت د لمانځه تیریدی. او یا په اوسنی صورت کې چې نجاست لری کوی وخت وتی» په دواړو صورتونو کې دی لمونځ نه قضاء کوی. ولی چې اداء ده لمانځه سره د کراهت اولی دی تر قضا کولو د لمانځه»

او په صورت کې د مدافعة الاخبثین که پر جماعت بیریدی چې تیریږی د جماعت دی پریږدی ځاند دی خالی کړی او بیا دی اودس تازه کړی او لمونځ دی انفراداً ادا کړی. او په صورت کې د نجاست د قطع کولو که پر جماعت بیریدی لمونځ دی د نجاست سره وکړی او جماعت دی نه پریږدی. فتامل فی الفرق بین العذرین. وجه د فرق په داده چې لمونځ کول سره د مدافعة الاخبثین بالادی په ګناه کې تر ترک د جماعت بخلاف ترک الجماعة لاجل قطع النجاسة

لقلیله ولی ترک د جماعت اعظم وزرا دی. **مسئله:** که د غه سړی ناامید در لودی چې د جماعت که تیرسی بل ځای جماعت تر سیږ مر نو لمونځ دی قطع کړی او نجاست دلیری کړی. او بل جماعت ته دی ولاړ سی. کذا فی الخلاصة» قال المصنف

وَالصَّلٰوةُ فِي ثِيَابِ الْبِذْلَةِ

اود غه رنګه لمونځ مکروه دی په کالو کې د خواری **پوښته** چې بذلة په زهیر د باندی وپه سکون د ذال دی. او پینتانه امامان یې په زور د باء وائی هغه غلط دی» چې د خواری مزدوری په وخت کې، د ګل کاری وغیره په وخت یې خلګ اغوندی. او یا یې د رنګمالان په وخت کې د رنګ مالی اغوندی. او یا اشپزان په وخت کې د اشپزی اغوندی، او یا یې مستریان په وخت کې د کار اغوندی وغیره الخ»

د دی کراهت وجه داده چې لمونځ په حضور د رب جل شانه د رسیدل دی نو یې د غسې ښه او [illegible] کلکه کالو کې باید وی. [illegible]

حکایت امیر المؤمنین حضرت عمر رضی الله عنه یو وخت یو سړی ولیدی چې مذکوره د ډول کالو کی لمونځ کاوه، نو امیر المؤمنین ورته وویل چې تا یو چاته استوم ایا ته په د غو کالو کې هغه سړی ته ورځې. سړی ورته وویل یا. نو حضرت عمر رضی الله عنه ورته وویل اَللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَتَزَيَّنَ لَهُ» وقد فسر بعض المفسرین قوله تعالی خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ» بهذا المذکور» قال المصنف

وَمَكْشُوْفُ الرَّأْسِ لَا لِلتَّذَلُّلِ وَالتَّضَرُّعِ

اود غه رنګه لمونځ مکروه دی په لخ سر لکن نه د عاجزی او خواری د پاره» بلکه د سستی او یا د تکبر د لاری په تجنیس کې وائی چې د اظهار التذلل والتضرع د پاره لمونځ لخ سر مستحب دی» مره

فائده: جلال الدین سیوطی وائی چې په دی کې اختلاف دی چې خشوع د زړه عمل دی لکه خوف او کداندامو نی دی لکه سکون او که د دواړو فعل دی» قال الرازی والثالث هو الاولی» وعن علی رضی الله تعالی عنه: الخشوع فی القلب»

نظام که سړلمونځ کوی دکهالی یه ؛ دغه لمونځ به دی مکروه تنزیهی وی
اوکه په لمونځ سړلمونځ کوی د تکبیر ؛ دغه لمونځ به دی مکروه تحریمی وی
اوکه په لمونځ سړلمونځ کوی دعاجزیه ؛ دغه لمونځ به دی ثواب اخروی وی
اوکه په لمونځ سړلمونځ کوی داستخفاف ؛ فقهاء وائی کافر سوبی اشتباه ؛ «درس» درویش باگناه اولیاء

قال المصنف

وَبِحَضْرَةِ طَعَامٍ يَمِيلُ إِلَيْهِ اودغه رنګه لمونځ مکروه دی په وخت کی دحاضر والی دخوراکی شی چی دسړی په زړه کی میل ورته کیږی. یعنی سودایه په بنده وی. ولی چی وږی وی. او یا طعام داسی طعام وی چی د لمانځه کولو تر وخت سړیږی اولی خوندیږی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام: لَاصَلٰوةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْاَخْبَثَانِ «ای لاصلوٰة کاملة» کذا فی الشرح رواه مسلم؛

سوال: په ابی داؤد کی داسی حدیث راغلی دی: لَاتُؤَخِّرِ الصَّلٰوةَ لِطَعَامٍ وَلَا لِغَيْرِهِ

جواب داحدیث محمول دی پر تاخیر د لمانځه دوخت څخه. ولی چی علیه السلام په یوه حدیث کی چی روایت یه بخاری اومسلم کړی داسی فرمائی. اذا وضع عَشَاءَ احدکم یعنی چی حاضره سی دما بنام دوډی. وأقیمت الصَّلٰوة» اواقامت د لمانځه هم شروع سی: فَابْدَؤُا بِالْعَشَاءِ» نوشروع په دوډی وکړی. وَلَا يَعْجَلْ حَتّٰى يَفْرُغَ اوتلواردی په خوراک کی هم نه کوی تر څوچی فارغه کیږی د دوډی څخه. وجه دکراهت یه مشغل دزړه دی په دوډی. اوعدم خشوع ده په لمانځه. ولهذا که دسړی دوډی تر دیر نرووږی اونه طعام موضوع خرابیدی. نوبیادی لمونځ دمخه وکړی» درط وقال

وَمَا يُشْغِلُ الْقَلْبَ وَالْبَالَ وَيُخِلُّ بِالْخُشُوعِ اودغه رنګه لمونځ مکروه دی په حضور کی دهغه شی چی زړه په مشغوله کیږی لکه زوړه تی ناوی سړی سفیده کړی وی ناسته وی. اویا خلل وخشوع ته وی. لکه لهو ولعب ساز و صحبت دشوقیانو غږلی اود تلویزون څپی وغیره ذالك» بعض خلګ بی بی سی BBC راډیویه چالانه کړی وی

هغه ذهنی پرخبرو یه غوږ نیولی وی اوهم لمونځ کوی. **شعر**: برزبانت یا صمد پیدا ودردل یا صنم ؛
ای باطن کافر ظاهر مسلمانی چه سود ؛

پوه سه: چی سړی چی جماعت ته روان وی مقامادی په لمانځه کی دی. نو دی سبب نه الحضرت صلی الله علیه وسلم نهی کړی دی د ورسټ څخه د لمانځه په حضور کی. ولی چی حضور کی مخل په خشوع سره ده.

پوښتنه: په آیت شریف کی دجمعی د لمانځه په باره کی داسی راغلی دی: فَاسْعَوْا اِلٰى ذِكْرِ اللّٰهِ» **جواب**: مراد د سعی څخه په هغه آیت کی تګ دی په سکینه او آرام اوو قار سره کذا قال المفسرون» اوبعض مفسرانو وائی چی مراد په دغه آیت کی سعی دزړه ده یعنی په شوق او محبت دجمعی لمانځه ته ځه. لا السعی بالاقدام» قال

وَعَدُّ الْاٰيِ وَالتَّسْبِيحِ بِالْيَدِ اودغه رنګه مکروه ده شمیرل دآیتو دقرآن اویاد تسبیحاتو په لاس سره

پوه سه: چی شمیرل دآیتو یاد تسبیحاتو په گوتو د لاسو. که لمونځ فرضی وی اوکه نفلی وی

پوه سه: چی شمیرل دآیتو یاد تسبیحاتو په گوتو سره دگوتو د لاسو مکروه دی په نیز د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله او په نیز دیارانو مکروه نه دی. اودگوتو دسړو په کنښیکبلو یا خپل ځای په اتفاق سره مکروه نه دی. اوپه نورو کی حساب ورته کول هم مکروه نه دی. اوپه خولو یا وده وغیره وییل منسد دی لمانځلره:

پوه سه: چی ضرورت وشمیرلو ته د تسبیحاتو په صلوٰة التسبیح کی سته چی هغه یوفاضل نفلی لمونځ دی. اصحاب السنن الاربعة» د عکرمه څخه اوهغه د ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت کوی: اَنَّ النَّبِیَّ صلی اللّٰهُ علیه وسلم قال للعباس رضی الله عنه ابن عبد المطلب یا عماه ای کاکا الف دپاره دمدصوت دئی. اَلَا اَمْنَحُكَ عَشْرَ خِصَالٍ» زهاته درو ښیمه لس خویه» اذا انت فَعَلْتَ ذٰلِكَ غَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ» که ته دغه لس فعله وکړی تا ته به و بخښل سی گناه ستا. اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ حَدِيثَهٗ وَقَدِيمَهٗ» که اوله گناه وی اوکه اخره. نوی گناه وی اوکه پخوانی، خَطَاَهٗ وَعَمْدَهٗ» که په قصد گناه وی اوکه په خطاء سره، صَغِيرَهٗ وَكَبِيرَهٗ» که صغیره گناه وی اوکه کبیره گناه وی.

سِرُّهُ وَعَلَانِيَتُهُ کہ پټہ گناہ وی اوکہ لخہ، أَنْ تُصَلِّيَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ چې تہ لمونځ وکړے
رکعت یعنی نفل، تَقْرَءُ فِي رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً، پہ هر رکعت کی وایہ الحمد لله
اویوسورۃ، فَإِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي أَوَّلِ رَكْعَةٍ، چې تہ فارغ سوی د قرائت څخہ
پہ اول رکعت کی: وَأَنْتَ قَائِمٌ قُلْتَ، اوتہ ولاړ یہ وایہ، سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا
إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ ۱۵ واړہ ثم ترکع فتقولها ۱۰ واړہ. اوبیا رکوع وکړہ پہ رکوع
کی لس واړہ ووایہ یعنی د مخہ تر تسبیح د رکوع یاورسته، ثم ترفع رأسك من الركوع
فتقولها عشرًا. بیا سر راپورته کړہ د رکوع څخہ اودغہ کلمی ووایہ لس واړہ. یعنی د مخہ ټر
سمع الله لمن حمده. ثم تهوي ساجدًا فتقولها عشرًا. اوبیا پریوزہ پر سجدہ لس واړہ دغہ
کلمی ووایہ یعنی د مخہ تر تسبیح السجود یا ورسته. ثم ترفع رأسك من السجود فتقولها
عشرًا. اوبیادی د سجدی څخہ راپورته کړی اولس واړہ دی ووایہ یعنی بین السجدتین
ثم تسجد فتقولها عشرًا. اوبیا دوهمہ سجدہ وکړہ پہ هغہ کی هم لس واړہ ووایہ. ثم ترفع
رأسك من السجود فتقولها عشرًا. اوبیا د دوهمی سجدی څخہ سر راپورته کړہ اولس واړہ پہ
ووایہ. یعنی د مخہ تر ولاړی ودوهم رکعت تر فذلك خمس وسبعون في كل ركعة، دانوہ تسبیح
سوی پہ هر رکعت کی. فضل ذلك في اربع ركعات، دغہ کار وکړہ پہ خلورو رکعتو کی چې
مجموع یې ۳۰۰ تسبیح جوړیږی. قَالَ عليه الصلوٰة والسلام: کردې پہ وس پورې وې
چې هره وخ یې وکړی خوهره وخ یې کوه. اوکه دې هغه د طاقت وتلی وی نو یې میاشت کی
یووار کوه. کردې سی هغه هم له طاقت نه وی. نو یې هرکال کی یووار کوه. فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ،
نو یې تهول عمر کی یووار وکړه.

فَائِدَه: سبط ابن الجزری حدیث د صلوٰة التسبیح پہ موضوعی حدیثو کی راوړی
دی. اود ایږدیږ بد کار کړی دی. ولې ابن حجرؒ وائی چې د دی حدیث تصحیح ابن خزیمہؒ او حاکم
کړی ده. او نور د محدیثو وئیلی دی هذا حدیث حسنٌ، اوترمذی یې هم روایت کړی دی
من حدیث ابی رافع وان قال هذا حدیث غریبٌ: اوعبد الله ابن المبارکؒ وائی چې صلوٰة
التسبیح مرغب فیها دی باید مسلمانان عادت ورسره ولري اوځندی غافل نه سی.

د اړونیز وائی دا آفت اوس عام دی چې پر صحیح حدیثو د موضوعی حکم کوی: والی الله المشتکی.

مسئله: کہ سړی پہ صلوٰة التسبیح کی سهوه سی نو دی سجدہ وکړی پہ سجدو کی
به هم دغہ تسبیحات وائی. عبد الله بن المبارکؒ وائی چې نه دی وائی ولې چې صلوٰة التسبیح
۳۰۰ تسبیح دی ولې.

فَائِدَه: د صلوٰة التسبیح دوهم کیفیت چې
پہ عمومی حنفیانو کی رواج دی هغه دادی: پہ اول رکعت کی ثنا سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ
۱۵ واړہ. او بیا چې الحمد لله او سورت څخہ خلاص سو تر رکوع د مخہ دی ۱۰ واړہ او پہ رکوع
۱۰ واړہ اوچې د رکوع څخہ راپورته سی تر سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ د مخہ ۱۰ واړہ اوبیا پہ
مابین کی د دوو سجدو ۱۰ واړہ. اوپہ دوهمہ سجدہ کی ۱۰ واړہ. د دوهمی سجدی څخہ
چې راپورته سی نا سته دا ستراحت دی نه کوی. سیده دی ولاړ سی. اوتر شروع
د الحمد لله د مخہ ۱۵ واړہ وعلی هذا افقس.

ضروری خبره: چونکہ صلوٰة التسبیح نفل دی نو د نفلو د قانون سره سم د هر
دمیانځ پہ نا سته کی خواه مخواه اللّٰهُمَّ صَلِّ آه وائی او د هر یم رکعت چې ولاړ سی سُبْحَانَكَ
اللّٰهُمَّ پرې وائی: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَقِيَامُ الْإِمَامِ فِي الْمِحْرَابِ

اود غه د نګه مکروه ده والړه د مُلا پہ محراب
کی یعنی چې ټوله بدن یې په محراب کی
وی او کی پښې د باندی وی او سجده پہ محراب کی کوله بیا خو کراهت نسته، او که
ځای تنګ وو پر مقتدیانو نو بیا که امام یک لخته پہ محراب کی وو دین ی هم کراهت نسته، ددی
د کراهت وجه داده چې پر قوم د امام حال مشتبه نه وی. **فَائِدَه**: محراب د حرب
څخه اخسته سوی دی چې پہ معنی د جنګ دی نو د غه ځای د شیطان سره د جنګ ځای دی.

سَوَال: جنګ د شیطان سره پہ لمانځه کی خو مقتدیان هم کوی نو ولې د امام ځای یوازې
محراب بولې؟ **جَوَاب**: هُوَ لکن چونکہ امام لکه قوماندان اعلی د جنګ دی نو ددې
سببه د ده د ریدو ځای ته محراب وائی. **پوښتنه**: چې دیرو کتابونو فقه شریفې
دلیل د کراهت مذکوره دا وائی چې پہ دی کی تشبه د اهل کتابو سره ده او د تشبه مکروه ده.

لکن علامه کمال الدین ابن الهمامؒ وائی چی تشبه داهل کتابو سره په بعض اوضاعو کی خو مکروه نده ولی چی دا تشبه اتفاقی پیښه شوه، اوبل دی وائی چی داهل کتابو عادت خو دادی چی امام پر مکان مرتفع باندی درینږی» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

اَوْعَلٰی مَکَانٍ اَوِالْاَرْضِ وَحْدَهٗ اوداهم مکروه ده چی امام پریږدلو پرځای ولاړوی او مقتدیان کښته» اندازه دلوړوالی یوګزدی علی المفتی به» اوداامام ابویوسفؒ څخه روایت دی چی اندازه دلوړوالی یوقامت دمیانه سړی دئ. اودامذهب مختارګړی دئ شمس الائمة الحلوانیؒ. لکن په دواړو مسئلو کی چی امام یوازی وی اوکه یوسړی دوه کسه نور ورسره ولاړوی بیا کراهت نسته» مرط در»

پوه سه: چی په مسئله کی دلوړیدو داامام خودابن مسعودؓ څخه روایت راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسّلام نهی کړی دی چی امام لوړپه یوشی ولاړوی والنّاس خلفهٗ: اوبل په دی کار کی تشبه داهل کتابو سره هم ده» وفیه نظر کما مرّ» اوپه دوهمه مسئله کی چی امام پرمحکه باندی یوازی ولاړوی او خلګ ورسته پسی ولاړوی خوکومه اشر نه دی موندلی سوی کی خو هم مصنفؒ په مراقی کی دعوه پسه کړی ده. لکن په شرح کی راغلی دی چی په کار کی تحقیر دامام دی چی یوائی ولاړوی. فکره علی ظاهر الروایة لکن اعلم النّاس په مذهب حنیفی الفقیه ابوجعفر طحاویؒ وائی. چی په دوهمه مسئله کی کراهت نسته، اوپه فتاوی خانیه کی وائی وعلیه عامة المشائخ». درویش وائی چی قدیمًا اوحدیثًا په دیارو کی زمونږ عادت پردی دی چی پرمحکه چی جماعت کوی امام یوازی دخو ولاړوی اود تحقیر سوال هم پیدا کی نسته» کما هو الظاهر فینبغی ان یفتی به» امام طحطاویؒ اونور فقهاء هم وائی چی مکروه ده سړی نه چی په مسجد کی دځان دپاره یوځای دلمانځه وتاکی چی همیشه په هغه ځای کی لمونځ کوی. ولی چی دغه ځای دپاره یاره دده طبع ګرځی او عبادت چی طبعی سی ترک یه اولی دی. نوځکه صوموا الابد (همیشه روژه» مکروه ده» طرس» قال

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِکَاتِبِهٖ وَلِوَالِدَیْهِمَا اَجْمَعِیْنَ

وَالْقِیَامُ خَلْفَ الصَّفِّ فِیْهِ فُرْجَةٌ

اوغه ونګه مکروه ده وَالْاَ یعنی پرلمانځه ترشا د صف چی په صف کی ځای هم وی. اوکه په صف کی ځای نه وو نوبیا کراهت نسته، لکن دا کراهت هلته دی چی دوه سړی قصد داقتداء وه په امام پسی» اوکی قصد دیوا څی لمانځه وو بیا په صف کی درید مکروه دی بلکه ترشا به درینږی. اوپه خلاصه کی وائی که سړی د صف ترشا یوازی ودریدی بیله ضرورت یعنی په صف کی ځای کی وو، اوپخپل اختیار داسی نه وو چی چاپه صف کی نه پریښو نولمونځ یه روا ده سره دکراهته. اوکی د دیره تلواره چی رکعت څنډی نیږدی تر شا ودریدی او بیا ځائ ته ورتیر سولمونځ یه مکروه دئ.

مسئله که په محکه یوسړی دامام سره ودرینږی اونور صف ترشا وی مکروه دی بلکه داسړی به هم په صف کی درینږی. فتح ط در **مسئله** که دسړی دخولی بوی تلی په یوسبب، یا چرسی وو، اویایه وزه خوړلی وه - اوپردی بیږیدی که په صف کی ودرینږم خلګوته به ازار ورسیږی. نو داعذر دی. یوازی دی ترشا ودرینږی که خو هم په صف کی ځای وی" در، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلُبْسُ ثَوْبٍ فِیْهِ تَصَاوِیْرُ

اومکروه دی یعنی په لمانځه کی اغوستل دد اسی جامی چی په هغی کی بتان وی لکن دذی الروح شی اوکه دیوی منارې یا غره یادرختی صورت پکښی وو نوبیا کراهت نسته، دغه صورت دذی روح کی په جامه کی د نقش په توګه وی او یا په کښی وَدَل سوی وی په هر صورت کی لمونځ په کښی مکروه دی اوکراهت هم تحریمی دئ» مراقی وائی چی علت یه دادی چی دغه مصلی لکه حامل الصنم دئ. **فَائِدَه:** ددی علت څخه ط در داسیجه گیری کوی چی داغسی جامه خارج الصلوٰة هم باید داغسی نه واغوندی» اونهر داخبره دخلاصه څخه نقل کړیده ط» **فَائِدَه:** هغه شی چی په قلم نقش سی اویاپه ظل شمس مړ هغه ته صورت وائی. اوهغه مجسمه چی پرصورت د انسان جوړه سوی وی یادلرګی څخه او یاسپینو زرو څخه او یادمرو زرو څخه هغه ته صنم وائی. اوهغه مجسمه چی

د دیږی څخه جوړه وی هغه ته وَثَنٌ وائی، وقد یطلق الصورة علی الجمیع، قال المُصنف

وَاَنْ یَّکُوْنَ فَوْقَ رَأْسِهٖ اَوْ خَلْفَهٗ اَوْ بَیْنَ یَدَیْهِ اَوْ بِجَذَائِهٖ

اودغه رنګه لمونځ مکروه دی چې دمصلی پرسر برابر اویا ترشا، اویا څنګ صورت وی مګر نه هغه

صُوْرَةً اِلَّا اَنْ تَکُوْنَ صَغِیْرَةً اَوْ مَقْطُوْعَةَ الرَّأْسِ

اَوْ لِغَیْرِ ذِیْ رُوْحٍ

وخت که دا صورت کښنی وُو چې دی پرځمکه پروت وی اوسرې والا وی تمیز د اعضاوو دصورت په نه سی کولای نکه دمیږی مچ وغیره صورة،

پوه سه: چې پرې راسته بغل یه وی اوکه پرچپه بغل یه وی هم لمونځ مکروه دی.

مسئله: کرسۍ لمونځ کاوه اودده سره روپۍ وې چې پرهغو عکس د بادشاه وو پرواه نه لری. ولی داد کښنی عکسو په حکم کې دی. اودغه رنګه که په ګتمی کې عکس وُو چې واضح نه معلومیدی پروا نه لری، محیط، په یوه روایت کې راغلی دی چې دا بوهریره رض پرګتمی ددوو موچانو عکس وو. **مسئله:** قطع د سر پوازی نه دی شرط بلکه چې صورت پرداسې ډول وی چې پردغه ډول ژوند نه نسی کولای مطلقاً هم پروا نه لری. نو ځکه کې لاسونه او یا پښې پری وی لمونځ ورسره مکروه دی. ولی چې انسان سره د قطع الید والرجل ژوند کولای سی.

مسئله: کې مُخ د صورت وَرخراب کې یا په پری وَلوسره قلمی وُو اویا په تراشلو سره اویا یه پرمخ ژاولی ور کښیښنولې. اویا یه پلاستیک پروا چاوه نو لکه سرچې پری سی لمونځ نه دی ورسره مکروه **مسئله** کې سَر او بَدن دَبَت په سټیج سی. یېچلو سره جوړ کړی لمونځ ورسره مکروه دی. ولې داخو لکه طوق دار مُرغه وګرځیدی یعنی کرک یا کوتره اودې ته قطع د سر نه وائی بلکه غالباً به لاخوند وَر سی. **پوه سه:** تر تولو ډیر مکروه هغه صورت دی چې د مُصلی وَمخ ته وې. اودوهمه دَرجه هغه دې چې تر مُصلی

لوړ وی اودریمه درجه د یمین پرخواچې وی. اوخلورمه درجه چې پرلیسار یه وې اواخیره درجه هغی دی چې ترشا د مصلی وې. پر حدیث کې چې روایت یه بخاری هم کړې دی داسې راغلی دی چې یوسړی وابن عباس رض ته راغلی اوورته وی ویله چې دا صُوَر بنانوونکم اوبیا یه خَرخوم او نفقه د عیال په برابره وَم. ابن عباس رض ورته وویل چې ته رانژدی سه هغه سړی ورته رانژدی سو، بیایه وَرته وویل چې سبر رانژدی سه. هغه بیا رانژدی سو حتی چې ابن عباس رض لاس پرکښیښنو. اوورته وې ویل چې هغه شئی وتاته وایم چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلې دی. چې ده صلی الله علیه وسلم چې هر صورت اوبنت جوړوونکی به په اور کې وی. اوده ته به ورکول کیږی په مقابل کې دهر صورت چې ده جوړ کړی وی یوروح چې په ټولو هغو روحانوبه دی په عذاب وی په جهنم کې. وفی روایته، فَرَبِّ الرجل ربوة شدیدة، هغه سړی دَغمه سور ساه وکښل ابن عباس رض ورته ووَیل وُیحَلَکَ، افسوس تالره اوورته وی ویل که چاره نه لرې د صورت جوړولو څخه یعنی نفقه د عیال دَدغه کسبه څخه حاصلوې. نو دې رختو صُورتونه جوړوونکی اویاد هغه شی چې په هغو کې روح نه وی لکه منباره یا مسجد وغیره، په مراقی کې وائی چې که سړی دبل چا په کور کې مجسمه یا صورت د ظل شمسي مکمل ولیدی ده ته روادی محکوم دَهغه او تغییر په هغه کې یعنی که صاحب البیت دده سره خوابده وَله چې دده دوست ووه اوهغه خبره چې سیِّد کړیده چې پرده واجب دَه چې محوه کوې بې. هغه په داهې صورت کې چې صاحب البیت دده محکوم وی یا زوی یا ورور وغیره.

مسئله: که سړی مصور مزدور کړی چې ماته صورت راجوړ کړه هغه وَرجوړ کړی د مزدورۍ حق نه لری. ولی داڤعل دده معصیت دی اوپر معصیت باندې مزدورۍ نسته،

اَوْ یَکُوْنُ بَیْنَ یَدَیْهِ تَنُّوْرٌ اَوْ کَانُوْنٌ فِیْهِ جَمْرٌ

اودغه رنګه لمونځ مکروه دی چې دمصلی دمخ وخواته تنور وی یا کانون چې په هغه کې سکروټ وې. مَراقی وائی چې په دی کې مشابهت دی د مجوسو سره دَی په حال کې د عبادت،

پوه سه: چې کانون او تنور یوشئ دی: فَا الاولی وکا نون لیکون عطف تفسیر للتنور الاان یکون کلمة او للتخییر فی العبارة. **فائِدَه:** مجوسیان چې عبادت کوی د سکرو تیو عبادت کوی نه دَه لمبی داور، پس که د مصلی د مخ څراغ وی او یا قندیل وی او یاد برق گروپ وی، یا شمع لګیږی، نود لمانځه کراهت فته

بنمانه فائِدَه په بعض مساجدو کی په ژمی چې یخ وی د برق انګیتی د مخ وَخواته لګوی او یاد گازو انګیتی لګوی. بعض بی حایه صوفیان مُلایان وائی چې دا مکروه دی چې سَړی لمونځ ورته کوی بأوجود یکه چې هغه صرف گرمه هَوا ده په ذریعه د گاز یا برق، حتیٰ چې د بُوتیو د اور پرو زمه لمبه لا نه لری سکرو تی خو چیړی دی چې مشابهت د مجوسو لازم ښی.

په فتح القدیر کی وائی چې مجوسیان د هغه سکرو تیو چې لمبه نه لری عبادت کوی نود مذکوره شیانو د مخ وخواته بلیده پروا نه لری، یو صُوفی بیحایه ملاوو، ماتی وو ئیل چې د گاز و انګیتی چې د مَخ وَخواته وی لمونځ مکروه دی. ماورته وو ئیل چې د گاسلیتو څراغ یا د زیرو تیلو چراغ آه اود برق گروپ چې د مخ وَخواته وی نو لمونځ څنګه دی! ده وَئیله هغوته لمونځ مکروه نه دی. ماورته وو ئیل نو فرق په څه دی د هغه مذکوره شیانو چې تولو شئ سَوځی او لمبه هم لری بلکه د برق اور خو تر گازو بَدتر دی. ولی چې برق یه په یوه قیقه کی دَوژنی اُو گازو ی هغه دی سوځی اووژنی نه دی نه. والحاصِل چې زمونږ د جامعې ورته ملایان چې ناوَلده شئ په مسجد کی وو ینی وَائی دا مکروه دی. اوده ته پخپله په مسجد کی دَنسوارو بد بویه توک دانی پرته وی. چې په هغه کښی نسوار توکی

واقعه زمایو وخت په ژمی کلوښې په پښو وی نو یو ملا راته وو ئیل مولوی صاحب داور ګی که. ماورته وو ئیل ولی ده وو ئیل چې د دی په پښو کیده مکروه دی اوده پخپله په پښو چار راشه زرینی مچنی» وی» مَتَل» غلبیل وکوزی ته وو ئیل څونه دیر سوری لری.

اوقوم نیام اود غه رنګه لمونځ مکروه دی چې د مصلی د مخ وخواته خلګ وی بیده

پوه سه: چې نیام جمع د نائِم ده، اوګه څه هم مصنف قوم وئیلی دی لکن دیوه بیده سړی هم داغه حکم دی **فائِدَه:** که علت د دی کراهت داوی چې مصلی مواجه وهغه بیده ته نَسی. خود بین یَدَیه قید فائده مند دی، ولی که ترشا وی بیا خو مواجهت نسته، اوګه هغه وجه د کراهت وی چې مَزاقی وئیلی ده یخشی خروج شئ یضحك منه او یخجل» یعنی بیره د دی سَته چې یو د اسی شی د ده څه وښه وَزی چې مُصلی پروه خاندی. یعنی گوزوانه چې وی اوګه مصلی پرې وخاندی غالبًا د گوزاچو لو سړی، او بښیږی نو هغه بیده به پرې خپله خجل ښی. اوئیوَذی، او یا به مصلی ته ازار ورد ورسوی لکه بیده چې سَړه بوی ناکه پسکی واچوی، زلزلتین وائی چې داوَجلی په هغه بیده پوری خاصی نه دی چې مخ ته د مُصلی بیده وی بلکه ترشا د مُصلی بیده وی هم د غه وجهی د کراهت سَته.

واقعه یوه شپه د فقیر په کور کی میلمانه د پیر زاغلی وه چې په هغوکی یو مولوی صاحب هم وُو. نو چونکه د وړی وخندویده او د مسجد د جماعت وخت تیرسو. نو ما وهغه مولوی صاحب ته وو ئیل چې د مخ سر چې لمونځ په جماعت وکړو. خو هغه مولوی صاحب د مخه سو. مونږ پرلمانځه ودریدلو په کنج کی د کوټې یونفر بیده سوی وو. خیر خو یو رکعت چې اداسو هغه بیده سړی ښه غټ گوزواچاوه. خو د جماعت خلګو تیولو په قهقهه خندا وخندل او تر کوټې د باندی وو تل زه وو هغه مولوی صاحب سره پاتې سوو، چې په دیر تکلیف موهغه لمونځ وکړی. ولی مونږ ته هم خندا راتله خیر لپسله لمانځه هغه میلمانه بیرته کوټې ته راغله. نو یو د وه پَسخندیان په کښی وَه یو د وهغه بل ته وو ئیل چې د ې سَړي یعنی بیده داګوزه بید ید و د حاله واچاوه نو معذوردی. هغه بل وَر ته وو ئیل چې ویښ وو. په قصد یه واچاوَه چې زمونږ لمونځ رالفاسِد کړي. نو دې دوهم ورته وو ئیل که بیده وی نو خوبه بل گوز یا پسکی هم واچوی ولی چې پر بیده یه څه فرق دئی. هغه چې ځان یه بیده اچولی وو داخبره واوریده. ولی چې دَ

په اول کوز اچولو یا دخلکو په خندا راوښیی سوی وُو. نو دی دپاره چی زه ښیدلم زور یه کړ بل گوز یه واچاوه. هغه یوه وهغه بل تروو ویل مانه درته وویل چی ښیده دی. نو دهغی شپی دخندا اخیردی راکښینستی خلگ خوخاندی ده ورته وویل. چی پرځه شی خاندی زما څه خوبه شئی نه وی پیښیی سوی. هغه یوه پسخندې ورته وویل چی پر اول دی لا دونه خندا نه راغله لکه پرده وهم. نو داسی واقعاتی دښیده ځخه پیښیدونکی دی. اوکه داتوله احتمالات نه وی بلکه ښیده یه حقیقت کی وپیښ وی اومصلی ترځه پروت وی چی مواجهت دمصلی سره یه څه نه وی بیا خوکراهت نسته

په حدیث شریف کی چی بخاری یه روایت کړی دی ام المؤمنین سیدتنا عائشه رضی الله عنها وائی چی وخت چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به زما په حجره کی شپه وه اود تهجد لمونځ بی کاوه زما پښی به دده دسجدی په ځای کی وی. اوزه به دده و ځخه پرته وم. نوچونکه دعلیه الصلوٰة والسلام دتهجد دوه رکعتو قرائت به دپراوږد وو. نوځه وخت چی به آنحضرت صلی الله علیه وسلم سجده کوله غمزنی، نوما به پښی تبولی کړی چی ده به سجدی وکړی ولاړ به سُوما به بیرته پښی وغځولی. دده دسوال دډفعی دپاره چی ترخوږی و ښیښه نوغمزته دعلیه الصلوٰة والسلام څه ضرورت وو. تا به خپله پښی تبولولی. داوائی: وَالْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ : په هغه وخت کی به خونو کی څراغونه نه وَه چی ماته دعلیه الصلوٰة والسلام دسجدی معلومات کیدلائی. قَالَ المصنفؒ

وَمَسْحُ الْجَبْهَةِ عَنْ تُرَابٍ لَا يَضُرُّهُ فِي ظِلَالِ الصَّلٰوةِ

اودغه رنگه مکروه دی ټنډی پاکول دهغو خاورو ځخه چی مصلی ته ضرر نه وی په مابین کی دلمانځه. په مراقی کی چی وائی دایو عبث کاردی. اوکه ددغو خاورو ځخه په عذاب وو بیا پاکول پروا نه لری. اودغه خولی هم دغه حکم دی. اوورو سته ترلمانځه پاکول خوهیڅ کراهت نه لری.

بل عضو ان یکون مستحبًا لدفع المشقة فی اشرف الاعضاء: قَالَ المصنفؒ

وَتَعْيِينُ سُورَةٍ لَا يَقْرَءُ غَيْرَهَا إِلَّا لِيُسِرَّ عَلَيْهِ أَوْ تَبَرُّكًا

اودغه رنگه مکروه ده معینه کول دیوه سورت په لمانځه کی په داسی ډول چی بل هیڅ سورة نه وائی مگر هلته ښایی

بِقِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مکروه نه دی کردغه سورة وده ته وَیُلی یه اسانه وَه. اویا یه تبرک کاوه په قرائت دنبی علیه الصلوٰة والسلام ردغه سورت په یوه لمانځه کی»

یوه مسئله چی داکراهت په هغه سورة کی دی چی تعیین دهغه سورة واجب نه وی لکه الحمد لله شریف چی واجب دَه. اوبله په هغه سورتو کی چی دهغو تعیین سنت وی لکه دوتر و په اول رکعت کی» سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى» ترڅ یه پوری. اودوهم رکعت کی قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ» اوپه دریم رکعت کی قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ» مراقی وجه دکراهت داوائی چی په دی تعیین کی هجر دباقی قرآن دی دقرائت ځخه» اوفقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چی داکراهت هلته دی چی دمصلی عقیده داوی چی بیله دغه سورتو په بل سورت لمونځ نه دی روا. اوکی دغسی عقیده نه وَه نو بیا کراهت نسته،

درویش وائی چی داسی عقیده درلوونکی په مسلمانانو نړی کی ډیر ښادردی. نودمراقی وجه پیره پر زړه پوری ده **فائده:** داکراهت هلته دی چی دمصلی نور سورتونه هم یاد وی. اوکی بل هیڅ سورت نه وی یاد لکه بعض عوام صحرا نشینه چی بیله قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ» بل هیڅ سورت یاد نه لری بیا خودکراهت هیڅ سوال نه پیدا کیږی» دره»

دتبرک دپاره دآنحضرت صلی الله علیه وسلم هغه سورتونه چی ده مبارک په مختلفو لمونځونو کی تلاوت کړی بیا ښیږی» ذکرها المراقی نقلا عن الجلال السیوطیؒ» وترك اسانیدها وان کانت مسندة رومًا للاختصار» اکثر اوقات به

ده مبارک دسحار په لمانځ کی سورة یٰسین وایه. یعنی په دواړو رکعتو کی اودغه
رنګه دسحار په بعض لمونځو کی سورة روم وئیلی دی.
اوعلیه الصلوٰة والسلام دسحار په لمانځ کی سُورة واقعه او مثل دهغه سورتونه وئیلی دی.
اوپه یوه سفر کی آنحضرت صلی اللہ علیه وسلم دسحار په لمانځ کی قُل اَعُوذ برب الفلق
قل اعوذ برب الناس وَوئیله چی سلام یه واړوه حضرت معاذ رض ورته ووئیل چی داسی
لمونځ دی مونږ ته نه وو راکړی چی تر اوسه دی مونږ ته نه وو راکړی یعنی دسحار لمونځ په دوه
لنډو قرائتونو. علیه الصلوٰة والسّلام ورته ووئیل چی تا نه واورېده ژړا دکشنی تر
ماورو سته په صفوکی دښځو. نوځکه ما دالنډ قرائت ووایه چی مورد کشنی وخپل کشنی
تر فارغ ښی. اوعلیه الصلوٰة والسّلام دسحار په لمانځ کی اِذَا زُلْزِلَتْ سورة یوازی ووایه
یعنی په دوهم رکعت کی مکرر کی دپاره دبیان دجواز اوعلیه الصلوٰة والسلام په مکه مکرمه
کی دسحار په لمانځه کی سورة المؤمنین شروع کړی. چی ذکر د موسیٰ اودهارون علیه السلام
ته ورسیدی علیه الصلوٰة والسلام ته توخی ودریدی نور کوع ته ولاړی یعنی سُورتِه
پوره نه کړی. اوګاهی ګاهی به علیه الصلوٰة والسّلام دسحار په لمانځ کی قٓ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْد
سورة وایه. مطلب داچی علیه الصلوٰة والسّلام بیله عذره دسحار په لمانځ کی تر ۲۰ آیته
کم قرائت نه دی وئیلی. اوپه ماخستن کی تر ۱۰ آیته کم.
اوعلیه الصلوٰة والسلام دمابنبین په لمانځ کی، وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى آه وامثاله دهغه وئیلی
دی اودمازدیګر کی هم په مثل دمابنبین. اوپه بعض اوقاتو کی دسحار په لمانځ کی سَبِّحِ
اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى آه وئیلی دی. او ګاهی ګاهی به علیه الصلوٰة والسّلام دمابنبین په
لمانځ کی اوده مازدیګر په لمانځه کی وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ آه وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ آه
وئیلی دی ونحوهما من السُّوَر، اوعلیه الصلوٰة والسّلام بعض دوخت دمابنبین لمونځ
ورکاوه. اوصحابه رض وائی چی په مونږ بی اوریدی ایت ایت دسورة لقمان والذّٰرِيٰتِ،
یوه ورځ علیه الصلوٰة والسلام دمابنبین لمونځ وخلکو ته ورکاوه چی په مابین کی درکعت
په سجده تلاوت وکی. نو مونږ خیال داسو چی تنزیل السجدة سورة یه ووایه،

درویش وائی چی په لمانځ کی جهری یا خفیه سجدهٔ تلاوت کول په مونږ پښتنو کی نه که
شریعت منسوخه داسی ګرځیدلی دی. عوام خو بیخی دلمانځ سجدهٔ تلاوت نه پیژنی. حتیٰ
چی یو حاجی دحج څخه راغلی وو. نو ماته ئی وویل چی عجب می دا پلاولیده. په جده کی امام
دسحار لمونځ دری رکعته وکړی اودمابین په رکعت کی یوه سجده وکړه نوده وویل مابیرته
خپل لمونځ راوګرځاوه. ما ورته وویل چی هغه سجدهٔ تلاوت کړی دی. اوعلیه الصلوٰة والسلام
دمابنبین په لمانځ کی اودمازدیګر په لمانځه کی سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى، اوهَلْ اَتٰىكَ
حَدِيْثُ الْغَاشِيَه، هم وئیلی دی،
اوپه حدیث کی راغلی دی چی یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم دمابنبین په اول رکعت
کی وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا، اوپه دوهم رکعت کی، وَالَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى آه ووایه. اوپه جهرئ سری
ووایه. ورته وسته ترلمانځ اُبَی بن کعبؓ ورته وویل: اَمِرْتَ فِی الصَّلٰوةِ بشیءٍ، یعنی
په جهره دقرائت دمابنبین دلمانځه " ده ما ورته وویل لا بلکه زما په
جهر کی دقرائت داغرض وو چی تاسی ته اندازه دقرائت دمابنبین دلمانځه درو بنیم،
اوپه صحیح حدیث کی راغلی دی چی نبی علیه الصلوٰة والسلام دمابنام په لمانځه کی ګاهی
سورة اعراف وئیلی دی. اوګاهی سورة الانفال، یعنی هریو په دواړو رکعتو کی.
ویحتمل ان یقصر وا بایات من کل منهما، اویا دبیان دجواز دپاره دادوه سورتونه
کړ څو هم چې اوښ ده دی وئیلی بی وی. منه، اوپه اخیری لمانځه کی دعلیه الصلوٰة و
السلام دمابنام په اول رکعت کی سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الاعلیٰ. اوپه دوهم کی قُل یا اَیُّهَا الْكٰفِرُوْنَ
ووایه. اودمابنام په لمانځه کی یه وَالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ، هم وئیلی دی. یا داسورت سره نیمی
کړی اویایه په دواړو رکعتو کی مکرر کی دپاره دبیان دجواز،
اودمابنام په لمانځ کی حٰمٓ الدخان هم وئیلی دی یعنی په دواړو رکعتو کی. اودمابنام په
لمانځه کی سورة القارعة هم وئیلی دی. اودجمعی دمابنام په لمانځه کی قُل یا اَیُّهَا الْكٰفِرُوْنَ
اوقُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ غالبًا وئیله. اودماخستن په لمانځه کی دجمعی دشپی به سورة الجمعة
اوسورة المنافقین وایه، جبیر بن مطعمؓ وائی چی ما دعلیه الصلوٰة والسلام څخه واوریده

چې دما خستن په لمانځه کې وَالتِّين وَالزَّيتُون، وويايه۔ ابی رافع وائی چې ما په ابوهريره پسې دما خستن لمونځ وکړی نود سورة اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ شروع کړی اود سجدې پر آيت په سجده تلاوت وکړی. نود سجدې په تياره کې ما دده سره پوښتنه وکړه ده وويېله سَجَدتُ بِهَا خَلفَ ابی القاسم صلی الله علیه وَسلم: دعبد الله بن عُمر رضی الله تعالی عنهما څخه روايت دی. چې نسته يود مفصلو سورتو څخه که لنډ وی اوکه اوږد، مګر په داسی شان دی چې ما اوريدلی دی د رسول الله صَلی الله علیه وسلم څخه چې په هغوی امامت ورکاوه وخفګونه په فرضی لمانځه کې. نوداوو هغه تفصيل دسُورتو چې علیه الصلوٰة والسلام په فرضی لمانځه کې وَيلې: قَالَ المُصنف:

وَتَركُ اِتخَاذِ السُّترَةِ فِی مَحَلِ المَرُورِ فِيهِ بَينَ يَدَیِ المُصَلِّی

اودغه رنګه مکروه دی نه دَرول دسُترې په داهی ځای کې چې ګمان کول کيږی دتيريدو په هغه ځای کې په مابين دحضور لمونځ کوونکی. يعنی لاړو په دمرور اود عبور، لکن ط وائی دامکروه تنزيهی دی، په تنوين کې وائی که دمرور ګمان وو نکه چې سړی په خلاصه صحرا کې لمونځ کوی، لکن بيا هم دَرول يه اولی دی.

کتاب ـــــــ نورالايضاح پښتو
مصنف ـــــــ مَولانا عبيد الله القندهاری
کاتب ـــــــ فضل الحق حقانی
ناشِر ـــــــ مکتبة القراءة والتجويد
جلد ـــــــ دوهم۲ جلد

فَصلٌ فِی اِتخَاذِ السُّترَةِ وَدَفعِ المَارِّ بَينَ يَدَیِ المُصَلِّی

فصل دی په بيان کمد اخستلو يعنی د دَرولو سُترې، اودفع کولو دهغه چا چې په حضور دلمونځ کوونکی تيريږی. دروښيش وائی چې پښتانه بلکه بعض ملايان دالفظ پرزيږد سين وائی لکن د لغت عَرَبی دلاری دالفظ په پيښ دسين دی. او اګرچه دی لفظ په لغت کې ما يستتر به الشئ دی، لکن په عرف کې دفقهاءُ هغه شی ته ويل کيږی چې مصلی دهغه دَرول کيږی په طور دعلامې حتی چې خلګ پوه سی چې داسړی پرلمانځه ولاړدی نودده اود سُترې ترمابين به نه تيريږی.

تَحقِيقُ المَقَامِ په عنايه کښی وائی چې په دی مسئله کې پخوا يه کی خبرې دی: اول خبره دادی چې لمونځ په تيريدی دده هيڅ شی دمصلی دهغه نه قطعه کوی يعنی فاسدوی. لقوله عليه السلام لايقطع الصلوٰة مرور شئ،

سَوال: په صحيح حديث کې راغلی دی چې قطع کوی لمونځ تيريدونکی دده شی اود خَر اودتور سپی

جَواب: شراح دحديثو مبارکه وو وائی چې مراد په دی حديث کې قطع نده بلکه قطع دحضور قلبی دمصلی ده او په مُخنی حديث کې مراد قطع حقيقی ده. فلا تدافع بينهما، اودوهمه خبره داده چې تيريدونکی سخت ګناه کاردلی، ولی چې په صحيح حديث کې راغلی دی: که تيريدونکی خبر سی يعنی په مابين کې د حضور دلمونځ کوونکی چې پرما باندی څومره ګناه ده. نودی به درېدلی واى، اَربعين، يعنی څلويښت ورځې اوی دحديثو وائی چې زه نه يم چې څلويښت کاله عليه السلام سياد کړم اويا څلويښت مياشتی اويا څلويښت وَرځی. اودريمه خبره داده چې دومره مهمه نده چې مقدار دهغه ځای چې هَلته مرور مکروه دی خونه اندازه دَنی. يعنی فقهاءُ وائی چې ځای دسجدې دلمونځ کوونکی دی، چې دا اسهل دمذاهبو دی. وهو اختيار شمس الائمة السرخسی اوشيخ الاسلام علی البزدوی اودقاضيخان ده، اوفخر الاسلام وائی چې مصلی چې ځای تيريدونکی گوری اوستر گی يه پرمانده واقع کيږی. نوبه داسی ځای کی مرور کراهت نلری. اوبعض

علماءُ وائی چی اندازه کی دوه صَفوه یا درو. مَنو چی سړی د لمونځ کوونکی مخ نه تیریږی گناه ګڼلی وی او تړلی دی کم مسافه بالاوه بیا گناه، اوکراهت نسته، او بعضو فاصله دوه ګزو اوبعض د پنځو ګزو فاصله شرط ګڼلې. اوبعض داسې هم وائی چی ترڅلویښت ګزه پورې کمه فاصله کی تیریدل مکروه اوګناه ده. دا ټوله مذاهب ملته دی چی په صحرا کی سړی لمونځ کوی اوپه مسجد وکی بعض فقهاءٌ وائی چی د لمونځ کوونکی اود قبلی په هَوا کی مطلقاً مرور ګناه ده که هرڅومسافت وی. اوبعض فقهاء یې پنځوس ګزه فاصله شرط ګڼلې. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

إِذَا ظَنَّ مُرُورَهُ يَسْتَحِبُّ لَهُ أَنْ يَغْرِزَ سُتْرَةً تَكُونُ طُولَ ذِرَاعٍ فِي غِلَظِ الْأُصْبُعِ

کله د مصلی ګمان وکړی چی څوك به دی د مخ تیرسی نو مستحب ده ده لره چی سنځره دی کړی ستره. یعنی په ځمکه کی چی جګ والی یې یو ګز وی اوپنډ والی یې دیوی ګوتې وی یعنی کمه درجه یې داده. اوکی طول بالاوی یا یې پنډ والی ترګوته دیر وی خو په طریق اولی ستره کیدای سی.

پوښتنه: چی امام طحطاویٌ وائی چی ادنی اتخاذ دستری دا دی مطلقاً یعنی کی ګمان د مرور د چا وی اوکه نه وی. ولی په ستره سره دده ستر ګی د ماوراء الستره څخه راګرځی اوفکر یې جمع کیږی. **سوال:** ستره خو په مقدار دیوه ګز ده اوغلظ یې یوه ګوته دی نو څرنګه د مصلی د ماوراء الستره څخه ستر ګی راګرځی. اوخاطر یې جمع کیږی. **جواب** امور شرعیه خپل حِکَم اومصالح لری چونکه سُتره امر شرعی ده خدای جل سُلطانه د لمونځ ګذار ستر ګی اوزړه دبلی خواڅخه راګرځوی **پوښتنه:** چی استحباب زمونږ د حنیفیانو مذهب دی اوامام احمدٌ یه واجب ګڼلې په مراعات د ظاهِر امر د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم. اوبل په هغه حدیث دلیل وائی. چی عمر رضی الله تعالی عنه وائی، چی که لمونځ ګذار خبر وای چی د لمانځه څخه څومره ثواب کیږی نو بې لمونځ نه کولای مګر ویوه شپه تر چی د خلګو څخه بې پټه ولای. اود عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چی نیمی ثواب د لمانځه د مصلی په مرور سره دسړے کیږی. چی ستره یې نوی ذِرَه وِلې، اوزمونږ په مذهب کی په

ستره مغصوبه سوهم کار کیږی نکه په ثوب مغصوب کی لمونځ صحیح دی کړ خو ګناه کار دی، په حدیث مبارک کی دلیل دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمایلی لیستره احدکم ولو بسهم، په دی حدیث کی دلیل دی چی د علیه السلام څخه چا پوښتنه وکړه د اندازې د سُتری د مصلی ده مبارک ورته وویلی، مثل مؤخرة الرحل، نکه هغه لرګی چی داوښ سپور شاورته لګوی، دهغه اندازه یوشرعی ګز دی یا څه نا ډاله.

پوښتنه: چی اقله اندازه کی د سُتری خلاف سنته اوپه اکثر کی اختلاف سنته اوپه دی هم پوښتنه سره چی اقله اندازه کی یعنی د سُتری چا په ولاړ سړی اوپه ناست سړی هم کیږی لکن مخامخ د مصلی ته به نه وی. اویا اوښ د مخ چوك کړی کما فی التهتانی والحلبی.

مسئله: په بنځه سره چی محرم نه وی ستره نه ده ګڼلې. اوپه محارمو بنځو کی اختلاف دی د دریش په عقیده چی بنځی په مطلقاً د ستری ځای نه سی نیولای. اوغزنګه په لیونی کافِر اوبیده سړی ستره نه ده ګڼلې. د دریش وائی چی امام طحطاویٌ پردی قول د مصنف فی غلظ الاصبع اوبیا په مَراقی کی وائی. وَذَالِكَ أَدْنَاهُ یعنی غلظ الاصبع یه کمه درجه د ستری ده. داسی لیکلی دی: خلاف المذهب فلا حد له، اقول اورد هذا القول فی القدوری بلفظ قیل وعلله صاحب الهدایة بما علله المراقی، یعنی دا قول د مصنف اوبیا مراقی قول خلاف المذهب دی، او بیا دهاکم په روایت دابی هریرة رضی الله عنه څخه داسی روایت مرفوعاً نقل کړی دی. یجزئ من السترة قدر مؤخرة الرحل ولو بدقة الشعر، یعنی کفایت کوی د سُتری څخه مقداره مؤخرة الرحل کړخم لکه و یښته داسی ترې وی، ثم قال کذا فی البحر عن التهتانی، د دریش وائی چی د مصنف دلیل په مراقی کی: لان ما دونه لا یظهر للناظر فلا یحصل المقصود منها، یعنی کم ترګوتی به په ځمکه نه ښکاره کیږی وکیتو نکی نو مقصود د سُتری څخه نه حاصلیږی، معقول خودی لکن په مقابل کی د حدیث بیا اعتبار نه لری. وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالسُّنَّةُ أَنْ يَقْرُبَ مِنْهَا

اوسنت داده چی سُتری ته نژدی دریږی بعض فقهاء لکه ابن امیر حاج وائی چی د سُتری اود

ده د پښود مصلی تر دې شرعي ګڼه به بالا نه وي. ودليل القرب، د قول دعليه الصلوٰة و السلام دی. وَإِذَا صَلّٰى أحدكم الى سترة فليدن منها لا يقطع الشيطان عليه صلوته، يعنی که يوه ستاسی لمونځ کاوه وستری ته نودی ښه ودريږی نوکه دَيُ د اعنسی وکړي نو شيطان نه سی قطع کولای لمونځ دَدَه، ولی که مصلی دستری څخه ليرې ولاړوی نو شيطان و تير يدونکی ته دا په خيال کی ور اچوی چی دا مُصلی ستره نه لری. ولی چی هغه لرګی خولیږی ولاړدی نو به دستری اود مُصلی ترمابين تير سی او مصلی ته به تشويش ددغه فعله څخه دمار پيدا سی. قَالَ المُصنفُ:

وَيَجْعَلُهَا عَلَى أَحَدِ حَاجِبَيْهِ وَلَا يَصْمُدُ إِلَيْهَا صَمْدًا يعنی برابر

اوبل سنت دستری دادی چی سُتره دی ګرځوی ديوی ورځی خپل پر برابر، اونه دی دريږی وستری ته برابر يعنی سيدها، لِمَا رُوِيَ عَنِ المِقْدَادِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ، دی وائی چی ما ندی ليدلی رسول الله صلی الله عليه وسلم چی دَی دې لمونځ کوی و تنبيره تر اويا درختی ته، مګر هغه بی ګرځول پر استه وَرَحُه اويا چَپَه وَرَحُه وَلَا يَصْمُدُ اليه صَمْدًا ای مُستويا، قَالَ المُصنفُ:

وَإِنْ لَمْ يَجِدْ مَا يَنْصِبُهُ فَلْيَخُطَّ خَطًّا طُولًا وَقَالُوا بِالْعَرْضِ

مِثْلَ الهِلَالِ په اوږدو يعنی پر طرف د قبلی اوبعض عُلماء وائی چی په پسارہ دی وکاږی لکه داو لوښو مياشت، **پُوهه سُه**: چی يوی پ لی دمتقدمينو څخه چی يود هغو څخه صاحب د هدايه دی د خط ستره منع کړي دَيُ. په عنايه کی وَائی چی که ځمکه سخته وه چی جګول دستری نه سوای پر کښی کيدلای نو هغه نيزه وغيره و مخته په اوږده کښيږدی تا چی پر هيئت د غرز سی، اوکه چيری نيزه وغيره نه وَه ورسره زمونږ د حنيفيا نو بعضی متأخرين وَائی: يَخُطُّ خَطًّا طُولًا وهو قول الشافعی

او يا مثل الهلال كما في نور الايضاح: قَالَ ولم يعتبره المصنف يعنی صاحب هدايه وخط ته اعتبار نه ورکوی لِأَنَّ المقصود منه وهو الحيلولة بين المصلی والمار لا يحصل به فيكون وجوده كعدمه، ولی چی مقصود د خط څخه خو مانع والی دی په مابين کی د لمونځ کوونکی او د تير يدونکی، او هغه مقصود په خط کی نه حاصليږی. نو وجود د خط لکه عدم دی، وهو المروی عن ابی حنيفة ومحمد، او فتح القدير د مبسوط څخه د شيخ الاسلام نقل کړی دی. چی خط ليس بشیء، او د صاحب الهدايه په نيز پر محله اينبول دلرګی او خط دواړه اعتبار نه لری. لکن هشام د امام ابو يوسف څخه روايت کړی دی چی ده به دواړه اعتبار نه لرې

اووقاردہ۔ اوهغه امر چې په درع یعنی دفع سره په حدیث نبوی کې راغلی دی دپاره دبیان د رخصت دی» اورخصت کړه سوی دی په دفع کښی په اشاره یعنی دلاس وغیره اویا په تسبیح وئیلو سره اوده دوابرو جمعه کول مکروه دی» لان بامدهما کفایة» په حدیث مبارک کې راغلی دی چې: یوه وخ رسول الله صلی الله علیه وسلم په خونه کې د ام المؤمنین ام سلمه رضی الله تعالی عنها لمونځ کاوه یعنی نفلی لمونځ دام سلمه رضی الله عنها میرمنځ دوه عیاله وه یونرچې عمیرة نومیدی اوبل ښځه چې زینب نومیدله. نو عمیره غوښته چې د علیه الصلوة والسلام د لمانځه مخه تیر سې. آنحضرت صلی الله علیه وسلم په اشاره یه دفع وکړه اوهغه ودریدی. ورو سته زینب اراده وکړه چې تیره سې. علیه الصلوة والسلام وهغې ته هم د دریدو اشاره وکړه. لکن هغې عملی نه کړه اود لمانځه مخه تیره سوه. څه وخت چې علیه الصلوة والسلام د لمانځه څخه فارغ سو نو زینب ته وکتله اوداسې ووئیله: «نَاقِصَاتُ عَقْلٍ» ناقصات دین» یعنی نفسی ښځې ناقص العقل دی اودین یه هم ناقص دی صَوَاحِبُ یُوسُفَ اوښځې هغه دی چې یوسف علیه السلام یه په اضطراب اوپه حبس اخته کی. چې هغه ښځې امرأة العزیز اود هغې ملګرې په تقاضاء کې د زنا د یوسف علیه السلام څخه» صَوَاحِبَ کَرِیمِ» صحابه کرام رض د علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چې مَن کرسف» علیه الصلوة والسلام ورته ووئیله چې دا یو سړی وو یعنی په تیرو سوو امتو کې چې دیرش کاله پر ساحل البحر یه د خدای عبادت کړی وو» اخیر پر یوه کافره ښځه باندی عاشق سُو.

چې هغې وډه ته دعوت دکفر ورکړی اودی هم ورسره کافره سُو. لکن هغه د مخه ښو عملو دده سره کومک وکړی. او توبه یه وکښه. (او بیرته مسلمانه سو. علیه الصلوة والسلام فرمایلی دی» یَغْلِبُنَ الکِرَامَ و یغلبهن اللئام» او ښځې غالبې وی پر پاک نفسو خلګو چې د شریعت مراعات کوی اود مایښو پرادنی کار نه دوکوب نه کوی» اوپر ښځو غالبه دی بې دینه اوبې پروا کسان» یعنی د هغو څخه ښځې بیریې چې پرانډک شپی یه تر دوبه ولاندی نسې» فافهم»

واقعه

دوه ورونه وه په فند هار کې چې مشریه مایند درلوده. اوبیر ورسره په عذاب وو- اومایند یه دیره پرغښتلی وه. وروسته کشر ورور ته یه کور کې د چې دواده وخ یه سوه اوناوی یه کورته راوستله پرتخت یه کښینولې پیه کور کې نرخر درلود هغه ناره وکړه- کشر ورور تو فلک ورته اخستی اوایه وو یل چې زما ګمان داوو چې په دی کور کې نر پیوازی نه یم. خره ته هم دنر والې دعوه دی وکړه. تیک یه پر و کې څخه مړ کړی، ناوی پرتخت باندی وبیریدل چې په څه بلا میړه اخته سوی. ماصل دا چې د کشر ورور مایند پیه کور کې د میړه اولیونه سره او دکور دلویه او کشنی سره د ډیره ښه وضعیت کاوه. نومشر ورور کشر ورورته ووئیل چې داستاماینه ډیره ښه ښځه ده. دازما ښځه خوهیڅ اخلاق نه لری اوتر ما پوری تبوله کورخاندی په عذاب دی د دې څه سبب دی کشر ورور ورته ووئیل ما دخپل مایند په اوله وخ نه ډه څندی وکښی او خپله سره ستر ګې ورمعلومه کړه چې خرمی په ګولی وو نیشتې. مشر ورور دځانه سره فکر وواهه چې دا خو آسانه چمدی بله وخ چې د مشر ورور خره ناری کړه. مشر ورور تو پک پر اوخستې چې تیک ئې پر وکې اومایند یه وبیر وې. مایند ډیر ډیر پر و کې چې نا حقه خر مه وژنه ماته ستا د سر پې ستر ګې درک وختی» امعلوم سوی دی. دادبوپه کتابونو کې وائی. چې د عربو قدیمه اصطلاح د ښځو چې د میړه درک وی ځانته معلوم کړې. داسې وه چې یوه ښځه چې د پلار دکور و دیدل نو یوې سپینې سړی ښځې به د میړه د امتحان د پاره داسې نصیحت ورته کاوه چې تر واده وروسته چې ته دکور په کار و بار شروع وکړی یوه وخ چې میړه دی پر کور وی دده سپرلۍ او اخله غوښې پرمیده کوه. میړه خو درته وائی چې داځکه کوی سپر خوږ ما د جنګ شئ دی اوته غوښې پرمیده کوی. ته ورته ووایه چې څرنګه کوردی چې د غوښو د میندو د تخته هم نشته پکښې نوره خو غوښې پر وراته نسم میده ولائی. نوکه میړه په ښه ژبه درته ووئیل چې ته سپر کښیږده زه به هم اوس تخته درله راوړم. دایو امتحان وو- سپینې سړی داهم ورته ووئیل. چې څو ورځې وروسته بیا یوه ورځ چې میړه دی پر کور وی. دده توره راواخله

اوپر هغه تخته اړوکی پرته ماتوه. دی به درته ووائی چې داځنګه کوی پراړو کو خو دتوری ږغ اوږی. اودا زما عزیزه سلاح ده. ته ورته ووایه چې دا څرنګه کوی چې نه یوساتل په کښتی اوته یوه غټه چاره چې زه اړوکی په مات کړم پلاس خوزه اړوکی نه سم ماتوالای نوکر ده په ډیره دلاسائی ورته وویل چې ته توره کښیږده زه به دبازاره څخه بنه غټه چاره درله راوړم» دا دوهم امتحان دی» څوورځې ورو ورو سته بیا یوه ورځ ددغشی راواخله په دروازه کی سره پیچه دی خواه مخواه درته ووائی چې دا دپاره بیا څه کار په څه را اخستی دی. په دی کار خو اغشی پری خرابیږی، ته ورته ووایه اویوځل دژړا چم هم وکړه چې زه دې دی کورکی څرنګه گذاره وکړم. چې ته پرهرشی ماته منت کوی ماپه دروازه کی سوری کاوه چې یوه نرلښی یا څنګیږو، واچوم. نوپه کورکی می وکتل نه یو تیره پیچ کش وه اونه برمه وه نوزه په گوته دروازې ته سوری نه سم ورکولای که ده په دې دلاسائی درته ووایل چې ته غشی کښیږده» زه دبازاره برمه درله راوړم» دا درېیم امتحان دی. نوورو ورو به سپین سرې وناوی ته وویل چې په دی دری امتحان کی چې ته کامیاب سوې. فَقَعَ عَلَيْهِ الإِكَافُ فَإِنَّهُ حِمَارُكَ» نوپرمیړه دې پالان کښیږده چې دی دې دعمرد پاره ستا خرسو» درولیږی وائی چې زه نه یم خو چې زموږ بد لپستو سپین سرې به ناوی یا نوته څه څه امتحانونه ورته کړی» قال

وَيُدْفِعُهُ بِرَفْعِ الصَّوْتِ بِالْقِرَاءَةِ وَتَدْفَعُهُ بِالْإِشَارَةِ

اودفعه کوی ټیریدونکی مصلی که نرووپه پوټه کولوسره داواز او په قرائت سره. اوکله لمونځ کوونکی

وَالتَّصْفِيقُ بِظَهْرِ أَصَابِعِ الْيُمْنَى عَلَى صَفْحَةِ كَفِّهَا

ښځه وه نوداپه دفعه کوی. ټیریدونکی په اشاره سره. اویا په تیکولوسره د شادگوتو درسته لاس ددې

الْيُسْرَى وَلَا تَرْفَعُ صَوْتَهَا لِأَنَّهُ فِتْنَةٌ

پرشا باندی د ظاهر دارغووی دچپه

ددی اودفعی دپاره به دانه پورته کوی آواز یعنی نه په تسبیح وئیلو اونه په قرائت وئیلوسره ولی پورته کول داآواز دښځی فتنه ده»

تشریح چې رفع دصوت ددی په صرف تسبیح وئیلوسره هغه هم په لمانځه کی دپاره امر شرعی چې دفع دماردې فتنه» نوځرنګه به فتنه نه وی پورته کول داواز ښځو په غږلو وئیلوسره پرداسې دڅول سره چې په کوڅو اونورو کورونو کی هم اوریدل کیږی په ودو اونورو خوشحالیو کی. اوځرنګه به فتنه نه وې خبرې ښځو پرراډیو گانو کی اویا په تلویزیونو کی چې پوره صورت دوې هم په کښې معلومیږی اود بعض ملایانو په کورونو کی هم دغه تلویزیونونه موجود دې. اوځرنګه به فتنه نه وې دوکاندارۍ ښځی پرعامو بازارونو کی. اړه پایان ودې ته ښځواز ادی تر لیږولا ندې کول وائی» لومانعاتوته یه شدت پسنده مُلایان وائی. افسوس چه بعض دُوَلِ اسلامیه ددې خبرې دغږ بیا نوحمایت کوی» چوکفراز کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی»

ے چوبنیم دین احمد درغوی ؛ دلم سوزان ز چشم خون جاری ؛ وورد فی الحدیث الصحیح قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: ماترکت فتنةً أضرَّ علی الرجال من النساء» مانه ده پرې اینې یوه فتنه چې ډیره ضرر رسونکی دې وې وزړوته تر ښځو. صرق رسول الله صلی الله علیه وسلم

پوه سه: چې ولې ښځو دپاره ددفع دمار دا اجازه نسته چې لاسوږغوی سره ولګوی **جواب:** دا تیکول خوهغه فتنه انګیزه چک چکی دی چې دوئ یه په ودو وغیره کی کوی. اووه اوریدونکوته تر آواز ددی پردغه چک چکو خوند اخلی

مسئله: رفع الصوت په قرائت سره صرف اوصرف په جهري لمانځه کی روا ده نه په سري لمانځه کی. ولې چې جهر په سري لمانځه کی مکروه تحریمی دی اوډفعه دمار رخصت دی نومکروه تحریمی درخصت دپاره څرنګه سري لمانځه کی مصلی کولای سی» بحر، ط»

مسئله: کله ښځی ددفع کولو دپاره تسبیح وئیله چې دې ته خواجازه نه وه. اویا نړې په لمانځه ددفع مار دپاره تصفیق وکړی چې دده کار نه وو. لمونځ خودواړو نه دی فاسد لکن خلاف السنته کار یې وکړی»

وَلَا يُقَاتِلُ الْمَارَّ وَمَا وَرَدَ بِهِ مُؤَوَّلٌ بِأَنَّهُ كَانَ وَالْعَمَلُ

حنفی مذهب کی مصلی د مار سره یعنی په سوکا نو وهلو سره او یا په لغتو سره او یا په نور وحملو سره. اوهغه چې په حدیث شریف کې امر د قتال نه اغلی دی. دهغو

بیا ځ وقد نسخ تاویل دادی چې په ابتداء کې د اسلام مصلی ته د ذکر سوی قتال اجازه وه په دې حال کې چې په هغه وخت کې نور عملونه هم مصلی ته روا وه لکن هغه عملونه منسوخ سوه نو قتال هم ورسره ولاړ دی» حاصل د کلام دادی»

د بدرالدین العینی په شرح کښې د بخاری ذکر کړی دی» کې څه عینی نسبت وما لکیا نوته کړی لکن قواعد د احنافو هم ورسره منافی نه دی. هغه وائی که چیرې تیریدونکی وده نه نژدې وو چې د مصلی کام پورته کې د یه نه غوښته» اول دی اشاره ورته کړې یا دی تسبیح وائی که هغه منډه سې سپکه چټلاخه دی پرځیګر وو هغه اوکه په هغه دفعه نه سو. نو هغه وبل یک چې ذکر سوی نه دی ورسره کوی. ولی چې هغه عمل کثیر دی که څه هم عمل کثیر په ابتداء د اسلام په لمانځه کې روا وه خو بیا هم منسوخ دی لکه مصنف چې وویلې.

اوکه مار ښیری وو نو د مصلی خوښه ده که اشاره ورکوی اویا تسبیح ورته وائی. اوکې پرې دی مطلب دا چې پسې روانیږی به نه. اوکه د څه د مصلی پیشی تیریدلې چې په اشاره نه پوهیدلې په لغت دی ووهی. درویش وائی چې هغه حدیث چې مصنف اشاره ورته وکړه دادی: چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائی چې هغه وخت چې سړی لمونځ کوی نه دی پریږدي چې هیڅ څوک چې د د د څه د سره تیر یږی. او دغه دی کړی په هغه پوړ ول چې ده ته ممکن وی یعنی په اشاره سره او یا په تسبیح سره. اوکه هغه مار اباء وکړه یعنی تیریدی. نو دې جنګ ورسره وکړي. ولی هغه نه دی مګر شیطان یعنی د هغه سرکښی دده فعل د شیطان دی

مسئله که مصلی په ظاهر روایت د حدیث عمل وکړی او مار یې په لغته وواهه او یا یې په سوکه وواهه هغه مرسو پر مصلی خو ګناه نشته په اتفاق د علماؤ. او دیته د مړې پرسته او یا مرګ په لغوه دی د علماؤ په دی کی دوه مذهبه دي. او هغه علماء چې دیت

بولازم بولې. بعض وائی چې ټوله دیت د مصلی د مال څخه ورکړه سی. او بعض وائی چې یې یا په عاقله یعنی پرقوم د مصلی دی» و فی الدر عن الباقانی» وائی چې د دغه مار مړ ګ لغوه دی هیڅ دیت نه لری په نیزد شافعیانو. او د حنیفیانو په نیز ضمان لازم نه دی» ط»

پوښتنه: چې امام محمد» د هغه حدیث مذکور تاویل په دی سره کړی دی چې په سختی دی دفع وکړی خو حاصل دادی چې په نیزد عامو علماؤ» ظاهر د حدیث مراد نه دی» و الله سبحانه و تعالی اعلم وعلمه اتقن و احکم» بیت»

نه نقصان ز قابل است وگرنه: علی الدوام فیض سعادتش بهمه کس برابر است: نه

همت بلند دار که نزد خدا و خلق: باشد بقدر همت تو اعتبار تو:

دا یوبی څخه یو جهان تشکر

ای نسیمه زړی وکړه د صباح
په رونا چې موخوشحاله سی ارواح

دا احنافو فقه ټوله په پښتو سوه
چې تفصیل سوا جمالی نور الایضاح

ایوبی ته می ترخوله دعاوی وزې
چې بیان سوه ټول حرام اوهم مباح

ربه ته لۍ عمر نورهم په صحت کړې.
لې خبره مؤمن اوس کړې خپل اصلاح

که تا سړې دعاد لا نو په لاس لیک سُو
ایوبی به وی اول پردی الواح

حقانی ته هم امید لره له خدایه
د نجات اودر گذر هم د فلاح

فَصْلٌ فِيمَا لَا يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّي

دافصل دی په بیان کی د هغو شیانو چې مکروه نه وی مصلی ته: **پوه سه**: چې مَرادي بیان د لفظ "مَا" په فیما کی په افعالو سره کړی دی لکن ظ وائی اویا. اقوال لکه مکروه وَل دیوه سورت په دوو رکعتو کی د نفلو، شاید مصنف په مرادي کی د دی وَجهې تخصیص د افعالو کړې دی چې افعال غیر مکروهه په دې تراقوالو وه قال

لَا يُكْرَهُ لَهُ شَدُّ الْوَسَطِ وَلَا تَقَلُّدٌ بِسَيْفٍ وَنَحْوِهِ إِذَا لَمْ يَشْتَغِلْ بِحَرَكَتِهِ

نه دی مکروه لمونځ کوونکی ته ملاتړل په دسمال یا کمربند وغیره سره کړخه هم بیله عذره وې. ولې چې په دی کی ځان بنه چسپکول دی د عبادت دَپاره اودغه رنګه نه دی مکروه په غاړه یا په اوږه کی اچول دَتورې اویا مثل دَتورې لکه توپک وغیره لکن داهلته چې د مصلی ترڅه نه مشغوله کیږی په حرکت دهغه سلاح توره وغیره.

مسئله: کرسړي قبا اغوستی وه اومشدود الوسط نه وه دی ګناه کاره دی. اوکی لاندې ترقبا قمیص نه وو بیا خو شد الوسط اویا په لاسو تینګوَل یه لازم دی. ولې بیله دَغه خوکشف العورت لازمیږی **فائده**: قباء چې په اصطلاح کی د پښتنویه چپنه بولی اوپه عربي یه قفطان هم بولي. هغه اوږده جامه ده چې د مخ دخوا ترپایه پورې چاك لري اوتر شا چاك نه لري.. اهل تواریخ وائی چې اول لابس دقبا سلیمان نبی علیه السلام وو" وفی المراقی وفی غیره قیل بکراهته لانه صنیع اهل الکتاب" یعنې په غیر کی دقبا لکه پوستین، کوښۍ، سمور" بعض علماء وائی چې بیله "ترلودی ګناه کاره دی. ولې چې دا اهل کتابو فعل دی. لکن دامذهب ضعیف دی لکه مصنف چې په قیل اشاره ورته وکړه ولې د دی شیانو په ترلو کی حرج عظیم دَئی. ط" قال المصنف

وَلَا فِي إِدْخَالِ يَدَيْهِ فِي فَرْجِيَّتِهِ وَشِقِّهِ عَلَى الْمُخْتَارِ

اوداغه رنګه مکروه نه دی داخلول دَلاسود مصلی په فرجی کی. فرجی هغه قبا ده چې ده شا خوا

یا ړچاك لري چې په پښتو یه با لاپوښ بولي، اوښه په مشق کی. **پوه سه** چې مشق چې په عربي یه عَبا هم بولی دغسی چپنی دې چې دپیری اوږدی وی چې لستوني نه لري صرف دلستونړو په ځای کی یو فراخه غاړه وی چې ترهغو لاسونه کښته کیږی بدن صبا چې حاجیان د تحفې پر دَوَل بعض ملایانو ته راوړي. په دی قسم کی یو فراخه غاړه وی چې تر هغو لاسونه کاږی. په دی قسم کی بعض صرف یو تکړه وی استر نه لري. او بعض گرم استر لري.

پوه سه: چې مصنف "علی المختار ووایه" دی سَببه چې بعض فقهاء وائی چې لاسونه کښل لازم دی. اوبیله ده لاسو کښلو لمونځ مکروه دی. ظهیریه وائی چې په دغو لباسو کی قدیمًا اوحدیثًا اختلاف ستنه، لکن لکه چې د ظهیریه د مخرم وویل چې مبنی دده دغو لباسو په لاسو کښلو کی پرعرف دلا بسینود دغو لباسود.. بیله لمانځه کښل لاسونه کښل عادت نه وو نولمونځ هم بیله لاس کښلو مکروه نه دی. وعلی العکس لمونځ مکروه دئ. فتدبر و الله اعلم بالصواب" قال المصنف:

وَلَا التَّوَجُّهُ لِمُصْحَفٍ أَوْ سَيْفٍ مُعَلَّقٍ أَوْ ظَهْرِ قَاعِدٍ يَتَحَدَّثُ

اودغه رنګه مکروه نه دی لمونځ کول چې د مخ وخواتی قرآن مبارک پروت وي اویا توره وي چې ځړیږی. اودغه رنګه نه دی مکروه لمونځ کول وشاته د ناست سړي چې هغه خبرې کوي وجه د عدم کراهت دَادَه چې د دغو شیانو عبادت چا نه دی کړی اوخدای جل سلطانه هم وائی: وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ: اوتوره چې د مخته ته دسړي پرته وي نو دی نه قدرت لري پراخستو یه په وخت کی د حاجت. اوشاته د قاعد تشبیه د عبادة الاصنام سره نه ده. وورد انه صلی ابن عمر الی ظهر نافع"

پوه سه: چې د قاعِد قید اتفاقی دی. د قائم هم دغه حکم دی. اوقید د ظهر احترازی دی. ولې چې د مخته د قاعد یا قائم لمونځ مکروه دئ. ولې عبدة الاصنام د مخته د خپلو بتانو سجدې کولې نو د دوی سره تشبه مکروه ده، اوقید د "یتحدث" د دی دپاره دی که چیرې

هغه قاعده خبری نه کولې بیا خو پـه طریق اولی لمونځ مکروه نه دی. **فائده** قاعده به کراردکړا خبری کولی چې ومصلی ته تشویش نه پیدا کوی وړنه بیا مکروه دی. ط

بسهرنه فائده

پوښتنه: مصنف رح څه ضرورت وو چې دې مسئله ذکر وجه د مصحف شریف او توری معلق مسئله راوړه. **جواب** په کفایه کی شرح د هدایه کی وائی چې وجه د ایراد د نهو د مسئلو داده چې بعض علماء داوائی مکروه بولی. د توری د کراهت سبب دا بیانوی چې توره خو آله د حرب وه نو مناسب نه ده. چې به ځای کی د عجز او ابتهال چې لمونځ دی دغه کښې نه بول. وقیل هو قول عمر رضی الله تعالی عنه. او د مصحف و محترمه ایښودل د کراهت وجه دا بیانوی چې پاڼه دی کی تشبه د اهل کتابو سره ده چې هغوی به هم خپل کتابونه و محترمه ایښودل په لمانځه کی. وقیل هو قول ابراهیم النخعیؒ دی. والجواب عن الثانی» دا دی چې اهل کتابو به خپل کتابونه د دی پیاره محترمه ایښودل چې په لمانځه کی بې د هغو څخه قرائت کاوه. او د قرآن شریف څخه تلاوت خو زمونږ په نیز مکروه دی مسئله خو دلته داده چې صرف قرآن د مخ وخوا ته پرته وی. او سړی لمونځ کوی بیله دی چې تلاوت د مصحف شریف څخه کوی» وشتان بینهما» نو په دی کی هیڅ تشبه د اهل کتابو سره نشته.

نو قرآن شریف که د مخه ده مصلی پروت او که څرګند ی د واړه کراهت نلري. او ده اول چې سیف معلق دی. جواب دادی» چې موږ ویلی نو چې توره آله د حرب ده لکن لمونځ دوه جهته لري یو جهت د عجز د خدای جل سلطانه ته. او جهت د حرب د شیطان سره نو ځکه محراب محراب بولی. یعنی د ځای جنګ. نو د جنګ او عجز ترمابین منافات نشته لتغایر الجهتین» اوبل جواب دادی چې موږ په صلوة کی امر سوی یو په اخذ د سلاح «قال الله تعالی: وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ» نو توره چې معلق وی و محترمه د مصلی نو احتمال یه السانه دې وړه نه ده کی حاجت و ته پیدا شو نو د اهتمام څخه وجه نشته» او دی خبری پخلی هغه حدیث صحیح کوی چې صحابه رضی الله تعالی

عنهم وائی چې عنزه چې هغه لګوده چې په سر کی تیره و سپینه ده د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د مخه به چا اختی وه نو وخت کی د لمانځه بې ده مبارک د مخه د ډوله کیدله. او په دی کی شک نشته چې عنزه خو هم آله د حرب ده انتهی قول الکفایه ماحاصله مع الزیادة من ط.

قال المصنف رح **او شمع او سراج علی الصحیح** او اغر ونګه مکروه نه دی لمونځ چې د مخه مصلی شمع لګیږی او یا څراغ لګیږی پر صحیح روایت. ولی چې په دی کی مشابهت د عبادت سره د مجوسیانو نه نشته» ولی چې مجوسیانو عبادت کوی سکر و ته کوی نه وه بل اوړته کذا فی فتح القدیر و کذا السید فی الشرح وقدم بعض التفصیل» او صحیح په لفظ کی اشاره وده چې په بعض روایاتو ضعیفه و وکی راغلی دی چې دا مکروه دی. شاید هغوی صرف دا اوریدلی وی چې مجوسیان د اور عبادت کوی نو شم او څراغ خو هم اوردی لکن دوی نه دا درک نه دی معلوم چې مجوسیان خو د سکر و ته عبادت کوی نه دبل اور» قال المصنف رح:

والسجود علی بساط فیه تصاویر لم یسجد علیها اوږده ونګه مکروه نه دی لمونځ کول پر هوار سوی شی چې په کوی بتانو د اسی تصویرونه اوبتان وی چې مصلی سجده نه پر کوی **پوښته**: چې مراد د بتانو څخه بتان د ذی روح شئی دی. ولی د غیر ذی روح لکه د رخت پر تصویر باندی سجده هم روا ده. چنانچه هغه مصلی وی چې د عربستان یه حاجیان راوړی د عین سجدی په ځای کی د محراب صورت. او یا د مسجد مکی یا د مسجد مدنی نقشه وی. ولی چې د غه بتان سپک استعمالیږی چې تر پښو لاندی کیږی نو تعظیم د بت نه دی» مر» داسی عبارت په جامع صغیر کی راغلی دی. او بدائع هم صحیح ګڼلی دی او تاج الشریعة یې هم پخلی کړی دی. او په مبسوط کی عبارت د کراهت مطلق ویلی دی. یعنی که سجده پر کوی او که نه. او صاحب النهر وائی چې مطلق عبارت د مبسوط محمول پر مقید دی» ط» یعنی چې سجده پر کوی فارتفع الاختلاف»

خدایه و بخښنې مؤلف او هم کاتب ؛ دعاء تل رب قبلوي دوروغ غائب = حقانی غفرله

قال المصنف **وقتل حية وعقرب خاف أذاهما ولو ببضربات**

اودغه، نگه مکروه نه دی وژل د مار اولړه، د مصلی بیرین ی د آزاره شخه دوی که څه هم په خوواره وهلو سره وي چې عمل کثیر دی. او که دا راز بیریدی نو عمل کثیر په لمانځه کی خو مکروه تحریمی دی. **فائده**: په صحیح حدیث کی راغلی دی: اُقتُلُوا ذا الطفتین والابتر وایاکم والحیة البیضاء فانها من الجن» یعنی تاسی وژنی مطلقاً یعنی که په لمانځه کی یاست که بیله لمانځه هغه مار چې پر شا باندی دوه پاڼی لری چې دا مار یو خبیث مار دی. او ابتر مار یعنی چې لکی یه لکه پری وی چې مونږ یه لنډی بولو او ځان ساتی د سپین مار ده وژلو څخه ولی چې د پیریانو دقسم څخه دی»

مسئله: که لمونځ کوونکی د آزاره دمار، لړم، وغیره په امان کی وُو. نو کی په عمل قلیل وژلای سوای لکه یوه پلا په چوپه یه وه وهی نو خو کراهت نشته. او کی عمل کثیر لکه خوواره ضربات یا په انحراف د قبلی څخه نو په دی کی اختلاف دی، حسن د امام اعظم څخه روایت کړی دی چې د قتل په عمل کثیر یا انحراف د قبلی څخه سره د امن مکروه نه دی لکن لمونځ نه په فاسدیږی. کذا قال الامام السرخسی. وقال الحلبی صحیح داده چې لمونځ په فاسدیږی که څه هم په نفس د قتل د غو موذی یا توپه لمانځه کی قاتل گناه کار نه دی. وهذه روایته مبسوط شیخ الاسلام وعلیه عامة شروح الجامع الصغیر وقال الکمال: الاصح فی المسئلة المذکورة فساد الصلوة ط بتغییر و تقدیم وتاخیر» وفی المراقی نقلاً عن سبعیات الفقیه ابی اللیث»

او شیان دی چې مصلی یه ووینی. **لا بأس بقتلها**» پرواه نشته په وژلو کی په لمانځه کی ع مار دی ع لړم ع کرښوری ع غالبوزه که څړه وی که تنده، او که مچ وی که مځمچی، ع او منگړ ع او کیکاړ ع او شپیره او بعض علماء وو غوما شیه هم پرې یا ته کړیده، او موږ میږی چې نباڼگور میږی یه بولې یا حبشی میږی یه بولې. هم پرې یات کړی دی. لکن د شپږی دوینو څخه د ځان ساتی. ولی هغه په نیزد امام شافعی نجس دی. وقال بعضهم چې نیول د شپږی

او یا وژل د امام اعظم په نیز مکروه دی. لکن د هغه ته مکروه دی چې د اشپږی مصلی نه آزاری په باره کی د مار د وژلو صدر الاسلام د اسی وائی چې صحیح داده چې په وژلو کی د مار نو دے سړی د یرا حتیاط کوی چې جنی پیری نه کندی قتل نفسی»

تا چې بیا سبب د لوی آزار د جنی د خوا څخه نه گرځی. او چې سړی مار وویني چې شک د جنی پیری کندی وسی. یعنی سپین وی او سمدم روان وی. اول دی ورته وائی چې خالی کړه لاړ د مسلمانانو او تیر سه. نو که تیر سو نو دی کار نه په لری. او که نه ایسته کیدی او یا ئی جنگ کاوه مړ دی کړی» صدر الاسلام رح وائی چې د مار مشروره، یعنی بولوی غټ مار چې زمونږ په کور کی پیدا سوی وو په توره یه وواهه او مړ ئی کړئ. د پیریانو د خوا دی پر پښو ووهل سو. چې په دوارو پښو شل سو او پښی یه تر یوی میاشتی پوری هیڅ حرکت نه د ر لودی. حتی چې بیا مو دواوی هم په وکړی او هغه پیریانو موهم راضی کړه بیا هغو پری سو او جوړ سو دی وائی. چې داخو زما چشم دیده واقعه ده.

راولیش وائی. چې هغه خبره چې قهستانی د شرح التاویلات څخه نقل کړی ده. چې وائی چې پیرانا ن دیر ضعیف دی تر انسانانو، او دوی قدرت نه لری پر وژلو د سړی او یا د هغه د مال پرورو او ټیر فاسد ولو د هغه مالو، خلاف د بداهت څخه او خلاف د تجربو څخه او خلاف د احادیثونبویه څخه فتامل» در قال المصنف:

وانحراف عن القبلة فی الأظهر ولا بأس بنفض ثوبه

یعنی که څه هم په وژلو کی د مار اولړم چې د آزاره څخه بیریږی کنه والی د راسی د قبلی څخه، او پراته چې مصلی لیری کوی جامه خپله د بدن څخه یعنی

کیلا یلتصق بجسده فی الرکوع په عمل قلیل. تا چې د غه جامه په رده سره جوت نشی په رکوع کی یعنی یا په سجده. دا دی د پاره لیری کوی چې د بعض خلګو قمیص لنډ وی او پر توګ یه تنګ وی نو چې پر رکوع سی پر توګ یه په کونه ننوزی. او د کوني نقشه یه کتبی شکاره سی. او چې پر سجده سی په پرتا گه کی د خوتیو څرګندی نقشه معلومیږی

لکه دهند وستان د خلکو کالی - اود بعض خلکو کالی ترخیزی نه لری په یوه تاوی دهغوپه کونه هم داقسمین ټوټی. اودکوئی نقشه پکښی معلومیږی. چی په نقشه معلومید وسره ترشا لمونځ کوونکوته پریښاړ بیا معلومیږی. نود دی سبببه نقض دجای ومصلی ته مکروه نه دئ.

مسئله: جامه ساتل د خاوړو ځمکه مکروه نده په لمانځه کی. یعنی چی پرقمیصه په وخت د رکوع لاس ولښی چی په خاوړو نه سی. مگر کی راپورته کړه د ځمکی وخواته بیا مکروه دی.

قال المصنف **وَلَا بَأْسَ بِمَسْحِ جَبْهَتِهِ مِنَ التُّرَابِ اَوِ الْحَشِيْشِ**

اوپرواندته په پاکولوسره د تندی د خاوړو ځمکه او یا خاشو ځمکه نیسله فراغه د لمانځه، مراقی یوجه داوائی تنظیفاً عن صفة المثلة، یعنی د پیاړه بعد الفراغ من الصلوٰة دساتلو او پاکولود مخ د ډوډل ځمکه د مثلت. یعنی بد شکلی د تندی. د درویش وائی چی د دی دلیل ځمکه د مراقی دا فهمیږی چی نه پاکول یه مکروه دی، ولی چی مثلت خومکروه دی. اود لفظ «لَا بَأْسَ» په متن کی دا معلومیږی چی پاکول یه مکروه تنزیهی دی» کما هُوَ مصطلح الفقهاء فی لفظ لَا بَأْسَ» نوپاته یه ښه کاردئ.

اود غه رنګه په یوه اثر کی چی روایت یه سید کړی دی داسی راغلی دی: إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَسْتَغْفِرُ بِهِ مَا دَامَ عَلَيْهَا، چی ملکی طلب د بخښنی وکړی تر هغوپورې چی د غه خاوړی دده پر جبهه وی. د دی اثر خوهم با التصریح دا معلومیږی چی پر لیښوول یه اولی دی» اویا که یه مکروه تنزیهی دی. فما التوفیق بین ما یفهم من تعلیل المراقی وبین ما یفهم من لفظ لا بأس ومن هذا الاثر» **والجواب** دادی چی که تندی معمولی په خاوړو سپیره وی نو ترک یه اولی دی. اوپاکول یه مکروه تنزیهی دی کما هو مفاد لفظ» لَا بَأْسَ وَالْاَثر المذکور» اوکه تندی یه په خاوړو ډیر چټل وی چی حده د مثلت کړی سید لاوی نو بیا پاکول ښه کاردی پر لیښوول یه مکروه دی کما مفاد تعلیل المراقی» وهذا هو وجه التوفیق کما هدیت الیه بنور التوفیق. داخوحال وود تندی دپاکولو وروسته تر لمانځه»

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ اٰمِيْن

قال المصنف **وَلَا قَبْلَ الْفَرَاغِ اِذَا ضَرَّهٗ اَوْ شَغَلَهٗ عَنِ الصَّلٰوةِ**

اود غه رنګه پرواه نه لری پاکول د تندی د خاوړو اوخاشو ځمکه د مخه تر فارغ والی د لمانځه ځمکی وه مصلی ته د غه خاوړو اوخاشو ضرر رساوه یعنی تندی یه وړ خوبناوه. اویا یه مصلی د خشوع ځمکه د لمانځه مشغوله کړی وو» قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِالنَّظَرِ بِمُؤْخِرِ عَيْنَيْهِ مِنْ تَحْوِيْلِ الْوَجْهِ

اود غه رنګه پروا نسته چی مصلی په کنجانو د ستر گو وپوښی نه گوری لکن نه په مخ اړولو سره لکن بیا هم بیله ضرورته یه اولی ترک دی چی د ادب ځمکه د لمانځه خلاف دئ.

مسئله: که چا په کتلو کی مخ د سمت د قبلی ځمکه واړاوه نو عمومی فقهاء وائی چی لمونځ مکروه دی او کی ځیګر هم د سمت القبله ځمکه واړاوه لمونځ یه فاسد دی لکن قاضیخان په دغه صورت کی هم لمونځ فاسد بولی وهو اختیار دره» قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِالصَّلٰوةِ عَلَى الْفَرْشِ وَالْبِسَاطِ وَاللُّبُوْدِ

اوپرواندته په لمونځ کولو کی پرفرش باندې لکه د سنګ مرمرو غیره فرش. اونه پرواسته په لمانځه کولو کی پرآوار سوی شیانو باندی لکه ستر نجی، غالی، اوپرکراستو باندې چی توشه کان یه بولی» په شرط د دی چی جسد د ځمکی لری یعنی د سجدی په حال کی کښته نه ځی، لکه پښه یا وړی. **مسئله**: په مراقی کی وائی چی صرف تر تندی لاندی کم بوکر آواره وی د جهت د ځمکه د صرف ګرمی او یا د پیخ اویا د ځمکی د زیږ والی په سبب مکروه دی»

حکایت یوه وخ امام اعظم تر تندی لاندی یو توکر اوارکړی وو، یونا واله سړی ورته ووئیل یا شیخ لا تفعل مثل ذالک فانه مکروه فقال له الامام یعنی بعد الفراغ عن الصلوٰة من این انت، ته د کوم وطن یه، فقال من خوارزم،

فقال الامام: الله اکبر د اکمل په دتعجب دپاره وویل: جَآءَ التکبیر من الصف الاخیر، داخبره کنایه ده دې څخه ده چې امام په لمانځه کې سهوه شي. د اول صف څخه فتح نه وکړه سی بلکه د اخیر صف څخه فتح وکړه شي. غرض د حضرت الامام ر داوو چې دین د اسلام د دې څخه خوارزم ته تللی دی او د خوارزمه دلته نه دی راغلی. وروسته امام ورته وویل أفی مسجدکم حشیش، ایا ستاسی په مسجد کې واښه نه دی آوار، قال نَعَم یعنی هو آوار دی نو حضرت الامام ورته وویله یجوز علی الحشیش ولا یجوز علی الخرقة، نو څرنګه سجده کول پرې وښو روا ده او پرخرق مکروه دی: قاله صاحب الهدایه فی التجنیس ط در

مسئله: هغه ټوکر چې مصلی پسله او د اسرښ او لاسونه په وچ کړی وی پرهغه خو سجده مکروه ده په سبب د دی چې په بعض روایاتو کې څه هم معتمد نه دی د راغلی چې مأ مستعمل نجسه دې. قال المصنف:

وَالْاَفْضَلُ الصَّلٰوةُ عَلَى الْاَرْضِ اَوْعَلٰى مَا تُنْبِتُهُ

اوښه کار لونځ کول دی پر خالصه ځمکه چې هیڅ شی نه وی پرآوار یعنی بیله حائله دشئ. او یا پرهغوشیانو چې ځمکه یې راشنه کوی. لکه بوریا، کډ لوخوپې او که د مزرو وپې، او یا واښه لکه عوم بک. ولی یو خو د اسباب دی چې د اسی لمونځ کول نهایت تواضع ده. او بل پرد غوشیانو لمونځ کول مصلی باسی د خلاف څخه د امام مالک. ولی چې امام لمونځ مکروه بولی پرهغه شی چې دَوَرِ یو څخه جوړ وی او یا د پنبو و څخه او یا د کتان څخه: قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِتَكْرَارِ السُّوْرَةِ فِى الرَّكْعَتَيْنِ مِنَ النَّفْلِ

اوهیڅ پروا نشته په مکرره ولوکی د یوه سورة په دوو رکعتو کې د نفلو یعنی بیله عذره چې نور سورتونه یې هم پیدا دی بخلاف الفرض فانه یکره التکرار فیه بدون العذر، قال المصنف:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِمَنْ سَعٰى فِيْهِ اٰمِيْن»

فصل

فِيْمَا يُوْجِبُ قَطْعَ الصَّلٰوةِ وَمَا يُجَيِّزُهٗ وَغَيْرُ ذٰلِكَ

فصل دی په بیان کې د هغو شیانو چې پرمصلی قطع یعنی پرې بنوول د لمانځه واجبوی او یا روا کول د قطع کوی او نوری مسئلی: قال المصنف:

يَجِبُ قَطْعُ الصَّلٰوةِ بِاِسْتِغَاثَةِ مَلْهُوْفٍ بِالْمُصَلِّى

واجبه ده قطعه کول د لمانځه په فریاد کولو سره دیوه مظلوم پرمصلی باندې مثلاً یو ظالم پرسرې ظلم کاوه او زده وکوب ده هغه یې کاوه هغه سړی پرمصلی باندې استغاثه وکړه او یا یو سړی په اوبو کې ولوېدی، او یا درنده حمله پرې وکړه. او هغه پرمصلی باندې استغاثه وکړه نو پرمصلی واجبه ده چې لمونځ دی قطع کړی او فریاد رسی د هغه سړی دی وکړی.

مسئله: قطعه د لمانځه علت واجبه ده چې قادر وی پرد فع د استغاثه کوونکی یعنی پرې خلاصولو د ده. او که قادر نه وو بیا قطع د لمانځه حرامه ده لعدم الفائدة..

مسئله: امام طحطاوی د بعض فضلاؤ څخه نقل کړی دی. که مصلی قادر وو پرې خلاصون د مَلهوف بیا قطع د لمانځه واجب ده پرده. که څه هم وخت د لمانځه تیرېږي. د رولیش وائی چې سبب په دادی چې د ملهوف وخت تیرېږی او قضاء یې هم نه راوړه کیږی. او د لمانځه وخت که تیرسی قضاء خو یې سته او بادار جل سلطانه غفور رحیم دی

قال المصنف:

لِاَنِيْنِ اَحَدِ اَبَوَيْهِ

اونه ده واجب قطع د لمانځه په ناره سره د یوه د مور او پلار، لکن چې ده استغاثه پرې ول نه وی. والا فالقطع واجب بالطریق الاولی، ولی چې قطع د لمانځه د پاره د بیګانه مستغیث واجب ده نو مور او پلار تر بیګانه اولی دی چې د زوی څخه استغاثه وغواړی. دلیل د مسئلی دمتن دادی چې قطع د لمانځه هلته روا ده چې ضرورت وی د نفس نداء څخه د ابَوَيْهِ خو ضرورت نه فهمیږی نو قطع د لمانځه حرامه ده» ط.

قال الامام الفقیه ابوجعفر الطحاوی فی شرح معانی الآثار» چې داحکم د فرضی لمانځه دی.
اوکه سړی پرنفلو لمانځه ولاړ وو- اومور یا پلار و، ناری کړی. نوکه مور او پلار یې دی خبر
وچې زوی پرلمانځه ولاړ دی نو دې د ے لمونځ نه قطع کوی. اوکه نه وو خبر بیا لمونځ
قطع کړي اود دوی اجابت دی وکړي. لکن په صورت کی د خبر تیا هم اولی داده چې لمونځ دې
تطوع کړي. د رویش وایي چې هم پرنفلی لمانځه باندی محمول دی. هغه اوبد حدیث
دجریج» اود ده مور چې بخاری او نورو کتابود حدیثو نقل کړی دی فراجع الی تلک الکتب

قال المصنف» **وَيَجُوزُ قَطْعُهَا بِسَرِقَةِ مَا يُسَاوِي دِرْهَمًا وَلَوْ لِغَيْرِهِ**

اورواده قطع کول د لمانځه یعنی واجب نه ده. په سبب د غلا د یو چا دوه شی چې
قیمت یې ویوه درهمه سره برابر وي. که څه هم هغه شی د مصلی نه وي. بلکه دنبل چا وي.
دلیل یې دادی چې اندازه د درهم مال دی. وقال علیه الصلوة والسلام قاتل دون مالک»
اود لیل د دوهمی خبری دادی چې په دی قطع کی د لمانځه دپاره د مال د غیر د فع د ظلم ده
هغه نوتن نهی عن المنکر ترکلیه لاندی راځی. مصنف» په مراقی کی وائی چې تر درهمو کم
مال د پاره هم قطع د لمانځه روادی. ولی چې په یوه دافتی چې شپږمه حصه د درهم
ده حبس دیوه ورځ روادی وهو الاصح:

مسئله: که لمانځه پرلمانځه ولاړ وه او کتوو یشیدل چې تویول قطع د لمانځه ورته
روا ده. **مسئله**»: که لمانځه پرخپل کشتی زوی بیرید ل چې مثلاً د پښې څخه ونه
بیرې نی او یې باندی ولاړ نه شی. قطع د لمانځه روا ده» در» **مسئله** که
یوسړی پرلمانځه ولاړ وو یو کافر ورته ووې ل چې ما ته کلمه راوښیه نه مسلمان
کیږم. قطع د لمانځه ورته روا ده. اوواجب په دی سبب نه ده چې لمونځ هم عبادت
دی او تعلیم د کلمی وکافر ته هم عبادت دی. نوهر یوچې د مخه کوی د ده اختیار دی. او
په غیر کی د حالت د لمانځه څنګه د تعلیم د کلمی وکافر ته گناه نه ده. په دی سبب چې
دی نو گویا راضی دی په بقاء د کافر په کفر» وهو معصیة»

قال المصنف» **أَوْ خَوْفِ ذِئْبٍ عَلَى غَنَمٍ أَوْ خَوْفِ تَرَدِّي أَعْمَى فِي بِئْرٍ وَنَحْوِهِ**

اود غه رنګه قطع د لمانځه روا ده د جهته د بیری د لیوه څخه مثلاً یا د نهری
یا د فرانک وغیره پرپسو یا ندی کړه د نبل چا وي. اود غه رنګ قطع د
لمانځه روا ده چې مصلی بیریږی چې روند وتاه ته ونه لوږی او لیوی کندی ته او یا د
بام راوښه لوږی. **مسئله**» که غالب الظن د مصلی داوو چې رڼوند به وتاه ته ولوږی
اویا به د بامه راایله سی. بیا قطع د لمانځه پرواجب ده که څه هم فرض لمونځ وي. قال المصنف»

وَإِذَا خَافَتِ الْقَابِلَةُ مَوْتَ الْوَلَدِ اود غه رنګه قطع د لمانځه روا ده که قابله
چې په اصطلاح یه دائی بولي بیریدله چې کشنی به مړه سی یعنی نږه لمونځ پوره کوی» قال

وَإِلَّا فَلَا بَأْسَ بِتَأْخِيرِ الصَّلٰوةِ وَتُقْبِلُ عَلَى الْوَلَدِ اوکه مړه
نه وه بلکه غالب الظن د لمونځ کوونکی ښځی داوو کړه چې یرې لمونځ پوره کوی کشنی به مړه سی مثلاً
یعنی یا بی مور مړه سی نو بیا لمونځ نسته بلکه پرواجبه ده چې لمونځ به ځنډه وی یعنی تروخت
روا به مخ را اړه وی پرکشنی چې دا اوس زیږی تاچه د کشنی څرګندتیا سی. لمونځ خو
بیا قضا یې وکړی. اوده ورته صنف د سببه چې د لمانځه قضاء کول روا دي.

که د صحیح بخاری کی اوپه مسلم کی چې راغلی دی چې په غزا کی د خندق آنحضرت صلی الله علیه
وسلم څلور لمونځونه قضاء کړه د ما پښین لمونځ او بیا د ما ز دیګر لمونځ او بیا د ما بنام لمونځ او
بل د ما ختستن لمونځ بیا یه په ترتیب سره قضاء راوړه په جماعت سره» ط» عذر داوو
چې مشرکین اود دوی سره همکارانو لوی هجوم راوړی وو. **فائده**: که څوک
غواړي چې تفصیل د غزا د خندق چې بل نامه یه غزوة الاحزاب هم بولي. پریوه ځای نږده کړي
نو د ږو لیش کتاب» البلاغ المبین د ی مطالعه کړي چې دیره افسوس ناکه غزاده چې په
قرآن مبارک کی هم د هغی غزا ذکر راغلی. اود شدت درلک یه د د غو الفاظو قرآنیه

څخه معلومیږی: «إذ زاغت الأبصار وبلغت القلوب الحناجر» الآیة: لکن پاک خدای جل سلطانه بیا هم فتح وظفر او کامیابی مسلمانانو ته برخه کړه و لله الحمد: قال المصنف:

وَكَذَا الْمُسَافِرُ إِذَا خَافَ مِنَ اللُّصُوصِ أَوْ قُطَّاعِ الطَّرِيقِ جَازَ لَهُ تَأْخِيرُ الْوَقْتِيَّةِ

او همرنګه کله مسافر ویریدی که نه لمونځ په مستحب وقت کې وکړه د غلو څخه اویا د قطع کوونکو څخه ډاریږی نو وادی ورته تاخیر او ځنډول لمونځ دوخت پوری

پوه سه: چې مراد د مسافر څخه مسافر لغوی دی. یعنی چې په بیابان کې روان وي که همه د شرعي سفر نیت نه وي کړی. ولې چې داعذر د لصوص په مسافر شرعي پورې خاص نه دی. **پوه سه:** چې د لصوص لفظ عام دی نفس غله نه وائی که څه هم لاري بیخي نه وي بندی کړی. او قطاع الطریق هغه خاصه ډله د غلو ده چې او طاقونه په ډیو لاره کې وي او خلک تیریږي د نکی وژنې هم اومالونه یې هم څنډی وړی» چې د اډله غلو د چې په قرآن عظیم الشان کې دوی د پاره سزا ګانې قسم قسم تاکل سوی دي.

مسئله: که مجاهدینو په صفونو کې د جنګ د کافرانو پر اسانو سپاره وه اویا په اوسنۍ زمانه کې په موټرانو کې سپاره وه. اویا په تانګانو کې سپاره وه. چې هغوی د جهت د شدت د جنګ په اشاره هم لمونځ نه سوای کولای نو دی لمونځونه قضاء کړي بیا بې وروسته د قضاء لپاره لما مر من حدیث غزوة الخندق». **مسئله:** د قضائی لمونځو قضاء که څه بالفوره واجب ده لکن هغه سړی ته چې په نفقه برابره ولود عیال اخته وی. او د قضائی لمونځو د اګر څولو وخت نه لري. نو ده ته روا ده چې قضائی لمونځونه وځنډوی تر وخت پورې د قدرت، او قضاء د روژې خو واجبه علی التراخی ده» «م» قال المصنف:

وَتَارِكُ الصَّلٰوةِ عَمْدًا كَسْلَانَ يُضْرَبُ ضَرْبًا شَدِيدًا حَتّٰى

اوه کوونکی د لمانځه په قصد سره یعنی بیله عذره وی وهی حکام په سخت وهلو حتی چې

يَسِيلَ مِنْهُ الدَّمُ وَيُحْبَسُ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا

چې وینې څندی و بهیږی او کې په وهلو توبه ونه کښه بیا دی بندی کړی **مسئله:** حکام دی دده معلومات د لما نځه کولو همیشه کوی په نصیحت او په پیش رو. او بیا کې توبه ونه کښی هم دی وهی یعنی تر هغه وخته چې دی پر لمانځه دریږی. او یا په هغه بندی خانه کې مړ سي. د اخود تارك الصلوٰة دنیاوی جزاء ده. او په اخرت کې چې پر اسلام هم مړ سی او د ترك الصلوٰة ګناه پر باندی ده جزاء په هغه ده چې په حدیث شریف کې راغلی ده. لَهُ عذاب طویل بوادٍ فی جهنم اشد هاحرا وابعدها قعرًا» الی اخر الحدیث» او په حدیث شریف کې چې روایت په جابر ګړی دی علیه الصلوٰة والسلام وائی: بین الرجل وبین الکفر ترك الصلوٰة» رواه احمد ومسلم م قال المصنف:

وَكَذَا تَارِكُ صَوْمِ رَمَضَانَ

او هغه رنګه حکم دی د روژه خور، یعنی د کسل او سستی د جهته روژه نه نیسی، یعنی هغه دی وهل کیږی او بیا دی بندی کیږی څو توبه کا بنی او روژې نیسی قال المصنف:

وَلَا يُقْتَلُ إِلَّا إِذَا جَهَدَ أَوِ اسْتَخَفَّ بِأَحَدِهِمَا

او تارك الصلوٰة یا روژه خوړه دی حکومت نه وژنی مګر هغه وخت چې صریح منکر کیږی دیوه څخه د لما نځه او د روژې اویا سپکاوی کوی په یوه د دوئ. یعنی داسی الفاظ استعمال کړی چې په سپکاوی دلالت کوی لکه چې وائی العیاذ بالله لمونځ ورځ نه دی او د روژې سبه په هضم کیږی. او یا نور ورته قبیح الفاظ چې زه ئی پرخوله نه سمږ اوګلای. او حضرت الامام شافعیؒ وائی چې د غه دواړه دی حدًا وژنې یعنی د دوی حد وژل دی. او امام احمدؒ وائی چې دواړه دی وژنې دجهته د کفر یعنی دوی مرتد دی. په لما نځه نه کولو سره اویا په روژه خوړلو سره که څه هم انکار صریح یا استخفاف هم نه وي. د رولیش وائی چې د دی مسئلی او د دی فصل شرح خلاصه سوه په توفیق د خدای جل سلطانه اوس باب الوتر شروع کیږی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولجمیع المؤمنین آمین

بَابُ الْوِتْرِ

باب دی په بیان کی دهغه لانځه چې دوتر و پـه نامه مشهور اوشهرت لری اوهرچا ته معلوم دی

قَالَ الْمُصَنِّفُ: اَلْوِتْرُ وَاجِبٌ وَهُوَ ثَلٰثُ رَكَعَاتٍ بِتَسْلِيْمَةٍ

وتر واجب دی یعنی چې منکر یې کافر نه دی لکن تارک یې مستحق دعذاب النار دی، اوفرض هغه عمل ته وائی چې منکر یې کافر دی بالاتفاق. اوپه عمل کی واجب اوفرض سره یو دول دی اووتر دری رکعاته دی په یوه سلام سره لکه دمابنام لمونځ، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَقْرَءُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ مِنْهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُوْرَةٍ

اووایی کیږی په هر رکعت کی دوتر و الحمد لله اویو سورة - اوکښینی

وَيَجْلِسُ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ مِنْهُ وَيَقْتَصِرُ عَلَى التَّشَهُّدِ

په پر سر دوو رکعتو یعنی دوه اول اوداناسته اوله واجبه ده. اوپه ناسته کی به یوازی التحیات

وَلَا يَسْتَفْتِحُ عِنْدَ قِيَامِهِ اِلَى الثَّالِثَةِ وائی یعنی لکه فرضی لمونځ اوسبحانك اللهم به نه وائی په وخت دولاړی ودریم رکعت ته لکه په نفلو چې وائی.

پـوه سـه: چې په وترو کی ډیر اختلافات سته په احادیثو مبارکه ووکی هم اوپه فقها ووا و مجتهدینو کی هم خو دگرد و تفصیل کول په دی ځای کی مناسب نه دی زموږ د حنیفیانو مذهب دادی چې وتر دری رکعت دی په یوه سلام. دد ی دلیل هغه حدیث دی چې حاکم یې روایت کړی دی او صحیح یې هم بولی دی. كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ لَا يُسَلِّمُ اِلَّا فِي اٰخِرِهِنَّ، پوه سه: چې وتر په لغت کی تاك شی ته وائی

چې مقابل دجوت دی. اوپه شرعه شریفه کی دفوق الذکر لمانځه نوم دی.

فـائـدة: اول روایت دامام اعظمؒ څخه دادی چې وتر فرض دی. والیمال الشیخ علم الدین السخاوی المقرئ. اوپه دی باب کی ده یوه رساله هم جوړی کړیده. اوهغه حدیث یې سره جمعه کړی دی چې ظاهرًا پر فرضیت دوتر و دلالت کوی. اودوهم روایت یې دادی چې وتر سنت دی. اود اقول دیار انوهم دی اواخری روایت ده مبارکه څخه دادی چې وتر واجب دی وهوالاصح. اواکثر اهل المذهب الحنیفیهم ودغه روایت ته تللی دی کما قَالَ الْمُصَنِّفُ اوبعض مشا ئخو مذهب ددی دری روایتو تطبیق داسی سره کړی دی.

چې مراد دامام اعظمؒ دفرض څخه فرض عملی دی یعنی چې ترك یې نه دی روا اودواجب څخه مراد دادی چې وتر واجب دی ازروی عقیده یعنی منکر یې کافر نه دی، اوسنتیت څخه مراد دادی چې اثبات دوتر و په سنت نبویؐ سره سوی دی. چې هغه داقول دعلیه الصلوٰة و السلام دی، الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منی، اوداخبره یې دری واره مکرر کړه. رواه ابوداؤد والحاکم وصححه الحاکم، پـه دی حدیث کی امر نبوی اولفظ دحق دلالت پر وجوب کوی.

هرځه مه وایه

هغه قصه چې بعض قصه خوانان، بیعلمه خطیبان یې کوی چې یوه شپه جبرئیل امین علیه السلام والا حضرت صلی الله علیه وسلم ته راغلی اوورته وې ویل چې خدای پاك وائی چې یو رکعت لمونځ وکړه نو علیه السلام چې یو رکعت لمونځ وکړی دځان سره یې فکر وکړه چې یو رکعت خو به لمونځ نه وی. نو یو رکعت لمونځ یې بل ورضم کړی چې جوت سره پر التحیات چې کښینستی تر سلام دځخه جبرئیل علیه السلام ورته ووې چې یو رکعت بل وکه یعنی چې تاك شی نو علیه الصلوٰة والسلام یو بل رکعت هم اداء کړی. نوهغه پـه دین کی بې پروا ملایان وائی چې اول رکعت دوتر و چونکه په امر د خدای جل جلاله دی نوهغه رکعت فرض دی او دوهم رکعت چونکه علیه الصلوٰة والسلام دخپلی رائی څخه وکړی نوهغه سنت دی. او دریم رکعت چونکه په امر د جبرئیل علیه السلام وو هغه واجب دی داقصه بالکل غلطه

اولی بیاده ده - پرخدای جل جلاله اوپر رسول دخدای درفع ویل دیره غټه گناه
فالحذر الحذر

تخریج پوه سه چی دری رکعته والی دوتره مذهب دی د فقهاء سبعه
الروایات وود مدینی منوری - او ابن ابی شیبه د حسن البصری روایت داسی
راغلی دی چی اتفاق کړی دی سلفو چی وتر دری رکعته دی اوسلام دی
نګړځوی مګر په اخیر هغوکی وهو مذهب ابی بکر الصدیق رض وعمر والعبادلة الثلاثة
یعنی عبد الله بن عباس رض وعبد الله بن عمر رض وعبد الله بن مسعود رض. وذهب الیه ابوهریرة
رض الله عنه په یوه روایت کی داسی راغلی دی چی سعد ابن ابی وقاص رض وتر یو رکعت وکړی
نو عبد الله بن مسعود رض ورته وویل ما هذه البتیراء داخه یوازی رکعت دی نه دی
کافی یو رکعت فقط اوعبد الله بن مسعود رض پرده غږ خبره قسم هم یاد کی. وروی ان عمر رض
رای سعیدا یوتر برکعة فقال نو عمر رض ورته وویل ما هذه البتیراء یا به ښایی رکعت وی
جوت وی اویا نه تاته ادب درکومه

پوه سه: چی که څوک مصنف مطلق سورت وټاکی دی لکن په حدیث شریف کی داسی
راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم: په اول رکعت کی دوتره سورة سبح اسم
ربک الاعلی، وایه، اوپه دوهم رکعت کی قل یا ایها الکفرون، وایه اوپه دریم رکعت
کی قل هو الله احد، وایه اوپه یو روایت کی عائشه رضی الله تعالی عنها چی روایت د
هغه اصحاب السنن یعنی سنن ابی داؤد، سنن ترمذی، سنن نسائی، سنن ابن ماجه،
کړی دی، اوغه رنګه ابن حبان اوحاکم په مستدرک کی کړی دی. داسی راغلی دی چی
رسول کریم صلی الله علیه وسلم په دریم رکعت کی قل هو الله، قل اعوذ برب الفلق او
قل اعوذ برب الناس یوځای سره وویل، نو مونږ باید گاهی هغسی هم وکړو اوگاهی داسی وکړو
لکن اسحق بن راهویه وائی چی اصح روایت په باره کی د قرائت د علیه السلام په وترو کی
سبح اسم ربک الاعلی، او قل یا ایها الکفرون، او قل هو الله احد، ده، اود معوذتینو
پرځای لاکونو په دریم رکعت کی امام احمد بن حنبل او یحیی بن معین انکار کړی دی، دریمی

وائی چی عمومی فقهاء د مذهب حنیفی په ځیلوکښا بوکی پردی اولوسورتو اقتصار کړی دی

قال المصنف وَاِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ السُّوْرَةِ فِيْهَا رَفَعَ يَدَيْهِ حِذَاءَ

اوچی مصلی فارغ سی د قرائت څخه د سورت په دریم رکعت کی پورته د هغے کړی دواړه لاسونه

اُذُنَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ وَقَنَتَ قَائِمًا قَبْلَ الرُّكُوْعِ

ترغوږونو پورې اوبیا دی الله اکبر وائی

ولی چی د اوس مصلی ودعا ته نقل کیږی. او بیا دی دعاء قنوت ووائی په ولاړه. په حدیث
مبارک کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم دعائی قنوت د رکوع څخه ترڅو رکوع وایه

پوه سه: چی اختلاف په دعاء قنوت کی د رکوع څخه ترڅو رکوع د مجتهدینو په افضلیت کی
دی ورنه قنوت بعد الرکوع هم په حدیث مبارک کی راغلی دی.

فائده: په وخت د قنوت ویلو د حضرت الامام مذهب دادی چی راسته لاس دی
پرچپه لاس کښیږدی لکه د ښځو په شان، او د ابو یوسف څخه روایت دی چی لاسونه دی
د دعا پر وخت پورته کړی تر ځیګر پورې لکه عبد الله بن مسعود چی دغسی کوله، او امام
محمد وائی چی لاسونه دی د ځانه سره ایله کړی. واختاره الطحاوی والکرخی، مرط قال

فِيْ جَمِيْعِ السَّنَةِ وَلَا يَقْنُتُ فِيْ غَيْرِ الْوِتْرِ وَمَعْنَى الْقُنُوْتِ الدُّعَاءُ

دعائی قنوت په وترو کی دی په ټولو کال کی وائی. اوشافعیان وائی په اولوشپو کی د رمضان
صرف وائی. او دعاء قنوت دې نه وائی په غیر کی د وترو. لکه حضرات شافعیه چی د سحار د
لمانځه په دوهم رکعت کی همیشه وائی. او د دعاء پرشکل لاسونه هم پورته کوی.

پوه سه: چی په حدیث شریف کی چی روایت یه انس کړی دی داسی راغلی
دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت د بعض قبیلو د عرب یعنی رعلی وذکوان و
عصیه، چی هغه دعوت د دوی دهم مکر او خدیعه وه اویا کسان د قاریانو څخه
د صحابه رض وو د هغو قومو سره د پیاړه د تعلیم د قرآن او اسلام واستولة خوهغوما کرانو په لاره کی

نور کسان هم کښینوله، اوهغه قاریان یې ټوله په شهادت وسول نوخو وخت چې علیه الصلوٰة والسّلام په ذریعه دوحی د دوئ د شهادت خبر واو ویدی نهایت غمجن سواو سحار په لمانځه کی دعاء قنوت شروع کړی. یوه میاشت اوهغه قنوت ټوله رکوع څخه دوهم رکعت پوایه. چې ودغو اقواموته بی ښراکوله او خدای جل سلطانه څخه ئی نصرت اوغلبه غوښته پردوی. النّس وائی چې وخت چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته غلبه پر هغو کفارو په برخه سوه. بیائی قنوت دسحار د لمانځه پرلیښلو. نودی حدیث څخه دامعلومه سوله چې دسحار د لمانځه قنوت د نازلې بلاء دکیدلو وو.

اوقنوت د نازلې د بلاء پر مسلمانانو د پاره د خلاصون اوس هم مشروع دئ. اومونږ حنیفیان دهمیشه ویلو څخه د قنوت دسحار په لمانځه کی که نازله وې اوکړنه وی مخالف یو اوحدیث د النّس هم زمونږ د مذهب تائید کوی. لکن اختلاف په دی کی دی چې څه وخت چې پر مسلمانانو یوه عامه بلاء نازله سی. لکه په موجوده وخت کی د افغانستان پر مسلمانانو اود کشمیر پر مسلمانانو، اود فلسطین پر مسلمانانو، اود چیچنیا پر مسلمانانو، نو په لمونځو کی به دعائی قنوت یعنی طلب د نصرت د خدای جل شانه پر کفارو کوی. نو مذهب د امام شافعیؒ دادی چې په ټولو لمونځو کی به دعاء قنوت نازلوائی. دازمونږ مذهب دی کما صرح به العلامه نوحؒ. اوبعض فقهاء وائی چې په ټولو جهری لمونځو کی دعائی قنوت وَیل سنته اوهذا مذهب داحنافوؒ اود امام مالکؒ اود ثوریؒ او د جمهورو محدثینو مذهب داری چې دسحار په لمانځه کی بې یوازی وائی. ولی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په بلاء کی د شهادت د قراوو صرف د سحار په لمونځو کی دعائی قنوت وَیلی دی، لکن حمویؒ وائی چې د احنافوؒ په نیز قنوت د نازلې دی قبل الرکوع لکه قنوت راتب والی دوتر ته. اومصنفؒ په مراقی کی وائی چې د بلاء د نازلیدو په وخت کی بعد الرکوع قنوت روادی.

پوه سکه: چې فقیه ابوجعفر الطحاویؒ چې علماء وائی چې اَعلم د خلکو په مذهب دامام اعظمؒ هم دی. داسی وائی چې مذهب دائمه ثلثه وود مذهب دادی چې دعائی قنوت

دی دسحار په لمانځه کی نه وائی دهمیشه د پاره. اونه هم رسول کریم صلی الله علیه وسلم دهمیشه د پاره دعائی قنوت دسحار په لمانځه کی وَیلی دی بلکه صرف دیوی میاشتی د پاره په وخت د نزول د بلاء د شهادت دا وئیا قاریانو نه اویا انتیالو طرفه څخه د قبیلی د رجل اونکوان یه وَیلی دی اوبیا یه پری ایښی دئ.

نوابوجعفر الطحاویؒ په شرح کی د معانی الاثار چې دده یو دیر محکم اوصحیح کتاب دئ. په حدیثو کی وائی چې زمونږ د حنیفیانو اوس هم د غه مذهب دی چې دا نازلی بلاء په دوران کی دی امامان د مساجدو دی دسحار په لمانځه کی د دوهم رکعت تر رکوع د مخه وائی. اود هغی نازلی بلاء د دفعه دی د خدای جل جلاله څخه په دیر عجز او نیاز سره غواړی. لکن افسوس دادی چې د غه قنوت د نازلې. په پښتنو کی لکه شریعت منسوخ داسی گرځیدلی دی. سبب یې هم دادی چې امامان د مساجدو د نه قدرت نه لری چې په عربی ژبه د دفعه د بلاء د خدائ څخه وغواړی. اوپه کتاب الاشباه والنظائر په نقل د امام طحطاویؒ داسی راغلی دی چې دطاعون چې معنی یې مرض عام دی چې خلګ د یر ځندی مری. دعائی قنوت نازله ویل اشد ضروری دی. ولی چې طاعون د یر وبدو نوازلو څخه دی. اوده زیاته کړیده چې علاوه تر قنوت دسحار د لمانځه مسلمانانو له دوه دوه نفل کول پکار دی، په نیت د دفع د طاعون:

پوښتنه: طاعون خو سبب د شهادت کما جاء فی الحدیث النبویؐ. نو ولی مسلمانان د دی دفعه غواړی **جواب** سلمنا ذالک لکن په دی کی شک نشته چې طاعون یو مصیبت عامه دی. او د پاره د دفعی د مصیبت عامه ویل د دعائی قنوت نازله مندوب دی لکه چې جنګ د کفارو سره هم سبب د شهادت دی، نو ولی خواست د عافیت کول مندوب دی حتیٰ چې په حدیث نبویؐ کی راغلی دی، لا تتمنوا لقاء العدو واسئلوا الله العافیة،

اوحتیٰ چې په کتابونو کی د فقهی شریفی راغلی دی چې هیڅ مسلمان ته دا دعا نه کوی چې خدای دی په طاعون سره ستا مرګ وګرځوی کی څوک په ضمن کی شهادت ستا سره دی چې صرف دعاء د شهادت روا ده.

مسئله: دعاء د طولِ عمر د هغه چا د پاره روا ده چې دهغه په بقاء کې منفعت د مسلمانانو وي لکه یوښه عالِم متقي مدرس، او یا یو ښه عادل امیر د مسلمانانو، ولې چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وانس رضی الله عنه ته چې دده د خادم وو دعاء د طول عمر کړې. چې د هغې دعاء اجابت هم سوی دی. کما فی کتب السیر النبویة.

سوال ټوله کارونه خیر و شر خدائ په ازل کې مقدر کړې دی. او په لوح محفوظ کې هم لیکلی دی. نو پس له دغسې موښ د دعا ګانې څه فائده لري. **جواب**: که فائده نه وای نو ولې خدای پاک په قرآن مبارک کې وایې: اُدْعُوْنِيْ أَسْتَجِبْ لَكُمْ، او په حدیث مبارک کې هم داسې راغلی دی: اَلدُّعَاءُ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ، دعا فائده کوي و هغې بلاته او مصیبت ته چې پر مسلمان باندې نازله سوی وي یعنې با عطاء الصبر الجمیل علیها بسبب الدُّعَاء من جانب الرب الجلیل، او با عطاء العوض الکثیر عن الفائت القلیل الی غیر ذالک. وَقَالَ هُوَ وَمَا لَمْ يَنْزِلْ، او دعاء نفعه کوي وهغه مصیبت ته چې تر اوسه لا نه وي نازل سوی. یعنې په دفعه دهغه. ولې چې د قضاء معلق تبدیل اتفاقاً روا دی، که څه هم د قضاء جرم تبدیل په نیز د اکثرو علماؤ روا نه دی. بلکه د عبارت څخه د امام طحطاوي رح په صـ۳۰۶ ظاهراً داسې معلومیږي چې د مکتوب د لوح محفوظ هم تبدیل روا دی، وَ لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَفْعَلُ مَا يَشَآءُ وَ يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ، وَمَا ذَالِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

ضروري بنسوونه

پوه سه: چې په مبسوط کې د محمد بن الحنیفیة رح څخه داسې نقل کړې دی چې دعاء څلور قسمه ده علے دعاء رغبت چې دیوه شی نه دی رغبت کیږی. او د خدای پاک څخه غواړي مثلاً خدایه ماته جنت راکړې او حوري او نعمتونه د جنت راکړې او یا ماته ولد صالح راکړې. او یا ماته رزق حلال واسع عطا کړې وغیر ذالک په داسې دعا کې به ورغوی دلاسو طرفته د اسمان نسې، علے دعاء رهبته یعنې چې دیوشی ویریږی او د هغه څخه امان

او سانته د خدای جل جلاله څخه غواړی. لکه چې دعا کوی چې ما د عذاب د جهنم څخه وساتی او یا عذابه، او یا داسې وایی چې یا خدایه ما د دې موجوده ناجوړې څخه خلاص او یا د دښمنا نو د ضرر څخه وساتې وغیر ذالک، په داسې دعاء کې به شاد لاسو او ارغوو وطرفته د مخ کړې. علے دعاء د تضرع ده یعنې په دعاء کې خپل عجز و خدای جل جلاله ته بنکاره کوی: کما نقل عن بعض التابعین رح

الٰهی عبدک العاصی اتاکا: مقرًا بالذنوب وقد دعاکا: فان تجم فانت لذاک اهل: وان تطرد فمن یرحم سواکا:

او با و وایی خدایه زه ستا عاجز ذلیل حقیر بنده یم الی غیر ذالک. په داسې دعا کې دې څخه ښه ګوته او وږه لښې ګوته کت کې. او د مینځ ګوته او بته ګوته دې حلقه کړې او سبا به ګوته دې سبوروې. علے دعا خفیته ده. چې هغه داده چې په زړه کې د خدای جل جلاله څخه درخواست کوی او په خوله څه نه وایې.

پوه سه: چې دعائ خفیه صرف دلته ورو دوعا ګانو څخه په تکلم او نه تکلم کې فرق لري ورنه دعاء خفیه د دې ورو اولو قسمونو څخه خارجه نه ده. **فائده**: دلاسو پورته کول په دعا کې په خارج د لمانځه کې سنته، البته بعض فقهاؤ یې په نفلو کې هم روا بولي.

دعاء قنوت سره ترجمې دادی اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ په تحقیق مونږ د تا څخه کومک یعنې توفیق غواړو یعنې پرافعالو د عبادت سټاء وَ نَسْتَهْدِيْكَ او مونږ د طلب د هدایت کوو د تا څخه د هغو کارو چې ته په هغې سره راضی کیږی. وَنَسْتَغْفِرُكَ او مونږ د تا څخه بخښنه د ټولو ګنهونو غواړو. وَ نَتُوْبُ اِلَيْكَ او مونږ رجوع کوو خپلو ګنهو څخه و تا ته، رجوع معنای لغوی د تولې ده. او په شرعه کښې توبه پښیمانی ده پر تیرو ګنهو د زړه د کوی نه صرف په خوله. او فی الحاله د هغې ګناه پریښول دی. او په اینده کې د تهنګ قصد کول دی چې زه به دا ګناه بیا نه کوم. او کله چې د حق د یو آدمی په کښې وو نوده هغه راضی کول غواړی. حتی چې په غیبت کې او بهتان کې هم د حق د آدمی سته، نو د هغه څخه بخښنه غوښتل ضروري دی فاذا تم هذه الشرائط للتوبة یکون الشخص العاصی مصداقًا للحدیث النبوی: اَلتَّائِبُ

مِنَ الذَّنْبِ کَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ» وَنُؤْمِنُ بِکَ اومونږ تصدیق دی په زړه او اقرار دی
په ژبه ستا په وجود او وحدانیت سره الی الخیر المنتُ بِاللّٰهِ» وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْکَ اومونږ
تکیه او اعتماد دی پرتا باندی او سپارنه دی تولو کارونو خپل وتا ته کوو. ولی مونږ عاجزه
یو وَنُثْنِی عَلَیْکَ الْخَیْرَ کُلَّهُ، اومونږ ثنا او صفت کوو ستا په ټولو ښو صفاتو او
افعالو سره چې ستا سره لائق وي. وَنَشْکُرُکَ اومونږ ستا شکر وایو د ټولو نعمتونو چې ظاهري
دي او که باطني دي. او ټولو اندامونه دهغو کارونو چې تاهغه اندامونه دهغو کارونو
د پاره مونږ ته راکړي دي. وَلَا نَکْفُرُکَ اومونږ انکار ستاد نعمتونو نه کوو. اوفي
منسوبه وو وغیرته معناع سه من ازحق بدانم نه عمروزید:. شکر نقیض دی د کفر کفر پټولو ته وائي
وَنَخْلَعُ اومونږ ورغندی د کفر اوده ناشکري د خپلو غاړو نه کابو، یعنی کفر او ناشکري
نه کوو. وَنَتْرُکُ اومونږ پریږدو یعنی محبت نه ورسره کوو. مَنْ یَفْجُرُکَ هغه څوک چې ستا
عبادت نه انکار کوي اوعبادت دبل شئ کوي. اَللّٰهُمَّ اِیَّاکَ نَعْبُدُ یا الله مونږ ستا عبادت
کوو. **پوښتنه**: چې تقدیر د مفعول چې "اِیَّاکَ" دی پر فعل عامل چې "نَعْبُدُ"
دی د پاره د حصر د عبادت دی په خدای جل سلطانه سره په استحقاق ذاتی سره.
وَلَکَ نُصَلِّی اوخاص د پاره د رضا ستا لمونځ کوو لمونځ کړنه هم په عبادت کې خو داخل دی
لکن تخصیص په ذکر سره د جهته شرافت دی، ولی چې لمونځ په ضمن کې خپل ټوله عبادات لري.
وَنَسْجُدُ اومونږ خاص وتاته سجده کوو تخصیص پسله تخصیص دی. ولی اقرب د حال د
بنده او رب جل شانه ته سجده ده. ولی چې په سجده ایښولو کې دی د اشرف د اعضاو
پر اخس د ځایو چې خاوری دي. وقد ورد فی الحدیث النبوی اشارة الی ذالک ه
وَاِلَیْکَ نَسْعٰی اومونږ ستاد قرب وخواته د ځغلوو. په دی لفظ کې اشاره وه هغه حدیث
نبوی ته ده: مَنْ تَقَرَّبَ اِلَیَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ اِلَیْهِ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ اِلَیَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ
اِلَیْهِ بَاعًا وَمَنْ اَتَانِی سَعْیًا اَتَیْتُهُ هَرْوَلَةً، وَنَحْفِدُ اومونږ کوشش کوو ستا
په عبادت کې **مسئله**: کچا نَحْفِدُ په ذال سره وروایه لمونځ په فاسدی، لانّه
لفظ مهمل دی، لکن امام طحطاوی پردی حکم باندی سخت اعتراض کړی دی. اووائي

چې په صفت دبراق د معراج نبوی داسی راغلی دی، "لَهُ جَنَاحَانِ یَخْفِدُ بِهِمَا" اي یَسْرِعُ بِهِمَا،
نو په ذال سره معنی ته تغییر نه ورسیږی نو لمونځ په فاسد نه دی. ط د، وَنَرْجُوْ رَحْمَتَکَ
اومونږ امید ستاد رحمت لرو، یعنی د دوام ترد رحمت اوپراخی ته دهغه ولو چې ته کریم
یې امید راوړونکی نه نا امیده کوی، الٰهی یا الٰهی یا الٰهی: ندارم جز امید تکیه گاهی:
اومونږ سره د عبادت ستاء ستاد عذاب څخه بیریږو لان الایمان بین
الخوف والرجاء لَا یُسْئَلُ عَمَّا یَفْعَلُ وَهُمْ یُسْئَلُوْنَ» ه
اگر بر گناه صغیره عذاب دوزخ دهد عدل است:، واگر از گناهان کبیره درگذرد وبنده را داخل جنت نماید فضل است:
اِنَّ عَذَابَکَ الْجِدَّ په تحقیق سره ستا عذاب حق په کفارو سره بِالْکُفَّارِ حَقٌّ، په کفارو
سره ملحق دی، **پوښتنه**: چې کسره د حاء افصح ده نو ملحق په معناد مجرد دی ای
لاحق بهم، اوفتح د حاء هم روا ده نو ملحق صیغه د اسم مفعول د خپل باب پر معنی یعنی
خدای جل شانه د اعذاب ملحق کوی د دوی سره، وصلی الله علی النبی وآله وسلم

د دعاء قنوت په باره کې څه خبرې

پوښتنه: چې دعاء قنوت چې مصنف، اوپری د اَتَمَّ قنوت دی چې په روایت د ابن
مسعود نه ثابت دی. لکن د قنوت نوم اقسام هم ستة. **نوټ سله راده** چې هر قسم
قنوت چې مروی وي کافی دی، **فائده**: جلال الدین السیوطی وائي چې قنوت ابتداءً
من جملة القرآن وو اودوه سورته وه اودهر یوه په سر کې بِسْمِ اللّٰهِ وه یو یې سورة الخلع بالله
چې ابتداء څخه تر "مَنْ یَکْفُرُکَ" پورې اوبل یې سورة الحفد بالله چې د "اَللّٰهُمَّ اِیَّاکَ نَعْبُدُ"
څخه شروع بیا تر پایه پورې جمهور د صحابه وو نه پردی دي چې د انسیت یه منسوخ دی ه اوابی بن
کعب مصحف کې پر دوو سورتو لیکلی دی نو سورتونه د قرآن په نیز دده ۱۱۶ دي.
پوښتنه: چې اعظم دار کا نود توبې پښیمانی ده پر کبیره گناه باندی. اوهر چې پر بیول
دی فی الحاله دهغه معنی داده چې که الات دهغی گناه ده ته حاضره وه هغه څان لرې کړی
اویا سړی شراب خوړله اوشراب دده په کور کې موجود وه هغه دی توی کړي وغیره

واوره: چې عارف ابن العربیؒ پرعزم علی ترک العود» داسې سوال کړې دی چې دا شرط نه دی لازم. چې د اخو عیب دی نوا ولی د دی پرځای تسلیم دی وخدای ﷻ جل جلاله ته» لکن امام طحطاویؒ پردی خبره د ابن العربي د پرمعقول سوال کړې دی. اوواېي چې غیب خو عود دی وګناه نه اوعزم د ترک العود خوحاضر دی فی الحاله فتدبر»

فائده: که ګناه د قسمه شخه د حقوق العباد وه نوکې ردممکن وو لکه چې د چا مال یې خوړلی وی په غلا نوهغه قدر اندازه مال دی ورکړي. اوهغه ته دا حال بیانول نه غواړي. اوکې ردممکن نه وو لکه غیبت د چا یا بهتان پرچا نوده هغه شخه عفو غوښتل ضروري ده»

بشارت: زمونږ په مذهب کې عفو مجملاهم کافي ده په اداء کې د حقوق النّاس مثلاً یوسړي دبل سړي د پرمال خوړلی وو په غلا اویا خیانت وغیره نوکه دی تفصیل دهغه مال ورته وکړي دی پوهیږي چې هغه نه ترتیږي یعنی بخښنه نه کوي نوکه دی وهغه تووائي چې نهاوستا ترمابین اندیوالې وه نوحق به سره بخښنو اوهغه ورته ووائي چې ماتوله خپل حق وتاته بخښلو دی دده د حقه خلاص سو، قال المصنفؒ

وَالْمُؤْتَمُّ يَقْرَءُ الْقُنُوتَ كَالْإِمَامِ

اومقتدی دی وائي دعاءِ قنوت لکه امام اوډا روایت دی د امام اعظمؒ شخه اوداغه هم صحیح دی. اوامام محمدؒ وائي چې قوم دی قنوت نه وائي بلکه امین دی وائي پر قنوت د امام کاسیاتی

مسئله: امام اوقوم دی دواړه دعائي قنوت کرار وائي. قال المصنفؒ وهُوَ الصحیح لکن مستحب ده امام لره جهرًا په دعائي قنوت سره یعنی دروڼې په میاشت کی وترچې په جماعت سره اداکیږي چې په زوره دی وائي دعائي قنوت په بلادو کی د عجمو تاچې دوی یې واوری اوزده ئي کړي. وقال بعض الفقهاءؒ که چیرې امام په دی خبرو وچې د قوم د دعاءِ قنوت زده دی. نو اخفاء افضل کار دی» اوکه پوهیدی چې د قوم دعاءِ قنوت نه دی زده نوافضل جهر دی. قال المصنفؒ

وَإِذَا شَرَعَ الْإِمَامُ فِي الدُّعَاءِ بَعْدَمَا تَقَدَّمَ قَالَ أَبُو يُوسُفَ

اوڅه وخت چې شروع وکړي امام په دعاء سره لپسله دعاءِ قنوت شخه. نوابو یوسفؒ وائي چې قوم

يُتَابِعُونَهُ وَيَقْرَءُونَهُ مَعَهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَا يُتَابِعُونَهُ وَلَكِنْ يُؤَمِّنُونَ وَلَا فِي الْقُنُوتِ

دی هم د امام متابعت وکړي اوهغه د دعاء دی وړسره وائي. اوامام محمدؒ وائي چې دوی دی د امام متابعت نه کوي بلکه امین دی ووائي په دی دعا کې او په دعاءِ قنوت کې دی هم متابعت نه کوي»

دروڼې وائي چې د دی عبارت شخه دا معلومیږي چې امام به د دعاء په جهر سره کوي. ولی چې متابعت د امام په دعاء وسیلو کې اویا په امین ویلو کې پردی موقوف دی چې دوی به دعاء اوري اودعا هم داده. مصنفؒ پرمراقي کې وئیلي دی چې

قَالَ الْمُصَنِّفُ: **وَالدُّعَاءُ هُوَ هٰذَا**

بعض مشایخ وائي چې په دعاء کې تعیین نشته انتهی، لکن په غایة البیان کې وائي چې دعاء د لماځه باید معینه وي» ولی چې ممکنه ده دعا کوونکی به جاهل وی نوپه دعاء کې بې د اسې الفاظ ترخوله ووزي چې لمونځ به په فاسدیږي. او بله خبره داده چې ماثور دعاء برکت لري.

سوال: د امام محمدؒ شخه روایت دی چې وائي: لیس فی القنوت دعاء موقت» **جواب** مراد د امام محمدؒ دا دی چې غیر اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ آه کمامر اوغیر اللهم اهدنا چې اوس په راسې بنایه د ابن امیر حاج» د روڼې وائي چې د دغې دعاء چې په راسې. په وترو کې ښه صبا لکه شریعت منسوخه د اسې ګرځیدلې ده. ولی چې د پښتنو په علاقه کې د هیڅ مُلا شخه د وتر و په لماځه کې دا دعا چا نده اوریدلې والی الله المشتکی»

مُقَدِّمَةٌ لِلدُّعَاءِ الْآتِي

پوه سه: چې په حدیث شریف کې راغلی دی: وَلَا يَؤُمُّ عَبْدٌ قَوْمًا فَيَخُصُّ نَفْسَهُ بِدَعْوَةٍ دُوْنَهُمْ» یعنی امامت دی نه کوي یو بنده قوم ته چې خپل ځان خاص کړي په دعاء سره نه قوم» یعنی صیغه د واحد متکلم وائي او صیغه د متکلم مع الغیر نه وائي لکه چې امام د اسې وائي: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَلِوَالِدَيَّ» مثلاً بلکه د اسې به وائي اللهم اغفرلنا ذنوبنا ولوالدینا مثلاً: قال م» فان فعل فقد خانهم» اوکه امام د نفسی وکړه نو د قوم سره یې خیانت وکړی» او د احدیث ابوداؤد روایت کړی دی او ترمذی حدیث حسن ورته

وئیلی دی، ان الدعاء الآتی یعنی دغه چی ر اخی په روایت سره د حسن بن علی رضی الله تعالی عنهما راغلی
ده چی دی وائی: علمنی رسول الله صلی الله علیه وسلم کلمات اقولهن فی الوتر، یعنی ما ته یی
ښودلی دی آنحضرت صلی الله علیه وسلم یو خو کلمی چی زه ئی په وتر کی وایم، دهغی ټوله کلمی په صیغه
د واحد متکلم راغلی دی مثلاً اللهم اهدنی فیمن هدیت آه نو فقهاء د مذهب بناء پر مقتضی د
حدیث فوق الذکر ټوله کلمات د دعاء په متکلم مع الغیر سره بدلی کړی دی مثلاً اللهم اهدنا الخ
د روائی که یو سړی یوازی وتر کوی نو هغه ته روا ده چی صیغی د متکلم واحد وائی چی ما ته ښودلی
د حسن بن علی رضی الله عنهما، او دغه رنګه روا دی چی شفقةً پر نورو او د ورونړو مسلمانانو صیغی د متکلم
مع الغیر وائی. اولمام خوبه متکلم مع الغیر خوا ته ښکاره وائی. هغه دعاء دا ده:

اَللّٰهُمَّ اهْدِنَا بِفَضْلِكَ فِيمَنْ هَدَيْتَ ترجمه: یا الله ته مونږ ته هدایت وکړی
ستا په فضل سره ستا په هغو
کی د هغوکسانو چی ته او هغوته هدایت کړی دی: د رولیش وائی چی هر څوک که په هدایت
کی اختلاف وړدی. لکن مراد څنډی دلته توفیق د خیر کار دی. یعنی دلالت موصله،

سوال: مسلمانانو ته خو هدایت حاصل دی نو طلب یه د څه دپاره کوی. **جواب**:
مقصود په طلب کی همیشه والی دی پر هغه هدایت، او یا طلب د زیات والی دی کما قال المفسرون
فی تفسیر قوله تعالی: اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ، او د لفظ د بفضلك مراد دا دی چی واجب پر
خدائ څوښی نه دی. بلکه ټوله شیان د خدائ فضل دی. او د لفظ په قنوت کی د حسن رضی الله عنه نسته

قال المصنف: **وَعَافِنَا فِيمَنْ عَافَيْتَ** دعا فیت معنا داده چی مونږ د بلا او د مرض او د تکلیفو څخه وساتی. او د معافاتو
معنا داده چی مونږ د شر څخه د بل په امان یو. او بل د مونږ د شر څخه په امان وی. قال

وَتَوَلَّنَا فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ او مونږ ته په نظر د رحمت او د دوستی او مصلحت
وګوری سره د هغوکسانو چی ته په دغه نظر وړته
کتلی دی یعنی هغه ستا صالح او مقرب بندګان،

وَبَارِكْ لَنَا فِيمَا أَعْطَيْتَ او مونږ ته برکت راکړی یعنی زړیا توب راکړی په هغو
نعمتو کی چی تا مونږ ته راکړی دی،

وَقِنَا شَرَّ مَا قَضَيْتَ او مونږ وساتی د شر څخه د هغوشی چی قضا ستا پر هغه تللی دی
یعنی زمونږ او د شر ما بین وقایه پیدا کړی. **پوه سه**
چی قضا معلقه په دعا سره رد یدای سی، **فائده**: قضا د خدای جل شانه خو ټوله خیر
ده. او شر په مقتضی به کی دی. نو ځکه مونږ د شر څخه د ما قضیت پناه وغوښتله،

اِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ او ستا قضاء نافذه ده په هرشی او
پر تا باندی څوك خپله قضاء نه
سی تحمیلولای، ولی چی خدائ ما لک الملک و الملکوت دی لا شریك له فی الملک فلذا نطلب
موالاتك،

اِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ

ولی چی په تحقیق نه سی ذلیله کیدلای یعنی د ځلګو د ځواهغه څوك چی ته د هغه سره دوستی ولری
او عزت او غلبه نه سی پیدا کولای هغه څوك چی ته د هغه سره دښمنی او عداوت ولری. قال
الله تبارك وتعالی: وَمَنْ يَّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهُ مِنْ مُّكْرِمٍ، **تَبَارَكْتَ** ستا ذات لوړ دی د صفاتو
څخه د مخلوقاتو **رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ**: ای زمونږ ربه او ستا ذات د مشابهته
څخه ډډ والتود مخلوقاتو تو بالا دی. د رولیش وائی چی تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ تقریباً سره
یوشی دی. قال المصنف:

وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ وَمَنْ لَّمْ يَحْسُنِ الْقُنُوْتَ يَقُوْلُ اللّٰهُمَّ

اغْفِرْ لِيْ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ او کله چا ته وی زده دعائ قنوت نه وی وویل دری واره اللهم
اغفرلی خدایه ما ته بخښنه وکړه. داسی ویل مختار د
فقیه ابو اللیث السمرقندی دی، قال المصنف:

اَوْ يَقُوْلُ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ او یا د اسی ووائی ای خدایه زمونږ راکړی مونږ ته ښه شی په دنیا کی او په

اخرت کی، اکړی سنه شئ اومونږ وساتی دعذ ابرد اور صاحب هدایهٔ په تجنیس کی وائی چه دا دعا مختاره زمونږ د مشائخوده

اَوْ یَارَبِّ یَارَبِّ یَارَبِّ یَا رَبَّ

اویا دی دری واره یا رب ووائی

وهذا مختار الصدر الشهید، ط، **فَائِدَه**: صاحب البحرٔ وائی چی، مَن لَم یحسن، قید نه دی بلکه هغه څوك چی قنوت مشروع یه زده هم وی دغه مذکوره کلمات په ځای کی قنوت ورته روادی، ط، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَاذَا اقْتَدٰی بِمَنْ یَقْنُتُ فِی الْفَجْرِ

اوکه چا اقتداء وکړه په امام پسی چی هغه

قَامَ مَعَهٗ فِی قُنُوْتِهٖ سَاکِتًا فِی الْاَظْهَرِ

دعایی قنوت وایه دسحار په لمانځه کی نکه شافعی مذهبه امام مقتدی دی پسی ولاړوی د امام د قنوت په وخت کی پته خوله یعنی دعایی قنوت دی نه ورسره وائی په اظهر روایت کی، چی مذهب دی د امام اعظمٔ. اود امام محمدؒ دوی یه په نفس قیام کی متابعت لازم بولی. نه په دعایی قنوت کی، ددوی دلیل دادی چی قنوت الفجر خو منسوخ دی نکه چی مونږ وړاندی ددی مسئلی ذکر وکړی. نو مثال یه دادی لکه چی د جنازی په لمانځه کی امام تکبیر ووائی نو مقتدی بی په پنځم تکبیر کی متابعت نه کوی. او حضرت الامام ابویوسفؒ وائی چی مقتدی دې دعایی قنوت وږسره وائی. ولی چی قنوت الفجر مختلف فیه دی

مسئله: شافعیانو دعائی قنوت پسله رکوع څخه وائی او دوی لاسونه پرنامه نسی، نو مقتدی چی حنیفی مذهب دی لاسونه به دعا نه سره ایله نسی، ولی زمونږ په مذهب کی قنوت الفجر ذکر مسنون نه دی.

دیره ضروری سنووونه

په هدایه کی وائی چی دی مسئلی څخه دا معلومیږی چی اقتداء د حنیفی په مخالف المذهب امام پسی روااده، ولی چی حضرات ائمه ثلاثه زمونږ چی په کیفیت کی د صلوة الفجر په شافعی المذهب پسی اختلاف کوی نو معلومه ده چی نفس اقتداء خو یه بالاتفاق روا بولی. **د صحت د اقتداء د پاره شرائط**، پوه سه چی زمونږ د مذهب فقهاءو وائی چی اقتداء په مخالف پسی که شافعی

المذهب وی اوکه بل مذهب والا وی هلته صحیح ده. چی دغه مخالف المذهب امام په ځای کی د اختلاف احتیاط کوی یعنی د حنیفی مذهب مراعات کوی. مثلاً کی یو ځای وینی سی اودس نوی کوی. په مراعات د مذهب حنیفی کخه دده په مذهب کی په خروج الدم سره اودس نه ماتیږی. او مثلاً څلرمه د سر خواه مخواه مسح کوی په مراعات د مذهب حنیفی کخه هم دده په مذهب کی ادنی مایطلق علیه المسح کافی ده. او مثلاً دوتړو د دوو رکعتو په مابین کی سلام نه گرځوی مراعاتاً للمذهب الحنیفی کخه هم دده په مذهب کی په مابین کی سلام گرځول روادی. او مثلاً چی د دغه امامه مخه تر شپږ لمانځه کم قضاء سوی وی په ترتیب سره د وختی لمانځه په قضاء اوپری مراعاتاً للمذهب الحنیفی کخه هم دده په مذهب کی ترتیب لازم نه دی.

او مثلاً امام نطفه او منی چی لنده وای دکالو څخه کی په پریولو لیری کوله. اوکه وچه وای یا یه گرو وَل اویا یه پریولو لیری کول، کل ذالک بمتابعة مذهب الاحنافؒ من ان النطفة نجسٌ کخه هم په نیز د شافعیانو نطفه پاکه ده، حاصل دکلام دادی، چی د صحت د اقتداء د پاره شرط دی چی د امام لمونځ به صحیح وی په عقیده کښی د مقتدی مثل ماذکرنا من المسائل، اوکه چیری د امام لمونځ په عقیده د مقتدی فاسد وی یا اقتداء یه نه ده پسی روا، مثلاً مقتدی ولیدی چی د امام پزه وینی سوه. او مقتدی تر هغو ده سره یو ځای وو څوچی امام بیله نوی اودس کولو پرلمانځه ودریدی. نو د دغه مقتدی لمونځ په دغه امام پسی نه دی روا. ولی چی د مقتدی په عقیده امام بی اود سه دی. وبالجملة معتبره په صحت او فساد کی د لمانځه د امام رأی ته اعتبار نسته بلکه رأیه د مقتدی ده، وهو الصحیح الذی علیه الاکثر

او امام هندوانیؒ وائی چی معتبره رأیه د امام ده. وقال فی النهایه وهو الاقیس اوپری مذهب اقتداء یه مخالف المذهب پسی صحیح ده کخه هم امام احتیاط نه کوی. ط، **فَائِدَه** کسری ولیدی چی امام شافعی المذهب وو په پرتاگ یه لاس چخ کی اوذکریه مسح کړی چی په نیز د شافعیانو یې اودس مات سو، اوده حنیفیانو په نیز اودس یه نه دی مات، اود غه امام تجدید الوضوء ونه کړی په لمانځه کی د مخه سو. نو په قول د اکثرو فقهاوو چی اعتماد ته د مقتدی اعتبار ورکوی د دغه حنیفی لمونځ پسی روادی. ولی چی دده په عقیده امام بی اود سه نه دی،

اوپن مذهب دامام هندوانی چی اعتبار عقیدی ته دامام ورکوی دحنیفی لموئنځ نه دی
پسی روا. ولی چی دامام پرمذهب دی بی اوه سه دی. وَعَلٰی هٰذا فقس المسائل الاخره قال

وَلَوْنَسِیَ الْقُنُوْتَ فِی الْوِتْرِ وَتَذَکَّرَهٗ فِی الرُّکُوْعِ اَوْفِی الرَّفْعِ مِنْهُ لَایَقْنُتُ

اوکه دسهرې هیرشو دعائې قنوت په دریم رکعت کی دوتر واو ور
پیادسو. چې رکوع کی اویا پسله سر راپورته کیدو نخه درکوع نخه
نوه دعائی قنوت دی نه وائی نه په رکوع کی. اوبنه په وخت کی درکوع نخه بلکه سجده سهوه
دی وکړی پرصحیح روایت، په اول مسئله کی اوبعض فقهاء وائی چی په رکوع دعائی قنوت
ووائی صرف رکوع به اوبنه سی هغه پروانه لری. اوپه صورت ثانیه یعنی چی بعد الرفع یه قنوت
ور پیادسی اتفاقا دی قنوت نه وائی. مر، ط، در، قال المصنف:

وَلَوْقَنَتَ بَعْدَ رَفْعِ رَأْسِهٖ مِنَ الرُّکُوْعِ لَایُعِیْدُ الرُّکُوْعَ

کمصلی ووایه پسله دی نخه چی سربیه راپورته کړی درکوع نخه نورکوع دی بیرته نه راګرځوی او

وَیَسْجُدُ لِلسَّهْوِ لِزَوَالِ الْقُنُوْتِ عَنْ مَحَلِّهِ الْاَصْلِیِّ

سجده دسهوی دی وکړی. ولی چی قنوت دخپل اصلی محا یه نخه چی قبل الرکوع وو نه زائل سوه. او
تاخیر واجب راغلی. امام طحطاوی وائی چی دظاهره نخه دعبارت دمصنف دامعلومیږی چی رکوع
راګرځول ورته حرامه ده. ولی چی دا راګرځول داسی کاردی چی دلما نځ نخه نه دی. فما قال
السید چی دمصنف مراد دادی چی دلما نځ صحت یه پرې راګرځولو رکوع موقوف نه دی
دانه دی مراد چی دی درکوع در راګرځولو نخه ممنوع دی. لیس وجه موجه والظاهر ما قال
الطحطاوی» قال المصنف:

وَلَوْرَکَعَ الْاِمَامُ قَبْلَ فَرَاغِ الْمُقْتَدِیْ مِنْ قِرَائَةِ الْقُنُوْتِ

اوکه چیری رکوع وکړه امام دنخه تر فارغ والی دمقتدی د دعاء قنوت نخه یعنی خه یه وئیلو وو

اوپه یاته وو- قال
وو

اَوْقَبْلَ شُرُوْعِهٖ فِیْهِ وَخَافَ فَوْتَ الرُّکُوْعِ تَابَعَ اِمَامَهٗ

اویا امام رکوع ته ولاړ چی مقتدی بیخی شروع په دعاء قنوت نه وه کړې. اومقتدی په دواړه
صورتونو کی بیا ویریدی چی رکوع به سره دامامه را نخه فوت سی. نو دامام متابعت دی وکړی
په رکوع کی یعنی قنوت دی پریږدی. اما فی الصورة الاول، یعنی چی یوخه قنوت یه ویلی
په دی سبب متابعت دامام کوی چی دعائی قنوت لږ یوه معینه اندازه نسته نوهغه چی ده
وویل پوره سوه واما فی الصورة الثانیه چی مقتدی بیخی شروع په قنوت نه وی کړی، ردی
متابعت دامام مراقی دابیان کړی دی چی دی که په دعائی قنوت مشغوله سی متابعت د
امام چی واجب دی پاته کیږی. لکن پردی دلیل پاتندی ط داسوال کړی دی چی قنوت خوهم
واجب دی لکه متابعت دامام. نوبایدمقتدی ته اختیار وی که دعاء قنوت ووائی که رکوع
دامام سره پریږدی، اوکه رکوع دامامه سره کوی اودعائی قنوت پریږدی. بلکه بایددعائی قنوت
ویل اولی وی. ولی دعائی قنوت خو یک لخته پاتیږی، اوادنی درکوع خویوازی هم کولای
سی **جواب** دقنوت واجب والی مجتهد فیه دی. اومتابعت الامام وجوب متفق
علیه دی در»

مسئله: که چیری ددعائی قنوت په ویلوسره یه امید دمثلا رکة فی الرکوع وو نودعائی
قنوت دی ووائی جمعا بین الواجبین» مر» درولیش وائی چی چونکه په دعائی قنوت کی
حد محدود نسته، بلکه پردی واره ویلود یارب» هم اجراء دقنوت کیږی، لکه مذهب
دصدر شهید چی ووکی شهم اوبنه دعائی قنوت هم پیادوی کمامرسابقا من الطحطاوی»
نوپه دغه صورت کی دخوف دپاته والی دمتابعت دامام په رکوع کی یعنی په صورت ثانی کی دی
فقط مقتدی یارب یارب یارب» ووایه چی دغه په وئیلو کی رکوع هم تیریږی.
ولی چی امام کمانکه په رکوع کی دری واره سبحان ربی العظیم وائی» در، قال

وَلَوْتَرَکَ الْاِمَامُ الْقُنُوْتَ یَاْتِیْ بِهِ الْمُؤْتَمُّ اِنْ اَمْکَنَهٗ

اوکه امام پریښود دعائی قنوت مقتدی بی وائی که چیری ممکن وو ده لره.

مُشَارَكَةٌ فِي الرُّكُوعِ وَالْاَتَابُعُهُ ممکن بیادی متابعت دامام وکړی.

مشارکت د امام په رکوع کی اوکه وو

درولیش وائی په هغه مخه مسئله کی اویله دی مسئله کی که سړی دامی وائی چې مقتدی دا مذهب او عقیده وه چې پوره اوښه دعائی قنوت ویل غواړی. اوو مذهب ته صدر شهید یه عقیده نه وه. نو دواړه صورت پرظاهر د کلام د مصنف جوړیږی فافهم، قال

وَلَوْاَدْرَكَ الْاِمَامُ فِي رُكُوعِ الثَّالِثَةِ مِنَ الْوِتْرِ كَانَ مُدْرِكًا

اوکه امام ته سړی ورسیدی په رکوع کی د دریم رکعت دوتر و نو دعائی قنوت یې هم پوځای سو

لِلْقُنُوتِ فَلَا يَاْتِي بِهِ فِيمَا سُبِقَ بِهِ

نو دغه مقتدی سره دعائی قنوت نه وائی په هغو رکعتو کی چې د دې څخه تیر سوی وی. ولې چې رکعتونه د قنوت ځای نه دی. قال المصنف،

وَيُوتِرُ بِجَمَاعَةٍ فِي رَمَضَانَ فَقَطْ

اووتر دی کوی په جماعت سره په میاشت کی د روژی نه په نورو میاشتو کی اوداجماعت هم مستحب دی. **پوه سه:** چې مصنف په مراقی کی وائی وعلیه اجماع المسلمین، وفی الهدایة علیه اجماع المسلمین، وفی المراقی وکذا فی فتح القدیر داسې وائی چې وتر نفل دی من وجه اوجماعت په نفلو کی مکروه دی په غیر کی د میاشتی د روژی، پس احتیاط په دی کی دی، چې وتر دی په جماعت سره نه کوی په غیر کی د روژی. اوو شمس الائمه څخه روایت دی چې داکراهت په هغه صورت کی دی چې جماعت دوتر و پرطریقه دیوو بل ده، ابللوسره وې چې دې ته تداعی وائی. اوکه اتفاقًا یوسړی یا دوه کسه په بل چا پسې په وتر و کی اقتداء وکړی بیله روژی په هغه کښې کراهت نسته، اوچې د یو کس اقتداء په بل پسې وکړی په دی کی اختلاف دی. اوکه مقتدیان څلور کسه وه هغه جماعت مکروه دی اتفاقًا. **سوال:** په نوازل کی وائی په نقل د مغنی څخه چې اقتداء په وتر و کی خارج رمضان جائزه ده. **جواب** جواز خو کراهت سره منافی نه دی، لان معنی

الجواز انه صحیح ولا شك فی الصحة، ورب صلاة تكون صحیحة مع الكراهة، په صحیح حدیث کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم تهجد لمونځ وابن عباس ته په جماعت ودکړی. اودا حدیث هم صحیح دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به عائشه رضی الله تعالی عنها دوتر و په وخت کی ویښوله. اودی به وتر و علیه السلام سره په جماعت کولو. اوداهم صحیح حدیث دی چې علیه الصلوٰة والسلام تبرکًا دوه رکعته نفل دامر انس په کور کی په جماعت کړی دی، قال المصنف:

وَصَلٰوتُهُ مَعَ الْجَمَاعَةِ فِي رَمَضَانَ اَفْضَلُ مِنْ اَدَائِهِ مُنْفَرِدًا

اوکول دوتر و سره د جماعت په میاشت کی د روژی افضل اوښه کار دی. تر یوازی کولو په اخیر د

اٰخِرَ اللَّيْلِ فِي اخْتِيَارِ قَاضِيخَانْ قَالَ وَهُوَ الصَّحِيحُ وَصَحَّحَ

غیره خلافه شپې یعنی د وسته تر تهجد د لمانځه په خوښه د قاضیخان، اوده وئیلی چې دغه خبره هم صحیح ده، ولې چې جماعت په کم لمانځه کی چې روا وی نو جماعت په افضل دی تر یوازی. اودا خبره هم په ثبوت رسیدلی ده چې عمر رضی الله تعالی عنه و خلګوته په وتر و کی د جماعت لمونځ ورکاوه. اود غیر څخه مراد صاحب نهایه دی هغه وائی چې زمونږ د مذهب علماوو د اخوښه کړیده چې خلګ دی وتر په کور کی بیله جماعت لپسله تهجده وکړی، ومثل ما فی النهایه قال فی التتارخانیة والظهیریة والذخیرة. لکن په فتح القدیر اوبرهان کی داسې عبارت راغلی دی چې قول د قاضیخان اَرجح دی کذا فی المراقی، ولې چې علیه الصلوٰة والسلام وتر و صحابه ته پسله جماعته څخه د تهجد په جماعت سره ګذارلی دی. او بیا علیه الصلوٰة والسلام عذر د ترک د جماعت په تهجد او وتر و کی داسې بیان کړی دی چې زه بیریږم چې تهجد لمونځ پرمونږ فرض نسی، اود غه رنګه خلفاء راشدینو رضی الله تعالی عنهم وتر په جماعت سره کول د دوی وائی. چې مذهب د قاضیخان دیره ښه خوښ مختار کړی ده، والله اعلم بالصواب

بیت: د باب دوتر و په توفیق د خدائی تمام سو. اوس بفضل د نفلی لمونځو شروع کړو: ان شاء الله

فَصْلٌ فِی النَّوَافِلِ

فصل دی په بیان کی د نفلی لمونځو، **پوه سه** چی نفل په لغت کی نفس زیادتښه وائی نو دی کښه غنیمت ته نفل وائی. ولی چی غنیمت زائد دی تر اصل موضوع د جهاد چی اعلاء د کلمة الله ده زیاتی دی. قال الله تعالی: وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الْأَنْفَالِ، یعنی اتها لمن هو و کیف تقسیمها، او لمسی ته هم نافلة وائی. ولی چی تر اصل مقصود د ازدواج دمیړه اومامنی زیاتی شی دی. قال الله تعالی، وَوَهَبْنَا لَهُ ای لابراهیم، اسحاق، وهو ولده الذی طلبه ابراهیمُ و یعقوبَ نَافِلَةً، چی یعقوب دابراهیمُ لمسی دی. قال المصنفُ فی المراقی چی مصنفُ عنوان د فصل لفظ د نوافِل وگرځاوه او سنن په عنوان نه کړی. ولی چی نفل تر سنت عام دی. ولی هر سُنت نَفلی دی یعنی تر فرض او واجبونه زیاتی لمونځ دی، او هر نفل سنت نه دی کما هو ظاهرٌ:

ثم فسر النفل بحسب اصطلاح الشرع انه ما لیس بفرض ولا واجب ولا مسنون من العبادة نو پر مصنف د اسوال واردیږی چی تا خو عنقریب وویل چی هر سنت نفل دی. او دلته بیا وائی وَلَا مَسنون، نو دده ی عبارت څخه صراحةً دا معلومیږی چی سُنت نفل نه دی والصواب چی د نفل دوی معناوی دی یوه معنا داده چی مصنفُ په بیان وکړی چی نه به فرض وی او نه سنت اونه واجب، دا معنا خو مقابل د سنتو ده لکه د فرض او واجبو چی مقابل ده. او بل معنا د نفل و داده چی زائد پر فرض او واجبو فقط وی. نو نفل په دی معنا تر سنتو عام دی. فقد خلط المصنفُ بین المعنیین. او نفلی ته تطوع هم وائی چی سړی په خپله خوښه کوی یعنی د خدائ د خوا څخه فرضیت او ایجاب نه وی،

فائده: نفل یوازی په لمانځه پوری خاص نه دی بلکه په نورو عباداتو کی هم نفل سته لکه نفلی روژه، نفلی حج، نفلی صدقه، **فائده:** نفلی لمونځ دپاره د جبیری دی د نقصان په فرضو کی. ولی بنده که هر څو کوشش وکړی په اداء کی د فرضی

لمانځه خو بیا هم د تقصیر څخه نه سی خلاصیدای نو نفل به جبیر د هغه تقصیر وی.

پوښتنه: چی دا فائده چی بیان سوه دا خو صرف دوو سنته تر لمانځه نفلو ده، فما الفائدة فی النوافل القبلیة. **جواب:** قاضیخان وائی چی فائده د سنن قبلیه وی قطع د طمع د شیطان ده د فرضی لمانځه څخه. ولی شیطان ته دا یقین کیږی چی دا سړی په نفلی لمانځه کی یعنی سنت قبل نه ما متابعت نه کوی. او سره د دی چی پرواجب هم وخت نو خرنګه به ده فرضی لمانځه په پرلیښولو کی نه ما په خوله وکړی. **فائده:** سُنت دوه قسمه دی یو سنت مندوب دی چی سُنت زائده یې هم ټولی او بل سنت مؤکد دی نو مصنفُ د سنت مؤکد په بیان شروع کوی او وائی.. قال المصنفُ:

سَنَّ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً رَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ

او سنت دی کلک سنت دوه رکعته د سحا څخه تر لمانځه د سحار دوه رکعته مخکی تر لمانځه د سحار، د رو لیښ وائی چی سنة الفجر تر ټولو سنتو اقوی دی په سنتیت کی، چی د دی سُنتو په باره کی د پیر احادیث نبویه راغلی دی. حتی چی حسنُ د امام اعظمُ څخه روایت کړی دی چی د سحار سنت بیله عذره په ناستی نه دی روا یعنی لکه فرض او واجب، اومرغینانیُ بیا روایت دامام اعظمُ څخه داسی کړی چی دا دوه رکعته قبل الفجر واجب دی. وقالَ علیه الصلوٰة والسّلام: رکعتا الفجر خیر من الدنیا وما فیها، وفی حدیث صحیح اخر لا تدعوهما وان طردتکم الخیل، یعنی تاسی مه پریږدی دوه رکعته د سحار سنت که څه هم آسان موتر پښو لاندی کوی، او په خلاصه کی چی په اجماع سره د سحار سنت بیله عذره په ناستی نه دی روا، او په مضمرات کی وائی چی بیره د کفر ده پر هغه سړی چی د سحار د سنتو منکر وی.

او بل دلیل د قوت د غو سنتو دادی چی هر فرضی لمونځ چی د سنتو سره قضا سی د سُنتو قضا یه نه سته. اما د سحار لمونځ که د سُنتو سره قضا سو د سُنتو قضاء ده او په سته او په مسلم شریف کی د ابوهریرةؓ څخه روایت دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم په سُنتو کی د سحار قُلْ یَا أَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ، او قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ، وئیله. او امام احمدُ د ابن عباسؓ

څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په اول رکعت کی د سنة الفجر
اخری الیتونه دسورة بقره وَیله او په دوهم رکعت کی یه دا ایت وایه قُل یا اهل الکتب
تعالوا الی کلمة الآیه درویش وائی چې علماء مستحب دا بولی چې سړی گاهی په سنت الفجر
کی هغه دوه سورتونه وائی. اوگاهی دانور الیتونه وائی. واما ما استحسن الامام الغزالی فی الاحیاء
چې په اول رکعت کی اَلَمْ نَشْرَحْ وائی. او په دوهم رکعت کی دی اَلَمْ تَرَ کَیْفَ وائی. وَقال
انه ورد شرالیوم هغه په حدیثو شریف ووکی نه دی راغلی وَاللهُ اَعْلَمُ:

مسئله: پسله سنت الفجر څخه افضل سنت کم سنت دئ. بعض عُلماء وائی چې قبل
الظهر سنت اکدد ې. قال الحسنؒ وهوالاصح اومبسُوط والاهم ترسنة الفجر وروسته
سنت قبلی د ظهر ذکر کړی دې: اوامام حلوانیؒ وائی چې وروسته تر سنة الفجر افضل
دوه رکعته دمابنام دی. اووروسته ترهغه سُنت بعدی دَمابنبین دی. اووروسته تر
هغه دوه رکعته دماخستن دی اووروسته ترهغه څلور رکعته قبل الظهر دې. وَقیل
چې هغه دوه رکعته پسله عشاء هغه څلور چې قبل الظهر دی اوهغه دوه رکعته چې بَعد
الظهر دی اوهغه دوه رکعته چې بعد الظهر دی اوهغه دوه رکعته چې بعد المغرب دی ټوله په
درَجه کی سره برابر دې. درویش وائی چې مَراقی چې دوه رکعته قبل العصر اودوه رکعته قبل
العشاء هم دلته په ترتیب داخل کړی دئ.

داسؤال پرواردیدئ چې کلام دمصنفؒ دلته په سُنن مؤکده کی دی. اوغه دوه دوه
رکعت خومستحب دی چې سنن زوائد ورته وائی والجواب چې مصنفؒ وروسته مندوبات
په سنن کی هم راوړې دی. نودی سببه یه هغه دوه دوه رکعته په ترتیب کی راوړه.

مسئله: افضل په سنت الفجر کی داده چې په اول وخت کی دی اداء کړی لکن سره
د تخفیف وَقیل چې اسفار افضل دئ. اوپه بنایه ده مبسُوط څخه نقل کوی چې
وروسته تر سفیدو چاودلو دسړی خبری نه کوی. ولې چې ملائکه اللیل والنهار په دغه
وخت کی سره جمع کیږی. نوبایدده دخولی بیله ذکر الهی بَل څه نه واوړی. قَالَ اللهُ تعالی
اِنَّ قرآنَ الفَجرِ کَانَ مَشهُودًا، مرعاط دره

مسئله: څوک چې دعوی داجماع کوی چې سنة الفجر دی بیله عذره په ناستی نه
کوی. امام طحطاویؒ وائی چې په هغه کی نظر دی بلکه معتمده خبره جواز دی. نعم افضله
دا دی چې په ولاړی دی کوی. قَالَ المُصنفُ:

وَرَکعَتَانِ بَعدَ الظُّهرِ وَمِنهَا رَکعَتَانِ بَعدَ المَغرِبِ

اوبیا سنت مؤکده دوه رکعت دی پسله مابنینه، اوبل دسنت مؤکدو څخه دوه رکعت دې
پسله مابنام دلما څخه څخه. وفی شرح الوقایه لاخی زادهٗ. وفی الحدیث افضل الصلوات عندَ الله
المغربُ، لم یحیطها عن مسافر وَلا مقیم، یعنی په دغه لما څخه کی کم والی نه دی راغلی نه
مقیم څخه اونه مسافر څخه، قَالَ م چې دمابنام په لما څخه سره دَشپې لمونځ شروع کیږی
اود ورځې داختم کیږی دې. قَالَ صلعم که چا وروسته ترمابنام دوه رکعته سنت ودې ته
به دوی کولې جوړې سې. په جنت کی او که چا څلور رکعته وکړه خدائ به وده ته گنهونه
دشلو کلو وروَ بخښی. قَالَ فی المراقی ویستحب ان یطیل القرائة فی سنة المغرب.
ولې چې په حدیث نبوی کی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په اول رکعت
کی دسنة المغرب به ئی الٓمٓ تنزیل وایه. اوپه دوهم رکعت بی تَبَارَکَ الَّذی بیده
الملک وایه، لکن گاهی گاهی قاله شارح المشکوة، کذا فی الجوهرة،
وعن انسؓ دهووئیلې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: مَنْ صَلّی بعد المغرب
کهچا اداء کړه وروسته دمابنام ترلما څخه دوه رکعته چې په اول کی الحَمدُ لِلّٰه اوقُل یاایها الکٰفِرُوْن
ووایه اوپه دوهم رکعت کی الحَمدُ لِلّٰه اوقُل هُوَ اللهُ اَحَد ووایه د مخه ترَدی چې دچا سره خبری
وکړی نود گنهونو څخه به داسی ووزی لکه مار چې دخپله پوسته وزې: قَالَ المُصنفُ

وَبَعدَ العِشَاءِ وَاَربَعٌ قَبلَ الظُّهرِ وَقَبلَ الجُمُعَةِ وَبَعدَهَا بِتَسلِیمَتٍ

لودغه رنگه سنت مؤکده دی دوه رکعته پسله ماخستن څخه اوخلور رکعته د مخه ترمابنبین اود
دجمعې ترلما څخه اوخلور رکعته وروسته ترجمعې په یوه سلام سره. لقوله علیه السلام مَن

تَرَكَ الاربع قبل الظهر لم تنله شفاعتي» نقله المراقي عن الاختيار. وفي البحر وايه به په هر رکعت کې په قدر دلسوايتو وکذا في الاربع بعد العشاء» درويش وائي چې باره کې د غلو رکعتو قبل الظهر يو اوښ د حديث دابي ايوب انصاريؓ هم موجود دی، لکن سنت قبلي دمابينين اوچمي دلماښځه په يوه سلام سره ادا کړي. اود ښځه د جمعې ترلماښځه هم عليه الصلوة والسلام خلور رکعته لمونځ کاوه چې په مابين کې به ئې سلام نه ګرځاوه. زيلعي شارح الکنز وائي کې د غه خلور رکعته په دوه سلامه سره وکړه دسنت اجراء نه په کيږي. لکن داهلته چې دسړي تلوار نه وي. او کې تلوار وو دوه رکعته دي په مسجد کې وکړي اودوه رکعته چې بيا د کار خلاص شو وبهذا اللفظ جاء الحديث النبوي الذي رواه الجماعة الا البخاري

مسئله: قال ابو يوسفؒ» چې ترجمعې وروسته دې شپږ رکعته کوي په دوه سلامه قال الکرخيؒ ومحمد مع ابي يوسفؒ» درويش وائي چې د غه مذهب معمول دئ زمونږ په وطنو کښې» يعنې وروسته ترجمعې ۴ رکعته د ښځه اودوه رکعته وروسته کوي وهومذهب ابي يوسفؒ.

مسئله: کې سنت بعدي وځنډول پرصحيح روايت دسنتوڅخه نه نسي م»

مسئله: په مابين کې د فرضو او سنتو خبرې کول او يا داسې عمل کول چې د تحريمې سره منافي وي سنت خويه دذمې ښځه نه ساقطيږي لکن ثواب به کميږي. على الاصح ط» **مسئله** په حلبي کې وائي که څوک نفل کوي نواول دي پرځان نذر کړي. او بيادي اداء کړي. ولې نذر خو واجب دی اود واجبو ثواب ترنفلو ډيردئ. **مسئله:** په سنن قبليه اوبعديه ووک افضل په کور کې کول دي وهذا کان غالب حال النبي صلى الله عليه وسلم: واخرج ابوداؤد صلوة المرء في بيته افضل من صلاته في مسجدي هذا الا المكتوبة» اومنية المصلي والاوائي چې سنت کول په مسجد کې حسن دي وفي البيت احسن» وبه افتى الامام الفقيه ابوجعفر الطحاوي **مسئله:** که ده سړي کور ليرې وواوږدې بيرېدي چې نه کوي ته حکم نوبنه دچاسره په خبرواخته سم. اويا په بل عمل نوهغه دې سنت په مسجد کې ګذاري: الحکمة في صلوة السنة في البيوت» په هغه حديث کې بيان سوی دی، نور الايضاح پښتو

يُتَكَلَّمُ بِالصلوة» تاسې نورانې کوي خپل کورونه په لمونځو سره: وَلَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا» اوتاسې مه ګرځوئ کورونه خپل قبرونه. يعنې مړي خوپه قبر کې لمونځ نه سي کولای. نوستاسې کورونه دی لکه د مړو قبرونه نه داسې نه وي رواه الحلبي وغيره: قال المصنف:

وَنُدِبَ اَرْبَعٌ قَبْلَ الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ وَبَعْدَهُ وَسِتٌّ بَعْدَ الْمَغْرِبِ

اومستحب دی خلور رکعته د ښځه د مازديګر د لماښځه اوخلور رکعته د ښځه ترماخستن اوروسته ترماخستن، او شپږ رکعته وروسته د ماښام ترلماښځه **پوه سه:** چې مندوب او مستحب اومرغب فيه اوحسن الفاظ مترادفه» دي. معنا يې داده چې شارع يې وفعل ته ترجيح ترترک وکړي وي. ط»

الدلائل على المندوبات المذكورة

اما الاول» يعنې ۴ رکعته قبل العصر په حديث شريف کې راغلي دي که چا خلور رکعته وکړه د ښځه تر لماښځه دمازديګر اوروبه يه نه کې ښه يعنې اوږد دوزخ. اوپه بل حديث شريف کې راغلي دي چې عليه الصلوة والسلام دوه رکعته وکړه د مازديګر تر لماښځه د ښځه» نو دي حديثونو په سبب قدورې سړي تد اختيار وکړي دی يعنې که خلور رکعت کوي اوکه دوه. اوامام محمد بن الحسنؒ هم اختيار وکړي دی. ده ۲: اود ۴ ترمابين کما في فتح القدير: درويش وائي چې معنې د تخيير اده. چې مستحب پردواړو تقديرا داء کيږي. لکن زيادة الخير خيرٌ بالاتفاق» واما الثاني، يعنې ۴ رکعته قبل العشاء ده سيد تنا عائشه رضي الله تعالى عنها ښځه روايت دی» چې عليه الصلوة والسلام د ښځه د ماخستن ترلماښځه خلور رکعته نفل کوله» اوبيا يه فرضي لمونځ کاوه. اووروسته يې خلور رکعته نفل کول. اوبيا يه آرام کوه» واما الثالث، اي بعد العشاء» لما روينا من قبل ولقوله عليه الصلوة والسلام که چا ښځه ترماښين خلور رکعته نفل وکړه دومره ثواب لري لکه د شپې د تهجد د لماښځه اوکه چا خلور رکعته نفل وکړه د ماخستن ترلماښځه وروسته. نو دوښه ثواب يه دی لکه چې په شب قدر کې څوک وکړي.

تنبیه: اما طحطاوی وائی چی دفوائد قرشیه څخه نقل ړ اغلی دی. چی مراد په دغو احادیثو شریفه ووک چی په مقابل کی دَدغو اعمالو چی ډیر آسان دی دومره لوی ثواب وعده وهغه چا ته ده چی پرډ غو اعمالو همیشه توب وکړي او یا په سبب دعذر په بعض اوقاتو څنډی پاته سی.

اوکه چیری یوسړی ګاه ګاه دا عملونه کوي او بیله عذره یه ګاه ګاه پریږدی. هغه دومره لویه ثوابو مستحق ندی. البته نفس ثواب حولری. وَاَمَّا الرابع ای بعد المغرب» په حدیث شریف کی ړ اغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وَسلم وَوَئیله که چا پسله مابنام دلمانځه شپږ ړکعته نفل وکړه کتب من الاوابین» داسړی به نوشته سی داوابینو په ډله کی. بیا ړ سول الله صلی الله علیه وَسلم دا ایت وَوایه «اِنَّهٗ کَانَ لِلْاَوَّابِیْنَ غَفُوْرًا» په تحقیق خدای جل شانه داوابینو بخښونکی دی»

فائده: اَوَاب هغه چا ته وائی چی ګناه څنډی صادره سی ژر تر ژره وخدای پاک ته په توبه کولو رجوع کوي. اود ابن عباسؓ څخه روایت دی چی علیه الصلوٰة والسلام وَوَئیله که چا پسله مابنام تر لمانځه وروسته شپږ ړکعته وکړه اوپه مابین کی خبری نه کړی برابر دی دَغه شپږ ړکعته دعبادت سَوه دوه ولسو[۱۲] کلو یعنی په نورد وختو کی. اود ابی هریرة رضی الله عنه په ړ روایت کی داسی ړ اغلی دی چی عَلیه الصلوٰة وَالسلام ووَئیله که چا پسله مابنام ۲۰ ړکعته نفل وکړه. خدای پاک به جوړ کړي دده دَپاره یوکور په جنت کی. اود ابن عباسؓ په ړ روایت کی ړ اغلی دی چی علیه الصلوٰة وَالسلام وفرمائیله که چا څلور ړکعته نفل وکړه پسله مابنام دلمانځه د مخه تَر دی چی دیو چا سره خبری وکړي. ړ فِعَتْ لَهٗ فِیْ عِلِّیِّیْنَ» داعمل دده په علیین کی ذخیره سی. علیین دیولوړ مقام نوم دی په جنت کی»

پوه سه: چی مراد په دی حدیث کی دادی چی لوی ثواب به ودَه ته په علیین کی نوشته سی نودا سوال نه پیدا کیږی چی په علیین کی خودَ نور وعَملو دَخیر ثوابونه هم ذخیره کیږی. اوعلیه الصلوٰة والسلام ړ یا تکړه: وَکَانَ کَمَنْ اَدْرَکَ لَیْلَةَ الْقَدْرِ فِی الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی وَهُوَ خَیْرٌ لَهٗ مِنْ قِیَامِ نِصْفِ لَیْلَةٍ» اوداسړی لکه هغه سړی گرځیږي چی

دشب قدر لمونځ په مسجد کی دبیت المقدس وکړي. اودَغه څلور ړکعته بهتر دی. تر نیمی شپی پوری تر نَفلو»

سوال: دلیلة القدر عبادت خوپه نص دقرآن کریم بالا دی تر زرګو میاشتو عبادت په نورو شپو کی. اوقیام دنصف لیلة خودپاره دبن عبادت دی

جواب: چی په حدیث شریف کی مراد دادی چی دَقیامی دنصف لیلة ثواب بالا بود ورکول کیږی تر قیام دلیلة القدر. وعن ابن عمرؓ ده ووئیله چی ړ سول الله صلی اللهُ علیه وسلم ووئیله که یوچا شپږ ړکعته نفل وکړه د مخه تر خبرو کولو. هغه تر به و بخښل سی. گنهونه د پنځوسو کلو» وعن عمار بن یاسرؓ ړ قال ړ سول الله صلی الله علیه وَسلم چی که چا وکړه پسله مابنامه شپږ ړکعته. خدای پاک بی گنهونه ور و بخښی کَه څومره دومره دیر گنهونه وی لکه ځنګ د دریاب» دروَیش وائی چی په دی حدیث کی که څوهم قید دقبل التکلم نسته لکن مراد دی. ولی چی مطلق پرمقید حمل کیږی چی واقعه یَوه وی. کما تقرر فی اصول الفقه»

پوه سه: چی اکثر علماء بخښنی دگنهونو په سبب بعض عملونو که په ما تحن فیه کی مخصوص بُولی په صغیره گنهونو پوری. وذالک بشارة عظیمة» اوبعض علماء گنهونه عاموی کبائرو گنهونو هم شامل وی. ففی الاحادیث المذکورة اعظم بشارة للمؤمنین والمؤمنات

فائده: دحضرت الامام الاعظمؒ مذهب دادی چی داشپږ ړکعته دی دمابنام تر لمانځه وروسته په دوه سَلامه سره کوی یعنی اول دوه ړکعته اوبیا څلور. او یارانؒ وائی چی داشپږ ړکعته دی په درې سَلامه سره کوی یعنی دوه دوه ړکعته. اوپه دری کی وائی چی شپږ سره دی په یوه سَلام کوی اوفتوی پرقول دامامؒ دَه»

مسئله: دغه شپږ ړکعته دمابنام بالا بود تر سُنتو مؤکدو دی اوکه سره دَهغوی بعض علماء وائی چی داشپږ ړکعته جَلا ده سنت مؤکده څخه دی. اوکمال الدین ابن الهمامؒ په فتح القدیر او امام حلبیؒ په خپل کتاب کی وائی چی داشپږ ړکعته مجموع سنت مؤکد او نفل دی نونفل څلور ړکعته کیږی. دَروَیش وائی چی داهم تائید دامام اعظمؒ کوی. چی وائی چی په دوه سَلامه سره دی کوی. ولی جَلا کول دنفلو د سنت مؤکده وو څخه مُستحب دی

اوصاحبُ الد ر چې شپږ سره په یوه سلام بولي دهغه په نیزد اشپږ رکعت د سنت مؤکده څخه ټالی دی. نوچونکه شپږ رکعته په یوه سلامه اډوم تحریمه وه او سخت وه نو خلکه د ر وَالا دغه مذهب مختار کړی.

علمي تحقیق پوه سه: چې محدثین ټولو پردی متفق دی چې روایت د موضوعي حدیث چې سړی په خپروی نارَوادی مګر د بیان سره د وضعي ملګری، او د اپه متفقو دول سره فقهاؤ وائی چې په حدیث ضعیف سره په فضائلو کی دَاعمالو استدلال روادی نو بناءً علی هذا د رویش وائی چې دغه حدیثونه چې دلته په فضائلو کی دسنتو او نفلونو ذکر سوی دی بحمد الله موضوعي خو یوهم نسته په کښې، بلکه اکثر یه صحیح دی. اوکه چیرې بعض احادیث مذکوره د سند له پلوه ضعیف هم وی. خو بیا استدلال په رَوادی. ولی داځکه چې بیان د فضائلو د اعمالو دی. فلا تعتبر بما قیل او یقال: قال المُصنف ر.

وَيَقْتَصِرُ فِي الْجُلُوسِ الْأَوَّلِ مِنَ الْمُؤَكَّدَةِ الْأَرْبَعَةِ عَلَى التَّشَهُّدِ

اوبس والی دی کوی په ناسته کی چې اوله ناسته ده. په څلور رکعتیز کی د سنت مؤکدة یعنی څلور رکعته سنت د مخه ترمانځنه اوه رکعته وسته دجمعې ترلمانځه پرو یلو د التحیات، یعنی پر اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ پوری دی وائی. **فائده:** سره د دی چې په فرضی لمانځه کی د میانځ په ناسته کی تر التحیات بالا نبود وکړي. ولو که په قدر د اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وی سجده سهوه به کوی. لکن په سُنت مؤکده وو کی چې څلور رکعته وی او د میانځ په ناسته کی تر التحیات بالا وَالی دفقهاو و اختلاف دی چې سجده سهوه پرلازمه ده او که نه! کذا فی الدر ر وَالغرر، هغه څوک چې سجده پروائی هغه دا استدلال کوی چې سُنت مؤکده پیر مشابهت لری د فرضو سره. نود تشهد وَیلو په باره کی حکم د فرضو لري. نوکله په فرضی لمانځه کی چې د میانځ په ناسته کی تر التحیات د تیریدُو په صورت کی خو سجده سهوه وه. نو په سنت مؤکده وو کی هم سجده سهوه سته په صورت مذکوره کی..

اوهغه علماء چې په صُورت مذکوره کی په سنت مؤکده وو کی سجده سهوه نه وائی هغوائی چې اصلاً خو سنت مؤکده هم نقل وه لکن په سبب د مداومت د علیه الصلوٰة وَالسلام سنت مؤکد وګرځید له نو د اصل دلاري سجده سهوه فسته، اوهغه دلیل چې اولی دلو وَا چې سُنت مؤکده دپرآه. جواب دادی چې په مشبه کی خو تهوله احکام د مشبه به جاری نه وی چې یود هغو څخه سجده سهوه ده. وهذا المذهب ینبغی ان یفتی به. قال

وَلَا يَأْتِي فِي الثَّالِثَةِ بِدُعَاءِ الْاِسْتِفْتَاحِ بِخِلَافِ الْمَنْدُوبَةِ

اوږ اتګ دی نه کوی مصلی د سنت مؤکده وو. چې د دریم ر رکعت ته ولاړ سی. په سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ سره کذا فی فتح القدیر وهو الاصح کما فی المنیة او په خلاف د سنة مؤکده د هغه سنت مندوبه چې څلور ر رکعته وی. یعنی په دوارو مسئلو کی معنا داچې د مندوبه څلور ر رکعتیزو د میانځ په ناسته کی به درود لانهمَا وائي. اوچې د دریم ر رکعت ته ولاړ سی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به هم وائي لکه په نفلی خالص څلور رکعته وَالا. اوکه مصلی د مندوبه سُنتو په اوله ناسته کی نه کښینستی نو په دریم ر رکعت کی دی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ او اَعُوْذُ بِاللّٰهِ نه وائی.

نکته: په شرح کی د منیی وائی چې مسئله د استفتاح وَیلو او مثل د هغه د متقدمینو څخه د مذهب ر روایت نسته، البته د متاخرینو څخه دا روایات مروی دی. قال المُصنف ر

وَإِذَا صَلَّى نَافِلَةً أَكْثَرَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَلَمْ يَجْلِسْ إِلَّا فِي

اوکه سړی نفل وکړي لږ لا تر دوه رکعته یعنی څلور مثلاً او نه کښینستی مګر په اخیر کی

أَخِيرِهَا صَحَّ اِسْتِحْسَانًا لِأَنَّهَا صَارَتْ صَلٰوةً وَاحِدَةً

صحیح دی لمونځ یې از روی استحسان. ولی دا یوله څلور رکعته یو لمونځ وګرځیدی او په یوه لمانځه کی صرف اخیره ناسته فرض ده.

پوه سه چې مصنف استحساناً ددی سببه ووایه چې په قیاس کې باید د المونځ فاسدوی کما ذهب الیه زفر وهو روایة عن محمد وجه القیاس» دا ده چې هر دوه رکعته د نفلو حکم المونځ دی نوده میانځ ناسته د شفع اول اخیره ناسته ده. اودی مصلی هغه پریښوله. اوداستحسان دلیل خوهغه دی چې مصنف روایه «ومما یؤید الاستحسان ما روی مسلم» انه صلی الله علیه وسلم یو وخت نه ۹ رکعته لمونځ نفلی وکړی اوپرانسته رکعت یه ناسته وکړه. اوبیا ونهم رکعت ته ولاړسو»

مسئله: کې ناسته پردوو رکعتوهیره سوه جبیره یې په سجده سهوه سره کیږی. اوکې په ولاړه کې ورپیاد سوه ببیره دی ناستی ته راګرځی اوسجده سهوه دی هم وکړی ترهغوچې رکعت یه پرې سجده سهوه نه وی مقید کړی» ف م» **پوه سه** چې بعض فقهاء وائی چې داخلور سره رکعته مثلاً یوه شفعه حسابل کیږی. نومصنف هغه رد کړه چې داخلور سره یو باعی لمونځ دئ

پوښتنه: ابن امیر الحاج وائی په مبحث کې د تراویح چې که یوسړی شل رکعته تراویح په یوه سلام پرې اخیر کې وکړی په دی کې خو اختلاف دمشائخو ستې. لکن صحیح دا ده چې داشل سره رکعته پرې ځای کې ددوو رکعتو د تراویحو دیرښی کړه هم شل رکعته نفل خوګنهل کیږی لکن په ځای کې ددوو رکعتو تراویح دیرښی یعنی ۱۸ رکعته به نورکوی نوهغه تراویح پوښکیږی اودغه رنګه که سړی ۴ رکعته تراویح وکړی اوپه مابین کې ناسته ونه کړی پردوه رکعته حسابیږی. نوپوښتنه زماداده چې ما قول دمصنف: وَاِذَا صَلّٰی نَافِلَةً آه دقول دابن امیر حاج مخالف نه ده **جواب** امام طحطاوی وائی چې منافات نه سته لرې. ولې چې تراویح پرهیئت مخصوصه راغلی دی یعنی دوه دوه رکعته. نوبیله خپله هیئته په بل هیئت سره نه اداکیږی.

مسئله: که سړی په نفلی څلور رکعتی لمانځه کې پرد یم رکعت کښینستی اختلاف دی په صحت کې اوخلاصه والا وائی چې لمونځ یې فاسدسو. م» ولې چې مشروع ناسته خوپردوهم رکعت وه هغه ده پریښوله. اوپردریم رکعت ناسته خوبې ځایه ده»

نوپردغه سړي قضاء ددوو رکعتولازمه ده فقط، ولې چې اول شفعه ده شروع خوصحیح شوله. لکن په ترک د قعودی ده فاسده کړه نوقضاء یې لازمه ده. اود دوهمی شفع قضاء پری نسته لانه بناء علی الفاسد» ط قال المصنف:

وَکُرِهَ الزِّیَادَةُ عَلٰی اَرْبَعٍ بِتَسْلِیْمَةٍ وَاحِدَةٍ فِی النَّهَارِ وَعَلٰی ثَمَانٍ لَیْلًا: اومکروه دی زیاتوالی پرځلورو رکعتو په یوه سلام په وړځ کې، اوپه شپه رکعته زیاتوب په شپه کې. دلیل یې دا دی چې علیه السلام والصلوٰة زیات تر دغو رکعتو په شپه اووړځ کې نه دی کړی نوکه مکروه نه وای علیه السلام به دیاره دبیان د جواز یو وخت زیاتوب کړی وای. وهذا اختیار اکثر مشائخ المذهب» اوپه معراج کې وائی چې صحیح دا ده چې کراهت نسته لما فیه من وصل العبادة بالعبادة» اوامام سرخسی یې هم مکروه نه بولی پردی دلیل چې په صحیح بخاری کې په روایت د عائشه رضی الله تعالی عنها راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام دیارلس رکعته لمونځ د شپې کاوه. یعنی چې لس رکعته نفلی وکړه کښینستی به اوبیا یو دری رکعته وکړه. نوهغه لس رکعت خو نفل دی اودری رکعته یې وتر دی ط وائی چې په دغه حدیث د سرخسیؒ مدعی نه ثابتیږی. ولې چې په دی حدیث کې صراحةً راغلی چې لس رکعته یه په یوه سلام کوله: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْاَفْضَلُ فِیْهِمَا رُبَاعٌ عِنْدَ اَبِیْ حَنِیْفَةَ اوافضل د نفلو په شپه اووړځ کې خلور رکعته دی په نیز د امام اعظم ابوحنیفه. ولې چې په حدیث کې چې روایت یې عائشه رضی الله تعالی عنها کړی دی اوپه بخاری وغیره کې موجود دی د اسی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شپې څلور رکعته لمونځ کاوه چې تې پوښتنه د نبه والی او اوږدوالی مه کوه یعنی په دې سبه طریقه اوږده اوښه ده رکعتونه په سبب د طول قرائت کود ثُمَّ یُصَلِّی اَرْبَعًا فَلَا تَسْئَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ» دا خود شپې د څلورو رکعتو فضیلت وو. اود وړځې په باره کې د څلورو رکعتو د فضیلت دلیل دا دی» چې علیه الصلوٰة

ستا، د دی خبری دلیل دادی. چې په فقه شریفه کی وائی چې که یوسړی پر ځان نذر کړه چې زه به څلور رکعته لمونځ په یوه سلام کوم، نو په دوه رکعت کولو سره به د نذر غاړی نه خلاصیږی. او که سړی نذر کړه چې زه به څلور رکعته لمونځ په دوه سلامه کوم. نو بیا به څلور رکعته په یوه سلام وکړه د نذر غاړی خلاصی سوی. نو بیا ابن همامؒ وائی چې نو مونږ د دی سببه حکم کوو چې مراد د مشئ څخه مقابل د تا لك دی یعنی یو رکعت یا دری رکعته. وهکذا او د کمال الدینؒ سره موافق دی دده شاګرد علامه قاسم فافهم. . قال المصنفؒ

وَصَلٰوةُ اللَّيْلِ اَفْضَلُ مِنْ صَلٰوةِ النَّهَارِ

او شپنی نفل افضل دی له لمونځ خصوصًا په درېیمه حصه کی او پسله خوبه ډیر سخت دی پر نفس، او دریا څخه ابعد دی. او خصوصی منا جات دی د خدای پاك سره، او خواس ډیر سلیم وی. خدای جل سلطانه په بیان کی د دغو لمونځ کوونکو وائی. تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ» الآیة وقال الشاعر، بقدر الکد تکتسب المعالی ؛ ومن طلب العلی سهر اللیالی ؛ تروم العز ثم تنام لیلًا ؛ یغوص البحر من طلب اللآلی ؛ قال المصنف

وَطُوْلُ الْقِيَامِ اَحَبُّ مِنْ كَثْرَةِ السُّجُوْدِ

او دیره ولاړ په لمانځه کی په سبب د طول القرائت محبوب دی د خدای جل شانه نه تر ډیرو سجدو یعنی په سبب د سپک قرائت او ډیر رکعتو. یعنی که د شپی وی او که د ورځی لقوله علیه الصلوٰة والسلام: اَفْضَلُ الصَّلٰوةِ طُوْلُ الْقُنُوْتِ، ای القیام» او بل دلیل دادی چې په طول القیام سره قرائت القرآن ډیریږی. او په ډیر والی د رکوع او سجود تسبیحات ډیریږی او شك نسته چې قرائت القرآن افضل دی تر تسبیح ویلو، مصنفؒ په مرقاتی کی وائی چې په مجتبی کی د امام محمد څخه روایت دی چې کثرة السجود افضل دی. ولې چې علیه الصلوٰة والسلام ویوه سائل ته وویلې. عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ: ته پرځان لازم وګرځوه ډیر والی د سجدو، او په بل صحیح حدیث کی د اغلی دی چې یوسړی د علیه الصلوٰة والسلام څخه سوال وکړی چې زه ستا مرافقت او ملګرتیا په جنت کی غواړم: علیه الصلوٰة والسلام

والسلام د ثابت لمونځ کاوه څلور رکعته چې په مابین کی بی سلام نه ګرځاوه. او دا م ثابتره ده چې علیه الصلوٰة والسلام د ثابت پر لمانځه مواظبت کړی دی»

فائده: مراد د مواظبت دلته دوام نه دی ولی عمل دائم د علیه الصلوٰة والسلام خو سنت مؤکد بلل کیږی. نو باید چې صلوٰة الضحیٰ په سنن مؤکده وو شمیرل سوی نو بلکه مراد کول د ثابت د لمانځه دی په اکثرو اوقاتو کی.

دفع توهم

چې علیه الصلوٰة والسلام د ثابت لمونځ په کور کی کاوه. نو دا مواظبت د هغه حدیث سره منافی نه دی چې راوی وای چې ما د ثابت لمونځ د علیه الصلوٰة والسلام صرف او صرف په کال کی د فتح د مکی مکرمی ولیدی او بیا می نه دی لیدلی، فتدبر. قال المصنفؒ

وَعِنْدَهُمَا الْاَفْضَلُ فِي اللَّيْلِ مَثْنٰى مَثْنٰى وَبِهٖ يُفْتٰى

او افضله په نیز د یارانو په شپه کی دوه دوه رکعته دی. او په دغه سره فتوی ورکړه کیږی حاصل دا چې یاران د ورځی په نفلو کی چې څلور رکعته افضل دی د امام اعظمؒ سره موافق دی د یارانو دلیل دادی» چې په حدیث شریف کی د اغلی دی صلوٰة مثنٰی مثنٰی» او د دی حدیث جواب محقق ابن الهمام په فتح القدیر کی داسی ورکړی دی. چې د حدیث شریف معنی داهم کیدای سی چې دوه رکعته د شپی په نفلو کی افضل دی نسبت د څلورو نه لکه مدعی د یارانو چې ده. او داهم کیدای سی چې په حق کی د اباحت دوه پیدې تر یوه رکعت، ولې چې یو رکعت لمونځ اباحت نه لری، واذا الاحتمال بطل الاستدلال، نو ترجیح دیوه احتمال پر بل باندی مرجح غواړی. او د علیه الصلوٰة والسلام څلور رکعت په یوه سلام ثابت دی کما مر من حدیث عائشهؓ او بعض فقهاءؒ وائی چې مراد د مثنی څخه په حدیث کی د دا دی چې صلوٰة اللیل شفعه شفعه دی یعنی مقابل د تا لك، او څلور خو هم شفع دی. او ابن همام وائی چې مونږ ترجیح په جانب کی د څلورو، ویو، ولې چې په څلورو کی مشقت پر سړی ډیر دی. ولې چې په خدمت کی د عبادت دی ډیره زمانه پاتیږی وقد ورد فی الحدیث النبوی: انما اجرك بقدر نصبك، نو دی ستا ثواب مګر په قدر د تکلیف

ورته وَوَئیلہ یا بل شئی یعنی دبل شئی سوال وکړه سائل ورته وَوَئیله: هُوَذَاكَ، یعنی
زما سئوال ځمدا غږدی. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وَوَئیله: اَعِنِّی عَلٰی نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ
السُّجُود: یعنی زما سره ته کهمک وکړه په تحمیل کی ددی مسئول ستاپه دین والی سره د
سجدو. او قوله علیه الصلوٰة والسلام: اَقْرَبُ مَا یَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهٖ وَهُوَ سَاجِدٌ:
او بل داچی په سجده کی غایة خضوع اوتذلل دی. او امام احمد په دی مسئله کی توقف
کړی دی. لتعارض الادلة. او امام مالک دواړو سره برابرولی. لتساوی الدلیلین.
درویش وائی: که سړی دشپی ولما نخه ته تعیین درکعتو کړی وو مثلاً چی زه به دشپی
۸ رکعته لمونځ کوم. نو طول القیام افضل دی. اوکی تعیین درمانی کړی وو مثلاً چی زه
به یوساعت نفلونه کوم. نو هغه دپاره کثرة السجود افضل دی. وَاللهُ اعلم بالصواب.
درویش مُحَمَّد عَبِیدُ الله، ایوبی، قندهاری، سلیمانخیلی، سنی، حنفی، نقشبندی
وائی چی ددی فصل په مناسبت هغه بیات چی عارف باالله خواجه عبد الله انصاری
رحمة الله علیه: چی دافغانستان دهرات په شارکی په مزار پر انوار دی وَئیلی دی ویریږوونکی
اومناسب دی، تاچی اهل الله وَخلگوته معلوم شی. اوپه دی خلگ پوه سی چی مقصود اصلی
دعلم څخه عمل دی نه مجرد قال وقیل. هغه دمعنیٰ او اسرارو وړلگ بیتونه دادی:

حبذا قومی کہ داد بندہ گی را دادہ اند ❊ ترک دنیا گفتہ اند و از ہمہ آزادہ اند
روز ہا با روزہا در گوشہ ہا بنشستہ اند ❊ باز شبہا در قیام بندہ گی استادہ اند
نفس خود را قہر کردہ روح خود را پر فتوح ❊ زاد تقوی بر گرفتہ بہر مرگ امادہ اند
طرفۃ العینی نبودہ غافل از حضرت ولی ❊ سیلہا با این ہمہ از دیدہ کہا بکشادہ اند
یکزمان از نوحہ ہیچون نوح فارغ نیستند ❊ ہیچو یحیی گویا از بہر زاری زادہ اند
ز آب ناب تب الی الله غسل کردہ آن کسان ❊ روی خود بر خاک پای آنسجد وانہادہ اند
ربنا گویند ازان لبیک عبدی بشنوند ❊ جملہ الحمد است الست از جرعہ این بادہ اند
راحتی دیدند روز وقتی یافتند از انس وجان ❊ روز و شب در کنج خلوت بر سر سجادہ اند
تا بدنیا آمدند از کلبہ کتم عدم ❊ سوی حضرت جز نیاز و نا نفرستادہ اند

پیر انصاری تو میدانی کرا ایشان کیستند ❊ فقر و بی کروفر زمرهٔ دل سادہ اند

درویش باگناه بحضرت بی همتا خود چنین عرض مینماید گر قبول افتد زهی عز و شرف:

الٰہی یا الٰہی یا الٰہی ❊ ندارم جز امید تکیه گاہی
ز کن موجود کردی جمله عالم ❊ مرا از ذنب خود کن عذر خواہی
ندارم طاعت مقبول درگاه ❊ بجز اشک ندامت آه آہی
ندارم توشه راه قیامت ❊ بجز شرمندگی و روسیاہی
شفیع آورده ام روی محمد ❊ مرا از ذنب خود کن عذر خواہی
بحق حرمت فرقان اعظم ❊ کرم کن بر من و گم کرده راہی
اگر دورم مرا از دیده رانی ❊ فراموشی مکن ای مهربانی
عبیدرا خاتمه بالخیر گردان ❊ بروی چار یار آن مصطفائی

اوداهم وایم.

احب الصالحین ولست منهم ❊ لعل الله یرزقنی صلاحا
تا نگرید ابر کی خندد چمن ❊ تا نه گرید طفل کی جوشد لبن
هر کجا آب روان سبزه شود ❊ هر کجا اشک روان رحمت شود
نقصان رقابل است و گرنه علی الدوام ❊ فیض صباوتش بهمه کس برابر است
صبا مدینہ میں مصطفیٰ سے ہم غریبوں کا سلام کہنا ❊ نہیں ہے کوئی بجز تمہارا میرا اتنا پیام کہنا

اللهم اختم لنا بالخیر و السعادة و البشارة من الایمان.

کتاب ——— پښتو نور الایضاح جلد دوم
مصنف ——— الحاج ابو الفضل ایوبی قندهاری مدظله العالی
کتابت ——— ادنیٰ خوشه چین فضل الحق حقانی القاری
ناشر ——— مکتبة القراءة والتجوید کانسی روډ کوئٹه

فصل فِي تَحِيَّةِ الْمَسْجِدِ وَصَلٰوةِ الضُّحٰى وَاِحْيَاءِ اللَّيْلِ

فصل دی په بیان کی د تحیة مسجد یعنی تحیة رب المسجد ولی تحیه خو هغه چا ته لازمه ده چې دمکان لرې نه وه مکان ته» ملا علی قاریؒ وائی څوک چې داخل سی د مسجد حرام ته لا یشتغل بالتحیة ای بصلاة التحیة» ولی تحیه د مسجد حرام طواف دی. چې پرچا طواف لازم وی لکه معتمر یا چې د طواف زیارت دپاره راسی. او یا داغسی راسی لکن د طواف اراده لری. نو طواف دی وکړي دغه یې تحیه ده. او که چا اراده د طواف نه درلوده یا خو یې اراده وه لکن یو ګړی کښینستی. نو هغه سړي دی نه کښینی تر څو چې د تحیة المسجد لمونځ نه وی کړي. او بل دغا بنت لمونځ او بل شپه روتر وَل په عبادت سره.. قال المصنف

سُنَّ تَحِيَّةُ الْمَسْجِدِ بِرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْجُلُوْسِ

سنت ګنړل سوی دی پینس کښې د مسجد په دوه رکعته سره د مخه ترناستې. لکن که ګډی د خول په وخت مکروه کی نه وي. لِقولہ علیہ الصلوٰۃ و السلام: که یوستا سې داخل سو د مسجد نه نو تر هغو پوری دی نه کښینی چې دوه رکعته لمونځ یې نه وی کړي درویش وائی که څوک څلور رکعته هم روادی په تحیة المسجد کی لکن افضل دوه رکعته دی لاجل الحدیث القولی والفعلی» کذا قال الفهستانیؒ

مسئله: که سړي مسجد ته ورغلی وروسته د سحارد لمانځه یا ورو سته د مازدیګر ترلمانځه چې نفل نه دی روا. نو سُبْحَانَ اللّٰہِ، لَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ، او درود پر نبی علیه الصلوٰة و السّلام وَوائی: چې په دې سره حق د مسجد پوره کیږی» تمرتاشی» **مسئله** که سړي مسجد ته ورغلی او د ودس په نه درلودی نو داخلو کلمی دی څلور واره وائی. سُبْحَانَ اللّٰہِ وَالْحَمْدُ لِلّٰہِ، وَلَا اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ، وَاللّٰہُ اَکْبَرُ» در، عن ض عن ق»

پوښتنه: چې قبل الجلوس صرف د بیان دا ولی دی. ورنه بعد الجلوس هم تحیة المسجد نساقطیږی» امام طحطاویؒ وائی چې دا قول د عامه وو دی وَهُوَ الصحیح او بعض فقهاءؒ وائی چې یو وار دی سړي کښینی او بیا دی تحیة المسجد اداء کړي. درویش وائ

چې د احکامو د صریح حدیث مذکور سره منافی دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاَدَاءُ الْفَرْضِ يَنُوْبُ عَنْهَا وَكُلُّ صَلٰوةٍ اَدَاهَا عِنْدَ الدُّخُوْلِ بِلَا نِيَّةِ التَّحِيَّةِ

او اداء کول د فرضی لمانځه هم په دغه ګډی کی د تحیة المسجد د ورین ی او دغه رنګه په ګډی کی د تحیة المسجد د ورین ی هر لمونځ چې اداء یې کړي په وخت کی د د خول المسجد بیلہ نیت د تحیة المسجد» ولی چې مقصود د تحیة څخه احترام او تعظیم د مسجد دی هغه په دغه سره پرګډی سو. **مسئله** که څوک مسجد ته ورځلی نوبیه د ورځی یوه تحیه کافی ده»، حمویؒ داشباه څخه نقل کوی چې هره پلا تحیة المسجد کول حرج دی. او لبعض علماء وائی چې د هر د خول په وخت جلا جلا تحیه غواړی. قیاسًا علی تحیة الانسان بالسلام فانه کلما هیّه سلمه وان کرر الملاقات بینهما کذا فی السراج والفتوی علی الاول خصوصًا فی الطلباء والعلمآء»

مسئله: مندوب ده چې په وخت کی د د خول د مسجد دی دا سې وائی: اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ» او په وخت کی د د وتلو د مسجد څخه دی دعا کوی. اللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ لامر النبی صَلَّی اللّٰہُ علیہ وسلم بذالک» ر ق قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَنُدِبَ رَكْعَتَانِ بَعْدَ الْوُضُوْءِ قَبْلَ الْجَفَافِ

او مستحب دی دوه رکعته نفل پسله اوداسرد مخه تروچ والی. دا ند امو، قَالَ عَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام: مَا مِنْ مُسْلِمٍ یَتَوَضَّأُ فَیُحْسِنُ وُضُوْءَہٗ ثُمَّ یَقُوْمُ وَیُصَلِّی رکعتین یُقْبِلُ عَلَیْهِمَا بِقَلْبِهٖ اِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» رواہ مسلم نسته داسی مسلمان چې او دس تازه کی او بیا یې پوره او دس تازه کړي او بیا و دریږی. او دوه رکعته نفل وکړي چې زړه یې متوجه وه هغه لمانځنه وی مګر واجب دی ده لره جنت» او سید نا ابو هریره رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام و بلال رضی اللہ عنہ ته وَوَیْلٌ ای بلالٍ تمامه بیان که هغه دیره ښه عمل چې تا په اسلام کی کړي دی» ولی چې ما او ریدی ترپی د چوتهو ستا زماد مخه په جنت کی یعنی په عالم خوب کی» بلال رضی اللہ عنہ ورته وَوَیْلٌ

چې تردغه عمل چې زه امید نه ماپه عقیده مانه دی کړي بیله دی چې زه دورځې اودشپې
نه یم بې اود سه سوی مګرما اودس تازه کړي دی. اوماپه هیڅ وخت کې دورځې یاد شپې
اودس نه دی تازه کړي مګرنه ماپه هغه اود اسه سره نفل کړي هغه ماته نوشته سوی وه،
یعنې په تقدیر الهی کې قال صلی الله علیه وسلم هُوَ ذَا كَ، هم داغه ارجې عمل دی رواه البخاری
مسئله: په شرح کې د مشکوٰة په کتاب الطهارة کې وائی که سړی وروسته تر اوداسه متصل
پرفرضی لمانځه ورپیدی ثواب د تحیة الوضوء ورته حاصل سوکه امتر چې د تحیة المسجد ثواب
په فرضی لمانځه سره هم حاصلیږي. قال المصنف:

وَاَرْبَعٌ فَصَاعِدًا فِی الضُّحٰی اودغه رنګه مندوب دی د څلورنبت لمونځ علی الراجح من الروایة» اوبعض علماء وائی چې جائزی غیرمندوب دی: اوهغه څلور رکعته یا با لاتر څلور په وخت کې د ضحیٰ. په دلیل دهغه حدیث چې عائشه رضی الله تعالیٰ عنها یه روایت کوی. اوداوائی چې علیه الصلوٰة والسلام د څلورنبت لمونځ کاوه څلور رکعته اوګاهی بې زیاتول ماشاء» نو دی وجې څلورنبت صلوة الضحی مندوب وبالله. اوامام حاکم په خپل کتاب کې چې مستدرک یه نوم دی. داسې وائی ما صحبت کړي دی د پیرو امامانو سره د حدیثو چې هغوهم حفاظ اوهم محکم خلګ وه په حدیثو کې نو دوی د څلورنبت لمونځ څلور رکعته خوښ بنا وه لتواتر الاخبار الصحیحة فیها. اوبعض مفسرین د دی آیت تفسیر: وَاِبْرٰهِیْمَ الَّذِیْ وَفّٰی» د علیه الصلوٰة والسلام څخه داسې روایت کړي دی چې علیه الصلوٰة والسلام وویل یعنی وصحابه ووته: اَتَدْرُوْنَ مَا وَفّٰی» آیا تاسې پوهیږی چې څه مراد دی د الذی وفی. وفی عمل یومه بمائة رکعات الضحی»

پوه سه: چې څه وخت چې لږ دوی نیږی راپورته سی یعنی وخت د کراهة الصلوٰة تیریږی دوه رکعته نفل سته چې صلوة الاشراق یه بولی: اوبیا چې نیزه لږ راپورته سی چې په پښتو یه پوخ څانبت بولی. اوتقریبًا لږ مشرق د خوا څلورمی حصی ته د اسمان راوخیږی. هغوخت د صلوة الضحی دی.

فَائِدَةٌ مُجَرَّبَةٌ عِنْدَ اَهْلِ اللّٰهِ: پوه سه: چې اهل تجربه د اولیاء الله الکرام رحمهم الله وائی چې صلوة الضحی علاوه تر ثواب اخروی دفراخی د رزق دپاره هم تیر بهدف دی. لکن دوی دهغه دپاره داترتیب پته کلی دی. په اول رکعت کې وروسته تر الحمد لله، سورة والشمس وضحٰها الخ اوپه دوهم رکعت کې متصل سورة په هغه پوری یعنی والیل اذا یغشٰی آه. اوپه دریم رکعت کې وروسره جوت سورة والضحیٰ آه اوپه څلورم رکعت کې دهغه متصل اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ»

اختلاف بعض علماء وائی چې مداومت یعنی همیشه توب پر صلوة الضحی بدعت دی دافرقه داسی دیر عبادات مشهور، قولیه، عملیه، مالیه، وقتیه بدعت وائی. اوبایددی دې قول ته څوک غوږ ونه نسی بلکه خپل مذهب حنیفی دفقهاء کرامو خبره عملی کړي. اوهغومذهب دادی چې مداومت یعنی همیشه توب یه مندوب دی.

ولیل پرته حدیث صحیح کې راغلی دی. اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللّٰهِ مَا دَاوَمَ عَلَیْهِ صَاحِبُهُ وَاِنْ قَلَّ» یعنی خوښ عمل د الله جل سلطانه هغه عمل دی چې دوام وکړي صاحب د عمل پرهغه کشهم لږ وي. قَوْلُهُ فَصَاعِدًا الخ **پوه سه**: چې نیا توب تر څلورو رکعتو تر ۱۲ پورې مروی دی. امام طبرانی د ابی الدرداء څخه داسې روایت کړي دی چې علیه الصلوٰة والسلام وو ویل که چا د څانبت لمونځ دوه رکعته وکړي. دی به په غافلانو کې نه نوشته کیږی. اوکې څلور رکعته وکړه په عابدینو کې به نوشته سی. اوکه شپږ رکعته وکړي دغه ورځ به کافی وه. اوکې اته رکعته وکړه خدای ﷻ ئې په قانتینو کې نوشته کړي. اوکې دوولس رکعته وکړه خدای جل ثنا نه به وده ته یو کور په جنت کې جوړ کړي. مر وفی الدر عن المنیة: اقل مرتبة صلوة الضحی ۲ رکعته دی. اواکثر یه ۱۲ رکعته دی. اواوسط یه ۸ رکعته دی وهو افضلها کما فی الذخائر الاشرفیة، اودرولیش وائی چې زما په نیز یه افضل مرتبه ۴ رکعته دی. ولی څلور رکعته هم په حدیث فعلی د علیه الصلوٰة والسلام ثابت دی کما فی حدیث عائشة رض. اوهم په حدیث قولی د علیه الصلوٰة

والسلام کما فی حدیث الطبرانی: اوبل د اهل الله اولیاء الله اتفاق هم پرځلور رکعته دی کما مر عنقریب» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَنَدْبُ صَلٰوةِ اللَّيْلِ

او مندوب دی دشپی لمونځ. په مراقی کی وائی چی که مرتبه د صلوة اللیل چی تهجد یې بولی اته رکعته دی کما فی الجوهرة» **فَائِدَة**: فضائل د صلوة اللیل بیخی ډیردی الحضرت صلی الله علیه وسلم په یوجامع حدیث کی وائی: عَلَيْكُمْ بِصَلٰوةِ اللَّيْلِ» تاسی پرځان لازم وگرځوی دشپی لمونځ. فَاِنَّهُ مِنْ دَأْبِ الصَّالِحِيْنَ قَبْلَكُمْ» ولی صلوة اللیل عادت ووه صالح بنده گانو د خدائ تر تاسی دمخه، یعنی په نورو ادیانو کی. وَقُرْبَةٌ اِلٰى رَبِّكُمْ اوصلوة اللیل تاسی نږدی کوی وخدای جل شانه ته» وَمَكْفَرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ» اوصلوة اللیل ګناهونکی دی ډګنهوستا سو. وَمِنْهَاةٌ عَنِ الْاِثْمِ اومنع کوونکی دی ستاسو ګناهونو څخه. قَالَ اللهُ تَعَالٰى: قُمِ اللَّيْلَ اِلَّا قَلِيْلًا» په تفسیر کی د ابن عباسؓ راغلی دی په تفسیر د ایت مذکوره قُمِ اللَّيْلَ كُلَّهٗ اِلَّا قَلِيْلًا. نو په دی ایت عمل کول ګران سوه پر علیه الصلوة والسلام اوپر اصحابو رضی الله تعالٰی عنهم باندی. ولی دوی ته اندازه اومقدار د قلیل نه معلومیدی. نو ډیره احتیاط به ګی شپه تهوله په لمانځه تیره کړه. نو خدای جل شانه بیا دا ایت نازل کړی» نِصْفَهٗ اَوِ انْقُصْ مِنْهُ قَلِيْلًا. اَوْ زِدْ عَلَيْهِ» یعنی نیمی دشپی تهجد کوه. اویا ترهغه کم یعنی ترثلث پورې. اویا زیات تر نصف یعنی تر ثلثین پورې دشپی اود امر الهی هم پر علیه الصلوة والسلام اوپر اصحابو مشقت وو. ولی چی اندازه د نصف اللیل یا ثلث اللیل اویا دوی برخی دشپی هم دوی ته نه معلومیدی چی په هغه عصر کی ساعتونه نه وه چی په هغوسره د مقادیر ثلثه پیژندلی وای. نو بیا هم د احتیاط د سببه تهوله شپه بی لمانځه کی تیره کړه حتی چی د پیری ولاړی څخه لپښی وپرسیدلی، نو رب جل وعلی د هغه ناسخ نازل کړی وقال» عَلِمَ اَنْ لَّنْ تُحْصُوْهُ: خدائ علم لری چی تاسی طاقت د ضبط د نصف اللیل او ثلث اللیل او ثلثی اللیل نه لری. فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ» نو رجوع وکړه خدائ د قبلی مقادیرو څخه نو اوس تاسی

لمونځ کوی په شپه کی چی تاسی ته آسانه وی: وَلَوْ قَدْرَ حَلْبِ شَاةٍ» تردی وخته پورې خو صلوة اللیل واجب وو. اوبیا پسله یوه کاله یه وجوب منسوخ سو په پنځو لمونځو سره د فرضو نوترو مابین د واجب او تخفیف یه یوکال تیر سو. او په مابین کی د وجوب او نسخ د دوه کاله تیرین، کذا فی التقریر شرح البخاری لبدر الدین العینی الحنفی رح» «ط»

قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَنَدْبُ صَلٰوةِ الْاِسْتِخَارَةِ

اومستحب دی لمونځ د استخاری پوسته: چی معنا د استخاری طلب د خیر دی د خدای جل جلاله څخه او استخاره دیار د راتلونکی کار پکاره، چی خدائ څخه سړی ته په دغه کار کی چی سړی اراده ورته کړیده ذخیر جانب ورته معلوم کی.

فَائِدَة: د صلوة الاستخارة بیان په حدیث کی د جابرؓ په دغو الفاظو راغلی دی: كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُعَلِّمُنَا الْاِسْتِخَارَةَ فِي الْاُمُوْرِ كُلِّهَا كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْاٰنِ» ترجمه وو علیه الصلوة والسلام پردی دول چی موږ ته یه راښوولو: طریقه د استخاری په ټولو کارونو کی لکه چی موږ ته به ګی یو سورة د قرآن راښوولی یعنی په بښه تحقیق او مکرر ښوونه سره.

پوسته: چی په نبل صحیح حدیث کی داسی راغلی دی. قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ مِنْ سَعَادَةِ الْمَرْءِ اِبْنِ اٰدَمَ اِسْتِخَارَةُ اللهِ عَزَّوَجَلَّ یعنی د نیک بختی څخه د ابن اٰدم دا ده چی طلب د خیر د خدائ څخه کوی. قَالَ جَابِرٌ يَقُوْلُ یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم: اِذَا هَمَّ اَحَدُكُمْ بِالْاَمْرِ چی قصد وکی یوستاسی د یوکار **پوسته**: چی کار څخه مراد کار د مستقبل دی چی د خیر او شر دواړه احتمال پکښی وی. او سړی یه په خیر او شر نه پوهیږی یعنی یومهم کار وی. نو په دوه ډوډی خوړلو یا په اوبو څښلو او په نورو عادی کارونو کی د استخاری کولو ضرورت نشته» فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيْضَةِ» نو دی دوه رکعت لمونځ وکی ما سوا د فرضی لمانځه څخه. یعنی صرف نفل دی وکړی. علماء وائی چی په اول رکعت کی دی الکافرون سورت ووائی او په دوهم رکعت کی دی سورة الاخلاص ووائی. او بعض فقهاء وائی چی په اول رکعت کی د اقول دخدائ ووائی. وَرَبُّكَ يَخْلُقُ.

مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ تر يُعْلِنُونَ پورې. اوبه دوهم رکعت کې دا قرائی اینوونه وَوائی: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ» تر مُبِينًا پورې: **بنهانه اواسانه فائده**: که یو سړی ته صلوة الاستخارة اوداستخاری دعا تکلیف وه. نوبیه ترمذی کې په اسناد ضعیف سره دابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه څخه روایت دی. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اَرَادَ اَمْرًا قَالَ اللّٰهُمَّ خِرْ لِي وَاخْتَرْ لِي» دجابرؓ دحدیث وخواته څو:

اِستخارہ

اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ ای خدایه زه ستا څخه طلب د خیر کوم یعنی په دې کار کې چې زما وړ ته اراده ده، په سبب د علم ستا» یعنی په سبب د دې چې ته په خیر او شر خبر یې» وَاَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، زه طلب د قدرت د تا څخه کوم په سبب د دې چې ته قادر یې پر شئ. وَاَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ: او زه ستا څخه سوال کوم د بعض فضل عظیم ستا. کلمه مِنْ د تبعیض د پاره ده، ط، فَاِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ، ولې چې ته قادر یې اوزه نه یم قادر. اوته خبر یې اوزه نه یم خبر اوته په ټولو غیبوخبر او خبر یې: اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ اَمْرِي، ای خدایه که ته خبر یې چې دغه کار یعنی چې مایه اراده کړې ده خیر دی مالره په دین کې اوپه ژوند کې او په اخیر کار کې:

فائدہ: دعا کوونکی دی په عوض کې د لفظ دهٰذَا الْاَمْرَ» هغه خپل کار ذکر کړې چې ده اراده ورته کړې وه. **پوښتنه**، اِنْ كُنْتَ آه چې کلمه د شک ده په علم کې د خدائ جل جلاله په خیر والی او شر والی د دې کار څرنګه صحیح کیږي. **جواب**: امام طحطاوئ والی چې شک راجع دی وه داعی ته یعنی چې داعی په دې کې شک دی چې دا کار په علم د خدائ کې مانه خیر دی اوکه شر دی او شک وه علام الغیوب ته نه دی راجع فافهم» او قال فِي عَاجِلِ اَمْرِي وَاٰجِلِهِ: کلمه د او د پاره د شک دراوی ده. فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي ثُمَّ

بَارِكْ لِي فِيهِ: پوه شه: چې لفظ د اَقْدُرُ» په ضمه د دال د باب نَصَرَ يَنْصُرُ دی او په کسره د دال د باب ضَرَبَ يَضْرِبُ دی او معنایې پر دواړه تقدیر دادې چې دا کار ما ته آسانه کړې یعنی ماته قدرت راکړې پرهغه او ساتې آسانه کړې او بیا ماته برکت په کښې راکړې وَاِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ اَمْرِي وَقَالَ عَاجِلِ اَمْرِي وَاٰجِلِهِ» ترجمه: د دې عبارت د هغه ما سبق پر دول ده. فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ» ترجمه: نوبیا زما مخ واړوې د هغه کار څخه او هغه کار زما څخه لیرې کړې. او ماته آراسته او آسانه کړې خیر هر چیرې چې وی او ما په هغه راضي وگرځوی. ثُمَّ يُسَمِّي حَاجَتَهُ: او بیا د دې حاجت بیان کړې یعنی په ځای د هٰذَا الْاَمْرَ کما سَبق. تنبیه صحاح ستته وو ددے حدیث روایت کړې دی مگر مسلم» وفی المراقی» بښه کار دادی چې دا دواړه روایته دی سره جمع کړې یعنی داسی دی وَوائی: وَعَاقِبَةِ اَمْرِي وَعَاجِلِهِ وَاٰجِلِهِ» وقال ط چې مستحب داده چې دغه ترد عادی درود وواۍ.

مسئله: استخاره په هغه کارونو کې مندوبه ده چې بنده یې په خیر او شر نه پوهیږي لکه نکاح د یوې ښځې سره یا سفر د تجارت وغیره خواته. اونور د دې قسمه څخه کارونه، اوهغه کارونه دی چې خیر والی ئې په شریعت کې معلوم وی لکه عبادت، اویا یې شر والی معلوم وی لکه معاصي نو هغه واستخاری ته حاجت نه لري. نوځکه په فارسی ژبه کې وائي: درکار خیر حاجت استخاره نیست» نَعَم: استخاره په بعض امورو کې د خیر لکه حج یا جهاد، د پاره د تعین دوخت کولای سې.

فائدہ: استخاره به تر اوضو ورځو مکرره وی کما جاء فی حدیث انس **فائدہ** په استخاره کې د خوب لیدل شرط نه دی. اوکه خوب هم وویني تعبیر دی دیوه عالم متقی څخه وپوښتی بلکه اصلی فائده د استخاری داده چې دسړي د زړه تردد دفع سې. یا په کولو کې د هغه کار اویا نه کولو کې. یعنی په زړه کې مصمم اوټینګه اراده پیدا سی دکولو د هغه کار» اویا یې زړه کلک منکر سی د هغه کار څخه، اوبیا یې پر زړه نه وړگرځي. او پنځمه چې د خوبو په تعبیر نه پوهیږي تعبیر د خوب دی نه کوی: وهذا تمام البیان فی الاستخارة»

قال المصنف: **وَصَلٰوةُ الْحَاجَةِ** اودغه رنگه مندوب دی د حاجت لمونځ، او صلوة الحاجت دوه رکعته دی، او بعض وائی څلور رکعته دی او په هاوی کی یوه ډیره نادره خبری کړیدی. چی وائی صلوة الحاجت دوولس رکعته دی او بعض وائی څلور رکعته دی. اوداد وولس چی وائی هغه هم په یوه سلام سره دروئیش وائی چی اعتبار هغه مقدار لره دی چی د صحیح حدیث سره موافق وی. هغه حدیث دادی. په روایت د عبد الله بن ابی اوفی رضی الله تعالی عنه ده وئیلی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیلی: که چا لره یو حاجت وی د خدای پاک په درباریکی، او یوه بنی آدم لره. نو دی اودس تازه کړی او بنه اودس دی تازه کړی یعنی که څه هم زوړ اودس یه وی خو بیا هم دی اودس نوی کړی. او بیا دی دوه رکعته لمونځ وکړی یعنی نفل، او بیا دی حمد وثنا د خدای ووائی. او بیا دی درود پر نبی علیه الصلوة والسلام ووائی یعنی هر درود چی وی او بیا دی ووائی **لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ**» نږدې ستا څخه غواړم هغه شیان یعنی که اقوال وی او که اعمال وی چی اسباب د رحمت او احسان وی. **وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ**» او هغه شیان غواړم چی ستا د مغفرت دگنهو قوی اسباب وی. **وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ**، یعنی خیر مناد اچی ماته غنیمت راکړی هر خیر او ساتنه ولره د هری گناه څخه، **لَا تَدَعْ لِي ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ**، ماته مه پریږده گناه مگر اوی بخښه، اوهم یو غم مه پریږده مگر هغه راایل کړی. **وَلَا حَاجَةً لَكَ فِيهَا رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ**، وروسته ترهغه دعاء دی بیا خپل حاجت د خدای څخه وغواړی که په دنیائی امورو کی وی او که د اُخروی امورو څخه وی. خدای پاک بی حاجت دسره کړی: دروئیش وائی: چی هر څوچی دسړی عقیده او اعتماد پر قول د علیه الصلوة والسلام ټینگ وی. هغونه ژر به ئی خدائ کامیابه کی. او په مراقی کی په یوه بله مختصره دعاء حاجت د پاره راوړی دی» اود دعاء رسول کریم صلی الله علیه وسلم ښودلی ده چه په ستر گو پوهیږو. او وعلیه السلام نه راغی او ورته وی وئیل چی یا رسول

الله صلی الله علیه وسلم ماته دعاء وکړه چی ما خدائ د پرونده والی څخه صحت راکړی. نو علیه الصلوة والسلام وهغه ته وفرمائیله که ستا خوښه وی دا دعاء وکړه وه. په دی کی به خدائ ستا ته لوی ثواب درکړی یعنی پر پرونده والی صبر وکه. او زما څخه دعاء مه غواړه. او که دی خوښه وی زه به دعا درته وکړم. هغه سړی ورته وویل چی ماته دعاء وکړه. نو علیه الصلوة والسلام هغه پرونده امر کی چی وضو اودس تازه کړه او بنه اودس وکړه. او دوه رکعته لمونځ وکړه او بیا دغه دعاء وکړه. **اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ** صلی الله علیه وسلم: **يَا مُحَمَّدُ إِنِّي تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّكَ فِي حَاجَتِي هٰذِهِ لِتُقْضَى لِي اَللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ**»

پوه سه: چی امام طبرانی د دی حدیث د یوی طریقی ذکر کړی دی. او په اخیر کی وئیلی دی چی دا حدیث صحیح دی **سوال:** بعض علماء وائی چی داسی وسیل مکروه دی. **اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنْبِيَائِكَ**» یعنی یا الله زه ستا څخه خواست کوم په وسی ستا د نبیانو **جواب:** ابن امیر حاج وائی چی په دی کی هیڅ حرج نشته. ولی چی عمر رضی الله عنه د عباس رضی الله عنه څخه شفیع وگرځاوه په استسقاء کی. او دغه د له علماء چی اوس هم په جامعه کی د اسلام منو دی چی داسی دُعاء کول خو نهایت مکروه ده. چی **اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِحَقِّ مُحَمَّدٍ** صلی الله علیه وسلم او بحق الانبیاء علیهم السلام او بحق الصلحاء والشهداء الی غیر ذالک. د دوی دلیل دکراهت دا وائی چی بنده لره پر خدائ حق نشته» **جواب** هو انبیاء علیهم السلام او نورو مخلصانو بندگانو لره خو پر خدائ په استحقاق ذاتی حق نشته» لکن خدای جل سلطانه خپلو نیکانو مخلصانو، بندگانو ته حق ورکړی دی پر خپل څان فضلاً وکرماً ولا معاشبة فیه» **قال المصنف:**

وَنُدِبَ إِحْيَاءُ لَيَالِي الْعَشْرِ الْأَخِيرِ مِنْ رَمَضَانَ او مستحب ده پوهیدل د لسو اخیرو شپُودو میاشتی د روژی یعنی په عبادت سره» که لمونځونه کوی، که تلاوت د قرآن کریم کوی، که تسبیح او تهلیل او تکبیر وائی. الی غیر ذالک من انواع العبادات»

یوه سئله: چې دا احیاء د پارې د طلب د لیلة القدر ده چې هغه شپه په دغو لسو شپو کې یوه شپه غیر معلومه ده، او په نصوصو قرآن عبادت د هغې یوې شپې خیرې د تر عبادت د نورو میاشتو چې د لیلة القدر څخه خالي وي. د سید تنا عائشه رضی الله تعالیٰ څخه روایت دی چې نبي علیه الصلوٰة والسلام چې د غه لس شپې اخیرې به د روژې داخلولې وې اَحْیَا اللَّیْلَ، شپه بې تیروله په ویښه تیروله، اوکور والا بې هم راویښول یعنې د عبادت د پاره، وَشَدَّ الْمِئْزَرَ، اونګ بې تینګ ترلې وو چې دا کنایه ده د اجتهاد فی العبادة څخه، کذا فی حواشی البخاري، په یوه روایت کې راغلې دی چې علیه الصلوٰة والسلام ذکر کړی یو سړی د بنی اسرائیلو څخه سلاح د جنګ په فی سبیل الله نه میاشتې وګرځوله نو مسلمانانو تعجب وکړی، یعنې ددې سړي ودې لوې عبادت ته نو خدای پاک سورة القدر نازل کړی. نو ددې معنا داده چې عبادت د لیلة القدر خیرې د تر نه میاشتې عبادت چې په هغوی کې هغه اسرائیلي سلاح اخستې وه فی سبیل الله،،

دروئیل وائي اګرچه په دې کې اختلاف ستة چې لیلة القدر په نورو اُمتو کې هم وه او که خاصه ددې امت ده، لکن امام نواوي په شرح کې د مسلم وائي چې مشهوره او صحیح داده چې لیلة القدر خاصه د امت محمدي صلی الله علیه وسلم او د غه نومورې امام دا هم وئیلې دي چې په اجماع د مجتهدینو د امت د لیلة القدر به تر اخیر الزمان پورې به موجود وي. للاحادیث المشهورة، او دا شپه حقیقةً معلومیږي وه. مَنْ شَاءَ اللهُ تَعَالیٰ، ته په هره میاشت کې د روژې کما تظاهرت علیه الاحادیث النبویة، **مسئله**: هغه سړي چې دا شپه صراحةً ووینې باید او مستحب ده چې پته یه وساتي. اقتداءً بالنبي علیه الصلوٰة والسلام

حکمت الٰهي

ددې شپې په پټ ساتلو کې حکمت د رب العزت دا دی چې مسلمانان په طلب کې ددې شپې د پوره شپې عبادت سره روڼ کړي. وهکذا الحکمة فی اخفاء اسم الله الاعظم، وفی اخفاء الخضر علیه السلام. وروی احمد: مَنْ قَامَ لَیْلَةَ الْقَدْرِ اِیْمَانًا وَاحْتِسَابًا، غفر له ما تقدم من ذنبه وما تأخر، وقال علیه الصلوٰة والسلام تحروا لیلة القدر فی

العشر الاواخر من رمضان

اختلاف

اکثر ائمه پردې دي چې د ټولې اوتاک تخصیص نسته، اوبعض علماء وائي چې په ټولو کې شپو کې ده. او د یو صالح یان پردې هم دي چې لیلة القدر د ۲۷ شپه ده وهو قول ابن عباس وهذا هو الشائع فی الناس الیوم. او د یو جماعت د صحابه وهم دي، بلکه بدر الدین عینی وائي چې دا مذهب د یارانو هم دي، ط،

اوپه مراقي کې وائي چې دا ابن مسعود مذهب دادی. چې لیلة القدر په کال کې یوه شپه ده، و قال الامام الاعظم فی المشهور، یعنې لیلة القدر په کال کې بدلیږي داسې چې یو کال په روژه کې وي او بل کال په بله میاشت کې وي. وهکذا قال قاضیخان.

لکن تحقیق دادی چې په مبسوط کې وائي چې د امام اعظم مذهب دادی چې لیلة القدر خو په روژه کې ده لکن ګاهې په یوه روژه کې د مخه شپه وي او په بله روژه کې بیا وروسته شپه وي، و هکذا قال فی المقدم والمؤخر، او د یارانو مذهب دادی چې لیلة القدر تقدم او تأخر نه لري په ټوله عمر کې او په روژه کې دوی هم بولي. او ددې اختلاف نتیجه په دې مسئله کې ښکاره کیږي چې مثلاً لس شپې د روژې تیرې سوې وي. چې یو سړي ومانیي ته ووایل چې ته پر ما په لیلة القدر کې طلاق یه، نو د یارانو پر مذهب چونکه لیلة القدر معینه شپه ده او تغیر او تبدیل نسته پکښې نو په دغه موجوده رمضان کې خو ادراک نه معلومیږي چې لیلة القدر په تیرو سوو لسو شپو کې وه او که په راتلونکو ۲۰ شلو شپو کې وي. نو پردې سړي هلته مانیه طلاق قیږي چې د بل کال د روژې لس شپې تیرې سې. تا چې بالیقین معلومه سې چې لیلة القدر خو خپله پیدا سوې ده. او د امام اعظم په نیز دا نه طلاق نه قیږي څوبل کال مکمل د روژې میاشت تیره سوې نه وي. په دې سبب چې لیلة القدر خو نقل کیږي. نو شاید په موجوده کال کې به لیلة القدر په هغو لسو شپو کې تیره سوې وي چې میړه په هغوی طلاق نه وو ورکړي، نو هر وخت چې بله روژه مکمله تیره سې نو هلته لیلة القدر په یقین سره پیدا سوه نو هغه طلاق چې معلق په لیلة القدر پورې وو هغه هم واقع شو

د عوامو خرافات

دوی وائي چې لیلة القدر یوګړی دي چې یو خواست په کښې قبلیږي فقط د اخبره د صریح قرآن څخه مخالف ده ولې چې لیلة شپې ته وائي

اوشپه د لمر لویدو څخه شروع کیږی تر سپیدو پوری او په قرآن شریف کې هم داسی راغلی دی چې حَتّٰی مَطْلَعِ الْفَجْرِ، حقیقت خو دا دی چې عوام طلب دلیلة القدر د نیادپاره کوی. لکن دا شپه په شریعت کې د عبادت دپاره ده یعنی چې ددی شپې عبادت تر نورو میاشتو عبادت خیر دی. البته د رخواست په هم په کښی قبلیږی» د ر» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِحْیَاءُ لَیْلَتَیِ الْعِیْدَیْنِ

اود غه رنګه مندوب ده سرونړول د دوو شپیو اختر و چې کښنی اولوی اختریه بولی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام که څوک سرونړه کړی شپه د اختر یعنی په عبادت سره ژوندی به کی خدای پاک زړه دده په هغه ورځ چې زړه ونه مړی.

پوه شه: چې مراتی په مندوبا تو کې نیت کړی دی. استغفار ویل په سدس اخیر کی د شپې لانه تعالی مدحهم بقوله: وَالْمُسْتَغْفِرِیْنَ بِالْاَسْحَارِ، اود ټولو استغفارو سید د غه استغفار دی: اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ. لَااِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُكَ وَاَنَا عَلٰی عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، اَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَیَّ وَاَبُوْءُ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرْلِیْ فَاِنَّهٗ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ. ترجمه: ای خدایه ته رب یې زما نسته بل مستحق د عبادت بیله تا. پید اکړی یم تا زه، اوزه بنده ستایم، اوزه ستا پر هغه عهد چې ما تا ته کړی دی یعنی عبادت قائم یم اوپر هغه وعده چې ماده تاسره کړیده چې زه به امتثال دامرکومه ثابت یم چې زما په طاقت پوری وی. اوزه اقرار کوم ستا په نعمت سره پر ما باندی نو ماته و بخښنه ټوله ګناهونه زما. ولې چې ګناهونه نشی بخښلای د تا څخه ماسوی هیڅوک». قَالَ الْمُرَاقِی.. وَالدُّعَاءُ فِیْهِمَا مُسْتَجَابٌ. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَیَالِیْ عَشْرِ ذِی الْحِجَّةِ

اود غه رنګه مُستحب دی سرونړول په عبادت سره د لسو شپیو مخ تر لوی اختر. قَالَ علیه الصلوٰة والسلام: مَا مِنْ اَیَّامٍ اَحَبَّ اِلَی اللّٰهِ تَعَالٰی اَنْ یُتَعَبَّدَ فِیْهَا مِنْ عَشْرِ ذِی الْحِجَّةِ یَعْدِلُ صِیَامُ کُلِّ یَوْمٍ بِصِیَامِ سَنَةٍ وَقِیَامُ کُلِّ لَیْلَةٍ مِنْهَا بِقِیَامِ لَیْلَةِ الْقَدْرِ.

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِکَاتِبِهٖ وَلِمَنْ سَعٰی فِیْهِ اٰمِیْن»

قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَیْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ

اود غه رنګه مندوب ده سرونړول د برات د میاشتی د نیمې شپې. ولې چې د دی شپې په احیاء سره دیوی هفتی ګناهونه بخښل کیږی. اود جمعی د شپې په احیاء سره دیوی هفتی ګناهونه بخښل کیږی. اود لیلة القدر په احیاء سره د ټولو عمر ګناهونه بخښل کیږی. اوبل په دی شپه د ټولو ارزاق او آجالو او عدد د حاجیانو اود عزت او ذلت اود غنا او فقر وغیرها. تقدیر په دغه شپه کیږی. **سوال:** تقدیر الهی خو ازلی دی نو څه معنا چې په دی شپه کی تقدیرات الهیه کیږی **جواب:** بیله شکه تقدیرات الهیه خو ازلی دی. لکن ملائکه ووته په دغه شپه تقدیرات دیوه کال معلومیږی. او ټولی ملکی ترسبل کاله پوری پرخپلو کارونو ګمارل کیږی. د رولیش وائی چې په فضیلت کی د احیاء د لیلة النصف من شعبان د پیر حدیثونه راغلی دی او تفصیلی بیان یې په روح البیان کی وګوره. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَیُکْرَهُ الْاِجْتِمَاعُ عَلٰی اِحْیَاءِ لَیْلَةٍ مِنْ هٰذِهِ اللَّیَالِیْ فِی الْمَسَاجِدِ

اومکروه ده اجتماع د خلګو پر احیاء دیوی شپې د غو شپیو یعنی یوسرای چې خلګ سره وټی کی هم اجتماع مکروه ده. لکه بعض امامان اویا بعض پیران چې کوی ولې دا اجتماع نه نبی علیه الصلوٰة والسلام کړیده او نه اصحابو کرام رضی الله عنهم کړیده. او اکثر علماء د حجاز چې یود هغو څخه عطاء دی. او ابن ابی ملیکة، او فقهاء د اهل مدینی او اصحاب د مالک ټولو دا اجتماعات بدعت بولی: اود نبی علیه الصلوٰة والسلام څخه اودده د اصحابو څخه نه دی نقل سوی لمونځ په جماعت سره په شپه کی د اختر، اوعلماء د اهل شام پر دوه قوله دی. اوزاعی چې امام اولوی فقیه د اهل شام دی هغه دا اجتماع په مساجدو کی مکروه بولی. او بعض معتبر علماء رد تابعینو څخه لکه خالد بن معدان او لقمان بن عامر وائی چې په احیاء کی د لیلة النصف من شعبان دی خلګ په مساجدو کی نفلی لمونځونه په جماعت کوی. والله اعلم بالصواب.

پوښتنه: که بعض کسان د دغو شپو لمونځونه پرځان نذر کړي په جماعت سره نو د کراهت لمځ په جماعت نه خلاصیږي. باید خلاص شي. ولې چې پسله نذر لمځ خو نفل خالص نه سوه پاته بلکه واجب سوله او جماعت خو په نفلو کښې مکروه دی، ؟

جواب، په دې حیله سره کراهت د جماعت نه دفع کیږي. ولې چې اعتبار د اصل ته د لمځ دی اصل خو په نفل دی. هُو، د دغه نذر لمځ بیله جماعت کولو خلاصیږي نه، لکن جماعت په دې شرط روا دی چې امام به نا نذر نه وي. ولې چې دیوه نا نذر په پسله نا نذر پسې اقتداء نه ده صحیح،

سوال: چې امام نا نذر نه وي نو مقتدي نا نذر اقتداء څرنګه پسې روا ده، ولې چې بنا ده قوي چې د مقتدي لمونځ چې په نذر سره واجب سو پر ضعیف باندې چې د امام لمونځ چې نذر کړې یې نه دی. بلکه صرف نفل دی خو نه ده روا کما في کتب الفقه،

جواب: اقتداء او بناء د قوي پر ضعیف باندې هلته ناروا ده چې قوت د قوي ذاتي وي لکه اقتداء ده مفترض په متنفل پسې. په ما نحن فیه کې خو قوت د صلوة المقتدي په سبب د نذر عارض دی. ورنه په اصل کې خو واړه نفل دي.

فائده: لمونځ په اصل الوضع کې مشروع دی پر صفت د انفراد نو اقتداء په لمانځه کې سره ده کراهتونه روا ده لکه نفل په جماعت پر طریقه د تداعي. والله اعلم وعلمه اتقن واحکم،



فصل في صلوة النفل جالسا والصلوة على الدابة

وزاد في المراقي وصلوة المابشي، فصل دی په بیان کې د نفلي لمانځه په ناستي اوبل په بیان د لمانځه پر دابه باندې. او په بیان د لمانځه په حال کې د تګ، په مراقي کې وائي چې مصنف تعبیر په نفلو کړی تا چه سنن مؤکده هم ترلاندې سي چې هغه هم په ناستي صحیح دي. قال المصنف:

ويجوز النفل قاعدا مع القدرة على القيام اوروادي نفل یعنی په شمول د سنن مؤکده وو- په ناستي سره د قدرت په پرولاړي باندې. او په کتابونو کې د فقهي شریفي پردي باندې اجماع د علماوو نقل کړه سویده، اوڅه بعض غیر معتمد و قولونه کښې سنة الفجر په مستثنی کړي دي، لما قیل بوجوهها وقوة تاکدها، او په بعض غیر صحیح روایتونو کې تراویح هم استثناء کړي دي یعنی هغه هم سره د قدرت پرولاړه په ناستي نه دی روا. والاصح جوازه قاعدا من غیر عذر، فالحاصل چې ټوله نوافل بلامثنویتر شئ منها روا دي په ناستي بیله عذره **سوال**: په خلاصه کې وائي چې سنت د سحار په اجماع سره بیله عذره په ناستي نه دی روا کما روی الحسن عن الامام فبین دعوی الاجماع عین تضاد، **جواب**، دعوی د اجماع د خلاصې غلطه ده، بلکه اجماع صرف پرتاکد هغوده کذا قال الطحطاوي ص٣٣٤

پوښته: چې په جواز کې د نفلو په ناستي سره د قدرت پرولاړي باندې هیڅ کراهت نشته، دلیل دادی، چې علیه الصلوة والسلام پسله وتر دوه رکعته نفل په ناستي کوله. او د غه رنګه په اکثر صلوة اللیل کې په ناستي لمونځ کاوه د پاره د تخفیف، او د عائشه رضي الله تعالى عنها څخه روایت دی چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم پسله هغه چې بدن مبارک یې دروند سو نو د تهجد لمونځ به ئې په ناستي کاوه. نوڅه وخت چې د رکوع اراده ئې وکړه نو به ولاړ سو بیا خوائیته ئې په ولاړي وو ئیله او بیا ئې رکوع وکړه. او سجده ئې وکړه. او په بل رکعت کې بیا قرائت په ناستي شروع کړي وهکذا الى اخر الصلوة،

مسئله: په معراج الدرایة کی وائی چې هر نفل چې سړی په ناستی کوی مستحب دا ده چې یوځوایته دی په ولاړی وکړی او بیا دی رکوع وکړی موافقةً للسنة» اوکه ولاړ سو لکن قرائت یې نه وویایه او بیا یې رکوع او سجده وکړه بیا هم کفایت دا ستیجاب کوی. اوکه سم ولاړ سو رکوع او سجده یې وکړه هغه کفایت نسی کولای. ولی داد ولاړی څخه رکوع نه دی. قال المصنف:

لَكِنْ لَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ لکن د غه سړی لره چې سړه دقدرته لمونځ یعنی نفل په ناستی کوی نیمی ثواب د ولاړی دلمانځه دی مګر نه که په عذر سره وی. ولی چې معذور نه پوره ثواب ورکړه کیږی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام: مَن صلی قائمًا فهو افضل ومن صلی قاعدًا فله نصف اجر القائم ومن صلی نائمًا ای مضطجعًا فله نصف اجر القاعد

پوه سئه: چې د دې حدیث څخه صاحب الشرع یعنی علیه الصلوٰة والسلام مستثنی دی ولی چې د علیه الصلوٰة والسلام لمونځ یعنی نفل په ولاړی اوپه ناستی کی ثواب یودی لهذا من خصوصیاته صلی الله علیه وسلم وقد ورد فی الحدیث ذالک» **فائده** په دغه حدیث کی چې مَن صلی قائمًا روایت شاذه دی. ولی چې نفل سړه دقدرته پرولاړی مضطجعًا نه دی روا صرح فی البحر عن الشارق بذالک، اوپرد غه روایت یه حکم د شذوذ کړی کما نقل عنه الامام الطحطاوی، قال المصنف:

وَيَقْعُدُ كَالتَّشَهُّدِ فِي الْمُخْتَارِ اوسړی چې په ناستی لمونځ کوی نو داسی دی کښینی لکه په التحیات کی دنورو لمونځونو په مختار روایت کې. **پوه سئه**: چې په دی عبارت کی اشاره وده چې مصلی جالسًا دی لاس راسته پر چپه لاس نه اینږدی لاندی تر نامه لکن عمل برخلاف ددی دی په تولو نړی والو کی. یعنی د غه مصلی قاعدًا د قرائت په وخت کی به لاسونه تر نامه لاندی راسته پرچپه اینږدی. اوحق همدا غه ده تاچی دوخت د قرائت اود التحیات په کیفیت کی دناستی فرق راسی. په دغه سره تصریح کړه سویده په کتاب

سیاسته الدنیا والدین کی. اود فقهاءو په دی عبارت کی چې، قعوده مصلی قاعدًا لکه قیامه ده. هم ودغه طریقی ته اشاره ده» **فائده**: د حضرت الامام الاعظم څخه په ناسته کی د مصلی قاعدًا دری روایتونه دی. یوه روایت دادی لکه مصنف چې اشاره ورته کړیده بقوله کالتشهد آه د دی معنا داده چې که عذر نه وی نو چپه پښه دی پری باسی او پرهغه دی کښینی اوښی راسته پښه دی جګه ودروی. مصنف دا مختاره ګڼلی ده. او په مراقی کی وائی وعلیه الفتوی. اودی روایت ته امام زفر تللی دی وهو المعمول فی دیارنا، لکن شیخ الاسلام وائی چې افضله داده چې د ولاړی په زمانه کی دا مصلی قاعدًا پرکنه کښینی ډنګونه او پندی دی جګی وکنسی اود واړه لاسه دی پس پندیو تاوکړی چې دی ته په عربی کی احتباء وائی. شیخ الاسلام نقلی دلیل داوایی چې د علیه الصلوٰة والسلام عموم ی نفلونحونه په احتباء سره وه. اوعقلی دلیل داوائی چې په احتباء کی ډیرانداموڼه دقبلی پرطرف کیږی مثلًا ساقان یه لکه د ولاړی دلمانځه ګرځی. اود اوهمو روایت دی د امام اعظم څخه وَبِهَا أَخَذَ ابو یوسف: اودریمو روایت د امام څخه دادی چې چارزانو دی کښینی وَبِهَا أَخَذَ محمد: قال فی النهر په دی کی شك نشته چې د غه مصلی قاعدًا ته ناسته پرهر دوله روادی. ولی چې د غه مصلی ته ترك دقیامی روادی لوترك د صفة القعود په طریق اولی ورته روادی. لکن خلاف په افضل کی دی یعنی کم کیفیت د قعود افضل دی.

مسئله: د مریض چې په ناستی د مرض دی جهلی لمونځ په هیڅ کیفیت مقید نه دی بلکه د هره دهر دوله ناستی اختیار دی قال المصنف:

وَجَازَ إِتْمَامُهُ قَاعِدًا بَعْدَ افْتِتَاحِهِ قَائِمًا بِلَا كَرَاهَةٍ عَلَى الْأَصَحِّ اوروادی پوه کول د نفلو په ناستی پیل دی چې شروع یې په ولاړی کړی وی بیله کراهته. پرصحیح مذهب. **پوه سئه**: چې ضمیر د اتمامه ونفلو راجع دی اومراد نفل دهغه سړی دی چې قادر پرولاړه هم وی. اود اهم مذهب دی د ابوحنیفه دلیل یه دادی چې قیام رکن په نفلی لمانځه کی نه ده فجاز ترکه اخیرًا کما جاز اوّلًا. اودیارانو

مذهب دادی چی داسی نده روا ولی چی دشروع په ولاړی وکړه نو ولاړه پرده لازمه سوه لکه نذر، **والجواب**: چی نذر خو پرسړی صلاة مطلقه کاملة لازمه سوه دتولسو ارکانو چی یوییه قیامدده، اوشروع په نفلو خو صرف پرسړی سانته دنفلو لازمه ښی. دافساد څخه. ولایوجب الشروع القیام، اوبل دلیل دامام اعظمؒ دادی چی بقاء دفعل آسانه ده تر ابتدا فاذا لم یکره ابتداءً جاز البقاء فالتحرُّ اولی» مر، وفی حدیث عائشة رضی الله عنها چی علیه الصلوٰة والسلام چی به نفل کول دولاړی څخه به ناستی ته نقل کیده اودناستی څخه به ولاړی تر دمرګ عنقریب، **فائدہ**: دحضرت الامام الاعظمؒ اووده شاګرد انو اختلاف په یوه شفعه کی دی چی اول یه په ولاړی وی او اخیریه په ناستی وی. اوکه یوسړی دنفلو وړکتونفلو نیت وکړی اوچی اول شفعه یه په ولاړی وکړه اود التحیات دپاره کښینستی اوبیا شفع ثانی په ناستی وکړه هغه اتفاقاً روادی» ولی چی دنفلو هره شفعه جلا لمونځ دی. قالَ

وَيَتَنَفَّلُ رَاكِبًا خَارِجَ الْمِصْرِ مُوْمِيًا اِلٰى اَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَتْ

دابتهٔ اووادهٔ سړی ته چی نفل کوی په هال کی د سپرتیا پردابه باندی. بلکه بعض علماء وائی چی نفل پردابه مندوب دی. ولی چی علیه الصلوٰة والسلام داعمل کړی دی لکن دباندی تر مصر،

پوه سه: چی دمصر څخه معنا مصطلح مراد نده یعنی ښار بلکه مراد څنډی آبادی ده ولو قریة» نوخارج القریه هم نفل روادی پردابه «که په نیت دسفر وتلی وی اوکه دیوکار د پاره وتلی وی. وعلیه الفتوی. وقیل چی یومیل به وتلی وی. وقیل چی دوه فرسخه وتلی وی، والا لا یجوز، اوامام ابویوسفؒ څخه روایت دی چی په مصر کی هم صلوة علی الدابة روادی» وعندما لکن شرط دصحت دصلوة الدابة دادی چی دی به حقیقةً مسافر وی. اولمونځ به په اشاره کوی، نوکه پرځمکه دابی اویا بل څنی باندی چی پردابه وو سجده وکړه عبث کار یه وکړی. نومکروه خو دی لکن لمونځ یه نه فاسدیږی. ولی چی په ضمن کی دد غی سجدی خوایماء هم پیدا سوه مع زیادة مګر هغه وخت په لمونځ فاسددی که هغه شی چی ده سجده پروکړه نجس وو. بن دمر،

وهرجهت ته چی متوجه وه دابه دده که څرهم دقبلی وخواته نه وی روانه» اوبعض فقهاء وائی چی داهلته روادی چی راکب قادر نه وی پردی ولو دابه په قدر دتحریمی مخ پرقبله والا فلا یجوز»

لکن په ظاهر الروایة کی داشرط نه غواړی. لکن په عمدة الاحکام کی وائی چی په نیزد امام اعظمؒ اوابی ثورؒ مستحب داده چی دابه دی په وخت کی دتحریمی مخامخ وقبله ته کړی: ثم یصلی کیف شاء، وبه قال احمدؒ والشافعیؒ ویشترط استقبال القبلة فی افتتاح الصلوٰة **پوه سه** چی مصنفؒ مؤمیاً په مفرد صیغه سره ووایه اشاره یه وی ته وکړه. چی په جماعت سره لمونځ پردابه نه دی روا. اوچا که جماعت کاوه دامام لمونځ خوصحیح دی اودنورو دافاسد دی. لکن داحکم هلته دی چی پرمختلفو دوابو سپاره وی اوکه یوه دابه دوه کسه سپاره وه اولمونځ یه په جماعت کاوه بیا روادی کما فی البحرؒ دظاهر الروایت دلیل دادی چی هغه حدیث دجابرؓ چی وائی: رَأَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم: یُصَلِّی النَّوَافِلَ عَلَی رَاحِلَتِهِ فِی کُلِّ وَجْهٍ یُوْمِی اِیْمَاءً لٰکِنْ یَخْفِضُ السَّجْدَتَیْنِ مِنَ الرَّکْعَتَیْنِ» رواه ابن حبان فی صحیحه» مر، ترجمه: حضرت جابرؓ وائی چی ما ولیدی علیه الصلوٰة والسلام چی نفلی لمونځونه یه کول پراونټ باندی پرهر طرف اواشاره به ئی کوله لکن دسجدی دپاره به ئی سر ټیټ رکوع کښته کاوه»

مسئله: که دابی دراکب و پښو بنو رولو ته حاجت دړلودی اویا وهلوتی. نوپه لمانځه کی پروا نه لری. لکن که فعل کثیر نه وو. مر قال المصنفؒ» **وَبَنَی بِنُزُوْلِهٖ** یعنی کی شروع دنفلو په سپرتیا کی وکړی په اشاره سره اوبیا دابی څخه راکښته سو، نو پرهغه لمانځه دی بناء وکړی یعنی هغه لمونځ چی وړ ته پاتی وو کښته دی په رکوع اوسجده پوره کړی. قالَ المصنفؒ: **لَا بِرُکُوْبِهٖ** اوبناء به نه کوی پر سپرتیا کی» معنا داچی که پرځمکه نفل په رکوع اوسجده سره شروع کړی اوبیا سپور سو پردابه باندی بناء پرهغه لمانځه دی نه کوی. **مسئله**: کی نزول په عمل قلیل سره وو یعنی چی صرف په پښه راوارهٔ ول راکښته سو، نوخو بناء روادهٔ اوکه په عمل کثیر سره وو بیا بناء نه ده روا، مر، فرق دنزول اورکوب دادی چی راکب چی درکوب په وخت کی احرام دلمانځه

وتاړو دهغه دپاره ایماء ړخصت ده اوعزیمت یه ړکوع اوسجده پرتنزول سره،
اوچې مصلی احرام دلمانځه پرمحکه وتاړه دا احرام یه مستلزم دی تولوشرطولره. نوچې بیادی
سپورسی نواستقبال القبلة فوت شو اویو والی دځای دلمانځه هم فوت شو. ولې چې دابه خو
روانه وه. اوطهارة المکان هم فوت شو اوحقیقة ړکوع اوسجده هم پاته سوه. نودی کبله
بناء نه ده ړوا. وهو ظاهر الروایة» هذا محصل ما فی العنایة علی الهدایة»

سوال: یوسړی چې مریض وی درکوع اوسجودی توان نه لري اولمونځ په اشاره کوی
لکن نا ببره یه لمانځه کې جوړشو اوپه ړکوع اوسجده قادرسو نوپه مقتضی دمسئلی دنزول
باید دغه مریض ته بناء دلمانځه په ړکوع اوسجده سره ړوا اسی. لکن فقهاء وائی چې بناء د
مریض نه ده ړوا» **جواب**: درا کب احرام خو ړکوع اوسجدی ته شامل وو. ولې چې
نزول دده په طاقت پورې دی. بخلاف احرام المریض ولې هغه رکوع اوسجدې ته شامل نه
دی ولې چې ړکوع اوسجده خو په اختیار کې دمریض نه دې لکه نزول د ړاکب»

سوال: دنزول په صعوبت کې خو بناء دقوی چې ړکوع اوسجده والا لمونځ دی پرضعیف
چې داشاری لمونځ دی لازمیږی. نوځرنګه بناء صحیح ده کما فی المریض اذا صح **جواب**
ایماء درا کب لکه ړکوع اوسجده ده په قوت کې اودده ایماء خلف درکوع اوسجدې نه دی.
نودی وجهی څخه ده ته روا ده ابتداء دلمانځه په ایماء سره مع قدرته
علیها بالنزول» که ایماء دده خلف وای درکوع اوسجدی څخه نوبا ید ده ته دا ایماء سره
دقدرته نه وای ړوا» اذ الخلف عند الفقهاء» ما لا یصار الیه الا عند تعذر الاصل کما لا یخفی
الذی هو خلف عن الوضوء بخلاف المریض» ولې چې دده ایماء درکوع اوسجدی څخه ده، نو
حکه چې مریض ته قدرت دسجدی اورکوع وی ابتداء دلمانځه په ایماء سره نه ده ورته
ړوا. فلا یصح الجمع بینهما وبین الاصل» یعنی چې لمونځ دی په حال کې دعجز په ایماء وکړی
اوعند الصحة دی باقی لمونځ په ړکوع اوسجده وکړی. وهذا هو السر فی عدم صحة البناء
فی المریض المومی اذا صح فی الصلوٰة» وصحة بناء النازل عن الدابة الصلوٰة بالرکوع والسجود
علی ما مر من صلوته بالایماء فی حالة الرکوب هکذا قالوا فافهم»

قال المصنف: **وَلَوْ كَانَ بِالنَّوَافِلِ الرَّاتِبَةِ** کرخه هم دانفل چې پردا به
حکمه وو څخه وی چې هغه ته سنن مؤکده وائی او یا سنن زوائد وائی. حتی چې سنة الفجر
هم په دی حکم کې دنورو سنتو سره شریک دی» قال المصنف:

وَعَنْ أَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ إِنَّهُ يَنْزِلُ لِسُنَّةِ
الْفَجْرِ لِأَنَّهَا آكَدُ مِنْ غَيْرِهَا

او حضرت الامام الاعظم څخه خدای تعالی دی پرده رحم وکړی داسی روایت ړاغلی دی چې راکب
الدابه دی دسنة الفجر پاره ډډ دابې څخه ړاکښته کیږي. ولې چې سنة الفجر
تر نورو سنن مؤکده وو دې ټینګ دی. **پوه سه**: چې دا روایت دامام
اعظم څخه یا خو مبنی پرښیان دافضل دی یعنی افضله دسنة الفجر پاره نزول دی.
تاچې په مابین کې دسنت مؤکد اوه اکد فرق ړاسی. کذا فی العنایه، او یا مبنی پرروایت
دوجوب دسنة الفجر دی. دامام اعظم څخه داسی ړوایت ړاغلی دی چې سنة الفجر واجب
دی نوحکم دې نزل پرهغه روایت بناء دی» وهذا مختار المصنف فی المراقی» قال المصنف

وَجَازَ لِلْمُتَنَوِّعِ الِاتِّكَاءُ عَلَى شَيْءٍ إِنْ تَعِبَ بِلَا كَرَاهَةٍ

اوروا ده نفل کوونکی ته تکیه پرشی لکه لکړ یا دیوال او یا خادم، کړی ستړی سوی لپاره عذر دی لکه چې مخکې ورته روا ده چې

وَإِنْ كَانَ بِغَيْرِ عُذْرٍ كُرِهَ فِي الْأَظْهَرِ لِإِسَاءَةِ الْأَدَبِ

ستړی سی بیله کراهه والی» اوکه چیری داتکیه بیله عذر ړوه نوداتکیه کول مکروه ده ولې چې دلمانځه سره بې ادبی
ده، لکن مکروه تنزیهی ده، ط، بخلاف القعود بغیر عذر، فانه لا کراهة لانتفاء سوء الادب کما یحکم
به العرف» در، مر،

وَلَا يَمْنَعُ صِحَّةَ الصَّلٰوةِ عَلَى الدَّابَّةِ

اونه منع کوی صحت دلمانځه پرډابه باندی -

قال الله نَجَاسَةٌ كَثِيرَةٌ عَلَيْهَا وَلَوْ كَانَتْ فِي السَّرْجِ وَالرِّكَابَيْنِ فِي الْأَصَحِّ پدې نجاست یعنې ترقدر معفو یا لاکړخ هم دا نجاست په ځمین کې وي اویا په رکیبو کې وي په اصح روایت کې، وهومذهب اکثرمشائخنا للضرورة. اوبل په دلیل دې چې مصلي علی الدابة مخه چې ساقط سوه ارکان اصلیه د لمانځه لکه رکوع اوسجده، او قیام نو شرط د طهارة المکان په طریق اولی ساقط دی. ط، قال المصنف:

وَلَا تَصِحُّ صَلٰوةُ الْمَاشِي بِالْإِجْمَاعِ اونه دی صحیح لمونځ د تګ کوونکي په اتفاق نهوبنږد امامانو که فرض وی اوکه واجب اوکه نفل وي. ولې چې اتحاد د مکان دیوه لمانځه شرط لازم دی اوپه صورت کې د تګ هغه مختلف کیږي، فَائِدَه که اوبازپه اوبوکې اوبازی کوي هم یه لمونځ نه دی صحیح لاختلاف المکان فیه ایضا اوبله خبره داده چې تګ یا اوبازی منافی د لمانځه سره دی والعبادة مع المنافی لاتصح،

١٥ جلده

تفسیر اویسی

تقریبًا ٢٠ جزه

چې د قرآن کریم ایویسي هغه لاهوتي تفسیر چې په افغانی تاریخ کې نظیر مفقود دی

چې کتابت تهیه ئې احقر فضل الحق حقانی کړیده

اوناشر یه

مکتبة القراءة والتجوید

کانسي روډ کوئټه بلوچستان

کتبه حقانی

فَصْلٌ فِي صَلٰوةِ الْفَرْضِ وَالْوَاجِبِ عَلَى الدَّابَّةِ

دا فصل دی په بیان کې د فرضی لمانځه او د واجب لمانځه پر دابه باندې.

قَالَ الْمُصَنِّفُ:

لَا تَصِحُّ عَلَى الدَّابَّةِ صَلٰوةُ الْفَرَائِضِ وَالْوَاجِبَاتِ كَالْوِتْرِ

نه دی صحیح پر دابه باندې فرضی لمونځونه او نه واجب لمونځونه لکه وتر او نذر کړې

وَالْمَنْذُورِ وَالْعِيدَيْنِ وَلَا مَا شُرِعَ فِيهِ نَفْلًا فَأَفْسَدَهُ

لمونځ او د اختر لمونځونه. او د هغه رنګ نه دی صحیح قضا راوړه د هغه لمانځه چې شروع په په نفلی طریقه کړې وي. اوبیایه فاسد کړې وي. فَائِدَه: کې څه هم اولاً په ناستی شروع کړې وی اوبیا یه فاسد کړې وي. او د جنازې لمونځ هم نه دی روا، مرقال

وَلَا سَجْدَةُ تِلَاوَةٍ تُلِيَتْ عَلَى الْأَرْضِ اوهغه نه دی روا پر دابه هغه سجدهٔ تلاوت چې

اتیونه یه پر ځمکه وَیل سوی وي. اوکې اتیونه هم پر دابه وَیل سوي وَه بیا سجده تلاوت پر دابه روا ده، دی، قال المصنف:

إِلَّا لِضَرُورَةٍ مګر د ضرورت د وجهې چې په هغه ضرورت سره په دې آیت کې تصریح سویده: وَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا أَوْ رُكْبَانًا، الآیه: دا آیت کې څه هم په فرائضو کې نازل سوی دی لکه واجب په حکم کې د فرضو دی، په خلاصه کې وائي چې فرضی لمونځونه پر دابه باندې روا دی، هغه داسې چې دابه دی ودره وي مخ پر قبله او تحریمه دی وکړي او لمونځ دی په اشاره وکړي. اوکې دابه نه سوای دره ولاړ نو دی لمونځ کوی هر جهت ته چې دابه روانه وی که څه هم شاید وقبلی ته وي. دروغ ویل وائي چې په نن زمانه کې موټرهم حکم د دابې لري نوکه روان وو لمونځ دی په اشاره په کښې کوی. کې په دروغو کې خوف وو:

قَالَ المصنف رح **لَخَوْفِ لُصٍّ عَلَى نَفْسِهِ أَوْ دَابَّتِهِ أَوْ ثِيَابِهِ لَوْ نَزَلَ**

لکه بیره دغله څخه یعنی قطاع الطریق پرځان باندی یعنی چې ما به مې کړي یا تپې او یا پردابه بیریدی چې هغه به راسه بوزی. او یا پرکالو او غټه باندی بیریدی په دی لولو کی دابیره یه دی سبب وی چې که نه ده دابی څخه کښته شم، په مراقی کی وائی چې اندیوالان هم نه ورته دریږه، لکن دابناء پرغالب ده، ولې چې اندیوالان ورته ولاړی نو غل به حمله ونه کړي لکن داهم عینی ممکنه ده چې سړه دولاړی ددوی دے هم غل حمله پروکړي، نوکه داسی بیره موجوده وه نو بیا هم لمونځ پردابه وکړي. **مسئله**: که دموټر سولې یا نودابیره وه چې که موټر ودرودپاره دلمانځه نوغله به حمله وکړي نوموټر دی نه درومې بلکه لمونځ دی په روان موټر کی په اشاره وکړی، «مر» قَالَ المُصنف رح:

وَخَوْفُ سَبُعٍ وَطِينُ المَكَانِ اودغه رنګه که بیره دحملی ددرنده، لیوه پرانګ وغیره وه. اویا باران سوی وو مثلاً اولاندی محکه تولې ختمې وې. چې مخ یه په کښتی دوبیدی او یا په ختو ککړ کیدی اوکی پتو مثلاً آولد کړي وای هم دغسی کیدی. اویوصرف لندوالی دمحکی دی هغه پردابه لمونځ نه روا کوی **مسئله**: که دسړي دابه نه وه لکن محکه پدې ختمې وه نولمونځ پرولاړی اوپه اشاره اداء کړی، «مر» قَالَ المُصنف رح:

وَجُمُوحِ الدَّابَّةِ وَعَدَمِ وِجْدَانِ مَنْ يُرَكِّبُهُ لِعُجْزِهِ

اویا راکب بیریدی که نه ده دابی څخه تاسم دابه به بیا سرکښتی وکړي اوزه به نه سم پرسپیدای اوبل داسی خوله هم نه وو چې دی پرسپور کړی، نودی هم لمونځ پردابه په اشاره وکړی. ولې چې دی عاجز دی دنزول څخه، اوکی لمونځ په اشاره وکړي اویا عذر نه ایل سو یعنی کومکی پیدا سوده لمانځه راګرځیده نسته پرده باندې **مسئله**: که سپور پر دابه مریض وو اودی بیریدی که نه کښته سم اولمونځ وکړاو بیا سپور سم نوبه می مرض

نه ویات سې. او یا به می جوړیده و ځنډیږی. نوروا ده وه ته لمونځ پردابه په اشاره ټو لکن دابه دی مستقبل القبله ودروی تر تمام دلمانځه. کی امکان وو اوکه نه وو بیا دې پرروانه دابه لمونځ په اشاره اداکړی، «مر، ط». **مسئله**: که سپور دابی چې راکښته سوی وای ده بیرته سپریدو کومکی یه درلودی. په دی کی دامام اعظم اودده شاګردانو اختلاف دی. اودامسئله مشهوره په قادر بقدرة الغیر ده، په دی مسئله کی حضرت الامام الاعظم مذهب دادی چې قادر دلیل چاپه قدرت سره فی الحقیقه عاجز دی. اویاران وائی چې په قدرت سره دغیر دی دعجز څخه ووزې. اواحکام دقادر پرجاری کیږی، درویش وائی چې کافی کتابو دمذهب قول ته دیارانو ترجیح ورکړیده. لکه پنځه چې قدرت نه لري پرنزوله ده دابی څخه مګر نه په محرم سړه یا میره سره، قَالَ

وَالصَّلٰوةُ فِي المَحْمِلِ عَلَى الدَّابَّةِ كَالصَّلٰوةِ عَلَيْهَا

اولمونځ په کجاوه کی چې هغه کجاوه پردابه باروی لکه لمونځ دی پردابه باندی په هغه کی چې وراندی تیرسو. خواه دابه روانه وی اوکه ولاړه وی.

سَوَاءٌ كَانَتْ سَائِرَةً أَوْ وَاقِفَةً

وَلَوْ جُعِلَ تَحْتَ المَحْمِلِ خَشَبَةٌ حَتّٰى بَقِيَ قَرَارُهُ إِلَى

اوکی وګرځول لاندی تر کجاوی یولږ ګی یعنی یا مثل دلږګی لکه د اوسپنی پیپ چې پاتې سو

الأَرْضِ كَانَ بِمَنْزِلَةِ الأَرْضِ فَتَصِحُّ الفَرِيضَةُ فِيهِ قَائِمًا

اړام دمحمل تر محکی پورې نود غه کجاوه لکه محکه داسی ده نوفرضی لمونځ په ولاړی په کښتی روادی. حاصل ددی مسئلی دادی چې اول یه دابه ودروله اوبیایه کجاوی ته لږګی یا مثل دهغه تنبه ورکړه چې کجاوه تر محکی پورې آرامه سوه یعنی نه ښوریده نودغه کجاوه حکمد محکی لری نولمونځ فرضی په ولاړی په کښتی روادی»

پُوه سَله، چې مصنفؒ داسې عبارت ووایه فتصح آه اوسره ددې چې پر عین محکه خوفرضي لمونځ بیله ولاړې روانه دي، نوباید چې په دغه کجاوه کې هم لمونځ فرضي په ولاړې لازم وای.

ددې سبب دادی چې علماء دنحوي اومعاني وائي چې تموله احکام دمشبه به په مشبه کې لازم نه دي بلکه شراکت صرف په وجه کې دشبهې غواړي. مثل زید کالاسد یعنی په شجاعت کې. دلته وجه دشبه په مابین کې دکجاوې او محکې صرف صحت دلمانځه دي په ولاړې نه لزوم دلمانځه په ولاړه ولې چې کجاوه امکان لري چې په جګوالۍ دي دومره نه وي چې سړي دي په ولاړې لمونځ په کښوه وکړي» محکه امام طحطاویؒ په دې حاشیه کې داسې وائي: وَاِنْ لَمْ یمکنه القیام ولا النزول صلّی قاعدًا، کماهومفاد کلامهم اوهغه خبره چې سید شارح کړیده چې مصنفؒ عبارت مطلق وویایه یعنې چې لمونځ په ولاړې صحیح دي لکن محمول پرهغه دي چې قیامه په کښې ممکنه وي. خو نوې خبره نه ده بلکه دکلامه څخه دمصنفؒ داغه خبره منفهومه ده، ولې چې صحت دلمانځه په ولاړې په کجاوه کې خومبنې پردې دي چې قیامه یې ممکنه وي.

دطلاق اود نکاح د شکلونو مسئلو دپاره بې مثاله ذخیره

وقدوري پښتو

«جلد دوم»

تصنیف حضرت علامه الحاج مولانا عبیدالله الایوبي الحنفي القندهاري

الناشر:

د افغانستان نړۍ کونکو دپاره یوه ځانګړې

تجوید حقاني

په پښتو ژبه د افغانستان لمړنۍ مدارسو دپاره د اولې درجې بیاتر جمال القران پورې

مکتبة القرأت والتجوید

کانسي روډ شالدره کوئټه

فَصْلٌ فِي الصَّلٰوةِ فِي السَّفِينَةِ

دا فصل دې په بیان کې دلمانځه په کښتۍ کې. قال المصنفؒ

صَلٰوةُ الْفَرْضِ فِيهَا وَهِيَ جَارِيَةٌ قَاعِدًا بِلَا عُذْرٍ صَحِيحَةٌ عِنْدَ اَبِي حَنِيفَةَ بِالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

یعنې فرض لمونځ په کښتۍ کې په داسې حال کې چې هغه روانه وي په ناستي بیله عذره . .

صحیح دي په نیز امام اعظمؒ په رکوع اوسجده سره. اویارانوائي نه دي صحیح، مګر دعذر سببه. اودا وَقَالَا لَا تَصِحُّ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ وَهُوَ الْاَظْهَرُ مذهب دیارانو اظهر دی» بیله عذره دادی چې دې دکښتۍ څخه وتلای شي. قال في المراقي چې غالب په ولاړه کې دکښتۍ سر څرخیده اوغالب لکه متحقق دي نوګویا عذر ستة لکن سره ددې مذهب دامام اعظمؒ خوصحت دلمانځه وو خوبیاهم که ولاړه ممکنه وه په ولاړې دې لمونځ وکړي تاچې دشبهې څخه دخلاف لمونځ ووزي اومصلي ته تسکین ذهن پیدا شي.

فَائِدَه: دمذهب دیارانوؒ دلیل دادی چې په حدیث شریف کې چې روایت یې ابن عمرؓ کړې دي داسې راغلي دي چې دعلیه الصلوٰة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه دلمانځه په کښتۍ کې ده مبارک ورته وویل چې ته لمونځ کوې په کښتۍ کې په ولاړې الوان تخاف الغرق، وقال مثله لمحبر بن ابي طالب»

اوبل دلیل یې دادی چې قیام خورکن دلمانځه ده، نوپه عذر محقق سره پاتیږي نه په عذر موهوم سره. **پُوه سَله**: چې مذهب دامام اعظم لره هم دلائل ستة، یوحدیث دابن سیرینؒ دی چې دې وائي چې موږ لمونځ وکړي سره دانسؓ په کښتۍ کې په ناستي، اوکه موږ غوښتای وکنارته یعنې وچه ته هم وتلای سوای. اومجاهدؒ وائي چې مونږ لمونځ وکړي سره دجنادهؓ رضي الله تعالیٰ عنه په کښتۍ کې په ناستي، اوکه زمونږ خوښه وای په ولاړې مونږ

کولای سوای یعنی سرخرخی نه وه، نو دی حدیثو جمعه : زاهدیؒ دا سی کړیده چی حدیث دابن عمرؓ او جعفرؓ چی یاړ انو دلیل د عدم صحت گرځولی وو محمول دی پرندب یعنی ولاړه مندوبه ده، او حدیث دانسؓ او د جنادهؓ محمول پر بیان د جواز دی، او بیا هم ترجیح د قول د امام اعظمؒ څندی ثابتیږی، ولی چی د دوو تابعینو ابن سیرینؒ او مجاهدؒ په مخالفت کړی دی.

پوه سه: چی کښتی حکم د دابی لری من وجه، ولی چی کښتی مرکب البحر دی، او دابه مرکب البر دی. نو ځکه په دواړو کی لزوم د قیام ساقط دی. او بیا هم کښتی من وجه حکم د محکی لری چی سړی په آرام په کښتی ناست وی. نو د دی سبب نه استقبال القبله او رکوع او سجده په لمانځه کی د کښتی لازمه ده. قال المصنفؒ:

وَالْعُذْرُ كَدَوَرَانِ الرَّأْسِ وَعَدَمُ الْقُدْرَةِ عَلَى الْخُرُوجِ وَلَا

او عذر لکه سرخرخی یعنی چی ولاړ سکی پرله خرخی، او یا عدم قدرت دی پر وتلو د کښتی څخه

يَجُوزُ فِيهَا بِالْإِيمَاءِ اتِّفَاقًا

او نه دی روا لمونځ په کښتی کی په اشاره سره په اتفاق ولی چی روا کولو کی دایماء نه حقیقة او نه حکماً ستره، لکه په مریض کی او حکماً لکه په دابه کی». مرطدرؒ قال

وَالْمَرْبُوطَةُ فِي لُجَّةِ الْبَحْرِ وَتُحَرِّكُهَا الرِّيحُ شَدِيدًا

او هغه کښتی چی د ړول سوی وی یعنی په لنګر، او ریږی په لویه حصه کی د دریاب او هغه یه باد سخت سوی وی

كَالسَّائِرَةِ وَإِلَّا فَكَالْوَاقِفَةِ عَلَى الْأَصَحِّ

هغه کښتی لکه روانه کښتی داسی ده. یعنی حکم یه د روانی کښتی دی لکه چی تیریږی او که باد چیره نه بلوړول نو هغه کښتی لکه ولاړه پر کنارهٔ د دریاب پراصح روایت باندی،

اللهم اغفر المؤلف ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين

قال المصنفؒ

وَإِنْ كَانَتْ مَرْبُوطَةً بِالشَّطِّ لَا تَجُوزُ صَلَاتُهُ قَاعِدًا بِالْإِجْمَاعِ

او که په کښتی د ولی وه پر کنارهٔ د دریاب په لنګر وغیره سره نو نه دی روا لمونځ دسړی په هغه کښتی کی په ناستی په اتفاق لکن پر صحیح روایت او بعض والی چی په دی کی هم اختلاف سته، منه. قال المصنفؒ:

فَإِنْ صَلَّى قَائِمًا وَكَانَ شَيْءٌ مِنَ السَّفِينَةِ عَلَى قَرَارِ الْأَرْضِ

او که چیری لمونځ وکړی په هغه کښتی کی چی پرشط البحر او یوه حصه د کښتی څخه پر قرار د محکی وه نو لمونځ

صَحَّتِ الصَّلٰوةُ وَإِلَّا فَلَا تَصِحُّ عَلَى الْمُخْتَارِ

یه صحیح دی یعنی لکه پرسر بانډی چی پر محکه پرته وی او کی قرار نه در لودی یوه حصه د کښتی پر محکه باندی نو لمونځ یه په ولاړی نه دی صحیح، ولی چی د هغه کښتی په د هغه صورت کی دابه ده» یعنی لکه د دابی څخه چی ولاړوی تاکیدای سی دی کښتی څخه خوهم وتای سی نو پر محکه لمونځ کول ممکن دی مگر هغه وخت بیا یه ولاړه کښتی کی په ولاړی لمونځ روا دی کله ممکن نه وو وتل د دی څخه وسړی ته» مصنفؒ مختاره روایه» ولی په دی کی اختلاف سته، مصنفؒ هغه روایت نقل کړی دی چی محیط او بدائع کی دی، لکن ظاهر کلام د بدایه او نهایه او اختیارؒ دا دی چی لمونځ په ولاړی په هغه کښتی کی چی مربوط ته وی پر کنارهٔ د دریاب روا دی مطلقاً خواه پر محکه قرار لری او که نه. او د ته خروج ممکن وی او که نه» ط. قال المصنفؒ

وَيَتَوَجَّهُ الْمُصَلِّي فِيهَا لِلْقِبْلَةِ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلٰوةِ

او مخامخ دی د ریږی د لمونځ کوونکی په کښتی کی یعنی چی روانه وی د قبلی ته په شروع کی د دلا نځه، ولی چی استقبال القبله فرض دی او راکب قدرت هم پر لری،

اللهم اغفر المؤلف ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين يارب العلمين

قال المصنف: وَكُلَّمَا اسْتَدَارَتْ عَنْهَا يَتَوَجَّهُ إِلَيْهَا فِي خِلَالِ الصَّلٰوةِ

او هر وخت چې کښتی د قبلې څخه وګرځيدله يعنی چپ سوه لمونځ کوونکی دی وړسره ګرځی وطرفه د قبلې

حَتّٰى يُتِمَّهَا مُسْتَقْبِلًا

په مابين کی د لمانځه حتی چې لمونځ پوره کوی مخامخ و

قبلې ته، په مراقی کی وائی که سړی عاجز وسود استقبال

القبلة څخه يعنی ديو عذر په سبب چې اميد د زوال د هغه عذر وو، نو دی دې لمونځ بند کړی

تر زوال د عذر پوری، او مراقی نه ياته کړيده که مُصلی د کښتی استقبال القبلة پريښو يعنی با

ابتداء او يا په خلال کی د لمانځه لمونځ په دی روا ده په اتفاق د ائمه ثلاثه رح.

فَائِدَه: طياره که پر ځمکه ولاړه وه او ځای د ولاړې د لمانځه په کښی وو نو په

هغه طياره کی لمونځ په ولاړې په رکوع او سجده وکړي. او که چيرې د ولاړې د لمانځه نه وو پکښی

نو که چيرې تاکيدای سوای يعنی حَينه د تاکيد موجوده وه او محافظينو د ميدان هوائی د ته

اجازه د کښته کيدو ورکوله. خو تا دی سره او لمونځ دی پر ځمکه وکړي، او که ځای د ولاړې

د لمانځه په طياره کی نه وو، او اجازه د کښته کيدو هم محافظينو نه ورکوله نو لمونځ په

داخل کی د طيارې په اشاره وکړي، داخو حکم د ولاړې وو او که طياره روان وه نو حکم يې د دا ؤ

دی که ځای د ولاړې د لمانځه په کښی وی او که نه لمونځ په اشاره کوی. هذا ما حصل لی من

عبارات الفقهاء رح.

فَائِدَه: تولو احکامو چې ذکر سوه په بار ه کی د کښتيو هغه د هغو کښتيو وه چې په

بحر او زمانه کی به آب باران نو چلوونکی او لنګر ونه او پنډی پنډی رسی به وړسره وی د پاره د

درېدو او يا کښيدو، او يا په اوسنۍ زمانه کی هغه کشتی کښتی چې قايق يې بولی

او په ذريعه د مشينانو په درياب کی چلېږی، او هر چې هغه لوئی کښتی دی چې په سلو سوو

انسانانو په کښی سپاره وی سره د دوی بستر اوسره د ډيرو مالو چې په اصطلاح يې آب

ګوټونه بولی، په هغو کی خوکه روانی وی او که ولاړې وی لمونځ په ولاړې په رکوع او سجده

سره په ښه آسانی په کښی کيږی، نو په دغسی کښتيو کی حتماً لمونځ په ولاړې کوی په اشاره

نه دی روا.

مګر هغه وخت بيا روا دی که هوا د درياب طوفانی سوه او غه لويه کښتی يې حرکت کی خپل

په اضطراب سوه او د ولاړې لمونځ دستو نځو سره مخامخ سو، هذا ما حصل لی من عبارات

الفقهاء رح. والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

تفسير الوبی

وقدوری

تجويد حقانی

جمال القرآن

فوائد مکيه

مقدمة الجزرية

الاحسان فی تجويد القرآن

نور الهدايه

فضائل اعمال پښتو

الناشر مکتبة القراءة والتجويد کانسی روډ کوئٹه

فَصْلٌ فِی التَّرَاوِیحِ

دافصل دی په بیان کی د لمانځه د تراویحو مراقی والی

چی تراویح جمع د ترویحة ده اوط والی چی د ژوبلې معنا یووار راحت ته وائی. او په شرعه شریفه کی د خلورو رکعتونو دی ولی وروسته ترخلورو رکعته چی خلک یوګړی کښینی څه ناڅه استراحت ورته پیدا سی، نو دا نسمیه مجازدی چی خلورو رکعته یه یه نامه د همسایه چی وروسته ناسته ده مسمی ګرځی او داهم امکان لری چی خودی د اخلورو رکعتو دی ولی» اَرِحْنَا یَا بِلَالُ الصَّلٰوةِ یَا بِلَالُ» یعنی اقامت وکړه چی لمونځ اداء کړو چی کوم د لمانځه راحت دی د ذکړه ترا نتظار دهغه، اویا په دی سبب یه ترویحه بولی چی په دې کی راحت د جنت سړی ته رسیږی.

پوښتنه: په هر لمانځه راحت نه جنت سړی رسیږی، نو باید هر لمونځ ترویحه وبلل سی

جواب علماء په دې خوله وائی چی په وجه کی تسمیه اطراد شرط اولازم نه دی» کذا فی المستصفی» در قال المصنف:

اَلتَّرَاوِیحُ سُنَّةٌ لِلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ

اوتراویح سنت دی د پاره د نرو اوښځو، اود روایت د حسن دی د امام اعظم څخه، کما فی الخلاصة» وهی سنة مؤکدة کما فی الاختیار» مر، اوپه روایت کی د اسد بن عمرو عن ابی یوسف دی وائی چی ما سئوال وکړی د ابو حنیفه څخه په باره کی د صلوٰة التراویح چی امیرالمؤمنین هغه په جماعت کښی سره مشروع کړی دی. نو حضرت الامام وویل چی تراویح سنت مؤکد دی. اوامیرالمؤمنین رض په هغوبا ندی باعثه کول په جماعت سره دعا ګان د خوانه دی کړی. اونه عمر رض په دی کار کی مبتدع وو.

بلکه د عمر رض په نیز اصل موجود وو. چی هغه د علیه الصلوٰة والسلام د خواوصیت وو ده ته په جماعت کولو کی د تراویح، او سنت یه په فعل د علیه السلام ثابت دی لکه عنقریب به راسی. اوپه دی قول د علیه الصلوٰة والسلام یه هم سنت والی ثابتیږی: عَلَیْکُمْ بِسُنَّتِی وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِینَ مِنْ بَعْدِی» اوهمیشه والی کړی دی پر تراویح عمر عثمان علی رضی الله تعالیٰ عنهم»

وقد ورد فی حدیث» افترض الله علیکم صیامه وسننت لکم قیامه» والمراد بالقیام التراویح»

اورو افض والی چی تراویح سنت دی نرو لره نه بښځو لره» اوبعض بی دانش علماء والی چی تراویح سنت عمر دی. بلکه صحیح داده چی سنت نبوی دی، مر، در،

تبصره سره د دی چی ټوله کتابونه د فقهی شریفی تراویح سنت عین بولی دنرو او بښځو، لکن واعظان اوامامان د مساجدو په باره کی سنت والی د تراویح بښځو لره د کم تهنګ او سخت بیان کوی په دی باره کی. اوه دی سبب په اکثرو کورو کی بښځی تراویح نه کوی منګر یوسپین سری په کوی کی اود سرسایه په باره کی نرو ښځی لوی اوکشنی گرده په تفصیل یا دوی. وفی البرهان» اجمعت الامة علی مشروعیة التراویح وجوازها ولم ینکرها احد من اهل القبلة الا الروافض» قاله علامه نوح»

د رښتیا والی: چی د تراویح د لمانځه شروع د دی ځایه څخه سویده چی په حدیث نبوی صلی الله علیه وسلم کی په روایت د بخاری او مسلم د عائشه رضی الله تعالیٰ عنها څخه داسی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه یعنی پر روژه کی په مسجد کی د تهجد لمونځ کاوه نو په مسجد نبوی کی بعض صحابه څخه چی حاضروه هغوی په علیه الصلوٰة والسلام پسی اقتداء وکړه او د دوه مه شپی لمونځ په جماعت وکړی. او دوهمه شپه یه هم لمونځ د تهجد په جماعت وکړی او صحابه تراولی شپی دیروه» ولی هغه د برائی شپی څخه

سوال: مصنف تراویح سنت بولی او قدوری والی چی مستحب دی. فکیف التوفیق بینهما

جواب د قدوری عبارت داسی دی: ویستحب ان یجتمع الناس له. نو د دی عبارت حاصل دادی چی اجتماع د خلګو پر تراویحو مستحب ده وهو کذلک، او پدی دلالت نه کوی چی خو دی تراویح مستحب دی والی هذا ذهب بعض الفقهاء یعنی چی تراویح سنت دی او جماعت یه مستحب دی.

د رولیش والی: چی د تراویح د لمانځه شروع د دی ځایه څخه سویده چی په حدیث نبوی صلی الله علیه وسلم کی په روایت د بخاری او مسلم د عائشه رضی الله تعالیٰ عنها څخه داسی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه یعنی پر روژه کی په مسجد کی د تهجد لمونځ کاوه نو په مسجد نبوی کی د بعض صحابه څخه چی حاضروه هغوی په علیه الصلوٰة والسلام پسی اقتداء وکړه او د دوه مه شپی لمونځ په جماعت وکړی. او دوهمه شپه یه هم لمونځ د تهجد په جماعت وکړی او صحابه تراولی شپی دیروه» ولی هغه د برائی شپی څخه

نور خبر کړي وه. او په دریمه شپه خلک بیخي ډیر راغلي وه. قالتْ فلم یخرج الیهم رسول الله صلی الله علیه وسلم: نو دا وائي چې دریمه شپه نبي علیه السلام ورو نه وتی یعنی دهغه بوریا دحجرې څخه چې علیه الصلوٰة والسلام دا اعتکاف ډیاره په مسجد نبوي کې جوړه کړې وه، حتی چې دبعض خلکو ګمان داسو چې علیه الصلوٰة والسلام بیده دی نو بې بوریا په کښې شګو وپیښتله، او بعض خلکو به غاړې تاړه کولې، خو په هر صورت چې شپه تیره سوه نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې دسحار لمونځ وکړي نو خلکو ته یه وویلیله: چې ما ولیده ستاسی اجتماع او نور کار چې تاسی کاوه، لکن زه دې راوتو څخه وتاسی ته منع نه کړم مګر زه دی خبرې چې زه وبیریدم چې پرتاسی به دالمونځ فرض سې».

وایضا وَرَدَ فی بخاری ومسلم بروایة عائشة رضی الله تعالی عنها» چې علیه الصلوٰة والسلام په رمضان کې لږ په غیر کې د رمضان تریوولس رکعته بالا لمونځ نه دی کړی وتر په کښې کذا فی صحیحی ابن خزیمة وابن حبان

سوال: په حدیث کې چې روایت یه ابن ابی شیبه او طبرانی وبیهقی دابن عباس څخه داسی راغلی دي. چې علیه الصلوٰة والسلام شل رکعته نفل بیله وتر وه په رمضان کې کولو

جواب: محدثانو دا حدیث ضعیف ګڼلی دی بلکه شل رکعته په مواظبت د خلفاء راشدینو سوی دابوبکرة الصدیق څخه ثابت دی کذا قال الامام الطحطاوی» وفی البخاری ترهغه وخت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات کیدی کارد تهجد دلمانځه پرهغه دول وو، یعنی پرانفرادی طریقه پاته وو او په خلافت کې دابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه هم پرهغه دول پاته وو او په اول کې د خلافت د عمر څخه هم داغسې پاته وو خو چې عمر خلک سره جمعه کړه پرجماعت په دغه لمانځه کې په امامت دابی بن کعب فکان ذالک اول اجتماع الناس علی قاری واحد فی رمضان کذا فی فتح الباری» حاصل دادی چې صلوٰة التراویح په جماعت سره په حقیقت کې سنت دی نبي علیه الصلوٰة والسلام او د عمر سنت نه دی،

سوال: بعض فقهاء وائی که چا وویلیله چې تراویح سنت د عمر دی لکه رافض چې وائی هغه کافر دی نو دا حکم صحیح دی او که نه

جواب: په دیرو معتبرو کتابو کې راغلی دی چې تراویح سنت دی د عمر په دی معنی چې همیشه توب یه او شل رکعت والی یه سنت د عمر دی

او دا دی سره منافات نه لری چې اصل د تراویح سنت د علیه الصلوٰة والسلام دی نو حکم د کفر بې معنا دی، بلکه په حدیث کې دا بو نعیم من حدیث عروة الکندی داسی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام ووئیله «چې ترما وروسته به دیر شیان نوی پیدا سی فاحبها الی ان تلقنی مواما احدثه عمر» او امام طحطاوی والی چې بحر رائق د خلاصی څخه داسی نقل کړي دی چې دمشا ځو اختلاف وو په دی کې چې تراویح سنت دی او که مستحب دي، لکن دا اختلاف دفع سو په روایت د حسن دابو حنیفة څخه چې تراویح سنت دی کما فی المراقی، قال

وَصَلَاتُهَا بِالْجَمَاعَةِ سُنَّةٌ كِفَايَةٌ

اوکول د تراویحو په جماعت سره سنت کفائی دی. پوه سه، چې د تراویحو په جماعت سره کولو کې دری قوله دي، اول دا چې جماعت د تراویحو سُنت عین دی د نرو د پاره حتی که یوه سړي بیله عذره تراویح یوازی وکړي که څوک په مسجد کې وکړي ګناه کار دی، ولی چې مخالفت د سُنت یه وکړي،

مسئله: بناء پردی وخت د تراویح بعد العشاء دی که یو سړي دماخستن لمونځ وکړي او تراویح یې هم وکړي او وتر هم، ورو سته دا ورته معلومه سوه چې دماخستن لمونځ دی فاسد ادا کړي وو او تراویح او وتر دی صحیح کړي دي. نو حضرت الامام الاعظم مذهب دادی چې د ماخستن لمونځ دی راوګرځوی په سبب د فساد» او تراویح دی هم راوګرځوی. ولی تراویح به بې ځایه وکړي، نو هغه تراویح چې ده دې څخه وکړي هغه نفل خالص دی او وتر وه اګر څیده نه غواړي وَهُوَ الصَّحِیح ط»

پوه سته: چې په وخت کې د تراویح دری قوله دی: اول دادی» چې شپه توله وخت د تراویح دی که دهغه دماخستن تر لمانځه، او که ورو سته د هغه تر وتر وی او که ورو سته، او دې مذهب ته بعض احناف تللی دی چې یو د هغو څخه اسمٰعیل الزاهدی دی، په بحر رائق کې وائی چې د دی مذهب تصحیح چا نه ده وئیلی، او دوهم مذهب دادی چې وخت د تراویح د لمانځه په مابین کې د ماخستن د لمانځه او وتر دی، الثالث دریم مذهب ما اختاره المصنف فی نور الایضاح»

دی خلاف فائده په دی کی ښکاره کیږی که یوسړی تراویح د ښځه دماخستن ترلمانځه وکړی، نو پر اول قول دغه تراویح صحیح دی اوتراویح دې، اوپر دوهم اودریم قول داغه لمونځ نفل صرف دی دتراویح دسنتوځای نه نسی، اویا یوسړی تراویح پسله وتر ووکړی نوپر دوهم قول لمونځ تراویح نه دی، اوپر دریم قول تراویح دی. اوپر اول قول خوبه طریقه اولی تراویح دی کما لا یخفی اویادیوه سړی ښځه یوه ترو یحه تیره سی په سبب ده یوه عذر نو چی وخت دوترو راوړسیدئ، دده داخیال وی که زه داترو یحه اگرځوم وتر په جماعت سره اخځه تیریږی. نو پر اول قول دی وتر په جماعت وکړی اوترو یحه چی پاته سوی وه پسله وترو دی وکړی. اوپر دوهم اودریم قول دی ترو یحه فائته ترو ترو د ښځه وکړی که څوم وترې جماعته کیږی، کله ذالک ظاهر لمن تفکر فی المذاهب الثلاثة» وقال

وَيُسْتَحَبُّ تَاخِيرُ التَّرَاوِيحِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهِ وَلَا يُكْرَهُ

اومستحب دی څنډول دتراویح ترډیرې دشپې، اویا ترنیمې دشپې اوترنیمې شپې وأخوانی څنډول هم مکروه نه دی.

تَاخِيرُهَا إِلَى مَا بَعْدَهُ عَلَى الصَّحِيحِ

پر صحیح روایت»

مسئله: که یوه شپه تراویح دسړی ښځه قضاء سوی صحیح مذهب دادی چی بیا یه قضاء نسته، اوکی څوك قضاء راوړی هغه نفل صرف دی» دریما» اوبعض فقهاء وائی وائی چی دروڼی دمیاشتی ترتیب دوپوری قضاء سته، اوبعض وائی چی د دوهمی شپی دتراویح ترو خت د ښځه یه قضاء سته،

اوپوه سه: چی مراد دمصنف د لا یکره ښځه دادی چی مکروه تحریمی نه دی ورنه خلاف الاولی خوبیقینًا دی، نودی سبب مصنف په مراقی کی وائی چی بنه کار دادی چی تراویح دی تراخیر اللیل پوری نه څنډوی چی خوف ددی سته چی یک لخته به فوت سی په سبب دخوب: قال المصنف:

وَهِيَ عِشْرُونَ رَكْعَةً بِعَشْرِ تَسْلِيمَاتٍ

اوداتراویح شل رکعته دی یعنی په اتفاق دصحابه کرامو په دوه

رکعت دی سلام اړوی. اوداد قدیمی زمانی څخه ترننی وړځی په میراث پاتی ده، **فائده** کی ستړی شل سره رکعته سره جوت کړه یعنی سلام یه په اخیر کی دشلو رکعتو واړاوه منګر په دوه رکعته یه ناسته کوله نوکفایت د ټولو تراویحو خوپه کیږی لکن په قصد داسی کول مکروه دی لکونه خلاف السنة» اوهغه خبره چی منیة المصلی کړیده چی په دی کی کراهت نسته ولی چی تکلیف یه لاپرده ئی، کمال غلطه بللی ده چی دیر مشقت په عبادت کی هلته سبب دمزید ثواب دی چی دشریعت پاکه سره برابری اوده سنت سره موافق وی،

اودوهم مذهب دادی» چی مستحب داده چی سړی دی تراویح په کور کی کوی، ولی چی د ریاء ښځه لیری دی منګرنه هغه څوك چی لوی فقیه اوعالم وی» چی په ده لپسی خلګ اقتداء کوی هغه دی په مسجد کی په جماعت کوی ډیاره دترغیب دخلګو ولی چی په صورت کی د نه حفظ وده تقلیل دجماعت رائی اوعوام خوبیه بیا کور هم نه کوی. اودریم مذهب دادی» چی کوله یه په جماعت سره سنت کفائی دئ، یعنی کی بعض کسان په جماعت وکړی. اوبعض یه په کور کی وکړی هغه نه دی ګناه ګاره، اروکه ټولو اهل مسجد جماعت لمونځ پریښو یعنی تراویح ټوله ګناه ګاره دی، هذا ماصل ما فی البحر الرائق»

تقریع په اوسنی زمانه کی په سبب ده سستی دمسلمانانو رواج داسی دی چی په اکثر مساجدو تراویح د» الم تر کیف» په سورتو سره کوی، اوبعض خلګ چی دختم القرآن سره ډیره علاقه لری هغه یوځو کوره اتفاق سره وکړی، اویا یوکور وی چی د لمانځه نفر یه ډیروی نوحافظ راولی په سر اچه کی دختم تراویح کوی، په دی کار هغوهیڅ خرج اوګناه نسته بلکه ښه کار دی، ولی چی په مسجد کی هغه دی جماعت کیږی، اوبعض علماوود عصر حاضر چی حکم د ګناه کار پرده غو خلګو کړی دی اوحواله یه وارد مختار» ته کړیده هغه پر خطاء دی او» درد مختار دعبارت معنا هغه ده چی ټوله اهل مسجد یه پریږدی یعنی جماعت په تراویح کی» بلکه دروڼیش وائی که په مسجد کی دختم القرآن تراویح کیدلی اویوسړی د خپلی کهالی په سبب تراویح یوازی کوی کولی هغه هم نه دی ګناه کار» اګرچه فضیلت د جماعت په تراویحو کی دی خصوصًا په ختم القرآن سره، فتامل ولا تلتفت الی الشهرة»

مسئله: یو امام دوه ځایه په تراویح کی امامت نسی ورکولای وعلیه الفتوی، ولهذا چی سنت په یوه وخت نسی مکروه کیدلای، اودوهم تراویح یه صرف نفل گرځی اودقوم اقتداء دسنت التراویح پسی کړیده، **مسئله**: داسی روایه کراهت خسته په کتبی چی یوسړی یوواړ په یوه امام پښی تراویح وکړی او بیا په بل امام پښی، ددی مثال دادی لکه یوسړی چی دمانښین یا ماخستن لمونځ یوائی وکړی اوبیا جماعت ودرین ی دی هم اقتداء پسی وکړی. **سوال**: په حدیث شریف کی راغلی دی: «لَا تُصَلُّوا بَعْدَ صَلٰوةٍ مثلها» **جواب**: دادوه لمونځونه خوسو مثل نه دی، ولهذا چی یومنفرد دی اوبل په جماعت دی، نو محمل د حدیث دادی چی یوسړی یواړ لمونځ په یومسجد کی په جماعت وکړی اوبیا په بل مسجد کی هم پرجماعت پښین سو، بیایه په جماعت کوی دامکروه ده، اویایو سړی یوائی لمونځ اداء کړی، او بیا هغه لمونځ یوګډی ورځسته بیا انفراداً کوی.

پوښتنه: چی تراویح په جماعت سره افضل دی ترډیرانو کولو، بعض فقهاءٌ وائی چی جماعت په تراویح کی داسی دی لکه جماعت په فرضی لمانځه کی یعنی ثواب یه په (۲۵) درجی بیا (۲۷) درجی ترډیرانو کولو بالا دی، اوبعض علماءٌ وائی چی جماعت دتراویح صرف افضل دی ترډیرانو نه په قید دعدده ۲۵ یا ۲۷، وهذا هُوَ الصَّوَابُ: اونفل چی پر وجه دتداعی نه وی هم په جماعت افضل دی ترډیرانو، **مسئله**: که سړی دتراویح لمونځ اویا فرضی لمونځ په کورکی په جماعت وکړی یوفضیلت خوپرځای سو چی جماعت دی اوبل فضیلت فوت سو، فان الاداء فی المسجد له فضیلة زائدة علی الجماعة فی البیت» قال المصنفؒ

وَوَقْتُهَا بَعْدَ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ وَيُصَحُّ تَقْدِيمُ الْوِتْرِ عَلَى التَّرَاوِيحِ

اووخت دتراویح پسله اداء کولودماخستن دلمانځه دی، قال فی المراقی علی الصحیح الملوح بالجواز» اوصحیح دی په نفل کول دوتروپرتراویح، اوورو سته کول ترتراویح، ولی خوتراویح

وَتَأْخِيرُهُ عَنْهَا نیم دماخستن دلمانځه دی دوتروطبع نه دی. لکن بیاهم تاخیردوترو افضل دی، وهوالمعمول فی جمیع بلاد المسلمین»

مسئله: که سړی څلورو رکعته تراویح په یوه سلام وکړی اوپه مابین کی نه کښینستی نو دغه څلورو رکعته پردوه رکعته حساب کیږی فی الصحیح، مرء

سوال: دفقه شرحی په کتابونوکی والی چی دمیانځ ناسته په څلورو رکعتونو کی دنفلو واجب ده اوپه سجده سهوه سره ئی جبیره کیږی نوپه مقتضی دډغی مسئلی باید څلورو رکعته حساب سی اوسجده سهوه پرلازم سی که چیرې دا کار سوی اوی **جواب**: تراویح که څهم اصلاً نفلی دی لکن پرنورو نفلونه قیاسیږی، ولی چی تراویح پرهیئت مخصوصه مشروع سوی دی چی پرهرو دوه رکعته به سلام گرځوی» قال المصنفؒ:

وَيُسْتَحَبُّ الْجُلُوسُ بَعْدَ كُلِّ اَرْبَعٍ بِقَدْرِهَا وَكَذَا بَيْنَ التَّرْوِيحَةِ الْخَامِسَةِ وَالْوِتْرِ

اوستحب ده ناسته پسله هرڅلورو رکعته په قدرد هغه څلورو رکعتو اودغه رنگه مستحب ده ناسته په مابین کی د پنځمی ترویحی اودوترو په قدرد څلورو رکعتو **مسئله**: پسله دوورو رکعتونو ناسته مکروه ده» ط» وفی الکافی: مکروه ده قعدهٔ استراحت پرپنځه سلام باندی په نیزد جمهورو وجه داستحباب مذکورداده چی توارث پردغه ډول باندی راغلی دی وهذا هوالمروی عن ابی حنیفةؒ **مسئله**: خلګ په جلسة الاستراحة کی اختیار لری که تسبیح وائی اوکه قرائت وائی اوکه یوازی یوازی نفل کوی اوکه ساکت کښینی،

فائده: په اکثرومساجدوکی امام تسبیح وائی اوخلګو غوږ ورته نیولی وی. په نیت ددی چی مونږ ته به په سبب دسماع دتسبیحاتو خدائ ثواب درکړی، ولی چی سامع کالتالی» لکن داغلطه خبره ده چی سامع کالتالی» سامع کالتالی خاصه قرآن مبارک ده، البته دمقتدیانو غږاړی نه دی بندی ولی چی ساکت خونا ست دی. اوکه یوقاری قرائت ووائی جهرًا او نورو غوږ ورته نیولی وی نوپولوته خدائ ثواب ورکوی.

دامامانو غفلت

پوښتنه: چی ملایان سره ددی چی دفقه شرحی په کتابونوکی دا مسئله وینی چی مستحب ده تاخیرد تراویحو تر ثلث اللیل پورې

خوبیادوی پہ روژہ کی د تراویحو تلوار د سببہ د ماختستن اذان پہ دیرو مسجدونو کی د
مخہ ترہ اخلید ودوخت د ماختستن کوی، او بیانو پہ دیر تلوار پہ تراویحو کی ھغہ لنډ
لنډ سورتونہ وائی چی سامع یہ د حروفو تمییز نشی کولای، خو میرہ ھغہ مُلادی چی د
ماختستن لمونځ اودوہ رکعتہ سُنت اوشل رکعتہ تراویح سرہ د جلساتو اوسرہ دہ دری
رکعت وتر اوسرہ د قرائت دہ تَبَارَكَ الَّذِی آہ پہ نیم ساعت کی سرہ ورسوی، اوچی پخوا لہ
د ماختستن لمونځ اوسنت اووتر کولہ ھغہ وخت دا ټول معاملہ سرہ خلاصہ کړی، اوپہ
جلسۃ الاستراحت کی صرف دری واړہ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ، آہ تسبیح وائی وَلبس. نوتہ فکر وکړہ
چی دغہ دری واړہ تسبیح بہ پہ قدر د څلورو رکعتونو وی اوکہ څرنگہ!

اود اختر پہ ورځ یہ نوی جدید کالی اغوستی وی او عطر یہ ھم لګولی وی اود سړی پہ باب
کی دیر اوږد بیان کوی تاچی د روژی د تراویحو محمول ورتہ ملاوسی. برین عقل و دانش بباید گریست
چی داحال د مُلایانو دی نود امیانو څخہ ګلہ دہ» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَسُنَّ خَتْمُ الْقُرْاٰنِ فِيهَا مَرَّةً فِي الْأَشْهَرِ عَلَى الصَّحِيحِ

اوسنت گنړل سوی دی ختم د قرآن مُبارک پہ تراویحو کی یو وار پہ میاشت کی د روژی پہ اشہر
روایت کی پہ صحیح مذہب د امام اعظمؒ، قَالَ فِی الْمَرَاقِی وَهُوَ قَوْلُ الْأَكْثَرِ» نو پہ ھر رکعت کی لس
لس ایتہ وائی. یا مثل د ھغہ پہ ایا تو طویلہ وو کی، **مسئلہ**: یو وار ختم د قرآن خوسنت
دی اودوہ واړہ فضیلت دی، اودری واړہ یعنی پہ ھرو لسو شپو کی یو وار سی افضل دی کذا
پُوہ سَہ: چی پہ صحیح تاریخ کی د امام اعظمؒ رحمۃ اللہ علیہ را اخلی دی چی دہ د
روژی پہ میاشت کی یو شپیتہ واړہ ختم د قرآن مبارک کاوہ. پہ ھره شپہ کی یو ختم چی
دیرشی، اوپہ ھره ورځ کی یو ختم چی د اھم دیرش سی او مجموع شپیتہ سی، وَفِی جَمِيعِ التَّرَاوِيحِ
یو ختم کاوہ چی یو شپیتہ سی، وَرُوِیَ عَنْہُ» چی دہ پہ دوہ رکعتہ کی پہ داخل کی د بیت اللہ
الشریف یو وار قرآن پاک ختم کړی، «واشتہر» چی امام اعظمؒ څلویښت کالہ د ماختستن پہ
او د اسہ د سحار لمونځ کړی دی، او د امام اعظمؒ د دښمنانو چی پہ سر کی خطیب بغدادی دی

او د نورو وھا بیانو د ندان شکن جوابونہ پہ تفصیل سرہ کړی دی او پہ شرح کی د قدوری
ھم تفصیلی بیان کړی دی، اوکہ ستاد امام اعظمؒ سرہ محبت سته او غواړی چی د دہ
مبارک تا رپخچہ پہ تفصیل سرہ او پرصحیح دول زدہ کړم، نو د درویش شرح پښتو پرفتاکی
باندی پہ غور مطالعہ کړہ او د خپل زړہ تشفی پہ وکړہ»

مسئلہ: کہ امام د مسجد دیوقوم ختم القرآن نہ کاوہ نو ھغہ تر واده چی بل مسجد تہ ولاړ سی
کذا فی فتح القدیر» **فائدہ**: فی فتح القدیر و التبیین کی داسی راغلی دی: کہ خلکو
قرآن مبارک پہ تراویحو کی تراخیر د روژی د مخہ ختم کړی بعض فقہاء وائی چی دغو خلکو تہ
مکروہ نہ دہ چی دپاتہ شپو تراویح پریږدی، ولی مقصود خو ختم القرآن و ھغہ خو وشو
او اکثر فقہاء وائی چی دپاتہ شپو تراویح بہ کوی او کم سورتونہ چی پہ کښی وائی دہ خوښ
دہ، درویش وائی چی پہ دی مذھب باید سړی فتوی ورکړی. ولی بعض خلګ پہ لس شپی
کی ختم القرآن کوی. نو پر اول مذھب شل شپی د روژی مبارکی میاشتی بہ بیله عبادت
د تراویحو پرده تیریږی، بلکہ بعض قاریان پہ دروشپو کی خلګو تہ ختم القرآن تراویح ورکړی
مسئلہ: کہ قاری ختم القرآن تراویح خلګوتہ ورکولی او یو سورت او یا یو ایت یې هیر
سو، او وروسته سورت یا ایت یې وَوَایَہ وروسته ورپیاد سوہ نو مستحب دادہ چی
ھغہ متروک سورت یا ایت دی بیرتہ وَوَائی او وروسته ھغہ وَیلی سُورَہ یا ایت دی
پس وَوَائی تاچی ترتیب د قرآن برابر سی. ط

فائدۃ جلیلۃ: تولہ رکعتونہ د تراویحو پہ میاشت کی د روژی کی میاشت
پوره وی شپږ سوہ رکعتہ دی. اوکہ میاشت کمہ وی نو بہ شل کم شپږ سوہ رکعتہ کیږی
نو تر لس ایت دی پہ ھر رکعت کی څرباله اوائی کہ څہ هم میاشت پوره وی، ولی د قرآن مبارک
ایتونہ تر مجموع ھغو ایتو چی دہ پہ کامل میاشت کی پہ ھر رکعت کی لس لس ایتہ وَیلی
دی پر ھغو بالادی شپږ سوہ شپیتہ ایت. **فائدۃ سنیۃ**: تولہ ایتونہ د قرآن
مبارک پہ نیز د حنیفیانو شپږ سوہ او شپږ شپیتہ ایت دی. ۶۶۶۶ پہ دی ایتو کی د
ایتہ د وعد الجنۃ دی، او د ایتہ د وَعید بالنار دی، او د ایتہ امرونہ دی، او د ایتہ

دنیی دی، اوزړ ایته دقصودی، اوزړ ایته اخبارات دی، او پنځه سوه ایته حلال احرام دی او سل ایته دعاء او تسبیح دی. او شپږ شپیته ناسخ او منسوخ دی، کذا قال الشعبی ناقلا عن الکشاف «قال المصنف»

وَلَوْ مَلَّ الْقَوْمُ قَرَءَ بِقَدْرِ مَا لَا يُؤَدِّي إِلَى تَنْفِيرِهِمْ فِي الْمُخْتَارِ

او که چیری سُتړی کیدل مقتدیان د اوبنده قرائت نخه او یا ختم قران نخه، نو امام دی هغومره قرائت وائی چی سبب د دوی د نفرت و نه گرځی. او یک لخته تراویح پرې نه دی، په مختار مذهب کی، یعنی د متأخرینو، په مراقی کی وائی چی افضله زمونږ په زمانو کی بلکه په ټولو زمانو کی دومره قرائت ویل پکار دی چی سبب د تنفیر د قوم او د تقلیل الجماعت و نه گرځی او په محیط کی وائی چی پیر والی د قوم افضل دی په جماعت کی ترتطویل د قرائت و برابر دی او اوږدی وائی چی په تراویح کی دی لکه د ماښام په لمانځه کی قصار مفصل سره تونه وائی پس الحمدلله نخه او مکروه دی تحریما کم تر دری ایته قصار او یا یوایت طویله لِترک الواجب.

فَائِدَه: هغه خبره چی ابی الفضل الکرمانی او وبرغی کړیده چی په اوس زمانه کی چی سړی تر الحمدلله او رسته یوایت یا دوه ایته وائی هیڅ کراهت نشته، او په پای کی وَئیلی دی: وَمَنْ لَمْ يَكُنْ عَالِمًا بِأَهْلِ زَمَانِهِ فَهُوَ جَاهِلٌ، انتهی» د دی روایت په باره کی امام طحطاوی وائی چی مراد دیوه ایت نخه یوایت طویله دی، او اتیانو نخه دوه ایته متوسط دی، ورنه پر ظاهر د اقوال پیر ضعیف دی چی په دی کی تفریط په ترک د واجب آه قال المصنف:

وَلَا يَتْرُكُ الصَّلٰوةَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

اونه دی پریږدی د درود پر علیه الصلوٰة والسلام په هرې تشهد کی د تراویح که څه هم قوم

فِي كُلِّ تَشَهُّدٍ مِنْهَا وَلَوْ مَلَّ الْقَوْمُ عَلَى الْمُخْتَارِ

خوابدی کیږی - پر مختار قول باندی،

ولی درود زمونږ په نیز سنت مؤکد دی. او په نیز د حضرت الامام الشافعی فرض دی فلا یصح الصلوٰة عنده بدونه، نو ترک یه مکروه تحریمی دی» قوله علی المختار ای علی المذهب المختار» ولې چی داعین کسل دی په عبادت کی، او په مراقی کی وائی چی ځنډ رهته چا یک ویل د قران دی هم نه کوی. چی وی ته ترک د الترتیل وائی لکه بعض ملاچتیک اخند چی کوی» قال الله تعالیٰ: وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا» او تعدیل الارکان دی هم نه پریږدی یعنی سمه رکوع او سمه ولاړه د رکوع نخه، او ناسته په مابین د دو و سجدو او سمه سجده، ولې دا کار د هغوا ما نودی چی د خدایه نخه بیریږی» په حدیث شریف کی راغلی دی چی بد غل هغه سړی دی چی د لمانځه غلا کوی» یعنی په ترک د تعدیل الارکان وغیره، او دا عن سُستی ده په عبادت کی د خدائ: قال الله تعالیٰ: وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوا كُسَالٰى، او ط وائی چی أَعُوذُ بِاللّٰهِ پخپل ځای کی او بِسْمِ اللّٰهِ په هر رکعت کی او جلسة الاستراحة دی هم نه پریږدی کی څه هم کراهت تنزیهی دی. قال المصنف:

وَلَا يَتْرُكُ الثَّنَاءَ وَتَسْبِيحَ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

اونه دی پریږدی پر ابتداء کی دهری شفع، اونه دی پریږدی تسبیحات د رکوع او سجدی: ولې چی د تسبیحات سنت مؤکد دی په مشهور روایت کی د امام اعظم نخه» او فرض دی په روایت کی د ابو مطیع بلخی چی د امام اعظم شاگرد دی. او بعض فقهاء وائی واجب دی، نو پریښول یې مکروه تحریمی دی **پوه سه:** چی د درود وئیلو په باب کی دومره قدر کفایت کوی: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ»، ولې چی داغه قدر په نیز د امام شافعی فرض دی، حتی که میا نخ په ناسته کی د فرضو لمانځه یا د سنن رواتب د غه قدر سهوًا ووائی سُجده پرې لازمیږی» د» او سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به امام هم وائی او مقتدی هم وائی او منفرد هم وائی.

دَنْ صَبَا شِكَايَتْ» امامان د تراویحو دومره چټک دی چی تکبیر تحریمه وائی دوی بیا په قرائت شروع وکړی نو وَاللّٰهُ اعلم چی دوی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وائی او که څونگه؟ چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی،

ے کہ چتیك یه د دنیا په کار چتیك سه: په خدائ کارو کی سعیه کړه زهیریه»

قال المصنف: **وَلَا يَأْتِي بِالدُّعَاءِ إِنْ مَلَّ الْقَوْمُ** اوړا تگ دعا نه کوی په ملال کی واقع کیدله، پوه سه چی مراد د دعاء مخه هغه دعاء ده چی وړه سته تر درود وسیله کیږی، لکن مراد دلته دعاء طویله ده صحیح به الطحطاوی، او اما مانودا فهمولی ده چی اللهم ربنا دی هم نه وائی بس فقط چی لنډ درود یه ووایه سلام دی گرځوی لکن دا فهم غلط دی» ولی چی مصنف یه مراقی کی وائی: وَلَا يترك بالمرة» او عادی نه پریږدی یک لخته بلکه یوه ترتهولو لنډه دعا مثلاً اللهم اغفرلنا چی ووائی هم سنت پرځای کیږی» د، ط، م، قال المصنف:

وَلَا تُقْضَى التَّرَاوِيحُ بِفَوَاتِهَا مُنْفَرِدًا وَلَا بِجَمَاعَةٍ

اوقضا نه راوړه کیږی تراویح چی قضاء سی نه یوائی اونه یه جماعت سره، اوکی څوك قضاء راوړی هغه نفل اومستحب دی تراویح نه دی، دعدم قضاء دلیل یه دا دی چی تراویح تینګ سنت نه دی تر سنتود ماښام یاماخستن اود هغوقضاء یه فوات کی نسته، نو تراویح قضاء یه طریق اولی نسته، ولی قضاء د فرائضو اوواجبا تو خاصه ده، **پوه سه** چی تراویح د سنتو څخه دوخت دی یعنی شپی د روڼی دمیاشتی، اود سنتو څخه د روڼی نیولو نه دی، قال علیه الصلوٰة والسلام: وسُنَّةً لكم قيام ليله، حتی چی مریض اوساړو چی روژه یه خوړلی وی یا حائض او نفساء، چی پاکسی شپی ته اویا کافر مسلمان سی د شپی تراویح به کوی. وفی القنیة» لَوْتَرَكُوا الجماعة فِي الْفَرْضِ لَيْسَ لَهُمْ ان يُصَلُّوا التراويح بجماعة لانها تبع له آه فافهم»

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولمن سعى فيه ولجميع امة النبي صلى الله عليه وسلم

كتبه بقلم احقر الورىٰ فضل الحق حقاني بكوټه بلوچستان، ۲۵-۷-۲۰۰۱ء

بَابُ الصَّلٰوةِ فِي الْكَعْبَةِ

بابدی په بیان کی د لمانځه په کعبه شریفه کی. یعنی په داخل کی د بیت الله شریف اوبامدی او سر بیره پر بام د بیت الله شریف

فَائِدَه: په دیروشرحو کی دفقه دکتابو داسی راغلی چی کتاب هغه مبحث ته وائی چی مشتمل پر دیرو بابونو وی. او باب هغه مبحث ته وائی چی په ده کی دیر فصلونه وی. او فصل هغه مسائل متعدده دی چی دیوی نوعی څخه وی د رولیش وائی چی دا تفصیل شاید پر غالب بناء وی. وَرته دافرق په «باب الصلوٰة فی الکعبة» باب صلوٰة المسافر وغیره سره منقوض دی» ولی چا دی بابونو کی هیڅ فصل نسته» نو صحیح فرق دادی چی هغه مباحثونه چی اجناس مختلفه په کتبی موجود وی. کتاب وائی لکه نور الایضاح چی کتاب دی

او که مباحث دهغه ده ماقبل اوما بعد څخه جلاوی هغه ته باب وائی. که فصول په کتبی وی او که لکه باب الصلوٰة فی الکعبة وغیره، اوهغه مباحث چی دیری مسئلی وی او متحدة النوع وی هغه ته فصل وائی، کما مر من الفصول فی هذا الکتاب» فافهم واحفظ فانه سانح جدیده

فَائِدَه: پوه سه چی دغه معروفی شریفی خونی ته کعبه وائی: بعض عُلماء یه وجه د تسمیه چار کنجه والی وائی. او بعض علماء وائی چه د تسمیه د دیرجګ والی دی. ومنه الکاعب لمن ارتفع ثدیها» اودغه خونه بیت الله هم بولی. او اضافت د پاره د تشریف دمضاف ده، او حقیقت دادی بیت عبادة الله» اوبیت الحرام یه هم بولی، د دی سببه چی قتل وقتال په دی کی حرام دی، او بیت عتیق یه هم بولی. یعنی قدیم خونه قال الله تعالی: إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ» الایة، اوقبله یه هم بولی ولی چی مُسلمانان د لمانځه په وخت کی دی ته مخامخ دریږی. **پوه سه** چی په لمانځه کی استقبال وقبلی ته شرط دی، نود استقبال القبله معناخه ده! په عنایه کی وائی چی شرط د لمانځه مخامخ والی دی ویو جزء ته د کعبی شریفی یاوهواء ته د هغی

مبارکی خونې تر آسمان پورې. او خو دې دا محدوده خونه فقط قبله نه ده، ولې چې صحابه
کرامو رضي الله عنهم چې د زمانه کې د مؤقت حکومت د عبد الله بن الزبیر رضي الله عنه چې دا خونه د رسول
د نوې بناء د پاره لمونځ په هواء ته د کعبې کاوه، او هیڅ چا دا نقل نه دی کړی چې د خولې
مبارکې پرځای یې پرده واچوله سوه. او بله خبره داده چې څوک چې پر جبل ابي قبیس
لمونځ کوي نو خو هیڅ جزء د کعبې نه ده ګڼلې فقط هواء د کعبې نه ده ګڼلې
ده او اجماعاً یې لمونځ روا دی. قال المصنف:

صَحَّ فَرْضٌ وَنَفْلٌ فِيهَا صحیح دی فرضي لمونځ او نفلي له دې ځایه پرته
کې د کعبې هره خواته چې مخ وي: لقوله
تعالیٰ فِي قِصَّةِ بِنَاءِ إِبْرَاهِيمَ وَابْنِهِ إِسْمَاعِيلَ عَلَيْهِمَا الصَّلٰوةُ الْبَيْتَ الشَّرِيفَ: أَنْ طَهِّرَا
بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ الآية، مراد د رکع السجود څخه لمونځ
کول دي، نو دې امر الهي څخه دا ظاهره سوه چې لمونځ په کعبې روا دی. قال

وَكَذَا فَوْقَهَا وَإِنْ لَمْ يَتَّخِذْ سُتْرَةً او همدارنګه لمونځ روا دی
کړي هم لمونځ کول نکي د مخ وخواته پرده نه وي اچولې، ولې چې په دې صورت کې که خونه
لاندې پاته سوه. هوا خو په تر آسمان پورې قبله ده نو استقبال القبله خونه پاتې ده،

قال المصنف **لَكِنَّهُ مَكْرُوهٌ لِإِسَاءَةِ الْأَدَبِ بِاسْتِعْلَائِهِ عَلَيْهَا**
لکن دغه کار مکروه دی په سبب د بې ادبۍ یعنې ظاهراً لان حقیقة سوء الادب بها کفر، ط
د کعبې سره په لوړوالی کې پرې باندې، په حدیث کې د بلال رضي الله عنه راغلی دی چې آنحضرت
صلی الله علیه وسلم په خونه د کعبې کې داخل سو. او لمونځ یې په کنبې وکړې، او د لمونځ
د علیه الصلوٰة والسلام کره هم نفل وه، لکن د نفلو او فرضو په شرط والی کې د استقبال
القبلة فرق نسته کې څه هم په ارکانو کې فرق سته،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه آمين

قال المصنف **وَمَنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ إِلَى غَيْرِ وَجْهِ إِمَامِهِ فِيهَا أَوْ فَوْقَهَا**
او که چا د ګرځول شاه خپله وما سوا ته د مخ د امام په دغه کې د کعبې شریفې او یا پر بام د هغې

صَحَّ وَإِنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ إِلَى وَجْهِ إِمَامِهِ لَا يَصِحُّ نو اقتداء
ده او کې شا او مخته د امام و اقتداء یې نه ده پسې روا،

پوه سه: چې مصنف په مرافي کې په شرح کې د دې قول: وَمَنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ له دا صورتونه
بیان کړي دي ۱ چې د مقتدي مخ وشانه د امام وي، ۲ د مقتدي مخ و بغل ته د امام
وي ۳ د مقتدي شا و بغل ته د امام وي، ۴ شاه د مقتدي و شانه د امام وي، ۵ بغل
د مقتدي و بغل ته د امام وي، ۶ بغل د مقتدي و بغل ته د امام وي په دا سې حال کې چې مقتدي
متوجه وي وغیره د جهت د امام، او دا قید د دې پاره دی که په جهت کې د امام وي خو
په طریق اولی یې اقتداء پسې صحیح ده، ۷ یا مخ د مقتدي و مخته د امام وو، په دې اوو
سره صورتو کې اقتداء په دغه امام پسې صحیح ده، مګر کې مخ و مخته د امام وو نو مکروه
تحریمي دی، ولې چې مشابهت د عبادة الصور سره لازمیږي،
او داهلته کراهت دی که په مابین کې د مقتدي او امام پرده وغیره سره نه وي، او که پرده وغیره
وه بیا کراهت نسته، ولې چې تشبه د عبادة الصور سره نه لازمیږي، او په هغه صورت
چې د مقتدي شا و مخته د امام وي اقتداء یې نه ده پسې صحیح، ولې چې په دې صورت
کې مقتدي تر امام د مخه والاړ دی، او په هغه اوو صورتو کې که څه هم مقتدي و دیوال ته
د کعبې شریفې تر امام نژدې والاړ وي لمونځ په دې سبب صحیح دی چې تقدم پر امام چې نا روا
دی هلته دی چې جهت به یووي، او په هغو صورتو کې خو جهت مختلف دی، قال المصنف

وَصَحَّ الِاقْتِدَاءُ لِمَنْ كَانَ خَارِجُهَا بِإِمَامٍ فِيهَا وَالْبَابُ مَفْتُوحٌ
او صحیح ده اقتداء د هغه چا چې د باندې تر خونې د کعبې والاړې په هغه امام پسې چې د خونې په خو

کې ولاړوی اودروازه دَخولې خلاصه وي، **پُوه سَه**: چې دا حکم عام دی که دامام سره یونځه کې نور مقتدیان ولاړوی اوکه نه! ولې چې دا داسې دی لکه په نورو مسجدونو کې چې امام یوازې په محراب کې ولاړوي. **فائده**: داخبره چې دروازه خلاصه وي اتفاقي ده، ولې که مقتدی خارج البیت تکبیر وینه وغیره دامام داخل البیت اوریدو سره اقتداء پسې صحیح ده که څوک دروازه تړلې وي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَإِنْ تَحَلَّقُوا حَوْلَهَا وَالْإِمَامُ خَارِجُهَا صَحَّ إِلَّا لِمَنْ كَانَ أَقْرَبُ إِلَيْهَا فِي جِهَةِ إِمَامِهِ

اوکه شاوخوا خلک پرکعبه شریفه راوګرځیدلې، اوامام هم دباندې ولاړوو دټولو اقتداء پسې روا ده مګر دهغه چا اقتداء نه ده ترامام په جهت کعبه امام، ولې هغه تن امام دمخه ولاړدی، اوپه نورو جهتونو کې که څوک هم بعض مقتدیان وه دیوال دکعبې شریفې نژدې وي ترامام لمونځ او اقتداء یې روا ده، ولې چې تقدم اوتأخر په نیزه اتحاد الجهت معلومیږي. **مسئله**: خلک چې پرکعبه شریفه راتاوسې ده هغه چا لمونځ نه دی صحیح چې یوجزء دکعبې دده پر مخ نه وي برابر که څوک هم پر جهت کعبې وي. ولې چې په اتفاق دټولو مذهبونو څوک چې لیدونکی دکعبې وي هغه لره شرط دصحت دلمانځه برابروالی دی پرعین دکعبې اوده جهت اصابت یې کافي نه دی. حاصل دادی چې په صورت مذکوره کې دمتن کې ډیوه چا مخ ودیوال ته وي اوبل مخ پرکنج دکعبې برابروي اوبل مخ وبل دیوال ته وي یا بل کنج ته وي وهکذا دټولو لمونځ روادی اواقتداء یې په امام پسې صحیح ده، الا لمن کان آه.

مسئله: چې امام په ډنډه کې دخونې دکعبې وي اونور څوک ته وي وړه ولاړلمونځ مکروه دی په دوه سببه یوخو امام پرلوړ ځای ولاړدی، ولې چې تخت دخونې دکعبې پرده باندې تحکه لوړدی، اوبل داچې امام یوازې ولاړدی نکه په نورو مساجدو کې چې امام په داخل کې دمحراب یوازې ولاړوی، کذا قال الامام الطحطاوي.

بَابُ صَلٰوةِ الْمُسَافِرِ

دا باب دی په بیان کې دلمانځه دمسافر، **پُوه سَه**: چې اضافت دصلاة ومسافر ته اضافت دفعل ده وفاعل ته اوپه بل عبارت اضافت دحال دی ومحل ته، اوهغه خبره چې مراقي نه بیانه کړې ده چې دا اضافت دشي وشرط ته، ط، وائي چې شرط خوسفردی مسافر څونه دی؟ دروښ وائي که مراد دمراقي مسافر من حیث هومسافر وی نواعتراض د ط نه پر وارد یږي، فافهم. **پُوه سَه**: چې سفر په لغت کې مطلق قطع دیوی مسافې ده، که ډیره وی اوکمه، اوپه شرع کې قطع دمسافت مقدره یعنې معلومه په مخصوص ډګ سره چې مصنف یې اوس بیانوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

أَقَلُّ مُدَّةِ سَفَرٍ تَتَغَيَّرُ بِهِ الْأَحْكَامُ کمه مده دسفر چې په هغه سره احکام دشرعي بدلیږي لکه قصر دلمانځه وجوباً زمونږ په نیز اویا جواز دخوږلو دروژې الی غیر ذالک. قال الامام الطحطاوي چې سفر دری قسمه دی: یوسفر دی دطاعت دپاره لکه سفر حج، دجهاد وغیر ذالک، اوبل سفر مباح دی لکه د تجارت دپاره اویا سفر دسیاحت دپاره وغیر ذالک، اوبل سفر دی دمعصیت دپاره لکه سفر قطاع الطریق، اویا سفر چا دژلودپاره وغیر ذالک، نودوه اول خوسبب درخصت دی په اتفاق دائمه اربعو، اودریم زمونږ حنیفیانو اوامام اوزاعي دی دده په نیز اود داؤد اوامام مزني په نیز هم، اودبعض مالکیانو په نیز هم سبب درخصت دی، اوامام شافعي او امام احمد، اوپنځله مالک وائي چې سفر معصیت سبب درخصت نه دی، دلائل دډولونو پلوپه نورالانوار اوپه فتاواووکې د فقهي شریفې وګوره.

فائده: مسافر دمقیم څخه په دغو احکامو کې جلادی علا: چې پرمسافر لازم دی قصر دلمانځه یعنې څلور رکعته فرضي لمونځ یې دوه رکعته کوی، علا ومسافر ته مباح دی خوږلو

د فرضی روژی ځ مدة د مسح د موزو د مسافر د پاره درې ورځې دي، ۴ اووفرضیت د صلوة الجمعه څنډی ساقط دی، ۵ اووجوب د اضحیه هم څنډی ساقط دی»

بسهانه فائده

پوه سه: چې رخصت ضد د عزیمت دی، عزیمت هغه فعل ته وائی چې مشروع ئیت په سبب د عذر نه وي، وهو معنی قولهم ما تقرر علی الامر الاول، لکه پنځه لمونځونه، روژه وغیره، اورخصت هغه کار ته وائی چې د سختی نخښو اسانی ته راانتقل سوی وي په سبب د یو عذر، اورخصت دوه قسمه دی یو رخصت حقیقی دی چې رخصت ترفیه یه هم بولی، ای تخفیف، هغه هغه رخصت دی چې عزیمت په هم مشروع وی او موجب ثواب هم وي لکن په سبب د بندګی د عجز او د عذر له کبله هغه سختی چې په عزیمت کی وه په یسر او ترفیه سره د شارع مهربان د خوا بدله سوی وي، لکه په ژبه کلمه د کفر وئیل د هغه چا چې بل سړی د قتل پیښ رو ورکړی وي، نو د غه سړی په سبب د د غه عذر اجراء د کلمه الکفر روا ده، په شرط د دی چې زړه یې مطمئن بالایمان وي،

او که دی په عزیمت عمل وکړی او هغه بل سړی مرکړی شهید دی. او یا لکه خوږک د روژی په سفر کی چې د ته د اسانی د پاره روژه خورک روا دی، او که مسافر په عزیمت عمل وکړی او مره د مشقت روژه و ونسی ثواب یې پیږدی» او بل رخصت مجازی دی یعنی چې مجازاً یه رخصت بولی، دا هغه رخصت ته وائی چې عزیمت یې بیخی مشروع نه وی او نه موجب د ثواب وي، لکه قصر د لمانځه د رباعی د پاره د مسافر نور رخصت یې په دی بولی چې دوه رکعته لمونځ نظر و مقیمت کم سو، لکن په حقیقت د غه دوه رکعته د مسافر د پاره عزیمت دی حتی چې مسافر اختیار نه لری چې لمونځ پوره وکړی بلکه عمل با الرخصت یې لازم دی حتی که دی پوره پوره لمونځ وکړی هیڅ ثواب پکښې نه سته، ولی چې ثواب په هغه کار کی دی چې بنده په امر سوی وي. نه په اعدادو کی د رکعتو او د مسافر دوه رکعته ټوله مسا امیر به دی، حتی چې د مقیم څلور رکعته او د مسافر دوه رکعته فرق نه سړی لری په ثواب کی،

او یا یو سړی ته بل پیښ رود مرګ ورکړی چې ته به شراب څښې، نو دی ته خواه مخواه شراب څښې، ولی چې شراب خو په ابتداء کی د اسلام روا وه نو که د غه سړی شراب نه وچښی او هغه بل سړی دی مرکړي، دی پنځلو ډلو ګناه کار دی، هکذا اصح الفقهاء للمذهب الحنیفی

پوه سه: چې رخصت ترفیه ګاهی په مابین کی د دوو کار وي. چې یو یه ټول آسانه وي. لکه د سړی چې موزی په پښو وي، نو ده ته اختیار دی که موزه نه کاږی او مسح پرکوی» چې دا آسانه دی، او که موزی کاږی او پښې پرې مینځی چې دا کار ګران دی. او دا غه رنګه پوه سه چې که مسافر څلور رکعته لمونځ وکړي ثواب خو یه نسته کمامتر بلکه ګناه کار دی په سبب د دی چې د لمانځه سلام یې وخندوه، او په دی عقیده هم ګناه کار دی چې دده په عقیده د دوه رکعته راانده فرض دي»

قال المصنف

مسیرة ثلثة ایام من اقصر ایام السنة

تګ دی د ورځو هغه لنډو د ورځو د کال چې ورځې دژمی دي. قال فی المراقی چې مصنف تقدیر یې په ورځو کړی، او تقدیر یې مراحلو او یا په فراسخو یې نه کړی وهو الاصح، او د حضرت الامام الاعظم څخه داسې روایت هم راغلی دی چې سفر مقدر دی په درو منزلو سره، صاحب هدایه وائی چې دا روایت قریب د اول ته دی، ولی چې عادت د مسافرو دا دی چې یوه مرحله په یوه ورځ قطع کوي، لکن صاحب البحر الرائق وائی چې نه تعجب کوم و هغه فقهاؤ ته د مذهب حنیفی چې دوی پرخلاف د نص صریح د صاحب المذهب څنګه فتوی ورکوی چې هغه تقدیر په درو منزلو وو، لکن په قوله د صاحب الهدایه دا تعجب د صاحب البحر دفع سوکاماټ. او بعض فقهاء د مذهب حنیفی مدت د سفر په پنځلس فرسخه سره اندازه کړیده. لکن د دلیش وائی چې اندازه د فرسخ چې دوولس نهه ګامه ده یا نزاع دی و عمومی مسافرو ته د یره ګرانه ده ولهذا لم یفتی به أحد ممن یعتد به» قال المصنف

بسیر وسط

په میانه تګ سره یعنی چې نه د یر چابک وی او نه د یر کرار وی. لکن پوه سه چې تګ د ورځی معتبر دی ولی چې شپه وخت د استراحت دی،

مسئله: که یوسړی خارق العادة چابك وی او دبل چا سیر وسط درو ونحو منزله دی په یوه ورځ قطع کړی قصر ورته روادی، ط او صاحب التبیین وائی چی دمیانه تګ اندازه په غلبة الظن سره معلومیږی یقین شرط نه دی لمافیه من الحرج الکلی» قال المصنف

مَعَ الْاِسْتِرَاحَاتِ سره د استراحت کولو، نومسافر دپاره دخورلك او لمونځو او قضائ حاجت دپاره کښته کیدای شی، **پوه سله**: چی اکثره حکم دکل دی نوکه مسافر اکثر حصه دلمنډی ورځی په مزله تیره کړی او بیا ورته واړه وی، اودوهه ورځ همدغسی وکړی اودریمه ورځ هم هغه مسافر دی قصر ورته روادی ط **فائده**: زوال اکثره وخت دنهار شرعی دی چی دسپیدو شخه شروع کیږی، تر لر لویدو پورې چی دغه وخت د نصف النهار دریاضی دی» قال المصنف:

وَالْوَسَطُ سَيْرُ الْاِبِلِ وَمَشْيُ الْاَقْدَامِ فِي الْبَرِّ وَفِي الْجِبَالِ

او میانه تګ دی تګ دی داوښ یعنی په قافله کی نه چابك مهاری اوښ

بِمُيَاسَبَةِ لکه د بعض خانانو، اوښل تګ دی د پښو په صحرا کی، اوپه غره کی چی سفر او تګ په کښی سخت دی اولوړی اوجوړی لری، په موافق دهغه غره معتبر دی، حاصل داچی په غره کی تګ داوښ یادپیاده سړی په تګ لږ مسافت قطع کیږی، تر اواری محکی نو دهغه دالږ والی اعتبار نه لری بلکه دی مسافر ګنړل کیږی، کی خو هم مسافت د تګ یه په غره کی تر مسافت داواری محکی لږ وی» قال المصنف:

وَفِي الْبَحْرِ اِعْتِدَالُ الرِّيحِ اوپه دریاب کی اعتدال د باد ته اعتبار دی، اود امذهب دی مفتی بهم کما فی المراقی» نوکه سړی په دریاب کی یعنی په کښتی کی اکثر دورځی سره داعتدال ده هوا منزل وکړی نودا لکه ټوله ورځ منزل معتبر دی کی خو هم مسافت تر اواری محکی کمه وی»

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه امین

قال المصنف

فَيَقْتَصِرُ الْفَرْضَ الرُّبَاعِي نومسافر دی قصر کوی د فرضی لمانځه چی څلور رکعت وی، **پوه سله**: چی مراد د فرض څخه فرض عملی دی، یعنی چی فرضیت یه په یقین سره ثابت وی، نوپه دی قید سره وتر خارج سوه. ولی وتر فرض عملی دی کما مر، اوپه قید سره دربا عی دمابنام لمونځ اود سحار لمونځ خارج سوه، ولی چی په هغو کی قصر نسته، اوپه قید د فرض سره سنن خارج سوه کی څه هم ربا عی وی. نوکه مسافر څلور رکعتی سنت کول قصر به نه کوی»

پوښتنه: آیا مسافر به سنن راتبه کوی اوکه نه؟ **جواب**: اعدل مذهب او مختار مذهب دادی که مسافر په حال کی دا ډله وی لکه جهاد کی وی، اوپه امن کی هم وی، نو سنن راتبه دی ادا کوی. اوکه په حال کی دتګ وی اویا د خوف وی سنن دی پریږدی، اوبعض فقهاء وائی چی مطلقًا کول د سنتو افضل دی، تقربًا الی الله تعالی، وقیل الافضل مطلقًا ترك د سنتو دی. د رخصت الهی په واسطه په فرضو کی، اوبعض علماء وائی چی سنت د مابنام اود سحار دی نه پریږدی»

زړه ولیش وائی چی د بعض په قول کی افراط دی د سنتو په باره کی، اوقیل په مذهب کی تفریط د سنتو په باب کی: وخیر الامور التوسط بین الافراط والتفریط وهو المذهب المختار المذکور اولًا» **فائده**: په حدیث صحیح کی چی روایت په عائشه رضی الله تعالی عنها کوی داسی راغلی دی، فرضت الصلوٰة رکعتین رکعتین فزیدت فی الحضر واقرت فی السفر» لمونځونه په اول کی دوه دوه رکعته وروسته په کور کی یعنی چی مسافر نه وی بالا بود ووسو یعنی دوو دوو رکعتو په مابښین اوماختن اومازدیگر کی» اود سفر لمونځونه د دغو درو لمونځو په سفر کی پرهغه دوه رکعته پاته سوه، عینی په شرح کی د بخاری وائی چی دازیارت په ورځ دسه شنبه ۱۲ د ربیع الاول وروسته تر اتګ د علیه السلام مدینی منوری ته ییوه میاشت» مراقی وائی وائی الا المغرب یعنی دمابنام لمونځ دسره څخه هم دری رکعته وو اویا نریا توب هم نه په کښی وسو. اود سحار په لمانځه کی هم بالا بود ونه سو. ولی چی د سحار قرائت اوږد وو؛ اود جمعی په لمانځه کی هم بالا بود ونه سو، ولی چی په هغه کی دوی خطبی سته چی په

ځای کی د دوو رکعتو ولاړ دی، درو لیش وائی چی دا حدیث نص دی په مذهب کی د حنیفیانو یعنی چی دوه رکعته کول د غو درو لمونځو لازم دی، ولی چی دا غه دوه رکعته په فرض الوقت کی دی چی سفر دی نو اتمام یه خلاف دی د مَا أُمِرَ بِهِ الْمُسَافِرُ، **پوه سه**: چی بعض اهل المذاهب د غو درو لمونځو پوره کول عزیمت بولی اود وه یه رخصت بولی وهذا المذهب یخالف الحدیث المذکور، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

مَنْ نَوَى السَّفَرَ وَلَوْ كَانَ عَاصِيًا بِسَفَرِهِ اود اقصر به هغه سړی وی د سفر یعنی قصد جازم بیله تردده، او قصد یه هم ترلما ځنه د مخه وی که څه هم د اسړی گناه کار وی په دی سفر کی لکه عبد ابق د مولی ځنه یا سفرد قاطع الطریق وغیر ذالک، وفیه رد علی من لم یجوز القصر للعاصی بالسفر کما مر، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

إِذَا جَاوَزَ بُيُوتَ مَقَامِهِ هر کله چی دا مسافر تیر سی ترکورو د هغه ځای چی دی په کښی او سیږی که څه هم خیمی وی لکن شرط تیر یده دده دی په هغه طرف کی چی دی دکورونو وَوَقتی که څه هم د بل طرف سره دده کلی برابر وی یعنی ترهغه بل طرف نه وی تیر سوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَجَاوَزَ أَيْضًا مَا اتَّصَلَ بِهِ مِنْ فِنَائِهِ اود اغه رنگه شرط دی چی جوت وی د ده په ځای پوری چی فناء د ده د مقام بَلل کیږی، لکه پر بناء ر اگر ځیدلی کورونه چی د ر بعض المصریه بولی. ولی چی هغه په حکم کی د مصر دی. اود غه رنگه تیر یده غواړی ترهغو قریو چی په ر بعض المصر پوری متصلی وی فی الصحیح، مر،

مسئله په قصر کی د لما ځنه د اشرطانی دی چی مسافر به خپل کورونه نه وینی، د علی بن ربیعه ځنه روایت دی چی مونږ په سفر وَوَتلو سره د علی رضی الله عنه د کوفی ځنه او مونږ لیدلی د کوفی آبادی او سرایونه چی د لما ځنه وخت سو حضرت علی رضی الله تعالی عنه دوه رکعته لـ ینځ وکړی،

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهِ وَلِكَاتِبِهِ آمِين.

قَالَ الْمُصَنِّفُ: **وَإِنِ انْفَصَلَ الْفِنَاءُ بِمَزْرَعَةٍ أَوْ قَدْرِ غَلْوَةٍ لَا يَشْتَرِطُ مُجَاوَزَتَهُ**

او که چیری جلاوه فناء د دنبار، یا د قریه څخه په کښت سره یعنی په مابین کی د دنبار او فنا کښت وو او یا فنا جلاوه د دنبار څخه په خالی محکه سره چی مقدار یی یوه غلوه وه او د غلوی مقدار درې سوه گامه دی ترځلور سوه پوری نو شرط نه دی تیر یده ترهغه فناء د پاره د اجراء د احکامو د سفر، د رو لیش وائی چی په نهایه کی او په فتاوی، الولوالجیه، او په تجنیس کی او په مزید کی وائی چی مسافر د ی قصر کوی چی صرف تر آب لیتو د دنبار تیر سی او نه ده ملحقه فناء د دنبار په دنبار پوری په حق کی د سفر،

سوال: په فقه شریفه کی وائی چی په فناء د دنبار و کی د جمعی لمونځ روا دی یعنی فناء د دنبار حکم د دنبار لری. او مسافر ته قصر په فناء کی، د غو تومورو کتابو ر وا کړیده. د دی مطلب دا چی فناء حکم د دنبار نه لری، فما الفرق بین صلوة الجمعة والسفر، **جواب**: فناء د دنبار د دنبار حکم لری په منافعو کی د دنبار، او دا بنکار ه خبره ده چی د جمعی لمونځ د معالحو ځنه د دنبار دی نو د دی سببه چی د جمعی لمونځ په فنا المصر کی روا دی، او قصر د لما ځنه خو منافعو ځنه د دنبار نه دی، نو د دی کبله فناء المصر د مصر حکم نه لری په باب د قصر د لما ځنه: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْفِنَاءُ الْمَكَانُ الْمُعَدُّ لِمَصَالِحِ الْبَلَدِ كَرَكْضِ الدَّوَابِّ وَدَفْنِ الْمَوْتَى

او فناء د دنبار هغه ځای ته وائی چی آراسته وی د پاره د مصالحو د دنبار لکه څغلول د آسانو یا خرو یا سیکلانو وغیره، او د پاره د دفن د مړو، وزاد فی المرقاة او القاء التراب، یعنی یاد دنبار خاوری او کچری هلته غورځول کیږی،

مسئله: باغونه کد خرما وی او که د انګورو مثلاً که څه هم متصل په دنبار پوری وی، په حکم کی د دنبار نه دی، که څه هم مالکان د د غو با غونو چلوونکو با غوکی اکثر د کال یا تهوله کال او سیږی او او سیده د محافظینو د با غونو یا د کښت کوونکو په هغه ځای کی هیڅ اعتبار نه لری، په اتفاق، معنا چی قصر مسافر په د غو با غوکی روا دی په قول د نامور و کتابو، او د دی

کتابود حکم تائید هغه حدیث شریف هم چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې د مدینې منورې څخه په سفر وتلې په ذو الحلیفه کې قصر دلمانځه وکړی، اوذو الحلیفه اتفاقاً د مدینې منورې څخه فناء ده، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ نِيَّةِ السَّفَرِ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ اَلْاِسْتِقْلَالُ

او شرط دی د پاره د صحیح والی د نیت د سفر د ړی شیان، اول چې دی به مستقل وی په حکم

بِالْحُكْمِ وَالْبُلُوْغُ وَعَدَمُ نُقْصَانِ مُدَّةِ السَّفَرِ مِنْ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ

د خپل ځان، یعنی چې دلته سفر دی، مطلب دا چې تابع دبل چا به نه کوی لکه مانیه د میړه چې تابع ده یا مرئی چې د یا دار تابع دی، دوهم شرط بلوغ یعنی چې کچنی نابالغه به نه وی د ژریم دا چې نه به وی کمه مده د هغه سفر چې ده یې نیت کړی وی نږدې ۳ ورځو، قَالَ

فَلَا يَقْصُرُ مَنْ لَمْ يُجَاوِزْ عُمْرَانَ مَقَامِهِ أَوْ جَاوَزَ وَكَانَ صَبِيًّا

نو قصر به نه کوی هغه څوک چې تر اباتیو د خپل ځای نه وی تیر سوی. دا تفریع ده پر هغه خبره چې

أَوْ تَابِعًا لَمْ يَنْوِ مَتْبُوْعُهُ السَّفَرَ كَالْمَرْأَةِ مَعَ زَوْجِهَا وَ

مصنف وړاندی کړی وه یعنی قوله «اذا جاوز بیوت» او یا خو تر عمران تیر سوی وی لکن کچنی نابالغ وی

الْعَبْدُ مَعَ مَوْلَاهُ وَالْجُنْدِيُّ مَعَ أَمِيْرِهِ أَوْ نَاوِيًا دُوْنَ الثَّلَاثَةِ

دا پاشتراط البلوغ تفریع ده، او یا تابع وې دبل چې متبوع یې سفر نیت نه وی کړی لکه ښځه د میړه او مرئی د یا دار. او فوجي د امیره، دا حکم پر هغه خبره تفریع دی الا ستقلال بالحکم» او یا یې نیت کړی وی د سفر کم تر درو ورځو، دا حکم تفریع دی پر هغه خبرې د عدم نقصان آه»

مسئله: هغه ښځه تابع د میړه ده چې ولور معجل ورته رسیدلی وی، او که مهر معجل نه وی ورکړی هغه تابع د میړه نه ده، کې خپل وطن څخه د سره کړې وی. او لمانځه چې ودغې ښځې ته روا ده چې میړه دبل وار وطن څخه منع کړی، او دکور ووزی د پاره د طلب د مهر محکمې ته ولاړه سی په نیز د امام اعظم رحمة الله علیه، او یارانو وائی چې ما ښې ته ددغو کارو اجازه نسته» مر، ط، در»

مسئله: مرئی چې مکاتب وی چونکه هغه حُر دی یدا نو هغه تابع د بادار نه دی»، او مدبر او ام الولد تابع دی، او فوجي هلته تبع دامیر دی چې تنخواه یا د امیر د خواوی او یا د بیت المال د خواوی، نهیلی، او نهر. **مسئله**: مزدور، د میاشتی یا د کال تبع دی د مستاجر او شاګرد تبع دی د استاذ، او مُکرَه یې صیغه د اسم مفعول تبع دی د مُکرِه یې صیغه د اسم فاعل.

پوښه سه: څوک چې تر درې ورځې کم د سفر نیت وکړی هغه مسافر شرعاً نه دی په باره کې د قصر الصلوٰة. او په باره کې د ترک د جمعې د لمانځه او د جماعت او د تیمم پخپل شرط سره او د لمانځه پر دابه باندې مسافر دی شرعاً»، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتُعْتَبَرُ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ وَالسَّفَرِ مِنَ الْأَصْلِ دُوْنَ التَّبَعِ

او معتبر دی نیت د اقامت او سفر د اصل د خواچې متبوع دی، نه د تبع که چیرې نیت د

إِنْ عُلِمَ نِيَّةُ الْمَتْبُوْعِ فِي الْأَصَحِّ

متبوع وده ته معلوم وو په اصح روایت کې، نو حاصل دا چې پر تابع باندې په نیت کولو د متبوع د اقامت، اتمام د لمانځه نه دی لازم تر هغو پورې چې نیت د اقامت د متبوع خبر ورته نه وی. **مسئله**: پر تابع لازمه ده چې د متبوع څخه سوال وکړی چې هغه یو ځای واړه وی چې تا نیت د اقامت کړی دی او که نه! اعزاز، ط قَالَ»

وَالْقَصْرُ عَزِيْمَةٌ عِنْدَنَا

او قصر د لمانځه لازم دی پر مسافر مونږ په نیز خلافاً للشافعی»

یومملک ته ورسیدہ، اودوی دایقین وو چې دا ورځې مونږ ته اجازه دخروج راکړه کیږي. نودوی به لمونځ پوره کوی ولې چې دوی حکمًا نیت داقامت کړی دی،،

فَائِدَه: نیت داقامت عام دی که ترلمانځه دمخه وې اوکه دلمانځه په اول کی وی اوکی په مابین کی وی اوکی په اخیر کی وې او عام دی لمونځ کوونکی چې نیت داقامت په لمانځه کی کړی که منفرد وی اوکه مقتدی وی اوکه مُدرِك داول دلمانځه وې اوکه لږمن رکعتونه ځندی تیرسوی وې، قوله ببلدةٍ اوقريةٍ، دادوه چې مصنف ذکر کړه ولې چې نیت داقامت بیله دغودوو بلو ځای نه دی روا مثلاً په بیابان کی اوپه دریاب کی اوپه کښتی کی، هذا حاصل ما فی البحر الرائق،، قوله اولم ینوی وبقی سنین آه یعنی یوسړی مسافر وو اویو بنار ته ورغلی اوقصد یه داوو چې دوی ورځې ورسته ددی بنار ونه، یاهغه ورسته مثلاً لکن کار یه نه سمیدی کلونه پرتیر سوه، نو دی به قصر کوی،، ولې چې علقمة بن قیسؒ پرد غه ډول په خوازم کی دوه کاله تیر کړه اودې لمونځ په قصر کاوه،،

بنهانه فائده مهاجرو افغانستان چې پاکستان ته په هجرت وکړی اویا نورو ممالکوته،، اودوی داقصدوو چې ۱۵ مثلاً ورځې اویا پوه میاشت کدهم افغانستان آزادسی. زه افغانستان ته نه ځم، اودوی ته داهم یقین ووچې پاکستان مثلاً پرزوره په داسی لنډه موده کی خوله دخپل وطنه نه شړې، نودوی به لمونځ پوره کوی داخوحال وود هغومهاجرینو چې په اول کی دانقلاب ثور پاکستان ته راهجرت وه خواه په بنارو کی دپاکستان اوسیدلې یاپه باقاعده کیمپو کی اوسیدلې، چې تردا اوسه یعنی تخمینًا ۲۲ کاله دلته په پاکستان کی پاته دې، حتی چې دکیمپومهاجرو ځانته سرایونه جوړکړی دی اومسجدونه اومدرسی یه بناء کړی دی اوبازارونه په کښی دې، اودبنارو مهاجرینو کوټې جوړې کړی اودکانونه لری اوتجارتونه کوی چې حکومت دپاکستان هم علم پرلری، نو دغه مهاجرین لکه بحرالرائق چې ووئیله مقیم حکمًا دې، اویوه غه قسم مهاجرو افغانستان دی چې هرا اوس پسله ۲۲ کاله تخمینًا دشمالې څخه دافغانستان اویا دنورو ځایونو څخه

دسبب دوچ کالی اویا دسببه دجنګوپاکستان ته راهجرت وی اودپاکستان حکومت ودوی ته داوله څخه دا اعلان کړې دی چې پاکستان تاسی ته پناه اوځای نه درکوی نودغه مهاجرین چې دحکومت سره دپاکستان په کش مکش اخته دی پرهغوکه میاشتنی تیری سی او که کلونه لمونځ به پوره نه کوی ولې چې دوی نه حقیقةً مُقیم دی اونه حکمًا،، دریشرح

فَائِدَةٌ مُهِمَّة هغه خلګ چې په قاشاق سره پرډوبو مملکتونه بیله ویزې اوبیله پاسپورټه خواه داافغانستان وی اوکه دبل وطن وی خصوصًا چې سعودی عربستان ته په غلا داخل سی، چې دوی دایقین وی چې که حکومت راخبر سی سمدستی می سفر کوی هغه سړی چې هرخو عمرکه میاشتنی وی اوکه کلونه دغلا پرډول په هغه مملکت کی تیری کړی لمونځ به پوره نه کوی. چې دده نیت داقامت نه دی صحیح، البته که ده ته رسمی حکومت دخواد اوسیدلو اجازه وسوه بیا نودده نیت داقامت صحیح دی،، در قال المصنفؒ

وَلَا تَصِحُّ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ بِبَلَدَتَيْنِ لَمْ يُعَيِّنِ الْمُبِيتُ بِأَحَدِهِمَا

اونه دی صحیح نیت داقامت په دوو بنارو کی په داسی ډول چې مسافر نه وی معلوم کړی شپه تیرول په یوه کی دهغه دوو،،

پوه سله: چې مراد دمصنفؒ دبلدتینو څخه هغه دوه مستقل ځایونه دی چې یودبل تبع نه وې، که بنارونه وی اوکه دوی مستقلی قریې وې. اوکه چیری یوځای بنارونو اوبلځای قریه وه چې تابع دبنارونو. حتی پراوسیدونکو ده هغی قریې دجمعی لمونځ په بنار کی لازم وو،، نوپه داسی دوو ځایو کی نیت داقامت صحیح دی اوکه چیری مسافر دخپل شپې تیرولو دپاره یو بنار تاکلی وو یعنی شپه بې په هغه بنار کی تیرولو دوه ځې به که څه هم هغه بل بنار ته ورتلی، نونیت داقامت یې صحیح دی،، ولې چې په اقامت کی مُعتبر دی دشپې تیریدو ځای دی، نوهغه چې ده مُعین کړی دی نوګویا داقامت نیت په یوه ځای کی چې مبیت دی کړی دی. ددی دلیل

دادی چی دیوسړی څخه چې ته سوال وکړی چې ته چیرې اوسیږې دغې هغه ځای درښیي چې دی دشپې هلتوی کښه هم دوه رځې دی په بازار کې وي، یا په بل ځای کې، قال المصنف:

وَلَا فِي مَفَازَةٍ لِغَيْرِ أَهْلِ الْأَخْبِيَّةِ

اودغه رنګه نه دی صحیح نیت د اقامت په بیابان کې اودښت ماسوا له هغه خیمه والو، اوکښدی والو، یعنی مالدارانو چې خوه رځې یو ځای اوسیږی اوخو ورځې بل ځای یعنی ځغلو، پسو، بزو، اوښانو، پرځای پسې روان وي، نو دغه مالدارانو که پریو چرا ګاه نیت د پنځولسو ورځو کړی مقیم ګرځي، لهونځ به پوره کوي، ولې دوی له دغه چرا ګاهی لکه بنارونه اوقریو د نورو کسانو د پاره دی، اوبیله دغو مالدارانو بیابان اودښت محل د اوسید و نه دی. اودغه رنګه جزیرة اودریاب اوکښتی، اوکښتی چلوونکی مسافر دی کښتی دده وطن نه دی، نقله الطحطاوي عن البحر، لکن پوه سه چې د جزیرة څخه مراد پخوانی جزیرې دی چې آبادی به نوی اوخلګ به نه وه پکښې، ورنه اوس چې په جزائرو کې بنارونه جوړ شوی دی اوپه زرو خلګ په کښې ژوند کوی لکه بحرین، قطر، دوبۍ، ابی ظهبی، وغیره په هغو کې نیت د اقامت په اتفاق سره وادی، اودغه مراد د کښتیو نه څخه هغه پخوانی کښتی دی چې ملاګانو به چلولې، اوهرچه اوسنۍ کښتی دی چې په دریا بوکې په میاشتو او کلو ولاړې وی اود خورا ک، لباس، اونورو ژوندانه شیان دوی ته هلته مهیا وي اودیوه ځای به څخه بل ځای ته په کلونه نقل کیږی، لکه د امریکا نیانو بحری کښتی اویا د پاکستانیانو بحری کښتی اودنورو مملکتونو په هغو کې نیت د اقامت سره وادی اوچلوونکی یې مقیم دی بالاتفاق، قال المصنف:

وَلَا يَصِحُّ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ لِعَسْكَرِنَا بِدَارِ الْحَرْبِ

اونه دی صحیح رهونږ د مسلمانانو عسکرو ته نیت د اقامت په دارالحرب کې یعنی د کفارو په وطن کې چې مسلمانانو عسکرو جنګ د پاره هوډ ی ورغلی وی، که څه هم دوی یو ښار

په محاصره کې نیولی وي، ولې چې دوی د قرار او فرار ترمابین دی نو نیت د اقامت خو عزم غواړی اود دوی عزم نه سی کولای، ولې چې شاید د کافرانو به نوی کومک راورسیږی او مسلمانان به د فرار ته مجبور کړی، اوعین ممکنه ده چې د غه لښکر د کافرانو چې مسلمانانو محاصره کړیدی د اسې یو چم به وکړي چې په هغه سره به قلیل پر کثیر غالب سي. قال الله تعالى: وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ، قال المصنف:

وَلَا لِعَسْكَرِنَا فِي مُحَاصَرَةِ أَهْلِ الْبَغْيِ

اودغه رنګه نه دی صحیح نیت د اقامت د حکومت اسلامی محاصره کړی وی، که څه هم دا باغیان په عین بنار کې وی، کذا في العنایة والبحر الرائق

پوه سه: چې امام طحطاوي ص۳۴۷ وائی چې بغاة هغه قوم دی چې د اطاعت څخه د امام حق وتلی وی اودوی عقیده د اوی چې موږ پرحق یو. اودوی ته فاسقان نه وایل کیږی بالاتفاق، ولې چې ددوی په زړو کې شبهه سته که څه هم فاسده شبهه وی چې د هغې په سبب دوی ځان پرحق بولي. اوکه دلیل یې نه وایه نو هغوته غله اوقطاع الطریق وائی مرادی وائی که څه هم ظاهرا شوکت اوغلبه د عسکرو په جانب کې وی، للعلة المذکورة وهم التردد في الفرار والقرار کما مر، قال المصنف:

وَإِنِ اقْتَدَى مُسَافِرٌ بِمُقِيمٍ فِي الْوَقْتِ صَحَّ وَأَتَمَّهَا أَرْبَعًا وَبَعْدَهُ لَا يَصِحُّ

اوکه چیرې اقتداء وکړه مسافر په مقیم پسې په وخت کې د لمانځه کې یعنی په څلورو رکعتیز لمانځه کې صحیح ده اقتداء یې پسې، که څه هم په اخیره ناسته کې وي، او مقتدی دی چې مسافر دی لمونځ څلور وکړي په متابعت د امام خپل، قال المصنف: وَبَعْدَهُ لَا يَصِحُّ، او پسله وتو څخه دوخت صحیح نه ده روا اقتداء د مسافر په مقیم پسې، دلیل یې دادی چې فرض د مسافر تغیر نه خوری پسله خروجه دوخت، که مسافر په مقیم پسې اقتداء وکړی پسله وتو څخه وخت یعنی په قضا ئی لمانځه کې په شفع اول کې، نو اقتداء د مفترض په متنفل پسې لازمیږی

په حق کی دقعدی. ولی چی اوله ناسته پرمسافر فرض ده، پر مقیم نه ده، اوکی اقتداء په شفع ثانیه کی پسی وکړه نو بیا هم اقتداء د مفترض په متنفل پسی لازمیږی، په بارهٔ کی د قرائت، ولی چی قرائت د دغی شفعی پرمسافر فرض دی، اود مقیم د انفل دی،» هدایه،

پوهه وسئله چی د احکم هلته دی چی د امام اومقتدی لمونځ دواړه قضا ئی وی، اوکه چیری د امام لمونځ قضا ئی وو اود مقتدی لمونځ په وخت کی وو، لکه چی مقتدی دمابینین په لمانځه معتقد د قول د امام اعظم وی چی وخت دمابینین تر مثلینو پوری بولی، اوامام معتقد و د مذهب دیارلنو، اود امام شافعیؒ چی دمابینین وخت تر یک چندی پوری بولی، نوځه وخت چی یو مثل تیر سوی وی اود وه مثله ته سایه نه وی رسیدلی، نو غه وخت د امام لمونځ قضا ئی دی لخروج الوقت فی عقیدته» اود مسافر مقتدی لمونځ وقتی دی لبقاء الوقت علی مذهبه فیصح الاقتداء به» کذا فی السراج کما سیاتی عنقریب» قال

وَبِعَكْسِهِ صَحَّ فِيهِمَا اوپه کس کی یعنی چی مقیم په مسافر اقتداء وکړی اقتداء یه صحیح ده، که په وخت کی وی اوکه بعد الوخت وی، ولی په حدیث شریف کی راغلی چی علیه الصلوٰة والسلام چی مسافر وو په مکه شریفه کی اهل مکه ته لمونځ ورکړی. اوپه دوه رکعته چی سلام وګرځاوه اهل مکه ته ئی داسی وفرمائیله، اَتِمُّوا صَلٰوتَكُمْ فَاِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ» تاسی خپل لمونځونه پوره کړی ولی مونږ قوم یو مسافر»

واقعه یه خوخت چی حضرت الامام قاضی القضات ابویوسفؒ سره د هارون الرشیدؒ په سفر د حج تللی وو، امام ابویوسفؒ چی دوه رکعته سفریا لمونځ پوره کړی او سلام یه وګرځاوه نو اهل مکه ته ئی داسی ووئیله: اَتِمُّوا صَلٰوتَكُمْ فَاِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ، نو یو مکی وال ورته ووَیَل: نَحْنُ اَعْلَمُ بِهٰذَا مِنْكَ» مونږ په دی حکم تر تا ښه خبریُو فقال ابویوسفؒ: لَوْ عَلِمْتَ مَا تَكَلَّمْتَ فِی الصَّلٰوةِ» که ته علم والا وای نو دی په لمانځه کی ولی خبری کولی» یعنی ستا خود لمانځه مابین دی نوتا خبری ولی وکړی»

فقال هارون الرشیدؒ لَوْكَانَ مثل هذا الجواب بَدَلًا عن الملک الذی اعطانیه الله لکنتُ اَحَقَّ بذالک» که مثل دی پوری معقول جواب عوض وای زما دغی بادشاهی چی خدائ ماته راکړی ده نو به دیر په خوشحالۍ سوی وای:

مسئله: خوخت چی مسافر امام سلام وګرځوی نو مقیم مقتدی باید دی ولاړ سی هغه خپل دوه رکعته دی بیله قرائت اداء کړی په صحیح روایت کی. ولی چی دوی خو لاحق دی یعنی اول د لمانځه یه نیولی دی اخیر د لمانځه ځندی گویا پاته سوی. یعنی دوی لکه هغه سړی دی چی اول د لمانځه یه نیولی وی اوبیا ورسته حدث وکړی پلیښ سی چی دی اود تازه کی نوی امام لمونځ ختم سوی وی نوهغه چی خپل پاته رکعتونه کوی قرائت به نه وی ولی چی حکمًا بعد الامام دی» د دی مقیم مقتدی خو فرض القرائت د مخه د امام مسافر سره اداء سوی. نو قرائت دی احتیاطًا نه وائی کذا فی الهدایة والوافی»

او سجده سهوه پرده غو مقیم مقتدیانو نوښته که څوهم دوی چی پاته لمونځ کوی سهوه یی ولی چی د دوی حکم د لاحق دی کما مرّ او پر لاحق هیڅ سجده سهوه نسته، اوپه دوی پسی اقتداء هم نه ده صحیح، ولی چی دوی که څه په پاته دوو رکعتو منفرد دی باید اقتداء د بل پسی روا نه وی. لکن دوی مقتدیان دی از روی تحریمه چی په مسافر امام پسی اقتداء کړیده. اود اخوفقهی مسئله چی په مقتدی پسی بل څوک اقتداء نسی کولای «مراقی طحطاوی، هدایه، در» قال المصنف:

وَنُدِبَ لِلْاِمَامِ اَنْ يَّقُوْلَ اَتِمُّوْا صَلٰوتَكُمْ فَاِنِّیْ مُسَافِرٌ

اومندوب ده امام له چی ووائی خلګوته چی خپل لمونځونه پوره کړی چی زه مسافر یم» څوک وائی چی پسله یوه سلامه، لکن صحیح داده چی ورسته تر دواړو سلامودی دا خبره وکړی، تاچی مقتدیان په پاته لمانځه کی قرائت ونه وائی، اومندوب ولی ده» د دی سببه چی امکان لری چی خلګوته به حال د امام د مخه لامعلوم وی، اویا بی د مخه سؤال څندی کړی وی»

قَالَ المُصنِّفُ: وَيَنبَغِي أَن يَقُولَ ذَالِكَ قَبلَ شُرُوعِهِ فِي الصَّلوٰةِ

اوپه کار دی چې امام دی دَمخه تر شروع پَه لمانځه کی دغه خبره وکړی تاچې اشتباه دمقتدیانو د اول الامر څخه دفع سې، قَالَ المُصنِّفُ:

وَلَا يَقرَءُ المُقِيمُ فِيمَا يُتِمُّهُ بَعدَ فَرَاغِ إِمَامِهِ المُسَافِرِ فِي الأَصَحِّ

اوقرائت پرنه وَائِي مقتدی پَه هغو رکعتو کی چې دی لمونځ پرپوره کوی وروسته تر فارغ والی د امام مسافر دده پَه اصح روایت کی، بلکه پَه قدر د الحمدُ لله دی ساکت وَلَاړوي.

وجه د اصح روایت هغه ده چې قبلاً انفا تیره سوه چې دی لکه لاحق دی حکمًا اوبعض مشائخ وائی چې دی به قرائت وائی لکه مسبوق چې اول د لمانځه څندی تیرسوی وی، لکن بینهما فرقٌ، ولی چې مقتدی مقیم خو تحریمَةً مقتدی دی لکه لاحق، اوظاهرًا خو منفرد دَی لکه مسبوق، نو چې مونږ وَدی ته وګورو چې دی مقتدی دی حکمًا، نو دی گویا خلف الامام دی، نوده ته قرائت مکروه تحریمی دَی، او چې ودی ته نظر وکړو، چې ظاهرًا خو منفرد دی نوده ته د قرائت مُستحب دی، ولی چې فرضی قرائت خو به د امام مسافر سره پوره سُو، نود دغه مُقیم قرائت پَه پاته لمانځه کی دائر سُو، پَه مابین کی د مکروه تحریمی او مُستحب نو احتیاط دادی چې قرائت ونه وَائی چې مرتکب د مکروه تحریمی ونه گرځی،

اومسبوق چې د امام سره دوه اخیر رکعتونه پرنیولې، نود امام سره قرائت مندوب وَه نیوی اوفرضی قرائت پرپاته دی، نوده قرائت پَه سَبَب د دی چې دی مقتدی دی ظاهرًا مکروه تحریمی دَی، اوپَه دی سَبب چې پرده فرضی قرائت پاته دی چې دهغه پرپاتې والی سره لمونځ فاسدیږی، نوده یعنی د مسبوق قرائت پَه پاته لمانځه کی دائر دی پَه مابین کی د مکروه تحریمی کی ووائی، اوده مفسد الصلوٰة کی نَه وَوائی نودلته احتیاط پَه دی کی دی چې ووائی تاچه لمونځ پَه فاسد نه سې، هذا محصل ما فی البحر الرائق والرد المحتار والطحطاوی،

قَالَ المُصنِّفُ: وَفَائِتَةُ السَّفَرِ وَالحَضَرِ تُقضَى رَكعَتَينِ وَأَربَعًا

اوقضایی لمونځونه د سفر اود کور دی دوه رکعته کوی یعنی د سفر دا کی څلورم پَه کور کی قضاء راوړی اوځلور رکعته دی کوی یعنی قضایی د کور که څلورم پَه سفر کی قضاء راوړی، ولی چې قضائی لمونځ پَه حضر او سفر سره تغییر نه پیدا کوی، وَلِأَنَّهُ ثَمَّ قِيَاسُهُ عَلَى المَرِيضِ وَالصَّحِيحِ مثلاً د مریض څخه چې لمونځونه د مرض پَه وخت کی قضاء سوی وی هغه وخت چې ده پَه اشاره لمونځ کاوه، نوچې دی جوړ سی اود هغو لمونځو قضاء راوړی پَه رکوع اوسجده سره بې قضاء راوړی. پَه اشاره یې قضاء نه ده وَرته رَوا، اویا یو سړی د صحت پَه وخت کی لمونځ پَه قضاء کړی وُو، اوس چې ناجوړ سو او پَه رکوع اوسجده قدرت نه لری نوهغه د صحت د لمونځونو قضایی پَه اشاره سره راوړي، ولی پَه اول صورت کی خو عُذر مستمر د رکوع او سجدی چې مرض وو نو رائِل سُو. نو قضائی لمونځ بیرته خپل کمال ته رسُو، چې رکوع او سجده ده، اوپَه صورت ثانیه کی قضائی لمونځ د خپل کمال څخه رسو پَه سبب د عذر پَه وخت کی د قضاء راوړو، هـ، ط، در، قَالَ المصنفُ:

وَالمُعتَبَرُ فِيهِ آخِرُ الوَقتِ

اوپه هغه لمانځه کی اخیر د وَقت دی، نوکه یو سړی پَه اول وخت کی د لمانځې پر کوروو لکن لمونځ یې نه وکړی اوچې اخیر د وقت چې را ټلی دَی مسافر سُو لمونځ به دوه رکعته کوی، او که پَه اول کی د وخت دی مسافر وو، لکن لمونځ یې نه وکړی پَه اخیر کی د وخت کورته را ورسیدی، نود لمونځ به څلور رکعته کوی، ولی چې پَه اصولو کی د فقه شرعی وائی چې سببیَّت د وخت د لمانځه لره د اول څخه د وخت نقل کیږی تر اخیره پورې د وَخت، او پر اخیر سببیَّت ختم کیږی، نوځکه مُعتبر هم د غه اخیر وخت دی چې کوونکی پرې حال دی، مثلاً د ښځه پَه اول کی د وخت د حیض او نفاس څخه پاکه وَه، اوپَه اخیر کی د وخت حائِضه یا نفساء سوه لمونځ څندی ساقط دی، اوکه حال بالعکس وو لمونځ پر لاړ دَی هم پردغه قیاس کړه لیونتوب اوپرسد کیده، اوکافروو اسلام، فَعَلَيكَ بِالتَّأَمُّلِ فِي الصُّوَرِ

المذکورة. قالَ المصنفُ: پوه سه چې وطن ځای ته داوسیدو وائی. اوداوطن دوه قسمه

وَطَنُ دوه قِسمه دی

وطن پردوه قسمه دی **وَطَنُ اَصلی** وطن اصلی هغه ځای ته وائی چې دی هلته نږدې وی کی واده کړی وی اوکه نه، اودده قصد ژوند په دغه ځای کی تیره وَل وی اوقصد دکوچ نه لری، **وطن اقامت** وهغه ځای ته وائی چې صلاحیت داوسیدو لری یعنی ښاریا قریه وی کدامرسا بقا» اوسړی پسله دی چې مسافروی په هغه ځای کی نیت داقامت وکړی ۱۵ وَرځې یا بالاتر ۱۵ وَرځو» اذا عرفتَ هذا فاستَمِع لما یقولُ المصنفُ:

ویَبطِلُ الوَطَنُ الاَصلیُّ بِمِثلِهِ فَقَط

وطن اصلی یه مثل خپل سره فقط یعنی نه په سفر سره باطلیږی اونه په وطن اقامت سره ولی چې شی چې باطلیږی یا په مثل سره یا په مافوق سره، په مادون سره نه باطلیږی» کما فی المراقی»

قالَ المُصنفُ:

ویَبطِلُ وَطَنُ الاِقامَةِ بِمِثلِهِ وَبِالسَّفَرِ وَبِالاَصلیِّ

اوبا طلیږی وطن داقامت یعنی یوسړی چې مسافروو اویوځای یه نیت د اقامت د ۱۵ وَرځوبالاوکړی او ورسته دهغه وَلاړی بل ځای یه نیت داقامت د ۱۵ وَرځو وکړی، نوهغه اول وطن داقامت یه باطل سونوکه دی بیا هغه اول ځای ته ورسی لمونځ به پوره کوی، اودغه رنګه باطلیږی وطن داقامت په سفر دهغه ځخه یعنی یومسافر په یوځای کی نیت داقامت د ۱۵ وَرځوشالاوکړی او هغه ځایه ځخه بیرته خپل سفر ته ادامه ورکړه، نوهغه وطن داقامت یه باطل سو، که بیادسفر په دوران کی هغه اول ځای ته ورسی لمونځ به پوره کوی کی نوی نیت داقامت بیا په هغه ځای وَنه کړی، اودغه رنګه باطلیږی وطن داقامت په وطن اصلی سره یعنی دَ وطنه ځخه داقامت ووزی خپل اصلی وطن ته وَلاړسی، نوبله وَرځ بیله نیت دسفر هغه وطن اقامت ته ورسیږی لمونځ بر پوره کوی»

مسئله: که یوسړی خپله کډه اومایند یوو طن څخه نږدې اوسئله، اوصرف دی وَبل وطن ته ولاړی په سفر لکن په هغه وطن کی هم کور، اوواده وکړی، نو وطن اول یه نه باطلیږی بلکه دواړه دده وطنونه اصلی دی، هریوه ته چې وَرځی په هغه وطن کی به لمونځ پوره کوی

پوه سه چې دوطن اصلی په بدلیدو صورت دادی، لکه مهاجرینو د مکی مکرمی څخه مدینی منوری ته ځای اوبیادعَوده نیت یه وکی ومکی شریفی ته نه ووکه هم مکه مکرمه دارالاسلام هم سې، نود دغومهاجرینو دپاره اصلیت دوطن دمکی مکرمی باطل سو، نوځکه رسول کریم صلی الله علیه وسلم اواصحاب کرام رضی الله عنهم پسله دی مکه مکرمه هم فتح سوه اودارالاسلام وګرځیده دوی چې به دعمری یاحج یا تجارت دپاره مکی مکرمی ته ورځی لمونځ به سفریانه کاوه چې نیت داقامت د ۱۵ وَرځو تیرو لو به ئی نه وو،

مسئله: حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په اول کی دخلافت چې به مکی شریفی ته وَرځی لمونځ به سفریانه کاوه، اوپه اخیر دوره کی دخلافت چې به مکی شریفی ته وَرځی لمونځ به ئی پوره کاوه، شاړجان دحدیثو مبارکه وو یوه وجه پوره لمانځه کولو د حضرت عثمان رضی الله عنه داوانی چې عثمان رضی الله عنه په اخیره دوره کی دخلافت په مکه شریفه کی نوی واده وکړی نو مکه شریفه اومدینه منوره دواړه دده وطن وګرځیدله» نوحاصل دده دی مسئلی دادی که دری ځایه یا څلور ځایه سړی ودونه وکړی لوکور ونه جوړ کړی تولو یه وطن اصلی ګرځی

قالَ المصنفُ:

وَالوَطَنُ الاَصلیُّ هُوَالَّذی تَوَلَّدَ فیهِ الاِنسانُ

او وطن اصلی هغه دی چې انسان تولد (زیږید نه) په کښی سوی وی

تَزَوَّجَ فیهِ اَو لَم یَتَزَوَّج وَقَصَدَ التَّعَیُّشَ فیهِ لا الاِرتِحالَ

عنه رحواه ده هلته واده یعنی مایند هم کړی او کی نه وی کړی، اوده اراده دژوند تیرولو هلته وی، نه اراده دکوچ او بار دهغه ځایه ځخه»

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَوَطَنُ الْإِقَامَةِ مَوْضِعٌ نَوَى الْإِقَامَةَ فِيهِ نِصْفَ**

او وطن د اقامت هغه ځای دئ چې ده نیت د اقامت په هغه کې کړې وي

شَهْرٍ فَمَا فَوْقَهُ وَلَمْ يُعْتَبَرِ الْمُحَقِّقُونَ وَطَنَ السُّكْنَى

نیمه میاشت او یا تردې زیات، او اعتبار نه دي ورکړي محققا نو د فقهاءو وطن ته د سکنې چې

وَهُوَ مَا يَنْوِي الْإِقَامَةَ فِيهِ دُونَ نِصْفِ شَهْرٍ

هغه هغه وطن ته وائي چې سړي نیت د اوسیدو په هغه کې وکړي تر ۱۵ ورځې کم، نو که د اسړي چې مسافر وو او ده ۱۵ ورځو یا بالا نیت په غیر کې د وطن سکنې کړې وو هغه وطن د اقامت یې نه بلل کیږي. او نه یې سفریه بلل کیږي، یعنې حکم د سفر چې قصر الصلوٰة وو نه بلل کیږي.

تقریر بعض مهاجرین د افغانستان چې په مغربي ممالکو او یا نورو ممالکو سیاسي پناه اخستې وي او د هغه مملکت شناخت نامه او یا شناخت کارت یې هم اخستې وي او قصد د عود وه افغانستان ته نه لري. او کله او کور یې هم په هغو ممالکو کې وي صرف د یوسرای په افغانستان کې لري او یا محکمه او یا باغ لري، نو دې ګاهې د سرای د کرائې د پاره یا د محکمې د اجاره د پاره یا د باغ ده، یا د حاصلاتو تبولو لو د پاره افغانستان ته راسي د مسافر دي په لمانځه کې به قصر کوي، تر څو چې نیت د اوسیدو د ۱۵ ورځو یې نه وي کړي.

فرعه یوسړي ووچې د وه دري زامنه یې په افغانستان کې وه، او هوري په خپل سرای در لودي او زامنو یې هوري د نیاګي کار و بار کاوه، او د وه دري زامنه یې د ۲۰ کلو راایسته په پاکستان کې وه چې هوري یې هم خپل سرای در لودي، او هوري یې کار و بار کاوه، او غه دواړه چې د زامنو تر تصرف د پلار لاندې دي،

او دواړه چې د پلار سره ګډې وي، او پلار یې ګاهې پاکستان کې وو او ګاهې بیا افغانستان ته ولاړې کې خو هم استوګنه په یوه خوا کې د پیره هم وي نو د غه پلار په دغو دواړو وطنونو کې مقیم دي لمونځ به پوره کوي إِلَّا فِي طَرِيقِ السَّفَرِ إِلَى أَحَدِهِمَا ۵ دویشې

خدایه ته باب د مسافر خوپه توفیق ستا په خیر خلاص شو،

د نیا دار الاقامت دي د هیڅه وو،

زما سفر و اخرت ته پرایمان او اخلاص خلاص کړي

په دي دا ارکې څه هوس دي د هیڅ وو،

مسافر چې وسفر ته روانیږي. د ه کې فکر زیاد تر هرشي څخې پیدا کیږي

عبید بیله کومه زاده دي روان و اخرت ته... دي سپین ږیري په امید ستا و حضرت ته!

تصنیف
الحاج علامه ابو الفضل محمد منیر الله الاکوئی القندهاری الپشاوری دام فیضه

تفسیر اکوئی

پښتو

۱۵ جلده تقریبًا

الناشر
مکتبة القراءات والتجوید
کانپی روډ شالدره، کوئټه:

باب صلوة المريض

داباب دی په بیان کی د لما ځځه دنا جوړې:

پوه سه: چی د مرض تعریف طبیبان داسی کوی. چی مرض یو حالت دی په بدن کی چی خارج وی د مقتضی غالبی څخه د طبیعت د انسان او یا حیوان، **فائده** مطلق ناجوړی سبب دا حکامو فقهیه وو نه دی، ولی چی هر انسان چی دی بیخی ځان جوړ بولی هم ناجوړی دی. د دی کبله چی اطباء وائی چی مِن کُلِّ الوجُوه جوړ سړی هغه معتدل المزاج وی او دا ډیر خوبیا بیخی نادر دی او یا نسته»

نو ځکه صاحبُ البحر وائی» چی اندازه د مَرَض چی په وَلاړی لمونځ د سړی څخه ساقطوی او جمعی د لما څخه حضوروهم، او خورك د فرضی روژی وسړی ته مباح گرځوی» او تیمم هم» داده چی یا پرې نیادت والی د مَرَض موجود ببریښی، یا پردی بیره وی چی مَرَض به ډیر او زیات سی، واتفق علی ذالک الفقهاءُ کلهم» اذا عرفت هذا التمهید فاستمع لقول المصنف

إذا تعذر على المريض كل القيام أو تعسر بوجود ألم

که مریض ته نه وه ممکنه پوره وَلاړه چی دی تعذر حقیقی وائی. او یا ورته گرانه وه وَلاړه په

شديد أو خاف زيادة المرض أو إبطائه صلى

سبب د ډیر سخت درد د وَلاړی په سبب یعنی که لږ درد او تکلیف وو، بیا خوبه وَلاړه نه پریږدی، او د چا ته عذر حکمی وائی، او یا ډیر دی

قاعدا بركوع وسجود

پرې یا تعب د مَرَض، او یا پردی ببریدی که زه په وَلاړی لمونځ وکړم، نو به می مَرَض وځندیږی یعنی زیات به جوړ نه سم، نو لمونځ دی کوی په ناستی په رکوع او سجده سره»

پوه سه: چی بیره د زیادة المرض آه ده ته په تجربه معلومه سوی وه چی د مخه دی په دَغه ناجوړی مبتلا سوی وو نو چی ده پرځان تکلیف وکړی او لمونځ به په وَلاړی وکړی نا جوړی به ډیره سوه او یا وځندیده، او یا هوشیار مُسلمان طبیب ورته وَیلی وی چی ته به نه وَلاړیږی که وَلاړ سوی ناجوړی دی ډیریږی، او یا جوړ والی دی وځندیږی،

فائده: د اَلَم شدید مثال د فقهاؤ په سرگرځید و سره وَیلی دی، او د غابن په درد سره او سر په درد سره، او مَلا په درد سَره الی غیر ذالک. ق، د، ط

مسئله: که اَلَم شدید خو په وَلاړه کی نه وو لکن په وَلاړه کی د دښمن څخه یا د لیوه وَغیره څخه ببریدی، نو دا په حکمی د الم شدید لوی لمونځ په ناستی ورته روادی» ط

مسئله: که باران سوی وو او محَلّه خټی وه. او سړی په پیوه کشتنکه خیمه کی وو چی سَم نه سوای په کښتی درېدلای نو هم دی لمونځ په ناستی وکړی، بحر **مسئله:** که د سړی سالنډی کیده که وَلاړ سوی وَای نو بیا یه فرض القرائت نه سوای وَیلای لمونځ په ناستی ورته روادی» د»

رُوِیَ عن عمران بن حصینؓ دی وائی چی ما ته مریضی د بواسیرو خونی یا بادی پیښه وه نو ما پوښتنه وکړه د علیه الصلوٰة والسلام څخه د لما ځځه په باره کی نو ده مبارک راته وویَیله: صَلِّ قَائِمًا فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا» لمونځ په وَلاړه کوه او که دی د وَلاړی لمونځ په وَس نه وو پوره بیا لمونځ که وَه په ناستی، فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَمُسْتَلْقِيًا، که دی هغه په روسه نه وو پوره بیا سُتنی سَتَح پریږده لمونځ کوه یعنی په اشاره سره په اخیر کی آنحضرت صلی الله علیه وَسلم، ایت په دَلیل د شاهد تلاوت کړی، لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا» خدای پاك تکلیف نه کوی په هیڅ چا مگر په قدر د طاقت دهغه،

فائده: د مذهب کتابو کی وائی: که سړی د ناستی د لما ځځه عاجز وو نو د ده خوښه ده که لمونځ پر بغل کوی او که ستنی ستخ کوی. او شافی افضل دی دا خبره د دوی د تیر سوی حدیث څخه مخالفه ده، ولی چی په حدیث مذکور کی علی جنب

د مخه دی او استلقاء یه بناء کړیده پر عدم استطاعت د صلوة الجنب **جواب** امام طحطاوی رحمه الله وائی چې احتمال لري چې اهل مذهب ته ترحدیث مذکور بل حدیث قوی ثابت وی، نوځکه دوی ظاهر حدیث مذکور پریښو، (پروليش وائی چې په نفس احتمال سره دفع د مخالفت نه کیږی ترهغوچې هغه حدیث اقوی روایت ونه کړه سی، قال المصنف رحمه الله

وَيَقْعُدُ كَيْفَ شَاءَ فِي الْأَصَحِّ اوچې په ناستی لمونځ کوی نو څرنګه کښینی په اصح روایت کی یعنی که چارنا نو کښینی، اوکه د التحیات پر وزم کښینی اوکه لاسونه پرزنګنو راګرځوی، مطلب داچې دې نه آسانوی، ولی عذر د مرض د ده مخه رکن د قیامی ساقط کړی نو هیئت د ناستی په طریقه اولی ساقط دی، دا خو مذهب وو د امام ابوحنیفه رحمه الله، او امام زفر رحمه الله وائی چې په ټوله لمانځه کی د ناستی چې پښه غوږ وی او پرهغې به کښینی، یعنی د التحیات پر وزم لکن امام اعظم رحمه الله صرف د تشهد په نوبت کی به پرهغه وزم کښینی په نور لمانځه کی دی مختاره دی پر هیڅ وزم چې کښینی بیله کراهته، قال المصنف رحمه الله:

وَالْإِقَامَةُ بِقَدْرِ مَا يُمْكِنُهُ اوکی ټوله رکعت یا لمونځ په ولاړی نه سوای کولای په دی معنا چې یوه اندازه قدر ولاړه یې کولای سوای، نو دی دے هغه قدر چې دده توان وې بیله زیارت مشقته په ولاړی لمونځ وکړی. که څوک هم په قدر د یوه ایت اویا په قدر د صرف الله اکبر وی، نو هر وخت چې ورته تکلیف د پرسو بیا دی بیرته دی کښینی، ولی چې طاعت په حسب د طاقت نو که دی ابتداءً د ولاړی توان و طاقت نه درلود ای، خو ابتداءً ناسته روا وه نو انتهاءً هم ناسته ورته روا ده وهو المذهب الصحیح، قال

وَإِنْ تَعَذَّرَ الرُّكُوعُ وَالسُّجُودُ صَلَّى قَاعِدًا بِالْإِيمَاءِ اوکه ده ته مشکله وه رکوع او سجده یعنی په ناسته کی هم، نو لمونځ دی وکړی په ناستی په اشاره

سره یعنی چې پر ناستی قادر وی نو په اشاره سره د پاره د رکوع او سجدی یعنی په سر سره

مسئله: که د سړی تندی تبی وو او پر پڑه یې سجده کولای سوای نو ده ته ایماء یعنی اشاره نه ده روا، ولی چې دی پر سجده باندی قادر دی «کذا فی السراج وط»

مسئله اوفی النهر: که یو سړی پر ولاړه قادر وو لکن سجده یې نه سوای کولای نو رکعت دی په ولاړی اداء کی چې وخت د رکوع او سجدی راغی کښینی دی او پر رکوع او سجده سره دی اشاره وکړی. او یا دی د ولاړی حځه اشاره د رکوع او سجدی وکړی لکن اول افضل دی، ولی چې ناسته و سجدی ته نزدی ده کذا فی التبیین «وط قال

وَجَعَلَ إِيمَاءَهُ لِلسُّجُودِ أَخْفَضَ مِنْ إِيمَائِهِ لِلرُّكُوعِ او ګرځوی دی اشاره خپله د سجدی د پاره کښته تر اشاره د رکوع د پاره، اوکی سر کښته نه کی د سجدی د پاره تر رکوع په اشاره سره

فَإِنْ لَمْ يَخْفِضْهُ عَنْهُ لَا يَصِحُّ لمونځ به نه دی صحیح «پدی سبب چې اشاره د رکوع او سجدی د پاره بدل دی د حقیقت د رکوع او سجدی څخه په حقیقت د سجدی کی خو سر تر وخت د رکوع کښته دی» وللبدل حکم المبدل عنه «د

مسئله: اشاره کوونکی ته دا شرط نه ده چې په قدر د طاقت به سر د سجدی د پاره تر رکوع کښته کوی بلکه لږ څه کښته والی هم کافی دی، بلکه د رکوع او سجدی د پاره هم نهایت کوشش شرط نه دی، بلکه لږ څه هم کفایت کوی، کذا فی النهر عن المجتبی و در»

مسئله: که دیو سړی پر حلق زخم وو چې سجده یې نه سوای کولای، او قیامه او رکوع یې کولای سوای په فتح القدیر کی وائی چې د اسړی دی په ناستی لمونځ په اشاره وکړی. او دا هم افضل کار دی، اوکه قیامه او رکوع وکړی او د سجدی د پاره کښینی اشاره وکړی هم روا ده، او امام حلبی وائی چې باید په هغه صورت کی چې پر قیام قادر وی او د رکوع او سجدی څخه عاجز وی، د ولاړی حځه اشاره دی افضل وی تا چې د خلاف څخه ووزی، ولی بعض علماء وائی چې قادر ته پر قیام باندی ولاړه شرط د لمانځه ده، لکن په بحر راائق

کی وائی چی ظاهر المذهب دادی چی ایماء قائِمًا وقاعدًا دواړه روادی: واللهُ أعلم، وقال

وَلَا يَرْفَعُ لِوَجْهِهِ شَيْئًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ فَإِنْ فَعَلَ وَخَفَضَ رَأْسَهُ صَحَّ وَإِلَّا لَا

اوبه دی پورته کول کیږی د مریض وبخته یوشی چی دی سجده پرې وکړي پرهغه شی باندی اوکه یه داعنسی وکړي سکوه، اومریض هم درکوع دپاره لږ سرکښته کی اود سجدی دپاره ترهغه لږ بالا یه کښته کړي لمونځ یه صحیح دی، اوکی بیخی سرنه کړي کښته بلکه صرف چا یه وتندی ته ډیره یا پالک بالښت وغیره ورپورته کړي لمونځ یه نه دی روا، ولی چی ایماء درکوع اوسجدی دواړه نیستی سوه اوکی درکوع دپاره خو سرکښته کړي لکن سجدی ته ئی نور نه کی کښته م یه لمونځ نه دی روا، ولی چی ایماء د سجدی یه وینه کړه، په حدیث مبارک کی راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسّلام دیو مریض پوښتنی ته وَرَغلی نو علیه الصلوٰة والسلام وَلیدی چی دې مریض سجده پر بالښته کوله، نو علیه الصلوٰة والسلام بالښت ځندی وَغورځوی اوبله وخ چی وَرَغلی هغه پر تخته دلرګی سجده کوله» نو علیه الصلوٰة وَالسلام هغه لرګی هم ځندی وغورځاوه.

اوورته وې ویل چی لمونځ کوه پر مځکه یعنی سجده» اوکه دی طاقت نه وو بیا اشاره کوه اوسجده ترکوع کښته کوه، اوپه حدیث کی چی طبرانی یه روایت کړی دی داسی راغلی دی» مَنْ اِسْتَطَاعَ مِنکم ان یَسْجُد فلیَسْجد» یعنی پر مځکه» وَمَن لم یستطع فلا یرفع الی وَجهه شیئًا یَسْجُدُ علیهِ وَلیکنْ فی رکوعِهِ وَسُجُودِه یُومِی بِرَأسِهِ، اوامام طحطاوی صاحب ځنډ د مجتبی داسی نقل کړی دی» چی ماته اشتباه وه په کیفیت داشاره درکوع اوسجدی په دی کی چی لږ لږ وَالی کافی دی اوکه په غایت قدرت سره کږ والی لازم دی، وروسته ماروایت د شیخ الاسلام پیدا کړی چی هغه والی چی مُومی یعنی اشاره کوو نکی: إذا خَفَضَ رَأسَهُ للرکوعِ شیئًا ثُمَّ للسُّجُودِ شیئًا جازَ»

پوه سه: چی په شرح کی د مقدسی د امام اعظم ځنډ داسی روایت نقل کړی دی چی مریض که داشاره ځنډ عاجز وو، اوصرف سر یې خوراوه درکوع اوسجدی دپاره روادی اوابن الفضل وائی چی داسی نه دی روا، ولی چی مریض لږ ایماء لازمه وَه اوهغه ده وینه کړه، امام طحطاوی وائی چی قول د ابن الفضل مشهور دی په مذهب کی یعنی روایة عن صاحب المذهب. قالَ المُصنفُ:

وَإِنْ تَعَسَّرَ القُعُودُ أَوْمَأَ مُسْتَلْقِيًا أَوْ عَلَى جَنْبِهِ وَالْأَوَّلُ أَوْلَى

اوکه چیری مشکله وَه مریض ته ناسته، یعنی بی ناسته کولای سوای په تکیه سره وَه بالښته ته، مثلًا بیله ضرره، اوکی پریوه وَل قعودی یه بی ضرره کولای سوای یا قعوده پرلازمه ده مرض» نو بیادی لمونځ په اشاره کوی ستنی ستنج، اویا پر ښی بغل باندی، او استلقاء بنه ده ترجنب،

پوه سه: چی په دی مسئله کی دری مذهبه دی کما فی الطحطاوی اول مذهب دادی چی مریض اختیار لری که استلقاء کوی اوکه پر بغل پریوزی کدخو هم استلقاء اولی ده داخو حکم دی د مشهورو کتابو د فقه حنیفی لکه هدایه اوغنی د شرحو، اوامام شافعی وائی چی استلقاء هلته روا ده چی د بغل د پریوتو ځنډ عاجز وی دوهم مذهب هم داغه دی اودریم مذهب دادی چی پر بغل لمونځ هلته روادی چی د استلقاء ځنډ عاجز وې، **پوه سه:** کی پر بغل لمونځ کاوه نور استه اړخ افضل دی، ط دلیل د اولویت د استلقاء دادی» چی یوخو په حدیث شریف د ناستی د تعریف باب کی داسی راغلی دی، فان لَمْ یَسْتَطِع فَعَلَی قفاه» کی طاقت د قعود نه وو نو پرښتې باندی دی پریوزی، اود جَنب ذکر په دغه حدیث کی نسته، اوبل دا چی په استلقاء کی توجه وقبلی ته د پروی تر بغل، قال المُصنفُ:

لِيُصَيِّرَ مُوَاجِهًا إِلَى القِبْلَةِ لَا إِلَى السَّمَاءِ وَيَجْعَلُ تَحْتَ رَأْسِهِ وِسَادَةً

اوودی وګرځول سی لاندی تر سر

د مریض چې په استلقاء لمونځ کوي يو بالښت تاچې دی مخامخ سی وقبلی ته نه د
اسما رخواته، قال المصنف:

وَيَنْبَغِي نَصْبُ رُكْبَتَيْهِ حَتّٰى لَا يَمُدَّهُمَا إِلَى الْقِبْلَةِ

اوښه کاردی چې مریض دی په وخت کی د استلقاء زنګنونه جګ ودروی یعنی کی قدرت
وو، دی دپاره چې پښې ده قبلی وخواته ونه غوړیږی چې دا غزول دپښو وقبلی ته
مکروه دی، درولیش وائی: چې مریض ته دپښو غزول وقبلی ته مکروه نوجوړسوی
ته په طریق اولی مکروه دی، لکه بعض کسان چې کوی، قال المصنف:

وَإِنْ تَعَذَّرَ الْإِيمَاءُ أَخَّرَتْ عَنْهُ مَا دَامَ يَفْهَمُ الْخِطَابَ قَالَ

اوکه چیری سخته سوه اشاره په ټولو اقاموسره نولمونځ ځندی ځنډوی ترڅو چې دی په خبرو

فِي الْهِدَايَةِ هُوَ الصَّحِيحُ وَجَزَمَ صَاحِبُ الْهِدَايَةِ فِي

مړ وئیلی دی په هدایه کی دا قول صحیح دی، اوحکم کړی دی صاحب هدائی په تجنیس

التَّجْنِيسِ وَالْمُرْقِدِ بِسُقُوطِ الْقَضَاءِ إِذَا دَامَ عُجْزُهُ عَنِ

کی اومرقد کی چې قضاء ځندی ساقطه ده ترڅو چې عجز باقی وی

الْإِيمَاءِ أَكْثَرَ مِنْ خَمْسِ صَلَوَاتٍ وَإِنْ كَانَ يَفْهَمُ الْخِطَابَ

داشاری کولو زیات تر پنځو لمونځو، اوکه څه هم په خطاب سړه پوهیږی

وَصَحَّحَهُ قَاضِيخَانْ وَمِثْلُهُ فِي الْمُحِيطِ

اوداقول صحیح ګنړلی دی په قاضیخان کی اوپه مثل دده په محیط کی.

قال المصنف: وَاخْتَارَهُ شَيْخُ الْإِسْلَامِ وَفَخْرُ الْإِسْلَامِ وَقَالَ فِي

او اختیار کړی دی داقول شیخ الاسلام یعنی خواهرزاده، او فخر الاسلام یعنی الامام السرخسی. او په

الظَّهِيرَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى وَفِي الْخُلَاصَةِ هُوَ الْمُخْتَارُ وَ

په ظهیره کی وائی پر داغه باندی فتوی ده، او په خلاصه کی وائی داغه مختار قول دی، او

صَحَّحَهُ فِي الْيَنَابِيعِ وَالْبَدَائِعِ وَجَزَمَ بِهِ الْوَلْوَالِجِيُّ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ

دغه رنګه په تاتارخانیه کی وائی دا صحیح قول دی. او پر داغه باندی الولوالجی هم حکم کړیدی

وَلَمْ يُومِ بِعَيْنَيْهِ وَقَلْبِهِ وَحَاجِبَيْهِ

او اشاره به نه کوی هغه مریض چې عاجزه وی د
اشاری څخه په ستر ګوسره اونه په زړه سره اونه ده صحیح په ورځوسره. ولی چې سجده په
سر پوری تعلق لری نه په ستر ګوسره اونه په زړه پوری اونه په ورځو پوری، نوبدل
دسجدی چې ایماء ده په حال کی دعجزهم په سر پوری تعلق لری.

پوښتنه: چې امام زفر وائی چې دغه مریض دی په اشاره کوی په ستر ګو او
زړه سره، اوکه بیا جوړسو هغه لمونځ دګرا ګرځوی، او په بعض روایاتو کی دامام
زفر داسی نقل سوی دی، چې اول خو دی اشاره په ورځو سره کوی، ولی دوی سر ته
نژدی دی، که دهغه څخه هم عاجزه وو نو دی اشاره په زړه کوی، او حضرت الامام شافعی
وائی چې اشاره دی په ستر ګو او په زړه کوی. او امام الحسن وائی چې اشاره دی په ورځو
او زړه کوی. او چې جوړسی لمونځ به بیرته ورا ګرځوی، او د امام ابی یوسف څخه روایت
دی چې مریض چې دسر اشاره څخه عاجزه سی، نو خاص په ستر ګو اشاره وکړی ده، نه
په زړه سره، او د حضرت الامام محمد څخه چا په دی بارہ کی پوښتنه وکړه. ده ورته ووویل
چې زه شک نه لرم چې اشاره په سر خو راده» لورود النص به، او په دی کی هم شک نه

لږم چې په زړه خو اشاره نه ده روا، ولې چې اصل سُجده خو اعمالو څخه دجوارحو ده نو
بدل یې هم باید فعل دَجوارحو وي، او په دې کې شک یم چې اشاره په وَرځو به روا وي
او که نه، کذا فی الکفایه» دې ته ویلو جواب دادی چې ایماء بالرأس په حدیث شریف کې
راغلې ده، نو که څوک خلاف القیاس دَه نوهم مونږ یې لازمه بولو پر عاجز باندې، اود
اصولو اصلم قانون دی چې یو حکم چې په نص سره خلاف القیاس ثابت سی، بل شی بیا نه
پرقیاس یې ږی، اود مجتهدینو پردې خبره اتفاق دی چې نصب د ابدالو په رأیه سره ناروا
دی، په حدیث مبارک کې خو اسې راغلی دی: یُصَلِّی المَرِیضُ قَائِمًا فَاِن لَم یَستَطِع فَقَاعِدًا
فَاِن لَم یَستَطِع فَعَلَی قَفَاهُ یُومِی اِیمَاءً فَاِن لَم یَستَطِع فَاللّٰهُ اَحَقُّ بِقَبُولِ العُذرِ مِنهُ»
دروښې وائی:

چې داخیرې جملې دحدیث په معنی کې اختلاف دی، بعض علماءو یې معنی داسې کوی چې خدای
جل شانه دده څخه عذر تاخیر دلمانځه قبلوی، نوحاصل داچې که جوړ شو د غولو نحو
قضاء به راوړی، او اکثر علماء لکه چې عنقریب تیره سوه ترجمه ده حدیث کې داسې کوی
خدای جل سلطانه قبول دعذر استقاط دده څخه کوی یعنی چې جوړ سی د غولو نحو
قضاء پرې نسته» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَاِن قَدَرَ عَلَی القِیَامِ وَعَجَزَ عَنِ الرُّکُوعِ وَالسُّجُودِ صَلّٰی قَاعِدًا بِالاِیمَاءِ

اوکه چیرې یومریض خوپرولاړه قادر وو لکن رکوع او سجده یې نه سوای کولای نولمونځ دې پرناستې په اشاره سره وکړی، دروښې وائی چې دا بیان دافضل وُو، ورنه اشاره دولاړې څخه هم روا ده وجه دافضلیت یې داده چې دې په ناسته کې، وحقیقی رکوع اوسجدې ته نژدې دې فیمکن ان یقرب البدل وهو الایماء ایضا منه»

داکتاب دعلامه قندهاري: نوشته کړه فضل حق حقاني: اللهم اغفر لها ولوالديها آمين

قَالَ المُصَنِّفُ: وَاِن عَرَضَ لَهُ مَرَضٌ یُتِمُّهَا بِمَا قَدَرَ وَلَو بِالاِیمَاءِ

فِی المَشهُورِ اوکه پیښ سوو لمونځ کوونکی ته مرض په لمانځه کې یعنی شروع دلمانځه
خوبې په حال کې دصحت وکړه لکن په مابین کې دلمانځه مرض ورته
پیښ سُو، نولمونځ دې لپسې پوره کړی پرهر دَول چې دې قادر وو، که څوم په اشاره
سره وې په مشهور روایت کې قَالَ المَرَاقِی وهو الصَّحِیح» حاصل داچې دامریض دې
هغه کړی بعض لمونځ دصحت په وخت کې نه پرې دې، یعنی ددې دَپاره چې دسره
څخه بې یک لخته په اشاره وکړم: وَلَا تُبطِلُوا اَعمَالَکُم» نص قرآن دی» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَلَو صَلّٰی قَاعِدًا یَرکَعُ وَیَسجُدُ فَصَحَّ بَنٰی وَلَو کَانَ مُومِیًا لَا

کې چیرې یومریض لمونځ په ناستې کاوه، اورکوع اوسجده یې کوله بیا نوجوړ سو یعنی قادر
سو پر ولاړه دوَلاړې لمونځ دې وکړی یعنی پرښاء دې کړی ولې چې بناء خوله اقتداء ده او
اقتداء دقائم په قاعد لپسې خُوږواده نوبناء هم روا ده، په نیږدې شیخینو خلافاً
لمحمد دروښې وائی چې دې رکوع وَسجُود آه فائده داده چې که دمریض تر رکوع او
سجدې کولو دمخه جوړ سو بیا خو بناء اتفاقاً روا ده، ولې چې بناء دقوی پرضعیف
نسته په اتفاق سوه، اوکې لمونځ په اشاره کاوه اوبیا جوړ سو یعنی پر رکوع او
سجدې باندې قادر سو بناء دې نه کوي، بلکه لمونځ دې دسره راګرځوی» لما فیه
من بناء القوی علی الضعیف»، م قَالَ المُصَنِّفُ:

وَلَو جُنَّ اَو اُغمِیَ عَلَیهِ خَمسَ صَلَوَاتٍ قَضٰی وَلَو اَکثَرَ لَا

اوکه پرسړي لیونتوب راغلی لکن په آفت اسمانی سوی کما فی المراقی، اویا بې هوښه سوکه څوم
دیوه درنده څخه ډلیدو په سبب د بیهوشی سوی وي، اوتر پنځو لمونځونو پورې یې لیونتوب
یا بیهوشی دوام وکړی اوبیرته جوړ سو او یا په سد کې راغلی د دغو لمونځو قضاء به راوړي

اوکه تر پنځه لمانځه بالاسو چې د شپږم لمانځه وخت تیر سو بیا د لمونځو قضاء نسته باندې طحطاوي وائي چې دا قول د امام محمد دی اوڅه قول تصحیح په اکثرو معتبرو کتابونو کې سوېدې، « مجمع الانهر »

او ابن امیرحاج وائي چې قول د امام محمد د حقه سره ډېر مشابه دی، ولې ساقطوونکی د قضاء وقوع فی الحرج دی او وقوع فی الحرج هلته راځي چې قضائي لمونځونه وحدته د تکرار داخل وي، « پوه سه »: چې مراقي آفت سماوي ذکر کړی ددی سببه که د سړي عقل په شرابو خوړلو سره زائل سوی وی، پرهغه باندې قضاء د لمونځو لازمه ده که څه هم ډېره زمانه پر تیره سې، ولې چې دا زوال د عقل وده ته په مصیبت سره حاصل سو نو ددی لائق نه دی چې دده سره شریعت تخفیف وکړي. نو هم دا سبب دی که د چا عقل په آفت سماوي سره زائل وی د هغه طلاق نه واقع کیږي اوکه د شرابو په خوړلو سره یه عقل زائل سوی وو د هغه طلاق واقع کیږي » اوحضرت الامام الاعظم رضي الله عنه وائي که چا کمه دوا یا ګولی د نشې خوښې وی هرڅونه ډېر چې نشه وی قضاد لمونځو چې په هوش کې راسي باندې سته، په دلیل ددی چې سقوط د قضاء په حدیث سره سوی دی اوحدیث شریف په آفت سماوي کې راغلی دی، نو هغه نشه چې دده په فعل سره یاد ډاکټرو په فعل سره سوی وي هغه پرآفت سماوي نه قیاسیږي. او په بعض روایتو کې راغلی چې جنون مطلقا که ممتد وی اوکه غیر ممتد وی قضاء د لمانځه ساقطوی « کذا فی البرهان » لکن معتبر کتابونه د فقهی شریفې پرهغه روایت دی په جنون کې هم امتداد شرط دی.

مسئله: کچیرې پرسد وال لره د مجنون او یا بیهوشه وقت معلوم وو، لکه یو سړي چې بې سده وی د شپې چې سپیدی راوچوی نو په سد کې راسي او یا بیرته بې سده سی، نو دا افاقه دده اعتبار لري په دی معنا چې هغه د مخه بې سدتیا په اسقاط کې د قضاء اعتبار نه لري. که د مخه اغماء تر شوارو ز کمه وه، بلکه وروسته اغماء په اعتبار لري، چې خونه اندازې ته رسیږي، اوکې افاقت لره وقت معلوم نه وو یعنې ګاهې بې خبرې د ځوړو خلګو وکړي او بیرته بې سده سو، دی افاقت ته اعتبار

نسته کذا فی التاتارخانیه » په دی کې بیان د هغه فائدې قید چې مراقي راوړی دی د اغماء سره. واستمر سبب، ظاهره سوه فتدبر

فائده: هغه قول چې مصنف وئیلی دی چې لمونځونه چې تر شپږم بالاسې نو قضاء ساقطه ده هغه قول د امام محمد و کماشف او حضرت الامام الاعظم او امام ابویوسف تجاوز د جنون او اغماء تر یوه شبانه روزه په ساعا توسره وائي که څه هم یوګړی تجاوز وکړي » ولې چې تجاوز په ساعا توسره منقول دی د حضرت علي رضي الله عنه او ابن عمر رضي الله عنه نو هغه اولی بالعمل دی » ولې چې مقدارونه چې دی په رایه نه معلومیږي مثلا یوسړی په ثابنت کې بې سده سو:

او دا بله وړځ تر زوال د څه یوساعت پرسدر راغلی، نو په نیز شیخینو قضاء د لمونځو باندې نسته ولې چې د ساعتو په حساب تر شبانه روز بالاسو او امام محمد په نیز قضاء پرسته، ولې لمونځونه په وحدته تکرار نه دی رسیدلی،

فائده: امام طحطاوي وائي چې اعذار عقلیه درې قسمه دی » یو ممتد دی جدا لکه کشنی والی هغه خو مسقط د تهولو عباداتو د فرضیت دی، او بل قاصر دی جدا لکه خوب هغه مسقط د هیڅ عبادت نه دی ولو طال جدا نادرا » او بل په مابین کې د ممتد او قاصر دی چې هغه ته اغماء وائي، نو دا که اغماء ممتد سې حکم د صبا لري اوکه لږ وی حکم د خوب لري » ذکره الحدادی »

فائده: اغماء په روژه او زکوة کې کار نه لري، ولې یوه میاشت پوره او یا یوکال بسته اغماء نادره نه ده جدا ولا اعتبار للنادر فی الاحکام الفقهیه » بخلاف الجنون فانه یمتد الی الاعوام کثیرا، فیعتبر فی سقوط العبادات » والله اعلم بالصواب »

محترمو لوستونکو! دا پښتو شرحه د نور الایضاح جلد دوم برتا سوته د مکتبة القراءة والتجوید له خوا نشرته وسپارل سې ولې چې حضرت ایوبي په حقوق وهم دې اداري ته وکړي،

فَصْلٌ فِي إِسْقَاطِ الصَّلٰوةِ وَالصَّوْمِ

د افضل دی په بیان کې د لمانځه او روژې ساقط والی د لمانځه او

إِذَا مَاتَ الْمَرِيضُ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الصَّلٰوةِ بِالْإِيمَاءِ لَا يَلْزَمُهُ

که چیرې مریض مړ سو او دی قادر نه و و پرلا نځه په اشاره یعنی په سر سره، نو پرده لازمه

الْإِيصَاءُ بِهَا وَإِنْ قَلَتْ

نده وصیت په هغو لمونځو سره که څوهم لږ وي، یعنی د طرفه څخه د خدای حکم دادی چې پرده نه د لازمه وصیت کول په فدیه د هغو لمونځو که څوهم لږ وي، یعنی د شپې او ورځې تر لمونځو کم وي، دلیل په هغه د مخنی حدیث دی چې خدای پاک د مریض عذر منی، هغه علماء چې د قبول العذر معنا په جواز التاخیر کوي، د هغوی پر مذهب خو په دی سبب پرده وصیت د لمانځه نه دی لازم چې د غه میت قدرت نه دی پیدا کړی د قضا پر، او ورو ولی په هغې نا جوړې کې مړسو. او قدرت خو شرط د تکلیف دی» لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا» آیة کریمه دی، او هغه مشائخ چې د قبول العذر تفسیر په سقوط سره کوی د هغو پر مذهب خو نه لازم والی د صیت ظاهر دی. ولی چې د دې په ذمه کې لمونځ نسته، اعلم چې نص خو په روژه کې سته چې ساقط یې د ذمې څخه د مړې په فدیه سره او امام طحطاوی وائی چې د ټولو مشائخو اجماع ده پردی باندې چې لمونځ لکه روژه دی استحساناً» ولی چې لمونځ تر روژې اهم دی»

لکن اختلاف د مشائخو په دې کې دی چې آیا د ټول شپې او ورځې لمونځونه لکه یوه روژه دی په فدیه کې او که هر لمونځ جلا لکه یوه روژه دی په فدیه کې. اعتماد د دې دوهمې رأیې دی» نو بناءً علی هذا هغه جاهلان چې وائی چې اسقاط د لمانځه هیڅ اصل نلري، دا په د مذهبه څخه لیرې خبره ده، ولی چې دا خبره د دوی انکار دی د امر متفق علیه څخه په مذهب کې:

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَكَذَا الصَّوْمُ إِنْ أَفْطَرَ فِيهِ الْمُسَافِرُ وَالْمَرِيضُ وَمَاتَا**

او داغه رنګ روژه د میاشتې د روژې چې وصیت په فدیه نه دی پرلازم که چیرې روژه وخوړل مسافر یا مریض په میاشت کې د روژې او دوی مړه سوه مسافر د مخنۍ مقیم والی او مریض د مخنۍ ترجو والی ولې چې خدای پاک د روژې په باره کې وائی: فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ» او دی دوو کسانو نوخو عدت من ایام اُخر نه دی پیدا کړی، نو ځکه وصیت هم نه دی پرلازم» قَالَ الْمُصَنِّفُ

قَبْلَ الْإِقَامَةِ وَالصِّحَّةِ

مسافر یا مریض په میاشت کې د روژې او دوی مړه سوه مسافر د مخنۍ مقیم والی او مریض د مخنۍ ترجو والی ولې چې خدای پاک د روژې په باره کې وائی: فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ» او دی دوو کسانو نوخو عدت من ایام اُخر نه دی پیدا کړی، نو ځکه وصیت هم نه دی پرلازم» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَعَلَيْهِ الْوَصِيَّةُ بِمَا قَدَرَ عَلَيْهِ وَبَقِيَ بِذِمَّتِهِ

اولازمه پرده وصیت کول په فدیه د هغو روژو چې دی پر قادر سوی وی پرهغه روژو باندې او د دې په ذمه کې پاتې وي، د رولیش والی چې تفصیل دی مسئلې دادی، چې که یو سړی په میاشت کې د روژې په روژه خوړلې وه لکن بیله عذره پرهغه خو وصیت په فدیه لازم دی که څوهم عِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ» په نه دی پیدا کړی، ولې چې تقصیر ده د خوا دی، ولی په بې عذره روژه خوړله، او که سړی روژې په میاشت کې د روژې په عذره سفر یا ناجوړې مثلاً لس روژې وخوړلې، او ورو سته مقیم سو مُسَافِر او یا جوړ سو مریض ورو سته تر پنځو ورځو مثلاً هغه مسافر مړسو او یا مریض مړسو، نو پردی دواړو لازمه دی وصیت په فدیه د پنځو ورځو ولې چې قدرت خو دوی پیدا کړی، مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ»

مسئله: د ما بقی فی ذمته د قسمه څخه دی، روژې د کفارة الصوم، روژې د کفارة الظهار، او روژې د جنایت پر احرام او نذري روژې» یعنی د ټولو د پاره وصیت کول په فدیه لازم دی» و فی الدر المختار» ماحاصله دادی» که د میت په ذمه کې عبادت بدنی وو لکه لمونځ روژه، نو وصی د مړې دی پسله مرګه دده پر واجب فدیه ورکړي، او که په ذمه کې دده عبادت مالی وو لکه زکوة وغیره، هرمقدار چې دده په ذمه کې وو هغونه دی ورکړي، او که مرکب وو، د بدنی او مالی څخه لکه حج نو یو سړی دی واستوی

حج ته دمړی د مال څخه، قال المصنف:

فَيُخْرِجُ عَنْهُ وَلِيُّهُ مِنْ ثُلُثِ

مَا تَرَكَ لِصَوْمِ كُلِّ يَوْمٍ وَلِصَلٰوةِ كُلِّ وَقْتٍ حَتَّى الْوِتْرِ نِصْفَ

نوری: یعنی ولی د مړی د مال څخه (یا د وراثت دلاری یا د وصایه دلاری) د دریمی حصی څخه د مال متروک د مړی ولی چی حق د مړی پرې وخت کی د مرض الموت د دوه د دریمو حصه کی دی د مال دده او دوی حصی د میراث خوری دی. نو کړده وصیت کړی خو جبراً پرې دی ولی

صَاعٍ مِنْ بُرٍّ أَوْ قِيمَتُهُ وَإِنْ لَمْ يُوصِ وَتَبَرَّعَ عَنْهُ الْوَارِثُ

جَازَ د مړی اجراد جمعه، فدیه د روژی د هغو څو ورځو چی اوده لمانځه د هروخت حتی د وتر د فدیه خپله کامړ غنمو او یا قیمت د غنمو کاسی. او کړ مړی وصیت نه د کړی او تبرع یعنی احسان د کړی د مړی څخه میراث خور یعنی د فدیه د ورکولو په وجه څخه هم روا ده.

پوښتنه: چی مصنف په مراقی کی وئیلی دی چی پورد صدقة الفطر، یا پورد نفقه واجبی د مایتی مثلاً، یا پورد خروج، او پورد کفارات مالیه وو، او وصیت په حج څخه او یا نذر کړی حیوانات د روښو، او یا اعتکاف چی ده نذر کړی وی یعنی د روژی فدیه دی ورکړی که څهم لبث فی المسجد کفاره نه لری؟

مسئله: کی یو سړی پرځان اعتکاف نذر کړی وو، او دی چی وو په دی وخت کی جوړ شو او اعتکاف یه نه کړی نا جوړ سو، او قریب للموت سو نو پرده لازمه ده چی ده روژی د اعتکاف د فدیه وصیت دی وکړی، او که دی مریض وو چی اعتکاف یه نذر کړی او هغه مرض جوړ نه سو، پس مړ سو بیا شی نسته، **پوښتنه**: چی تر غنمو قیمت افضل دی ولی چی د مسکین هر حاجت په، وپوښتنه پوره کیږی،

مسئله: چی میت وصیت و نه کړی او وارث تبرع وکړی په فدیه کی د ما علیه کفایت به وکړی ان شاء الله حضرت الامام محمد په اطعام د صوم د میت تبرعاً وائی یجزیه ان شاء الله او چی وصیت یه وکړی په هغه کی جزماً وائی چی کفایت کوی **مسئله**: که یوکا نه سړی تبرعاً د مړی فدیه ادا کړی هم صحیح ده، او کی وصیت په حج سره کړی وو نو

مړ وو به د ده د کوره څخه رهی کیږی د ثلث مال څخه ورکړی ده، او که نه بیا قولی حج پښی کوی نود هر کایه څخه چی رهی کیږی روا ده. **مسئله**: که مړی ثلث المال دده د وصیه منروو چی ده وصیت په کړی وی اجراء نسوای ویلای نو په ترتیب سره دی دفدیو غاړه وباسی هغه نوری باقی به اخرت ته پاته سی. **پوښتنه**: چی ترتیب دفدایاوو په څه ډول دی؟ مخکی دسراجی د حواشیو و ذکر سوی دی په دیر لبسط او تفصیل سره نو هغه حاشیه باید مطالعه سی، قال المصنف:

وَلَا يَصِحُّ بِأَنْ يَصُومَ عَنْهُ وَلَا أَنْ يُصَلِّيَ

عَنْهُ اونه دی صحیح چی روژه وکسی د مړی د خواخه یعنی که ولی اوکه بل څوك وی، او نه صحیح دی لمونځ کول د مړی د خوا، لقوله علیه الصلوٰة والسلام: لَا يَصُومُ أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلَا يُصَلِّي أَحَدٌ عَنْ أَحَدٍ وَلٰكِنْ يُطْعِمُ عَنْهُ»

پوښتنه: په صحیح حدیث کی راغلی دی: مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ» او په بل یو حدیث شریف کی راغلی دی چی یوی بنځی د علیه الصلوٰة والسلام څخه سوال وکړی چی زما مور مړه سوه او پردی روژی باندی وی. آنحضرت صلی الله علیه وسلم ورته وویل: صُومِي عَنْ أُمِّكِ» **جواب**: فقهاءٌ او محدثینٌ وائی چی دا حدیث منسوخ دی کما فی البرهان» مراقی وائی چی بعض جاهلان عوام و مسکین ته پیسی ورکړی چی زما په پلار سی مثلاً دوه روژی و نیسه یا دوه لمونځونه وکړه، دا هیڅ شی نه دی، بلکه رب جل سلطانه په هغه صدقه او فدیه سره چی شرع شریف مقرر کړیده، وخپل بنده ته تر روژو او لمونځو ورته ثواب ورکړی،

سوال: په فقه شریفه کی راغلی دی چی بنده و بل بنده یا مړی یا ژوندی ته ثواب د خپل عمل بخښلای سی، **جواب**: دا بله خبره ده او صحیح ده لکن روژه د روژی عوض کرځول یا لمونځ د لمانځه جلا خبره ده» قال المصنف:

وَإِنْ لَمْ يَفِ مَا أَوْصَى بِهِ عَمَّا عَلَيْهِ يُدْفَعُ ذٰلِكَ الْمِقْدَارُ

که چیری نه ښکیدلی هغه پیسی چی مړی وصیت په وکړی. او یا د دریمه د مال ده، په نه ښکیدلو

لِلْفَقِيرِ فَيَسْقُطُ عَنِ الْمَيِّتِ بِقَدْرِهِ ثُمَّ يَحْصِبُهُ الْفَقِيرُ

اوبا وصیت گردسره نه ووکړی نویوچا تبرعًا یولږ مبلغ چې هغه دده دروژو اولمونځو کفایه نه سوی

لِلْوَلِيِّ وَيَقْبِضُهُ ثُمَّ يَدْفَعُهُ الْوَلِيُّ لِلْفَقِيرِ وَهٰكَذَا حَتّٰى

کولای نوبیه دې سره صورته کې داسې حیله وکړي چې دې ته په فقه شریفه کې حیلة الاسقاط وایی

يَسْقُطَ مَا كَانَ عَلَى الْمَيِّتِ مِنْ صَلٰوةٍ وَصِيَامٍ

چې دغه لږ مبلغ دهغو روژو اولمونځو چې بسیدی، په هغه اندازه سره یو مسکین تددی ورکړي یعنی تملیکًا، نوبیه هغه اندازه لمونځونه یا روژې دمړي څخه ساقطیږي، اوبیادی فقیر دغه لږ مبلغ بیرته ولی ته وبخښي، اوولی دی قبض کړي، بیادی ولی بیرته وفقیر ته ورکړي په نیت داسقاط دمیت څخه په هغه اندازه لمونځو یا روژو وکې، اوفقیر دی قبض کړي. اوداغه تملیك وفقیر ته اوهبهٔ فقیر وولی ته ترهغو پورې جاری وی څوچې ساقطیږي دمړي څخه ټوله هغه روژې یا لمونځونه چې دده په ذمه کې وه، اویا ساقطیږي نور واجبات چې دمیت په ذمه کې وه، لکه چې د مخه تیره سوه. قال المراقی وهو الملخص فی ذالک ان شاء الله تعالی المبتدی کره

فائده دحیلی څخه داسقاط ټول هغه ډلې چې دمذهب تقلید نه لری سخت منکره دې.
اوپه خپلو رسالو کې او تقریرونو کې داستهزاء په ستر گو وړ ته گوري، دابی مذهب کسان څوك دې، وهابیان، سلفیان، پنجپیریان، دوخت ظواهر الحدیث والا، اودې مجموع ډلوته غیرمقلدین وائی. قال المصنف:

وَيَجُوزُ إِعْطَاءُ فِدْيَةِ صَلَوَاتٍ لِوَاحِدٍ جُمْلَةً بِخِلَافِ

كَفَّارَةِ الْيَمِينِ وَاللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالٰى أَعْلَمُ

اوروا ده وړ کوله لمونځو وپه سړي ته پریوه ځای» په مراقی کې وائی چې دډیرو روژو داهم روا ده دفدئی دډیرو

اوپرخلاف ددی دکفارهٔ قسم چې هغه وپوه سړي ته پریوه ځای نه ده روا، البته وپیوه سړي ته په کراتو روا ده، لکن هره وخ جلاجلا. **پوه سه**: چې دصدقه منذورې ورکړه وپیوی سړي ته پریوه ځای هم روا ده، ط»

مسئله: دهغه کفاراتو فدیه دفع وپیوه سړي ته پریوه ځای هم نا روا ده چې په کی تصریح په عدد سره وی مثلاً کفارهٔ متعین مسکینًا

سبحانه حواله

پوه سه: چې دروښ په رد کی درسالې دامین الله السلفی یوه په نړه پورې رسالې بنه مسدلله رساله، پر بیاض دخیالی لیکلی ده چې نوم یې سیف قندهاری علی عنق امین سلفی دی» او په هغې رسالې کی ټوله هغه څېړی دامین چې دمذاهب اربعو وخلاف وی بلکه داهل السنة والجماعت دعقائدو څخه خلاف دی په اثبات اوحدیث اود مجتهدینو په نقل سره رد کړی دی چې یوه په هغو کی مسئله دحیلة الاسقاط ده»

پوه سه: چې امین پشاوری په دغه رساله کی دیرد بی شرمی څخه کار اخستی دی، دمصنف دکتاب العقائد النسفیة» چې په مفتی الثقلین سره شهرت لری، اوداهل سنت والجماعت لوی امام دی، د تاریخ وړ قی ټولی دده پرجلالت شاهدی دې، امین مذکور دده په شان کی لیکلی دی، وَلَمْ يَكُنْ عَلٰى طَرِيقَةِ السَّلَفِ» اوپه یو بل ځای کی دایسی عبارت لیکلی» لَقَدْ ضَلَّ الْاَشْعَرِيَّةُ وَالْمَاتُرِيدِيَّةُ فِي هٰذِهِ الْمَسْاَلَةِ» اوورته ده بې حیائی الفاظ په شان کی دمعتبرینو داهل السنت والجماعت لیکلی دی، اوچونکه دروښ دیرکلونه دمخه پرشرح عقائد یوه حاشیه کړې وه او تخمینًا ۲۰ کالی کیږی، چې دغه کتاب ده درویش دحاشیې سره دعلماوو متبحرینو دافغانستان اوپاکستان په مدرسو کی وئیل کیږی اوهیڅ چا په رد یې نه دی کړی، اوما په اخیر کی دشرح مذکور یوه حاشیه لیکلی ده چې په هغی کی لس عقائد داهل سنت اوجماعت می جمع کړي وه لکه مسئله دسفر وقبر ته دعلیه الصلوة والسلام اواستمداد ده صالحانو بندگانو څخه دخدای کړو ندی

وی اوکه مړه وی خصوصاً الاستمداد من النبی علیه الصلوة والسلام» اونوری ورته مسئلی
نود امین ددغی حاشیه په متعلق کی دا یی عبارت لیکلی دی»
لقد شرح القندهاری فی تشریکاته، وروسته یه دالسی مسئلی په اقوالو ابن تیمیه الحرونی
او عبدالوهاب النجدی او ابن القیم وغیرهم من ائمته مذهبه» باطلی کړی دوی په گمان،، نو
عاصی په حاشیه کی دخیالی دده دتهولو خرافاتو مسئله په مسئله جوابونه ورکړی دی، دا ټول
باید اهل علم او اهل انصاف مطالعه کړی» تاچی د مذهب د اهل السنة والجماعت ښه
توضیح په ورته وسی او دښمنی د امین سلفی به دوی ته ښکاره ښی، چی په اندازه کی د اهل
السنت والجماعت څخه مخالف دی،
اوخونه دبی شرمی څخه د لته عبارت یه په شان کی د تقلید او د مقلدینو او دوی د کتابونو
فتاواوو په باره کی استعمال کړی دی **پوه سه**: چی د درویش ددی د لوی مذهبو
په رد کی په شرح کی د نورالایضاح هم کافی او په ډیره پوری کړی دی تړدی ځایه د ځغه
ځغه مطالعه کړی.

د تعجب ډکه خبره

دغه دلی د خیر القرون دامامانو مجتهدانو رحمهم الله تقلید نه کوی، او د ورو سته ملایانو
چی د خیر القرون ډیر ورو سته وی دان ته د علم اغلی دی د ځغو ډیر سخت مقلدین
دی او که دوی وائی چی مونږ په قال الله وقال الرسول عمل کوو د چا تقلید نه کوو
داخبره د دوی غلطه ده. ولی چی دوی په هغه قال الله وقال الرسول عمل کوی چی
محمد بن عبدالوهاب یا ابن تیمیه وغیرهما دوی ته یه ترجمه کړی وی، نو مونږ مقلدان
د مذاهب اربعه ووهم په قال الله وقال الرسول عمل کوو لکن په هغه دلو چی
د خیر القرون مجتهدینو یه مونږ ته معنا بیان کړی وی،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن سعی فیه، وقد اهتم بطبعه شمس الحق شمس»

باب قضاء الفوائت

باب ثابت دی په بیان کی د قضاء د اوړلو د قضائی لمونځو

پوه سه: چی لمونځ چی په قصد بیله عذره سړی پریږدی هغه ته متروك وائی. او چی
په عذر څنډی پاتی سی هغه ته فائت وائی» قضاء د اول خود اړول لازمه ده لکن په
اول صورت کی گناه کار دی توبه پرې لازمه ده. او په دوهم صورت کی گناه نسته ولی چی
معذور گناه کار نه دی» نو اوس سئوال ددی دی چی مصنف باید په عنوان کی د باب
داسی وئیلی وای» باب قضاء الفوائت والمتروکات» لیشمل قضاء الصنفین» جواب
مصنف بناء پر حسن ظن پر مسلمان متروکات نه وه وئیله یعنی مصنف پر مسلمانانو ښه
گمان کوی چی مسلمان به په قصد بیله عذره لمونځ نه پریږدی البته عذر به لری فافهم

فائدة سنية

پوه سه: چی په نورالانوار، طحطاوی، فتح القدیر او نورو کتابونو د
اصولو او فقه شریفه وائی چی مامور به دری قسمه دی اداء، قضاء، اعاده
اداء هم دری قسمه ده، اداء کامله ده لکه لمونځ په جماعت سره، اداء قاصره لکه
لمونځ بی جماعته یعنی یوازی بیله عذره، وجود قصور یه داده چی د لمانځه یو رکن یا وصف
چی جماعت دی په کښی فوت شو، اداء شبیه بالقضاء ده یعنی په حقیقت کی خو
اداء وی لکن مشابه د قضاء سره وی، لکه دسړی څخه چی اول د لمانځه امام تیرسوی وی
نو څرنگه چی امام سلام وگرځوی، مقتدی چی په اصطلاح کی لاحق بولی هغه تیرسوی
لمانځه ته والاړسی،
نو د غه لمونځ چی لاحق یه کوی په واقع کی خو اداء ده چی په خپل وخت کی لمونځ دی، لکن چونکه
مقتدی په سبب د اقتداء با الامام لمونځ د امام سره پرځان لازم کړی وو، او د اوس
لمونځ د ده هغسی نه دی نو شبیه بالقضاء وی ته وائی» **فائده**: مصنف په مراقی

کی وائی چی قضاء په لغت کی حکم ته وائی. نو هم دا سبب دی چی قاضی ته د محکمی قاضی وائی
او په شریعت کی اسقاط دی د واجب په مثل سره د هغه د خپل خوا نخه،

پوه سه: چی ورته عبارت په ورته کتابونو کی د فقهی شریفی اعلی دی، لکه امام محطاوی وائی چی قضاء په عین هغه سبب سره واجبه ده چی په هغه سبب سره اداء واجبه وه. نو بناءً علی هذا قضاء تسلیم د عین واجب دی د مثل د واجب نه دی، لکن دا قدر په فرق دی چی اداء تسلیم د عین واجب دی په خپل وخت کی او قضاء تسلیم د عین واجب دی په بله خروجه د وخت، نو دی وائی چی دا قول د مصنف چی په مثل سره مبنی دی پر مرجوح مذهب باندی، هغه دا چی بعض فقهاء وائی چی وجوب د قضاء په سبب جدید سره دی، او دا اوس قضائی لمونځ چی سړی کوی په دی سبب مثل د واجب دی آده،

دروئیش وائی چی دا اختلاف چندانی اختلاف نه دی، ولی چی د عین واجب او د مثل د واجب اطلاق پر قضائی د لمانځه د واړه روا دی، په دوه اعتبار. په اعتبار د دی چی سبب د قضاء عین سبب د اداء دی لکه مذهب راجح چی دی پر قضاء اطلاق د عین واجب صحیح دی، او په دی اعتبار چی د دی وقت د قضاء عین وقت د اداء نه دی اطلاق د مثل الواجب پر قضا هم صحیح دی، فلا حاجة الی حمل کلام المصنف علی القول المرجوح کما حمله الطحطاوی، بل الاختلاف المذکور اختلاف الخر لا دخل له فی اطلاق العین او المثل فافهم، او اعاده د لمانځه اگر څوک د لمانځه دی پخپل وخت کی په سبب د نقصان ماسوا د فساد نخه، ولی فقهاء وائی چی هر لمونځ چی سره د کراهة تحریمی اداء شو اعاده یه پر واجب ده، په هغه وخت کی، او مندوبه چی د وخت تیر سی، او مصنف چی په مراقی کی قید د واجب وو ایه اشاره یه وه دی ته وکړه. چی د سنتو اگر څوک لوته قضاء نه ویل کیږی. مثلاً شارع م امر کړی چی د سړی څخه د سحار لمونځ قضاء سی نو چی فرض اگر څوی سنت دی هم اوگرځوی. لکن پر عبارت د مصنف د سنت اگر څوک لوته قضاء نه وائی. اوکه په ځای کی د واجب عبادت ذکر سی او د اسی وویل سی چی اداء کول د عبادت

د ې پخپل وقت متر کی او قضاء مثل د عبادت دی په بل وخت کی نو قضاء ته سنتو چی شارع امر په قضاء سره کړی هغوته هم شامل یږی، فافهم قال المصنف:

التَّرتِيبُ بَينَ الفَائِتَةِ وَبَينَ الوَقتِيَّةِ

او ترتیب په مابین کی د اوترشپږ لمانځه کمووی یعنی چی د وختی لمانځه وخت فراخ وی چی قضائی او د وختی د واړه په کښی ځائیږی، اوکه وخت تنګ وو د اصله ځخه نکه د مابنام لمونځ او یا په صبح د مصلی تنګ سو مثلاً د مابنین د لمانځه وخت خو په اصل کی فراخ دی لکن مصلی د مابنین له لمونځ وځنډاوه چی اوس د واړه په کښی ځائیده نو بیا ترتیب ساقط دی د وختی لمونځ دی وکړی او بل شرط د دی چی قضائی لمونځ یه پیاد وی او کی هغه هیر وه بیا هم ترتیب ساقط دی، قال المصنف:

وَبَينَ الفَوَائِتِ مُستَحَقٌ

او په ترتیب کول دی د وختی لمانځه او د قضائی لمانځه په معنی د دی چی قضائی د دی د وختی د ځخه اگر څوی، او غه ترتیب په خو دی قضائی وو کی مثلاً د سړی ځخه د مابنین ما زدیگر ما بنام لمونځونه قضاء سوی وه. نو د قضاء راوړو په وخت کی به اول د مابنین لمونځ اگر څوی او بیا دی د ما زدیگر لمونځ وروسته د ما بنام لمونځ، دا ترتیب د واړه مستحق اولازم دی،

پوه سه: چی ترتیب فرض عملی دی کی څوک ونه کړی مثلاً د وقتی او قضائی لمانځه ترمابین وقتی لمونځ یه نه دی صحیح ببیره اگر څوی چی قضائی ورو سته سی، وکذا بین الفوائت،

فائده: حضرت الامام احمد بن حنبل وائی که سړی په قصه بیله عذره لمونځ قضاء کړی پر هغه یه قضاء نسته، ولی د دی امام په نیز د اسړی مرتد سو، او مرتد چی توبه وکا نی په قضاء ما تر که نه دی مامور ط، **فائده:** تر وله عمر وخت دی د قضائی لمونځو بیله د رځ او قات مکروهه وو، او په قهستانی کی وائی چی قضاء لمانځه واجبه علی الفور ده په نیز د امام ابو یوسف او علی الفور واجبه ده په نیز د امام محمد،

وعن الامام اعظم فیه روایتان، **فَائِدَه**: په مجتبی کی وائی چی قضاء راوړه د لمونځو نه څوم واجب علی الفوره، لکن په عذر سعی د نفقه د عیال او یا نور د حوائجو په تاخیر سره سړی ګناه ګار نه دی، ط

فَائِدَه مصنف: په مراقی کی دلیل د وجوب د ترتیب هغه حدیث بولی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل که سړی بیده سوی یوه لمانځه څخه او یا یه هیروی نو هغه قضائی لمونځ هلته وړه، ترڅو چی یاد سوی دی د امام سره پر بل لمانځه فلاړ وی، نو هغه لمونځ دی د امام سره تر پایه وړسوی. او بیا دی قضائی لمونځ را اوګرځوی. او وروسته دی بیرته هغه لمونځ وکړی چی امام سره کړی وی، یعنی هغه د امام لمونځ یه نفل سوی، مراقی وائی چی د احدیث مشهور دی او تولو امت قبول کړی همدی، نو په دا سی حدیث سره فرض عملی ثابتیږی. او بل دلیل د ترتیب دفوائتو ترمابین هغه حدیث دی د بخاری وغیره چی د علیه الصلوٰة والسلام څخه چی څولمونځونه په غزوة الخندق کی قضاء سوه نو په ترتیب سره ئی را اوګرځول، او ددلیل وائی چی تفصیل د قصی د غزوة الخندق چی دیره وخت امیزه قصه ده د دلیل په کتاب البلاغ المبین کی مطالعه کړی، او په هغه کتاب کی د دلیل د تولو غزوو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم په تفصیل سره کړی دی، موافق او برابر احادیثو مبارکو د حاصل دادی، چی د علیه الصلوٰة والسلام څخه نه ده ثابته سوی چی د څه د کی یولمونځ پر د څه ترهغه نه اداء او نه قضاء نوکه ترتیب په قضائی لمونځو صرف مستحب وای یعنی واجب او لازم نه وای لکه بعض ائمه چی وائی نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم به عمل په ترتیب سره ګاهی پری ایښی وای د پاره د بیان د جواز، او یا بی قولی اشاره و ترک د ترتیب نه کړی وای د پاره د جواز او دا سی نقل د علیه الصلوٰة والسلام څخه نه دی ثابت، او نه دیو صحابی څخه ترک الترتیب یا قولاً یا عملاً روایت سوی دی. بلکه په صریح حدیث صحیح کی د خندق په موقع کی چی غزوة الاحزاب یه هم بولی. کفارو آنحضرت صلی الله علیه وسلم د څلورو لمونځو څخه مشغول کړی، یعنی دری لمونځونه حوبیخی کندی قضاء سوه، ماپښین، مازدیګر، ماښام، او یولمونځ چی ماختن وو د وخت معتاد څخه وځندیدی. حتی چی شپه دیره تیره

سوه نو یه سبالاړ امر کړی اذان یه وکړی او بیا یه اقامت وکړی نو دماپښین لمونځ یه وکړی او بیا یه اقامت وکړی دمازدیګر لمونځ یه وکړی. او بیا اقامت وکړی دماښام لمونځ یه وکړی او بیا یه اقامت وکړی دماختن لمونځ یه وکړی، قال المصنف:

وَيَسْقُطُ بِاَحَدِ ثَلَاثَةِ اَشْيَاءَ ضِيْقُ الْوَقْتِ الْمُسْتَحَبِ

او ساقطیږی ترتیب په یو د درو شیانو، اول تنګ والی د وخت مستحب، د لمانځه په اصح روایت کی، او دوهم هیره ده د قضائی لمانځه، د ضیق الوقت معنا داده چی د غه وخت چی مصلی په لمونځو شروع وکی قضائی او وختی دواړه نه په کښی ځائیږی، **مسئله**: که دوختی لمانځه وخت په واقع کی د پرفراخ وو لکه مثلاً د ماپښین وخت کله چیری مصلی د ابتداء څخه د وخت شروع په لمونځو کړی وای قضائی او وقتی دواړه په کښی ځائیده. لکن د شروع په لمونځو د سره د وخت نه وکړه. بلکه وروسته یه شروع په وکړه لکن داپاته وخت د قضائی او وختی د اداء کولو څخه تنګ وو، نو هغه ترتیب ساقط دی

پوه سه: چه اعتبار ضیق الوقت لرو دی په واقع کی نه د ده په ګمان حتی که د سړی د ګمان وو چی وخت پاته تنګ دی. نو یه وختی لمونځ وکړی تر لمانځه وروسته دا وړته بشکاره سوه چی وخت خوفراخ وو، نو هغه وختی لمونځ چی ده وکړی باطل سو

فائده: مراد د تنګ والی څخه د وخت تنګ والی دی د کولو څخه د جنس قضائی که یووی او که دوه یا دری مثلاً اود وختی لمانځه» بحر، مراقی، در،

پوه سه: چی مراد د تغییر څخه د وخت مستحب دادی چی په شرع کی چی دیوه لمانځه د سپاره مستحب وخت بیا کل سوی وی د هغه وخت تغییر لازمیږی، مثلاً د سړی څخه د ماپښین لمونځ قضاء سوی وو. نو ده چی د مازدیګر په وخت کی شروع په لمانځه کوله دوه وخت پاته وو چی که ده د ماپښین لمونځ را اګرځولای، د مازدیګر لمونځ یا توله یا بعض یه وژر والی ته د وخت رسیدی نو ترتیب ساقط دی»

لکن مراد دادی چی وخت لمونځ په قرائت مسنونه وکړي نو وخت او قضائی دواړه نه ځایږي یعنی په تطویل د قرائت په وقتی لمانځه کی، اوکه قضائی او وخت دواړه په قرائت مسنونه سره وکړي دواړه ځایږي او وقت مکروه ته نه رسیږي نو ترتیب لازم دی،

فائده،

مصنف چی اصح او وړیل د دی ډیاره چی په ضیق الوقت کی اختلاف دی چی اصل وقت په ضیق کی معتبر دی اوکه وقت مستحب» امام طحطاوی فقیه ابوجعفر» داول نسبت و امام اعظم او امام ابویوسف ته کړی دی، اود دوهم نسبت په وامام محمد ته کړی دی اود مصنف مختار مذهب دامام محمد دی نوځکه یی فی الاصح ووئیله، مثلاً دیوسړی څخه دمانښین لمونځ قضا سوی وو نومازدیگر چې پدلمانځه شروع کوله دوفی وخت پاته وو چی که ده دمانښین لمونځ «اگرځولای» دمازدیگر لمونځ تولة یا بعض یه ومکروه وخت ته رسیدی مگرد تولة وخته څخه نه وتی، نوپراوله مذهب دی داول دمانښین لمونځ «اوگرځوی اوبیادی دمازدیگر لمونځ وکړي یعنی ترتیب لازم دی. اوپردوهم مذهب دی صرف دمازدیگر لمونځ اداء کړي»

دمانښین قضائی دی دمانښام تر لمانځه څخه «اوگرځوی. یعنی دمازدیگر په لمانځه کی ترتیب ساقط دی» بحر، در، ط» **پوه سه:** چې په محیط کی اوپه فتاوائی ظهیریه کی ترجیح وقول ته دامام محمد ورکړي سوی دی»

فائده: په مجتبی کی وائی که څوک سړی چې پرده قضائی لمونځ وو نوکه ده د مراعات سره دسنت دقرائت اود مستحب تسبیح وغیره وقتی کولای نوقضائی نه سوای ورسره ځایدلای. اوکی تخفیف په قرائت وغیره کی کړي وای نوقضائی هم ورسره کیدلای سوای» نودی په ادنی ما یکفی سره کفایت وکړي په وقتی لمانځه کی اوقضائی دی هم «اوگرځوی

تنبیه: مونږ چې دمخه قرائت وئیلی ووهغه رأی دبعض فقهاء ده. **مسئله** که سړی شروع وکړه په وختی لمانځه اوقضائی یه هیر وو، په وروسته کی په لمانځه کی قضائی ودپیادسو لکن وخت تنګ وو نوترتیب ساقط دی هغه وقتی لمونځ دی پسی پوکړي

فائده: بیره په استقاط د ترتیب معتبر وده، اوجهل ته دعملی اعتبار نشته یعنی یوسړی په دی نه پوهیدی» چې دقضائی لمانځه اود وقتی لمانځه ترمابین ترتیب لازم دی هغه ته اعتبار نشته بلکه دهغه دوقتی لمانځه کول دمخه ترقضائی نارواوی» فی النقایة فرض الترتیب ولو جاهلاً» وقال شارحها یعنی العلامة القهستانی» چې دامذهب دی دائمه ثلاثه نومونږ، اود حسن بن زیاد څخه روایت دی، إذا لم یعلم به لم یجب علیه» یعنی که سړی په وجوب د ترتیب نه وو خبر نو پر هغه ترتیب هم نه دی واجب» قال الطحطاوی وبه اخذ الاکثرون کما فی التمرتاشی» قال المصنف:

وَاِذَا صَارَتِ الْفَوَائِتُ سِتًّا غَيْرَ الْوِتْرِ فَاِنَّهُ لَا يَعُدُّ مُسْقِطًا

اود پنځه ساقطونکی د ترتیب دادی چې قضائی لمونځونه شپږ سهی، غیر د وتر د څخه، ولی چې وتر مسقط د ترتیب نه دی یعنی په هغه شپږ و لمونځو

وَاِنْ لَزِمَ تَرْتِيبُهُ

کی نه حسابیږی چې ترتیب په ساقطیږی، که څه هم ترتیب په قضاء راورود وتر وهم لازم دی، دلیل د سقوط د ترتیب په شپږ والی د قضائی لمونځو دادی چې که پسله شپږ والی هم ترتیب لازم وی نومسلمانان به په یوه لوی حرج کی واقع سی. اوپه دین کی حرج نسته» قال الله تعالی: وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ» وایضاً قال: يُرِيدُ اللهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ» یعنی خدای پاک اراده لری وتاسی ته داسانی اواراده نه لری وتاسی ته دسختی، یعنی په دینی چارو کی» او بل دلیل دادی چې شپږ لمانځه چې سړی «اگرځوی یعنی قضائی په بعض اوقاتو کی به وقتی لمونځ ځندی پاته سی وهُوَ حَرَامٌ» په مراقی والی چې معتبر وتل دوخت د شپږم لمانځه دی په صحیح روایت کی دمذهب ولی چې کثرت د قضائی لمونځو په دی سره راځی چې یوقضائی لمونځ مکرر سی» تکرار د قضائی لمانځه چې راځی په وتر د وخت د شپږم لمانځه سره، اود حضرت الامام محمد څخه داسی روایت راغلی دی، چې په مجرد دخول د وخت د شپږم لمانځه ترتیب ساقط سو، دلیل ددی چې وتر مسقط د ترتیب نه دی دادی» چې

مسقط د ترتیب هغه شپږ لمونځونه دی چې د عقیدې دلاری فرض وی. وترخو په نیز دیا رانوځ سنت دی. او په نیز د امام اعظم فرض عملی دی

مسئله: ترتیب چې وقتی لمانځه او د قضائی لمونځو ترمابین ساقط ہی د خودی قضائی لمونځو ترمابین هم ساقط دی، ر، د، «قال المصنف»:

وَلَمْ يُعِدِ التَّرْتِيبَ بِعَوْدِهَا إِلَى الْقِبْلَةِ

اونه ر اگرچې هغه ترتیب چې لمونځو ساقط سوی وو، په سبب د کثرة د قضائی لمونځو ساقط سوی وو، په سبب دگرځیدو د قضائی لمونځو وحدته ته د لږ والی په دی سبب چې بعض لمونځونه قضائی سړی ر، او گرځول مثلاً د سړی څخه دیوی میاشتی لمونځونه قضا سوی وه ترتیب خونو ساقط سو، نود کرار کرار قضائی لمونځونه ر، اگر څول حتی چې یو لمونځ ور ته پاته سو، نود غه سړی سره د دی چې د غه یو قضائی لمونځ پیاد وی اول وقتی لمونځ وکړی او بیائی قضائی لمونځ ادا کی صحیح دی. ولی ساقط لا یعود «په بحر ر ائق کی یو په ر ه پوری مثال راوړی دی. چې یو ځای لږ او به مرداری ولاړی وی، و ر وسته پرهغو لږ او بو نوری ډیری جاری او به ر اسی چې و به هیږی، و ر وسته هغه جاری او به قطع ہی او هغه د مخه اندازه لږ او به پاتې ہی، بیا بیرته یه نجاست نه راگرځی» قال المصنف

وَلَا بِفَوْتِ حَدِيثَةٍ بَعْدَ سِتٍّ قَدِيمَةٍ عَلَى الْأَصَحِّ فِيهِمَا

او اغه ر نگه نه ر اگرچې ترتیب ساقط په قضا کیدو د نوی لمانځه پسله شپږو لمونځو په خوانیو چې ده قضا کړی وه، او د ده څخه هیروه، نود ی سړی وقتی لمونځ ترنوی قضائی لمانځه د مخه وکړی. او بیا یه شپږ قدیم قضائی لمونځونه ور پیاد سوه وقتی لمونځ یه صحیح سره مصنف وائی چې پراصح روایت په دغو دواړو مسئلو کښی»

پوښتنه: چې مصنف و ر وسته ترهغه قول: وَلَمْ يُعِدِ التَّرْتِيبَ آه په مراقی کی وائی وعليه الفتوى، لكن بعض فقهاء وائی چې ترتیب ر، اگرچې قال في المجتبى وهو احوط، وذكر الصدر الشهيد وهو الصحيح وكذا قال في التجنيس والمزيد، قال صاحب الهداية وهو الأظهر

لان علة السقوط هو الكثرة وقد زالت» حاصل د دلیل دا دی چې علت د سقوط د ترتیب خو کثرت د قضائی لمونځو وو، او هغه خو اوس ر ائل سو ولی چې مصلی د بعض لمونځو قضا راوړه نو بیرته قضائی لمونځونه وقلت ته ر، او گرځیده او په قلیل کی خو ترتیب واجب وو. ر، د، وائی: چې صاحب البحر مصنف تائید کړی دی او که زه د اصحاب الترجیح څخه وائی ما به هم د مصنف د مذهب تائید کړی وای، ولی چې ساقط «لا یعود» قضیه مسلمه ده ر ما قال المصنف في المسئلة الثانية لا يفوت» آه قال فيها في المراقي وعليه الفتوى، وفيه ر لما قال بعض العلماء» چې هغه د مخه شپږ لمانځه چې ده په خوا قضا کړي وه د اسی باید فرض سی ما لم يتكن يعنی لکه ده چې نه وه قضا کړي، نود غه وقتی لمونځ چې ده ترنوی قضائی لمونځ د مخه وکړی صحیح نه دی، دوی وائی چې مونږ دا کار د ده د زجر د پاره وکړی او دی قول تصحیح په محیط کی او سراج الدرایه کی کړیده» د مفتی به مذهب دلیل دا دی چې د مصلی اشتغال په د غه نوی قضائی لمانځه ترو قتی لمانځه د مخه اولی نه دی تر اشتغال په هغه قدیمه قضائی ووسره»

او که مصلی په تولو سره اشتغال وکړی تر وقتی د مخه نوخو وختی له مونځ د خپله وخت ووزی وهو حرام» قال المصنف:

فَلَوْ صَلَّى فَرْضًا ذَاكِرًا فَائِتَةً

وَلَوْ وِتْرًا فَسَدَ فَرْضُهُ

د تقریم دوه پرلږوم د ترتیب پیاول کی دباب» او د ولا یفوت حدیثة» سره کار نه لری که ئ چیری فرض وکړي د وختی لمانځه فرض او ده پیاد وو قضائی لمونځ که څه هم وتر وي، نو فرض یه فاسد سوه لوجوب الترتيب عليه»

فائده: مصنف فرضه و ویل او اسی نه و ویل چې فسد صلوته ددی د پاره چې په مذهب د امام اعظم خو اصل لمونځ فاسد نه دی بلکه نفل گرځی هو وصف د فرضیت یه ولاړی» قال المصنف:

فَسَادًا مَوْقُوفًا

یعنی فساد یه یقینی نه دی بلکه په و ر وسته لمونځو پوری اړه لری نو یا به فساد بیرته پوره ہی او یا به یقینی ہی، لکه مصنف چې

بیان د دی په دغه قول سره کوی، قَالَ الْمُصَنِّفُ

فَإِنْ خَرَجَ وَقْتُ الْخَامِسَةِ مِمَّا صَلَّاهَا بَعْدَ الْمَتْرُوكَةِ

نو کله چې وخت د پنځم لمانځه د هغو لمونځونو څخه چې ده وکړه لپاسه متروکه لمانځه څخه چې په یاد یې وه

ذَاكِرًا لَهَا صَحَّتْ جَمِيعُهَا فَلَا تَبْطُلُ بِقَضَاءِ الْمَتْرُوكَةِ

په ټولو لمونځونو کې هغه قضا ئې لمونځ نو ټوله لمونځونه یې صحیح سوه: حاصل د دې مسئلې دا دی چې دیوه بعده سړي څخه یو لمونځ قضاء سو، ورو سته د هغه قضا ئې لمونځونه ، او ګرځاوه بلکه پنځه لمونځه پرله پسې یې وقتي وکړه چې په ټولو کې هغه قضا ئې لمونځ وه پیاد سوه، نو ټوله لمونځونه وقتي یې صحیح سوه په نیزد امام اعظم ابوحنیفه، دلیل یې دا دی چې کړي پنځه لمونځه چې په سبب د وجوب الترتیب فاسد سوه، نو حکماً هم په متروکه وو کې حساب سوه یو خو هغه بل متروک وو چې شپږ سوه. نو ګویا ابتداء متروکات شپږ وه او ترتیب ساقط وو، مثال د مسئلې هغه دی چې یو سړی زکوٰة د مخه ترکال تیر ید و ورکې نود د ی زکوٰة فرض والی موقوف دی پر تیر ید و د کال نو چې کال تیر سو نصاب پرځپله لاپاته وو نو هغه د مخه زکوٰة فرضی ګرځیدی. او که ورو سته نصاب بالکل د مابین څخه ولاړ ی نو هغه ورکړی زکوٰة نفل سوله، اویاران په مسئله مذکوره د لمونځو کې دا سې وائی چې د غه پنځه لمانځه فاسد سوې په فساد قطعی سره، او پرده په قضاء د د غو پنځو سره د هغه اول فائت لازم ده. نو اوس شپږ قضا ئې لمونځونه سوه، نو تردی ورو سته چې د ی وقتي لمونځونه کوی، هغه صحیح د ی کې څه هم هغه شپږ قضا ئې لمونځونه یې نه وی ، اګر څو ګې، ولې چې ترتیب په سبب د شپږ والی د قضا ئې لمونځو ساقط سو. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَإِنْ قَضَى الْمَتْرُوكَةَ قَبْلَ خُرُوجِ وَقْتِ الْخَامِسَةِ بَطَلَ

او که قضاء راوړه د هغه قضا ئې لمانځه د مخه تر دې چې د پنځم لمانځه چې د ده په

وَصْفُ مَا صَلَّاهُ مُتَذَكِّرًا قَبْلَهَا وَصَارَ نَفْلًا

سو صفت د هغو څلورو لمونځو یعنی فرض والی یې باطل سو. او ذات د لمانځه یې باقی دی ولی خو نفل وګرځیده. او د اهم مذهب دی د امام اعظم ابوحنیفه او امام ابویوسف او په نیزد امام محمد باطل سوه هغه لمونځونه اصلاً وو صفتاً، شیخین وائی چې تحریمه خو د اصلی لمانځه وه لکن سره د و صف د فرضیت، نو چې و صف د فرضیت یې باطل سو اصل خو یې پاتې دی نو نفل وګرځیده. او امام محمد وائی چې تحریمه خو د فرضی لمانځه د پاره وه، چې فرض یې باطل سوه نو تحریمه باطله سوه نو بې تحریمې خو نفل نه دی روا

پوهه سئله

چې امام ابویوسف په اوله مسئله کې د حضرت الامام الاعظم څخه مخالفت وو او په دوهمه مسئله کې د امام اعظم سره موافق دی **فائده**: د دی دوو مسئلو په باره کې خلګ یا طالبان یو د بله څخه پوښتنه کوی، او وائی کوم د ی هغه یو لمونځ چې پنځه لمونځه فاسد ه وې: کوم لمونځ دی! چې پنځه لمونځه صحیح کوی نو د اول سوال جواب دوهمه مسئله ده او د دوهم سوال جواب اوله مسئله ده، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَإِذَا كَثُرَتِ الْفَوَائِتُ يَحْتَاجُ لِتَعْيِينِ كُلِّ صَلٰوةٍ يَقْضِيهَا

او که قضا ئې لمونځونه بیخی ډیر وه نو مصلی محتاجه د ی چې د هر لمانځه چې قضاء کوی تعیین د تاریخ او د وخت د هغه لمانځه به کوی. ولی فرائض هم ډیر د ی او تاریخونه او وختونه یې هم سره مختلف د ی، په مراقی کې وائی د مثال په توګه چې زه قضا ئې لمونځ د ما پښین کوم د دوشنبې د ورځې، د اتلسم تاریخ د ډیسمبر خو ۱۰۵۴ هـ او د اښکارې خبره ده چې په داسې تعیین کې ډیر تکلیف د ی، ولی چې د بعض خلګو څخه په مختلفو کلو کې او په مختلفو میاشتو او مختلفو ورځو کې. مختلف لمونځونه قضا سوی وی. نو د دی په قضا ورکولو کې د هغو لمونځو د ټوله تعیینات څرنګه وکړای سی.

بل فی مثل هذا تعسّر واصل الی حد التعذر» اوسره ددی چی زمونږ دین اسلام بناء پر آسانی ده، قال علیه الصلوٰة والسلام «بعثتکم بالحنیفة السهلة» الحدیث» نو ددی سبب مصنف وائی: قال المصنف:

فَإِنْ أَرَادَ تَسْهِيلَ الْأَمْرِ عَلَيْهِ نَوَى أَوَّلَ ظُهْرٍ عَلَيْهِ أَوْ آخِرَهُ

نو که مصلی او قضاء راوړونکی پر ځان نیت کول او تعین کول آسانه ګرځوی نو داسی ددی وائی چی زما نیت دی داول ماپښین چې ماسته لیعنی چې پرمایه قضا سته. په دی سبب چې پرماد هغه وخت راغلی دی او مانه دی کړی. نو ددی لماځه قضا چې راوړه نو دا ماپښین دمابین ولاړی او بل دماپښین لمونځ دده په ذمه اول وګرځیدی، وهکذا دمازدیګر مابنام ماخستن سحار، په قضائی لمونځو کی دی ورته نیت کوی، او یادی داخیر ماپښین چې زما پرذمه لازم دی، وهکذا فی الصلوة الأخر» قال المصنف:

وَكَذَا الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَيْنِ اودغه رنګه دی حکم دقضائی روژو دوو میاشتو دروژی یعنی تعیین غواړی یا تفصیلی یا اجمالی کما مر فی الصلوة» اوکه دیوی میاشتی دروژی دوی دری قضائی روژی پرده باندی وی نوهغه تعیین نه غواړی په اتفاق سره، حتی که پرسری دوی روژی باندی وی اود روژی نیت یه وکی تعیین داول اوثانی شرط نه دی. لکن مع عدم شرطیة تعیین احد الیومین لوعین لکان اولی»

فَائِدَة فرق دلمونځو اودروژو په اشتراط کی دتعیین فی الاول دون الثانی ان... اسباب الصلوة وهی الاوقات متعددة مختلفة» اوسبب دروژو میاشت ده اوهغه یوه ده نوپه قضا راوړو کی دروژو صرف اکمال العدد مقصود دی. قال علی الاخر تصحیحین مختلفین» پریوه دوو تصحیح مختلفو» ولی امام زیلعی تصحیح دلزوم التعیین کړیده، اوخلاصه والا تصحیح دعدم لزوم التعیین کړیده» (رویش وائی چی واضح خبره ده چی په تعیین کی دنیت کله په تفصیلی توګه وی، اوکه په اجمالی

کما متر سابقا خو نا خو حرج دی، خصوصا دعوام الناس دپاره - اوخدای جل سلطانه وائی «یُرِیدُ اللّٰهُ بِکُمُ الْیُسْرَ وَلَا یُرِیدُ بِکُمُ الْعُسْرَ» اوبل ځای وائی: وَمَا جَعَلَ عَلَیْکُمْ فِی الدِّینِ مِنْ حَرَجٍ» چی په کلمه دمن استغراق یحرج زمونږ نخه پوره ته کړیده. او په بل آیت کی داسی راغلی دی «لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا»

نو ددی کبله چی تلاش وکړه سو صاحب دکنز الدقائق رحمة الله علیه په مسائیل مشتی وو کی دکنز داسی وائی - انه لا یحتاج الی التعیین وهو الاصح علی ما قاله فی القنیه» مَن یقضی لیس علیه ان ینوی اول صلوة کذا او اخیر فینوی ظهرا او عصرا ونحوهما علی الاصح انتهی په تحقیق شان دادی چی حاجت نسته وتعیین نسته یعنی دنیت په قضائی لمونځو کی یعنی نه تفصیلا اونه اجمالا» وهو الاصح» لکه په قنیه کی چی وائی خوک چی قضا راوړی یعنی دلمونځو یاد روژو نسته، پرده باندی چی دی به نیت کوی، داول فلانی لمونځ او یا اخیر بلکه دی دې نیت کوی چی قضا راوړم ماپښین یا دمازدیګر او یا مثل دهغو علی الاصح آه اودکنز وغیری ته ترجیح ورکړیده، صاحب دخانیه اوخلاصه» اوپرداغه رایه دی صاحب دفتح القدیر» قال المصنف فی المراقی»

چی څوک چی په واقعه دډیرو قضائی لمونځو مبتلا وی، نودی رجوع ومذهب اورائی ته دکنز الدقائق وکړی. ولی چی دهغه په حکم کی فراخی ده، اوپه اخیر کی وائی. وَاللّٰهُ رَؤُفٌ رَحِیمٌ، خدای ډیر مهربانه دی ځکه یې دغایت رحمت له کبله دامت مرحومه په دینوچارو کښی دحرج سره نه دی مخامخ کړی» کما مر من الایات الدالة علی ذالک» وَاسِعٌ عَلِیمٌ فراخه دی رحمت دده جل شانه اودی ښه خبر دی په حال دبندګانو چی څونه لمونځونه بنده قضاء کړی دی نوهغه به ځندې ساقط کړی» یعنی بیله تعیین دبنده»

تذنیب **مسئله**: که یوسړی ډیر لمونځونه خوقضا کړی دی لکن مقدار او حساب دهغو یقینا نه وو معلوم» نودی پخپل ګمان سره عمل وکړی. اوکی غالب الظن نه وو، نوترهغودی راګرځوی چی ده ته یقین کیږی چی نور قضائی نونسته»

مسئله: بعض صوفیان خلګ دتبوله عمر لمونځونه راګرځوی دپاره داحتیاط، اوسره

ددی چې ده هیڅ لمونځ هم نه وی قضاء کړی، بعض علماء وائی داسی کول مکروه دی لکن دغسې نه افضله داده» چې که څوک هم دی نیت د قضائی لمونځ کوی، خوپه اخیر دوو رکعتو کی دریا ی لمانځه د الحمد لله سره سورت هم وائی. ولی دغه لمونځ دده که قضائی په ذمه کی دده نه وی نفل دی، اوپه نفلو کی انضمام د سورت واجب دی»

اوپه فرضی لمانځه کی صرف لازم نه دی، اوچې وتر او قضاء اوپرې په دریم رکعت کی دعاء قنوت وائی. اوپه اخیره ناسته کی دی په قدر د تشهدی کښینی او بیرته دی ولاړسی څلورم رکعت دی هم وکړی بیادی کښینی او التحیات وغیره دی تړپایه ووائی بیاد سلام وګرځوی. نوکه دده په ذمه کی وتروه خوهغه وتر یې وکړه اوکه نه وه نفل یه څلور رکعت یې وکړه ولی دری رکعت خو نفل نشته» اوداچې دریم رکعت دی کښیتی د نفلونه ساوان نه لری ددی سببه چې یقینی نفل خو نه دی»

اودغه رنګه دمابنام قضائی احتمالی دی څلور رکعته کوی په دری ناستو سره **فائده** پهسنتو لمونځو کی دی د قضائی نیت نه کوی اودغه رنګه دغابښت په لمانځه کی د قضائی نیت نه کوی اوپه صلوة التسبیح کی دی هم د قضائی نیت نه کوی. اودغه رنګه په هغو نوافلو کی چې فضیلت یې په احادیثو مبارکو وو سره ثابت وی د قضائی نیت دی نه کوی، اوما سوا د دغو نفلو څخه په نیت د قضائی لمونځو افضل دی ترنیت د نفلو، ولی قضاء اوپه دیره مهمه ده تر مجرد نفلو، م، ط، د، وَاللهُ وَلِيُّ الفَضلِ وَالتوفيق» قَالَ المصنفؒ:

وَيُعذَرُ مَن أَسلَمَ بِدَارِ الحَربِ بِجَهلِهِ بِالشَّرَائِعِ

او معذور ګڼل کیږی هغه سړی چې اسلام راوړی په دارحرب کی په ناخبرتیا سره په احاموشرعیه وو، یعنی د غه مسلمان که نه لمونځ کاوه اونه ئی روژه نیوله اونورد شرعی شریفی او د اسلام کار ونه ګناه ګاڼه دی. ولی چې دی د شرعی په احاموڼه وو خبر نو دی معذور دی، ولی چې خطاب الهی وهغه چاته متوجه کیږی چې په مشروعه احاموخبر وی اویا دلیل د خبرتیا ورته وی.

مصنفؒ قید د دارالحرب وولیه. ولی که په دار اسلام کی یو کافر مسلمان سوهغه په ټولو احاموشرعیه وو مکلف دی، که څوک هم په جاهل وی. ولی چې دلیل د خبرتیا چې دار اسلام دی په څای کی د خبرتیا د پیدا کیدو، د اخوز مونږ د حنیفیانو مذهب وو، اوامام شافعی اوامام احمدؒ اوزمونږ د مذهب امام زفرؒ بتوله احکام عملیه اوفرعیه پر د غه مسلمان د دارحرب لازم ګڼلی. اودی په مکلف ګڼلی که څوک هم په خبر نه وی حتی که د غه مسلمان لمونځ نه کوی یاروژی نه نیسولی وغیره ګناه ګاڼی اوقضا یې پرلاز مه ده»

دوی حضراتو قیاس د فرعیه اعمالو پر ایمان کوی یعنی هر کافر د دارالحرب مکلف په ایمان سره دی بالاتفاق **جواب** دلیل د وجود د صانع اود وحدت اود علم اوحیوة د ده عقلی دلائل دی چې هر عاقل یه برابر ولای سی که غور وکړی اوپه دقت د نظر په مصنوعاتو علویه او سفلیه کی د خدای جل شانه سبر فکر وکړی قال الشیرازیؒ ؎

برگ درختان سبز در نظر هوشیار ؛ هر ورقی دفتریست بمعرفت کردگار

وقال الآخر

گر انبیا رهم نامدی فی شرع بودی در جهان ؛ نه واجب شدی بر مومنان ایمان بمجالق مقتدر

وقال الآخر

نقصان ز قابل است وگرنه علی الدوام ؛ فیض سعادتش بهمه کس برابر است

قال اللهُ تَعَالَى شَانُهُ

وَفِي أَنفُسِكُمْ أَفَلَا تُبْصِرُونَ د یعنی کرد خاوند جې مصنوعاتو الهیه وو څخه نظر قطعه کسی ستاسی په اعضاوو کی دلائل د وجود او د قدرت او د علم وغیره د باری تعالی موجود دی. بیشکه :

نُورُ الإِيضَاح جلد ۳

بهمدان شاء الله د یر څه ستاسو حضور ته وړاندی سی»

بابُ اِدراکِ الفریضۃ

باب ثابت دی په بیان کی دینولو دیوسړی فرضی لمونځ دامام سره نواضافت دادراك ولفظ ته دفرضیی اضافت دمصدر دی ومفعول ته، امام طحطاوی ؒ پورته تمهید کی ومسائلو ته دری باب داسی وائی. چی قانون شرعی دادی، چی ماتوَل دعبادت بیله عذره حرام دی، اوپریښول دعبادت دپاره دکامیل اداء کولو کمال دی، ولی که څوهم دانقض دعبادت صورةً نقصان دی، لکن په معنیٰ کی اکمال دی اوقانونی خبره ده چی مراعات دمعنیٰ ترمراعات دصورت بالا دی لکه دیوه زاړه مسجد نړول دپاره دنبه پوخ جوړولو، اویا لکه یوسړی چی پرمحکه سر کښیږدی دسجدی دپاره اوزوند یه پته تندی جگ سهی. بیرته سر راپورته کی بل ځای سجده پوره کړی روادی. اودوی سجدی نه بلل کیږی، اِذَا تَمَهَّدَ هٰذَا فاستمع لمایقول المصنف

اِذَا شَرَعَ فِی فَرْضٍ مُنْفَرِدًا فَأُقِیْمَتِ الْجَمَاعَۃُ قَطَعَ وَاقْتَدٰی

که شروع وکړه یوه مصلی په فرضی لمانځه کی، یوازی نواقامت وکړه سود جماعت دپاره نودغه منفرد دی لمونځ قطع کړی اواقتداء دی په امام پسی وکړی»

پوه شه: چی مصنف ؒ قید دفرض ووایه، ولی کی دنفلونیت کړی وو هغه دی نه قطعه کوی بلکه دوه رکعته دی وکی بیادی سلام وگرځوی اقتداء دی په امام پسی وکړی اودفرض لفظ یه مطلق ووایه تاچی وقتی اوقضائی دواړوته شامل سهی، اونفل دی نه قطع کوی ولی چی دنفلی لمانځه قطع کولو خوابطال دنفلودی بالکلیه اکمال نه دی» دوخت لمانځه مثال خوظاهردی» دقضائی مثال دادی چی دیوځوکسانو څخه متعدد لمونځونه قضاء سوی وه، لکه دعلیه الصلوٰة والسلام څخه چی سره داصحابوؓ په غزا کی دخندق څلور لمونځونه قضاء سوی وه، نوپه داسی صورت کی یونفرد هغوکسانو څخه دماښین لمونځ مثلاً یوازی راگرځاوه هغه نور ملگری راغله دغه دماښین لمونځ چی دهغوڅخه هم قضاء

سوی وو، په جماعت یه شروع کړه. نوهغه منفرد دی خپل لمونځ وړته قطع کړی، اوپه جماعت کی دی شریک سهی ولی چی په دی شراکت کی اکمال ددهٗ لمانځه دی چی په جماعت ښی اداء کړی»

پوښتنه که منفرد دمازدیگر لمونځ راوگرځاوه، اوملگرویه دماښین په لمانځه شروع وکړه نوهم دی منفرد لمونځ وړته قطع کوی که څرنگه؟ **جواب** یانه دی قطع کوی اوشراکت دی نه وړسره کوی. ولی چی یووالی دلمانځه دمقتدی اود امام په صحت کی داقتداء شرط دی» **فائده:** دفرض په قید سره مصنف ؒ نفل وایستل، ولی چی نفل به شفع گرځوی بیابه اقتداء کوی. ولی چی په قطعه کولو کی خود نفلو ابطال رائی باالکلیه اکمال په کښی نسته، البته که سړی پرنفلی لمانځه ولاړوو اوجنازه راغله اودی بیریدی که نه نفل شفع کوه، دجنازی لمونځ راڅخه تیرین دی نو دی نفل قطع کوی دجنازی لمونځ دوکړی، ولی نفلی لمونځ خوبیا قضاء لری اودجنازی لمونځ خوعوض نه لری»

پوه شه: چی مصنف ؒ په مراقی کی وائی چی اقامت به په هغه محل کی وی چی هلته منفرداً لمونځ کوی. نوکه دکور منفرداً لمونځ کاوه اودمسجد اقامت یه واوریدی په سبب دقرب دار، اویا په سبب دلاوډ سپیکر، اویاده پخپل مسجد کی منفرداً لمونځ کاوه ولی دخپل مسجد لمونځ څنگه دی تیرسوی وو، نوبل مسجد اقامت یه واوریدی» باحد النحوین المذکورین» په دواړو صورتونو کی پرده قطعه دلمانځه نه ده لازمه» انتهی بخلاصة»

امام طحطاوی ؒ داخبره نه منی اودی وائی چی جماعت خوواجب دی یعنی پرصحیح روایت داحنافو کما فی فتح القدیر» اوجماعت مقید دده پخپل مسجد پوری نه دی، بلکه فقهاء ؒ تصریح کړیده چی که دسړی څخه دخپل مسجد جماعت تیرسوی وو، اوپه بل مسجد کی امید دجماعت وو نوهغه مسجد ترتگ پرلازم دی، نوتقید دمراقی بی فائده دی.

فائده: مراد داقامت څخه متعارف اقامت نه دی بلکه تحریمه دامام ده، ولی که مجرد مؤذن شروع په اقامت متعارفه وکړی اومنفرد اول رکعت په سجده سره نه وی.

مقید کړي اودده غالب ګمان داوي چې مؤذن اقامت خلاصوي نو به سپېک دوه رکعته نفل
ورته پوره کړم بیا قطعه فی الحال لازمه نه ده بلکه شفع د نفلو دی پوره کړي، کذا نقل عن
ملا مسکین درویش وائي چې ما په عبارت د ملا مسکین دغه قید نه دی لیدلی چې دده غالب آه
نو هغه اعتراض د طحطاوي پر ملا مسکین کړي دی نه وارديږي چې دی وائي چې مدة د اقامت
خو قلیلة جدا لا یتأتی فیها رکعتان فتدبر"

پوه شه: چې مصنف په مراقي کې د قطع په تفسیر کې داسې وائي "بتسلیمة واحدة"
لکن په مجمع الانهر کې وائي چې قطعه عامه ده کې په سلام کوي او کې بیله سلامه کوي
او کې په ولاړې کوي او کې په رکوع کې کوي، "وهو الصحیح، وقیل لو کان قائما یقطعه
بتسلیمة واحدة وقیل بتسلیمتین وقیل یقعد ثم یسلم وقیل یقعد و یتشهد ایضا ثم
یسلم تسلیمتین للقطع والفتوی علی قول المصنف" درمختار.

درویش وائي چې امام طحطاوي وائي چې مصنف حکم د قطع د لمانځه او د اقتداء په امام
پسې نه دی کړي یعنې د اقطع او اقتداء لازمه نه ده او که جائز ده، آه والجواب ان عبارة المصنف
بظاهره تدل علی اللزوم لان عبارة الفقهاء یحمل علی اللزوم" والقرینة علیه انهم اذا
کان العمل جائزا لا واجبا یقولون یجوز له کذا، نعم عبارت د درمختار دلالت پر جواز
کوي، ولې چې هغه د اقطعه مشابه ګرځولې ده د جائز عمل سره حیث یقول یقطعها لعذر
احراز الجماعة کما لو نذر ت دابته الی ان قال و یجب القطع نحو انجاء غریق آه نو چې د
قطع واجب و بولل دپاره د انجاء غریق نودا معلومه سوه چې د پاره د احراز د جماعت
صرف قطعه روا ده لکه د نذر د دابې په وخت کې چې قطعه روا وه واجبه نه وه. او بعض علماء
وائي چې لمونځ دی ترهغونه قطع کوي څو یوه شفعه نه کړي پوره د څلورو رکعتي لمانځه څخه"

قال المصنف **إِنْ لَمْ يَسْجُدْ لِمَا شَرَعَ فِيهِ أَوْ سَجَدَ فِي غَيْرِ رُبَاعِيَّةٍ**

او اقطعه د لمانځه به هغلته کوي کې سجده نه وي کړې د هغه لمانځه چې ده شروع منفردا
په کړې وه، او یا یې سجده خو کړې وه لکن لمونځ غیر رباعي وو، یعنې یا دوه رکعته لکه د سحار
لمونځ یا درې رکعته لکه د مابنام لمونځ،

یعنې په دغو لمونځو کې به ئې فورا قطعه کوي، پسله سجدې څخه ولې که دی د سحار په لمانځه کې
بل رکعت ورضم کې خو فرض د سحار پوره سوه او جماعت فوت شو، او په امام پسې د نفلو
نیت هم نسی کولای. ولې چې ورسته د سحار ترلمانځه نفل نه دی روا. او کې د مابنام په لمانځه
کې که بل رکعت ورضم کړي فایدا جماعت ګوبا څنډی فوت سو لان للاکثر حکم الکل"
او امام سره په نفلي لمانځه هم نسی ګډی دائ، ولې چې درې رکعته نفل هم نسته، او که
څلور رکعته پسله سلامه د امام ورجوت کړي مخالفت د امام لازمیږي، مر، ط در،

وَإِنْ سَجَدَ فِي رُبَاعِيَّةٍ ضَمَّ رَكْعَةً ثَانِيَةً وَسَلَّمَ لِتَصِيرَ الرَّكْعَتَانِ

او که په رباعي لمانځه کې سجده کړي وه نو د رجوت کړي یو رکعت بل او بیا دی باقاعده سلام پر
دوارو خوا او وګرځوي تاچه هغه دوه رکعته به دده د پاره نفل سې، او بیا دی
لَهُ نَافِلَةً ثُمَّ اقْتَدَى مُفْتَرِضًا اقتداء په امام پسې وکړي فرضي لمونځ کوونکې،

پوه شه: چې درې رکعته نفل په نیزد بعض علماو و صحیح نه دی. او بعض علماء
وائي صحیح دی لکن مکروه دی" د مصنف عبارت په مراقي کې دواړو مذهبونه شامل دی
ولې هغه وائي لمنع التنفل بالبتیراء لفظ د منع عدم صحت او مکروه دواړو ته شامل دی
فهو من جوامع الکلم" قال صاحب البحر چې تصریح د مشائخو په څلور رکعتي فرضي
لمانځه کې چې یو رکعت یې کړي وی د بل ضمول واجب دی، صریح دی په دی کې چې یو رکعت
لمونځ باطل دی، صرف مکروه نه دی. او د صاحب البحر ورورهم ورته خبره کړیده في النهر" ط

قال المصنف **وَإِنْ صَلَّى ثَلَاثًا أَتَمَّهَا ثُمَّ اقْتَدَى مُتَنَفِّلًا إِلَّا فِي**
الْعَصْرِ وَالْفَجْرِ

یعنې د رباعي لمانځه درې رکعته یې کړي وه منفرد نو دی یو بل رکعت
وکړي چې څلور پوره سې. ولې چې اکثر لره حکم د کل دی. او پسله
اتمامه دی بیا اقتداء پسې وکړي نفل کوونکی، مګر نه په مازدیګر کې او د سحار په لمانځه کې

ولی چې نهې راغلی دی د نفلو نخه وړو سته تر غوړو وړو لمونځو، او مراقي مغرب وړسره
ړاوړی دی، ولی چې دری ړکعت نفل خو نسته او که خلورم ورضم کړي مخالفت د امام
لازمیږي، وَقَدْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لِرَجُلٍ اِذَا صَلَّيْتَ فِي اَهْلِكَ ثُمَّ اَدْرَكْتَ
الصَّلٰوةَ اَيْ بِالْجَمَاعَةِ فَصَلِّهَا اَيْ بِالْجَمَاعَةِ نَفْلًا اِلَّا الْفَجْرَ وَالْمَغْرِبَ » اونهی د نفلو نخه پسله مانړدیگر
خوښهوړه ده، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِنْ قَامَ لِثَالِثَةٍ فَاُقِيمَتْ قَبْلَ سُجُودِهِ قَطَعَ قَائِمًا بِتَسْلِيمَةٍ

او که منفرد ولاړ سو د دریم ړکعت او بیا اقامت شروع سو د جماعت دپاره د نخه تر سجدې
د دریم ړکعت لمونځ دی قطع کړي په ولاړې په یوه سلام یعنې په جماعت کې دی شامل سې،

فِي الْاَصَحِّ په دی کې ړد دی پر شمس الائمه ړ السرخسی چې هغه وائی که کښې نه نسته لمونځ
په فاسد دی» وَمَا قَالَ الْمُصَنِّفُ هو مذهب فخر الاسلام چې هغه وائی
چې اللهُ اکبر دی وواني په ولاړې پر نیت د شروع په لمانځه کې د امام، نو ختم د نخه د لمانځه
په ضمن کې د شروع په لمانځه د امام حاصل سوه. او که لاسونه تر غوږو پورته کوی هم ورسته
جواز دی» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِنْ كَانَ فِي سُنَّةِ الْجُمُعَةِ فَخَرَجَ الْخَطِيبُ اَوْ فِي سُنَّةِ الظُّهْرِ

که چیرې لمونځ کوونکی په خلور ړکعته کې د سنت د جمعې وو او خطیب راووتی یعنې دپاره د خطبې

فَاُقِيمَتْ سَلَّمَ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ الْاَوْجُهُ

او یا سړي په خلور ړکعتیزه سنتو کې وو د مانښین او اقامت دپاره د جماعت شروع سو» نو دی
دې سلام وګرځوی یعنې یوواړه دی کښینی پرسر د دوو ړکعتو، او دا اوجه مذهب د دی،
او د امام اعظم نخه او د امام ابو یوسف نخه روایت د دی، ولی چې په داسې کولو کې دوی
فائده دې، یو اوریده د خطبې دی چې فرض دی، او بل اداء د سنتو ده پسله جمعې نخه،

او د مانښین په لمانځه کې اداء د فرض لمانځه په ډوجه اکمله یعنې په جماعت، او اداء
د سنتو وړ وسته تر لمانځه، او دوه ړکعت نفل یې ړیاتی ګټه سوه، او دا هم مذهب د
د شمس الائمه السرخسی او بقالی. په بحر رائق کې وائی چې په خلور ړکعتو سنتو کې
د نخه تر مانښین د لمانځه او یا د نخه د جمعې تر لمانځه» چې د مانښین د لمانځه اقامت
وسی، او یا خطیب په خطبه شروع وکړی او مصلی پرهغو سنتو ولاړ وی نو څه به
کوی د مصنف مذهب هغه وو چې په متن کې ذکر سو:
لکن صاحب البحر وائی چې صحیح دلده چې خلور سوه ړکعته دی پوره کړي» کما صرح به الولوالجی
صاحب المبتغی والمحیط والشمنی»، ولی د اخلور سره ړکعته یو لمونځ دی، او قطعه یې
د اکمال دپاره نه ده بلکه د ابطال دپاره ده صورةً ومعنًی، او فتح القدیر وَالدرایه مصنف
وائی چې دوه ړکعته دی پوره کړي او سلام دی وګرځوی او په جماعت کې دی شامل سې
او یا د خطبې ته دی غوږ ونسی، ولی د اسنت خو پسله فرضی لمانځه اداکیدای سی
او چې دی یې قطع کړي پر دوه ړکعته ابطال د عمل خو نه ړاځی ولی دوه ړکعته یې نفل سوه
او مولوی اعزاز علی د مذهب ته د صاحب البحر ترجیح ورکړی ده، ولی چې د هغه د تصحیح سره
د پیرو مشائخو برابر دی» او هغه خبره چې فتح القدیر وکړه چې پر دوه ړکعته سلام ګرځولو کې
ابطال نسته د هغه جواب دادی چې که څه هم ابطال د اصلی لمانځه خو نسته، لکن ابطال
د وصف د سنتیت خو یې سته،
او د اخلور ړکعته یو لمونځ دی د دی سببه په دریم ړکعت کې سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ او اَعُوذُ بِاللّٰهِ
نه ویل کیږی د رولیش وائی چې د فتح القدیر مراد دا نه دی چې په قطع کې ابطال د سنتیت
نه ړاځی. بلکه دی وائی چې ابطال د عمل نه ړاځی ولی دوه ړکعت لمونځ په شرعه کې صلوة
کامله دی» او پاته د اخبره سوه چې ابطال د وصف د سنت والی خو یې ړاغی مونږ
وایو نَعَمْ لکن د دی ابطال خو جبیره سته، چې اداء کول د دغو سنتو د وړو سته
تر فرضی لمانځه. که څوک وائی چې پسله فرضی خو قضاء ده جواب یې دادی چې قضاء
وړته ویل مجازدی کما صرح به الامام الطحطاوی په ص۳۶۶ کې حاصل د کلام دادی

چې دغه څلور رکعته کې تر فرضو لمانځه د مخه وسي اوکه ورو سته اداء ده اووصف د سنیت یه پرځای دی» نوچې دی قطع کړي پر دوه رکعته. نوبیه قدر د دوو رکعتو یه جماعت کامل شو. او استماع د خطبې یه هم یه دغه اندازه کامل سوه نو بناءً علی هذا د درویش، بلان ومذهب ته د مصنف دی» قال المصنف:

ثُمَّ قَضَى السُّنَّةَ بَعْدَ الْفَرْضِ او بیادی قضا راوړی د هغو څلورو سنتو پسله اداء د مخه د فرضی لمانځه یعنی ماپښین یادجمعې **پوه سه**: چې د مخه مونږ وویلې چې د قضاء لفظ ویل مجازدی په اعتبار دی چې د غه سُنت ترخپل ځای ورو سته سوله، ورنه حقیقةً اداء ده. ولې چې وقت باقی دی

وَمَنْ حَضَرَ وَكَانَ الْإِمَامُ فِي صَلٰوةِ الْفَرْضِ اِقْتَدٰى بِهٖ قال المصنف: کې یوسړی حاضرسو یعنی مسجد ته او امام په فرضی لمانځه کې وو، سمدسبتی دی اقتداء پسې وکړي او ځان دی نه مشغوله کوی د امام د لمانځه

وَلَا يَشْتَغِلُ عَنْهُ بِالسُّنَّةِ مخه په سنتو کولو سره یعنی کرخم د سُنتو په کولو سره دده مخه یوه رکعت هم نه تیریږی **مسئله**: که سړی د باندی ترمسجد وو اودی نه پیږیدی چې کده سنت وکړم د امام مخه به یوه رکعت تیرسی نوسنت دی وکړی او بیادی اقتداء په امام پسې وکړی، ولی دده فضیلت به ورته حاصل سې یواداء د سُنتو ده په خپل ځای کې. اوبل ټوله لموږ په جماعت کولو دی» قال المصنف:

اِلَّا فِي الْفَجْرِ اِنْ اَمِنَ فَوْتَهٗ وَاِنْ لَّمْ يَاْمَنْ تَرَكَهَا مګرنه په سنتو د سحار د لمانځه نوکه دی په امن کې وو د فوت مخه د امام د لمانځه کې د مخه هم خیال دا وی چې په التحیات کې پسې ورسیږم، نودی سنت وکړی که څرهم په مسجد کې وی لکن د صفو مخه ګوښه» اوکه سیږدی چې نه که سنت کوم ټوله لموږ جماعت ورسه تیرږی نُودی سنت پریږدی

پوښتنه: په حدیث شریف کې راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام وائی: اِذَا اُقِيمَتِ

الصَّلٰوةُ فَلَا صَلٰوةَ اِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ، **جواب**: مراقی وائی چې هغه حدیث محمول پرغیر د سنة الفجر دی. **فائده**: افضل کار دادی چې سنة الفجر دی سړی په کور کې وکړی» قال علیه الصلوٰة والسلام: مَنْ صَلّٰى رَكْعَتَي الْفَجْرِ اى سنته فى بيته يوسع له رزقه، ويقل المنازع بينه وبين اهله و يختم له بالايمان» که چا دوه رکعته سُنت د سحار په کور کې وکړه خدای پاک به فراخی ورکړي په رزق کې دده اولاد به وی تر خلاف دده اوده کور والاتر مابین. اوخاتمه د ژوند به ئې پرایمان وي، ثم اختلفوا راجح مذهب دادی چې دغه دوه رکعته سنت دی په اولوسپیدو کې وکړی. اوبعض علماء وائی چې د فرضی لمانځه وخت نژدی سې بیادی سنت وکړی»

فائده علیه الصلوٰة والسلام ټوله عمر سُنة الفجر په کور کې کوله. اوپرهغه چا یه انکار کاوه چې سنة الفجر به ئې په مسجد کې کول اوروبش ولاړ ئې چې د دی حدیث مخه د امعلومه سوه چې په وخت کې د جماعت د سنة الفجر په مسجد کې مکروه دی، امام طحطاوی د فتح القدیر مخه په بناء کې د سنة الفجر یوښه تحقیق نقل کړی دی. اووائی چې څروخت چې مؤذن په اقامت شروع وکړه اوسړی راورسیدی. نوبیه دروازه کې د مسجد دباندی دی سنت وکړی، اوکه دباندی ځای نه وو، نوسنت دی پریږدی، ولی کې دی په مسجد کې که څرهم لیرې وی د صفو مخه مخالفت د جماعت لازمیږی اوهغه مکروه دی، اوترک د مکروه مقدم دی تر فعل د سُنتو»

درویش وائی وفیه نظر ولی مکروه چې تنزیهی وی فعل د اَكَّدُ السُّنن تر افضل دی لکه د سحار سُنت» لکن کراهت د کولو د سُنتو فرق سره لري: اشد کراهته په دادی چې په داخل د صفو سړي سنت کوی، ورو سته ترهغه بیا دا مکروه دی چې د صف ترشا به ئې حائل سنت کوی. اوتقریبًا د کراهت خالی طریقه یه داده که مسجد دوی حصې وویوه د دوبی د لمانځه د پاره وه اویوه حصه د ترمې د پاره وه، اوامام د دوبی په حصه کې پرجماعت ولاړ وو اوسړي د ترمې په حصه کې د مسجد سنت کوله او بالعکس» درویش چې د تحقیق مخه د فتح القدیر دا معلومه سوه چې هغه خبره چې مصنف د مراقی کړیده اوما هم راانقل کړه

لکن دمنفو نخه گوښه، ځای د خدشې دی الا ان یرید المصنف تخفیف الکراهة فی ذالک لانفیها بالکلیة: واللہ تعالیٰ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ والیه المرجع والمآب و هوالموفق للصواب

پوښتنه چې مصنف ترکها وقیله او قطعها یه نه وو ویلې اشاره یه ودی ته وکړه

ځواب چې په سُنتو یه شروع نه وی کړی اوکی شروع یه کړی وه بیادی خواه نخواه پوره کړی. ولی چې په قطع کی ابطال د عمل دی ط»

مسئله: په حدیث کی دابوهریرة رضی اعلی دی: چې د سحار په سنتو کی دی په اول رکعت دی الم نشرح مک وائی اوپه دوهم رکعت کی دی الم ترکیف وائی. اوامام غزالی وائی چې د سنتو په اول رکعت کی قل یاایها الکفرون وائی اوپه دوهم رکعت کی دی قل هو الله احد» وائی: قال الامام الطحطاوی که جمع د دواړو وکړی ښه کار دی»

سوال د فقهی شرنبلی په کتابو کی وائی چې جمع د دوو سورتو په یوه رکعت کی مکروه ده **ځواب**: چې هغه په فرضو واجبو سنتو کی ده. اود اړه د نفلو پیره فراخرده **پوښته** چې سنة الفجر خو اکد سنتو دی. نو ولی دادراک الجماعة د یاره اوسره د دی چې جماعت پرمشهور مذهب هم سُنت دی **ځواب** په حدیث شریف کی راغلی دی چې جماعت پریوازی فرضی لمانځه ۲۷ درجې بالا دی، اوثواب د سنة الفجر و یوی درجی ته ده هغه ۲۷ درجو نه زیږی»

فوائد شتی

په حدیث شریف کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام وائی چې لمونځ د سړی په کور کی افضل دی ترلمانځه زما په دغه مسجد کی الا المکتوبة» اوسره د دی چې په حدیث کی د بیهقی راغلی دی چې لمونځ په مسجد الحرام کی په یوه لک لمونځو دی دبل مسجد، اولمونځ زما په دغه مسجد کی په زر لمانځه دی دبل مسجد، اولمونځ د بیت المقدس په مسجد کی په پنځه سوه لمونځه دی، دبل ځای ترلمانځه، نواوس ته اندازه و لګوه چې نفل یا سُنت په کور کی څومره ثواب لری. اوپه هدایه کی وائی چې افضل په عامة السنن اونوافلو کی کور دی.

مګر هغه وخت که ښیره وی چې زه که ورسته یاد مخه سنت کور کوم په یوسبل کار به مشغول شم، اوفقیه ابوجعفر الطحاوی وائی چې دوه رکعته سُنت ترما پښین ورسته اوتر ما پښین ورسته دی په مسجد کی کوی اونور سنن دی په کور کی کوی»

فائده درویش وائی چې په ملایانو کی داخبره مشهوره ده بلکه په بعض کتابو کی د فقهی شرنبلی هم مسطوره ده چې د امام محمد په نیز کی د سنة الفجر په کولو کی دیوه رکعت د فرضی لمانځه امید وو نوسنت دی وکړی. اوکی امید نه وو که څوک د تشهد د اشتراک امید یه وی نوسنت دی پریږدی، اود شیخینو مذهب دادی که صرف د تشهد امید وی نوسُنت دی نه پریږدی، اودوی دامسئله قیاسوی د جمعی پر لمانځه چې د ما پښین لمانځه به څوک ورته پریږدی چې په هغه کی اختلاف د شیخینو او امام محمد مشهور دی، لکن داقیاس غلط اومع الفارق دی. ولی مقصود دلته خو د راک د فضیلت د جماعت دی اوهغه فضیلت یه ادراک د تشهد ی هم حاصلیږی بالاتفاق بین الامام وشیخیه رکما فی الدر رحاشیة الغرر لمؤلفه نور الایضاح، ونص علی الاتفاق بین ائمتنا الثلثة الکمال بخلاف الجمعة لان الجماعة شرط لها، فلهذا اختلفوا ان ای قدر من الجماعة کاف فی ادراک الجمعة فافهم» قال المصنف:

وَلَمْ تَقْضِ سُنَّةَ الْفَجْرِ اِلَّا بِفَوْتِهَا مَعَ الْفَرْضِ اوقضا نه راوړه کیږی د سُنتو د سحار مګر نه که سنت فوت سی سره د فرضو یعنی بیا په تبع کی د فرضو دی رااګرځوی که منفرد اوی اوکه په جماعت وی، اوامام محمد وائی چې قضاء د سُنتو یوازی هم سته، لکن ترلمر ختو ورسته اوترزوال د مخه، نوقضاء د سنتو د سحار یوازی ترطلوع الشمس مخه اویاترزوال ورسته اتفاقا نسته» **پوښته** چې په قضا کی د سنة الفجر یوازی بعد طلوع الشمس وقبل الزوال په حقیقت کی اختلاف د شیخینو او د امام محمد نسته» ولی دوی یوله وائی کی قضاء راوړی لا بأس به» صرف امام محمد دا وائی چې زما دا

داخو نه ده چې قضاء دی ړ اوړی او بیا هم کې نه ړ اوړه شی نسته باندی، هو په دی کې
اختلاف سته چې فرض لمونځ هم قضا سوی وي، نو تر ړوال وړوسته دسنتو قضاء
تبعاً سته اوکه نه. امام محمدؒ وائی سته، او صحیح داده چې پرقول د شیخینوؒ یې قضا تبعاً
هم نسته «کذا فی غایة البیان» مړ، ط، بحر، دړ، قال المُصنفؒ:

وَقَضَى السُّنَّةَ الَّتِي قَبْلَ الظُّهْرِ فِي الصَّحِيحِ فِي وَقْتِهِ قَبْلَ شَفْعِهِ

اوقضاء ړ اوړی د سُنتو چې د مخه ترما پسین دی، په صحیح ړ وایت کې په وخت کې د ما پسین
د مخه تر هغه دوه رکعته وړوستنی سُنتو. قال فی المراقی علی المفتی به کذا فی شرح الکنز
للعلامة المقدسیؒ» چونکه بعض فقهاءؒ وئیلی دی چې ددی څلور رکعتو سُنتو قضاء نسته»
ولې چې مواظبت نبویؐ پردوی باندی د مخه ترفرضو ثابت دی» نوځکه مصنفؒ ړ دا
علی هذا البعض فی الصحیح وقیله»

پوه سه: چې اطلاق د قضا پرد غو سُنتو مجازدی په اعتبار د دی چې پخپل
ځای کې نه دی، وړ نه حقیقةً قضاء نه دی ولې چې وخت د ما پسین باقی دی، (وقضاء هغه
تروائی چې تروخت خارج سې، ددی سبب په قهستانی کې وائی چې د قضائی نیت
دی نه کوی بلکه د سُنتو نیت دی کوی، قولہ فی وقته آه بعض مشائخ وائی چې بعد الوقت
دی هم قضاء ړ اوړی که د فرضی لمانځه سره قضا سوی وه. ولې چې دپرښیان که څوهم اصلاً
نه کول کیږی تبعاً کول کیږی» ط دلیل ددی قول د مصنفؒ قبل شفعه آه دادی چې د غه
څلور رکعته تر هغه دوو ړ رکعتو خود مخه دی. ولې چې دوی تر فرضو د مخه دی او فرض تر دی
دوو ړ رکعتو د مخه دی والتقدم علی التقدم علی الشئ متقدم علیه» اوپه فتاوی عتابی کې
وائی چې مختار د مخه کول دی د دوو ړ رکعتو پر څلورو باندې، وفی مبسوط شیخ الاسلام
وهو الاصح» په حدیث کې چې ړ وایت یه عائشه رضی الله تعالی عنها کړی دی د اوائی چې کله
به چې ده علیه الصلوٰة والسلام د مخه هغه څلور ړ رکعته قبل الظهر پاته سوه نو هغه تر دوو ړ رکعتو
دوو ړ وسته یه کوله» اوبل دادی چې هغه څلور ړ رکعته تر خپل محل خو پاته سوه، نو بې له ضرورة

هغه دوه ړ رکعت د خپل محل مخه چې اتصال بالفرض ولې وړوسته کوی، وعلی هذا المذهب
فتوی الفقیر **پوه سه**: چې هغه څلور ړ رکعته چې ترجمعې د مخه دی حکم یه د څلورو
ړ رکعتو قبل الظهر دی» مړ» **مسئله**: هغه څلور ړ رکعت سنت زوائد چې خلک
یه د مخه د ماخستن ترلما نځه کوی که چیرې پاته سې مانع د قضا یه نسته پسله فرضو. لکن
بعد الرکعتین اتفاقاً» مړ، دړ» اوبعض فقهاءؒ وائی چې د هغو قضاء نسته ولې هغه مندوب
دی» س، ط، دړ» لکن فتوی پرقول د مصنفؒ ده چې دړ اگرچیدو مانع نسته یعنی ړ ا
ترخو ل یه بنه کار دی» قال المُصنفؒ:

وَلَمْ يُصَلِّ الظُّهْرَ جَمَاعَةً بِإِدْرَاكِ رَكْعَةٍ أَوْ رَكْعَتَيْنِ بَلْ أَدْرَكَ

اولمونځ په جماعت د ما پسین نه دی کړی چاچې یو ړ رکعت وئیوی اویا دوه ړ رکعته د اخو اتفاقی
ده بلکه ثواب د جماعت یه

فَضْلَهَا وَاخْتُلِفَ فِي مُدْرِكِ الثَّلَاثِ

پیدا کړی او اختلاف دی په
مدرک کی د دړ دوو ړ رکعتو» د دی سببه که یوځوک قسم واخلی چې نه د ما پسین لمونځ په جماعت
نه کوم ړ اوبیا یو ړ رکعت یا دوه ړ رکعته د امام سره وکړی په قسم کی نه دی حانث، اوکه چا دسې
قسم واخستی چې نه ثواب د جماعت د ما پسین دلما نځه نه حاصلوم بیاد امام سره یو ړ رکعت
وئیوی په قسم کی حانث دی بلکه کی د امام سره تشهده یه وئیول هم حانث دی، اوپه صورت
د دوو ړ رکعتو نیولو سره چې سړی قسم واخلی چې نه د ما پسین په جماعت نه کوم ړ شمس الائمةؒ
وائی چې په قسم کی حانث دی» لان للاکثر حکم الکل» اوپر ظاهر المذهب نه دی حانث»
ولې چې ده خو بعض ظهر په جماعت وکړی او قسم یه پر تیولو ظهر اخستی وُو»
مسئله: په شرح کی د مقدسی وائی چې مسبوق ته خو ثواب د جماعت حاصل سُو
لکن دوه نه ثواب نه دی لکه د مُدرک چې اول دلما نځه د امام یه نیولی وي، ولې د مسبوق
مخه تحریمه تیره سوه. قال المُصنفؒ:

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه ولمن سعی فیه امین یا رب العلمین»

وَيَتَطَوَّعُ قَبْلَ الْفَرْضِ اِنْ اَمِنَ فَوْتَ الْوَقْتِ وَاِلَّا فَلَا

لوسړی دی تطوع کولای سی د مخه ترفرضی لمانځه کړ دی بیغمه وو د تیریدو مخه دوخت اوکه دوخت پرتیریدو ببیریدی نوتطوع دی بیا پریږدی، **پوه سه چې** لفظ دتطوع عام دی سنت مؤکد تړهم وائی اوخالص نفلوته هم وائی. نوځکه مراقی وائی بمؤکد وغیره. **فائده**: داحکم مسافر اومقیم دواړوته شامل دی،

فائده امام طحطاوی وائی چې ظاهر د عبارت یعنی "یَتَطَوَّعُ" دلالت کوی پر تخییر د مصلی یعنی کوی اوکی نه کوی، لکن په نورو تطوعو کی تخییر نسته بلکه سنت مؤکد په کورو کی تخیر نسته خامخا به ئی کوی، کړدفوت الوقت ببیره نه وی اګر تطوع مستحب وه نوکورو په هم مستحب دی، البته په نفلی مجرد کی تخیر سته، وَالْجَوَابُ عنه ان ترجمة یتطوع فی المتن یجوز ان یتطوع" و لیس المراد بالجواز تساوی الطرفین الذی هو معنی الامکان الخاص عند الحکماء" بل المراد به الامکان العام المقید بجانب الوجود یعنی لیس عدم التطوع ضروریا"، فیشمل المؤکد وَالمستحب والجائز البحت، فافهم"

مسئله: کله متطوع سړه د دی چې پرفوت دوخت نه ببیریدی مګر پرفوت د جماعت ببیریدی نودې هم تطوع پریږدی، وَاِلَّا فَلَا **حکمت** د تطوع قبل الفرض فائده داده چې د شیطان طمع قطع سی، په دی معنا چې شیطان چې فکر وکړی چې دی سړی نه ما په وسوسه تطوع لا نه پریښودله نوفرضی لمونځ به ځرنګه پریږدی قال فی المراقی فی حکمة السنن القبلیة لتکمیل نقصها فی حقنا" اوپردی عبارت د ده د سوال واړدیږی چې تکمیل نقصان خوفرعد ده وجود د نقصان لره، نود غه سړی خوتراوسه فرضی لمونځ نه دی کړی نود نقصان درک په څه معلومیږی، چې دی سنن قبلیه د هغه د پاره وکړی البته داحکمت په سنن بعدیه کی مناسب وو، واجاب عنه المحقق المحشی په دی سره چې سړی چې فرضی لمونځ ناقص وکړی تکمیل د نقصان یه په سُنن قبلی ووسره کیدای سی" ویدل علیه ماورد فی الاثر" چې څه وخت چې په لمانځه کی د سړی خلل پیدا سی

نوحق تعالی د ملکوته ووائی وګوری چې د غه مصلی لره څه نوافل سته لوکه نوافل وه نوکامل کیږی په هغوسړه هغه خلل موجود، وهذه النوافل عام دی قبلی او بعدی ته دواړوته شامل دی"

سوال: داحکمت په سُنتو کی د علیه الصلوٰة والسلام څرنګه صورت لری ولی چې په لمانځه کی د ده مبارک خونه وجود د خلل سته اونه طمع د شیطان وجود لری **جواب** سُنن د آنحضرت صلی اللہ علیه وسلم د پاره د پوره ته والی د د ترجود دی، قال المصنف،

وَمَنْ اَدْرَكَ اِمَامَهُ رَاكِعًا فَكَبَّرَ وَوَقَفَ حَتّٰى رَفَعَ الْاِمَامُ رَأْسَهُ

کړځول ور سیده وامام سته په حال کی د رکوع نوده الله اکبر ووایه اوداعضی ودریدی حتی چې امام سر اپورته کړی د د غه سړی د غه رکعت نه دی حساب **پوه سه**: چې قید د وقف اتفاقی دی ولی چې په مراقی کی وائی کړ مقتدی ده الله اکبر وویلو سره سمدستی په امام پسی رکوع ته ولاړی لکن امام د ده تر سیدو د رکوع د مخه سر اپورته کی هغه د غه مقتدی د غه رکعت نه دی نیولی **پوه سه**: چې د غه تلواری مقتدی به تکبیر تحریمه په ولاړی وائی بیا به رکوع ته ځی. اوکه ده په حال کی د چوغه کیدو و رکوع ته الله اکبر ووایه. نوکه رکوع ته تر ولاړه نزدی ووشروع په لمانځه یه نه صحیح کیږی. حاصل دادی چې د ادراک الرکعة د پاره شرط مشارکت د امام سره دی په یوه جُزء کی د قیام اویا په یوجزء کی د هغه فعل چې په حکم کی د ولاړی وی لکه رکوع اوشرط دا نه دی چې دوه تکبیره به مقتدی وائی یوه تحریمی د پاره اویوه رکوع د پاره کما فی المراقی"

درویش وائی چې فتوی خوپر قول د مصنف ده ولی هغه اثر سره د ابن عمر رضی اللہ تعالی عنهما برابر دی چې هغه داسی وائی چې که ته ور سیدی وامام ته په رکوع کی اویام رکوع ورسره وکړه د مخه ترڅه چې امام سر اپورته کوی نوتا د غه رکعت ونیوی. اوکه امام سر اپورته کی د مخه ترڅه چې ته رکوع ته ورځی نو په تحقیق د غه رکعت ستا څخه فوت شو

لکن سره دهغه په دی مسئله کی نور اقوال هم ستنه، بعض فقهاء وائی چی که مقتدی په کښته والی ورکوع نه شروع وکړه او امام په پورته کید وسره د رکوع څخه شروع وکړه نو دغه رکعت به ونیوی، او بعض فقهاء وائی چی ترهغو چی امام سم نه وی دریدلای اودی ورسره شریک دغه رکعت په حساب دی، او بعض فقهاء وائی چی ترهغو مقتدی مدرك د رکعت نسی کیدلای چی تول کامله رکوع وینه نسی. او بعض فقهاء وائی چی په قدر دیوی تسبیح شراکت په رکوع کی ضروری دی دپاره د ادراك الرکعة» ابن امیر حاج وائی: والاول اوجه یعنی چی قول د مصنف هم وو. او امام حلبی وائی: وهو الاصح لان الشرط المشارکة فی جزء من الرکوع وان قل» قال المصنف:

وَإِنْ رَكَعَ قَبْلَ إِمَامِهِ بَعْدَ قِرَاءَةِ الْإِمَامِ مَا تَجُوزُ بِهِ الصَّلٰوةُ

او که رکوع وکړه مقتدی د مخه تر امام، پسله دی څخه چی امام دومره قرائت وئیلی وو چی لمونځ

فَأَدْرَكَهُ إِمَامُهُ فِيهِ صَحَّ وَإِلَّا فَلَا

پرې واوو، (او بیا مقتدی په رکوع کی ووچی امام هم رکوع ته ورغلی نو رکوع د مقتدی صحیح ده، او دغه رکعت به ونیوی، او که داسی نه وه یعنی یا رکوع د مقتدی د مخه وه تر قرائت د امام ما تجوز به الصلوة، چی هغه یوایت طویله دی یا دری کشتی اتیونه دی، او یا دغه مقتدی ته امام په حال کی د رکوع نه ور ورسیدی بلکه مقتدی سر اپورته کړی وو چی امام رکوع ته ولاړ وی بیا د مقتدی دغه رکوع نده صحیح، ولی دده دغه رکوع په دواړو صورتونو کی تروخت د مخه ده، نو مقتدی دوهم رکوع د امام سره وکړی. او که نه وکړی او د لمانځه سلام وګرځوی، د مقتدی لمونځ باطل شو.

مسئله که مقتدی سجده وکړه د مخه تر امام نو که دغه سجده پسله دی څخه وه چی امام سر د رکوع څخه اپورته کړی وو، او یا امام چی مقتدی په سجده کی وو پسی ورورسیدی دغه سجده د مقتدی صحیح ده لکن ګناه کار دی. او که امام لا سر د رکوع څخه نه وو اپورته

کړی مقتدی سجدی ته ولاړی د حضرت الامام څخه روایت دی چی دغه سجده به نه ده صحیح ولی بیوخته ده.»

مسئله: په تتمه کی او خانیه او محیط کی وائی.. که امام په سجده کی وو او یا ناست وو مقتدی نیت پسی وکی نو دا مقتدی به دوه تکبیره وائی یو د شروع د لمانځه او بل د انحطاط دپاره **سوال**: د مخه تیره سوه چی امام په رکوع کی وی نو په مقتدی دوه تکبیره ویل نه دی لازم. افما الفرق» **جواب** چونکه په حال کی د رکوع وقیام ته نږدی دی نو څکه تکبیر الافتتاح د تکبیر الرکوع څخه غنی را وستله بخلاف هذه المسئلة»

مسئله که امام پر سجده پروت وو نو په مقتدی واجبه ده چی تکبیر افتتاح دی په ولاړی وکړی او بیا دی په سجده د امام سره گډون وکړی که څه هم د دغه رکعت نه دی په حساب، او که دغه مقتدی یوازی سپکه رکوع وکړه. او بیا د امام سره یې دواړی سجدی وکړی لمونځ خو نه دی فاسد لکن مدرك د رکعت نه دی. ولی هغه یوازی رکوع دده لغوه ده. او که امام پر سجده وو مقتدی داغسی ولاړ وو چی امام را پورته شو نو مقتدی په باقی لمانځه کی شراکت وړسره وکړی او د هغه فوت سوی رکعت قضایه را اوړه وروسته ترفراغ د امام لمونځ یې صحیح دی. ولی چی مقتدی د رکعت قضاء سره دده سجدو را اوړه. او که څه هم داسی فعل د حدیث مبارك څخه مخالف دی چی روایت یې ابوداؤد او ابی هریرة څخه کړی دی چی علیه الصلوة والسلام وائی چی تاسی راسی ولمانځه ته په داسی کی چی موږ پر سجده پرات یو تاسی هم سجده را سره کوی او تاسی داهیڅ شی مدرکوی یعنی پر رکعت یې مه حسابی. او که چا رکوع د امام سره ونیوله نو هغه دغه رکعت هم ونیوی»

قال المصنف: **وَكُرِهَ خُرُوجُهُ مِنْ مَسْجِدٍ أُذِّنَ فِيهِ حَتّٰى يُصَلِّيَ**

(په کراهت تحریمی سره)

او مکروه ده وتل د هغه مسجد څخه چی اذان په کښی وسی. تر هغو چی لمونځ کوی. ولی چی په صحیح حدیث شریف کی داسی راغلی دی: چی نه وزی د مسجد څخه پسله اذان څخه مگر منافق، او یا هغه سړی چی په یوکار پسی ووزی او بیرته اراده د را ستګ لری».

قال المصنف: **إِلَّا إِذَا كَانَ مُقِيمُ جَمَاعَةٍ أُخْرَى وَإِنْ خَرَجَ بَعْدَ**

مگر دا چه کوم امام یا مؤذن د بل مسجد وی، او که ووتی

صَلَاتُهُ مُنْفَرِدًا لَا يُكْرَهُ د مسجد څخه پسله دی څخه چې لمونځ به یوازی وکړی بیا مکروه نه دی. ولی ده خو اجابت دا بعی الله چې مؤذن وی او وړکړی یعنی په انفرادی لمانځه سره نو دُوهم وار اجابت پرده نه دی لازم که څه هم ترک د جماعت مکروه دی» قال المصنف:

إِلَّا إِذَا أُقِيمَتِ الْجَمَاعَةُ قَبْلَ خُرُوجِهِ فِي الظُّهْرِ وَالْعِشَاءِ

مگر بیا مکروه دی د مسجد څخه د لمونځ هم یوازی کړی وی که جماعت برپا یې سُو یعنی اقامت د جماعت د پاره وکړه سُو د ما پښین په لمانځه کی او یا د ماښام په لمانځه کی. ولی خو نفل لمانځه نیت دی په امام پسی وکی، چې تر دغه دوو لمونځونو روسته خو نفل روا دی، په خلاف د سحار د لمانځه او یا د ماز دیگر د لمانځه چې نفل تر هغو روسته نسته، او په خلاف د ماښام د لمانځه چې د دری رکعت نفل خو هم نسته، نو به داسې خلک نه مُتهمه وی چې د جماعت څخه وَلاړی یا د خوارجو څخه دی، او یا شیعه گانو څخه چې هغه لمونځ په جماعت نه کوی. ولی دوی وائی چې امام الجماعت د گناه څخه باید معصوم وی. او دا خبره د دوی صرف درواغ ده. ولی په حدیث شریف کی راغلی دی صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَقْفُنَّ مَوَاقِفَ التُّهَمِ» که چا ایمان وی پر خدای او پر ورځ د اخرت نو دی هیڅ کله نه دریږی په ځای کی د تهمتو» قال المصنف:

فَيَقْتَدِي فِيهِمَا مُتَنَفِّلًا نو اقتدا دی وکړی په دغو دوو لمونځونو کی په امام پسی نفل کوونکی لدفع التهمة عنه **فَائِدَه** مکروه ده ناسته د دغه سړی چې لمونځ به یوازی کړی وی د ما پښین یا ماختن په مسجد کی

د جماعت ولاړ وی. ولی چې په دی ناسته کی مخالفت د جماعت لازمیږی. او د ماښام لمونځ نفلی دامام سره نسته په ظاهر روایت کی **فَائِدَه**: امام طحطاوی وائی چې په اول کی دمسئلی مراد ده اذان څخه نفس د خول د وخت دی که اذان په مسجد کی سوی او که نه ځکه ویلی وائی چې د اخبره چا تائید کړی نه ده، او د عرفه څخه هم خلاف ده ولی د ما پښین وخت مثلاً پسله زوال ځکه د لمرد اخلیږی او جماعت یو ساعت یا دو ساعته روسته خصوصًا په دوبی قائمیږی. نو به داسې دوساعته په انتظار د جماعت په دی مسجد کی ناست وی» او لفظ د حدیث هم دی خبری پر خلاف دی قال علیه الصلوٰة والسلام لَا يَخْرُجُ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ النِّدَاءِ الْا مُنَافِقٌ» او منداء خو اذان ته وائی نه د خول الوقت ته.

مسئله: که مؤذن پخپل مسجد کی قائم مقام د ځان لودی وه هغه ته هم وتل پسله اذانه مکروه دی» ط **مسئله** په هغه سړی چې د سحار یا مازدیگر لمونځ به یوازی کړی وی واجب ده مسجد څخه دی ووزی» ولی چې جماعت ودریږی او دی یوازی ناست وی، سبب د لوی تهمت گرځی، کذا فی النهر الفائق» قال المصنف:

وَلَا يُصَلِّي بَعْدَ صَلَاةٍ مِثْلَهَا او سړی دی نه کوی پسله لمانځه څخه مثل د هغه لمانځه» په مراقی کی وائی چې دغه عبارت د لفظ د حدیث دی» نو څوک وائی معنا یې داده چې نه دی کوی دوه رکعته نفل سره د قرائت او دوه رکعته بیله قرائت» نو دا بیان د دې دی چې په څلور سره رکعتو کی د نفلو قرائت فرض دی لکن داده لفظ څخه د حدیث چې په لری ترجمه ده» او څوک وائی چې مراد دادی چې سړی لمونځ وکړی بیرته دی نه راگرځوی د پاره د طلب د ثواب» او بعض وائی چې معنا د حدیث داده چې په مجرد توهم د فساد دی بیرته لمونځ نه راگرځوی، ولی چې په دې سوره روایاته دوسوسو خلاصیږی. او څوک وائی چې دا نهی دی د تکرار څخه د جماعت پرهیښت اولی: وَاللهُ تَعَالَى أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ

کتبه بیده و احقر العباد فضل الحق حقانی غفرله

بَابُ سُجُودِ السَّهو

باب ثابت دی په بیان کی د سجدهٔ سهوه،

پوه سه: چی اضافت د سجود و سهوی ته اضافت د حکم دی و سبب ته د هغه یعنی هغه سجده چی سبب یې سهوه ده، مرد، اومراد د سجود څخه جنس سجده ده نو د واو د سجدو ته هم شامل سو. فلا یتوهم ان لفظ التجود مفرد فکیف یشمل السجدتین، اوسهوه اونسیان او شک، په حکم کی یې نیزد فقهاو و یوشئ دی. اوظن طرف راجح ته وائی کرخی هم یې نیزد حکماو د دې دواړو لفظو فرق ستا، ولی دوی وائی چی شک تساوی د طرفینو ته وائی او نسیان هغه ده چی یوشئ چی سړی ته معلوم وو، مگر اوس یې هم د عقل او د حافظی وتلی وی چی نوکسب جدید غواړی اوسهوه داده چی شی په مدرکه کی باقی وی صرف د حافظی څخه وتلی وی نوکسب جدید نه غواړی بلکه چی ښه فکر و کړی ور پیا دیږی، ط د،

قال المصنف: **یَجِبُ سَجْدَتَانِ** دوی سجدی دی کوی. په مراقی کی وائی چی دلیل د وجوب یې دادی، چی دا سجده ضمان د فائت دی، وهو لا یکون الا واجبا وهو الصحیح، ولی که فائت فرض وی خولمونځ یې باطل دی. اوکه سنت وی هغه ضمان نه لری، اوبعض فقهاء وائی چی سجود السهو سنت دی، ولی چی علیه الصلوٰة والسلام چی یووخت په لمانځه کی سهوه سو نو یې دوی سجدی وکړی ور وسته تر سلام،

پوه سه: چی د غه دوی سجدی د سهوی هم د غسی دی لکه د اصلی لمانځه سجدی یعنی په مابین کی د دغو دوو سجدو به کښینی پښه به پری باسی، اود وضع اور فع د یاړه به الله اکبر وائی. اوپه دواړو کی به تسبیح د سجدی وائی و کل ذالک مسنون، ط، اوبعض فقهاء وائی چی په سجود السهوه کی به دا سی تسبیح وائی: سُبْحَانَ مَنْ لَا یَنَامُ وَلَا یَسْهُو، ط وائی چی دا سی تسبیح خو مناسب د حال سره ده نوکه دواړه قسمه تسبیح سره جمع

کړی دیره به ښه وی. **مسئله** که یوسړی فقط یوه سجده وکړه د سهوی د یاړه نوکی په قصد د اسی وکړه نوگناه کار دی بل څه نه ده اوکی په سهوه د اکار وکړی نو واجب څو نه سوه پرځای لکن د دی سهوی جبیره پری نسته، کما فی البحر لو سهی فی سجود السهو لا یسجد لهذا السهو کما قال اهل الصرف لا تصغیر المصغر،

یَا حَیَّا قِصَّه:

محمد بن الحسن الشیبانی یوه ورځ وکسائی نحوی ته چی ډډه ډاله زوی وو د اسی وویل چی ته ولی اشتغال په فقه سره نه کوی! کسائی ورته وویل چی زما نحوه د اسی محکمه زده ده چی و تولو علموته وما ته هدایت کوی، امام محمد ورته وو ئیله چی زه پرتا سوال د یوی مسئلی د فقهی شریفی کومه، ترڅو د قواعد و څخه د نحوی ماته جواب راکړه، اکسائی ورته وو ئیل چی راباندی وی کړه، امام محمد ورته وو ئیله که سړی په سجده سهوه کی سهوه سو نو څه به کوی! کسائی یوګړی فکر وکړی اوبیا ئی ورته وو ئیل د دی سهوی د یاړه سجده سهوه نه غواړی. امام محمد ورته وویل چی دا حکم نو تا د کومه قاعدی څخه د نحوی معلوم کړی، کسائی ورته وو ئیل د دې قاعدی څخه چی نحاة وائی المصغر لا یُصغر نو امام محمد ډډه زړاکت ته تعجب وکړی: اوپه مضمرات کی وائی چی که چیری د سهوی په سجده سهوه کی هم سجده سهوه لازمه سی نو تسلسل لازمیږی وهو باطل، قال المصنف:

بِتَشَهُّدٍ وَتَسْلِیمٍ سره د التحیات پسله سجود السهو او بیا په پای کی سلام کړ ول کن په مراقی کی وائی چی درود دی هم وائی او اللهم ربنا دی هم وائی پر مختاره مذهب باندی **پوه سه:** چی التحیات او سلام خو واجب دی ولې هغه اوله تشهد او سلام خو پوره ته سول په ګرځید و و سجدی ته، اود درود په باره کی فخر الاسلام وائی یعنی قبل سجود السهو و بعده، و اختاره فقیه ابو جعفر الطحاوی قال المصنف:

بِتَرْكِ وَاجِبٍ سَهْوًا په سبب د پریښو لو د واجب په سهوه سره، که ترک د واجب وی اوکه تاخیر د واجب وی اوکه

زیادت وی اوکه نقصان، دواجب په قید سره فرض اوسنت خاسه سوه ولی فرض خو جبیره نه لری بلکه لمونځ په فاسد سو اولمونځ په ترک د سنت ناقص نه ورته ویل کیږی حتیٰ چی جبیره د نقصان وغواړی وقدم قبیل هذا» اوسهوًا مصنف ددی دپاره وئ ئیله چی په قصدًا دا کار کوونکی مستحق د تغلیظ دی یعنی ماموم په دې دی چی لمونځ دسره ړاوګرځوی»

بنهانی فائدی د طحطاوی په حوالی

۱ که سړی په لمانځه کی ایت د سجدی ووایه اوسجده یه وځنډوله. صاحب هدایه په تجنیس کی وائی چی سجده سهوه په دی تاخیر کی نسته» ولی سجدهٔ تلاوت په صلب کی لمانځه واجبه ده

۲ که مصلی بسم الله پریږدی پرظاهرالمذهب خوسجده سهوه نسته مګر یلعیٔ شارح الکنز وائی چی سجده سهوه پرواجب ده»

۳ اوکه یوسړی د الحمد لله یوایت پریږدی په نیزد حضرت الامام الاعظمؒ سجده سهوه باندی لازمه ده، او په نیزد یارانوؒ چی اکثر حصه د فاتحی پریږدی نوسجده سهوه پر واجبه ده، وبه جزم فی الفتح تبعًا للمحیط» والفتوی علی قول الامامؒ»

۴ پوسه چی د لمانځه کول د الحمدُ لِلّٰه پرسورت واجب دی، یعنی په قدر دیوه ړرکن د اداء ددی نه ځنډوی، نوکه مصلی د لمانځه ترفاتحه شروع په سورة وکړه سهوًا اوبیا یه فاتحه وړپیاد سوه نوفاتحه دی ووائی اوسورت دی ړاوګرځوی اوسجده سهوه دی هم وکړی ولی چی واجب په ترځپل محل وځنډاوه.

۵ که سړی تبوله الحمد لله مکرر کړه یایوه حصه د هغی په یوه کی داولو دوو ړرکعتو ترسورة د لمانځه سجده سهوه پری لازمه ده. ۶ که سړی سورت پریښو اوپه رکوع کی وړپیاد سوبیا پسله ړرفع د رکوع څخه ترسجدی د لمانځه نودی دی بیرته وګرځی اوسورة دی ووائی اوړرکوع دی بیرته ړاوګرځوی اوسجده دی هم وکړی. ولی چی په ویلو سره د سورت سنت فرض وګرځیدی»

نوهغه د لمانځه رکوع یه پوره نه سوه، حتیٰ کی رکوع ته ړاوګرځول لمونځ یه فاسد سو، ولی چی فرضی رکوع په کښی پاته سوه»

۷ اوکه سړی سورة ووایه اوفاتحه یه هیره سوه. اوبیا یه په رکوع کی وړپیاد سوه. نودی دی بیرته ولاړسی الحمد لله دی ووائی اوسورت دی ړاوګرځوی اوړرکوع دی هم ړاوګرځوی اوسجده سهوه دی هم ړاوکړی»

۸ که دسړی څخه دعائی قنوت هیرسوا وپه رکوع کی وړپیاد سونودی د بې ځایه ولاړیږی اودعائی قنوط دی نه وائی. ولی چی دعای قنوط خوقبل الرکوع ووهغه فوت سو، اوکه فرضًا دی ولاړهم سواوقنوط یه ووایه رکوع دی نه راګرځوی. ولی قنوط خوفرض نه سی واقع کیدای، نویه دهٔ فرض عملی چی رکوع وه نه پوره کیږی. لکن په دواړو حالو کی به سجده سهوه کوی لستراک الواجب په اول صورت کی اویاد تاخیر ده واجب ده کبله په دوهم صورت کی»

۹ که لمونځ کوونکی په رکوع کی اویا په قومه اویا په سجده کی ایت ووایه سجده سهوه پری لازمه سوه.

۱۰ که سړی په اوله ناسته کی قرائت ووایه نوکه د لمانځه تر التحیات ووایه هم سجده سهوه پر لازمه ده. ولی چی واجب یه پریښو چی ویل د تشهدی دی په اول کی دناستی، اوکی قرائت ورسته تر التحیات ووایه نوهم سجده سهوه پرلازمه ده، ولی اتصال دولاړی دفراغه سره د تشهدی واجب دی هغه پاته سو، اوکی په اخیره ناسته کی قرائت ووایه نوکه قبل التشهد وو سجده سهوه پرلازمه ده» لغوات الواجب وهو الشروع بالتشهد فی اول الجلوس» اوکه بعد التشهد یه قرائت ووایه» سجده سهوه نسته» چی په اخیره ناسته کی بعد التشهد ازادی ده دعاء کولای سی ثناویلای سی» اوقرائت خو هم دغه دوو څخه نه خالی کیږی» اوکی تشهد په اخیره ناسته کی دوه واړه ووایل اویا تشهد په ولاړی ووئیله یا په رکوع کی یا په سجده کی سجده سهوه باندی نسته» فی الاصل

۱۱ که سړی تشهده پریښوول په دوو ناستوکی اویا په بعض د تشهدی پریښو سجده سهوه په ظاهر روایت کی باندی سته، ولی چی تشهده ذکر واحد منتظم دی

نوترك د بعض په لكه ترك دكل دی، اود غږ نكه كی دعائ قنوط دوتړو پری سنبو، يا الله
اكبر په پريښو نو سجده سهوه دی وكړی اوبجرو دی ته ترجيح ورنكړيده»
۱۲ اوكه امام جهريه قرائت سره پريښو په هغه لمانځه كی چی قرائت يه په جهر سره وو
اويا يه جهر وكړی په خفيه لمانځه كی سجده سهوه باندی سته، لكن په دی كی اختلاف
دی چی موجب دسهوی څومره دی! والاصح: چی په قدر د ما تجوز به الصلوٰة پسه
دواړو صورو توكی، ولی چی دلته جهر او ياد لته اخفاء احتراز نه كيږی،

پوښتنه: په حديث صحيح كی د بخاری وغيره راغلی دی چی عليه الصلوٰة والسلام به
ځاځی په مونږ يوالیت په سری لمانځه كی اوراوه، **جواب** بعض فقهاء وائی چی دا اوږدول
دی دپاره وو چی صحابه ځ ته داور معلوم كړی چی قرائت مشروع دی په هغه لمونځو كی چی
قرائت يه په جهر وی. اوفتح القدير دا جواب رد كړی. اودی وائی چی دا مشروع والی د قرائت په
سری لمونځو كی د څخه وو معلوم .. فلا حاجة الی اعلامه فی الصلوة » ولی چی په حديث مبارك كی
داسی راغلی دی چی په ابتداء كی د اسلام د تيو لو لمونځو قرائت په جهر سره وو. ترهغو چی
دا آيت نازل سو وَلَا تَجْهَرْ بِصَلٰوتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا
نو بيا لمونځونه دی قسمونه سوه كما هو الآن » نو صاحب الفتح وائی چی قرائت د عليه السلام
په جهر سره په سری لمونځو كی د پاره د بيان د جواز دی يعنی په قدر د يوه ايت يعنی كوتاه جهر
په سری لمانځه كی پرواه نه لری» ولی چی احتراز د جهر سره بالكليه مشكل دی خصوصاً په ابتداء
كی د ساه كښلو»

د رويش وائی چی د پير شاه رحمان د حديثو وائی چی د غه ايت: وَلَا تَجْهَرْ الايه » په دی باره
كی نازل سوی دی چی آنحضرت صلی الله عليه وسلم به په ابتداء كی د اسلام په جهری لمونځو
كی له ډيره محبته قرائت ډير په زوره وايه حتی چی كافرانو چی به واوريدی نو قرآن او مَنْ اَنْزَلَهٗ
وَمَنْ نُّزِّلَ عليه ته بی پوچ وئيله، نو په دی ايت كی آنحضرت صلی الله عليه وسلم په دے
ماموريسو چی قرائت ډير په زوره مه وايه چی كفار يه هم اوری او د بنكنځلو سبب وگرځی
وَلَا تُخَافِتْ او دونه كړ يه هم مه وايه چی اصحاب يه نه اوری» وَابْتَغِ

قَالَ المصنفؒ **وَاِنْ تَكَرَّرَ** كه څومره د سهوه مكرره سی يعنی دوه دری څايه سهوه سی
دی يوه جنسه څخه وی اوكه مختلف الجنس وی، لكه يو سری چی طمانينت د ركوع او سجدی
پريښ دی او تشهد اوله هم پريښ دی» قَالَ المُصنفؒ:

وَاِنْ تَرَكَهٗ عَمْدًا اَثِمَ وَوَجَبَ اِعَادَةُ الصَّلٰوةِ لِتَجْبِيْرِ نُقْصَانِهَا

اوكی پريښو واجب په قصد سره گناه كار دی، اوپه واجبه ده ځ اگر هغول د لمانځه د پاره د جبيره
د نقصان يعنی په ترك د واجب، د دی مفاد د

وَلَا يَسْجُدُ فِی الْعَمْدِ لِلسَّهْوِ چی فرض لمونځ خو يه اول دی اود وهم په
جبيره ده. او بعض عُلماء وائی چی فرض لمونځ يه د وهم دی، اول يه نفل سوه، او سُجده
دی نه كوی په عمد كی د سهوی د پاره. ولی چی سُجده سهوه خو په سهوه سره اړه لری دلته
خو عمد دی سهوه نسته، او بل دا چی عمد خو اقوی دی تر سهوی نو جابر د ضعيف چی
سهوه ده جابر د قوی نسی كيدای چی عمد دی» قَالَ المُصنفؒ:

قِيْلَ اِلَّا فِیْ ثَلَاثٍ تَرْكُ الْقُعُوْدِ الْاَوَّلِ يَعْنِیْ عَمْدًا اَوْ تَاْخِيْرُ

او بعض فقهاء وائی چی مگر په دری صورتونه كی پرعامد هم سجده سهوه سته، او دا چی اوله

سُجْدَةٍ مِنَ الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰی اِلٰی اٰخِرِ الصَّلٰوةِ يعنی **اَوْ تَفَكُّرُهٗ عَمْدًا**
ناسته پريښ دی په قصد سره. دوهم دا چی وخندی وی سجده د اول ركعت تر اخيره پوری د لمانځه
د ديم دا چی قصدًا فكر وهی، حتی چی د اغه فكر يه مشغول
حَتّٰی شَغَلَهٗ عَنْ رُكْنٍ كړی دا دا كولو څخه د ركن د لمانځه» **پوه سه**
چی امام طحطاوی دا صورتونه هم زيات كړی دی» چی په اوله ناسته كی عمدًا درود
وائی. دوهم دا چی الحمد لله عمدًا پريښ دی» قَالَ فی المراقی سُؤال وسود فخر الاسلام

البدیعی څخه چې څرنګه د عمد په صورت کې سجده سهوه ستنه، نوده جواب ورکړی چې دا
سجده عذر د سجده سهوه نه ده، یعنی غرض د دی دوو سجدو څخه عذر کول دی د مصلی
دهغه کناره څخه چې ده عمداً خلاف الشریعت وکړی» د رویش وائی چې پردی تقدیر استثناء
د «الا فی ثلاث» آه د سجود السهوه څخه بناء پر تشاکل صوری ده» فافهم» قال المصنف

وَلَيْسَ الْإِتْيَانُ بِسُجُودِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ وَيَكْتَفِي

اوسنت دی په ظاهر روایت کې. او بعض علماء وائی چې کول د سجده سهوه یعنی ورو ستل کول یې واجب دی

بِتَسْلِيمَةٍ وَاحِدَةٍ عَنْ يَمِينِهِ فِي الْأَصَحِّ فَإِنْ سَجَدَ

دلیل د ظاهر روایت هغه مخنی حدیث دی چې علیه الصلوٰة والسلام سجود السهوه پسله سلامه وکړه

قَبْلَ السَّلَامِ كُرِهَ تَنْزِيهًا

حاصل دا چې سنت دی د اتګ په سجده سهوه سره پسله سلامه، او اکتفاء دی کوی په یوه سلام سره پر راسته اړخ په اصح روایت کې. او بعض علماء وائی چې سلام د سجود السهوی دې دخ وخواته وی فرقاً بین سلام القطع وسلام السهو» وجه د ظاهر روایت داده چې قبل الوجه سلام خو معهود نه دی، نو کې قبل السلام سجده وکړه مکروه دی تنزیهاً»

فائده: په هدایه کې وائی چې سجود السهوه دې ورو ستله تر دوه سلامه کوی، قال وهو الصحیح او ملا خسرو د هم دهدایه په تائید کړی دی لکن شیخ الاسلام خواهرزاده وائی چې سجده سهوه دی پسله دوه سلامه نه کوی» ولې چې دوهم سلام لکه خبری دی» او پسله خبرو څخه سجده سهوه نسته، او مصنف د په مراقی کې وائی چې احوط بعد تسلیمة خصوصاً چې شیخ الاسلام پسله دوه سلامه سجده سهوه ممنوع بولی، او وائی چې قول په دی سره چې سجده سهوه دی پسله یوه سلامه کوی اعدل داقوالو دی او اصح داقوالو» والله اعلم **مسئله** کله چې سجده سهوه دمخه تر سلام وکړه ورو ستله تر سلام دی بیا نه راګرځوی، ولې چې په دی مسئله کې اختلاف دامامانو ستله چې امام شافعی

سجده سهوه قبل السلام کړه خو مصلی حنیفی وی کفایت کوی، او که امام حنیفی مذهب مقتدی
شافعی مذهبه وو او هغه سجده سهوه د مخه تر سلام کوله مقتدی دی هم ورسره وکړی»
م، ط، د «قال المصنف»

وَيَسْقُطُ سُجُودُ السَّهْوِ بِطُلُوعِ الشَّمْسِ بَعْدَ السَّلَامِ

او ساقطیږی د سجدهٔ سهوه په داختلو سره د لمر پسله سلامه د سحار په لمانځه کې، او داغه رنګه

فِي الْفَجْرِ وَاحْمِرَارِهَا فِي الْعَصْرِ وَبِوُجُودِ مَا يَمْنَعُ

ساقطیږی سجدهٔ سهوه په وخت کې د سورو الی د لمر پسله مازدیګر کې داخو دواړه د دی سببه چې
مکروه کاره څخه څان وساتی، او دغه رنګه سجده سهوه ساقطیږی

الْبِنَاءَ بَعْدَ السَّلَامِ

په وجود سره د داسی شی چې هغه بناء د مابعد پر ما قبل منع کوی
پسله سلامه: مثلاً پسله سلامه متصل سړی پسکی واچول یا خوراک یې شروع کی بناء د مابعد
پر ما قبل منع کوی، لفوات شرط سجدة السهو» ولې په سجده سهوه سره خو دی بیرته لمانځه ته
راګرځیدی او د لمانځه شرط خو فوت سو نو د سجدهٔ سهوه شرط هم فوت سو چې رجوع د لمانځه
ته ده» قال المصنف»:

وَيَلْزَمُ الْمَأْمُومَ بِسَهْوِ إِمَامِهِ لَا بِسَهْوِهِ

اولازمیږی د سجدهٔ سهوه پر مقتدی په سهوه سره
د امام او نه لازمیږی په سهوه سره د مقتدی نه پرده او نه پر امام» په حدیث کې راغلی
دی چې څه وخت چې علیه الصلوٰة والسلام په سبب د سهوی سجده کوله ټولو خلګو
سجده وکړه سره وکړه. خو اه دی مقتدی د مخه تر سهوی د امام اقتداء پسی کړی او کی ورو ستله
تر سهوی د امام **مسئله** کله چې سړی د امام سره یوه سجده سهوه ونیوله د هغی بلی
قضاء پری نسته، او په صورت کې د دی چې مقتدی سهوه سی پرده چې نسته سجده سهوه
ولی کړی دی یوازی کوی د امام څخه مخالف سوا او علیه الصلوٰة والسلام وائی: لَا تَخْتَلِفُوا
عَلَى أَئِمَّتِكُمْ:

اوکه امام دده په متابعت سجده سهوه وکړی نو اصل چې امام وو تبع وګرځی. نو سجده سهوه اصلاً ساقطه ده مع انه قال صلی الله علیه وسلم: الامام لکم ضامن یرفع عنکم سهوکم وقراءتکم، ترجمه: امام ستاسی ضامن دی یعنی د لمانځه ستاسی پورته کوی سهوه ستاسی یعنی ستاسی په سهوه سره پرتاسی سجده سهوه نشته، اودی ضامن دی ستاسی قرائت یعنی په امام پسی ستاسی قرائت مروایاست که فاتحه وی اوکه نور کما هو مذهب الحنفیة

قال المصنف **ویسجد المسبوق مع إمامه ثم یقوم بقضاء ما سبق**

او سجده سهوه دی کوی مسبوق یعنی چې اول د لمانځه ځندی تیر سوی وی، سره دامامه، ولې چې ده متابعت دامام

به ولو سهی المسبوق فیما یقضیه سجد ایضاً په سبب د اقتداء پرځان باندی لازمه کړی دی، او بیا دی ولاړ سی وه قضا ته، د هغه لمانځه چې ترده وړاندی والی سوی دی یعنی هغه رکعتونه چې امام دده ته راقتداء د لمانځه کړی دی **فائده** میږی مسبوق دې دامام تر یو سلام وروسته چیک نه ولاړ یږی تر هغو چې ده ته دا معلوم چې پر امام سجده سهوه نشته»

فائده: مسبوق ته روا ده چې په قدر د تشهد کښینستې چې دامام تر سلام د لمانځه دی ولاړ سی په دغو ذیل صورتونو کې ده چې دی ماسح وی د موزو، نودی بیا یږی کنړه دامام وسلام ته گورم مده د مسحې به می تیره سی، ۲ چې دی معذوره وی بیا یږی چې وخت د عذر به می تیر سی کنړه انتظار ده سلام دامام وکړم، ۳ اویا بیا یږی چې کنړه انتظار وکړم اویا قضاء د ځپلو رکعتو راوړم د جمعې ده لمانځه وخت به تیر سی» یادا خترو د لمانځه وخت به تیر سی، ۴ یا بیا یږی چې پرما به قضائی لمانځه کې د سحار لمر راوخیژی کنړه انتظار وکړم، ۵ اویا بیا یږی کنړه انتظار وکړم نو ما په قضائی لمانځه کې به خلګ نهار ترنخ تیر یږی، اوکه چیرې سهوه مسبوق پخپل قضائی لمانځه کې وړ پیښه سوه د هغه د پاره به یوازې بله سجده سهوه کوی. یعنی هغه سجده سهوه د

دامام سره چې ده وکړه د دی سهوی غاړه نه په وزی **سوال**: تکرار د سجده سهوه خو په یوه لمانځه کې نه روا دی نو څرنګه مسبوق دوه واړه سجده سهوه کوی **جواب** د مسبوق لمونځ حکماً دوه لمونځونه دی. یعنی لمونځ یې په متابعت دامام دی، اوبل په قضائی لمانځه کې خو دی منفرد او مستقل دی،

مسئله که مسبوق د سلام سره دامام یوځای سلام وګرځاوه، اویا یه دمخه تر امام سلام وګرځاوه دادواړه سهوًا ځندی پاتې سوه نو پرده سجده سهوه نشته، ولې چې تر او سه دی په حال کې د اقتداء دی» اوکې امام وروسته سلام وګرځاوه. سجده سهوه به کوی. ولې چې دی منفرد دی خپل په لمانځه کې سهوه سوه قال المصنف:

او لا اللاحق او سجده سهوه دی دامام سره نه کوی لاحق، لاحق هغه مقتدی ته وائی چې په اول کې د لمانځه دامام سره شریک سوی وی، او اخیر د لمانځه ځندی تیر سی په سبب د عذر لکه چې بیده سی، اویا یه اوږه مات سی نو دی لکه مدرک چې په سهوه سره دده پرده سجده سهوه نشته، دا خو هلته دامسئله ده چې لاحق پخپل لمانځه کې سهوه سی، **مسئله**: که امام مسافر وو او مقتدی مقیم وو نو مقتدی چې ورو سته تر سلام دامام خپل لمونځ پوره کاوه سهوه سو نو اصح داده چې سجده سهوه دی وکړی. ولې چې دی منفرد دی حکماً، اوبدائع والا هم داحکم صحیح بللی دی

مسئله نادره په دری رکعتی لمانځه کې په سبب د سهوی او سجده تلاوت، لس واړه ناسته ممکنه ده، هغه داسې چې یو سړی په امام اقتداء وکړه په اولنۍ ناسته کې دامام (۱) اویا یه تشهده وو ویل د امام سره په اخیره ناسته کې، (۲) اوپه امام سجده سهوه وه هغه سجده مقتدی هم ورسره وکړه» نو بیا یه التحیات دامام سره ووویل (۳) اوامام ایت د سجدې په لمانځه کې وئیلی وو، هغه ورپیاد سو، نو مقتدی دی دوه سجده تلاوت وکړی اوبیا د امام سره تشهد ووئیله (۴) اوامام بیاد دی تاخیر د سجدې تلاوت د پاره سجده سهوه وکړه او مقتدی ورسره وکړه بیا د امام سره په تشهده ووئیله (۵) نو بیا چې امام سلام وګرځاوه اودی وقضا ته د مافات ولاړ سو چې دوه رکعته دی، نو یو رکعت چې

وکړي خوښا کښيني او تشهده به ږوائي (۶) او يو ږ رکعت خو به بل کوي او بيا به کښيني تشهده به ږوائي (۷) او مقتدي پخپل قضائي لمانځه کې سهوه سوي وي نو سجده سهوه به وکړي او بيا کښيني تشهده به ووئيله (۸) او بيا د مقتدي ورپياد سره چې ماخو پخپل قضائي لمانځه کې اته رسجدې ويلې وي نوره هغه ديارلسه به سجده وکړي. او بيا به تشهده ووئيله (۹) او بيا دې تاخيره ديارلسه به سجده سهوه وکړي او تشهده به ووئيله (۱۰) نوره وسته نوښ پوره سئ. هذا من النوادر. بلکه په ږ د مختار کې او په طحطاوي کې وائي چې ترلسم ږ رکعت لا تاکيد اى دى. په قدره سجده تلاوت پر امام او مقتدي فتفكر فيها.» قال المصنف:

وَلَا يَأْتِي الْإِمَامُ بِسُجُودِ السَّهْوِ فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ

او ږ اتګ دى نه کوي امام وکذا المأموم په سجود السهوه سره د جمعې په لمانځه او د اختر په لمانځه کې.» قال في المراقي دفعا للفتنة.» يعنى خلق په تشويش او اضطراب کې واقع کيږي په سبب د ډيرو والى د جماعت بعض خلګ پر سجده به پرانه وي او بعض ليرې خلګ نه پاى ورځي طحطاوي وائي چې ظاهره داده چې دا کراهت تنزيهي دى، ولې چې بعض فقهاء الخ سجده سهوه به کوي.»

پوښتنه: چې د کثرت اجتماع الناس فيهما څخه دا معلوميږي، که دا اجتماع د خلګو ډيره نه وه بيا دې سجده سهوه حتما کوي، لکه په کوټې کې پرلس ګامه مثلاً جامع مسجد جوړ دى او په هر جامع مسجد کې د عيدګاه لمونځ کيږي، نو دې کبله د جمعې په ورځ يا د اختر په ورځ تر نورو عادي لمونځونو چندانې ډير خلګ نه وي او نه په سجده سهوه کې په خلګو تشويش پيدا کيږي، قال المصنف ږ:

وَمَنْ سَهَى عَنِ الْقُعُودِ الْأَوَّلِ مِنَ الْفَرْضِ عَادَ إِلَيْهِ (وُجُوبًا) مَا لَمْ يَسْتَوِ قَائِمًا

که څوك يعنى مصلى سهوه سى د اولنى ناسوى څخه د فرضى لمانځه يعنى هيره يه سى او ولاړ نه ږ يږي نو واجبه ده چې بيرته دى ناستې ته

ږ او ګرځى که سمدم نږدې ږ يدلى په ظاهر ږ روايت کې، او داغه هم اصح حکم دى

پوښتنه: چې د قعدې د اول ناستى هم داغه حکم دى، ولې د وتر خو فرض عملى دى ږ ام

پوښتنه: چې مصنف ږ دا حکم د تبيين او برهان او فتح القدير سره برابر دى، او د حديث

سره هم برابر دى.» قال عليه الصلوة والسلام: إذا قام الامام في الركعتين فان ذكر قبل ان يستوي قائما فليجلس وان استوى قائما فلا يجلس ويسجد للسهو ږ رواه ابوداؤد.» كه اراده وکړه د ولاړيدو امام يعنى په ولاړيدو يې شروع وکړه. پرد د ږ رکعتونو کې ورپياد سوه يعنى دمياڼځ ناسته د مخ ترډى چې سمدم ږ ينى نو دى بيرته کښيني او که سمدم ولاړ شو بيا دى نو نه کښيني او سجده سهوه دى وکړي **پوښتنه** چې قيد د امام اتفاقي دى ولا تمام هښانه ولې چې د منفرد حکم هم داغه دى، وفي الهداية والكنز ان كان الى القيام اقرب لا يعود والا عاد.» قال المصنف:

وَالْمُقْتَدِي كَالْمُنْفَرِدِ يَعُودُ وَإِنِ اسْتَتَمَّ قَائِمًا

او مقتدي که پسې ولاړ سى هغه لکه نفل کوونکى دى چې پرد ږ ورکعته ولاړ سى او د مياڼځ ناسته يې هيره سى نو ږ اګر ځى به د مياڼځ ناستى ته که څومره تام ولاړ سوى وى، مقتدي خو پرې دى سبب چې متابعت د امام پرده لازم ږ دى، او منفرد پرې سبب چې هر دوه ږ رکعته د نفلو علاحده لمونځ دى ځکه دى به د مياڼځ په ناسته کې درود ختما وائى، او په درېيم ږ رکعت کې سبحانك اللهم وائى نو د مياڼځ ناسته پرفرض ده، وفرض ناستى ته خو به حتما ږ اګر ځى، او بعض فقهاء وائى نه دى ږ اګر ځى. قال في التاتارخانية وهو الصحيح.» قال المصنف:

فَإِنْ عَادَ وَهُوَ إِلَى الْقِيَامِ أَقْرَبُ سَجَدَ لِلسَّهْوِ وَإِنْ كَانَ إِلَى الْقُعُودِ أَقْرَبُ لَا سُجُودَ عَلَيْهِ فِي الْأَصَحِّ

او که دغه سړى چې د ناستى څخه سهوه سو وولاړ نه ته نږدې وو سجده دى وکړي د سهوى د پاره ولې چې واجب ځندى پاته سو، او که چيرى د ناستى ته نږدې وو،

نادِرٌ که دغه سړی په اخیره ناسته کی لږ کښینستی یعنی په قدر د تشهد نه وی اوبیا ولاړ سی اوبیرته کښینی بیا څه لږ التحیات نه وړ وی اوبیا ولاړ سی اوبیرته کښینی نو په دې ټوله ناسته کی تشهده پوره کړی، نو لمونځ یې صحیح دی حتی که دی وروسته ترهغه ده لمانځه سره منافی یو کار وکړی لکه خوراک وغیره لمونځ یې تام سو اددی سبب چی د تشهدی پریږدو ځای وَیل فرض نه دی، هذا احاصل ما فی المراقی

قال المصنف فَإِنْ سَجَدَ صَارَ فَرْضُهُ نَفْلًا وَضَمَّ سَادِسَةً إِنْ شَاءَ

اوکی سجده وکړه د نږدې د رکعت د پاره نو گرځیدی فرض یې نفل، او د رجوت دی کړی یو رکعت بل کی خوښه وی، تاچی نفلی لمونځ یې جوت سی، **پُوه سه:** چی په نیزه امام محمدؒ فرض یې هلته نفل کیږی. چی دسجدی څخه سر اپورته کړی، ولی چی تام د رکن چی دلته دغه سجده ده، په انتقال د هغه رکن څخه کیږی، قال فی المراقی وهو المختار للفتوی، او ولی په دی صورت کی فرض نفل سوه سبب دادی چی په دسجدی دده شروع یې په نفلو صحیح سوه د څخه تر اکمال د فرض، او په نیزد ابو یوسفؒ چی صرف تندی دی د سجدې کښینبو فرض یې نفل سوه، ولی چی داغه پوره سجده ده چی سجده په شرعه کی ایښودل د تندی دی پر ځکه،

فائدة الخلاف که دغه مصلی صرف چی تندی یې کښینبو او دس یې مات سو په دې سره د امام محمدؒ او دس دی تازه کړی. او د نور لمانځه بناء دی پر وکی. ولی چی دی هغوی په تحریمه کی د لمانځه دی، او امام ابو یوسفؒ چی بناء نه ده پر صحیح ولی چی په وضع د تندی لمونځ پوره سو. نو دده بی اودسیا خارج الصلوٰة دی، مصنفؒ چی إن شاءَ وویله د دی سبب چی دی سړی خوښه نفلو شروع قصداً نه ده کړی چی اتمام یې پر لازم سی البته مندوب دی او کی خوښه سی سلام دی پر پنځم رکعت وگرځوی. او هیڅ شی پرده نسته مگر نفل یې پنځه رکعته سوه، **مسئلة** د دغه لمانځه ضمان پرده نسته یعنی که فاسد کړی قضاء نه لری عند علمائنا الثلثة، نص علیه غیر واحد من اهل المذهب کذا قال الامام الطحاوی ص ۳۸۲ ر

قال المصنف وَلَوْ فِي الْعَصْرِ که څلورمانږگیر په لمانځه کی وی هم دی شپږم رکعت قصداً راوړی نو بله قصده خوښه طریقه اولی راوړی، او اشپږم رکعته نفل خوښه دمانږگیر تر لمانځه د مخه خونفل دمانږگیر لمونځ خوښ وی وروسته کوی. قال المصنف

وَرَابِعَةً فِي الْفَجْرِ اوکه د سحار په لمانځه کی سهواً دریم رکعت ته ولاړ سوه اوده دریم رکعت سجده یې وکړه فرض خو باطل سوه نو څلورم رکعت دی هم وراجوت کی چی څلور رکعته سی، ولی که دی څلورم رکعت نه کی ورضم نو خو نفل یې دری رکعته سوه هغه مکروه دی، او ضم چی مکروه دی په سبب د وخت د سحار، نو دا دوه کراهت سره معارض سوه نو ضم الرکعة مباح سو، **فائدة** مصنفؒ دمانبام لمونځ نه کی ذکر ولی هغه په سهوه سره په څلورسوه فلاحاجة الی الصرفیه

قال المُصنف وَلَا كَرَاهَةَ فِي الضَّمِّ فِيهِمَا اوهیڅ مکروه والی نسته په ضمولو کی د رکعت په مانبام او سحار کی،

پُوه سه: چی امام طحطاویؒ والی چی ضمیر تثنیه دلته مناسب نه وو، ولی چی د څخه مونږ ووَیل چی دمانبام په لمانځه کی ضم نسته، ولی چی هغه پخپله څلور سوه، فالصواب ان یقول فیه بافراد الضمیر بارجاعه الی الفجر فافهم، قال المُصنف

عَلَى الصَّحِيحِ یعنی پر صحیح روایت په دوارو کی یعنی په مانږگیر او سحار کی پردی کی اشاره ده وهغه روایت ته چی په سراج وهاج کی والی چی د مانږگیر په لمانځه کی دی شپږم رکعت نه د رجوت وی، یا قاضیخان والی چی د سحار په لمانځه کی دی څلورم رکعت ته د رضموی، قال المُصنف

وَلَا يَسْجُدُ لِلسَّهْوِ عَلَى الْأَصَحِّ او سجده سهوه دی هم نه کوی پر اصح روایت کی، ولی چی د دی مصلی لمونځ فرض خو فاسد سو او د فساد جبیره په سجده سهوه سره نه کیږی. وقیل یسجد للسهو علی قولهما کذا قال الزیلعیؒ.

قَالَ المصنفُ: وَإِنْ قَعَدَ الْأَخِيرَ ثُمَّ قَامَ عَادَ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ إِعَادَةِ التَّشَهُّدِ

کہ چیری مصلی کښینستی په اخیره ناسته کی ورسته ولاړ سو بل رکعت ته که په سهوه سره وی اوکه په قصد سره وی» م «نوتر هغو پوری چی دڈغه رکعت سجده یه نه وی کړی کڅه هم قرائت یه وئیلی وی اورکوع یه هم کړی وی بیرته بهٔ ئی راوګرځوی وه ناستی ته ولی چی کم تر رکعت پریښول پرواه نه لری، اوسلام دی وګرځوی اودتشهدی راګرځیده نسته باندی **مسئله** که داغه سړی سلام په ولاړی وګرځوی صحیح ځودی لکن سنت طریقه پاته سوه. ولی چی سنت سلام ګرځول دی په ناسته کی، دلیل ددی چی دتشهدی راګرځیده نسته، دادی چی تشهد په ولاړی سره نه باطلیږی، اوامام ناطئ وائی چی تشهد به راګرځی

مسئله که دغه سړی امام وو، نوکه دی په نفلی لمانځه پسی روان سو، قوم دی متابعت نه کوی بلکه دوی به ورته ناست وی، ولی چی په بدعت کی متابعت نسته» نوکه چیری امام دمخه تر سجدی درائد رکعت بیرته راوګرځیدی نوبیه سلام ګرځولو کی قوم موافقت ورسره وکړی اوکه امام زائد رکعت ته سجده وکړه قوم دی فی الحاله سلام وګرځوی: قَالَ المصنفُ:

فَإِنْ سَجَدَ لَمْ يُبْطِلْ فَرْضَهُ وَضَمَّ إِلَيْهَا أُخْرَى

اوکی زائد رکعت ته سجده وکړه فرض یه نه دی باطل ولی چی اخیره ناسته خویه کړی صرف ودته لفظ دسلام پاته دی اوهغه خو واجب دئ»

لِتَصِيرَ الزَّائِدَتَانِ لَهُ نَافِلَةً وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ

اوورجوت دی کړی دغه رکعت ته یوبل رکعت، خوك وائی داضم مستحب دی اوبعض وائی واجب دی، تاچه دغه دوه رکعته ده پاره نفل سی، **پوه سه**: چی دغه دوه رکعته نفل دسنت بعدی وو په څای کی نه سی درید لای. ولی چی سنت بعدی تحریمه نوی غواړی او مواظبت نبوی هم دغه ډول راغلی دی، اوسجده سهوه دی هم وکړی، ولی چی سلام چی

واجب وو وځندیدی **مسئله**: کم یوچا اقتداء په دغه امام پسی په دغه نفلی رکعتو کی وکړه، نودا مقتدی به شپږ رکعت پوره کوی ولی چی دی تابع ده تحریمی دامام دی امام خوپه موجوده تحریمه سره شپږ رکعته وکړه، اوپه نیزه امام اعظم او ابویوسف دوه رکعته پرده لازم دی. ولی خوامام دفرضی لمانځه څخه وتلی دی، امام طحطاوی وائی چی صحیح قول دامام محمد دی» اوکه چیری دغه مقتدی دغه دوه رکعته زائد فاسد کړی امام محمد وائی چی دی لکه امام چی فاسدکی قضاء باندی نسته اوشیخین وائی چی دوو رکعتو قضاء دی راوړی، قال فی المراقی وعلیه الفتوی

قَالَ المُصَنِّفُ: وَلَوْ سَجَدَ لِلسَّهْوِ فِي شَفْعِ التَّطَوُّعِ لَمْ يَبْنِ شَفْعًا آخَرَ

اوکی سجده سهوه وکړه په هغه دوه رکعتو نفلو کی بله شفع به نه پرې بناء کوی از روی

عَلَيْهِ اسْتِحْبَابًا فَإِنْ بَنَى أَعَادَ سُجُودَ السَّهْوِ فِي الْمُخْتَارِ

استحباب اوکی بناء پرې وکړه سجده سهوه به راګرځوی په مختار روایت کی،

پوه سه: چی مصنف لَمْ يَبْنِ وويل لَمْ يَصِحَّ یه نه ووېل، ولی چی نفس بناء خو صحیح ده چی تحریمه پاته ده، اووجه دعدم بناء کړهم صحیح ګڼلی ده چی په دی بناء سره هغه کړی سجده سهوه بی ضرورته باطلیږی» لوقوعه فی وسط الصلوٰة» او اعاده دسجده سهوه هم پردغه بناء دی چی هغه اوله سجده سهوه خو باطله سوه، ولی چی بناء دبلی شفع پرې راغله»

پوه سه چی صاحب البحر وائی چی مصنف خوعدم بناء دشفع اخر مستحب وبلل لکن دابناء مکروه تحریمی ده، ولی چی مصلی به یاهغه کړی سجده سهوه باطلوی، اویا بی نه باطلوی» اوداد واړه کاره غیر مشروع دی، اول دی سببه چی ابطال دعمل کوی وهوحرام بالنص: لَا تُبْطِلُوا أَعْمَالَكُمْ» اودوهم دی سببه چی هغه سجده سهوه خوپه میانځ کی دلمانځه ده. اوسره ددی چی سجده نه وی منګرپه اخیرکی دلمانځه»

قال الامام اذا علمت هذا مع ظهوره يكون عدم البناء واجبا لا مستحبا، وقد أيده
ارکان مانسال صاحب البحر كثير من الفقهاء، والله أعلم بالصواب وإليه المرجع والمآب

قال المصنف: **وَلَوْ سَلَّمَ مَنْ عَلَيْهِ سَهْوٌ فَاقْتَدَى بِهِ غَيْرُهُ صَحَّ**

کہ چیری سلام وګرځاوه هغه مصلی چې پرده باندی سجده لازمه وه اوپه دغه حال کی په ده

إِنْ سَجَدَ لِلسَّهْوِ وَإِلَّا فَلَا يَصِحُّ وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَإِنْ

پس اقتداء اوکړه بل سړي اقتداء یه صحیح ده که چیری ساهی سجده وکړه دسهوی دپاره

سَلَّمَ عَامِدًا لِلْقَطْعِ مَا لَمْ يَتَحَوَّلْ عَنِ الْقِبْلَةِ أَوْ يَتَكَلَّمْ

ولی چې دی په سجده کولو سره وګرځیدی واحرام ته دلمانځه چې دده وتل دلمانځه څخه پردغه
سجده موقوف وو، **فَائِدَة**: دغه مقتدی به هم سجده سهوه ورسره کوی، او
مقتدی به اخیر کی دخپل لمانځه هغه سجده سهوه نه ورکوی که څه هم په مابین کی دلمانځه
دده ده، ولی چې دې امام اخیرد لمانځه دده دپاره حکمًا او متابعةً اخیرد لمانځه دی اوده
امام دپاره حقیقةً لوکه چیری ساهی سجده سهوه نه وکړه، نودغه مقتدی اقتداء نه ده
پسې روا، ولی چې دسلام وګرځاوه او سجده سهوه یې هم ونه کړه دلمانځه څخه دی خارج سوې په
نیزد امام اعظم اوامام ابویوسف رحمهما الله تعالی، خلافا لمحمد وزفر، هغه وائی اقتداء
پسې صحیح ده، اودغه مصلی حکم دادی چې سجده سهوه به وجوبًا کوی که څه هم ده سلامه
په قصد ګرځولی وی، دپاره دقطع دلمانځه، ولی نفس نیت د تغییرد مشروع کار چې
دلته سجده سهوه ده، وهغه مشروع کار ته تغییر نه ورکوی، اودغه سلام ته اعتبار
نسته ولی داخوذ کړی، نوورسته ترسلام په دغه مذکور نیت سجده سهوه پرده
واجب ده ولې چې تحریمه ده لمانځه باقی ده ترهغوچې دقبلی څخی مخ نه وی اړه ولی، او
یا یه خبری نه وی کړې، ولی په دغود وو کارو سره تحریمه باطله سوه،

او بعض فقهاء وائی چې په خبرو کی خو داغه حکم دی. اوپه نفس مخ اړه ولو سره تحریمی
ابطال نه راځی خو چې تر سجده نه وی وتلی، قال المصنف:

وَلَوْ تَوَهَّمَ مُصَلِّي رُبَاعِيَةٍ أَوْ ثُلَاثِيَّةٍ إِنَّهُ أَتَمَّهَا

او که چیری توهم وکړی یعنی دخطا خوایه غالب وی، لمونځ کوونکی دځلورو رکعتو فرضو او یا لمونځ
کوونکی ددری رکعتو که څه هم وتروپې

ثُمَّ عَلِمَ إِنَّهُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ چې ما لمونځ پوره کړی. ورسته یه
یقین سوچې ما خو دوه رکعته وکړه لکن دلمانځه سره منافی کار لکه خبرې خورلګ، وغیره
یه نه وی کړی **ظن** دادی چې د صواب خوایه غالبه وی، اوتوهم خوذکر سو،
فَائِدَة: اویاور پیاد سهی چې ما خو سجده دلمانځه چې صلبیه یه بولی پرې ایښی
ده اویا پرما سجده تلاوت سته، قال المصنف:

أَتَمَّهَا وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ وَإِنْ طَالَ تَفَكُّرُهُ وَلَمْ يُسَلِّمْ حَتَّى اسْتَيْقَنَ

لمونځ دی پوره کړی په کولو ما ترکه، اوسجده سهوه دی وکړی ولې چې تحریمه دلمانځه پاته ده، که
څه هم پرې سی فکر، ووهل دده په تیقن کی دما ترک اوسلام یه هم نه وی ګرځولی حتی چې
یقین په متروک ورته حاصل سو، قال المصنف:

إِنْ كَانَ قَدْرَ أَدَاءِ رُكْنٍ وَجَبَ عَلَيْهِ سُجُودُ السَّهْوِ وَإِلَّا لَا

که چیری وه زمانه دفکر دده په قدر داداء دیوه رکن وه نو سجده سهوه دی هم وکړی
اوکه زمانه د تفکر دده تر مانی داداء رکن کمه وه بیا سجده سهوه باندی نسته، په
اول صورت کی تاخیر دوولاړی وه درې رکعت نه پیدا سو، اوپه دی قدر تاخیر سره
سجده سهوه لازمیږی، اوپه دوهم صورت کی چونکه زمانه د تفکر لږ ده هغه عفو دی

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولقارئه

مسائل د باب السهو

۱ که په مصلی سجده صلبیه پاته وه، اویا بل فرضی عمل اودده پیاد هم وه نوده قصدًا سلام وګرځاوه. لمونځ یه باطل سو. ولی د اسلام په مابین کی د لمانځه دی اود اسلام چونکه عمدًا دی، نود اسلام جلا کوونکی ډیر فرائض نود لمانځه دی که څهم ذکر دی» بخلاف المسئلة فان السلام وجد بعد تمام حقیقتها» مرط، در»

۲ که د مصلی سجده سهوه هیره وه اویا سجده صلبیة وه اویا سجده تلاوتیه وه اودده هیره وه. نو په دغه درې سره مسئلو کی ۲ اګرځول پرفرض دی، تر هغو پورې چی دی د مسجد څخه نه وی وتلی، اویاد لمانځه منافی لکه اکل اوشرب وغیره نه وی صادر سوی، اوکه دی مسجد څخه وتلی اویا منافی کار د لمانځه دده څخه صادر سوی وو، د څخه تر قضاد مانیه نوکه سجده صلبیه لمونځ یه فاسد سو.

۳ که مصلی سلام وګرځاوه اوپرده پاتی یوه سجده تلاوتیه وه اوبل سجده سهوه وه نوده دواړی هیری وی. اویا یه سهویه فقط پیاد وه نود اسلام دده قاطع د لمانځه نه دی، نودی دی اول سجده تلاوت وکړي، اوبیادی تشهده ووائی تاچه هغه څخه قعده پوته سی، اوبیادی سلام وګرځوی اوبیادی سجده سهوه وکړي. اوبیادی تشهده ووائی تاچه هغه څخه تشهده پوته سی. اوبیادی سلام وګرځوی»

۴ اوکه د دغه سړی دواړی سجدی پیاد وی اویا تلاوتیه یه پیاد وه فقط اوسړه د هغه په قصدًا سلام وګرځاوه» نود اسلام قاطع د لمانځه دی اوده څخه سجده سهوه اوسجده تلاوتیه دواړی ساقطی سوی، ولی چی په سبب د قطع د لمانځه بناء نه سی کولای مرا ب، ط، مرا، در»

۵ د مسائلو د باب السهو خلاصه داده که یوسړي سلام وګرځوی په سهوه سره پردری رکعتو مثلاً اوپه هغه ځای کی د لمانځه وی چی ور پیاد سی چی زما خو دوه رکعته مثلاً پاته وی اوهغه یه د قبلی څخه هم نه وی اړه ولی، اومنافی د لمانځه لکه خوړلو خبری یه هم نه وی کړی

بیته د ی خپل لمونځ پوره کړی بیله نوی تحریمی بلکه پرمامضی د ی پسی بناء اولمونځ یه تمام د ی اوسجده سهوه به کوی اوکه پسی بل سړی په دغه حالت کی اقتداء وکی اقتداء یه صحیح ده، اوکی څخه د قبلی څخه واړاوه نوتر څو چی د ی په مسجد کی وی اومنافی د لمانځه کار یه هم نه وی کړی بیادی هم بناء پرمامضی وکړی لکه د مخ مسئله لعینها» ولی چی ټوله په حکم کی دیوه ځای د ی. ولی چی ټوله مسجد ځای د لمانځه د ی»

اوکه د مسجده څخه ووتی اوبیاور پیاد سوه لمونځ یه فاسد سو بناء پرمامضی نه ده صحیح، اوکه دامصلی په صحراء کی وو اوجماعت ولاړ وو نوتر هغو پورې چی ترصفو ورسته یا پرې راسته اړخ نه وی تیر سوی. ۲ اودی ګرځی وپوره کولو ته د لمانځه، اوکه تیر سوی وو اوبیاور پیاد سوه لمونځ یه فاسد سو عود ومامضی ته د ی نه کوی، اوکه د ی د مخ پرخوا ۲ ارهی سو نو ځای ته د سجدی اعتبار نسته، نوکه ترځای د سجدی تیر سو عود به نه کوی بلکه لمونځ یه فاسد سو فی الاصح، اوکه یه د مخ وخواته ستره وی هغوی ته اعتبار نه د ی په مجازات اوعدم مجازات کی، ولی چی داخل دستری په حکم کی د مسجد د ی» هذا حاصل ما فی ط

اصل د سجدهٔ سهوی څه د ی! پوهه چی په صحاح سته ووکی د اسی ۲ اغلی د ی چی یووخت آنحضرت صلی الله علیه وسلم د ماښین په لمانځه کی ووياد مازدیګر په لمانځه کی (شک دراوی د ی) اوخوك چی ورائ د ماخستن لمونځ ووهغه غلطه ده، خیر خو په دوه رکعته یه سلام وګرځاوه. او په قوم کی حضرت ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهما هم موجود وه، لکن دوی حضرات تود هیبته په د ی باره کی د علیه السلام سره خبری نسوای کولای او په خلګو کی یوسړی ووچی علیه الصلوة والسلام به ورته ذوالیدین وایه، ولی لاسونه د قامت په مناسبت اوږده وه، اونوم آخر باقی یا عرباض بن عمرو، هغه د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه: اَقُصِرَتِ الصَّلٰوةُ اَمْ نَسِیْتَ» یعنی تاته په لمانځه کی وحی راغلی چی دارباعی لمونځ کوتاه سو یعنی پردوه رکعته ودریدی اوکه دی دوه رکعته هیر سوه علیه الصلوة والسلام ورته ووویل: کل ذالک لَمْ یکن» یعنی نه لمونځ کوتاه سوی اونه زما هیر سوی بلکه لمونځ می پوره یعنی زما په ظن کی ذوالیدین قدکان بعض

ذ الک » نو یوه خواخو پیښه ده یعنی چې کوتاه سوی نه دی نو دی هیر سوی دی. نو بیا علیه الصلوٰة والسلام د خلکو څخه پوښتنه وکړه: اَحَقٌّ مَا یَقُولُ ذُوالیَدَین قَالُوا نَعَم» نو بیا علیه الصلوٰة والسلام دوه رکعته نور وکړه او په اخیر کې سجده سهوه وکړه الی اخر الحدیث»

فائده: په دغه وخت کې په لمانځه کې خبرې رواوی بیا منسوخ سوی، یعنی که څوک اوس ورته خبرې وکړي لمونځ یې فاسد دی، او دلیل دنسخې یې دا دی چې عمرؓ ته داغسې واقعه پیښه سوه یعنی سهوه سو او بیاد خلکو څخه پوښتنه وکړه، لکن لمونځ یې ده سره پیرته نه راوګرځاوه نو کده ته نسخ نه رواې ثابته نوده عمل څخه دنبي علیه الصلوٰة والسلام په ولې مخالف ولې کاوه او په دغه لمانځه کې د حضرت عمرؓ د پیر صحابه کرامؓ هم موجود وه، چا انکار پرې نه کړ، اګر څوک د لمانځه وذکري، «فصار اجماعاً منهم علی ذالک»

سهمانه فائده

د دې حدیث څخه دا معلومه سوه چې سهوه پر انبیاء کرام علیهم الصلوٰة والسلام باندې روا ده او هغه چې بعض علماء وائي چې سهوه پر انبیاء علیهم السلام نده روا، ولې چې سهوه خو غفلت څخه پیښیږي او انبیاء علیهم السلام د غفلت څخه پاک دی دا خبره د دوی د قولو صحیح حدیثو څخه خلاف ده، او دوی د هې خبرې خطا کړې دی چې سهوه پر انبیاء علیهم السلام په امور تبلیغیه ووکې نده روا، یعنی چې دوی د خدای پاک د خواځخه بیان د احکامو کوي او یاد عقائدو دینیه ووکوي. او هغه کارونه چې په تبلیغ پورې اړه نه لري په هغوکې سهوه پرده روا ده **پوسه**: چې سهوه دنبي علیه الصلوٰة والسلام په لمانځه کې هم د سبب د غفلت نوه بلکه دا سهوه په سبب د استغراق او شغل په خدای پاک سره وه چې لمونځ یې ځندې هیر کړې سه ولنعم ما قال الشاعر البارع»

یَا سَائِلُ عَنْ رَسُولِ اللهِ کَیْفَ سَهَا ؛ وَالسَّهْوُ مِنْ کُلِّ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهِي.

جواب: قَدْ غَابَ عَنْ کُلِّ شَیْءٍ سِرُّهُ فَسَهَا ؛ عَمَّا سِوَی اللهِ فَالتَّعْظِیمُ لِلّٰهِ»

فصل فی الشک

دا فصل دی په بیان کې د شک یا په لمانځه کې د اویا په طهارت کې: قال المراقی فی بیان بیان الشک وهو تساوی الامرین یعنی شک برابر و الی دی د دوو شیانو

د رویښ وائي، د ظاهر لفظ څخه دا توهم کیږي چې مراد د شک څخه معنی حکمی ده وهو تساوی النقیضین» لکن امام طحطاوی وائي چې هغه معنا دلته نه ده مراد بلکه مراد معنای لغوی ده وهو عدم الیقین» قهستانی» یعنی که دواړه طرفه سره برابر وی اوکه یوه خوا ارجح اوبله مرجوح وي، ولې چې دا فصل د د عنی معنای اعم دپاره معقود د ی،

سوال: مصنف رح وسته وائي: وهو تساوی الطرفین **جواب** هغه خبره په صورت کې د بطلان ده هلته شک څخه معنای منطقی حکمی مراد ده» قال المصنف رح

تبطل الصلوٰة بالشک فی عدد رکعاتها اذا کان قبل اکمالها وهو اول ما عرض له من الشک

باطلیږي لمونځ په شک سره لکه د درو او دوو ترمابین شک وی، چې دا شک پیدا سی د مخه تر اکمال د رکعتو. اوګوی چې وده ته ور پیښ سو **پوه سه** چې اکثر مشائخ پرې دي چې د بلوغ ورسته د ده دا اول شک وو او فخر الاسلام وائي چې په دغه لمانځه کې د ده اول شک وو، وختاره ابن الفضل رح» قال المصنف رح»

او کان الشک غیر عادة له

اویا شک د ده عادت نه وی که څه هم اول شک نه وی» وجه او دلیل د بطلان یې دا قول د علیه الصلوٰة والسلام دی، اِذَا شَکَّ أَحَدُکُمْ فِی صَلٰوتِهِ اِنَّهُ کَمْ صَلّٰی فَلْیَسْتَقْبِلِ الصَّلٰوةَ یعنی که چا ته شک پیدا سو په لمانځه کې چې ما څو رکعته کړې دی نو لمونځ دی دسره ور اوګرځوي،

سَوَال په دی حدیث شریف کی خو دا ند دی ړاغلی چی دا اول شک وی **جواب** چولکه په بل روایت کی قید دا اول شک ړاغلی دی نو په قانون د محدثینو دا مطلق محمول پرهغه مقید دی، او بل دلیل دادی چی دا سړی د صحرا څخه د شک و عمران ته د یقین ړاتلای سی چی لمونځ ړ اوګرځوی د سره څخه، لکه یوسړی چی شک وی چی ما دری وقت لمونځ به کړی او که نه او وقت هم باقی وی نو د غه شک دی په یقین بدل کړی او لمونځ دی وکړی

قَالَ الْمُصَنِّفُ: فَلَوْ شَكَّ بَعْدَ سَلَامِهِ لَا يُعْتَبَرُ إِلَّا أَنْ يَتَيَقَّنَ بِالتَّرْكِ

او که سړی شک سو په سلام کړو له څخه، او یا قبل السلام لکن چی په قدر د تشهد یه ناست کړی وی نو د غه شک لږ اعتبار نسته، ولی چی ظاهر الحال دلالت پرا تمام کوی. مګر هغه وخت اعتبار لری که په سلام شکه د ده ته یقین سوه چی ما یو ړکعت کم کړ یدی مثلاً نو هغه دی وکړی **مسئله**: که سړی لمونځ وکړی یعنی سلام یه وګرځاوه نو یو عادل سړی ورته ووایل چی تا یو ړکعت کم وکړی او ده دا باور ووچی ما لمونځ پوره وکړی نو د هغه عدل و اخبار ته دی نه ګوری، یعنی لمونځ دی نه ړاګرځوی او که دوو عادلانو دا خبره ورته وکړه نو دوی په خولهٔ دی عمل وکړی او لمونځ دی ړاوګرځوی،،

مسئله: که دامام او مقتدیا نو سره اختلاف سو په عددکی د رکعاتو د لمانځه نو که دامام پرخپل خبره کلك یقین وو، نو د مقتدیا نو و خبره ته دی نه ګوری او که دامام پرخپله خبره نه باور نه وو نو د مقتدیا نو خبره دی نه منی، که څه هم بعض مقتدیان دده د خبری ملاتړ کوی،، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَإِنْ كَثُرَ الشَّكُّ عَمِلَ بِغَالِبِ ظَنِّهِ او که مصلی ته په عددکی د رکعتونو ډیر وار ونه شک ور پیښیدی یعنی سره د دی چی عادت یه نه وی، نو دی دی عمل په غالب ګمان سره وکړی یعنی پرله پسه فکر و هلو چی تحریمی ورته وایی: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

خدایه و بخښی مولف او هم کاتب: چی په ورځ د محشر ګاه نه سی ړاسیب:

فَإِنْ لَمْ يَغْلِبْ لَهُ ظَنٌّ أَخَذَ بِالْأَقَلِّ وَقَعَدَ بَعْدَ كُلِّ رَكْعَةٍ

او که غالب ګمان ده نه نه سو پیدا پرله پسه تحری څخه نو بنا ء د لمانځه دی په هغه لږ عدد وکړی

ظَنَّهَا آخِرَ صَلَاتِهِ مثلاً په دوو او درو کی شک وو پر دوو دی بناء وکړی ولی چی دوه خو متیقن دی او که ښه نیدی پرهغه رکعت چی دده ګمان کیږی، یعنی د اکثرو پر احتمال چی دا به اخیر د لمانځه وی،،

مَنْثُورَاتُ فَصْلِ السَّهْوِ دفتاوا وو په کتابو کی وائی: که مصلی شک سو چی ما اول تکبیر وویلو یه او که نه، نو تکبیر الافتتاح یه ړاوګرځاوه او سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ یهم ووایل ورو سته یه ورپیاد سوه چی ما خو تکبیر الافتتاح وئیلی وو، سجده سهوه دی وکړی، چی تاخیر د قرائت یه وکړی. او کی نه سوه ورپیاد هیڅ نی نسته، په مذهب د فخر الاسلام چی اول شک یه په دغه لمانځه کی دی، مراد ځندی دا معین لمونځ دی چی هم دا اوس یه دی کوی، نتیجه یه دا ده که سړی دما پښین په لمانځه کی مثلاً شک سو. نو لمونځ به د سره شروع کړی په هغه کی بیا شک سو، دا لمونځ به ړاګرځوی. ولی داخو هغه معین لمونځ نه دی چی دی د ظهر په کښی شک وو، بلکه په دی لمانځه کی یه هغه د اول عمل کوی لکه مصنف چی وائی: وَإِنْ كَثُرَ الشَّكُّ الخ،،

پُوهه سله: چی ثمره د اختلاف د ابن الفضل د مذهب او د امام سرخسی د مذهب او د اکثر المشائخو په دی مسئله کی ښکاره کیږی. چی یوسړی شک سو په اول پلا، په یوه لمانځه کی نو هغه لمونځ به وه ګرځاوه، او بیا پرله څوکلو څخه بیا په یوه لمانځه کی شک سوه نو پر قول د امام سرخسی د غه لمونځ به هم ړاګرځوی، ولی چی شک خو ده عادت نه وو، په کلو کی پیښیده شک نه ښکاره. او پر قول د ابن الفضل دی هم د المونځ ړاوګرځوی ولی چی داخو اول سهوه ده په دغه لمانځه کی، او پر قول د اکثر المشائخو ړاګرځیده نسته، ولی چی داخو اوله سهوه بعد البلوغ ده اول سهوه بعد البلوغ خو د هغه بل کال د اوه،،

مسئله د لمانځه پیرته راګرځول دادی چې دهغه اول لمانځه ځخه ځان وباسی، یا په سلام سره یا په خبرو سره او یا په عمل منافی د لمانځه لکه خوړلك وغیره، اوتر تولو ښه داده چې په ناستی دی سلام وګرځوی. ولی سلام د ناستی په شریعت کی خلاصوونکی د لمانځه دی، نقله الامام الطحطاوی عن السید وهو عن الزیلعی.

مسئله که یوسړی شك سره په یوه لمانځه کی د شپانه روز، یعنی داخو په یقین وو چې د لمانځه خو یولمونځ د شپانه روز قضا سوی دی لکن په تعیین کی دهغه لمانځه شك وو، نو دیوه شپانه روز پوله لمونځونه دی پرې اوګرځوی، تاچې په یقین سره د قضائی لمانځه ځخه خلاص سی، فتح.

مسئله که دسړی شك وو په اودس ماتیدو کی او یقین یې وو په طهارت کی نو دی اودس کوی، یعنی دسړی ښه یقینًا پیاد وی چې ما خو پر فلانی ځای اودس تازه کړی لکن شك په دی کی وو چې ما بیا اودس مات کړی اوکه نه. نو دی اودس لري، اوکه ده سړی یقین وو پر بې اودسیانا ندی اوشك یې وو په اوداسه کی یعنی دسړی یقینًا پیاد وو چې ما خو پر فلانی ځای اودس مات کړی، مګر شك په دی کی وو چې بیا ما اودس تازه کړی اوکه نه! نو داسړی بې اودسه دی. اوداهم معناد هغه قول د فقهاوو: الیقین لایزول بالشك.

مسئله که یوسړی شك سو په بعض اندامو کی داوداسه چې ما پریوله اوکه نه! او اول شك وو دده نوهغه اندام دی پرې منځی اوکه ورته شکونه وده ته پیر پیدا کیږي هغه ته دی التفات نه کړي، ولی چې اخیر الامر موسوس ځند ی جوړیږي.

مسئله: که سړی په لمانځه کی وو او په تکبیر افتتاح کی شك سو چې ما وویل اوکه نه نوکه اول وار وو، اودی کړی اوکه پیر وو، پښیمانی خپل لمونځ دی پسی کوی.

مسئله که دسړی پسله اوداسه ځخه داشك ورپیدا سو، چې دا اوبه به پاکی وی اوکه مردار ی، اویا په نجاست کی دځای شك ورته پیدا سی اویا په طلاق کی دمانینی شك ورته پیدا سو یعنی چې ما به طلاق ورکړی وی اوکه نه د اشکوك اعتبار نه لري،

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ، خالق السموات والارضین، الموفق للخیرات المنزل للبرکات علی ما أنعم علی هذا العبد الضعیف العاصی ابی الفضل الموسوم بمحمد عبید الله، السنی عقیدةً، الحنفی مذهبًا، النقشبندی مشربًا، السلیمانخیلی نسبًا، القندهاری موطنًا، الافغانی لسانًا، الایوبی تخلصًا، ابن الحاج المرحوم الملا محمد ایوب غفر له الباری، من تالیف الجزء الثانی لشرح نور الایضاح السامی بالخیر والعافیة والصحة والسلامة، والصلوٰة والسلام علی سید طائفة الانبیاء والمرسلین وسیلتنا فی مشکلات الدارین، محمد وعلی اله وصحبه الطاهرین الکاملین خصوصًا علی الخلفاء الراشدین، واتباعهم الوارعین، خصوصًا علی امام الائمة سراج الامة المرحومة ابی حنیفة النعمان، وعلی جمیع الائمة المجتهدین فی الدین والائمة المحدثین والقراء المجودین وعلی سائر اولیاء الله الصالحین خصوصًا علی قائدی الطرق الاربعة فی الطریقة، وعلی جمیع امة خیر البشر الی یوم القیامة، والدین، برحمتك یا ارحم الراحمین واغفر لی ولوالدی وارحمهما کما ربیانی صغیرًا، آمین یارب العٰلمین: یوم الاربعاء ١٥ من جمادی الاول سنه ١٤٢٢ هـ ق.

ابیات

١- د عشق مقام ډیر عالی ؛ وهر مطلب ته څوك په عشق رسیږی.
٢- نړۍ په زړه کی دښوونی عشق دی ؛ ځکه قلمدی پر صفحو چلیږی.
٣- نړۍ تولهٔ عمر په دی کار کی تیرسو ؛ بیخ و ګرځی وما ته یو معلومیږی.
٤- سره د درس وتدریس تصنیف ؛ هم برابر او همیشه کړه کیږی.
٥- داد خدای فضل او مهربانی ده ورڅخه ؛ چې په دی کار کی ملال پر زړه نه تیریږی.
٦- خلګ حیران دی ودی کار ته نړۍ ؛ لکن قلمدی چې د عشق پر کاغذ چلیږی.
٧- دنیا طلبه ته په غور ګورې ؛ چې په هیڅ ډول په دنیا فانی نه مریږی.

۸۔ داد دوی عشق کامیابہ کړی دی دوی ؛ چې په هیڅ ډول د طلب سره نه تیریږی۔
۹۔ د منهومان لا یشبعان حدیث ؛ همیشه ستاسی ترغوښتو تیریږی۔
۱۰۔ عبید الله لکه پته ټر همیشه ؛ ددی ښووفی پر دیوه کړیږی۔

خواجه عبد الله الانصاریؒ

ای طالبی کہ دعوی عشق خدا کنی ؛ بر غیر او نظر محبت چرا کنی
از جستجوی خلق تو بیگانہ شو اگر
خواہی کہ دل بحضرت او آشنا کنی

حقا کہ شور و ولولہ در آسمان فتد
آندم کہ تو ز بیم خدا یک نداء کنی

ملک دو عالم از تو شود گر ز روی عجز
خود را فدای خاطر یک بینوا کنی

انصاریا چو روز شوی روشن از شبی
خود را بعجز در سبحان گدا کنی۔

وَمَا أَحَبُّ مَا قِيلَ

صرفت العرب فی لهو و لعب ؛ فاها ثم اها ثم اها ؛
احب الصالحین و لست منهم ؛ لعل الله یرزقنی صلاحا ؛
وما انا من کید الحشو بامن ؛ ولا جاهل یذری ولا یتدبر ؛
هم یحسدوننی و شر الناس کلهم ؛ من عاش فی الناس غیر محسود

الفهرا غفر لمولفه و لکاتبه کتبه احقر العباد فضل الحق حقانی غفرله وقد نشره مکتبة القراءات والتجوید بکوئٹه حسب الاهتمام شمس الحق شمس مدیر المکتبة۔

د پښتو نور الایضاح جلد دوهم د مضمونو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۱	پیش لفظ	۲
۲	فصل فی واجب الصلوٰۃ	۳
۳	احادیث څلور قسمہ دی	۴
۴	احکام د واجبو	۶
۵	تبصرہ، د نن صبا سپیکر	۱۷
۶	خاتمہ فصل الواجبات	۲۲
۷	فصل فی سننها	۲۴
۸	د بسم الله په باره کی تحقیق	۳۲
۹	د امین په معنیٰ کی اختلاف	۳۴
۱۰	فائده مهمه، ضروری خبره	۳۶
۱۱	حکایت، اختلاف الاشار	۴۰
۱۲	مسائل قرائة الامام	۴۱
۱۳	خبر تیا	۴۴
۱۴	لکن د درویش رایه داده	۴۶
۱۵	د اشاری په باره کی تحقیق	۵۴
۱۶	کیفیت د اشاری	۵۶
۱۷	ښها نه فائده	۵۷
۱۸	د درود الفاظ په لمانځه کی	۵۹
۱۹	فصل و من اداب ها	۶۷
۲۰	فصل فی کیفیة ترکیب افعال المصلوٰة	۷۲

دَنورُ الایضاح پښتو دوهم توک دَمضمونو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۲۱	فصل ومن ادابها - حکمت در رفع الیدین	۷۳
۲۲	فائدة ضروریه	۷۵
۲۳	بنهانه خبره	۷۸
۲۴	بنهانه فائدة	۷۳
۲۵	فائدة سنیه	۹۰
۲۶	دعاء په باره کی تحقیق	۹۱
۲۷	دایولې وصیت	۹۲
۲۸	افسوسناکه واقعه	۹۹
۲۹	بلکه حق خبره داده	۱۰۱
۳۰	باب الامامة	۱۰۵
۳۱	فضیلة الجماعة	۱۰۷
۳۲	داعجبهم واوده	۱۱۰
۳۳	بنهانه فائده	۱۲۳
۳۴	مسائل شتی لهذا البحث	۱۲۶
۳۵	فصل یسقط حضور الجماعة	۱۳۳
۳۶	تشریحات وتوضیحات	۱۳۴
۳۷	په زړه پورې بیان د اهل السنة	۱۳۸
۳۸	فتوی	۱۴۵
۳۹	فصل فی الالحق بالامامة	۱۴۶
۴۰	اختلاف الائمة	۱۴۸

دَپښتو نورُ الایضاح دوهم توک مَضمُونو فهرست

شمارہ	مضمون	صفحہ
۴۱	دکندهار واقعه	۱۵۱
۴۲	مسائل الامامة	۱۵۳
۴۳	تاریخی واقعه	۱۵۴
۴۴	داعرابی قصه	۱۵۵
۴۵	دمبتدع په باره کی تحقیق	۱۵۷
۴۶	بنهانه فائده	۱۶۱
۴۷	دصفوپه باره کی احادیث اومسائل	۱۶۸
۴۸	فصل فیما یفعله المقتدی	۱۷۱
۴۹	فصل فی الاذکار الواردة بعد الفرض	۱۷۵
۵۰	تحقیق المقام	۱۷۶
۵۱	دفهم وړ خبره	۱۷۷
۵۲	بیان الافضل	۱۷۸
۵۳	دامام اومنفرد ترمانځه وروسته اذکار	۱۸۱
۵۴	اداب الدعاء	۱۸۲
۵۵	سنه دعا کمانی اوسنه وختونه	۱۸۳
۵۶	بل ادب د دعاء دادی	۱۸۲
۵۷	د دعا مکروهات	۱۸۶
۵۸	ذکر خفی اوجلی	۱۸۸
۵۹	خبره ترخبرې	۱۸۹
۶۰	دروغبړ مسنونه طریقه	۱۹۰

دپښتو نور الایضاح دوهم ټوک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۶۱	واوری اوپوه سئ	۱۹۳
۶۲	فائده شرعیه	۱۹۳
۶۳	د دعاء ادب	۱۹۶
۶۴	وهابیان وائی	۲۰۰
۶۵	باب مایفسد الصلوٰة	۲۰۴
۶۶	فرق د عمل کثیر او قلیل	۲۰۹
۶۷	د حیرانولو پوښتنه	۲۱۰
۶۸	سبحانه فائده	۲۲۳
۶۹	مسئله د اشتراك تحریمه	۲۳۱
۷۰	د جع په موسم کی	۲۳۲
۷۱	مسائل شتی	۲۳۶
۷۲	نادره مسئله	۲۴۵
۷۳	مسئله د زلة القاری	۲۵۰
۷۴	د ریمه مسئله د زلة القاری	۲۵۴
۷۵	فصل فی مکروهات الصلوٰة	۲۵۹
۷۶	نصیحت	۲۶۱
۷۷	مسائل ضروریه	۲۶۳
۷۸	د یادونی خبره	۲۸۴
۷۹	په نړۍ پورې واقعه	۳۰۰
۸۰	فصل فی اتخاذ السترة	۳۰۷

دپښتو نور الایضاح دوهم ټوک د مضمونو فهرست

شماره	مضمون	صفحه
۸۱	دایوبی څخه یوجهان منّنه	۳۱۸
۸۲	فصل فیما لایکره فی المصلی	۳۲۰
۸۳	بنهانه فائده	۳۲۵
۸۴	د امام اعظمؒ حکایت	۳۲۷
۸۵	فصل فیما یوجب قطع الصلوٰة	۳۳۲
۸۶	باب الوتر	۳۳۳
۸۷	هرڅه مه وایه	۳۳۴
۸۸	تحقیق الوتر	۳۳۸
۸۹	ضروری شوونه	۳۳۹
۹۰	د دعاء قنوت سره د ترجمی	۳۴۱
۹۱	د دعاء په باره کی تحقیق	۳۴۶
۹۲	دوه ضروری شوونه	۳۵۲
۹۳	فصل فی النوافل	۳۵۷
۹۴	المندوبات والدلائل	۳۶۰
۹۵	علمی تحقیق	۳۶۸
۹۶	فصل فی تحیة المسجد	۳۷۴
۹۷	استخاره او دهغی دعاء	۳۷۹
۹۸	دعوامو خرافات	۳۸۳
۹۹	فصل فی صلوة النفل	۳۹۱
۱۰۰	فصل فی صلوة الفرض	۳۹۵
۱۰۱	فصل فی الصلوة فی السفینة	۴۰۰
۱۰۲	فصل فی التراویح	۴۰۷
۱۰۳	د امامانو غفلت	۴۱۱
۱۰۴	د دنن صبا شکایت	۴۱۳
۱۰۵	باب الصلوة فی الکعبة	۴۱۷
۱۰۶	باب صلوة المسافر	۴۱۸
۱۰۷	سبحانه فائده	۴۲۹
۱۰۸	فائدة مهمة	۴۳۲
	واقعة سنیة	۴۳۶
	وطن دوه قسمه دی	۴۳۹

شماره	مضمون	صفحه
۱۰۹	د تفسیر ایوبی اعلان	۴۳۹
۱۱۰	باب صلوة المریض	۴۴۰
۱۱۱	فصل فی اسقاط الصلوة والصوم	۴۵۳
۱۱۲	بنهانه حواله	۴۵۷
۱۱۳	د تعجب ډکه خبره	۴۵۸
۱۱۴	باب قضاء الفوائت	۴۵۹
۱۱۵	باب ادراك الفریضة	۴۷۴
۱۱۶	فوائد شتی	۴۸۲
۱۱۷	باب سجود السهو	۴۹۲
۱۱۸	بنهانی فائدی د خطای	۴۹۴
۱۱۹	فائدة الخلاف	۵۰۶
۱۲۰	مسائل د باب السهو	۵۱۲
۱۲۱	اصل د سجدی سهوی څخه	۵۱۳
۱۲۲	فصل فی الشك	۵۱۵
۱۲۳	منثورات فصل السهو	۵۱۷
۱۲۴	د حضرت ایوبی اعلان	۵۲۶

اعلان — خبرتیا

چونکه داشریه زما عبید الله مستقل تصنیف دی او دیره جان فشانی می په کښی کړیده، اوبیا زما د کتابو ناموړی کاتب، «قاری فضل الحق صاحب» دنوشته نه علاوه دیر مصرف یه د کتابت په دوران کښی په کښی کړی دی، لهذا ما حقوق د طبع ددی شرحی د ناموړی قاری صاحب نه هدیه کړیدی. هیڅ کتا بفروش حق د طبع زما د دغی شرحی نه لری، اود کمپیوټر دلاری دی هم دلاوری د طبع نه کوی، شرحی او اخلاقی او تجارتی، قوانین دی په فهم کی ولری، تیارخوری دی نه کوی، اود سرلغړ ولو په صورت کی به علاوه تر حقوقی جنجال، د ناموړی قاری صاحب زما چی مصنف د دی کتاب یم هم د حتی المقدور کش ماکش سره به مخامخ سی، البته قاری صاحب به هم کتا بفروشانو نوته فی جلد ۵ کالداری مراعات په نظر کی ولری، ان شاء الله تعالی: وما علینا الا البلاغ قبل الوقت

د حضرت ایوبی د خط متن:

= اعلان = خبرتیا =

چونکه داشریه زما عبید الله مستقل تصنیف دی او دیره جان فشانی می په کښی کړیده، اوبیا زما د کتابو ناموړی «قاری فضل الحق صاحب» دنوشته نه علاوه دیر مصرف یه د کتابت په دوران کښی په کښی کړی دی لهذا ما حقوق د طبع ددی شرحی د ناموړی قاری صاحب نه هدیه کړیدی. هیڅ کتا بفروش حق د طبع زما د دغی شرحی نه لری" اود کمپیوټر دلاری دی هم دلاوری د طبع نه کوی" شرحی او اخلاقی او تجارتی "قوانین دی په فهم کی ولری" تیارخوری دی نه کوی" اود سرلغړ ولو په صورت کی به علاوه تر حقوقی جنجال د ناموړی قاری صاحب زما چی مصنف د دی کتاب یم هم د حتی المقدور کش ماکش سره به مخامخ سی البته قاری صاحب به هم کتا بفروشانو نوته فی جلد ۵ کالداری مراعات په نظر کی ولری ان شاء الله تعالی وما علینا الا البلاغ قبل الوقت